# د محصلینو ترمنځ د منازعاتو او تاؤ تریخوالي لاملونه او حل لارې

لیکونکی: پوهندوی محمدشفیق مندوزی، شیخ زاید پوهنتون، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د اداره او ډیپلوماسي څانګې استاد
تقریظ ورکوونکی: پوهنوال محمدالله مندوزی د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د اداره او ډیپلوماسي څانګې استاد

**لنډیز**

د محصلینو ترمنځ د منازعاتو او تاوتریخوالي عوامل او د هغې حل لارې په پوهنتونونو کې د مهمو موضوعاتو څخه شمیرل کیږي او له بله پلوه، دا یو څرګند حقیقت دی، چې منازعه او تاوتریخوالي د ژوند یوه برخه ده او د ژوند په اوږدو کې ورسره مخ کیدونکي یو، پخوا د منازعاتو د حل له پاره یوازې له زور او قدرت څخه کار اخېستل کېده؛ خو نن ورځ معمولاً د منازعاتو د حل لپاره د حقوقي او سیاسي حل لارې تر ډیره په کار وړل کیږي یعنې د منازعې ماهیت ته کتل کیږي، کچیرته حقوقي اړخ ولري، نو ماهیت له مخې دا ډول منازعې د حقوقي قواعدو پربنسټ په محکمه کې بررسی کیږي او که چیرې رامنځته شوي منازعه غیر حقوقي اړخ لري؛ نو معمولآ دا ډول منازعې خبرواترو(مذاکرات) ،مصالحې، منځګړیتوب، تحقیق او نیکو هڅو د روشونو لارې حل او فصل کیږي د مذاکرې روش د منازعاتو د حل له پاره یو په زړه پوري او ګټور روش ګڼل کیږي دا روش، چې د منازعاتو د حل له پاره ابتدایې او لومړی روش دی او د کامیابی چانس یې هم زیات دئ تر ډیره بریده د شخص په ذاتي وړتیا پورې اړه لري، خو دا ذاتي وړتیا د زده کړې په واسطه وده کوي.

**کلیدي ټکي:** منازعه، تاؤتریخوالی، د تشدده ډکې شخړې، د تاؤتریخوالي حقوقي حل، د تاؤتریخوالي غیر حقوقي حل

**سریزه**

الحمدلله رب العلمین، والعاقبة للمتقین، والصلواة والسلام علی رسوله محمدٍ وعلی اله واصحبه اجمعین.

منازعه او تأوتریخوالی د ډیرو پخوا زمانو څخه د ټولنې په بیلا بیلو برخو کې وجود لري. دا چې، منازعه او مصالحه د ټولنیز ژوند د سکې دوه اړخونه دي؛ نو له دې امله پوهنتونونه او نورې علمي ځایونه هم له ستونزې سره لاس او ګریوان دي منازعې عوامل لري خو د حل لارې هم لري، د منازعاتو حل باید مدیریت شي، ځکه چې منازعې زیان اړوونکې او ناوړه عواقب

لري.خوشبختانه چې د منازعو د مخنیوي او کمولو لپاره د هماغه پخوا زمانو څخه تراوسه پورې هڅې روانې دي پخوا وختو کې به معمول داسې وو، چې منازعات به د زور او قدرت له لارې یو طرف ته کیدل؛ خو نن ورځ د عملي کچې په لوړوالي سره منازعاتو سوله ییز حل لارو ته غوره ګڼل کیږي دا، چې په پوهنتونونو کې د محصلینو ترمنځ د منازعاتو او له تشدد څخه د ډکو شخړو عوامل څه دي، تر څو هغه په ښه شکل مدیریت شي؛ نو په دې مقاله کې مې ددې منازعاتو او تشدد څخه د ډکو شخړو عواملو، ننګونو، فرصتونو او حل لارو ته پام کړی ترڅو داسې لارې چارې ومومو، چې پر اساس یې د تشدد څخه د ډکو شخړو مخه ونیسو او یا حداقل ګراف یې راټیټ کړو.

او په دې ډول احتمالي ګټې لاسته راوړو او ورسره مل له احتمالي زیانونو څخه یې دا علمي او اکاډمیک ځای خوندي وساتو.

**د څیړنې د اختیار لاملونه**

۱- ډیرو کتابونو ته مې مراجعه وکړه؛ اما د محصلینو تر منځ د منازعاتو او تاؤ تریخوالي لاملونه او حل لارې ترعنوان لاندې، کوم مستقل عنوان وجود نه درلوده؛ نو د یوې مستقلې او نوي موضوع په حیث غواړم په دې مورد تحقیق وکړم.

۲- د اختیار له لاملونوڅخه یو د موضوع جذابیت او نوي والی دی، او ومې غوښتل د دې مقالې په اساس د محصلینو تر منځ د منازعاتو او تاؤ تریخوالي لاملونه او حل لارې خلکو ته معرفي کړم.

**ستونزې او مشکلات**

په اوسني وخت کې منازعات په نړیواله او داخلي سطحه د پرابلمونو او مشکلاتو زیږنده شمیرل کیږي، چې پوهنتونونه هم ورڅخه په کامله معنی مصؤن نه دي، که څه هم چې په پوهنتونونو کې تر ډیره بریده منازعات او تاؤتریخوالی نه سترګو کیږي، خو بیا هم په پوهنتونو کې بعضې منازعات او له تشدد څخه ډکي شخړي وخت نا وخت رامنځته کیږي او ورځ تر بلې زیاتیږي دا، چې په پوهنتون کې منازعات او له تشدد څخه ډکې شخړې د پوهنتون چاري ټکنی کوي ، د پوهنتون پلانونه شنډوي، وخت ضایع کوي او پوهنتون ادارې ته د چلنج په توګه واقع کیږي نو دا ډول منازعات او له تاوتریخوالي څخه ډکي شخړي د پوهنتون د ادارې له پاره لویه ستونزه ده.

**د څېړنې اهمیت**

د دې څېړنې اهمیت په دې کې دی، چې په پوهنتونونو کې د محصلینو ترمنځ تاوتریخوالي درسي پروګرامونه او د پوهنتون اداره له لویي ننګونې سره مخ کوي، که چیرته دا ډول حالت مدیریت نه شي دا به د یوه ستر بحران لامل شي، چې د محصلینو درسي پروګرام او همدا رنګه د پوهنتون اړوند ټولې چارې له خنډ او ځنډ سره مخامخ شي. مخکې له دې، چې دا ډول یو بحران رامنځته شي ښه به دا وي، چې هغه په لومړی پړاؤ کې مثبت خوا ته مدیریت کړو او په پوهنتون کې د ډلو ټپلو، ګوند او ګوندبازیو او همدارنګه سمت او ستمبازي مخه ونیسو تر څو د پوهنتون اړوند ټولې چارې بې له کوم خنډ او ځنډ پر مخ ولاړې شي او ستراتیژیک اهداف تر لاسه شي.

**د څېړنې موخې**

اصلي موخه: له مختلفونو اړخونو څخه د محصلینو تر منځ د منازعاتو او تاؤ تریخوالي لاملونه او حل لارو باندې بحث شوی دی.

**فرعي موخې**

۱ـ هر پوهنتون باید داسې پالیسي جوړه کړي، چې د محصلینو تر منځ د منازعاتو او تاؤ تریخوالي حل په کې نیول شوی وي.

۲ـ په پوهنتونونو کې د محصلینو ترمنځ د منازعاتو او له تشدد څخه د ډکو شخړو عوامل کوم دي او څنګه کولی شو شخړې له منځه یوسو او سوله ییز وضعیت را منځته کړو.

۳ـ د محصلینو ترمنځ د منازعاتو او تاوتریخوالي عوامل او حل لارې ډیره مهمه موضوع ده او پدې باندې پوهیدل مهم دي، تر څو یې د حل په مورد عملي اقدام وشي.

**د موضوع په اړه پخوانی لیکنې**

د محصلینو ترمنځ د منازعاتو او تاوتریخوالي عوامل او حل لارې په هکله ډیرې لیکنې شوي دي، او مختلفو دانشمندانو پرې بحثونه کړي دي، د هغې له جملې څخه حسرت، محمد حسن، مطالعات صلح واموزش صلح. بدلون، بلال، د نړیوالو شخړو سوله ییز حل.جاوید،رحمان علی مهارت ها و راهبردها برای عمل.خروټي، نجات، د لانجې حل. دودیال، محمد بشیر،د سازماني شخړو مدیریت. موسسه،ګوهرشاد،آموزش مطالعات صلح و حل منازعه وانستیتیوت صلح ایالات متحده امریکا؛ اما د محصلینو ترمنځ د منازعاتو او تاوتریخوالي عوامل او حل لارې په باره کې

تراوسه پورې کوم تحقیق نه دی ترسره شوی او کوم مشخص عنوان نلري، څرنګه چې مخکښې مې یادونه وکړه، چې د محصلینو ترمنځ د منازعاتو او تاوتریخوالي عوامل او حل لارې ترعنوان لاندې لیکنه نشته؛ نو هیله ده، چې د نوموړي مقالې په لیکلو سره به شته ستونزې تر یوې اندازې حل کړم او هم د پوهنتونونو درنو محصلانو ته د اړوند مضمون د ممد درسي موادو په توګه یو څه ولیکم.

**مواد او کړنلاره**

دا یوه کتابتوني مقاله ده، چې د بیلا بیلو معتبرو کتابونو او مجلو څخه ګټه اخیستل شوي ده، د څېړنې موضوع د اړتیا وړ مواد د کتابتوني څېړنې د میتود پر بنسټ راټول او د تحلیل او ارزونې وروسته د مقالې بڼه ورکړل شوي ده.

**د منازعې پېژندنه**

منازعه یوه عربي کلیمه ده، چې  نزع د ریښې څخه اخیستل شوي ده او د کشمکش، د نظر اختلاف، تصادف او د مخالف طرز تفکر په معنی سره ده. په اصطلاح کې منازعه د څو تنو  یا څو ګروپونو ترمنځ د تخریبي تضاد او اختلاف د بروز څخه عبارت ده. یا منازعه د دوو یا د دوو څخه د زیاتو (افرادو او ګروپونو) ترمنځ د هغې رابطې څخه عبارت ده، چې متضاد اهداف او غوښتنې لري او یا فکر کوي، چې د متناقضو اهدافو لرونکي دي. په لنډه توګه ویلی شو، چې منازعه یوه پروسه ده، چې په هغې کې افراد او ګروپونه دوه یا څو مختلف اهداف پداسې ډول تعقیبوي، چې هغې ته د رسیدلو روش پخپل ذوق سره ویني او یا احتمالاً د نورو د روشونو څخه مختلف( غیر قابل قبول) تصور لري. یعنی منازعه د دوو متفاوتو نظریو یا دوو متفاوتو لیدلوریو څخه عبارت ده، چې مختلف اهداف او تصورات په بر کې نیسي( ۷: ۱۱).

منازعه د دوو تنو، ډلو، سازمانونو، ملتونو، ټولنیزو اړیکو،اقتصادي اړیکو او د قدرت د روابطو ترمنځ پیښیدی شي.منازعه په دې ډول اړیکو کې د بې توازنی له امله او د ساحاتو او د دغو غوښتنو ترمنځ په توپیر سره منځته راځي.لکه چې پوهیږو د وګړو اړتیاوې د یو هرم بڼه لري چې قاعده او بنسټ یې فزیالوژیکي اړتیاوې دي، وروسته بیا امنیتي اړتیاوې منځ ته راځي او ورپسې ټولنیزې او روحي اړتیاوې دي.کله چې یو څوک د دغو اړتیاوو د کمښت احساس کړي په مقاومت او شخړه لاس پورې کوي، چې پایله یې په شخړه کې ښکیل کیدل دي دا منازعې ځینې وخت پټې او ناڅرګنده بڼه لري ځینې وخت برسیرنې او سپکې وي خو ځینې وخت

منازعې ژورې او بيخلنې او ډيرې څرګندې او ويجاړوونکي وي. زياتره منازعې مادي، حقوقي او لږ شمير يې ټولنيزي، سياسي او کلتوري بڼه لري؛ خو بيا هم مهم لامل يې له يو بل سره په تضاد کې هدفونه لرل، مادي امتيازت، دريځونه تر لاسه کول، متضادي انګيزې، ناوړه پوهيدنه، پراختيا غوښتنه او قدرت غوښتنه او دې ورته نور لاملونه دي(۹: ۱۲۰)

په ياد بايد ولرو، چې ځينې وختونه که له مثبته پلوه وګورو د نظرونو اختلاف د تکامل او د يوې ښې پايلې لامل هم کيدای شي خو دا هغه وخت چې يو د بل د قناعت وړ وګرځي او پايله يې يوه منطقي نتيجه وي، نه تاوتريخوالی يعنې که د منازعې پايله په تاوتريخوالي پای ته و نه رسيږي، بلکې د يوه معقول حل باعث شي بيا نو منازعه اختلاف او د نظرونو توپير د مضروالي پر ځای مفيده هم وي، د منازعې يوه حيرانوونکې بڼه د متضادو نظرياتو او انګيزو لرل دي، دا متضاد نظرونه او انګېزې د قدرت غوښتنې او پراختيا غوښتنې په پرتله ډېرې ويجاړوونکي نه دي بلکې زياتره وختونه غنا ښښوونکي او نوښت لرونکي هم وي د نظرونو د توپير په پايله کې يوه ډيره ښه دريمه لاره راپيدا کولی شو، منازعې د نظرياتو توپير او د انګيزو بيلوالی د ژوند يو واقعيت دی، سوله او منازعه د يوې سکې دوه مخونه دي، په سازمان کې منازعه معمولا د موقفونو، د دندو د تداخل، د روابطو ناوړه تامين، د ناوړه مفاهمې، د صلا حيتونه د ويش او دې ته ورته مسسايلو له امله واقع کيږي، چې زياتره رسمي بڼه لري، له نيکه مرغه زياتره منازعې د حل وړ دي، د منازعې هوارول (Conflict Resolution) يوه معموله او ډيره ګټوره ښکارنده ده، چې د نويو اړيکو د جوړولو او د ښکيلو اړخونو تر منځ د نويو او پاييدونکو اړيکو لامل ګرځي، د منازعې هوارول له تاوتريخوالي څخه ډک چلند ته دپآي د ټکي کېښودل دي، د منازعې مديريت د ښکيلو اړخونو په چلند کې د مثبت بدلون راوستل او د دوی په فکر او چلند کې په زړه پورې تغيير او په راتلونکي کې له تاوتريخوالي او جګړې څخه د ډډه کولو او نورو اختلافاتو کمول دي، تاوتريخوالی او جګړه د منازعې پايله ده، خو حتمي نه ده چې د هرې منازعې پای به جګړه او تاوتريخوالی وي (۱۴:۶).

**تاوتريخوالي يا تشدد**

تاوتريخوالی يوه داسې زورونکې ناروغي ده، چې د ټولنې روح زخمي کوي، او رايج کيدل يې د وحشت او ناامنی لامل کيږي. سياسي، اقتصادي شرايط، همدرانګه د جبري سليقوي او شخصي موضوعاتو ترويج په ټولنه کې مختلف ډوله تاوتريخوالي ته لمن وهي، چې د

تاوتریخوالی بدترین ډول په ځینو جنایتونو او جرمونو کې لیدلی شو، کله چې د جرمونو لړۍ (زور، باج اخیستنه، قتل...) مطالعه کوو،لیدل کیږي چې د تاوتریخوالي آفت د پرمختګ په لور روان دی او په ټولنه کې د ورورلی، صداقت، امن او پرهیزګارۍ اسباب له منځه وړي(۲: ۸۷).

**لومړی مبحث ـ د تاؤتریخوالي پېژندنه**

د منازعې پرمختلی شکل ته تاوتریخوالي وایي په دې معنی، چې کله زور په عیني ډول استعمال شي تاوتریخوالي منځته راځي.

یا په بل عبارت تاوتریخوالي له هغو کړنو، رفتارونو، الفاظو، ذهنیتونو، سیستمونو او هغه جوړښتونو څخه عبارت دی، چې د خلکو د وړتیاوو د لوړیدو او ښه کیدو پر وړاندې خنډ ګرځي او هم د فزیکي، رواني او ټولنیزو زیانونو لامل کیږي.(۱۰:۵۳)

**د تاوتریخوالي تحلیل:** تاوتریخوالی په قصدي توګه د یوشخص له خوا په بل شخص شدید او قصدي جراحت ته وایي یعنې کله چې په عمل کې قصد شتون ونه لري، په حقیقت کې تاوتریخوالي صورت نه دی نیولی، په همدې توګه باید ووایو، چې په تاوتریخوالي کې جبر اساسي عامل دی، خو ټول تاوتریخوالي له جبر سره مل نه دي، داسې چې تاوتریخوالی له درد سره مل دی خو هر دردناک عمل تاوتریخوالی نه شي کیدلی؛ نو په دې اساس د تاوتریخوالی له پاره جبر او درد کافي او ضروري نه دي، همدارنګه دآکسفورد، وبستر او امریکن هریتیج د لغاتو د فرهنګونو په اساس تاوتریخوالی په نورو کسانو باندې د فزیکي قوې استعمال ته ویل شوی دی د هثرویپس له قوله، تاوتریخوالی او صلحه د انسانانو د ځانګړنو په عنوان کشف شوي دي؛ نو په دې اساس د تاوتریخوالي د ذاتي والي او نه ذاتي والي په اړه بحث لا تراوسه جریان لري.(۴: ۵۷)

عابد وایي مشهور روان پوه زیګموند فروید په دې باور وو چې، انسان دغوسې په مهال د خپل شعور او عقل کنترول له لاسه ورکوي او ځینې انسانان د بیلابیلو عواملو په سبب غمګین او متأثره کیږي، دا ډول کسان د خوښۍ، غم، قهر او غضب په مهال له ځانه عکس العمل ښیي او نشي کولی شعوري یا عقلانې رفتار تر سره کړي زکي  وایي" د کورنۍ د غړو بې سوادي په ځانګړي ډول پلار او مور، کلتوري او اقتصادي وروسته پاتې والی له یوې خوا ناوړه کلتوري او ټولنیز رواجونه او عادات له بلې خوا ماشومان او په ټوله کې انسان د تاوتریخوالي په عذاب اخته کوي.(۸:۵۴)

منيري او همکاران وايي په تحصيل کې ناکامي يا وروسته پاتې والی د زده کړې په فضا (سالمه يا له تاوتريخوالي ځخه ډکه) پورې مربوط ګڼي ځرګنده خبره ده، چې درسي برنامه يواځې په ښوونيزو ارزښتونو نده ولاړه بلکې نور اړخونه هم شته چې له ښوونيز نظام سره د زده کړې او روزنې په برخه کې رغنده رول لوبوي لکه: په ښوونيز چاپيريال کې د مختلفو اړيکو شتون چې په دې ترڅ کې د محصلانو، زده کوونکو، استادانو، د محصلينو په منځ کې او يا هم د محصلينو او استادانو اړيکې د کورنی له غړو سره منځ ته راځي، چې دا ډول فعاليت له تاوتريخوالي ځخه د پاکې فضا د منځ ته راتلو سبب ګرځي(۵: ۱۱۲)

**د تاؤتريخوالي عوامل**

عموماً په پوهنتونو کې تاوتريخوالي د موقفونو، د دندو د تداخل، د روابطو ناوړه تامين، د ناوړه مفاهمې،د صلا حيتونه د ويش او دې ته ورته مسايلو له امله واقع کيږي، چې زياتره رسمي بڼه لري، خو د محصلينو ترمنځ په پوهنتونو کې تاوتريخوالي، چې زياتره ټولنيزه، اقتصادي، سياسي او کلتوري ريښه لري د هغو مرکو پر اساس، چې په دې اړه له محصلينو سره شوي عمده عوامل يي له يو بل سره په تضاد کې هدفونه لرل، مادي امتيازت، دريځونه تر لاسه کول، متضادي انګيزې، ناوړه پوهيدنه، متضادو ايډيالوژو پر سر جر او بحث، د ټولګي يا د خپل اړوند قوم يا سمت نمايندګي د ترلاسه کولو لپاره مبارزه، چې د مبارزه ځيني وخت په تاوتريخوالي اوړي، د ګوندي تبعيض پر اساس اخو ډب او پراختيا غوښتنه او قدرت غوښتنه او دې ورته نور لاملونه دي(۳:۸۹).

همدارنګه زيات وخت په پوهنتونونو کې ډيرې ستونزې او مشکلات د محصلانو د خپل منځي کړنو په اساس منځ ته راځي، ځکه چې د بېلابېلو فرهنګي او ټولنيزو شرايطو په اساس د يو او بل په څنګ کې زده کړه کوي، دوی هېڅکله هم د ټولنيزو مهارتو د زده کړې او ښه والي لپاره کوم ډول معلومات نه تر لاسه کوي. له بله اړخه په پوهنځي کې له تاوتريخوالي ځخه د ډکو رفتارونو يوه برخه امکان لري له محصلانو سره د پوهنځي د مسؤلينو او استادانو چلند او سخت قوانين وي، په پرمختللو هيوادونو کې د لويانو تاوتريخوالی ډېر لږ مطرح کيږي، په دې سبب چې د سالم رفتار په زده کړه او د روزنيزو نظريو په تطبيق باندې زيات کار شوی دی، ځکه چې مديران او استادان په دوامداره توګه د سالمو روزنيزو کړنو په ترسرکولو کې روزنه ګوري. په همدې سبب د دې وروستيو کلونو په راپوروونو کې د پوهنځيو د مسؤلانو له لورې د تاوتريخوالي

په اړه کومه یادونه نه ده شوې، د پوهنځي د مسؤلینو تاوتریخوالی، چې کولی شي د ښوونیز او روزنیز چاپېریال امنیت او سلامت ګډوډ او له ګواښ سره مخ کړي او د روزنیزو موخو د تحقق مانع وګرځي، په جدي توګه تر پاملرنې لاندې نیول کیږي. د ځینو څېړنکو لکه لوینسون (۱۹۹۸) د څېړنو په اساس د عصري ټولنې د مخربو اثراتو سربیره د پوهنځیو له قوانینو څخه د نویو ځوانانو سرغړونه او په هغوی کې له تاوتریخوالي څخه د ډک رفتار منځ راتلل، امکان لري چې د پوهنځي د اقداماتو یوه برخه د دې غیر مناسبو کړنو د منځ ته راتلو، سرغړونې او د قوانینو له رعایت څخه د ناتوانی سبب شي. اریکسون (۱۹۸۷) باور لري چې پوهنځی باید د زده کوونکي له نظره اساسي مشروعیت کسب او د باور د منځ ته راتلو له پاره اسانتیاوې رامنځ ته کړي، له دې مشروعیت پرته امکان لري محصلان مقاوت وکړي او د مطلوب رفتار له پاره ځینې قوانین تر پښو لاندې کړي؛ همدارنګه د دې ډول عمل تر سره کول امکان لري په راتلونکي وخت کې د نورو کسانو د حقوقو او قوانینو تر پښو لاندې کولو سبب شي، زموږ د هیواد د لویانو او د پوهنځیو د مسؤلینو د تاوتریخوالي په برخه کې څېړنه او له نیردې څخه د پوهنځیو کتل دا په ډاګه کوي چې تاوتریخوالی او شخړې د محصلان ترخپل منځي رفتارونو پورې منحصر نه دي بلکې اکثره لویان (استادان، مرستیالان، مدیران او داسې نور) دي چې د محصلانو د سرغړونو په وړاندې له تاوتریخوالي څخه ډک رفتار ترسره کوي. هغه له تاوتریخوالي څخه ډکې کړنې چې محصلان د کوچنیو او لویو سرغړونو په مقابل کې صورت نیسي عبارت دي له: د محصلانو تحقیر، مسخره کول، توهین، د محصلانو سره تبعیضي رویه کول، په صنف کې په ترخه لهجه ځواب او پوښتنه کول، له ټولګي څخه بهر ویستل، د ازموینې د اخیستلو ګواښ کول، د محصل د ناکام کولو او داسې نور(۱۰: ۲۴ـ۲۶).

**د تاوتریخوالي د مخنیوی لارې چارې**

د تاوتریخوالي د مخنیوي څخه موخه په خاصه توګه د تاوتریخوالي کچه راټیټول اومحدودول دي تر څو د ناوړه او ویجاړ وونکو پیښو مخه ونیول شي.

**ـ د تاوتریخوالي مخنیوی**

د تاوتریخوالي مخنیوی هغه لارې چارې دي، چې په لنډ مهاله او اوږد مهاله توګه کارول کیږي.

۱: دهغه کړکجن و ضعیت پیژندنه چې د تاتریخوالی راپورته کیدو خطر ورڅخه متصور وي.

۲: د ښکاره کشمکشونو(جنجالونو)د کمولو او ارامولو لپاره هلې ځلې کول.

۳:اوبالاخره مخکې له دې چې منازعه د تاوتریخوالی تر بریده ورسیږي ریښې یې ختمول(۸: ۵۹)

**د تاؤتریخوالي حل**

د تاؤ تریخوالي حل مونږ کولی شو، په لاندې دوو مرحلو کې د بحث او مطالعې لاندې ونیسو.

۱ ـ د تاوتریخوالي حقوقي حل (روش): د تاوتریخوالي په حقوقي او غیرحقوقي لارو حل کیدی شي، حقوقي حل لار یې د حقوقي ربښه لرونکی تاوتریخوالي له پاره په کار وړل کیږي او غیرحقوقي لاره یې د غیرحقوقي ربښه لرونکي تاوتریخوالي له پاره کارول کیږي؛ نو په دې اساس حقوقي ربښه لرونکي تاوتریخوالي هغه تاوتریخوالی دی، چې د ماهیت له مخې د حقوقي قواعدو پربنسټ په محکمه کې د بررسۍ وړ وي او برعکس غیر حقوقي ربښه لرونکي تاوتریخوالی هغه دی، چې د ماهیت له مخې د حقوقي قواعدو پر بنسټ په محکمه کې د بررسۍ وړ نه وي، په همدې اساس ویلي شو، چې کله د حقوقي قواعدو پربنسټ د تاوتریخوالي لپاره د ماهیت له مخې حل پیدا نه کړو دغه ډول تاوتریخوالي د غیر حقوقي ربښه لرونکي تاوتریخوالي په نوم یادیږي.(۱:۱۰)

۲ـ د تاوتریخوالي غیرحقوقی حل (روش): غیرحقوقي ربښه لرونکی تاوتریخوالي کوم ځانګړی او تعریف شوي حل لار نه لري؛ نو لازمه ده چې د نورو قواعدو (عدالت او انصاف) له مخې ورته حل لار ولټول شي، لکه څرنګه چې وړاندې مو یادونه وکړه غیر حقوقي ربښه لرونکی تاوتریخوالي کوم ځانګړی حل نه لري؛ موږ د بحث د اختصار په خاطر یواځې دې روشونه په ذکر کولو اکتفا

کوو، چې عبارت دي د خبرواترو روش، د مصالحې روش، د منځګړیتوب روش، د تحقیق او نیکو هڅو له روش څخه. (۷: ۱۲۳)

**پایله**

د نومړي کتابتوني څیړنې په بهیر کې لاندې پایلې ته وراسیدم، چې د محصلینو ترمنځ د منازعاتو او تاوتریخوالي عوامل او د هغې حل لارې په مختلفو وختونو کې مختلف شکلونه او ډولونه لري، د پوهنتونونو په داخل او بهر د پوهنتون څخه یې مشکلات را منځته کړي دي او وخت پر وخت د دې مشکلاتو د منځه وړلو له پاره د خبرواترو روش، د مصالحه روش، د منځګړیتوب روش، د تحقیق او نیکو هڅو له روش څخه، چې تر یوې اندازې پورې یې د محصلینو منازعاتو

اړونده مسایلو ته رسیدګي کړي ده.

له بله طرفه پوهنتونونه د ټولو محصلینو ګډ کور دی او په دې ګډ کور کې د ټول هیواد او حتی د نورو هیوادونو محصلان موجود وي، چې د مختلفو نژادونو، ژبو، دینونو، مذهبونو او فرهنګونو لرونکي وي او د ځانګړو معیارونه سره اشنا وي او معیارونه یې د خپلو ګټو په خاطر منځته راوړي، چې خپل سیاسي اهداف او مادي ګټې په نظر کې نیسي، خو په هر حال پوهنتونونه د محصلینو ټولو خواوو ته حقوق او مکلفیتونه متوجه کوي، چې محصلین باید خپل مکلفیتونه وپیژني او تر سره یې کړي او له بله پلوه دولتونه هم باید د پوهنتونونو اصولو او طرزالعملونو څخه په جدي توګه حمایت او ملاتړ وکړي؛ تر څو چې د محصلینو ترمنځ د منازعاتو او تاوتریخوالي عوامل او د هغې حل لارې په ښه صورت سره دوام ومومي، چې په د ې څیړنه کې تر یوې اندازې پورې دې مسایلو او دې ورته مسایلو ته د حل لارې پیشبیني شوي دي او ترې یادونه شوي ده.

په پای کې باید ووایو چې د محصلینو ترمنځ د منازعاتو او تاوتریخوالي عوامل او د هغې حل لارې د تاریخ په اوږدو کې د مختلفو شرایطو او اصولو درلودونکي وه، چې په پوهنتونونو کې یې یو لړ مسایل را پیدا کړي دي، که چیرې پوهنتونونه او دولتونه د محصلینو ترمنځ د منازعاتو او تاوتریخوالي عواملو او د هغې حل لارې ته رسیدګي و نه کړي او یا هم ورته جدي توجو ونه کړي، لکه د تاریخ په اوږدو کې او هم په اوسني وخت کې چې د محصلینو تر منځ بعضې منازعات او ستونزې وجود لري، په آینده کې به یې هم پوهنتونونه د نوموړو ستونزو څخه خالي و نه اوسي.

**وړاندیزونه**

۱ـ دا چې د منازعاتو مدیریت او تاوتریخوالي د حل موضوع یوه نوي، اړینه او په زړه پورې موضوع ده او په دې اړه په پښتو ژبه کې معالومات خورا کم دي، نو بنآ هیله می دا ده چې د دې موضوع د تحقیق په برخه کې لا زیات کار وشي، هغه اشخاص چې د ذکر شوي موضوع په اړه نورې څیړنې ته لیواله وي د دغو باوري اخځلیکونو څخه استفاده کولی شي، چې ما هم په دې مقاله کې کارولي دي.

۲ـ دا یو څرګند حقیقت دي، چې منازعه او تاوتریخوالی د ژوند یو ه برخه ده او د ژوند په اوږدو کې ورسره مخ کیدونکي وو نو چې په پای کې د مذاکرې روش غوره کوو بهتره به وي

چې په پيل کې يې غوره کړو.

۳ـ په منازعه او تاوتريخوالي کې ښکيلو اړخونو ته مې وړانديز دا دی، چې ستونزې ته دې مشکل په سترګه وګوري نه مقابل اړخ ته.

۴ـ د خبرو اترو په لړ کې بايد دواړه خواوې داسې انتخابونه رامنځته کړي، چې د دواړو خواوو حقيقي ګټې څرګندې او سره نږدې کړي، چې د منازعې او تاوتريخوالي حل امکان په کې ډېر زياتيږي.

**مأخذونه**


۱ـ بدلون، بلال. (۱۳۹۵هـ ش). د نړيوالو شخړو سوله ييز حل. تتګرهار: يارخپرندويه ټولنه.

۲ـ جاويد،رحمان علی. مترجم.(۱۳۹۱هـ ش).کاربا منازعه، مهارت ها و راهبردها برای عمل. کابل: مطبعه طباعتی صنعتی صبور

۳ـ حسرت، محمد حسن.(۱۳۹۲هـ ش).مطالعات صلح و آموزش صلح.کابل: انتشارات يوسفزاد

۴ـ خروټي او نجات،غلام صديق.(۱۳۸۸هـ ش). د لانجې حل. ننګرهار: ميوند خپرندوه ټولنه.

۵ـ د ملکي خدمتونو د روزنې او پراختيا رياست. (۱۳۸۶هـ ش). مديريت بنسټونه او مهارتونه. کابل: د وړتياوو لوړوالي څانګه.

**۶ـ دوديال، محمد بشير. (۱۳۹۵هـ ش). د سازماني شخړو مديريت. ننګرهار: يارخپرندويه ټولنه**

۷ـ کابل پوهنتون د حقوقو اوسياسي علومو پوهنځی.(۱۳۸۷هـ ش). کابل: حقوقي اصلاحاتو قاموس.

۸ـ ګوهرشاد مؤسسه.(۱۳۹۴هـ ش).آموزش مطالعات صلح و حل منازعه. ايالات متحده امريکا: مؤسسه تحصيلات عالی ګوهرشاد وانستيتيوت صلح.

9- Levinson, B. A. (1998). Discipline seen from below: Student rationales for non-compliance in secondary schools in the United States of America. *Prospects*, *28*(4), 601-615.

10. Schilling, k. (2012). peacebuilding end conflict transformation/ Aresouce book (1ed.). Germany; freiburger Graphische Betriebe,Freiburg.

# د صکوکو او اسنادو ترمنځ توپیرونه

لیکونکی: پوهندوی امان الله ځدراڼ، شیخ زاید پوهنتون، د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي، د ادارې او ډیپلوماسي څانګې استاد
تقریظ ورکونکی: پوهنوال محمدالله مندوزی د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د ادارې او ډیپلوماسي څانګې استاد

**لنډیز**

ژوند د معاملاتو پرته ناممکن دی، او په دې معاملاتو کې عقود، تړونونه او راکړه ورکړه شامل وي. دولتونه او شرکتونه او افراد، هر وخت د خپلو فعالیتونو توسعې او پراختیا په خاطرخپل مالي تأمین ته اړتیا لري او له هغه ځایه چې د مالي تأمین د ابزارونو شروع د غربي هیوادونو څخه پیل شوي دي، په معمول ډول د دوی د حقوقي او ارزښتونو مبانیو پر اساس دي، چې په ځینو مواردوکې د اسلام حقوقي او ارزښتي مبانیو سره هم غږي نلري.
د صکوکو او سندونو ترمنځ عمده توپیر په دې کې دی، چې اسناد سودي او غیر اسلامي دي او د صکوکو سندونه اسلامي او غیر سودي سندونه دي، صکوک د شرکت تړون دی، چې د سند د څښتن او کمپنۍ ترمنځ رامنځته شوی؛ خو د bonds یا debentures سند د قرض سند دی، چې له عام ولس او یا بانک څخه کمپني اخیستی او هم په سود ولاړدی؛ نوسندونه له اسلامي لارو او طریقو سره هیڅ راز اړیکه نلري، په همدې بنیاد د باندس او ډیبنجرز سندونو صادرول یا پیرل او پلورل جواز نلري، د صکوکو سندونه خپل مشروعیت له اسلامي شرعیت څخه اخلي، اما سندونه خپل مشروعیت له محلي قانونګذارۍ څخه اخلي. د صکوکو تاریخي پس منظر ۱۹۸۳ میلادي کلونو ته ورګرځي، که د سندونو تاریخي سیر ته وګورو د میلاد څخه د مخه، حتی د حمورابي په قوانینوکې لیدلی شوو، د هغې څخه وروسته په منځنۍ پیړۍ، جدیده پیړۍ او حاضر عصر کې لیدلای شوو، نو په دې لیکنه کې لومړی د صکوکو او د سندونو په تعریفاتو باندې بحث کیږي او وروسته بیا په مشابهتونو یا ورته والي باندې رڼا اچول کیږي وروسته د دوی په توپیرونو باندې له مختلفو اړخونو بحث ورباندې کیږي. او په آخر کې په نتیجه، مناقشه او د وړاندیز په وړاندې کولو سره خپل بحث ته خاتمه ورکو.

کلیدي ټکي: تړون، سندونه، سود، صکوک، قرضه

**سریزه**

الحمدلله رب العلمین والعاقبة للمتقین والصلواة والسلام علی رسوله محمد وعلی اله واصحبه

اجمعین.

انسان د پیدایښت له ورځې ترنن پورې هڅه کړېده، ترڅو خپل اقتصادي امور په سمه او اساسي توګه تنظیم کړي. دوی د خپلو احتیاجاتو د تأمین لپاره په یو لړ فعالیتونو لاس پورې کړی دی او خپل اقتصادي ژوندانه ته یې د وخت په تیریدولو سره په ډیرې هڅې او کوښښ سره سرو سامان ورکړی دی؛ ترڅو یو ښه اقتصادي نظام ځان لپاره کسب کړي، په دې توګه د بشـر د تاریخ له مطالعاتو څخه مالومیږي، چې اقتصاد د یو علم په توګه منځته راغلي دی، فلهذا د اقتصاد علم د ټولنیزو علومو له مهمو څانګو څخه ګڼل کیږي، چې د انسانانو اقتصادي او معیشتي فعالیتونو سره سرو کار لري او د ټولنې د افرادو ترمنځ اړیکې د بحث او مطالعې لاندې نیسي. د تاریخ په مطالعې سره وینو چې د قرضې اوراق مسایل او موضوعات په اقتصادي فعالیتونو کې ډیر زیات اهمیت لري او پیسې د یوې نوي پدیدې په توګه خپل نقش یې په کامیابۍ سره په ټولنه کې لوبولی دی. سرمایه د تولید اصلي بنسټ ګڼل کیږي، په پخوا وختونو کې سرمایه ډیری د انسان د کار، ابزار او وسایلو په توګه مطرح ول؛ اما نن ورځ سرمایه د نقدي ذخیرې په حیث د اقتصادي فعالیت د ادامې په توګه هم په نظر کې نیول کیږي. دولتونه او اقتصادي شرکتونه د یو اقتصادي فعالیت د شروع یا ادامې لپاره هم د سرمایې تأمین ته احتیاج لري، دا سرمایه د دولت د دارایي او د شرکت له صاحبانو څخه تأمین کیږي او یا داچې د مالي تأمین پروسې له طریقه ترلاسه کیږي. د مالي تأمین فرآیند د مالي اقتصاد یو له مهمو مباحثو څخه ګڼل کیږي. د مالي تأمین لپاره ډول ډول ابزار او روشونه وجود لري، چې هر یویې خپل ځانته خاص او اړوند ځانګړتیاوې لري. د مالي تأمین یو له مهمو روشونو څخه چې بهادرو اوراقو ته د درایي تبدیلول دي. د بهادرو اوراقو د تبدیلو اصطلاح یو له هغو اصطلاحاتو څخه ده، چې د نړۍ په مالي ادبیاتو کې چې د ظهور څخه یې دوې یا درې لسیزې څخه زیات وخت نه تیریږي. بهادرو اوراقو ته تبدیلول هغه فرآیند دی، چې په هغې کې مالي واسطې لکه تجارتي بانکونه حذف او د بدهي اوراق د خرید او فروش وړ وي، مستقیماً پر سرمایه ګذرانو پلورل کیږي. د اقتصادي، ټولنیزو، سیاسي او فرهنګي معاملاتو یوه لویه برخه د بیه لرونکو پاڼو په وسیله ترسره کیږي او بهادر اوراق اساسي نقش په دې برخه کې ترسره کوي.

د وروستی لسیزې یو له نوښتونو څخه د اسلامي پولي او مالي بحثونو په ډګر کې د اسلامي بهادرو اوراقو د انواعو انتشار، چې د صکوکو په نوم یادیږي، دا اوراق چې په عمده توګه د

دولت د مالي تأمین لپاره همدارنګه هغه سازمانونه چې په دولت او خصوصي بنسټونو پورې تړلي دي منتشر کیږي، چې دا صکوک د اسلامي عقودو پر بنسټ طراحي شوي دي او د قرضې اوراقو مناسب ځای ناستی ګڼل کیږي. د بهادرو اوراقو(صکوکو) انتشار د اسلامي شریعت د احکامو پر بنسټ، د اسلامي مالیې او بانکدارۍ تر ټولو څرګند ابزارونه د اسلامي اقتصاد پراختیا لپاره ګڼل کیږي، مشروط پردې چې د هغې په کارونه کې ټول بنیادي اصول، چې اسلامي اقتصاد له نورو اقتصادونو څخه بیلوي، رعایت شي؛ نو د صکوکو او د سندونو موضوع ډیره مهمه موضوع ده او د اقتصاد او بانکدارۍ پورې اړوند کتابونو کې، څومره چې لازمه او اړینه ده، ورته پاملرنه نه ده شوي، په ځانګړي ډول په پښتو ژبه کې په دې اړه تراوسه کومه لیکنه نه ده شوي؛ نو دغه مقاله مې پرې ترتیب کړه. په دې مقاله کې په لومړي فصل کې د صکوکو او د قرضې د اسنادو په تعریفونو، ځانګړتیاوې، شرایطو، په ډولونو، تاریخي پسمنظر، او په دوهم فصل کې د دوی په توپیرونو باندې بحث کیږي.

**د څیړنې د اختیار لاملونه**

۱- ډیرو کتابونو ته مې مراجعه وکړه؛ اما د صکوکو او سندونو ترمنځ د توپیرونو ترعنوان لاندې، کوم مستقل عنوان وجود نه درلوده؛ نو د یوې مستقلې او نوي موضوع په حیث غواړم په دې مورد کتابتوني څیړنه وکړم.

۲- د اختیار له لاملونوڅخه یو د موضوع جذابیت او نوي والی دی، او ومې غوښتل د دې مقالې په اساس د صکوکو او د سندونو ترمنځ توپیرونه خلکو ته معرفي کړم.

**ستونزې او مشکلات**

د دې موضوع په تحقیق کې واقعاً چې د بعضې مشکلاتو سره مخامخ شوی یم، د مجهز کتابتون نه شتون سره زیات هغه حقوقي کتابونه نه پیدا کیږي چې قوي استفاده ترې وشي او که پیدا هم شي، ډیر قوي شخص نه وي لیکلي، بله داچې په انټرنیټ کې هم مواد په پښتو ژبه نه پیدا کیږي چې په هغې کې دې د صکوکو او د سندونو څخه بحث شوی وي. د دې مشکل حل لپاره مې د خپل وس مطابق کوشش کړی ترڅو د هرې ممکن لارې څخه استفاده وشي.

**د څیړنې اهمیت**

۱- د دې تحقیق اهمیت په دې کې چې صکوک ا وسند یو ډول نه دي، له یو بل څخه توپیر لري. صکوک د اسلامي قرضې اوراق دي، چې له مالي مؤسساتو څخه صادریږي او سندونه هغه

اوراق دي چې په اسلامي شریعت کې جواز نلري؛ ځکه دا سندونه د هغې قرضې سندونه دي چې د ګټې په مقابل کې وي یا دیته قرضه با مفاد هم وایي.

۲- د تحقیق تجربه پر دې موضوع او د تحقیق د طرز زده کړه زما لپاره فوق العاده د اهمیت وړ ده.

۳- نوموړي تحقیق؛ ځکه د اهمیت وړ دی، چې په پښتو ژبه کې په دې مورد کې کوم تحقیق تراوسه نه دی ترسره شوی.

**فرضیه**

۱- که چیرې په اسلامي هیوادونو کې صکوک یا اسلامي د قرضې اوراق موجود نه وي، خلك به له کومې وسیلې څخه استفاده کوي.

۲- فرض کوو چې په ټولو غیر اسلامي هیوادونو کې د سندونو په عوض کې اسلامي بهادر اوراق یا صکوك مروج او وکارول شي، عواقب او نتایج به یې څه دول وی؟

**پوښتنې**

۱- صکوك یا د اسلامي قرضې اوراق څه شی دي؟

۲- د قرضې پاڼې د شرکت په مالي وضعیت باندې څه تاثیر لري؟

۳- ولي شرکتونه د قرض اوراقو ته ضرورت لري؟

۴- آیا صکوك او د قرضې سندونه له یو بله توپیر لري؟

۵- آیا شرکتونه او دولتي ارګانونه له دې قرضې اوراقو څخه په سمه توګه استفاده کوي؟

۶- آیا د قرضې اوراق کولای شي چې د دولتي او مالي شرکتونو ټولې مالي منابع پوره کړي؟

**تیرو څیړنو ته کتنه**

د صکوکو او د سندونو په هکله ډیرې لیکنې شوي دي، او مختلفو دانشمندانو پرې بحثونه کړي دي، د هغې له جملې څخه علي رضا، رحیمي بروجردي سیاست های اقتصادي کلان. عبدالشکورمومند بانکداري د قرآن او احادیثوپه رڼا کې. پوهنوال دوکتورحمیدالله نورعباد په اسلامي اقتصاد او بانکداری کې، محمد رضا مهران فر آشنایي با مفاهیم بورس اوراق بهادر، سید عباس موسویان د اسلامي مالي صکوکو ابزار(صکوك)، ډاکټرخادمي مهدي د اسهامو او صکوکو په باره هرڅه، نصرالله ستانکزی او ولي محمد ناصح د تجارت حقوق، ربیعا اسکیني د تجارت حقوق او تجارتي شرکتونه؛ اما د صکوکو او د سندونو ترمنځ توپیرونو په باره کې

تراوسه پورې کوم تحقیق نه دی ترسره شوی او څرنګه چې مخکښې مې یادونه وکړه چې د صکوکو او د سندونو ترمنځ توپیرونو ترعنوان لاندې لیکنه نشته؛ نو هیله ده چې د صکوکو او د سندونو ترمنځ توپیرونو تر عنوان لاندې د مقالې لیکنه انشاءالله په پوره امانتدارۍ سره یې سرته ورسوم.

**مواد او کړنلاره**

زما دا څېړنه یوه کتابتونې څېړنه ده د اسلامي شریعت او وضعي قوانینو نه علاوه مې د مختلفو نورو کتابونو او انټرنیټ سایټونو څخه استفاده کړېده.

کوشش مې کړي دی هره موثقه مرجع چې د خپلې موضوع د تکمیل په خاطر په لاس راغلي ده ما ترې په قسم د اقسامو استفاده کړېده دا مانا چې خپل انساني نهایي کوشش مې کړي دي، تر څو موضوع له هرې نګاه څخه وڅېړل شي او لوستونکې یي په لوستلو کې نورو کتابونو ته اړ نه شي.

**صکوک او سندونه**

**صکوک**

**د صکوکوتعریفونه:** صکوک په لغوی او اصطلاحي لحاظ په لاندې ډول تعریفوو:

د صکوکو لغوي تعریف: صکوک جمع د صک ده، او په لغت کې چک او سند ته ویل کیږي او په فارسي ژبه کښې د صکوکو اصطلاح چې د عربي ژبې څخه اخیستل شوي د چک، نوشته بدهکار، سفته او قبض بدهي په مانا ده، او په معمول ډول د اسلامي اوراقو په نوم یادیږي. (۴ : ۱۳۶۵)

د صکوکو اصلاحي تعریف: د صکوکو کلمه د صک جمع ده او عبارت له اسلامي بهادرو اسنادو څخه عبارت دی، چې پرته له سود څخه د مروجو مشابه قرضې سره مشابه دي، د اسلامي مالي معاملاتو په ارتباط د قرضې اسنادو په عوض یا د صکوکو د اسنادو څخه خبرې کیږي. د صکوکو اسناد همیشه پر یوې شتمنې (فزیکي امتعه) باندې متکي وي. دا شتمني باید د شرعې له نظره ممنوعه شتمني نه وي (لکه الکولي مشروبات ). د صکوکو د اسنادو لرونکی د اړوند صکوکو د شتمنې معادل شریک وي او په دې ترتیب د هغې څخه په حاصله مفاد او ضرر کې شریک کیږي. د اړوند شتمني په زیاتوالي سره د صکوکو د ملکیت سند هم زیاتوالی مومي ( ۸: ۱۴۶).

صکوک د صک جمع ده، عبارت له مالي ضمانت ورقې څخه دی، چې مالي اداره د خریدارۍ په نیت یې چاپوي او پیسو سره مساوي ګڼل کیږي او د هغې پر اساس په راس المال کې د دوی قرضونه او اعیان شخصي ملکیت حاصل کیږي (۷: ۹۸).

**سندونه**

**د سندونو لغوي او اصطلاحي تعریفونه:** د سندونو لغوي او اصطلاحي تعریفونه په لاندې ډول دي:

د سند لغوي تعریف: په لغوي لحاظ سند تکیه، تکیه ګاه، د یوشي لوړوالی، په بیابان کې لوړځای، غر، د غره مخ، هغه څه چې په هغه باندې اعتماد کیږي، مستند، او خط ته وایي.

د سند اصطلاحي تعریف: سند له هر هغه لیکنې څخه عبارت دی، چې د دعوی یا دفاع په مقام کې د استناد وړ وي. (۵: ۱۵)

د سندونویا د قرضې اوراقو تعریف: د قرضې اوراق عبارت له هغه سند څخه دی، چې د اموالو د تبادلې په خاطر او یا د یو شرکت او بل شرکت ترمنځ د قرض ورکول او قرض اخیستل ترسره کیږي. یا د قرضې اوراق هغه سندونه دي، چې د هغې په موجب انتشار ورکونکی شرکت تعهد کوي، معین مبلغ په خاص وخت کې د هغې لرونکي ته ورکړي او په مقرر وخت کې اصل مبلغ بیرته پرداخت کړي. هغه قرارداد چې شرایط او د قرارداد د طرفینو توافق شامل وي، یعنې نشرکوونکی او د قرضې اوراقو لرونکي(یا د دوی استازي) دي، دیته توافق نامه یا د قرضې اوراقو قرارداد وایي. دلته زمونږ هدف د سندونو څخه د قرضې اسناد چې په انګلیسي کې ورته Bonds یا Debentures وایي. د قرضې اوراقو ضرورت د تولیدي مؤسساتو، شرکتونو او داسې نورو د ستونزو د آسانۍ په خاطردي؛ ترڅو وکولای شي د دوی مشکلات ساده کړي د قرضې اوراقو ته ضرورت احساسیږي. کله چې د قرضې اوراق نشر شي، ټوله راکړه ورکړه، د دې سندونو په واسطه ترسره کیږي او د شرکتونو د تشویق سبب کیږي؛ ترڅو وکولای شي د قرضې اوراق منتشر کړي او نړیوال بازارونو ته یې عرضه کړي، ډیری د قرضې اوراق په شرکتونو او دولتي ارګانونو کې( یعنې بانکونو ) راکړه ورکړه د نشر شوي قرضې اوراقو په واسطه په سمه او درسته توګه استفاده کړي؛ ترڅو کوم پرابلم سره مخامخ نشي، د دې په خاطر، قرضې اوراقو ته مبرم ضرورت احساسیږی.(۲:۴۷)

**د صکوکو او سندونو ترمنځ توپیرونه**

مخکښې لدې نه چې د صکوکو او د سندونو ترمنځ په توپیرونو بحث وکړم، غواړم په لنډ ډول د صکوکو او د اسنادو ترمنځ مشابهتونو ته اشاره وکړم.

**د صکوکو او د سندونو ترمنځ مشابهتونه:** د صکوکو او د سندونو ترمنځ مشابهتونه په لاندې ډول دي:

۱- دواړه په ثانویه بازار کې د سیالیت قابلیت لري.

۲- د دواړو اعتبار د مؤسساتو لخوا رتبه بندي او درجه بندي کیږي.

۳- د دواړو د عرضې په طراحۍ کې، تنوع وجود لري.

۴- البته د صکوک مشارکت د سندونو او بانډس یا ډیبینجرز سندونو په منځ کې مشابهت په ځینو شیانو کې شته د بیلګې په توګه د مشارکت سندونه هم ټاکلي موده لري او د Bonds یا Debentures سندونه هم معینه موده لري، دارنګه د بانډس یا ډیبینجرز سندونو څښتنان نه شي کولای، چې په کلنۍ ناسته A.G.M ( Annual General Meeting )کې رایه ورکړي او د مشارکت د صکوکو د سندونو څښتنان هم نه شي کولای په کلنۍ ناسته کې رایه ورکړي.

د بانډس یا ډیبنجرز سندونو په واسطه کمپنۍ د یو ځانګړې پروژې لپاره له هغوی څخه قرضه اخلي، دارنګه د مشارکت د سندونو څښتنان کولای شي، چې د کمپنۍ د عامه شتمنۍ پرځای ځانګړې پروژې یا خاص مقدار پیسې مصرف کړي، په دې صورت کې د مشارکت د سندونو څښتنانو چې کوم مفاد راځي، هغه د دوی د ګټې د سهمونو د سندونو د ګټې سره توپیر لري.

د بانډس یا ډیبینجرز سندونو څښتنان په ځینو حالاتو کې د قرض ورکوونکي په عوض کې د کمپنۍ جامد توکي په ګرو نیولای شي او که د کمپنۍ له خوا ورته قرضه اداء نه شوه؛ نو کولای شي چې د دغو سندونو څښتنان چې کله له کمپنۍ څخه ځینې جامد توکي د وثیقې په ډول واخلي؛ ترڅو د کمپنۍ د غفلت او تیري په صورت کې دهغوی د نقصان جبیره وکړي؛ نو دا کار درست دی.

د سندونو څخه هدف د قرضې اسناد دي، چې په انګلیسي کې ورته bonds یا debentures وایي. بانډس یا ډیبینجرز په ځینو شیانو کې سره یو او برابر دي، او په ځینو کې یو له بله فرق لري، د دواړه ترمنځ د اشتراک وجه داده، چې د دواړو څښتنان په کمپنۍ کې سهمدار ندي؛ بلکې دواړه پور ورکونکي (داینین) دي، او دواړو ته د کمپنۍ لخوا کلنۍ سود ورکول کیږي، او

هم دغه پیسې په ټاکلي نیټه بیرته ورکوي، او اختلاف یې په دې کې دی، چې Bonds بانډس یوازې د قرض د ثبوت سند دی، چې په ځینو حالاتو کې دا صرف د حافظت او ساتنې (security) په خاطر وي. د دې بانډونو سره د کمپنۍ یو شمیرجایدادونه تړلي وي؛ نو کله چې قرض ادا نکړي، بیا د دغې جایدادونو څخه یې اخلي، مګر ډیبینجرز د هغو قرضونو سند دی، چې د هغو سره ګرو(رهن) هم تړلی وي. بل فرق یې چې کله کمپنۍ دیوالي کیږي؛ نو د هغو قرضدارانو حق لومړیتوب لري، چې د هغو سره قانوني اړیکه موجوده وي؛ نو په دې سره ډیبنجرز سندونو د نورو څخه په جایدادونو کې په دومره اندازه لومړیوالی لري په څومره اندازه چې هغه ګرو یا رهن کړی شوی وي، چې د بانډونو قرض به د دې څخه وروسته ادا کیږي. دا پورتني ډول بانډونه او ډیبینجرونه په سود ولاړ دي، چې اسلامي شریعت دیته په دغه شکل اجازه نه ورکوي. (۱۰: ۸۳)

**د صکوکو او د سندونو ترمنځ توپیرونه:** صکوک او سندونه له مختلفو اړخونو څخه، په لاندې ډول تفاوتونه لري.

**د مشروعیت له حیثه:** صکوک خپل مشروعیت له اسلامي، شرعیت څخه اخلي، چې دې اسنادو ته د قرضې بهادر اسلامي اوراق یا صکوک وایي، په داسې حال کې چې سندونه خپل مشروعیت له محلي قانونګذارۍ څخه اخلي؛ خو دا سندونه په سود ولاړ دي؛ نو سندونه یا باندس یا ډیبینچرز د اسلامي لارې او طریقې سره هیڅ راز اړیکه نلري؛ نو په همدې بنیاد د باندس یا ډیبینجرز سندونو صادرول یا پیرل اوپلورل هیڅ جواز نلري، او دا سندونه شرعي حرمت لري. (۱۰: ۲۰۷)

**د تاریخي پسمنظر له حیثه:** د صکوکو تاریخ د شلمې پیړۍ په وروستیو کې یعنې په اتیایمه لسیزه کې پیلیږي؛ اما د سندونو تاریخي سیر ډیر لرغونی دی، چې حتی لومړنۍ پیړۍ ته ورګرځي او حتې د حمورابي ( لومړنی پاچا و، چې د میلاد څخه ۱۷۰۰ کاله مخکې لومړنی موضوعه قانون یې تدوین کړ ) په قوانینو کې هم ورته اشاره شوي د، چې د دواړو شرحې ته په لاندې ډول اشاره کوم.

د صکوکو تاریخي پسمنظر دومره پخوانی نه دی لکه سندونه. اسلامي بانکداري په نوي او ماډرن سیستم سره په بیلا بیلو پړاوونو کې منځته راغلي، چې هغه په لاندې ډول ده:

لومړی: د اسلامي بانکدارۍ مفکوره چې په سود نه وي ولاړه د لومړي ځل لپاره د پاکستان په

کلیوالو سیمو کې د شلمې پیړۍ د پنځمې لسیزې په وروستیو کې منځته راغله او وروسته بیا نورې نړۍ ته وغزیده.

دویم: دویمه تجربه د مصر د میت غمز په ښار ګوتي په کال ۱۹۶۳ م کې رامنځته شوه؛ مګر دغه دویمه تجربه د یو څه مودې وروسته ودریده او په کال ۱۹۶۷م کې په بشپړه توګه له منځه لاړه او د منځه تللو لامل یې پر ضد ناوړه تبلیغات و، که څه هم دغې تجربې ښې لاسته راوړنې درلودې.

دریم: په کال ۱۹۶۶ م کې د اسلامي اقتصاد مضمون د سوډان د ام درمان په پوهنتون کې پیل شو چې په پایله کې د غیر سودي بانک جوړول رامنځته شو؛ خو شرایط داسې ول چې دغه پلان یې له خنډونو سره مخ کړ.

څلورم: په کال ۱۹۷۱ م کې د ناصر ټولنیز بانک تأسیس شو، دغه لومړی په سودو نه ولاړ اسلامي بانک و، چې په قانوني ډول منځته راغی، مګر د دغه بانک ډیر معاملات په ټولنیزو چارو پورې تړلي ول، نه په بانکي چارو پورې.

پنځم: په کال ۱۹۷۵ کال کې دوه کوښښونه د اسلامي بانکدارۍ د جوړونې لپاره په کار واچول شول، چې یو یې د جدې د ودې او پراختیا بانک و، او بل د دبۍ اسلامي بانک و.

شپږم: په کال ۱۹۷۷ م کې درې اسلامي بانکونه تآسیس شول، چې په سودان کې د فیصل اسلامي بانک، په مصر کې د فیصل اسلامي بانک، او په کویټ کې د بیت تمویل بانک.

اووم: له دې څخه وروسته په نړۍ کې اسلامي بانکونه خواره شول، چې په کال ۲۰۰۴ م کې د اسلامي بانکونو شمیر په نړۍ کې ۲۸۴ ته ورسید، چې د دوی د کارونو حجم ۲۶۱ میلیاردو ډالرو ته ورسید او د هغو بانکونو شمیر چې د سودي بانکونو فرعې دي ۳۱۰ ته ورسید د دوی د کړنو حجم ۲۰۰ ملیاردو ډالرو ته رسیږي. څیړونکو ښودلې چې د اسلامي بانکونو کلنۍ عاید او سمهال ۲۰-۱۵ فیصدو ته رسیږي. (۱: ۲۵)

خو د سندونو تاریخي پسمنظر ډیر د پخوا زمانو څخه شروع کیږي حتی مخکښې د میلاد څخه په مختلفو قوانینو او دورو کې په لاندې ډول لیدل شوي دي.

**لرغوني دوره:** په دغه قدیمي دوره کې، د حمورابي پاچا قانوني اسناد وجود لري، که څه هم د تدوین دقیق تاریخ یې معلوم نه دی؛ اما د دوه یا درې زره کاله مخکښې د میلاد څخه د بابل د امپراطورۍ په وخت کې وو. وروسته له هغې چې ښه نتیجه یې ترې لاسته راوړي وه، د استفادې

وړ وګرځیده. د بابل په تجارتي قوانینو کې د ګټې په مقابل کې قرضه، امانت، کاري حق العمل شرکت لیدل کیده او عملاً هم اسناد او اوراق د نقل او انتقالاتو په مورد کې وجود درلود. همدارنګه د فنیقیانو په دوره کې د دریایي مقرراتو په هکله اسناد او د روم په حقوقو کې د بانکي قراردادونو سوابق، حسابداري، تجارتي او د طلب انتقالات د وکالت له طریقه لیدل کیږي.

**د منځنۍ پیړۍ دوره:** د اسنادو او اوراقو په هکله د تجارتي محاکمو مقررات، بانکي او دریایي مقررات په دې دوره کې په سترګو لیدل کیدل او د اول ځل لپاره د شرکتونو نوي ډولونه، برات او دیوالي کیدل، چې وروسته په اروپا کې د بازارونو په ایجاد سره د مکاره (فریب ) په نوم چې بین المللي جنبه یې پیدا کوله.

**جدیده دوره:** په دې دوره کې چې د ۱۴۵۳ تاریخ څخه شروع کیږي، چې د قسطنطنیې ( شرقي روم ) د فتحې سره سمون خوري او تر ۱۷۸۹ فرانسي ستر انقلاب پوري دوام کوي، د بهادرو اوراقو معاملات ( لکه سهام او د قرضې اوراق ) د بورسدر په نوم بازار، په بلژیک کې د انور ښار، په هالند کې د امستردام ښار، په فرانسه کې د لیون په ښارکې ترسره کیدل او بلاخره په نوي دوره کې د تجارتي اسنادو او د قرضې د اوراقو په هکله، د اروپا په مختلفو هیوادونو کې، د هغې له جملې فرانسه په ۱۶۷۳ کال کې د کلبر لخوا تنظیم وروسته د ډیرو اصلاحاتو سره د ۱۸۰۳ کلونو په مجموعه قوانینو کې وارد شول.

**معاصره دوره:** په آلمان کې د ۱۹ پیړۍ په نیمایي کې د سند څښتن د ډیر تأمین په منظور، د حق انتقال ته مشخص شکل ورکول کیږي، دا قانوني تغییرات په هغه وخت کې ول، چې د آلمان دولت خپل اتحاد لاس ته نه و راوړی. په انګلستان کې، د انتقال وړ د قرضې اوراقو اړوند حقوق د ۱۹ پیړۍ په اواخرو کې په قوانینو کې پیش بیني شوي او ډیرو اصلاحاتو پرته د انګلوساکسون ټولو هیوادونو لخوا منل شوي ده. نوموړي قوانین د بین المللي تجارت د پراختیا لپاره ډیر رضایت بخش نه وو؛ نو د تجارتي اسنادو او د قرضې اوراقو په هلکه متحدالشکل قانون د تدوین لپاره له ۱۹۱۰ کال څخه پیل تر۱۹۳۰ کاله پورې درې قرارداده په ژنو کې د برات، سفته په هکله د ۱۹۳۰ کال د ژنو بین المللي قرارداد تر عنوان لاندې ادامه یې ورکړه، په لاندې ډول په امضاء ورسیدل.

اولین قرارداد د متحدالشکل قانون په شکل برات ( حواله ) او سفته ( هغه تجارتي سند دی، چې پر بنسټ یې صادرونکی شخص یا سفته ورکونکی شخص تعهد کوي چې په ټاکل شوی وخت

کې معین مبلغ سفته اخیستونکي ته ورکوي ) دي، چې په مؤجب یې امضا کونکی متعهد شول چې نوموړی قانون په خپل قانون کې داخل کړي؛ اما د مختلفو نظرونو د موجودیت په علت، د نوموړي قوانینو وحدت په نوموړي هیوادونو کې په کامل ډول تحقق یې پیدا نکړ. دویم قرارداد د قوانینو د تعارض په هکله، د دولتونو لخوا د اختلاف د منځته راتللو د مخنیوي په منظور بحث، تنظیم او امضاء شول. دریيم قرارداد د تجارتي اسنادو د قرضې اړوند اوراق دي، چې البته د اسنادو او د اوراقو د عدم موجبات بطلان نه برابروي. دا درې قراردادونه د امریکا او انګلستان پرته اغلب هیوادونو امضاء کړل. (۵: ۱۵)

**د مالکیت له حیثه:** صکوک د یوې مشخصې دارایې بیانګر دی، په داسې حال کې چې د قرضې اوراق یوازې د بدهي تعهد استازیتوب کوي. یعنې د صادرونکي او د اوراقو اخیستونکي ترمنځ رابطه د قرض ورکونکي او د قرض اخیستونکي رابطه ده چې د قرضې د ګټې نرخ هم ثابت دی او دا د سود سبب کیږي. ( ۶: ۲۴۱ )

**د دارایې د موضوع له حیثه:** د صکوکو اوراق د دارایي موضوع، د شرعي له نظره باید مجازه او صحیح وي، په داسې حال کې چې د قرضې په اوراقو کې هغه دارایي چې د اسلام له نظره د منلو وړ نه ده هم کولای شي، چې د اوراقو پشتوانه قرار ونیسي. ( ۲: ۴۷

**د اعتبار له حیثه:** د قرضې اوراق د صادرونکي یا ناشر په اعتبار پورې تړلی دي او په هغې سنجول کیږي، په داسې حال کې چې د صکوکو اعتبار په ناشر پورې تړاوو نلري؛ بلکې د دارایي د پشتوانې په ارزش پورې تړاوو لري. (۳: ۵۳)

**د خرڅلاوو یا فروش له حیثه:** د صکوکو فروش په ثانویه بازار کې د یوې دارایي مالکیت خرڅول دي؛ اما د قرضې د اوراقو خرڅول د بدهي خرڅول دي. ( ۵ : ۸ )

**د دارایې د زیاتوالي له حیثه:** په صکوکو کې د اصلي شتمني ( اصلي یا لومړنۍ سرمایې د زیاتوالي امکان وجود لري او په نتیجه کې خپله د صکوکو د ورقې ارزښت وجود لري، په داسې حال چې اصل بدهي، د قرضې په اوراقو کې د زیاتوالي وړتیا لري. ( ۱: ۱۹ )

**د سرمایه ګذارۍ د سند له حیثه:** د صکوکو سندونه د سرمایه ګذارۍ مشاع سند دي او د قرضې ورکونکی او د قرضې اخیستونکي په شان د قرضې اسنادو په شان د استقراض سند په څیر نه دی. د صکوکو له اوراقو څخه لاسته راغلي ګټه کاملاً معینه او قطعي ده او دا شرعي ستونزه نه پیدا کوي، چون تقسیم شوي ګټه د مشترکې پانګې اچونې څخه ترلاسه شوي ګټه ده، چې د

يوې دارايي اخيستل او د هغې په اجاره ورکول دي، او د قرضې د اسنادو په شان د قرض ورکړل شوي پيسو څخه ندي، چې شرعي حرمت ولري. ( ۵: ۸ )

**د فزيکي دارايې د ارزښت د زياتوالي او کموالي له حيثه:** په صکوکو کې د فزيکي دارايي د زياتوالي امکان وجود لري، او په آخر کې د صکوکو د پانې د ارزښت د زياتوالي امکان وجود لري په داسې حال کې چې اصل بدهي د قرضې په اوراق کې د زياتوالي قابليت نلري، همدارنګه په صکوکو د دارايې د فزيکي ارزښت کموالي امکان وجود لري او په نتيجه کې د صکوکو د ورقې د ارزش کموالي وجود لري؛ اما دا خطر د اوراقو خريدار ته د يو اختيار په ورکولو سره له منځه ځي يعنې د اوراقو د سر رسيد په وخت کې، که چيرې د دارايې قيمت کاهش پيدا کړي، باني شرکت مؤظف دی چې اوراق په اوليه اسمي قيمت سره( يا هر بل هر قيمت د فروش، چې په اختيار سره توافق پرې شوی وي) باز خريد کړي. ( ۱ : ۱۹ )

**د ټرون له حيثه:** د مشارکت د صکوکو د سندونو او د بانډس يا ډيبينجرز ترمنځ بل توپير دا دې، چې د صکوکو مشارکت سندونه داسې د شرکت ټرون دی، چې د سند څښتن او کمپنۍ ترمنځ رامنځته شوی؛ خو د bonds او debentures سند د قرض سند دی، چې د عام ولس او يا بانک څخه اخيستل کيږي او هم په سود ولاړ دی؛ نو د bonds يا debentures سند د اسلامي معاملاتو او طريقو سره هيڅ راز اړيکه نه لري، په همدې بنياد د بانډس يا ډيبينجرزسندونو صادرول يا پيرل جواز نه لري. ( ۹: ۲۸ )

**پايله**

سره د دې چې د اسلامي بانکوالۍ پراخوال له ننګونو سره مخ ده، خو همدا ننګونې په فرصتونو هم بدليدلی شي، که چيرې هيواد د اسلامي بانکوالۍ د خپرولو لپاره يوه جامع ملي استراتيژي ولري او بشپړه تطبيق شي، بشپړ حقوقي چوکاټونه او زيربيناوې جوړې شي، کادرونه وروزل شي او ظرفيتونه ارتقاء وکړي؛ نو په ډير کم وخت کې به افغانستان يو کمسارى هيواد شي، چې ټول مالي سيستم به يې اسلامي وي. افغان دولت دنده لري، چې ولس ته هوسا او د اسلام د احکام سره برابر ژوند مهيا کړي. د هوسا ژوند لپاره مهمه ده چې د خلکو ذهن آرام وي. د ذهني آرامۍ لپاره مهمه ده چې د افغانستان اساسي قانون تطبيق او د افغانستان مالي سيستم اسلامي شي. دا د دې لپاره هم لاره هواروي چې افغانستان به راتلونکې کې په يو نړيوال اسلامي مالي مرکز واړوي، بهرنۍ پانګې راجلب کړي، او خپلو کادرونو ته د هيواد دننه او بهر د ډيرو ښو کارونو

زمینه برابره کړي.

**وړاندیزونه**

د صکوکو او د سندونو ترمنځ د توپیرونو د ښې پوهیدنې لپاره او همدارنګه د ټولنې د افرادو غوښتنو ته په داسې توګه ځواب ویل، چې له هر راز سودي ګټې څخه لرې وي. په بانکي کړنو کې د معاملاتو لپاره د فقهي د تطبیق ډګر پیدا کول د اسلامي بانکدارۍ او د اسلامي اقتصاد د ودې بنسټ او اساس ګڼل کیږي.

۱- د هیواد په سطح، باید سالم او سم بانکي سیستم ایجاد شي؛ ځکه چې ځیني بانکونه مو په سودي سیستم ولاړ دي؛ نو که چیرې د متعارفې بانکوالۍ سیستم لغوه شي او یا و ننګول شي، فوراً د سودي سیستم څخه اسلامي سیستم ته اوښتل ناشونی دی. دا کار ممکن لس او پنځلسو کلونو کلونو وخت ته اړتیا لري، چې ټول بانکونه او بانکي سیستم اسلامي ته واوړي.

۲- د دې په خاطر چې مالي او پولي بازارونو کې راکړه ورکړه سمه او سالمه وي باید د دولت له طرفه سم کنترول موجود وي.

۳- اسلامي بانکونه باید په شریکه کار وکړي، او محصولات جوړ کړي. په دې طریقه به دوی ته آسانه وي چې د محصولاتو د جوړولو پوهه سره شریکه کړي، مسؤلیتونه یې په خپل منځ کې وویشي، او مصارف یې په شریکه ورکړي.

۴- د افغانستان بانک په خپلو بانکونو باندې نظارت نوره هم جدي کړي. چون افغاني بانکونه د بهرنیو بانکونو سره د معاملاتو د ترسره کولو پراخه اړیکې نلري، علت یې دا دی چې افغاني بانکونه د قوانینو بشپړ تطبیق اطمینان نړیوالو بانکونو ته نشي ورکولی، مثلاً د بانک څښتنان باید د بانک په کارونو کې مداخله ونه کړي.

۵- د ښوونځیو په لوړو ټولګیو کې د اسلامي اقتصاد، او د اسلامي بانکوالۍ مضمون هم تدریس شي، نو د ښووني او روزنې وزارت به په دې کار سره د اسلامي بانکوالۍ په برخه کې د ولس عامه پوهاوي کې اغیزمن رول هم ولوبوي او د راتلونکي لپاره به د مسلکي او شرعي کادرونو د روزنې لپاره ذهن سازي هم وکړي.

۶- د صکوکو او د اسلامي بانکوالۍ په هکله باید عامه پوهاوی وشي؛ ځکه په هیواد کې اسلامي بانکوالي نوي ده، یو شمیر خلک تر اوسه هم د اسلامي بانکونو سره تعامل نه کوي؛ ځکه دوی تر اوسه پورې مطمئن نه دي، چې کړنې یې اسلامي دي او که نه؟ په دې برخه کې ډیر کار کول په کار دي، په ځانګړي ډول د ارشاد، حج او اوقافو وزارت مسؤلیت لري، چې په مساجدو کې د تبلیغ له لارې خلکو ته پوهاوی ورکړي چې د اسلامي بانکوالۍ معاملات په بشپړه توګه اسلامي دي.

۷- د شیخ زاید پوهنتون د حقوقو او سیاسی علومو پوهنځۍ او شرعیاتو پوهنځۍ د اسلامي

بانکونو او اسلامي معاملاتو اړوند ښیګڼو او د سودي بانکونو اړوند زیانونو او دیته ورته نور مهم موضوعات محصلینو ته د کورنۍ دندې په برخه کې ورکړي؛ تر څو خپله محصل د موضوع په ترتیب کې پوهه لاسته راوړي او نور محصلین یي په لوستلو سره پوهه تر لاسه کړي.

۸- د صکوکو او د سندونو په هکله په پښتو ژبه ښه کتابونه نه پیدا کیږي په اسلامـــــي مطالعاتو سمبال اشخاص باید کوشش وکړي تر څو په آینده کې په پښتو ژبه کره لیکنې وکړي او دا مشـــکل د ټول عمر لپاره حل کړي.

**مأخذونه**

۱- پهلوان، حمید و رضوی، سید روح الله.(۱۳۸۶ ه ش). اوراق صکوک، تعریف، انواع و ساختار مدیریت پژوهش. ( چ. ۱ ). تهران: توسعه و مطالعات اسلامي سازمان بورس و اوارق بهادر.

۲- تسخیري، آیت الله محمد علي. (۱۳۸۷ ه ش). مباني شرعي اوراق بهادر اسلامي صکوک. (چ . ۴ ). تهران: سال هفتم، فصلنامه علمي پژوهشي اقتصاد اسلامي.

۳- ضریري، عبدالمبعود. (۱۳۹۱ ه ش). معاملات ربوی او راههای بدیل آن از نظر اسلام. ( چ . ۲ ). کابل: انتشارات، رسالت.

۴-عمید، حسن.(۱۳۸۱ ه ش). فرهنګ، عمید. تهران: انتشارات، امیر کبیر.

۵- فطرس، محمد حسن. و محمودي، حسین. (۱۳۹۱ ه ش). صکوک، ابزارې مناسب برای جانیشیني اوراق قرضه. ( چ . ۱ ). تهران: انتشارات میثم تمار.

۶- موسویان، سیدعباس. (۱۳۹۱ ه ش). ابزارهای مالي (صکوک). ( چ . ۸ ). تهران: انتشارات پژوهشګاه، فرهنګ و اندیشه اسلامي.

۷- مومند، عبدالشکور. (۱۳۹۴ ه ش). بانکداري د قرآن او احادیثو په رڼا کې. ( چ . ۱ ) .کابل: انتشارات، مستقبل.

۸- نور، عباد حمیدالله. (۱۳۹۵ ه ش). اقتصاد و بانکداري اسلامي. ( چ. ۲ ).کابل: انتشارات مستقبل.

۹- نیازی، مصطفی. (۱۳۹۱ ه ش). اسلامي بانکداري او په هغې کې د شریعت بورډ رول. ( چ . ۱ ).کابل: خپرندوی، مستقبل، خبرندیه ټولنه.

۱۰- نیازی، مصطفی. (۱۳۹۶ ه ش). د بانکدارۍ مقایسوي حقوق. ( چ . ۲ ).کابل: خپرندوی، یار خپرندویه ټولنه.

# په مالياتو د حاکمو اصولو پېژندنه

ليکونکي: پوهندوی محمدشفيق مندوزی او پوهندوی امان الله ځدران، شيخ زايد پوهنتون، د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د اداره او ديپلوماسي څانګې استادان
تقريظ ورکوونکی: پوهنوال محمدالله مندوزی د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي د اداره او ديپلوماسي څانګې استاد

**لنډيز**

عموماً دولتونه د خپلو مصارفو د تمويل لپاره د مالياتو اخيستلو صلاحيت او اختيار لري او کولای شي د همدې لارې د خپلو مصارفو يوه برخه تمويل کړي، نو معاصرو علماوو د دې لپاره چې دولتونه د مالياتو د ترلاسه کولو په چارو کې بريالي وي او له دې لارې ترلاسه کېدونکو عوايدو څخه اعظمي استفاده کړې وي يو لړکلي اصول پيشبيني کړي دي، تر څو د مالياتي فرار او د ماليي له لارې رامنځته کېدونکو ستونځو مخه مو نيول شوي وي، دولتونه بايد د مالياتو د وضعه کولو او اخيستلو پر مهال نوموړي اصول په نظر کې ونيسي او مراعات يې کړي. همدا قسم د نوموړو اصولو په اساس حکومت کولای شي د مالياتو په کومک خپل عايدات لاسته راوړي او دغه عايدات حکومت په مختلفو اقتصادي زيربناؤ کې په مصرف ورسوي ترڅو د ملت ټول افراد ترې برخمن شي او همدارنګه دولت د لوړ عايد لرونکو څخه لوړ ماليات، د متوسطو عايد لرونکو څخه متوسط ماليات او د ټيټ عايدلرونکو څخه د مالياتو معافيت په نظر کې نيسي. چې په حقيقت کې د ملي عوايدو په وېش کې يو تغيير دي، همدارنګه حکومت کولاي شي، چې د مالياتي اصولو په کومک د ملي اقتصاد سکتورونه حمايه کړي؛ نو په دې اساس په دې مقاله کې په مالياتو د حاکمو اصولو، د ماليې پېژندنه، د مالياتو مفهوم، د مالياتو اقتصادي اصول او د مالياتو په حقوقي اصول باندې هر اړخيز بحث شوی دی.

**کليدي ټکي:** په مالياتو حاکم اصول، د مالياتو حقوقي اصول، د مالياتو اقتصادي اصول، مضاعف ماليات

**سريزه**

که د هيوادونو عامه ماليات د مطالعې لاندې ونيسو دا به معلومه شي چې مالياتي عوايد تر يوې اندازې پورې د دغو مؤسساتو مادي اړتياوې پوره کوي، ځکه چې په اوسنی نړۍ کې ماليات د دولت د مصارفو د تکافو لپاره ضروري پېژندل شوي دي. له بلې خوا د همدغه مالياتو په اساس کليوال او ښاريان د نورو مالي مؤسساتو سره تماس نيسي. په همدې منظور ماليات د متدوله

علومو او ځینو نورو مسایلو سره چې په پوهنتونونو کې تدریس کیږي لازم ګڼل کیږي.مالیات د فرد او د دولت د رابطي سبب ګرځي چې د اقتصادي ، اجتماعي، او حقوقي له پلوه مطالعې او څیړنې ته ضرورت لري. په اوسنی نړۍ کې د مالیاتو اخیستل او د دولت د مالي امورو تنظیمول یواځې د مالي امورو د اړتیاوو د رفع کولو لپاره ندي. بلکې د مالي او پولي سیاست له نظره یوه پراخه ساحه لري، چې د عوایدو او بودجې د حدودو څخه تجاوز کوي نو په همدې سبب د مالي حقوقو او اقتصادي پرانسیپونو د کړنلارې او عمل په لحاظ ډیر اهمیت لري.

**دڅیړنې اړتیا**

څرنګه چې، مالیات د عامه عوایدو منابع د حقوقو په پوهنځی کې د مالي حقوقو په مضمون کې او همدارنګه د اقتصاد پوهنځی د مبادي علم مالي مضمون کې تدریس کیږي، مګر (د مالیاتو د حاکمو اصولو پیژندنې) په مشخص عنوان باندې کوم مضمون نه تدریس کیږي، نو په دې خاطربه دغه لیکنه د نوموړیو مضمونونو په ضمن کې د محصلینو لپاره ګټوره ثابته شي.

**موخې**

۱ـ د هر شخص څخه که هغه حقیقي یا حقوقي وي، چې عایدات یې قابل د تادیې او یا د نصاب حد ته ورسیږي، باید دولت ته د حاکمو اصولو مطابق مالیات ورکړي.

۲ـ څرنګه چې دولت د مالیاتو په مقابل کې عام المنفعه کارونه سرته راسوي؛ نو ولس به متوجې شي او د مالیاتو دې ورکړې سره به یې علاقه پیدا شي.

۳ـ ولس به مطمئن شي، چې د مالیاتو په اخیستنه او مصرف کولو کې د عایداتو نوي توزیع په نظر کې نیول شوي ده.

**د کار مواد او میتود**

زما دا څیړنه یوه کتابتوني څیړنه ده او د هغه ماخذونو او منــابعو څخه استفاده شوي ده، چې په نړیوالـــــه او داخلي سطحه معتبر ګڼل کیږي او همدا ډول د لاتشریح په موخه به د هر ډول سمعي او بصري ماخذونو څخه ګټه اخیستل شوي ده. او بله دا چې زما لیکنه په پښتو ژبه کې ده؛ نو دپښتو ژبې ټول ادبیات به په نظر کې نیول شوي دي او هم به په دې لیکنه کې روانه او ساده ژبه کارول شوي ده.

څرنګه چې ځما د لیکنې موضوع (په مالیاتو د حاکمو اصولو پیژندنه) ده. نو کوشش شوی دی، تر څو په ډیره لنډه توګه د مالیاتو تعریف او مفهوم، د مالیاتو اقتصادي اصول، د مالیاتو

حقوقي اصول او د اقتصادي نظام د تقویې لپاره او د غربت له منځه وړلو په خاطر د مالیاتو اصول تر مطالعې لاندې نیول شوي دي.

**د مالیاتو تعریف**

باید ووایو چې د عامه مالیاتو د تعریف په اړه د مبدا دوه نقطې شتون لري، چې د دواړو نقطو په واضح کولو سره به په ښه او بهتر ډول د مالیې په مفهوم او معنی باندې وپوهیږو.

**الف ـ په لغوي لحاظ د مالیې تعریف**

مالیه یوه عربي کلیمه ده چې د مال څخه اخیستل شوي او مال هغه څه ته وایي چې انسان ورته ضرورت لري او تل یې د لاسته راوړلو کوشش کوي او مینه ورسره لري.(۱: ۱۲)

**ب ـ د مالیې اصطلاحي تعریف**

مالیه د هغه ور کړې څخه عبارت ده چې دولت یې د عامه ضرورتو د پوره کولو لپاره په مستقیم قطعي او پرته له عوض څخه غوښتنه کوي.او یا مالیه هغه انفرادي او اجباري ورکړه ده چې، پرته له عوضه له حقوقي او حقیقي اشخاصو څخه د ملکیت د یوې برخې

د اقتصادي فعالیتونو او یا د پولي وسایلو د رهبرۍ څخه یې د دولت د مالي فعالیتونو د تأمینولو په خاطر صورت نیسي.(۱: ۱۸)

**د مالیاتو مفهوم**

مالیه د فرد او د دولت د اړیکې سبب ګرځي، چې داقتصادي، اجتماعي او حقوقي له پلوه د مطالعې او څېړنې ضرورت لري، په اوسنۍ نړۍ کې د مالیې اخیستل او د دولت د مالي چارو تنظیمول یواځې د مالي امورو د ضرورتونو د رفع کولو لپاره نه دي؛ بلکې د مالي او پولي سیاست له نظره یوه پراخه ساحه لري، چې د عوایدو او بودجې د حدودو څخه تجاوز کوي؛ نو په همدې سبب د مالي حقوقو او اقتصادي پرانسیپونو د کړنلارې او عمل په لحاظ ډېر اهمیت لري.(۳: ۴۵)

مالیات د خپل رشد او انکشاف په مرحله کې د ژوندانه په اقتصادي او د اجتماعي په مختلفو ساحو کې د تحولاتو سبب ګرځي، په اوسنیو شرایطو کې د مالیاتو اخیستل نه صرف د عامه مخارجو لپاره ورڅخه ګټه اخیستل کیږي، بلکې د مالي سیاست له نظره په بودیجوي عوایدو کې مهم نقش لوبوي. کچیرې د دولتونو د عامه عوایدو منابعو ته وګورو یو د بله سره توپیر لري یعني مختلف ډوله عواید د مختلفو مراجعو څخه اخیستل کیږي خو مالیه د مالي ستونزو د حل، د

اقتصادي نظام د تقویې لپاره او د غربت له منځه وړلو په خاطر په اساسي ډول وضع کیږي، که کوم هیواد په مالیاتو د حاکمو اصولو ځخه په کامل ډول استفاده وکړي، امکان لري چې د عوایدو اندازه یې د مصارفو سره انډول پیدا کړي.(۲: ۴۰)

ددې لپاره چې، مالیه د اصولو په نظر کې نیولو سره اخیستل شوي، دلته به د مالیاتو هغه کلي اصول چې په دې وروستیو کې معاصرو علماؤو له خوا د مالیاتو لپاره وضع شوې دي په دوه برخو ویشو، چې هر یو یې په لاندې ډول تر مطالعې لاندې نیسو:

**لومړی: د مالیاتو اقتصادي اصول**

د مالیاتو اقتصادي اصول عبارت دي له:

۱.د عدالت اصل: د دې اصل پر اساس مالیات هغه وخت عادلانه کېدلی شي چې لاندې شرایط ولري:

– تناسب: په دې مفهوم چې مالیات باید د افرادو د عوایدو او درایو سره متناسب وي او د مالیې ورکوونکو مالیاتي توانایي په نظر کې ونیول شي.

– مالیاتي مساوات: یعنې هغه افراد چې مشابه مالیاتي شرایط، درایي او عواید ولري، باید یو ډول مالیات تأدیه کړي.

– د مالیاتو عمومي والی: په دې معنی چې مالیات باید عام وي، نه داسې چې په مالیاتو کې د شمولیت په لحاظ د اشخاصو ترمنځ د تبعیض ځخه کار واخیستل شي.

۲. د اطمینان اصل: د مؤدیانو په وړاندې دغه وظیفه د دولت ده، په دې معنی چې د مالیې وړ جنس، اندازه، وخت او د ترلاسه کولو ځرنګوالی د صلاحیت لرونکي مقام له خوا د وضعه شویو قوانینواو مقرراتو پر بنسټ ټاکل شوي وي او مالیاتي مامورین د قانون د حاکمیت د اصل پربنسټ باید دا توانایي ونه لري چې خه ډول یې زړه وغواړي مالیات ترلاسه کړي، بناً کله چې د مالیه ورکوونکي مالیاتي مسؤلیتونه له مخکې ځخه ټاکل شوي وي، نو ویلی شو چې په مالیاتي نظام کې د اطمینان اصل په نظر کې نیول شوی دی.(۳: ۴۵)

۳. د سهولت اصل: ددې اصل پر بنسټ مالیات باید په داسې ډول وضعه شوي وي، چې د مالیه ورکوونکي د وخت او یا د مالیې د ورکولو د طریقې له مخې له ستونځو سره مخامخ نه شي او هم دولت په کم لګښت په لږ وخت کې مالیات وصول کړي.

٤. د صرفه جویي اصل: د دې اصل ځخه هدف دا دی، چې د مالیاتو د ترلاسه کولو لګښتونه

باید په داسې یو میزان کې قرار ولري چې د عمومي مالیې له نظره د تائید وړ وي، یا په بل عبارت چې دولت باید ترټولو په لږو لګښتونو ډېر مالیات ترلاسه کړي.
۵. د شخصي والي اصل: په دې معنې چې د مالیاتو د ټاکلو پرمهال باید د مؤدي شخصي حالت او ځانګړتیاوې په نظر کې ونیول شي او داسې مالیات وضعه نه شي چې مؤدي یې د ورکړې څخه عاجزوي.(۵: ۲۶)
٦. د مالیاتي نرخ د تصاعدي والي اصل: نن ورځ اقتصاد پوهان په دې نظریه دي چې د مالیاتي نرخ د متناسب والي طریقه، یوه داسې طریقه نه ده چې په ټولو مالیاتي سرچینو باندې پلې شي، نو بناً مالیاتي نرخونه باید په ځینو مواردو کې په تصاعدي ډول وټاکل شي، تر څو له دې لارې د اشخاصو د عایداتي سطحې د پورته تګ او عوایدو پورې تړلي مالیاتي نرخونه زیات نه شي، مثلاً که چېرې یو شخص ۱۰۰۰۰ افغانۍ عاید لري او د هغه څخه ۵ ٪ مالیه اخیستل کیږي، نو بل شخص چې ۲۰۰۰۰ افغانۍ عاید لري باید د هغه څخه ٪۱۲ مالیه واخیستل شي.
۷. په اقتصادي چارو کې د مداخلې اصل: په داسې حال کې چې کلاسیک علماء د مالیاتو د بې طرفی طرفدار دي او وایي چې مالیات باید د دولت د سیاسي او اقتصادي اهدافو د پرمخ وړلو وسیله نه وي.(۵: ۲۳)
مګر نن ورځ مالیات د دولتونه د عوایدو د یوې وسیلې ترڅنګ په اقتصادي چارو کې د لاسوهنې یوه بهترینه وسیله ده، چې دولت د دې وسیلې څخه د ځینو چارو د محدودولو او د بعضې امورو په هڅولو کې استفاده کوي.

**دویم: د مالیاتو حقوقي اصول**

د مالیاتو حقوقي اصول عبارت دي له:
۱. د قانونیت اصل: په پخوا وختونو کې د مالیاتو اندازه، وخت او څرنګوالی مشخص نه وو او څرنګه به چې د حکمرانانو خوښه وه مالیات به یې اخیستل، چې دغه چاره د مالیاتي مأمورینو د خپل سرۍ سبب شوه او په مؤدیانو باندې یې د ظلم زمینه برابروله، اما ورو، ورو د خالکو نارضایتي او د خپلو اساسي حقوقو په پیژندلو سره خلکو د مالیاتو پر وړاندې خپل مخالفتونه څرګند کړل، چې په نتیجه کې مشروطه شاهي او د پارلمان لرونکي نظامونه منځته راغلل، تر ټولو لومړنی سند چې د مالیاتو د قانوني والي اصل یې په صراحت منلی د انګلستان لوی منشور دی چې په ۱۲۱۵ م کال کې د انګلستان د پادشاه له خوا صادر شو، د دې سند پر بنسټ هېڅ

ډول مالیات نه شي وضعه کېدلی؛ مګر د ملت د استازو په توافق.

نو د دې اصل په اساس مالیات باید د قانون په اساس واخیستل شي، په لنډ ډول کولای شو ووایو چې هېڅ مالیه شتون نه لري مګر د قانون په اساس.(۶: ۶۷)

۲. د مالیاتي اطلاعاتو او معلوماتو د محرموالي اصل: دې ته په توجه سره چې د مؤدیانو مالیاتي معلومات او اطلاعات د خاص اقتصادي اهمیت لرونکي دي نو د مالیې اخیستلو مأمورین باید دغه اصل په نظر کې ونیسي او مراعت یې کړي او هېڅ نوعه مالیاتي راز باید افشاء نه کړي مګر په هغه صورت کې چې قانون مخکې له مخکې د هغې وړاندوینه کړې وي.

۳. د مالي کال د پوره کېدو اصل: دا اصل عموماً په مستقیمو مالیاتو کې په نظر کې نیول کیږي چې مالیات باید په کال کې یو ځل واخیستل شي.(۷: ۲۹)

٤. ما قبل ته د مالیاتي قوانینو عدم رجعت اصل: په حقوقو کې دا یوه منل شوې قاعده او پرنسیپ دی، چې قانون ما قبل ته رجعت نه کوي ځکه قانون د ټولنې د راتلونکې د تنظیم لپاره وضعه کیږي نه د تیر شوي وخت د تنظیم لپاره ، نو بناً قانون په هغه موضوعاتو او مسایلو تطبیق کیږي، چې د قانون د انفاذ څخه وروسته واقع کیږي چې مالیاتي قوانین هم د همدې امر تابع دي.

۵. د وخت د رعایت له حیثه د مالیاتي قوانینو داجراء اصل: د حقوقو بل اصل د قوانینو د فوري اجراء کېدو اصل دی چې د دې پرنسیپ مطابق قوانین د تصویب له نیټې څخه وروسته فوراً د اجراء او تطبیق وړ دي، چې په مالیاتي قوانینو کې هم همدغه اصول او قواعد په نظر کې نیول کیږي(۱۰: ۵۶)

٦. د مکان د رعایت له حیثه د مالیاتي قوانینو د اجراء اصل: حقیقت دا دی چې د هر هېواد مالیاتي قوانین د هماغه هېواد د قلمرو په حدودو کې پلي کیږي، مګر د مؤدي د مالیاتي وضعیت ټاکل د ډېر اهمیت لرونکي دي، د مؤدي اوسېدو ځای او هغه ځای چې هلته مالیاتې مأخذ وجود لري د حقوقي لحاظه د خاص اهمیت څخه برخورد داره دي، په هغه وخت کې چې مؤدي د اوسېدو ځای او د عوایدو د لاسته راوړلو محل یو وي په دې صورت کې کومه ستونځه نشته، اماکه چېرې د مؤدي د اقامت (اوسېدو) ځای او د عایداتو د تر لاسه کولو ځای یو نه وي یعنې بېل بېل هېوادونه وي نو په دې ځای کې دوه مسئلې مطرح کیږي.(۹: ۶۱)

**لومړۍ مسئله:** د مضاعف مالیاتو امکان لري، چې د نوموړي شخص څخه په دواړو هېوادونو کې

مالیه واخیستل شي(هغه هېواد کې چې اقامت لري او هغه هېوادکې چې عایدات تر لاسه کوي ).

**دوهمه مسئله:** د مالیاتي فرار ده چې مؤدي ددې لپاره چې د متبوع هېواد د عامه مالیاتي بار څخه فرار وکړي او یا دا چې غواړي د زیات مالیاتي معافیت څخه برخورداره شي نو خپل مالیاتي مأخذ بل هېواد ته انتقالوي.

د لومړۍ مسئلې د حل په اړه چې د مضاعف مالیاتو سبب کېږي باید وویل شي چې مضاعف مالیات د دوه دولتونو د قانونګذارانو د تعریف او توصیف د مختلفوالي په نتیجه کې چې د یوې مشخصې مالیې په اړه یې کوي رامنځته کېږي، په دې مورد کې د حل لاره داده چې ، د یو طرفه دولتونه کولای شي چې د داخلي قوانینو د وضعه کولو له لارې د مضاعفو مالیاتو مخنیوی وکړي او د بله طرفه د دولتونو تر منځ د دوه جانبه همکاریو په اساس، چې په خپل منځ کې اطلاعات تبادله کړي او قضایي همکاري وکړي ترڅو له مالیاتو څخه د فرار مخه ونیسي.(۸: ۸۷)

**پایله**

د نوموړي کتابتوني څېړنې په بهیر کې لاندې پایلې ته وراسیدم ، چې هر دولت د خپلو وظایفو د سرته رسولو لپاره او همدارنګه د خپلو مصارفو د  پوره کولو په تناسب عایداتو ته ضرورت لري. پس د دغه مصارفو د پوره کولو لپاره د عوایدو مهمه منابع  مالیات تشکیل کوي.

او همدارنګه د مالیاتو اخیستل اوجمع کول د دولت له لوري یو اجباري امردی او دولت په مستقیم ډول د کوم عوض ورکوونکی نه دی، لیکن ددې په مقابل کې دولت مجبور دی، چې په غیر مستقیم ډول سره عام المنفعه کارونه لکه د سرکونو، شفاخانو، پوهنتونونو، پارکونو، د فقر او غربت له منځه وړل او داسې نور د خپلو اتباعو لپاره اجرا کړي.

نن ورځ هیوادونه د خپلو مصارفود تمویل لپاره د مختلفو مالي مدرکونو له عوایدو څخه استفاده کوي، لکه د مالیاتو عواید، د استقراض عواید، پولي عواید، د خداماتو بیعې او غیر مالیاتي عواید چې، په اوسني وخت کې د عامه عوایدو  مهمه او سرشاره منابع مالیه تشکیلوي؛ نو باید چې د مالیاتو اصولو ته هراړخیزه پاملرنه وشي، چې مالي مقامات د مالیاتو د لاسته راوړلو او  خلک د مالیاتو د ورکولو په وخت کې د ستونزو او مشکلاتو سره مخامخ نه شي.

**وړاندیزونه**

۱ـ په مالیاتي اصولو کې د خلکو ستونزې او احساسات درک شي او د هغوی په هیلو باید مالي مقامات پوه شي.

۲ـ د مالیاتي اصولو د تطبیق لپاره باید د مختلفو مالیاتي پرنسیپونو څخه استفاده وشي.

۳ـ مالي مقامات په مالیاتي اصولو کې باید د ټولنې شرایط، زمان او مکان ته توجو وکړي، تر څو مالیه ورکوونکو ته سخت او درانه تمام نه شي.

منابع

۱- پیرینا، حسین .(۱۳۴۸). مالیه عمومي، مالیات ها، و بودیجه، چاپ پنجم، تهران: انتشارات ابن سینا

۲ـ تره کی، سمیع الدین .( ۱۳۴۳ هـ ش). مالیوی سیاست. کابل: مرکزي مطبعه

۳- حقایقي، عبدالله، عارف، عبدالقیوم .(۱۳۸۲هـ ش ). مبادي علم مالي پوهنتون کابل پوهنځی اقتصاد دیپارتمنت امورمالي وپولي.

۴- رحماني، لطیف .(۱۳۸۵هـ ش ). چپترحقوق مالی پوهنتون کابل پوهنځی حقوق وعلوم سیاسی

۵ ـ رنجبری، ابوالفضل، بادامچی،علی .(۱۳۸۲هـ ش ). حقوق مالی ومالیه عمومی: تهران، مجمع علمی وفرهنگی مجد

۶ـ زاهدي، احمدزی . (۱۳۸۱هـ ش ). اسلامي اقتصاد اوغربت : حکمت خپرندویه ټولنه

۷- صالحي، داود .(۱۳۹۰). مبانی امور مالی و بودیجه، چاپ دوم، تهران، سمت.

۸ ـ موسی زاده، رضا. (۱۳۸۹هـ ش ). مالیه عمومی: تهران

۹ـ نظري، احسان الله .(۱۳۹۰ هـ ش). سیستم مالیاتي جدید افغانستان. کابل: انتشارات یوسفزاد.

۱۰ ـ نیازی، مصطفی .(۱۳۹۰هـ ش ). مالي حقوق. حکمت خپرندویه ټولنه

# د زده کړې او تدریس په ډګر کې د اغوستلو وړ ټیکنالوجی کارونه

لیکونکي: پوهندوی صالح خان صالح او پوهنیار محمد شریف حیدر، شیخ زاید پوهنتون، کمپیوټرساینس پوهنځي د معلوماتي سېستمونو او معلوماتي ټیکنالوجۍ څانګو استادان
تقریظ ورکوونکی : پوهندوی سید ولي شاه مندوزی د اقتصاد پوهنځي استاد

**لنډیز**

اوسنۍ ډیجیټل نړۍ ته په کتو، اغوستلو وړ ټیکنالوجی په زده کړئیز چاپېریال کې د ښوونکو او څېړونکو دواړو لپاره د علاقې وړ ساحه بلل کیږي. د دغې ټیکنالوجی بنسټیز فکتورونه لکه د زده کوونکو متقابل عمل او د زده کړې سره د دوی بوختیاوې په هغه صورت کې په اسانۍ سره درک کېدی شي،کله چې نوموړې ټکنالوجی د اکاډمیکو ادارو لخوا په زده کړئیز چاپېریال کې په ځای وکارول شي. په نوموړې مقاله کې اغوستونکي ډیجیټل وسیلې په پام کې نیول شوي دي چې د زده کړې او تدریس په ډګر کې ورڅخه د کارولو تمه کیږي لکه ګوګل ښیښې، فکر کوونکي (Muse) وسیله، مجازي حقیقت (Virtual Reality)، GoPro کیمرې، ځیرک زیوارت/ ساعتونه او داسې نور[12]. د د ې تر څنګ په یاده ساحه کې د نوموړې ټیکنالوجی کارولو فرصتونه، محدودیتونه او خنډونه روښانه کوي. مقاله دې پایلې ته رسیدلې، چې دلته د پام وړ محدودیتونه شتون لري، چې ښوونکی، د دې ټیکنالوجی تولیدوونکي شرکتونه باید د زده کړې او تدریس په ډګر کې د اغوستلو وړ ټیکنالوجی پلې کولو وړاندیز د مخه په پام کې ونیسي.

**کلیدي ټکي:** د اغوستلو وړ ټیکنالوجي وسایل، زده کړه، تدریس، ښوونکی، زده کوونکی

**سریزه**

د اغوستونکو ټیکنالوجیو په رامنځته کېدو سره د زده کړې او تدریس په پروسه کې نوښتونه رامنځته شوي دي، چې پر مټ یې زده کوونکي په فعاله توګه او په خپله خوښه زده کړه کولی شي. اغوستونکي وسیلې ګوګل ښیښې، فکر کوونکي (Muse) وسیله، مجازي حقیقت (Virtual Reality)، GoPro کیمرې، ځیرک زیوارت/ ساعتونه او داسې نور د زده کوونکو لپاره د چټکې زده کړې او په کم فعالیت سره معلوماتو ته د لاس رسي وړتیاو فرصتونه چمتو کوي. دا باید په پام کې ونیول شي چې په زده کړه کې د اغوستلو وړ ټیکنالوجی کارول د زده کړې له دودیزو میتودونو څخه په بشپړ ډول توپیر لري، چېرې چې زده کوونکی باید په ټاکلي وخت او ځای کې ټولګي ته حاضر شي [1]. ډیری مراجع چې د اغوستلو وړ ټیکنالوجي تعریف

کوي، د معلوماتو راټولولو او شریکولو په اړخ باندې تمرکز کوي.

**موخې**

د دغې مقالې اصلي موخه د زده کړې او تدریس په ډګر کې د اغوستلو وړ مشهورو ټیکنالوجیو کارول او د دې تر څنګ په یاد ډګر کې د نومړو ټیکنالوجیو کارولو فرصتونو، محدودیتونو او خنډونو روښانه کول دي.

**دکار مواد او کړنلاره**

د دغې **( د زده کړې او تدریس په ډګر کې د اغوستلو وړ ټیکنالوجی کارونه )** څېړنیزې علمي مقالې په بشپړولو کې د انګلیسي ژبې له نویو معتبرو او منل شویو کتابونو، ژورنالونو، مقالو او انټرنیټ څخه کار اخیستل شوی. د یادې مقالې بشپړولو په جریان کې مې د بهرنیو مشهورو پوهنتونونو، انستیتیوتونو او د افغانستان لوړو زده کړو وزارت له کړنلارو او میتودونو څخه ګټه اخیستي ده. د مقالې عنوان ټاکلو وروسته د اړتیا وړ مواد د کتابتوني څېړنیز میتود په اساس راټول شوي او د بشپړولو په موخه تر کار لاندې نیول شوي دي.

**د زده کړې او تدریس په ډګر کې د اغوستلو وړ ټیکنالوجی ساحه**

اغوستونکي ټیکنالوجی د ټیکنالوجی یو ډول ده، چې د کاروونکي پواسطه د ځانګړو معلوماتو تر لاسه کولو په موخه اغوستل کیږي او په لاس کار کولو ته اړتیا نلري، چې دا اړخ د زده کوونکو لپاره په زده کړه کې تر ټولو مهم فکتور بلل کیږي، ځکه زده کوونکی کولی شي چې په زده کړئیز چاپېریال کې هر چېرته حرکت وکړي او د زده کړئیز چاپېریال سره په اړیکه کې پاتې شي. د اغوستلو وړ ټیکنالوجي زده کوونکو ته د خپل کورس اړوند په غږیز او ویډیوي ډول مختلف معلومات او د شریکولو فرصتونه چمتو کوي [14]. هغه اغوستونکي ډیجیټل وسیلې چې په زده کړه کې د کارولو تمه ورڅخه کیږي عبارت دي له: ګوګل ښیښې، فکر کوونکي (Muse) وسیله، مجازي حقیقت (Virtual Reality) او GoPro کیمرې او نور اړونده اغوستونکي وسایل[12].

**ګوګل ښیښې**

په زده کړه کې ګوګل ښیښې د کارولو تر ټولو مهمه وسیله ګڼل کیږي، ځکه نومړې اغوستونکي وسیله لیري زده کوونکو ته د فزیکي شتون پرته د لیکچر اوریدلو او لیدلو توان ور په برخه کوي. د مثال په توګه د طبي برخې زده کوونکي جراحي کوونکي ګوري او په حقیقي

ډول جراحي تر سره کوي[4]. ګوګل ښيښې زده کوونکو ته وړتيا ورکوي چې د دوی زده کړې مختلف اړخونو پورې اړوند متن پيغامونه او خبرتياوې ترلاسه کړي او همدارنګه په بهرنۍ ژبه کې پوښتنو ته ځواب / ژباړه ترسره کولی شي [14]. د اغوستلو وړ وسيله ښوونکو او زده کوونکو ته اجازه ورکوي چې په متقابل چاپېريال پوري تړلي پاتي شي، چېرې چې د مخ پېژندنې ځخه په ګټه اخيستنې د زده کوونکو معلوماتي سيستم رامنځته کړي او د هغې څخه حاضري واخلي. يوازې د انفرادي زده کوونکي د کتلو په اساس، ښوونکی به د دوی اکاډميکو او غير اکاډميکو فعاليتونو او حاضری کچې سره د دوی ريکارډونو ته لاس رسی ومومي. دا ډول معلومات د زده کوونکو راپورونو، ټولګيو وختونو او مهالويشونو رامنځته کولو لپاره هم کارول کېدی شي[13].

لاندې لومړی شکل د دې ټيکنالوجی نمونوي ښودنه ده.



۱ شکل: د ګوګل ښيښې يوه نمونه

سرچينه: https://www.google.pl/ 2020/Dec/19

**GoPro کيمره**

GoPro کيمره په زده کړه کې د ليکچر يا زده کوونکو فعاليتونو ثبت کولو په موخه کارول کيږي. نوموړي کيمره د اسنادو، لکچرونو، د زده کړې په چاپېريال کې د مشاهده کولو او د زده کوونکو فعاليتونو ارزولو په برخه کې اسانتياوې رامنځته کوي. GoPro کيمره د اغوستلو وړ ډيجيټل کيمره ده، چې کولی شي عملي تجربې ثبت کړي او د حسي(sensory)، تحقق ورکولو (embodiedy) او مهارتونو ته امکانات برابر کړي [8]. لاندې دوهم شکل د دې ټيکنالوجی نمونوي ښودنه ده.




۲ شکل: د GoPro کیمرې یوه نمونه

سرچینه: https://www.google.pl/ 2020/Dec/19

### فکر کوونکی (Muse)

فکري اغوستونکي وسیله د ماغزو درک کوونکی بانډ دی چې دماغي فعالیت اندازه کوي، او تولید شوي ډیټا د نصب شوي بې تاره اړیکې پر مټ ټابلیټ یا ځیرک ټیلیفون ته لیږي. نوموړې وسیله د زده کوونکي هغه زده کړئیزه پروسه حمایه کوي چې د تمرکز لپاره یې معلومه کړې وي.په نوموړي سر تړونکي بانډ کې د تمرکز ادراکي حالتونو څارلو لپاره د اي اي جی (electroencephalograph) سینسرونه ځای په ځای شوي دي ترڅو د تحرک او ادراکي حالت څارنه وکړي. ښوونکي کولی شي د لوست په جریان کې د دې اغوستونکي بانډ په کارولو سره د څارنې کچه او د ادراکي تمرکز کچې څارنې له لارې د زده کوونکو مهم معلومات ترلاسه کړي[12]. لاندې دریم شکل د دې ټکنالوجی نمونوي ښودنه ده.




۳ شکل: فکر کوونکی (Muse) ټکنالوجي

سرچینه: https://www.google.pl/ 2020/Dec/19

### مجازي حقیقت

مجازي حقیقت(Virtual Reality)، لکه اوکولوس ریفټ چې یوه اغوستکي ټیکنالوجي ده،

په زده کړه باندې یو بل د پام وړ اغېزې لري. نوموړي ټیکنالوجي زده کوونکو ته د خطر پرته په مختلفو طریقو د زده کړې اجازه ورکوي. دا د زده کوونکو لپاره ژوندی سناریوګانې چمتو کوي او دوی داسې ځایونو کې ځای په ځای کوي چې یا خو ستونزمن وي، یا کله ناکله ناممکن وي، چې په ریښتیني ژوند کې لاس رسی ورته پیدا شي، د بېلګې په توګه، د فضاء په اړه څېړنه، د لرغون پیژندنې کورسونه، طبي زده کړه، کیمیاوي انجینري او د هوا بازی روزنه.په زده کړه کې د اغوستلو وړ مجازي حقیقت کارول په دودیز ټولګې کې د درسونو لوستلو / لیدلو غیر فعالې تګلارې په پرتله د زده کړې په پروسه کې د زده کوونکو بوختیا او متقابل ګډون ته وده ورکوي. اوکولس ریفټ اغوستونکي غوږۍ ښودنه (Head Mounted Display) ده، کوم چې د اغوستلو لپاره آرام دی، او د سپک وزن لرونکی دی، د لید ځای او د هغې څخه د بریده وتلي ځای ښودنه (۱۰۰ درجې) سره دی چې د مجازی واقعیت تجربه کولو لپاره اړینه مشغولیدنه رامنځته کوي [7]. څلورم شکل د پورته یادې شوي ټیکنالوجی نمونوي ښودنه ده.



**۴ شکل:** د مجازي حقیقت یوه نمونه

سرچینه: https://www.google.pl/ 2020/Dec/19

**ځیرک ساعتونه او زیورات**

په زده کړه کې پلي کیدونکي نور وسایل ځیرک زیورات / ساعتونه دي، کوم چې د مثال په توګه، که د لابراتوارونو په خونه کې وضعیت خطرناک شي نو لکچر ورکوونکي او زده کوونکي دواړو ته د خبرتیا لیږلو وړتیا لري. همدارنګه ځیرک بنګړي د هایدریشن کچې اندازه کولو، فاصله وهل (په قدمونو)، د زړه او ساه اخیستو اندازه کولو لپاره هم کارول کېدی شي.

د ځیرک بنګړي پواسطه ریکارډ شوي معلومات ټابلیټ یا ځیرک موبایل ته لیږل کیږي، چېرته چې لکچر ورکوونکی کولی شي د زده کوونکو فزیکي فعالیتونه وڅاري او ډاډ تر لاسه کړي چې دوی په خوندي توګه خپل اهداف تر لاسه کوي[12]. ځیرک ساعتونه د زده کړې تر ټولو دقیقو معلوماتو ښودلو وسیله ګڼل کیږي. نوموړي ساعتونه په زړه پوري ساده سیستم لري او زده

کوونکي کولی شي خپلو ښوونکو ته پیغامونه ولیږي که چېرې دوی په ټولګي کې د پو ښتنې کولو وړتیا ونلري [5]. د دې تر څنګ د آپل شرکت ځیرک ساعتونه د دې وړتیا لري، چې اغوستونکو ته ګټور معلومات راټول، تحلیل، او چمتو کړي. د ځیرکو ساعتونو یوه نمونه په لاندې پنځم شکل کې لیدلی شئ.




۵ شکل: د ځیرک ساعتونو یوه نمونه

سرچینه: https://www.google.pl/ 2020/Dec/19

له بلې خوا اغوستلو وړ ټیکنالوجي د دې وړتیا لري چې د زده کوونکو سره د ناروغۍ، معلولیت او یا د زده کړې په برخو کې مرسته وکړي، د بېلګې په توګه، نوموړي ټیکنالوجي د آټیسټیک زده کوونکو څارنه کوي او د ځانګړي حالاتو پېښېدو په صورت کې خبرتیا لیږي، چې دا په اکاډمیک محیط کې د دوی خوندیتوب ډاډمن کوي. بله بېلګه یې د شکرې ناروغۍ زده کوونکي دي، څوک چې کولی شي د اغوستلو وړ ټیکنالوجي وکاروي ترڅو د دوی طبي حالت ښه مدیریت کړي، نو له دې امله د ټولګي ترک کولو مخه نیول کیږي[12]. څېړنو ښودلي ده، چې معلولیت لرونکي زده کوونکي د اغوستلو وړټکنالوجی څخه زیاته ګټه پورته کوي، ځکه نوموړي ټیکنالوجي د زده کړې پروسه اسانه کوي او دوی ته وړتیا ورکوي چې خپل معلولیت د نوموړي ټکنالوجی پر مټ جبران کړي. د بېلګې په توګه د لیرې څخه لیدلو یا اوریدلو په برخه کې د اغوستلو وړ ټیکنالوجي د زده کوونکو سره په زده کړه کې تر ډېره برېده مرسته کولی شي[10].

**د اغوستلو وړ ټکنالوجی کارولو ګټې او محدودیتونه**

په دې برخه کې غواړو چې په ټولګي کې د اغوستلو وړ ټیکنالوجی په ګټو او زیانونو باندې تمرکز وکړو. دا مهم دي، چې په ټولګي کې د اغوستلو وړ ټیکنالوجیو پلي کولو څخه مخکې د نوموړو ټیکنالوجیو په ګټو او زیانونو باندې پوهه تر لاسه شي او د هغه ننګونو کمولو هڅه وشي

چې ممکن د دې وسیلو سره تړاو ولري.که څه هم په ټولګي کې د اغوستلو وړ ټیکنالوجی ګټې زیاتې دي، ولې ځینې زیانونه هم لري چې باید په پام کې ونیول شي.

**ګټې**

**هڅونه**

یوه لویه ګټه یې دا ده چې زده کوونکي د هغه څه په اړه چې خپلې کړنې د ا غوستلو وړ ټیکنالوجی په اساس زده کړه تر لاسه کوي لا نور هم تشویق کیږي. د مثال په توګه، کله چې دوی د فزیکي زده کړې په برابرولو کې فېټ بېټ کاروي، دوی د خپل زړه درجې په اړه زده کړه کوي او پدې اړه چې څنګه ځانګړي فعالیتونه کولی شي دا درجه لوړه کړي یا کمه کړي. دا زده کوونکي زیات هڅوي، ځکه چې دا د دوی په شخصي هوساینې پورې اړه لري.

**فیډبیک**

دا وسیله نه یوازې دا معلومات شخصي کوي، بلکه دا زده کوونکو ته سم لاسي فیډبېک هم ورکوي. دا سم لاسي فیډبېک ښایي د اغوستلو وړ ټکنالوجی بله مثبته ځانګړنه شي. د مثال په توګه د ګوګل ښیښې پرمټ زده کوونکی کولی شي په ټولګي کې لوی لیکچر نوټونه ثبت کړي. نوموړي وسیله د هغو زده کوونکو لپاره هم ګټوره تمامیدی شي چې په ټولګي کې ګړندي نوټونه نشي لیکلی، او پرځای دا وسیله کارولی شي ترڅو د بیا ځلې کتنې لپاره ورڅخه ګټه پورته کړي [4].

**د معلوماتو تر لاسه کول او پروسس کول**

ډیری وختونه زده کونکي په ځانګړې توګه ځوان زده کونکي چې د معلوماتو ترلاسه کولو او پروسس کولو لپاره چې له انټرنېټ څخه تیریږي کافي وزګار وخت نلري، نو دوی کولی شي ګرځنده یا ویب پروګرامونه وکاروي ترڅو تعلیمي پروسه اسانه او خورا مؤثره کړي.

**د وخت او ځای سپما کول**

په اوسنی ډیجیټل نړۍ کې بېلابېلې وسیلې رامینځته شوي ترڅو تعلیم غوره، زیات مؤثر او عصري کړي. کتابونه او کتابتونونه دوهم ځای ته روان دي ځکه چې اوس مونږ کولی شو هغه ځای غوره کړو چېرې چې مونږ تازه معلومات ترلاسه کوو. لیپ ټاپونه، سمارټ فونونه، کمپیوټرونه - دا ټول حد نلري. زده کوونکي کولی شي غږیز لوست یا کتاب واوري، د غږ یاد داشتونه جوړ کړي، بله دنده ولیکي، او په ورته وخت کې د دوی د

اغوستلو وړ وسیلو په اړه خبرتیاو کې وروستي خبرونه تر لاسه کړي. ایا تاسو تصور کولی شئ چې دا څومره وخت سپما کوي، او زده کوونکي څومره ګټې ترلاسه کوي؟ دا د اغوستلو وړ وسیلو نوی نسل دی، چې تاسو کولی شئ په خپل جیب کې یې واچوئ، او ځینې وختونه دا د لیټاپ څخه زیات فعالیتونه هم لري [3].

**محدودیتونه**

په زده کړه کې د اغوستلو وړ ټکنالوجی تر ټولو مهم محدودیت په نوموړي ټیکنالوجی له حده زیاته تکیه کول دي. ځیني باسواده وګړي په دې عقیده دي، چې د زده کوونکو په واسطه د نوموړي ټیکنالوجی دوامداره کارول دوی په ځان پوري انحصار کوي، نو ځکه د دوی ازاد فکر کول محدودوي. ښايي زده کوونکي په ځوابونو ورکولو او یا راتلونکي ته د تصمیم نیولو په برخه کې په ځان پوري انحصار کړي، کوم چې د ازاد فکر کولو روحیې کمېدو سبب کیږي[4].

د معلوماتو شریکولو / لیږدولو وړتیا اړوند، د اغوستلو وړ وسایلو ظرفیت په سم لاسي ډول د معلوماتو لیږدول او ترلاسه کول د محرمیت، ټولنیزې او اخلاقي اندیښنې له ځانه سره لري. سربېره پردې، د معلوماتي او محابراتي ټیکنالوجی زیربناو ته باید پاملرنه وشي، ځکه چې دا د انټرنېټ باثباته او پراخه ډول کارولو په تضمین کې حیاتي رول لوبوي کوم چې د اغوستلو وړ وسایلو چلولو لپاره په زده کړئیزو موسساتو کې اړین دي[6].

کله چې په زده کړه کې د اغوستلو وړ مجازي حقیقت وسایل کاروو، نو دلته درې چلینجونه شتون لري، چې د پیداګوژیک عمل او تیوری په ګوته کولو پوري تړاو لري: لګښت، د کارولو وړتیا او د ټیکنالوجی ویره. په زده کړه کې د مجازي حقیقت وسایلو کارولو یو بل مهم فکتور د زده کوونکي چلند دی چې په زده کړه کې یاده ټیکنالوجي په کار اچوي او د دې لپاره اماده کیږي[7].

**د نه رانیولو په اړه دلایل**

د اغوستلو وړکمپیوټري صنعت کې مخکښ شرکتونه، دبېلګې په توګه، ګوګل، سمسونګ اوآپل د اغوستلو وړ مختلف وسایل تولیدوي، چې کولی شي یاد وسایل په زده کړئیزه برخه کې د پام وړ مثبتې اغېزې ولري. په هرصورت، دلته ځینې معتبر دلایل شتون لري، چې خلک یې د اغوستلو وړ ټیکنالوجی د رانیولو دومره لیواله ندي. دا ډول دلایل لګښت، د سترګو لپاره نا

مناسب ډیزاین، دبیټری ژوند، او د زیات ګرمېدلو ستونزې کېدی شي. سربېره پردې، د اغوستلو وړ ټیکنالوجي وسایل هر وخت د ځیرک تلیفون نږدې ساتلو پرته تقریباً غیرفعال وي ځکه معمولاً دوی په خپله د بې تاره انټرنیټ نښلولو وړتیا نلري، د دې لپاره نوموړي ټیکنالوجي د انټرنیټ سره د نښلولو په موخه ځیرک تلیفون یا کمپیوټر ته اړتیا لري [2].

**د دوامداره انټرنېټ ستونزه**

د زده کړئیزو موخو لپاره د ګوګل ښیښې په اړه محدودیتونو کې ښوونکی اړتیا لري چې د لیکچر په وخت کې نوموړي ښیښې واغوندي، او د کورس اړوند معلومات د انټرنېټ په شتون کې د کورس د ثبت کولو په وخت کې اپلوډ کړي. که څه هم زده کوونکي کولی شي په انلاین وخت کې په مستقیم ډول د ښوونکي لخوا اپلوډ شوي موادو ته لاس رسی ولري، مګر دا پروسه په هر وخت کې دوامداره او مستحکم انټرنېت ته د لاس رسي اړتیا لري.

**د مهارتونو ستونزه**

په انلاین ډول د ښوونکي لخوا د کورس موادو برابرول، اپلوډ کول او هم د زده کوونکو لخوا تر لاسه کول دواړه ښوونکی او زده کوونکی ځینو ځانګړو مهارتونو ته اړتیا لري ترڅو یاده پروسه په بریالیتوب سره صورت ونیسي.

**د محرمیت ستونزه**

د اغوستلو وړ ټیکنالوجی یو بل د پام وړ محدودیت د زده کوونکو لپاره محرمیت یادولی شو، چې د ځیرکو تلیفونونو په پرتله یې خوندیتوب په پام کې نیول خورا لوړ ګڼل کیږي.

**روغتیایي ستونزې**

د ګوګل ښیښو زیات استعمال کولی شي روغتیایي ستونزې رامنځته کړي په عمومي ډول د سترګو لید ته زیان ورسوي، او د پرمخ تللي ټولنیزو رسنیو پروګرامونو کارول ښایي د کاروونکي شخصي ژوند ته زیان ورسوي[13].

**د زده کړې کیفیت اغېزمنتوب ستونزې**

ډېری ښوونکي په دې باور دي، چې د اغوستلو وړ ټیکنالوجي د زده کوونکو لخوا د تر لاسه شوي زده کړې په کیفیت باندې منفی اغېزه کوي ځکه د اغوستلو وړ ټیکنالوجي وسایل د دې لامل کیږي، چې زده کوونکی د نوموړی ټیکنالوجی فرصتونو ته په کتو د زده کړې پرته په نورو برخو کې بوخت کړي. دا ډول بوختیاوې د زده کوونکو د زده کړي په لورې د فکر

راګرځولو نظارت او مدیریت کول خورا سختوي.

**په ازموینو کې د تنظیم ستونزه**

د اغوستلو وړ ټیکنالوجی په ایجاد سره په ازموینو کې د درغلیو احتمال یو څه زیات شوی دی او د ازموینو تنظیم یې خورا سخت کړی دی، ځکه د اغوستلو وړ ټیکنالوجي وسایلو پرمټ د معلوماتو شریکول تر ډېره بریده اسانه شوي دي، مګر ځیني ټیکنالوجی ممکن خورا کوچنی او یا یې پېژندل ګران وي. د دې تر څنګ ځیني ښوونکي په دې باور دي، چې په زده کړه کې د اغوستلو وړ ټیکنالوجیو له منفي اغېزو څخه یو یې په ازموینو کې د زده کوونکو لخوا د دې ټیکنالوجی کارول دي لکه د انلاین ازموینې ثبت کول او له نورو سره د هغې شریکول[4].

**د لوړ لګښت ستونزه**

یو شمېر څېړونکو او ښوونکو د اغوستلو وړ وسایلو په لوړه بیه انتقاد کړی، چې دا یو مهم اړخ بلل کیږي، ځکه چې د اغوستلو وړ وسایلو قیمتونه د ځیرکو تلیفونونو په پرتله خورا لوړ دي، چې زیاتره زده کوونکي او ښوونکي یې د رانیولو توان نلري او د تعلیمي ادارو پرمخ هم یو لوی اقتصادي خنډ بلل شوی دی [4].

**د بیټرۍ ستونزه**

که څه هم زده کوونکي په خپلو ځیرکو تلیفونونو باندې د اغوستلو وړ مختلف ډوله پروګرامونه چلوي، چې دا ډول پروګرامونه د بیټرۍ چارج ډېر ژر ختم کوي ځکه د زیات وخت لپاره په چلان حالت کې وي. همدارنګه د اغوستلو وړ ځینې ځانګړي وسایل لویو بیټریو ته د زیات وخت کارولو په موخه اړتیا لري، د بېلګې په توګه د ګوګل ښیښې ټوله ورځ کارونه ښایي په نیمه ورځ کې دوهم ځل چارج کولو ته اړتیا ولري [11]. زیاتره باسیواده خلك دا محسوسوي چې په زده کړه کې اغوستلو وړ وسایلو کارونه ښایي نورې تخنیکي ستونزې هم ولري لکه د شبکې سره نښلول او د بیټرۍ ژوند[4].

**د پردې اندازې ستونزه**

د اغوستلو وړ ټیکنالوجي وسایلو د سکرین یا پردې کوچنی سایز یوه بله مهمه ستونزه ده، چې په زده کړه کې په زیاته اندازه د نوموړي ټیکنالوجی کارولو مخه نیسي. کوچنی ښودنه ښایي د هغه معلوماتو مقدار محدود کړي، چې زده کوونکي یې د زده کړې په ورکړل شوي وخت کې سره شریکوي، ځکه چې د اغوستلو وړ ټیکنالوجیو ښودنه کوچنی ده او دا د دې لامل کیږي چې

زده کوونکي او ښوونکي په زده کړه کې د نوموړو وسایلو کارولو ته تر ډېره بریده زړه ښه نه کړي. ځیني په دې عقیده دي، چې د اغوستلو وړ ټیکنالوجي وسایلو د ښودنې/ انټرفیس اړخونه کافي نه دي، ځکه دا ښایي د کاروونکو لپاره سخته وي، چې د دا ډول کوچنی ښودنې ځخه متن په بشپړ او ښه ډول ولولي[1].

**پایله**

د نورو ټیکنالوجیو په شان اغوستونکي ټیکنالوجی هم په زده کړه کې بې شمېره فرصوتونه رامنځته کوي لکه زده کړې ته د زده کوونکو هڅونه، د وخت او ځای سپما، سم لاسي فیډبېک او داسې نور، مګر ځیني محدودیتونه هم له ځانه سره لري لکه د نه رانیولو په اړه دلایل، د پردې اندازې ستونزه، د بیټرۍ ستونزه، د لوړ لګښت ستونزه، په ازموینو کې د تنظیم ستونزه، د زده کړې کیفیت اغېزمنتوب ستونزې، روغتیایي ستونزې، د مهارتونو ستونزه، د محرمیت ستونزه. که څه هم چې په زده کړه کې د نوموړي ټکنالوجی د محدودیتونو اندازه د اغوستلو وړ وسیلې په ډول او زده کړئیزې سناریو پوري اړه لري، چې نوموړي ټیکنالوجي په کې په کار اچول کیږي. په نوموړي مقاله کې د اغوستلو وړ ټیکنالوجیو اړوند مثالونو ته په کتو، زده کړئیز موسسات او استادان کولی شي، چې په زده کړه کې د زده کوونکو لپاره د اغوستلو وړ ټیکنالوجي په ګټوره طریقه پلي کړي او ورځخه اعظمي ګټه پورته کړي.

**References**


[1] Afshari, M. (2014). Wearable technology in education. Cloudtweeks.

[2] Attallah, B., & Ilagure, Z. (2018). Wearable technology: Facilitating or complexing education. *International Journal of Information and Education Technology*, *8*(6), 433-436.

[3] *Benefits of Wearable Technology in Education | GBKSOFT*. (n.d.). Retrieved .(August 29, 2021). , from https://gbksoft.com/blog/wearable-devices-in-education/

[4] Bower, M., & Sturman, D. (2015). What are the educational affordances of wearable technologies?. *Computers & Education*, *88*, 343-353.

[5] *Burton, E. (2016). wearable technologies that are most... - Google Scholar*. (n.d.). Retrieved .(October 29, 2021). , from https://scholar.google.com/scholar.

[6] Ezenwoke, A., Ezenwoke, O.A., Adewumi, A., & Omoregbe, N.A. (2016). Wearable Technology: Opportunities And Challenges For Teaching And Learning In Higher Education In Developing Countries.

[7] Hussein, M., & Nätterdal, C. (2015). The benefits of virtual reality in education-A comparision Study.

[8] Hyndman, B. (2017). A simulation pedagogical approach to engaging generalist pre-service teachers in physical education online: The GoPro trial 1.0. *Australian Journal of Teacher Education (Online)*, *42*(1), 84-102.

[9] Kumar, S. (2017). Technological and business perspective of wearable technology.

[10] Labus, A., Milutinovic, M., Stepanic, Đ., Stevanovic, M., & Milinovic, S. (2015). Wearable computing in e-education. *RUO. Revija za Univerzalno Odlicnost*, *4*(1), A39.

[11] Macdonald, J. C. (2015). A review studying wearable technology and augmented reality as it may apply to teaching and learning. *Academia. edu*.

[12] Sandall, B. K. (2016). Wearable technology and schools: where are we and where do we go from here?. *Journal of Curriculum, Teaching, Learning and Leadership in Education*, *1*(1), 9.

[13] Sivakumar, R. (2014). Google glass in education. *Journal of Cognitive Discourses*, *2*(02), 24-27.

[14] Swathi, T. N., & Lanka, S. (2015). Wearable technology a new paradigm in Educational Universities. *International Journal on Computer Science and Engineering*, *7*(4), 48-52.

# د محکمې د حکم څخه وړاندې د صلحې څرنګوالی

لیکونکي: پوهندوی امان الله ځدران او پوهندوی محمدشفیق مندوزی، شیخ زاید پوهنتون، د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د اداره او دیپلوماسي څانګې استادان

تقریظ ورکوونکی: پوهنوال محمدالله مندوزی د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د اداره او دیپلوماسي څانګې استاد

**لنډیز**

صلحه د انساني ژوند ضرورت او غوښتنه ده، په بل اړخ کې لانجې، ستونزې او دعوې هغه څه دي چې د ټولنې ترمنځ د سولې او آرام ژوند ټکنی کوي، چې د دواړو د حل او همغږۍ په خاطر محاکماتو او قضایي ارګانونو ته مراجع کیږي. د ځینو پوهانو په آند دعوا هم د انسان د ژوند یوه اړتیا ده؛ نو په دې توګه ویلای شوو، هغوی چې دعوا کول هم غواړي او د ځان لپاره آسانتیاوې برابروي؛ خو ډیر ځله دعوی د انسان د منځه تلو او له هغوی نه د خوښیو د تروړلو لامل ګرځي، چون عدالت او انصاف ټولنیزې اړیکې په تعادل کې ساتي، یو له مهمو مسایلو څخه په ټولنیزو اړیکو او برخو کې دصلحې برقرارول دي؛ نو محاکم هم مخکښې له دې چې خپله پریکړه صادره کړي، د دعوی طرفینو ته د صلحې وړاندیز کوي، چې د صلحې له طریقه خپلې دعوی ته د پای ټکی کیږدي؛ ځکه د صلحې تر ټولو مهمه ګټه داده چې د دعوی د طرفینو ترمنځ دعوی په هغه شکل پای مومي چې د دعوا د لوریو ترمنځ کومه کینه، بغض او دښمني نه پاتې کیږي او په کم وخت او کم مصرف باندې د دوی دعوا حل او فصل کیږي.

د دې مقالې د لیکلو عمده موخه د صلحې زده کړه او پیژندنه ده او د محکمې د حکم د صدور څخه وړاندې په جزایي، مدني او حقوقي موضوعاتو او دعواوو کې د دعوی د طرفینو ترمنځ صلحه کول دي؛ نو مونږ هم دې منظور دا لیکنه ترتیب کړه، چې لومړی د صلحې پیژندنه، د صلحې ځانګړتیاوې، د صلحې ارکان، د صلحې شرایط، د صلحې ډولونه، د صلحې آثار او احکام او د صلحې تاریخي سیر، او وروسته په جزایي دعواوو کې صلحه، په مدني او حقوقي دعواوو کې صلحه کول تر غور او برسۍ لاندې نیول کیږي.

کلیدي ټکي: د محکمې د حکم صدور، دعواوې ( جزایي، مدني، تجارتي او کورنۍ)، صلحه.

**سریزه**

الحمدلله رب العلمین والعاقبة للمتقین والصلواة والسلام علی رسوله محمدٍ وعلی اله واصحبه اجمعین.

دعوی او منازعه هغه وخت واقع کیږي، چې دوه یا زیات کسان د څه شي په اړه اختلاف ولري، یا د څه شي په مخالف او یا متفاوت موقف ونیسـي ؛که څه هم خلک په ډیری مسایلو کې یو د بل سره مشترکې وجهې لري؛ اما له هغه ځایه چې انسانان له مختلفو اړخونو څخه د یو بل سره مختلف او متفاوت دي؛ نو واضح ده چې دوی به په مختلفو مسایلو کې له یو بل سره اختلاف ولري.

دعوی او منازعه د انسانانو یو له ځانګړتیاوو څخه ګڼل کیږي، چې د انسانانو په ژوند کې په مختلفو ډولونو رامنځته کیږي. د بیلګې په ډول که یو دریور په یوه جاده کې چې د عبور حق له هغې څخه نلري، مقابل لوري ته خارج شي. دا پخپله یو ډول منازعه او دعوی رامنځته کوي. شخړه او دعوی یو طبیعي امر دی، چې د انسانانو په ژوند کې د کورنۍ ژوند څخه نیولي تر نړیواله کچې اړیکو پورې رامنځته کیږي؛ نو که مونږ وغواړو او که و نه غواړو دعوی رامنځته کیږي او دهغې مخنیوي نشو کولای، اما مهمه داده چې څنګه له هغې سره برخورد وکړو، یعنې که چیرې له منازعې او دعوې سره سالم برخو رد ونکړو، ممکن ده چې د دعوی طرفینو په زیان تمام شي او زیانونه رامنځته کړي، کله چې منازعه واقع کیږي، د دعوی او دشخړې لوري یا دهغې پر وړاندې یا سکوت اختیاروي او یا د یوې ستونزې په عنوان دا دعوی په رسمیت پیژني او د حل لارې په باره کې یې فکر کوي، کله چې د دعوا طرفین تصمیم نیسي چې ستونزې ته د حل لاره پیدا کړي؛ نو د دې دعوی حل او فصل کول له دوو طریقو کولای شي چې یوه حل لاره، قضایي حل لاره ده او بله غیر قضایي حل لاره ده، چې په قضایي حل لاره کې خپله دعوا د محاکمو له طریقه کولای شي چې پر مخ یوسي؛ خو د هغې نه بله ښه طریقه چې کمه مصـرفه او په کم وخت کې کولای شي خپله دعوا حل او فصل کړي، هغه په غیر قضایي حل لاره کې د صلحې له طریقه خپلې دعوی ته د پای ټکي ایښودل شي چې دصلحې څخه هدف د هغو تدابیرو اتخاذ او د دعوا لوریو ته د منلو وړ حل لارو پیدا کول دي، چې په مصالحه کې د دعوا طرفین په نسبي ډول خپلو اهدافو او منافعو ته رسیږي. په مصالحه کې طرفین مني چې تر یوه بریده به د خپلو منافعو څخه تیریږي او خپل مقابل جانب ته په یو مقدار امتیاز باندې قایلیږي ترڅو وکولای شي یو څه مقدار امتیاز ترلاسه کړي. صلحه کولای شي چې د دعوی طرفین دمنازعې په مدیریت کې او هغې ته د ځواب په څرنګوالي کې مرسته وکړي؛ نو د دعوی طرفین کولای شي، چې د دعوی څخه مخکښې، او یا په محکمه کې د دعوی د جریان په وخت کې

یا د محکمې د حکم دصدورڅخه مخکښې صلحه وکړي او دعوی ته دپای ټکی کیږدي او که د دعوی طرفین په دې ونه توانیدل چې صلحه وکړي؛ بیا نو خپلې دعوی به د قضایي حل لارې له طریقه حل او فصل کوي.

**د څیړنې د اختیار لاملونه**

۱- د محکمې د حکم د اصدار څخه وړاندې د صلحې څرنګوالی په جزایي، مدني، حقوقي او کورني دعواوو او موضوعاتو کې دی.

۲- د دې خبري واضح کول چې د دعوی د طرفینو ترمنځ صلحه، د محکمې د حکم د صدور څخه وروسته ترسره کیدای شي او که نه؟ که امکان لري؛ نو اغیزې به یې څه وي؟

۳- د محکمې د حکم د اصدار څخه وړاندې د صلحې د څرنګوالي په ارتباط د قانون او اسلامي شریعت ترمنځ تفاوت واضح کول.

**ستونزي او مشکلات**

د دې موضوع په تحقیق کې واقعاً چې د بعضو مشکلاتو سره مخامخ شوي یو، د مجهز کتابتون نه شتون سره زیات هغه حقوقي کتابونه نه پیدا کیږي چې قوی استفاده ترې وشي او که پیدا هم شي ډیر قوي شخص نه وي لیکلي، بله دا چې په انټرنیټ کې هم مواد په پښتو ژبه نه پیدا کیږي چې په هغي کې دې د دعواوو او د صلحې څخه بحث شوي وي.

د دې مشکلاتو حل لپاره مو د خپل وس مطابق کوشش کړی تر څو د هرې ممکن لارې څخه استفاده کړي.

**د څیړنې اهمیت**

د صلحې او شخړې د پیښودو بحث د انسانانو د ژوند په ټولو برخو او زاویو کې یو له مهمو بحثونو څخه دی. د صلحې په سیوري کې انس ( مینه ) رامنځته کیږي او د انسان ماهیت، چې هغه هم له انس څخه اخستل شوی، معنی پیدا کوي؛ نه د جنګ، شخړو او بیلا بیلو کشمکشونو په سیوره کې، چې پرته له ورانۍ او بربادۍ بله پایله نلري. صلحه په خپله نه رامنځته کیږي او شخړه او دعوی پرته له سببه نه ختمیږي او که کنترول نه شي، د جنګ د اور او د دعواوو په پراخیدو به تمام شي. په همدې اساس لازمه ده چې انسانان په ګډه هلې ځلې وکړي چې د جنګ او شخړې حالت د سولې او امن په حالت واوړي، چې دا به په خپله غوره عبادتونو او طاعتونو څخه شمیرلی کیږي.

د جنګ، شخړې او د دعوی حالت په صلحې بدلول او آرامۍ بدلول، يو لړ هغو تعاملاتو ته اړتيا لري چې انسانان په ګډه هلې ځلې وکړي چې د جنګ او شخړې حالت د صلحې او امن په حالت واوړي. د دعوی او شخړې حالت په صلحې او آرامۍ بدلول، يو لړ هغو تعاملونو ته اړتيا لري چې د انسانانو له تجربو پيدا شوي او د يوه علمي ارزښت په توګه وړاندې شوي دي. له همدې ځايه ده چې په ښوونيزو برخو لکه د ښوونځي دورې او لوړو زده کړو کې د صلحې مضمون شاملول مهم بريښي؛ دا هغه چاره ده چې هر زده کونکی او محصل په دې برخه کې پراخې مطالعې ته واداره کوي.

**فرضيه**

۱- که بالفرض د دعوی طرفين د محکمې څخه بهر صلحه وکړي آيا محکمه به د دوی دغه صلحه تاييد کړي؟

۲- بالفرض که صورت دعوا په صورت حال که نه وي درج شوي آيا محاکم به د صلحې نامې په نظر کې نيولو سره پريکړه صادره کړي؟

**پوښتني**

۱- آيا صلحې تړون د منځګړيتوب او حکميت له طريقه ترسه کيدلې شي؟

۲- ايا د محکمې د حکم د اصدار څخه مخکښې د صلحې څرنګوالی په جزايي، مدني، **حقوقي او فاميلي موضوعاتو کې په اسلامی شريعت او وضيعی قوانينو کی سره کوم فرق لري؟**

۳ـ آيا د دعوی طرفين کولای شي، چې په جزايي، مدني او حقوقي موضوعاتو کې د محکمې د حکم د اصدار څخه روسته صلحه وکړي؟

د دعوی طرفين کوم وخت قضايي حل لارې ته مجبوريږي؟

**تيرو څيړنو ته کتنه**

د منازعاتو، دعواوو،شخړو او د صلحې په هکله ډيرې ليکنې شوي دي، په ځانګړي ډول د جزايي، مدني، کورني او تجارتي مسايلو او دعواوو په ارتباط زياتې ليکنې شوي دي؛ خو داسې يوه مستقله ليکنه د محکمې د حکم د صدور څخه وړاندې د صلحې څرنګوالي تر عنوان لاندې نه تر سترګو کيږي، يعنې په ډيری جزايي او حقوقي کتابونو او ليکنو کې لکه د جزايي او مدني محاکماتو په اوصولو کې، په مدني او جزايي قوانينو کې، همدارنګه ديته ورته په نورو جزايي او حقوقي کتابونو کې د دعوی او د صلحې اړوند مطالب او موضوعات پکښې نغښتل شوي دي. د بيلګې په ډول د افغانستان د مدني اصولو په قانون کې يوازې د مدني دعواوو په هکله د مصالحې

په ارتباط ځینې قانوني مواد شته، یا د جزا په کود کې همدارنګه د جزایي اجراآتو په قانون کې لړ څه قانوني مواد د جزایي دعوی او مصالحې په ارتباط په سترګو کیږي، همدارنګه ځیني ایراني، عربي، غربي په ځانګړي ډول افغاني حقوقپوهانو او لیکوالانو د جزایي، مدني، کورني او تجارتي دعواوو او په دې موضوعاتو کې صلحه کولو په ارتباط لیکنې او بحثونه کړي دي. څرنګه چې مخکښې مې یادونه وکړه چې د محکمې د حکم د صدار څخه مخکښې د صلحې د څرنګوالي تر عنوان لاندې لیکنه نشته؛ نو هیله ده، چې د محکمې د حکم د اصدار څخه وړاندې د صلحې څرنګوالی دی، انشاءالله په پوره امانتدارۍ سره یې سره ته ورسوو.

**مواد او کړنلاره**

زمونږ دا څیړنه یوه کتابتونې څیړنه ده د اسلامي شریعت او وضعي قوانینو نه علاوه مې د مختلفو نورو کتابونو او انټرنیټ سایټونو څخه استفاده کړیده.

کوشش مو کړي دی ترڅو هره موثقه مرجع چې د خپلې موضوع د تکمیل په خاطر په لاس راغلي ده مونږ ترې په قسم د اقسامو استفاده کړیده دا مانا چې خپل انساني نهایي کوشش مو کړي دي، تر څو موضوع له هرې نګاه څخه وڅیړل شي او لوستونکې یي په لوستلو کې نورو کتابونو ته اړ نه شي.

**صلحه**

**د صلحې تعریفونه**

**د صلحې لغوي تعریف:** صلحه په لغت کې د آشتي، سلم، د متنازعینو تراضي، سازش، جګړې ته خاتمه ورکول او د نزاع قطع کول دي. (۱۲ : ۳۵۹)

**د صلحې اصطلاحي تعریفونه**

**د افغانستان مدني قانون:** (د افغانستان مدني قانون (۱۲۹۷) صلحه داسې تعریفوي: صلحه یو عقد دی، چې جګړه لرې کوي او د دواړو خواوو د رضایت په اساس خصومت پرې کوي. (۷ : ۱۲۹۷)

**مصطفی نیازي صاحب تعریف:** (صلح عربي کلمه ده، چې د فساد ضد او د فساد اصلاح ده؛ نو په مجموع کې د عداوت له منځه وړلو ته صلحه یا اصلاح وایي. همدارنګه د تشنج او کدورت له منځه وړلو ته صلحه وایي). (۱۴ : ۳)

**په فقه او قانون کې:** هغه عقد دی، چې د دوو کسانو ترمنځ په معامله کې یا په واقعه کې

اختلاف لري، منعقد کيږي. د ايران په مدني قانون کې د صلحې څخه څرګند تعريف نه دی شوی او يوازې په ۷۵۲ ماده کې صراحت لري. ( سوله ممکنه ده، چې د موجوده تنازع د رفعې په مورد يا په يوه معامله کې د احتمالي تنازع د مخنيوي په خاطر واقع شي.) نو دې تعريف ته په کتو سره صلحه داسې تعريفوو، چې (صلحه له هغه عقد څخه عبارت دی، چې د دوو يا د دوو څخه د زياتو کسانو ترمنځ د موجوده تنازع د رفعې په مورد کې او يا د احتمالي معاملې د تنازع د مخنيوي خاطر واقع کيږي.) (۵ : ۱۲۲۳)

البته بايد په نظر کې ولرو چې د سولې څخه مقصد په نحن ما فيه کې، د خصوصي حقوقو په چوکاټ کې ده او په عمومي حقوقو کې صلحه د مسلمانانو او کافرانو ترمنځ، او صلحه د دولتونو او نورو ډلو ترمنځ بله مقوله ده.

**د مصلحينو اوصاف**

مصلحين يا صلحه کوونکي بايد لاندې اوصاف ولري:

۱- علم او پوه ولري: مصلح بايد علم او پوهه ولري، چې پرې د حق او باطل فرق او تميز وکړای شي؛ نو د دې ترمنځ جداوالی راولي، ترڅو خپله فيصله په درسته او صحيح توګه وکړای شي او فيصله صحيح صادره کړي.

۲- د مهارت او فن خاوند وي: مصلح بايد د موضوعاتو په حل کې د ځانګړي مهارت او فن خاوند وي، او ټول هغه رسم او رواجونه وپيژني کوم چې د ټولنې د افرادو ترمنځ رايج وي، او پر اړه يې کره او سم مالومات ولري، چې له مخې يې د مصالحې چارې په ښه توګه ترسره کړي.

۳- کافي تجربه لرونکی وي: مصلح بايد د مصالحې او روغې جوړې کافي تجربه او بشپړه تجربه لرونکی شخص وي، ترڅو منازعه او شخړو کې ورځخه کار واخلي او په آسانۍ سره وکولی شي د دواړو خواوو ترمنځ منازعه حل او فصل کړي.

د افغانستان د مدني قانون ۹۸۶ مادې څخه داسې استنباطيږي، چې مصلح بايد عادل، امانتداری، د فن او مهارت خاوند، تجربه لرونکی، مطرح او باوري وي، او د دواړو خواوو ترمنځ په اصطلاح باندې قادر وي. د يادولو وړ ده، چې په افغانستان کې اکثره مصلحين د پاخه عمر لرونکي او باوري اشخاص وي؛ خو ځوانان او بې تجربې افراد د مصلحينو په مجلسونو او غونډو کې يوازې د کتونکو او ليدونکو په حيث ګډون کوي، ترڅو د هغوی د کړنو او پريکړو څخه مالومات او

زده کړه ترلاسه کړي او په راتلونکي کې د افرادو ترمنځ د هغوی د منازعاتو په حل کې د مصلح دنده ترسره کړي؛ خو د مصلحینو هغه فیصلې چې د اسلامي شریعت او عامه آدابو په خلاف وي لکه: په بدو کې د ښځو ورکول؛ نو باید د دا ډول ناوړه دودونو سره ټول وګړي په مشترکه توګه مبارزه وکړي ترڅو دا ډول دودونه پای ومومي، او زمونږ ټولنه د اسلامي شریعت د احکامو او نیکو دودونو مطابق د نجات، خیر او بهبود خواته لاړه شي. (۴ : ۱۲۵)

**د صلحې د عقد مبطلات:** فقها په لاندې مواردو کې د صلحې عقد باطل ګڼلي.

۱- اقاله، د صلحې عقد هم هر دوه اړخیز عقدپه څیر د عقد د طرفینو ارادې تابع دي؛ نو که چیرې دوی دې عقد ته لاس رسی پیدا کړي، چې عقد منحل کړي، عقد ختم شوي ګڼل کیږي.

۲- د خیارونو ردول .

۳- د سولې د هر یو د متعاقدینو مرګ ( چې دا مورد د اختلاف وړ نه دی). نو که چیرې د صلحې د عقد د یو له مخکښنیو مواردو څخه باطل وګڼل شي، هغه وخت مدعی به خپلې اصلي دعوی ته بیرته ورګرځي او وضعیت اولیه حالت ته ورګرځي. (۵ : ۱۲۲۹)

**د صلحې د عقد ډولونه**

الف) د اختلافاتو او نزاع د رفعې په مقام کې: ځیني وخت د دوو کسانو ترمنځ اختلاف او نزاع رامنځته کیږي. دوی د دې لپاره چې اختلاف ته خاتمه ورکړي او یا په راتلونکي کې د دوی ترمنځ بله دعوی واقع نشي، د صلح عقد منعقد کیږي، په واقعیت کې په دې حالت کې د صلحې هدف په دې حالت کې د دوی ترمنځ ( آشتي او د سازش برقرارول وي لکه د قصاص په حق کې)

ب)د معاملې په مقام کې: د هغې صلحې څخه عبارت دی، چې په عرفي ډول د نورو عقودو ځای ناستی کیږي، صلحه په معمول ډول معوض لري؛ اما ضرورت نلري چې د دواړو ارزش سره برابر وي، که چیرې عوض ناچیز وي او برابر نه وي او په صلحه کې ناچیز او نابرابر عوض وټاکل شي، دې صلحې ته محاباتي صلحه ویل کیږی. (۵ :۱۲۳۰)

**صلحې ( جوړ جاړي ) ته د طرفینو تشویق**

د مسلمانانو ترمنځ صلح جایز ده، په دې اړه الله تبارک و تعالی داسې حکم کوي:

(فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا أَنْ يُصْلِحَا بَيْنَهُمَا صُلْحًا وَالصُّلْحُ خَيْرٌ).(النساء: ۱۲۸)

ژباړه: کوم خنډ نشته چې یو له بله صلح وکړي، صلحه نیکمرغي ده.
په جزايي او حقوقي دعواوو کې د صلحې د ترسره کولو څرنګوالی

**په جزايي دعوی کې صلحه**

**په حدودو کې صلحه:** د حق الله په مورد باید صلحه ونه کړو. علما ویلي دي: د صلحې موضوعات په دوه ډوله دي، یا به حق الله وي یا به د بنده حق وي، په حق الله کې صلحه نه ترسره کیږي؛ نو پر دې بنسټ د زنا حد، د شرابو حد په هکله صلحه سمه نه ده، په هغه ډول چې مال د هغې څخه واخلي او موضوع یې قاضي ته وړاندې نه کړي؛ ځکه صلح کونکی په صلحه کې د خپل ځان په باره کې تصرف کولای شي؛ اما صلحه په حق الله کې باطله ده مثلاً کله چې صلحه په حق الله کې باطله شي، هغه څه یې چې ترلاسه کړي دي، باید هغه مسترد کړي، ابن القیم ویلي دي: ( حقوق دوه ډوله دي: حق الله او د بنده حق، په حق الله کې د صلحې امکان نشته، مثلاً حدود، ذکات، کفارات او داسې نور. صلحه د بنده او د هغې د رب ترمنځ ده، باید هغه قایم کړي، نه داچې د هغې څخه تیر شي، په همدې دلیل په حدودو کې صحیح نه ده، که چیرې مسئله امام ته ورسیږي؛ نو سفارش کوونکی او شفارش شوی، دواړه لعنتي دي. مګر د بنده ګانو په حقوقو کې چې صلحه قبلوي، اسقاط او عوض اخیستل دواړه ممکن دي او صلحه کولای شي). د صلحې په باره کې هرڅه راغلي او فقهاوو په هغې کې تحقیق کړی، ټول د بنده ګانو په حقوقو پورې تعلق لري؛ ځکه نه یوازې د دوی په حقوقو کې صلحه سمه ده؛ بلکې د قرآن او سنت سره تطابق لري او باید شي. که چیرې هغه حقوق چې د الله او بنده ترمنځ مشترک وي؛ مګر که دبنده حق په هغې کې زیات وي، لکه د قصاص صلحه په دې دول هم صحیح دی، که چیرې حق الله زیات وي لکه قذف صلحه په هغې کې صحیح نه ده.
(۱۴ : ۳۵)

**په تعزیراتو کې صلحه**

جرایم په یوه عمده ویشنه کې په دوو ډولونو د زغم وړ او د زغم نه وړ جرایمو باندې ویشل کیږي. د زغم وړ جرایم هغو جرایمو ته ویل کیږي چې قانونګذار د ټولنیزو مصالحو د رعایت په لحاظ او یا کورني موضوعات چې خصوصي اړخ یې پر عمومي اړخ برتري لري او د هغې تعقیب د شاکي په شکایت پورې موکول دی. حتی د شکایت د اعلان څخه وروسته هم شاکي حق لري چې د متهم له تعقیب څخه صرف نظر وکړي؛ نو د ګذشت په اعلام سره د متهم

تعقیب به متوقف شي، دیته د زغم وړ جرایم وایي. برعکس، د نه زغم وړ په جرایمو کې د شاکي لخوا د شکایت اعلام یا د شاکي ګذشت د تعقیب په امر کې کوم تاثیر نلري او څارنوال مکلف دی، چې د اطلاع سره سم، متهم تر تعقیب لاندې ونیسي.

**په زغم وړ جرایمو کې صلحه**

د زغم وړ په جرایمو کې یعنې هغه جرایم چې د شاکي او متضرر په ګذشت سره(د جرم څخه) د جرم تعقیب، رسیدګي او یا د حکم اجرا متوقف کیږي. ګذشت باید په صراحت سره او پرته له هر ډول قیدو شرط څخه وي؛ نو په مشروط او معلق ګذشت سره به په قضایي مراجعو کې به د ترتیب اثر ونه لري. د بیلګې په ډول الف شخص د ج شخص څخه د فحاشی په عنوان سره شکایت کوي؛ اما د آشنایانو او د فامیلونو په وساطت سره د خپل شکایت څخه صرف نظر کوي؛ نو په رضایت پاڼه کې لیکي، چې که چیرې ج تعهد وکړي چې د هغې لپاره به بیا مزاحمت نه کوي او بد رد به نه ورته وایي، حاضر دی چې رضایت ورکړي. په دا ډول صلح پاڼه کې چې قید او شرط لري، په محاکمو کې د ترتیب اثر نلري؛ ځکه د الف رضایت هغه څه پورې تړاوو لري، چې ج به تعهد وکړي چې په راتلونکي کې به په الف شخص باندې پر نظر وړ عمل نه مرتکب کیږي. پر دې بنسټ د رضایت اعلام باید پرته له هر ډول قید او شرط څخه وي. (۱ : ۸۶)

**د شکایت کوونکي تعدد**

کله چې له جرم څخه متضرین متعدد وي، د دوی په هر شکایت باندې جزایي تعقیب شروع کیږي؛ اما د تعقیب موقوف کیدل د ټولو هغو کسانو په ګذشت پورې تړلی دی چې شکایت یې کړی دی. باید متوجې وو چې د ګذشت حق، د شاکي د فوت په صورت کې د هغې ورثې ته رسیږي او د ټولو د ورثو په ګذشت سره د تعقیب رسیده ګي او د مجازاتو اجرا کول درول کیږي.

**د متهم سره صلحه کول د نه زغم وړ په جرایمو کې**

د خصوصي دعوی برخلاف، د هغه شخص واک دی چې د جرم څخه متضرر شوی، په عمومي دعوی کې د دعوی حق دمدعي العموم یا څارانوال سره وي. په نتیجه کې چې څارانوال یا هر بل مقام چې د تعقیب د امر صلاحیت لري، ملکف دی، چې عمومي دعوی جریان ته واچوي او نهایي نتیجې ته تر رسیدلو پورې هغه باید تعقیب کړي؛ نو د څارانوال او متهم ترمنځ د صلحې او

د جوړجاړي امکان وجود نه لري. اما د نه زغم وړ په جرایمو کې چې خصوصی شاکي هم وجود لري( لکه سرقت، په امانت کې خیانت او ... ) د شکایت کونکي د خپل ګذشت اعلامول، د متهم شخص د مجازاتو په تخفیف کې تاثیر لري، دا تاثیر په دوو حالتونو کې لیدل کیږي: یو د قطعي حکم له صدور څخه مخکښې او بل د قطعي حکم له صادرول څخه وروسته.

د نه زغم وړپه جرایمو کې د قطعي حکم له صدور څخه مخکې د شکایت کوونکي د ګذشت تاثیر

که د قطعي حکم څخه مخکښې شکایت کوونکی د رضایت اعلام وکړي، د اسلامي مجازاتو د قانون ۲۲ مادې اول بند په موجب محکمه کولای شي د متهم مجازاتو کې تخفیف راولي یا د مجازاتو ډول ته تغییر ورکړي. د بیلګې په ډول د حبس پر ځای هغه پر نقدي جریمه باندې محکوم کړي.

د نه زغم وړ په جرایمو کې د قطعي حکم له صدور څخه وروسته د شکایت کوونکي د ګذشت تاثیر

فرض کوو چې یو شخص د سرقت په تور تر تعقیب لاندې نیول کیږي او له رسیدګۍ وروسته په یو کال حبس باندې په جزا محکومیږي؛ اما د یوې میاشتې له تیریدو وروسته ، مؤفق کیږي چې د شاکي رضایت ترلاسه کړي. د قانون مطابق که چیرې شاکي په دا ډول جرایمو کې د حکم له قطعي کیدلو څخه وروسته له خپل شکایت څخه صرف نظر وکړي، محکوم کولای شي د شاکي د رضایت په استناد د هغې محکمې څخه چې پر هغې یې قطعي حکم صادر کړی دی، د هغې محکمې څخه غوښتنه وکړي چې د هغې د مجازاتو په میزان کې تجدید نظر وکړي. په دې توګه نوموړي محکمه د محکوم علیه د درخواستۍ مطابق په فوق العاده وخت کې رسیدګي کوي او د اقتضاء په صورت کې د هغې په مجازاتو کې تخفیف راولي. (۲ : ۱۱۲)

**په قصاص کې صلحه:** با وجود د دې چې د اسلام په حقوقي نظام کې د قصاص اصل منل شوی دی؛ خو ترڅنګ یې هر وخت د جاني څخه د انتقام پرځای د هغې پرعفوې او ګذشت باندې تاکید شوی دی، که څه هم په تشریع کې د قصاص حق په پراخ ډول حیاتي ګڼل شوی دی نسبت دیته، چې اجراء شي او دا پخپله د دې واقعیت ښکاروندوی کوي، چې د قصاص فلسفه د هغې په اجرا کې نده؛ بلکې په ټولنه کې په خپله قانون او د قصاص د حق موجودیت کولای شي، چې خپل منع کوونکی اثر ولري او له هغه ځایه چې د قصاص د اسقاط مواردو تحقق د

حیات مایه ګڼل کیږي، په دې توګه د قصاص د سقوط عواملو د مواردو څېړنه یعنې هغه موارد چې د قصاص د ثبوت او تحقق څخه وروسته د قصاص د له منځه تلو سبب ګرځي، په اسلامي او موضوعه حقوقو کې د قصاص د سقوط مواردو تر عنوان لاندې بیان شوي دي، د مقتول د اولیاو عفو او صلحه، د جاني فوت او صلحه د قصاص د حق تملك، د قتل څخه وروسته د قاتل تغییر ورکول، د ثالثو اشخاصو د حقوقو تعارض د قاتل د قصاص سره او د اولیاء دم د نه توافق د قاتل د قصاص سره د قصاص د سقوط د مواردو څخه ګڼل کیږي. د ایران د موضوعه حقوقو د اولیاء دم عفو د جاني فوت او صلحه د قصاص د مجازاتو د سقوط د مواردو څخه ذکر شوي دي. صلحه د حق څښتن او جاني په تراضي سره په معینه دیت یا کم او زیات د هغې څخه، په قتل او عمدې قطع او جرح کې د قصاص د سقوط د مواردو څخه ګڼل کیږي. (۱۰ : ۹۶)

**په مدني موضوعاتو کې صلحه**

په جزايي امورو کې له عمومي اړخه د څارانوال او د متهم ترمنځ صلحه د تصور وړ نه ده؛ اما د جزايي امورو برخلاف په مدني امورو کې د دعوی څښتنان د دعوې په هره مرحله کې کولای شي خپله دعوی د صلحې له لارې حل و فصل کړي. صلحه د طرفینو ترمنځ یا د رسمي اسنادو په دفتر کې واقع کیږي، یا په محکمه کې تنظیمیږي. که چیرې صلحه د رسمي اسنادو په دفتر کې واقع شوي وي، محکمه د صلح نامې په مقابل کې د د موضوع ختم په دوسیه کې قیدوي او وروسته له هغې د رسمي اسنادو د اجراکولو د مقرراتو مطابق دا صلح نامه به اجرايي وړتیا ولري.

د قاضي له صلاحیتونو څخه دادی، چې د دعوا د دواړو خواو ترمنځ صلحه رامنځته کړي؛ ځکه چې الله تعالی مؤمنان صلحې ته ترغیب کړي دي. الله تعالی فرمايي: (وَإِنْ طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا فَإِنْ بَغَتْ إِحْدَاهُمَا عَلَى الْأُخْرَى فَقَاتِلُوا الَّتِي تَبْغِي حَتَّى تَفِيءَ إِلَى أَمْرِ اللَّهِ فَإِنْ فَاءَتْ فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا بِالْعَدْلِ وَأَقْسِطُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ).(الحجرات:۹)

ژباړه: او که مؤمنانو څخه دوه ډلې په خپلو منځو کې په جنګ شي؛ نو د هغوی په منځ کې صلحه وکړئ او انصاف وکړئ، چې الله تعالی انصاف خوښوي.

له محارب بن دثار څخه روایت دی، چې عمر رضي الله عنه وفرمایل: د دعوا دواړه خواوې وګرځوئ ترڅو صلحه وکړي؛ ځکه صلحه سینې صفا کوي، او د زړه درد له منځه وړي.

له محارب بن دثار څخه بل روایت دی، چې بې شکه قضايي فیصلې اکثراً دښمنۍ په میراث پاتې کوي. داچې د دعوی دواړه خواوې سره کیني؛ نو قاضي ته په کارده، چې هغوی سولې ته

ترغیب کړي، که په خپلو کې سره سوله یې وکړه؛ نو خبره خلاصه ده، دعوی پای ته رسیږي، او که داسې و نه کړي، بیا دې قاضي په عدل او انصاف سره د هغوی ترمنځ فیصله وکړي او حکم دې صادر کړي.

ځیني علما وايي: صلحه جواز نه لري، مګر په هغه صورت کې چې قاضي د دعوی حقیقت ته و نه رسیږي او په دې پوه نه شي چې حق د چا سره دی؟ (۱۳ : ۷۴)

که چیرې صلحه په محکمه کې واقع شي، د صلحې موضوع او د هغې شرایط په هغه ترتیب چې واقع شوي د محکمې لخوا صورت جلسه کیږي او د قاضي او د دعوی د لوریو لخوا امضاء کیږي؛ اما که چیرې صلحه د محکمې څخه د باندې او د رسمي اسنادو په دفتر کې ترسره شي یا داچې صلحه نامه غیر رسمي وي ( لکه د دعوی اصحاب د دوو کسانو په حضور کې په خپل منزل کې صلح لیک تنظیم کړی وي) باید محکمې ته حاضر شي او د هغې په صحت او سم والي اقرار وکړي. وروسته محکمه د دوی د اقرار مفاد په صورت جلسه کې درج کوي او دا صورت جلسه د دعوی د لوریو او د قاضي لخوا امضاء کیږي. په محکمه کې پرته له عذره د دعوی د طرفینو د نه حضور په صورت کې، محکمه پرته لدې چې د صلح نامې مندرجاتو ته پام وکړي، د محکمې جریان ته ادامه ورکوي او بیا د قضیې په اصل کې رسیدګي کوي. هر څوک کولای شي د هرې دعوې په مورد کې په لیکلي ډول له محکمې څخه وغواړي، چې مقابل لوری د صلحې لپاره راوغواړي او محکمه هم مقابل لوری د صلحې لپاره دعوتوي. د طرفینو له حضور څخه وروسته، محکمه د دواړو لورو اظهارات اوري او د صلحې لپاره هڅه کوي. که چیرې قاضي لپاره ثابته شي، چې طرفین توافق ته نه رسیږي او د طرفینو ترمنځ د صلحې په حاضر سره ، محکمه رسیدګی ته خاتمه ورکوي او اصلاحي ګزارشات صادروي. د صلحې نامې مفاد چې د مقرراتو مطابق تنظیمیږي، د طرفینو او د دوی د ورثو او د دوی د قانوني ځای ناستی په نسبت معتبر ګڼل کیږي او د محکمې د احکامو په څیر تر اجرا لاندې نیول کیږي. (۳ : ۳۱)

د صلحې په رابطه ابن تیمیه رح په خپله مجموع فتاوی کې دارنګه حکم کوي:

(په صلحه باندې د قاضي حکم تر قضایي پریکړې پر حکم غوره دی، ځکه مدعي او مدعی علیه د خصومت په دفع کې شریک دي، او په صلحه کې امتیاز د دواړو دی، یو لوری خپل حق بل لوري ته ترک کوي او د جانب مقابل امتیاز اخلي دغه حالت (صلح) په مصلحت سره کامله او بشپړه ده، دا توپیر نه کوي چې حق دې په ظاهره د یوه اړخ وي خو په باطن کې دې د هغه

خلاف څه وي) د نورو فقهاوو اقوال هم د صلح په جواز دي:
کله چې محکمې درک کړه او صلحې ته یې د طرفینو رغبت ولید، محکمه طرفین صلحې ته رابولي، کله یې چې ترمنځ صلحه وشوه، محکمه قضیه د مدني محاکماتو د اصولو د قانون د مادو له صراحت سره سمه ختموي:۲۳۰ ماده: (محکمه په هغو قضایاوو کې چې صلحې ته د طرفینو رغبت احساس کړي، د مصلحینو په ټاکنه توصیه کوي.)
۲۳۱ ماده(۱)(کله چې د دعوا طرفین په خپل منځ کې صلحه وکړي، که چیرته دا صلحه د دعوا تر دوران مخکښې او د محکمې په جریان کې وي، اصلاح خط لیکل کیږي او موضوع ته د پای ټکی ایښودل کیږي.)
(۲)(کله چې اصلاح د دعوا د دوران او محاکمې په جریان کې ترسره شي، صورت اصلاح په پریکړه کې درجیږي او د طرفینو د شخړې د ختم او د اصلاح په تجویز حکم صادریږي.)
۲۳۲ماده:(که چیرته طرفین په اصلاح او موافقه و نه کړي، محکمه موضوع تر دوران لاندې نیسي او پریکړه صادره وي)
د قانون له پاسنیو مصرحه متونو څخه داسې ښکاري چې د دعوا تر دوران وروسته او مخکې اصلاح راتلی شي، دا په دې مانا چې په مخصوصه فورمه (صورتحال ) کې د مدعی د دعوا تر درج مخکې، قضیه تر دوران لاندې نه وي، خو د صورت حال په فورمه کې د مدعی د صورت دعوا تر درج وروسته، قضیه تر دوران لاندې راځي. که چیرته اصلاح له دوران مخکې یعنې د صورت حال په فورمه کې د مدعي د صورت دعوا نه وي درج، محکمه د طرفینو ترمنځ یوازې په یوه اصلاح خط بسنه کوي، او د محکمې د پریکړې او قرار صدور ته اړتیا نشته او موضوع ختمه اعلانوي. خو که قضیې دوران موندلی وي او د مدعي صورت دعوه د صورت حال په فورمه کې درج شوي وي،په دې وخت کې محکمه بیا اصلاح د یوې پریکړې له لارې صادروي او موضوع ته د پای ټکی ایږدي. ( ۶ : ۲۲۹، ۲۳۰، ۲۳۱ )

**د مدني قضیې د رسیده ګۍ وخت**

د مدني دعوی رسیده ګي او اجراآت د ابتدائیه محاکمو په جریان کې مقید او محدود دی او مدني دعوا د رسیده ګۍ لپاره قانون یو مهال ټاکلی دی، څو په هماغه ټاکلي وخت کې مورد دعوا قضیه حل او فصل شي، حتی د قاضي لپاره اجازه نشته چې له موجهو دلایلو پرته، د محاکمې د پروسې بهیر وځنډوي، په دې اړه د مدني محاکماتو د اصولو د قانون ۱۹۷ ماده داسې

حکم کوي. (محکمه نه شي کولای د مدني قضایاوو د رسیدګۍ د جریان بهیر له موجهو دلایلو پرته وځنډوي.)

د پاسنۍ مادې د حکم په اساس، د قانون له احکامو سره سم باید د محاکماتي پروسې بهیر دوام مومي، هغه مهال چې قانون د مدني دعواګانو لپاره پیشبیني کړې دی، د مدني محاکماتو د اصولو د قانون په ۲۰۰ ماده کې داسې تصریح شوي دي. (۱۱ : ۵۶)

**د دعوې له اقامې څخه وروسته صلحه:** صلحه عموماً د دعوی له اقامې څخه وروسته واقع کیږي، د دعوی له اقامې څخه وروسته محکمه معمولاً د طرفینو په تشویق سره صلحې ته رسیږي. د ایران د مدني محاکماتو د اصولو د قانون د ۱۷۸ مادې پر اساس، د مدني دعوی په هره مرحله کې طرفین کولای شي، خپله دعوی د صلحې له طریقه ختم کړي، هر کله چې د دعوی اصحاب متعدد وي، هر یو د دوی څخه کولای شي، د نورو څخه په جلا ډول د خپل مقابل جانب سره صلحه وکړي، په دې توګه ممکنه ده، چې صلحه په محکمه کې او یا له محکمې څخه بهرترسره شي، همدارنګه د دعوې له اقامه څخه وروسته طرفین کولای شي په محکمه کې صلحه وکړي او دا صلحه ممکن ده چې د محاکماتي پروسیجر په هر پړاوو کې هم په ابتدایي او هم په تجدید نظر کې صلحه کولای شي. چون په دا ځای کې موضوع، دعوی ته خاتمه ورکول د صلحې له طریقه ده، باید دا امر د قطعې حکم له صدور څخه مخکښې ترسره شي، صلحه چې په محکمه کې واقع کیږي په معمول ډول د هغې دعوي په مورد کې چې مطرح شوي ده، په دې توګه طرفین کولای شوو په نوموړي ترتیب د دعوی په نسبت د دعوی او نورو امورو په نسبت صلحه وکړي، په دې توګه د صلح نامې پر مفادو هماغه آثار مترتب دي. صلح نامه د مطرح شوي دعوی په نسبت مؤثره ده او دطرفینو توافق یوازې د نوموړي دعوی غوښتنه یعنې مطالبه شوی حق چې د داد غوښتنې د وړاندې کولو په تاریخ باندې منجز وي په برکې نیسي، مګر داچې صلح نامه په واضح ډول د دعوی یا نورو امورو باندې شاملیږي. له بله پلوه باید ومنو چې د موضوع په نسبت باید اجراییه صادرکړو چې په اصلاحي ګزارش کې په منجز صورت سره قید شوی دی، په نتیجه کې که چیرې موضوع منجز نه وي؛ بلکې دهغې تحقق پر یو امر یا پرکوم شرط معلق وي، چې د هغې احراز د قضایي رسیدګۍ موجب کیږي، نوموړی موضوع لازم الاجرا نه ده او نشو کولای چې د هغې په نسبت اجراییه صادر کړو. (۱۱ : ۵۷)

**د محکمې اصلاحي پریکړه**

نن ورځ د پریکړې عوضي بدیل شیوې او طریقې پراختیا موندلي، چې د هغې له جملې څخه د میانجیګري، حکمیت او اصلاح نام اخیستلای شوو. دا شیوې د پام وړ دي؛ ځکه له یوې خوا د محاکمو د کار د سپک والی سبب کیږي او له بله پلوه د قضاوت پر ځای د سولې د اصطلاح کارول د عدالت یو نرم تصویر زمونږ ذهن ته راځي. پر دې بنسټ، مصلح هغه شخص دی، چې نه یوازې خصومت حل وفصل کوي؛ بلکې د هغه پلار په څیر دی چې له خپلو اولادونو سره مرسته کوي تر څو د تعارض په حل کې کامیاب شي. سربیره پر دې قضایي صلحه د غیر عادلانه حل لاره چې د عدالت سره مغایرت لري د هغې څخه باید ډډه وکړي.

۲۳۰ ماده مقرروي چې ( محکمه په هغه قضایاوو کې چې د طرفینو رغبت اصلاح ته احساس کړي د مصلحینو په ټاکلو توصیه کوي). د دې مادې منظور دادی چې قاضي خپله په اصلاح باندې نه لګیا کیږي. دا امر د دې سبب کیږي چې د فیصلې د شیوې له اختلاط څخه مخنیوی وشي او اختلاف لیري، د قاضي د قضاوت څخه مخکښې په کامله بې طرفی سره فیصله شي.

۲۳۱ ماده په خپل وار سره د اصلاح آثر یې د صلحې د وقوع په وخت کې تعیین کړي دي.

۲۳۱ ماده مقرروي چې (۱) کله چې د دعوا لوري په خپل منځ کې اصلاح وکړي په هغه صورت کې چې د محکمې او د دعوا د دوران څخه مخکښې وي اصلاح خط تحریر او د دوی موضوع ته خاتمه ورکول کیږي. (۲) کله چې اصلاح خط د محاکمې او د دعوا د جریان څخه مخکښې ترسره شي، د اصلاح صورت په فیصله کې درجیږي او د طرفینو د منازعې په ختم باندې حکم صادریږي.

په دې ډول د مدني محاکمو د اصولو قانون د ۲۳۲ مادې د متن په اساس ( که دواړه خواوې اصلاح ته موافقه ونه کړي، محکمه موضوع تر دوران لاندې نیسي، او پریکړه صادروي.) دا چې کله د حقوقي دعواوو اړونده دوسیه د استیناف محاکمو مربوطه مدني دیوانونو ته رسماً راورسیږي؛ نو په دې اړه اداري او قضایي رایه د قضاتو له خوا صادریږي. د افغانستان د مدني محاکمو د اصولو قانون ۱۳ فصل د محکمې پریکړه او حکم ته ځانګړی شوی دی. د دې یادونه اړینه ده چې د محکمې رایه هغه عملي تصمیم ته ویل کیږي، که هغه د محکمې له خوا د حکم (فیصلې) په شکل او یا هم د قرار په توګه صادر شي. د مدني محاکمو د اصولو په قانون کې د محکمې رایه کله د حکم او کله د فیصلې (پریکړه) په عنوان سره استعمال شوې ده.

پریکړه د قضایي غونډې د رییس یا د حکم په صادرولو کې د ګډون کوونکو قاضیانو د یوه په

واسطې سره لیکل کیږي او د قضايي هیئت لخوا مهر او لاسلیک صورت نیسي.

د قضايي هیئت تصمیم، چې د محاکمې د بهیر نه وروسته د دعوي په ماهیت کې نیول کیږي، د پریکړې او فیصلې په ډول صادریږي. د محکمې پریکړه باید قانوني، مستدله وي، چې د اثبات او یا نفي وسیلې او دلایل پکې روښانه شوي وي او هم د قضیې د تحقیق څخه وروسته محکمه په استدلال کې وړاندې شویو دلایلو څخه یادونه کوي، چې کوم قبول کړي او یایې هم رد کړي وي او د پریکړې په پای کې د دعوې نه ثبوت د مدعي علیه د الزام د تعویض او د محکوم به تاوانونو اندازه او د محکمې د لګښتونو یادونه کوي او محکمه د حکم نص په قاطع، صریحه او د هر ډول لفظي او معنوي تقید څخه عاري او خلاص وي. هرکله قضیه د استیناف محاکمو اړونده واک لرونکو دیوانونو ته راشي؛ نو د دیوانونو تحریراتو څانګه مکلفه ده، چې د محکمې د رییس د کتنې وروسته د اړتیا وړ مندرجه ټول معلومات او د قضیې سوابق یو قضايي هیئت ته سپاري. د دعوی د لوري په تعقیب سره د مدني قضیو محاکماتي پړاوونه زیات نه زیات تر څلورو میاشتو پورې باید بشپړه قضايي حکم صادر شي. خو د مستندو او باوري دلایلو پر اساس د ځینو قضیو د ځانګړیتوب له مخې تر یوې میاشتې پورې نور د اوږدولو وړ دي او تر دې مودې زیات نشي تمدیدلای. مدني قضیه په هغه وخت کې چې قضايي هیئت د اصلي یا خدمتي قاضیانو شمیر له دریو تنو څخه زیات وي؛ نو د محکمې رییس یا مرستیال د قاضیانو له جملې څخه دوه تنه قاضیان د قضیې د لومړنیو مطالعې لپاره ټاکي، او پاڼې د محکمې د تحریراتو لخوا بې له ځنډه مؤظف هیئت ته سپاري. د اداري اجراآتو څخه وروسته مؤظف هیئت د سوابقو په کتنې سره د قانون مطابق پریکړه صادروي، محکمه نه شي کولای چې د مدني قضیو بهیر او څېړنې پرته له موجهو دلایلو څخه وځنډوي (۹ : ۱۲۲).

**محکمې څخه د صلحې غوښتنه:** یو له قانوني لارو څخه دا ده چې یوشخص د محکمې له طریقه، بل شخص د صلحې لپاره محکمې ته دعوت کړي، په واقعیت کې شخص غواړي د خپل طرف سره په محکمه کې د قاضي پر وړاندې مصالحه وکړي، په دې مواردو کې د صلحې درخواست او عریضې له رسیدنې وروسته، محکمه د رسیدګۍ وخت تعینوي او طرفین په هغه ترتیب چې د احضار لپاره یې مقرر کړی دی، دوی دعوته وي؛ اما په دعوت نامه کې باید قید شي که مقابل طرف د صلحې لپاره دعوت شوی وي، لوری کولای شي له حضور څخه ډډه وکړي یا په کتبي ډول ځواب ورکړي، چې صلحې ته حاضر نه دی یا داچې محکمې ته به

حاضر شي؛ خو له صلحې څخه به ډډه وکړي. په هغه صورت کې چې محکمه په دې و نه توانیږي چې صلحه رامنځته کړي، احتمالي او ناکام تحقیقات په صورت مجلس کې قیدوي او د هر یو لوری چې حاضر وي پرې امضاء کوي یې او دواړه لوري یا یو لوری ونه غواړي چې امضاء یې کړي، محکمه مراتب په صورت مجلس کې قیدوي، په هغه صورت کې که محکمه احساس کړي چې طرفین صلحې ته حاضر نه دي، که چیرې دوی حاضر وي دعوا اقامه کولو ته یې رهنمایي کوي؛ اما دا د دې مانع هم نه ګرځي چې طرفین له همدې محکمې څخه او یا له نورو محاکمو څخه د صلحې غوښتونکی شي.

**د اصلاحي ګزارشونو صدور:** د صلحې نتیجې او د هغې د اجراکولو څرنګوالی، په هغه مواردو کې چې قاضي د سند د توافق په ورکړه اکتفا وکړي، پرته له دې چې واقعي رایه تنظیم کړي، منل شوي ده چې دا سند د قضاوتي ځانګړتیاوو څخه برخمن نه دی او په نتیجه کې د قضاوت شوي امر اعتبار څخه به برخمن نه وي، د تجدید وړ نظر خواهي او د رایو د شکایت نورو لارې هم نه دې او د خصوصیتي قرارداد په حفظ سره لکه په هربل رسمي یا عادي قرارداد کولای شي، د دعوی د بطلان موضوع قرار ونیسي. د نوموړي قرارداد ماهیت د صلحې عقد دی، که څه هم د ځینو د خیارونو په عملي کولو د دې عقد له طبیعت سره منافات لري؛ د هغې د ابطال دعوی د تدلیس او عیب په سبب او داسې نور د دوی امکان پذیره دي؛ اما کله چې محکمه د دعوی د اصحابو د اسنادو او مدارکو له احراز څخه وروسته، واقعي رایه صادروي چې پر قانوني موادو مستند وي، او یو له طرفینو څخه تر اندازې پورې حق دار تشخیصوي، دغه رایه حکم ګڼل کیږي او ټول د قضایي آراوو آثار لري. څرنګه چې اصلاحي ګزارش د دعوی د اصحابو د توافق د تثبیت په حد کې باقي پاتې کیږي، څرنګه چې معمول ده د داد نامې (حکم )په شکل تنظیم او د دعوا اصحابو ته نه ابلاغیږي، که څه هم د هغې په صدور سره د اقامه شوي دعوی نتیجه مشخص او اعلانیږي، باید د دادنامې په شکل تنظیم او ابلاغ شي. برعکس په هغه صورت کې چې محکمه د دعوی د اصحابو د توافق د احراز څخه وروسته واقعي حکم صادر کړي چې د دې توافق پر بنسټ چې مواجهه اسباب او منطوق لري، دا په عمل کې په واقعي مانا حکم نه ګڼل کیږي او په نتیجه کې همیشه د دادنامې (حکم)په شکل تنظیمیږي او د محاکمو د نورو حکمونو په څیر د دعوی اصحابو ته ابلاغیږي. (۳ : ۴۸)

**په تجارتي موضوعاتو کې د صلحې څرنګوالی**

تجارتي منازعات په دوو طریقو حل او فصل کیږي. یوه قضایي حل لاره ده، چې محکمې پورې مربوط کیږي او دوهم غیر قضایي حل لاره ده، چې د صلحې له طریقه دعوی حل او فصل کیږي.چون زمونږ د بحث موضوع په تجارتي منازعاتو کې د صلحې څرنګوالی دی؛ نو په لاندې ډول یې تر څیړنې لاندې نیسوو.

صلحه، هغه حالت ته وایي، چې اشخاص د خپلو ذات البینی اختلافاتو د رفعې په خاطر، مخکښې له دې نه چې قضاء ته مراجعه وکړي یا د محاکمې په جریان کې، د قطعي حکم د صدور څخه مخکښې دوی توافق کوي چې خپله منازعه په صلحه آمیزه او مسالمت آمیزه طریقه حل او فصل کړي. د افغانستان د تجارتي محاکماتو اصولو قانون د یوې منازعې طرفینو ته حق ورکړی دی، چې د دعوی په هره مرحله کې، خپله منازعه په صلحه ایزه توګه حل او فصل کړي او قانون دا حق یې د دعوی طرفینو لپاره محوظ کړی دی. څرنګه چې په دې مورد د تجارتي محاکماتو د اصولو ۳۷ ماده داسې صراحت لري: ( د دعوی طرفین کولای شي، خپل متنازع فیه معاملات په هره مرحله کې چې وي د مربوطه محکمې د حکم د صدور څخه مخکښې ټوله او یا قسماً فیصله کړي). سربیره پردې د دعوی طرفین په تجارتي محاکمو کې هم کولای شي د دعوی په هره مرحله کې د دعوی له طرفینو څخه غوښتنه وکړي ترڅو خپله دعوی په صلحه ایزه طریقه حل او فصل کړي. څرنګه چې په دې مورد کې د تجارتي محاکماتو قانون ۱۲۸ ماده په دې مورد کې داسې صراحت لري: (محکمه د دعوی په هره مرحله کې کولای شي طرفین او یا د دوی وکیلان احضار کړي او د یو بل په باالمواجه سره د دوی اظهارات د اختلاف وړ قضیې په باره کې استماع او دوی د ۴۰ مادې په نظر کې نیولو سره صلحې ته تشویق کړي).اما باید ذکرکړو چې دا صلحه یو ځل صورت نیسی او طرفین مکلف دي چې د اصلاح اړوند اسناد رسماً محکمې ته وړاندې کړي. څرنګه چې په دې مورد کې د تجارتي محاکماتو د اصولو قانون داسې صراحت لري. ( اړونده محکمه محض یو ځل د دعوی اصحابو ته د اصلاح توصیه کوي، په هغه صورت کې چې طرفین د اصلاح له طریقه د اختلاف وړ موضوع حل او فصل باندې موفق شي، باید په هغه موده کې چې د محکمې لخوا ټاکله کیږي، اصلاح خط باید محکمې ته وړاندې کړي. اړونده محکمه مکلفه ده، پرته له کوم تصرف څخه د نوموړي اصلاح خط په استناد سره خپله رسمي فیصله د اختلاف وړ په موضوع کې صادره کړي، که چیرې

اصلاح د اصلاحي وکیلانو په ذریعه ترسره شوی وي. په هغه اصلاح خط کې چې محکمې ته سپارلی کیږي، امضاء، مهر او یا د اصلاحي وکیلانو شصت حتمي دی). کله چې محکمه دې نتیجې ته ورسیږي چې د متنازع فیه موضوع حل او فصل د صلحې له طریقه امکان نلري. په دې توګه محکمه باید پر صلحه باندې ټینګار و نه کړی؛ بلکې دعوی ته باید رسماً رسیدګی پیل کړي او کله چې طرفین و نه توانیږي صلحه وکړي او طرفین د عدم موفقیت جریان د دعوی د ضبط په کتاب کې ثبتوي. او موضوع د طرفینو په اطلاع رسوي. کله چې طرفین د اصلاح له طریقه د متنازع فیه موضوع مؤفقیت ونکړي، محکمه باید هغه بې جهته معطل نه کړي. کله چې ولیدل شي، طرفین اصلاح لپاره حاضر نه دي، باید محکمه د جانبینو عدم مؤفقیت د دعوی د ضبط په کتاب کې قید کړي او موضوع ته رسماً رسیدګي وکړي، او خپله اصولي فیصله به صادره کړي. (۸ : ۱۴۵)

**په فامیلي دعواوو کې صلحه:** په کورني امورو کې صلحه تر ټولو ډیر کارونه لري. د حکمیت له طریقه صلحه د زوجینو ترمنځ ډیره مروجه صلحه ده، د ایران د ۱۳۹۲ کال د کورنۍ څخه د ملاتړ مصوب قانون، د طلاق په ټولو مواردو کې پرته له توافقي طلاق څخه، محکمه مکلفه ده چې د صلحې د منځته راوړلو لپاره موضوع حکمیت ته راجع کړي. محکمه په دې مورد د حکمانو د نظر په اساس خپله پریکړه صادروي، او که چیرې محکمې هغه د دوی نظریه یې قبوله نه کړه، د حکمانو نظر د دلایلو په ذکر سره ردوي. د اصلاح قانون واحده ماده د زوجینو د طلاق اړونده مقررات چې غواړي له خپلو زوجینو څخه طلاق واخلي او له یو بل څخه جلا شي، د اختلاف رسیدګۍ لپاره، باید خاصې مدني محکمې ته مراجعه وکړي او دعوی اقامه کړي او یوازې په هغه صورت کې چې د زوجینو ترمنځ اختلاف چې د محکمې او د دواړو طرفونو د حکمینو لخوا حل او فصل نشي، محکمه د زوجینو د صلحه کولو د نه امکان د ګواهۍ له طریقه د طلاق رسمي دفتر ته لیږي. د طلاق ثبت د صلحې د نه امکان ښکارندوی دی او سر دفتر د طلاق د ثبت حق، پرته د نه صلحه کولو ګواهۍ څخه نلري، که نه تخلف ګڼل کیږي او بیا متخلف سر دفتر سلب صلاحیت کیږي. (۳ : ۷۲)

**نتیجه**

صلحه د دعوی د زوال د اسبابو په عنوان پیژندل کیږي. صلحه د دعوی په هره مرحله کې ترسره کیدلی شي، یعنې د دعوی طرفین کولای شي، چې د محکمې د حکم د اصدار څخه مخکښې

که هغه په محکمه کې د دعوی د اقامې څخه مخکښې او يا په محکمه کې د دعوی د اقامې څخه وروسته صلحه وکړي.

په محکمه کې صلحه ترهغه وخته پورې د صلحې امکان د دعوی د ښتنانو لپاره شته چې ترڅو چې دعوی په محکمه کې په جريان کې وي. صلحه د محکمې څخه بهر په دريو طريقو ممکنه ده. ۱- د رسمي اسنادو د تنظيم د مامورينو له طريقه. ۲- صلحه د دعوی د اصحابو لخوا د عادي سند په قالب کې. ۳- صلحه د حکم په وسيله. صلح نامه لکه د محکمې د پريکړې په څير تر اجراء لاندې نيول کيږي او هيڅ کله د تجديد نظر، استيناف غوښتنې وړ نه وي، يعنې داسې فرض کيږي چې د متخاصمينو اختلاف حل او فصل شوی دی او بيا دغه چې د صلحې له طريقه ختم او حل او فصل شوی وي، د دوهم ځل لپاره د دعوی د اقامه کولو مجال نشته.

**وړانديزونه**

اول: تقريباً د اسلامي شريعت او وضعي قوانينو ترمنځ د صلحې د تړون په تعريف او د صلحې تړونونو په ارکانو کې ډير توپير نه ليدل کيږي؛ خو په آينده کې بايد اسلامي علماء دې نقطې ته پام وکړي ترڅو ډير معمولي اختلاف هم د قوانينو ترمنځ واقع نه شي.

دويم: د شيخ زايد پوهنتون د حقوقو او سياسی علومو پوهنځی او شرعياتو پوهنځی بايد همدا شان مهم موضوعات محصلينو ته د کورنی دندې په برخه کې ورکړي تر څو خپله محصل د موضوع په ترتيب کې پوهه لاسته راوړي او نور محصلين يي په لوستلو سره پوهه تر لاسه کړي.

دريم: تر ټولو مهمه نقطه داده چې د قوانينو شرحي بايد په درسې کريکولم کې شاملې شي تر څو د لوستلو پر وخت کې د مقارنې په شکل سره د قوانينو ټکر محصلينو ته معلوم شي، او که دواړه مطابقت ولري نو دا به د قوانينو په قوت لا ښه تاثير ولري.

څلورم: د صلحې په هکله په پښتو ژبه ښه کتابونه نه پيدا کيږي په اسلامي مطالعاتو سمبال اشخاص بايد کوشش وکړي تر څو په آينده کې په پښتو ژبه کره ليکنې ترسره کړي او دا مشکل د ټول عمر لپاره حل کړي.

**مأخذونه**

۱- القرآن

۲- اردبيلي، محمدعلی.(۱۳۸۰ه ش). حقوق جزای اختصاصي. جلد نخست، چاپ دوم، تهران: انتشارات، نشر ميزان.

۳- افراسيابی، محمد اسماعيل. (۱۳۷۴ه ش). حقوق جزای اختصاصي، چاپ اول، تهران: انتشارات نشر جنګل.

۴- اکبري، میشم. شهبازي نیا، مرتضي. (۱۳۹۲هـ ش). تراضي اصحاب دعوی در پایان دادن په داد رسي مدني، تهران: انتشارات ادراک.

۵- الکوزی، عبیدالرحمن. (۱۳۹۶ ه ش). تعاملي حقوق، کابل: مسلم، خپرندویه ټولنه.

۶- انصاری، مسعود. طاهری، محمد علي. (۱۳۸۴ ه ش)، دانشنامه حقوق خصوصی،چاپ اول، تهران: ناشر، انتشارات محراب.

۷- د عدلیې وزارت. (۱۳۵۵ ه ش). د افغانستان مدني قانون. کابل: رسمي جریده، عدلیې وزارت.

۸- د عدلیې وزارت. (۱۳۶۸هـ ش). د افغانستان د مدني محاکماتو اصولو قانون، کابل: رسمي جریده، عدلیې وزارت.

۹- ستانکزی، نصراله. ناصح، ولي محمد. (۱۳۸۷ ه ش). حقوق تجارت( کتاب درسي)، کابل: انتشارات و مطبعه میوند.

۱۰- شمس صافی، شمس الاسلام .(۱۳۹۵ه ش). عدلي او قضایي اجراآتو لارښود، دوهم چاپ، مسلم خپرندویه ټولنه، جلال آباد: افغانستان.

۱۱- صفاری، علی.(۱۳۸۶ه ش). کیفر شناسي، چاپ اول، تهران: انتشارات جنگل.

۱۲- عمرانی مکی، ثریا .(۱۳۹۳ هـ ش). ااصول محاکمات مدني. کابل: انستیتوت بین المللی مطالعات مقایسوی.

۱۳- کاتوزیان، ناصر. (۱۳۸۳ ه ش)، حقوق مدني( درسهای از عقود معین). تهران: کتابخانه ملي ایران.

۱۴- نیازی، مصطفی ( ۱۳۹۶ ه ش )، د اسلام قضایي نظام. جلال آباد: خپرندویه ټولنه.

۱۵- نیازی، مصطفی. ( ۱۳۹۳ ه ش)، اسلام و زندگي صلح آمیز. کابل: افغانستان.

# د بیعت پېژندنه او د هغې اړوند مسایل او احکام

لیکونکی: پوهنمل محمد ولید اسحق زی، شیخ زاید پوهنتون، شرعیاتو پوهنځی، د اسلامي ثقافت څانګې استاد

تقریظ ورکوونکی: پوهندوی محمد شفیق مندوزی د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي استاد

**لنډیز**

بې له شکه چې اسلام یو ټولنیز او هر اړخیز نظام او قانون دی، د انسانانو د ژوند ټولو اړخونو ته شامل او تر قیامته به جاري وي د اسلام په مقدس دین کې نه یوازې دا چې احکام، مسائل او فضایل بیان شوي دي؛ بلکې د انسانانو د ژوند لپاره یې داسې نظام جوړ کړی دی، چې د نړۍ بل هیڅ قانون یې سیالي نه شي کولی، چې په تطبیق سره یې نه یوازې دا چې دنیاوي ښېګڼې تر لاسه کیږي  بلکې د آخرت له نعمتونو څخه هم برخمن کیدای شو؛ همدې نقاطو ته په پام سره زما لپاره دغه موضوع جالبه شوه او هم د ټولنې لپاره ګټوره په نظر راغله، په همدې اساس مې لاندې موضوعات په خپله مقاله کې ځای پر ځای کړل، په لومړي سر کې مې د بیعت په لغت او اصطلاح کې تعریف وکړ، په همدې ترتیب د بیعت د اثبات اړوند دلایل ذکر کړل، همدا شان د خلیفه د ټاکلو شرعي طریقې مې بیان کړلې، وروسته د بیعت شرطونه مې روښانه کړل، په همدې ترتیب د بیعت ډولونه او هم د امام عزل (ګوښه کیدل) مې په مستندو دلایلو سره واضح او بیان کړل او په آخر کې مې خپله مقاله په وړاندیزونو، پایله او مأخذونو سره د رب تعالی په فضل او کرم سره پای ته ورسوله، هیله به مې دا وي، چې زما دغه ناچیزه لیکنه درنو لوستونکو لپاره ګټوره او د خوښې وړ وګرځي.

کلیدي ټکي: بیعت پېژندنه، د بیعت اقسام، د بیعت کولو اسباب

**سریزه**

الحمدلله رب العالمین، والعاقبة للمتقین، ولا عدوان الا علی الظالمین، و أشهد أن لا اله الا الله وحده لا شریک له، الا الأولین والأخرین و قیوم السموات والأرضین، و أشهد أن محمد عبده و رسوله و خلیله و أمینه علی وحیه، أرسله الی الناس کافةً  بشیراً و نذیراً، و داعیاً الی الله باذنه و سراجاً منیراً.

الله تعالی په خپل عزمت او شان سره  د انسان د جسماني ژوند د جوړښت او پایښت له پاره او هم د روحاني، اخلاقي او تمدني ژوند د عدل او انصاف په بنسټ ولاړ د ژوندانه نظام جوړ کړی دی، چې په هغه کې د ژوندانه د هر اړخ له پاره ځانګړي لارښوونې او قوانین شته، ددې بشپړ

نظام د اصولو سرچینه الهي وحې او رسالت دی، په همدې ترتیب دا چې انسان اجتماعیت خوښوونکی دی او یو د بل سره د مینې او محبت ژوند تېرول د هغه فطري غوښتنه ده، نو ددې ژوند له پاره د سیاسي نظام شته والی ضروري دی، د همدې سیاسي نظام د یو اصل د تشریح او توضیح له پاره دغه لیکنه ځانګړې شوې ده، چې عبارت د بیعت څخه ده. د اسلامي امت د تمدني ژوند د پر مختګ له پاره د عدل او انصاف په بنسټ ولاړ د ژوندانه نظام ته ضرورت دی او دغه نظام باید په خپل راس کې یو رئیس، مشر او خلیفه ولري، چې هغه باید د امت له پاره یو معتمد شخص وي، چې د خپل علم، عدالت، دیانت او صلاحیت له مخې په ټول امت کې یو ممتاز شخص هم وي، او داسې نور.

**د څېړنې موخې**

ددې څېړنې په لوستو سره لوستونکي کولی شي په لاندې موضوعاتو پوه شي:

د بیعت په لغوي او اصطلاحي څېړنه به پوه شي.

د قرانکریم، احادیثو او د امت د اجماع په رڼا کې د بیعت د اثبات دلایل به وپېژني.

د بیعت شرطونه او د خلیفه د ټاکلو شرعي طریقه به وپېژني.

د بیعت په ډولونو به پوه شي.

هغه موارد چې په سبب یې خلیفه عزل(ګوښه) کیږي، وپېژني.

**د مسئلې طرح او پرابلم**

زموږ په ټولنو کې زیاتره خلك په اسلامي او شرعي مسایلو باندې ناپوه او ناخبره دي، سره له دې چې د اسلام مقدس دین اساسات زموږ خلکو ته د نیکونو او پلورنو څخه په میراث پاتې دي، لیکن بیا هم زیاتره خلك د اسلام مقدس دین د ډیرو زیاتو مسایلو او احکامو څخه بې خبره دي، د بیلګې په توګه: د بیعت په اصل او مشروعیت باندې چې د وخت ټولو پوهانو اجماع کړې ده او حتی د صحابه کرامو رضی الله عنهم اجمعین د زمانې څخه نیولي زموږ تر دې وخته پورې ټولو علماوو هم د بیعت په مشروعیت او اصل باندې اتفاق کړی دی. ځکه په قرآن عظیم الشان کې د شرعي بیعت اړوند په ډیرو قوي ایتونو او احکامو سره په تفصیل سره بحث شوی دی، اوس نو اړتیا لیدل کیږي، چې ټوله اسلامي ټولنه په دې باندې ځان پوهه کړي، چې د بیعت اصل او حقیقت د الله تعالی د ایتونو په ترڅ کې واضح اوبیان شوی دی او هم په ټراو یې د رسول الله ( صلی الله علیه وسلم) په نبوي ارشاداتو کې په متواترو روایاتو سره ذکر او حقیقت

ثابت کړی شوی دی.په همدې ترتیب د فقهای کرامو په منل شویو او معتبرو فقهي کتابونو کې هم د بیعت په تړاو تفصیلي بحثونه تر سره شوي دي. او تر ننني عصر پورې همداسې جاري دي.

**د څیړنې اهمیت**

لکه څرنګه چې د اسلام په مقدس دین کې د خلیفه د ټاکلو غوره طریقه بیعت او انتخاب کول دي، په همدې ترتیب د بیعت او خلافت له لارې اسلامي سیاست رامنځ ته کیدل نه تغیر منونکی اصل دی، ځکه د تل لپاره په یوه بهترینه او صالحه ټولنه کې هغه وخت قانون په ښه او اعلی شان تطبیق کیدای شي، چې د ټولنې رهبري او مدیریت د یو پوه او خیر خواه انسان په واک او صلاحیت کې قرار ولري، او دغه پوه او بهترین انسان هغه وخت خپلو عظیمو اهدافو و پلانونو ته رسیدلی شي، چې د یوې اسلامي ټولنې ټول وګړي په یو فکر او یووالي د همدغه صالح شخص سره په یو غږ او کاملې ارادې سره بیعت وکړي، ځکه هر هغه څوک چې اهل حل او عقد وي او هم د خلیفه د جوړیدو د اهلیت شرائط په کې موجود وي نو د بیعت له پاره همدغه شخص ته ترجیح ورکول کیږي، پس د همدې اهمیت، ارزښت او اړین توب په اساس ما هم دغه موضوع غوره او انتخاب کړه، تر څو له یوې خوا د بیعت ارزښت په ټولنه کې واضح او ښکاره شي او له بلې خوا د بیعت په لرغونتوب او حقیقي راز باندې ټوله مسلمانه ټولنه با خبر او پوهه کړای شي.

**د څیړنې په اړه مخکېنیو لیکنو ته کتنه**

د بیعت د پیژندنې او د هغې اړوند مسایلو او احکامو د اهمیت او ارزښت په تړاو څه ډول چې ښکاري نوي لیکنه نه ده، ځکه که په واقعي ډول موږ د نړۍ او په ځانګړي ډول د مسلمانانو کتابتونونو ته سر ورښکاره کړو، نو دا به د لمر د وړانګو په څیر راته ښکاره شي، چې د قرآن عظیم الشان، نبوي احادیثو او د مذاهبو د فقهاوو مستند نظرونه او اندونه مو تر ټولو لومړۍ او غوره سرچینې دي، دا چې موږ د خپل کم علمیت او کمې مطالعې په اساس په دې بریالي نه شوو، چې دغه بډایه او غني زیرمې وسپاړو او په اړوند اړینو برخو کې د ټولنې د اړتیا وړ مواد ترې برابر کړو.

لیکن بیا هم د هر عصر بهترینو مفسرینو او محدثینو د قرآن عظیم الشان او نبوی احادیثو په رڼا کې زموږ کم فهمه ټولنو لپاره په هره برخه کې نه ستړي کیدونکي هلې ځلې کړي دي، په همدې ترتیب د بیعت اړوند ډیر زیات کتابونه په عربي، اردو او فارسي ژبو کې پیدا کیږي د

بیلګې په توګه لکه: تفسیـــــر ابن کثیر، تفسیر روح المعاني، تفسیر عزیزي او هم د نبوي احادیثو په کتابونو کې، لکه: صحیح البخاري، صحیح المسلم، سنن أبي داود، سنن الترمذي، او داسې نورو منل شویو کتابونو کې د بیعت په فضیلت او ارزښت باندې په مفصله توګه بحثونه شوي دي، لیکن د دې ټولو لیکنو بر سیره د بیعت د پېژندنې او د هغې اړوند مسایلو او احکامو د اهمیت په اړه په پښتو ژبه ځانګړی، هر اړخیز او جامع کتاب شتون نه لري، چې د لوستونکیو تنده پرې خړوب شي، په پای کې د اسلامي نړۍ هغو لیکوالانو ته چې د بیعت د پېژندنې او د هغې مسایلو او احکامو اړوند یې په خپلو قدرمنو لاسونو او خوږو ژبو یې په زیاتو جلدونو کې ګټورې ټولګې وړاندې کړي دي، د الله کریم څخه ورته بې شمیره اجرونه او ثوابونه غواړم او ځانته هم د دې څېړنې د بشپړولو بشپړ توفیق او لوستونکو ته یې کامل اجر غواړم.

**د کار مواد او کړنلاره**

دا چې دغه مقاله هم یوه کتابتوني (علمي څېړنیزه ) مقاله ده، نو ما هم په دې لیکل شوي مقاله کې د مختلفو منل معتبرو کتابونو څخه، لکه: قرآن کریم، نبوي احادیث ، فقهي کتابونه، او داسې نورو اسلامي سرچینو څخه ګټه اخیسته ده، او هم مې د هر لیکونکي قول هغه ته منسوب او د لیکنې ټول حقوق مې ادا کړي دي.

**د بیعت پېژندنه**

الف: د بیعت لغوي پېژندنه: بیعت په لغت کې عهد، پیمان، لوظ او وعدې ته وایې.

د بیلګې په توګه: بایعوه با الخلافة وبویع له باالخلافة. (۱۹: ۱۱۰)

ژباړه: خلکو د هغه په خلافت باندې بیعت وکړو او خلکو د هغه خلافت ومنلو او تسلیم یې کړو.

ب: د بیعت اصطلاحي پېژندنه: ابن منظور افریقي رحمة الله علیه بیعت داسې تعریفوي:

بیعت عبارت له دوو طرفه پیمان او تړون څخه دی، چې ګویا هر یو د دواړو څخه یو پر بل هر څه خرڅ کړي دي، هغه ته یې خپل زړه او نفس ورکړی دی او خپل مجازي او مخصوص امور یې هغه ته سپارلي دي. (۶: ۲۶)

په همدې ترتیب علامه ابن خلدون رحمة الله علیه بیعت په دې ډول تعریفوي:

بیعت یو ډول تعهد او پیمان کول دي په تابعداری باندې، چې دغه بیعت کونکی به په هر هغه څه کې چې بیعت یې کړی دی جګړه به نه کوي او هم په هر هغه څه کې چې نوموړی شخص په وخت د اسانتیا او تنګۍ کې مکلف شوی دی، تابعداري به کوي.(۴: ۲۲۹)

**د بیعت د اثبات دلایل د قرآن کریم او نبوي احادیثو په رڼا کې**

د بیعت د اثبات لپاره ګڼ شمېر دلایل موجود دي، چې موږ یې د نمونې په توګه یو څو آیتونه ذکر کوو.

**الف: د بیعت اړوند قرآني دلایل:** الله تعالی یې په هکله داسې فرمایلي دي.

(إِنَّ الَّذِينَ يُبَايِعُونَكَ إِنَّمَا يُبَايِعُونَ اللَّهَ يَدُ اللَّهِ فَوْقَ أَيْدِيهِم) ( الفتح: ۱۰)

ژباړه: بېشکه کوم خلک چې د تا سره بیعت کوي، په تحقیق سره هغوی بیعت کوي د الله تعالی سره، پس د الله تعالی لاس دي دوی د لاسونو د پاسه دی.

اوهم دا قول د الله تعالی چې فرمایي:

(لَقَدْ رَضِيَ اللَّهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمْ فَأَنْزَلَ السَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ وَأَثَابَهُمْ فَتْحًا قَرِيبًا) (الفتح: ۱۸)

ژباړه: په تحقیق سره الله تعالی د هغو مؤمنانو څخه خوشحاله شو، کله چې هغوی د ونې لاندې له تا سره بیعت کاوه، د هغوی د زړونو حال رب کریم ته معلوم وو، له دې امله په هغوی یې سکینه (ډاډ وینه) نازله کړه او هغوی ته یې په انعام او زیري کې نږدې فتحه نصیب کړه.

په همدې ترتیب الله تعالی په بل ځای کې داسې فرمایي:

(يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا جَاءَكَ الْمُؤْمِنَاتُ يُبَايِعْنَكَ عَلَى أَنْ لَا يُشْرِكْنَ بِاللَّهِ شَيْئًا وَلَا يَسْرِقْنَ وَلَا يَزْنِينَ وَلَا يَقْتُلْنَ أَوْلَادَهُنَّ وَلَا يَأْتِينَ بِبُهْتَانٍ يَفْتَرِينَهُ بَيْنَ أَيْدِيهِنَّ وَأَرْجُلِهِنَّ وَلَا يَعْصِينَكَ فِي مَعْرُوفٍ فَبَايِعْهُنَّ وَاسْتَغْفِرْ لَهُنَّ اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيم)الممتحنه: ۱۲)

ژباړه: ای نبي کریم صلی الله علیه وسلم کله چې تا ته ایمانداري ښځې بیعت کولو لپاره راشي، په داسې شان سره چې دوی به د الله تعالی سره هیڅ شی نه شریکوي، نه به غلا کوي، نه به بد کاري کوي، نه به خپل اولاد وژني، نه به په دروغو په خپلو لاسونو او خپلو پښو باندې تهمتونه لګوي، نه به په ښه او نېک کار کې د ستا نا فرماني کوي، نو ته دوی ته بیعت ور کړه او د الله جل جلاله نه د دوی له پاره معافي وغواړه، بېشکه الله تعالی بښونکی او مهربانه ذات دی.

**ب: د بیعت دلایل د نبوي احادیثو په رڼا کې**

په نبوي سنتو کې هم د بیعت د روا والي اړوند روایات ثابت دي، چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم ډېر ځلې د صحابه کرامو رضی الله عنهم اجمعین څخه د بیعت غوښتنه کړې ده او صحابه کرامو رضی الله عنهم اجمعین هم ور سره بیعت کړی دی، د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د پاک سیرت د مطالعې څخه وروسته د بیعت روا والی معلومیږي، چې بیعت د رسول صلی الله علیه وسلم په فعلي او قولي سنتو دواړو کې ثابت دی. د فعلي سنتو څخه معلومیږي، چې نبي

کریم صلی الله علیه وسلم د مسلمانانو څخه د اسلامي دولت د قایمیدو او د هجرت څخه مخکې په دوو ځایونو کې بیعت اخیستی دی، چې هغه د عقبې لومړی او دویم بیعت دی، اوس راځو د لیکنې په دې برخه کې د بیعت اړوند بعضې روایات ذکر کوو.

د عبادة بن الصامت رضی الله عنه څخه روایت دی، فرمایي:

« دعانا النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فبايعناه، فقال فيما أخذ علينا أن بايعنا على السمع والطاعة في منشطنا و مكرهنا و عسرنا و يسرنا و أثرةٍ علينا و أن لا ننازع الأمر أهله، إلا أن تروا كفراً بَواحاً عندكم من الله فيه برهان». (۳: ۱۱۴)

ژباړه: د عباده بن الصامت رضی الله عنه څخه روایت دی، چې موږ رسول الله صلی الله علیه وسلم را وغوښتلو او بیعت مو ور سره وکړو، عباده بن الصامت رضی الله عنه وایي: موږ به د بیعت د اخیستو پر وخت اوریدل او اطاعت به کولو، چې په حالت د خوشحالۍ او خفګان کې او هم د سختۍ او اسانتیا کې، چې موږ به د خپل امیر او اهل سره جګړه نه کوو، مګر هغه وخت چې موږ ووینو چې هغوی ښکاره کفر کوي.

حافظ ابن حجر رحمة الله علیه د ام عمارة رضی الله عنها څخه روایت کوي:

«روى ابن سعد من طريق أم عمارة، قالت: كانت الرجال تصفّف على يمين رسول اللَّه صلّى اللَّه عليه وآله وسلم ليلة بيعة العقبة، والعباس آخذ بيد رسول اللَّه صلّى اللَّه عليه وآله وسلم فلما بقيت أنا وأُم منيع نادى زوجي غزية بن عمرو يا رسول اللَّه، هاتان امرأتان حضرتا تبايعانك فقال إنّي لا أصافح النّساء».(۲: ۴۷۹)

ژباړه: ابن سعد د ام عمارة رضی الله عنها څخه نقل کوي، چې ام عمارة رضی الله عنها وویل: وو به یو سړی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته به یې د بیعت العقبه په شپه باندې لاس ورکولو او عباس رضی الله عنه د رسول صلی الله علیه وسلم لاس نیولی و، کله چې زه او آم منیع باقي پاتې شو، نو په دغه وخت کې زما خاوند غزیة بن عمرو آواز وکړ، یا رسول صلی الله علیه وسلم دغه دوه ښځې هم د بیعت لپاره حاضرې شوي دي، بیا نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د دوی سره هم زما بیعت دی لکه څرنګه مې چې له تاسو سره کړی دی، لیکن زه د ښځو سره په لاس مصافحه (لاس ورکول) نه کوم.

همدارنګه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم نه په قولي سنتو کې هم بیعت ثابت دی او هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه په دې باره کې زیات احادیث هم راغلي دي.

«عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « إِذَا بُويِعَ لِخَلِيفَتَيْنِ، فَاقْتُلُوا الْآخَرَ

مِنْهُمَا». (۲۸: ۲۴۲)

ژباړه: ابي سعید خدري رضی الله عنه فرمایي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کله چې بیعت وکړي د دوو خلیفه ګانو سره، نو ددې دواړو څخه دې وروستی خلیفه قتل کړای شي.

«وقال صلي الله عليه وسلم: ( وَسَتَكُونُ خُلَفَاءُ فَتَكْثُرُ، قَالُوا فَمَا تَأْمُرُنَا؟ قَالَ: فُوابِبَيْعَةِ الْأَوَّلِ، فَالْأَوَّلِ، وَأَعْطُوهُمْ حَقَّهُمْ، فَإِنَّ اللهَ سَائِلُهُمْ عَمَّا اسْتَرْعَاهُمْ».(۲۸: ۲۳۱)

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: زر ده، چې خلیفه ګان به ډېر شي، صحابه کرامو رضی الله عنهم اجمعین وویل: په دغه وخت کې د ستاسو امر موږ ته څه ډول دی؟ نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته وویل: پس د ټولو نه اول سره بیعت وکړئ او هغه ته خپل حق ورکړئ، ځکه چې الله تعالی به پوښتنه کوي په هغه څه کې چې تاسو د هغه تابعداري کوئ.

وأيضا قال النبي صلى الله عليه وسلم « وَ مَنْ بَايَعَ إِمَامًا فَأَعْطَاهُ صَفْقَةَ يَدِهِ، وَ ثَمَرَةَ قَلْبِهِ، فَلْيُطِعْهُ إِنِ اسْتَطَاعَ، فَإِنْ جَاءَ آخَرُ يُنَازِعُهُ فَاضْرِبُوا عُنُقَ الْآخَرِ».(۲۸: ۲۳۳)

ژباړه: نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: چا چې د امام سره بیعت وکړ او هغه ته یې لاس ورکړ او زړه یې ور باندې خوړ شو، نو د هغه تابعداري دې کوي، تر څو چې دده طاقت وي، که چېرته دده نه وروسته بل راغی، د هغه سره دې جګړه وکړي او څټ یې ووهئ.

ج: د بیعت اړوند د اسلامي امت اجماع: مسلمانانو د بیعت په مشروعیت باندې اجماع کړې ده او د صحابه کرامو رضی الله عنهم اجمین د زمانې څخه نیولې زموږ تر دې وخته پورې په دې باندې د علماوو اتفاق دی.(۷: ۳۰۳)

**د بیعت او انتخاب د لازمیدو دلایل**

د حضرت عایشې رضی الله عنها څخه روایت دی، چې رسول صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ما غوښتل چې ابوبکر رضی الله عنه او د هغه زوی را وغواړم او هغوی ته یو وصیت خط ولیکم، ځکه چې ما ته دا وېره ده، چې خلک به وروسته خبرې او د ځان نه به خواهش کوي، بیا ما فکر وکړ چې الله تعالی او مسلمانان به نور خلک منع کړي.(۱۴: ۸۴۶)

د مسلم شریف په یو روایت کې صراحت شوی دی، چې رسول صلی الله علیه وسلم د خلافت په هکله د وصیت نامې د لیکلو اراده کړې وه، نو څرګنده شوه، چې رسول صلی الله علیه وسلم په نظر کې تر ټولو اهل او مستحق شخص حضرت ابو بکر صدیق رضی الله عنه و، همدا علت و، چې رسول صلی الله علیه وسلم د وفات کیدو د مرض په وخت کې یې ابوبکر رضی الله عنه د

لمانځه له پاره امام وټاکلو، خو د وصیت نامې او ولیعهد کولو اراده یې ځکه پرېښوده، چې د شورا په واسطه د خلکو تر منځ د خلیفه ټاکلو سنت جوړ شي، هغه په دې باور و، چې مسلمانان به د دا ډول د رأیې او انتخاب کولو د توفیق او امتیاز څخه نه بې برخې کیږي. (۲۷: ۳۳۳)

په درویشتم هجري قمري کال کې چې کله حضرت عمر رضی الله عنه د آخري حج څخه بېرته راستون شو، د مدینې منورې خلکو ته یې په لومړی خطبه کې داسې وویل: اې خلکو! چا چې د مسلمانانو د مشورې پرته د چا سره بیعت کړی وي (هغه یې خپل مشر ټاکلی وي)، نو د هغه تابعداري دې نه کیږي، ځکه دا وېره شته، چې دا دواړه به قتل کړای شي. (۱۴: ۱۰۰۲)

حضرت عمر فاروق رضی الله عنه فرمایلي دي:«فَمَنْ تَأَمَّرَ مِنْكُمْ مِنْ غَيْرِ مَشُورَةٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ فَاقْتُلُوهُ».(۲۰: ۴۸۱)

ژباړه: څوک چې د تاسو څخه د مسلمانانو د مشورې څخه پرته امیر شو؛ نو هغه قتل کړئ.

په یو بل روایت کې د حضرت عمر رضی الله عنه وینا په دې طریقه رانقل شوي ده: چا چې د مسلمانانو د مشورې او شورا پرته چا ته د حکومت د منلو بلنه ور کړه، نو دا بلنه او دا حکومت حلال نه دی. (۳: ۱۴۰)

د حضرت علي رضی الله عنه څخه روایت شوی دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: که چېرې ما د چا د مشورې پرته خپل خلیفه ټاکلی، نو د أم عبد زوی ابن مسعود رضی الله عنه به مې خپل خلیفه ټاکلی وای. (۲۹: ۴۴۵)

پس ددې روایت څخه دا معلومیږي، چې د مسلمانانو د مشورې څخه پرته یو څوک خپل ولیعهد ټاکل د رسول الله صلی الله علیه وسلم په نظر غوره کار نه و.

رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: چې په شپږ ډوله خلکو زه هم لعنت وایم او الله رب العزت هم پرې لعنت را لیږلی دی، د هغوی څخه یو هغه سړی دی، چې په زور په حکومت قبضه کوي.(۱۷: ۲۳)

حضرت علي رضی الله عنه د جمل په جنګ کې داسې فرمایي: چې رسول صلی الله علیه وسلم موږ ته د خلافت په هکله وصیت نه وو پرې ایښی، بلکه ددې پریکړه موږ په خپله خوښه کړې وه، ابوبکر صدیق رضی الله عنه چې خلیفه شو، نو هغه خلک په دین کلک کړل او په خپله هم په دین کلک ولاړ و، بیا نو حضرت عمر رضی الله عنه خلیفه کړای شو، نو هغه هم خلک په دین کلک وساتل او په خپله هم په دین کلک ولاړ و، آن تر دې چې خلکو خپلې غاړې ټولو

اوامرو ته کېښودلې او په آرام شول.(۲۹: ۹۷۵)
ذوالکلاع او ذوعمر د یمن د تجربه لرونکو حکمرانانو څخه وو، کله چې رسول صلی الله علیه وسلم جریر بن عبدالله البجلي رضی الله عنه یمن ته واستوه، نو دواړه مسلمانان شول، یوه ورځ ذوعمر حضرت جریر رضی الله عنه ته په خطاب کې وویل: ستا پر ما ډېر احسان دی، چې ستا د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په اساس ماته د ایمان دولت په برخه شو زه تا ته یوه ضروري خبره کوم او هغه دا ده، چې د عربو حالت به تر هغه پورې صحیح وي، تر څو چې د هغوی حکومت د مشورې په اساس جوړیږي، خو کله چې دا حکومت د تورې په زور جوړ شي، نو بیا به ستاسې بادشاهان د نورو بادشاهانو په څېر په ریښتیا خبره به غوسه او نا راضه کیږي او په چاپلوسی باندې به ډېر خوشحالیږي.(۳: ۱۳۸)

**د بیعت او د خلیفه د ټاکلو په اړه د فقهاوو اقوال او نظرونه**

د اسلام په مقدس دین کې د خلیفه د ټاکلو غوره طریقه بیعت او انتخاب دی او انتخابي خلافت د اسلامي سیاست یو نه تغیر منونکی اصل دی.
د همدې دلیل په رڼا کې اسلامي فقهاوو رحمهم الله علیهم ددې اصل یاد او ذکر په خپلو کتابونو کې کړی دی، چې د لیکنې په دې برخه کې به د بعضې علماوو او فقهاوو اقوال او نظرونه ذکر کړو. (۲۷: ۳۳۶)
شیخ عبدالقادر بغدادي رحمة الله علیه، چې په ٤٤٩ هـق کې وفات شوی دی، د جمهورو أهل سنتو مسلک په دې توګه بیان کړی دی:«اِن طریقة ثبوتها الِاختیار من الأمة بِاجتهاد أهل الأجتهاد منهم».(۱۵: ۲۷۹)
ژباړه: د خلیفه د ټاکلو لاره دا وه، چې امت هغه غوره کړ، هر هغه څوک ټاکي چې د منصب او صلاحیت خاوند وي.
د (اهل اجتهاد) څخه مقصد د پوهې او د رأیې خاوندان دي، یعنې هر هغه څوک چې أهل حل او عقد او هم د قوم مسؤل نماینده ګان وي.
امام ابوالحسن ماوردي بغدادي رحمه الله علیه، چې په ٤٥٠ هـ ق کې وفات شوی دی، د خلیفه د ټاکلو او انتخاب کولو په هکله په ځانګړي فصل کې داسې بحث کړی دی: «باختیار اهل حل والعقد». یعنې اهل حل وعقد یا د ملت نماینده ګان چې څوک خوښ کړي، هغه به د خلافت منصب په غاړه اخلي.
د انتخاب د طریقې وضاحت یې په دې توګه کړی دی، کله چې اهل حل و عقد په یو ځای

کې سره را ټول شي نو د خلافت د منصب له پاره دې مناسب او با أهله خلکو پلټنه وکړي، هر چا کې چې د خلیفه د جوړیدو د اهلیت شرائط موجود وي نو د بیعت له پاره دې همغه ته ترجیح ورکړل شي، یعني هر هغه څوک چې په فضیلت او شرائطو د اهلیت په لحاظ په ټولو باندې غوره وي او د هغه د اطاعت کولو لپاره خلک ډېر ژر اماده کیږي، د داسې شخص سره په بیعت کولو کې ځنډ نه دی په کار، د اهل حل او عقد د انتخاب څخه وروسته د خلافت منصب داسې شخص ته وړاندې کیږي، چې هغه نسبت ټولو ته غوره او مستحق وي او هغه یې هم ومنی. لیکن که چېرې هغه شخص ددې منصب د قبلولو څخه انکار وکړي، نو بیا به په ټولنه کې هغه پسې اهل او غوره شخص منتخب کیږي.(۲۵: ۷، ۸)

د اهل سنتو د ائمه وو او ځینې نورو علماوو څخه دا اقوال را نقل شوي دي، چې د پنځه یا درې کسانو بیعت هم کافي دی ددې مفهوم دا دی، چې که چېرې پنځه یا درې کسانو بیعت کړی وي (شخص با اهل او مستحق ته یې رأیه ورکړې وي) او پاتې خلکو مخالفت نه وي کړی بلکې سکوت او چپوالی یې غوره کړی وي، پس په دې وخت کې عدم مخالفت په خپله د دوی په بیعت کولو باندې دلالت کوي.(۲۷: ۳۳۹)

قاضي أبو یعلي حنبلي رحمه الله علیه چې په ۳۵۸ هـ ق کال کې وفات شوی دی، فرمایې: « فلا تنعقد إلا بجمهور أهل الحل والعقد، قال أحمد الإمام الذي یجتمع [قول أهل الحل والعقد] علیه کلهم یقول: هذا إمام و ظاهر هذا أنها تنعقد بجماعتهم». (۸: ۷)

ژباړه: د خلافت او امامت انتخاب د ملت د نماینده ګانو د اکثریت له خوا کیږي، امام احمد رحمة الله علیه فرمایلي دي: په چا چې اهل حل وعقد متفق شي، نو همغه به امام او حکمران وي، نو ددې څخه دا معلومیږي، چې د خلافت د جوړولو مسئله د ملت د نماینده ګانو د اجتماعي پرېکړې پر اساس کیږي.

**د بیعت او وفا احکام د نصوصو په رڼا کې**

د امام سره بیعت کول واجب دي او بیا وروسته وفا کول هم ور باندې واجب دي، الله تعالی په دې اړه په قران عظیم الشان کې ډېر آیاتونه نازل کړي دي او هم په ډېرو ځایونو کې یې په ژمنو او عهدونو باندې د وفا امر هم کړی دی.

د الله تعالی دا قول چې فرمایي:

(وَأَوْفُوا بِالْعَهْدِ إِنَّ الْعَهْدَ كَانَ مَسْئُولا) (الإسراء: ٣٤)

ژباړه: او وفا وکړئ په خپلو ژمنو باندې، یقیناً د هرې ژمنې اړوند به پوښتنه کیږي.

همدارنګه دا قول د الله تعالی چې فرمایي:

(وَأَوْفُوا بِعَهْدِ اللَّهِ إِذَا عَاهَدْتُمْ) (النحل: ۹۱)

ژباړه: د الله تعالی ژمنه پوره کړئ کله چې تاسې د هغه سره کومه ژمنه کړې وي.

په همدې ترتیب دا قول د الله تعالی چې فرمایي:

(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ) ( المائدة: ۱)

ژباړه: ای هغه کسانو چې ایمان مو راوړی (مؤمنانو) په خپلو عهدونو (ژمنو) باندې وفا وکړئ.

په همدې ترتیب په نبوي احادیثو کې هم د بیعت د وجوب اړوند احکام ثابت دي.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم په بیعت کولو او په عهدونو باندې د وفا کولو امر کړی دی، چې په اړه به یې مستند او مؤثق روایات ذکر کړو.

لومړی: عن نافع رضی الله عنه سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول: « من مات ولیس في عنقه بیعة مات میتة الجاهلیة». (۲۸: ۲۲۸)

ژباړه: د نافع رضی الله عنه څخه روایت دی، چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه واوریدل، چې ویې فرمایل: څوک چې مړ شو او د هغه په غاړه کې بیعت نه و، دا د جاهلیت په مرګ مړ شو.

دویم: عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «من فَارق الْجَمَاعَة شبر فقد خلع ربقة الْإِسْلَام من عُنُقه».(۱۸: ۳۸۵)

ژباړه: د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت دي، څوک چې د جماعت یا ډلې څخه د یو لویشت په اندازه خارج شو، په تحقیق سره دغه شخص د اسلام حلقه د خپلې غاړې څخه وویستله.

په حقیقت کې د بیعت ماتول حرام دي او د بیعت ماتونکی یې د کبیره ګناه د مرتکب کېدو ملتزم بللی دی، کبیره ګناه په دې معنې چې دغې شخص د واجبو پرېښودونکی دی.

کوم کس چې د بیعت څخه خارج شو هغه مباح الدم دی او د هغه سره قتال واجب دی.

د ابوبکر صدیق رضی الله عنه د زکات د منکرینو سره د جنګ سبب دا و، چې هغوی د وخت د امام د اطاعت څخه نا فرماني کوله، ځکه چې د وخت امام هغوی ته د زکات د ور کولو امر کولو او هغوی د امام د امر څخه انکار کولو.

**د بیعت اړوند د صحت شرطونه**

د اسلامي امت علماوو د بیعت له پاره ځینې شرطونه ذکر کړي دي، چې د بیعت د صحت له پاره دغه شرطونه واجب دي، مسلمان باید د هغه امام او امیر سره بیعت وکړي، چې دغه شرطونه په کې په کامله توګه موجود وي، که چېرته د ذکر شوو شرطونو څخه یوهم فوت شي نو دغه تړل شوی یا منعقد شوی بیعت صحت نه لري.(۱۳: ۲۰۶)

اوس راځو د بیعت د صحت شرطونه د دلایلو په وړاندې کولو سره ذکر کوو.

هر هغه څوک چې بیعت اخلي هغه باید ددې عقد متولي او سرپرست کونکی وي، دغه شرط د بیعت په دواړو اقسامو کې معتبر دی.(۹: ۳۹۰)

بیعت ورکونکی شخص باید مکلف او بالغ وي او د نا بالغه او غیر مکلف شخص بیعت صحت نه لري، ځکه چې (زینب بنت حمید خپل ځوی عبدالله بن هشام نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته راوست او ورته یې وویل: یا رسول الله صلی الله علیه وسلم دده سره بیعت وکړه، نبي صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: چې دا هلك صغیر او نا بالغه دی او د صغیر ماشوم بیعت صحیح نه دی، نو بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم د ماشوم په سر خپل مبارك لاس راکش کړ او دعا یې ورته وکړه).(۳: ۲۰۰)

امام به د مسلمانانو په مشوره ټاکل کیږي، ځکه حضرت عمر فاروق رضی الله تعالی عنه فرمایلي: چا چې د مسلمانانو د مشورې څخه بغیر د بل چا سره بیعت وکړ، دغه بیعت یې صحت نه لري. په بل روایت کې راغلي دي، چې دده اطاعت او تابعداري باید ونه شي، هغه چا چې د دغه امام سره بیعت کړی دی او دغه امام دواړه باید قتل شي.(۱۰: ۵۶)

همدارنګه حضرت عمر فاروق رضی الله عنه فرمایلي: چا چې د مسلمانانو د مشورې څخه بغیر د امام سره بیعت وکړو، دا د مرګ په بستر دی او که چېرته ماته کومه حادثه پیدا شي، نو تاسو تر دریو ورځو پورې زما انتظار وکړئ او تاسو ته دې په دغه دریو ورځو کې د بني جدعان مولی حضرت صهیب رضی الله عنه لمونځ درکړي، له دریو ورځو انتظار وروسته دې د قوم شریف خلك او د لښکرو امیران سره را ټول شي، یو خلیفه دې وټاکي او که چېرته چا بغیر د مشورې څخه خپل ځان لپاره خلیفه وټاکه، د هغه څټ دې په توره باندې غوڅ کړای شي.(۱۶: ۱۵۱)

د چا سره چې بیعت کیږي او خلیفه ټاکل کیږي، هغه به دغه منصب او مسؤلیت ته غاړه ایښې وي او که هغه ورته غاړه کېنښوده، بیا نو هیڅوك یې په زوره مجبورولی نه شي.

امام نووي رحمة الله علیه په الروضة کې ویلي دي: که چېرته د دغه شخص څخه بغیر بل څوک ددې منصب له پاره مناسب نه وو نو په دې صورت کې دغه شخص بیا مجبورولی شي، چې دغه مسؤلیت ته غاړه کیږدي.(۲۴: ۴۵)

د هغه چا سره چې بیعت کیږي هغه به یو کس وي او د یو کس څخه به زیات نه وي؛ ځکه أبي سعید خدري رضی الله عنه فرمایلي دي: کله چې د دوو خلیفه ګانو سره بیعت وشو، نو ددې خلیفه ګانو څخه وروستی خلیفه قتل کړئ.(۲۲: ۱۴۸۰)

او د نبي صلی الله علیه وسلم قول هم دی، چې فرمایې:«فُوابِبَیْعَةِ الْأَوَّلِ، فَالْأَوَّلِ». (۲۲: ۱۴۶۶)

ژباړه: د اول خلیفه سره په بیعت کې وفا وکړئ، ځکه اول شخص د بیعت مستحق دی.

همدارنګه سعید بن المسیب رحمة الله علیه چې کله د ولید او سلیمان بن عبدالملك بیعت ته دعوت شو، نو ویې فرمایل: زه به تر هغې پورې د دوو خلیفه ګانو سره بیعت ونه کړم تر څو چې شپه او ورځ په خپل اختلاف کې وي.(۱۲: ۱۷۰)

بیعت به د الله جل جلاله په کتاب او د نبي صلی الله علیه وسلم په قولي او عملي سنتو برابر وي، لکه څنګه چې ابوبکر صدیق رضی الله عنه فرمایلي: «أَطِیعُونِي مَا أَطَعْتُ اللَّهَ وَرَسُولَهُ».(۲۶: ۶۶۱)

ژباړه: تاسو زما تابعداري وکړئ په هغه څه کې چې زه په هغه کې د الله تعالی او د رسول الله صلی الله علیه وسلم تابعداري کوم.

د ابوبکر صدیق رضی الله عنه څخه وروسته عمر فاروق رضی الله عنه خلیفه شو او خلکو ته یې په خپله خطبه کې وفرمایل: زما دې د کعبې په رب باندې قسم وي، چې زه به عرب مجبوروم، چې په همدې دوو طریقو باندې د امام سره بیعت وکړي، چې هغه قرآن کریم او نبوي سنت دي. عثمان رضی الله عنه چې خلیفه شو، عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه ورته وویل: زه تا سره په طریقه د الله تعالی او په طریقه د رسول صلی الله علیه وسلم بیعت کوم او په طریقه د هغه دوو خلیفه ګانو له تاسره بیعت کوم، چې ته د هغوی څخه وروسته خلیفه مقررېږې. (۳: ۱۹۴)

عثمان رضی الله عنه ور سره موافق شو او عبدالرحمن رضی الله عنه ور سره په همدې خبره بیعت وکړ.

په همدې ترتیب عبدالله بن عمر رضی الله عنهما عبدالملك بن مروان ته لیك ولیږلو، کله چې خلك په هغه باندې را جمع او را ټول شول او خلیفه وټاکل شو، په لیك کې یې ورته داسې

لیکلي وو.

« إِنِّی أُقِرُّ بِالسَّمْعِ وَالطَّاعَةِ لِعَبْدِاللَّهِ عَبْدِالْمَلِكِ أَمِيرِ الْمُؤْمِنِينَ عَلَى سُنَّةِ اللَّهِ وَسُنَّةِ رَسُولِهِ مَا اسْتَطَعْتُ وَإِنَّ بَنِیَّ قَدْ أَقَرُّوا بِمِثْلِ ذَلِكَ».(۳: ۱۹۴)

ژباړه: زه امیرالمؤمنین عبدالملک بن مروان ته اقرار د اطاعت او تابعداري کوم، په اوریدولو او حکم منلو دده کې، په طریقه د الله تعالی او په طریقه د رسول صلی الله علیه وسلم په هغه څه کې چې زما وس او طاقت وي او زما زامن هم په دې خبره کې زما په شان اقرار کوي.

کله چې بیعت اخستونکی ددې شرط مخالفت وکړ او عمل یې په کتاب الله او نبوي سنتو باندې ونه کړ او یا یې په هغه څه عمل وکړ، چې هغه د بیعت د ماتیدو باعث شي؛ نو دغه بیعت بیا مات دی، ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «الْمُسْلِمُونَ عَلَى شُرُوطِهِمْ».(۳: ۴۵۱)

ژباړه: مسلمانان په خپلو شرطونو ملتزم دي.

بیعت ورکوونکی به په بیعت ورکولو کې کاملاً آزاد وي، لکه څنګه چې صحابه کرامو رضی الله عنهم اجمعین د خلفاء راشدینو رضی الله عنهم سره په بیعت کولو کې کاملاً آزاد وو، داسې هیڅ یو روایت به نه وي نقل شوی چې خلفاء راشدینو رضی الله عنهم دې په بیعت اخیستنه کې په یو چا باندې اجبار کړی وي، صحابه وو به په خپله خوښه او اختیار سره بیعت کولو او په خپله خوښه او اختیار به یې ترک کولو یا پرېښودلو، صحابه کرامو رضی الله عنهم اجمعین ته به چې د کوم اعتراض اړوند حجت او یا دلیل وړاندې کولو ته ضرورت پیښ شو، نو عاجل به یې د قناعت د حاصلیدو په خاطر د وخت خلیفه ته رجوع کوله او خپل اعتراضات به یې خلیفه ته وړاندې کول، د همدې شرط په بناء چې دوی د خلیفه په وړاندې کاملاً آزادي لرله، امام ابن کثیر رحمة الله علیه فرمایلي دي: چې ابن جریر طبري رحمة الله علیه د امام مالک رحمة الله علیه څخه روایت کړی دی، چې امام مالک رحمة الله علیه د محمد بن عبدالله بن حسن رحمة الله علیه سره په بیعت کولو کې خلکو ته فتوا صادره کړه، چې نوموړی خلیفه په ۱٤٥ هـق کې خلیفه شوی و، امام مالک رحمة الله علیه ته وویل شول، چې زموږ په غاړو کې د منصور بیعت پروت دی، امام مالک رحمة الله علیه وفرمایل: د منصور سره په بیعت کولو کې موږ باندې اجبار او زور و، نو د اجبار کوونکي او زورور له پاره بیعت نه شته، نو خلکو د محمد بن عبدالله رحمة الله علیه سره بیعت وکړ. (۵: ۸۴)

**د بیعت اقسام**

بیعت په ټوله کې په دوه ډوله ښودل شوی دی، خاص او عام بیعت، چې هر یو ډول یې په خپل

ځای کې په مختصر ډول د بحث لاندې نیسو.

خاص بیعت: دا هغه بیعت دی، چې د اهل حل او عقد شورا ئې د امام سره کوي او ددې بیعت په اساس بیعت ورکوونکی شخص امام، خلیفه، او سلطان ګرځي او دغه شخص د اطاعت، تابعداری، کومک او ساتنې حقدار ګرځي، ددې بیعت وضاحت د خلفاء راشدینو رضوان الله علیهم اجمعین په سیرت کې شوی دی، اهل حل او عقد شورا د امام د اختیارولو لپاره مشوره کوي او کله چې یې امام غوره کړ بیا بیعت ورسره کوي، لکه څنګه چې اصحابو کرامو رضوان الله علیهم اجمعین په ثقیفه بني ساعده کې همداسې وکړل. (۱۳: ۲۲۰)

کله چې ابو بکر صدیق رضی الله عنه خلیفه ټاکل کیده د بني ساعده په چوتره کې د انصارو او مهاجرینو تر منځ د خلیفه ټاکلو بحث وشو خو د حضرت عمر رضی الله عنه د پشنهاد په اساس خلکو ابو بکر صدیق رضی الله عنه غوره او د هغه په لاس یې ور سره بیعت وکړ.

دا خاص بیعت وو، چې د ځینې کسانو له خوا تر سره شو، چې بیا وروسته په دویمه ورځ د مسلمانانو تر منځ عام بیعت تر سره شو.(۲۷: ۳۴۰)

عام بیعت: دا هغه بیعت دی، چې د خاص بیعت د تر سره کیدو څخه وروسته د ټولو عامو خلکو له خوا تر سره کیږي، په دې بیعت باندې د خلفاء راشدینو رضوان الله علیهم اجمعین سره د بیعت اخیستنې له وخت څخه عمل جاري دی، کله چې ابو بکر صدیق رضی الله عنه سره اهل حل او عقد شورا خاص بیعت وکړ، په دویمه ورځ ابوبکر صدیق رضی الله عنه ممبر ته پورته شو، ور پسې عمر رضی الله عنه ودریده او خلك یې خبر کړل، چې دوی د ابو بکر صدیق رضی الله عنه سره بیعت کړی دی، هغه یې خلافت لپاره تر ټولو غوره کړی دی او بیا یې خلکو ته امر وکړ، چې دوی هم ابوبکر صدیق رضی الله عنه سره په عام ډول بیعت وکړي. (۱۳: ۲۲۰)

د ابو بکر صدیق رضی الله عنه سره دغه بیعت کول عام بیعت و، چې په نبوي مسجد کې تر سره شو او ټولو مسلمانانو په کې ګډون او برخه واخیسته. (۱۴: ۱۰۱۰)

**د بیعت کولو اسباب**

القلقشندي رحمة الله علیه په خپل کتاب کې د بیعت کولو ځینې اسباب او علتونه ذکر کړي دي، چې موږ به دلته په خپله موضوع کې ور باندې لنډ بحث وکړو.(۲۴: ۲۷۴)

د موجوده خلیفه مرګ: کله چې موجوده خلیفه وفات شو او ددې خلیفه د ژوند په حالت کې د چا سره د خلافت وعده نه وي شوي، چې ته به دده د مرګ څخه وروسته خلیفه وې لکه ابو

بکر صدیق رضی الله عنه چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د وفات څخه وروسته خلیفه شو.
د موجوده خلیفه د خلع او بر طرف کیدو څخه وروسته: یعنې چې کله منتخب خلیفه بر طرف او د خلافت څخه لېرې شي، نو په دغه وخت کې ملت مکلف دی، چې د بل امام سره بیعت وکړي او خلیفه یې مقرر کړي، تر څو د خلافت صلاحیت او واک په لاس کې واخلي او د ستونزو او مشکلاتو د راپیدا کیدو مخه ونیسي، او پر وخت د حل او فصل لاره ورته پیدا کړي.
کله چې موجوده خلیفه ته وېره پیدا شي او امت د ده د تابعداری او اطاعت څخه د سر غړونې او خروج په حال کې وي باید یو کس ته وظیفه ور کړي، چې د دویم ځل له پاره د ده په خاطر بیعت واخلي او امت د ده د امر او اطاعت د ناحیې لاندې داخل کړي.
د هغه کس له پاره بیعت اخیستل، چې د موجوده خلیفه د مرګ څخه وروسته د خلیفه کیدو وعده ور سره شوي وي، چې ته به ددې خلیفه د مرګ څخه وروسته خلیفه وې.
د بیعت اخستل د خلیفه له خوا د هغه چا له پاره چې دده ولیعهد وي او غواړي، چې ددې خلیفه د مرګ څخه وروسته خلیفه شي.(۲۳: ۲۸۴)

**د امام د عزل کولو وسایل او طریقې**

الف: کله چې امام په خپله ځان عزل کړي، یعنې هغه وخت چې کله امام د خپل مسئولیت د اداء کولو څخه عاجزه شي او نه شي کولای چې دغه دروند بار او مسئولیت لکه څنګه چې د دغه مسئولیت شرعي حق دی سر ته ورسوي، نو دغه وخت کې ده له پاره مناسب دا ده، چې په خپله د امامت او حاکمیت څخه ځان عزل او ګوښه کړي.
امام قرطبي رحمة الله علیه فرمایي: په داسې امام او حاکم باندې واجب دي، هغه وخت چې کله په ځان کې داسې نقص او عیب ووینې، چې په امامت او حاکمیت باندې یې تأثیر کوي، په خپله ځان عزل او ګوښه کړي.(۲۱: ۲۷۲)

امام حسن رضی الله عنه د سیدنا معاویه رضی الله عنه له پاره د خلافت څخه تېر شو، سره ددې چې اهل عراق د امام حسن رضی الله عنه سره بیعت کړی وو، امام حسن رضی الله عنه د خلافت څخه په دې خاطر تېر شو، چې د فساد او فتنې مخه ونیول شي او د مسلمانانو تر منځ اصلاح راشي، ځکه چې له دې څخه مخکې نبي کریم صلی الله علیه وسلم د امام حسن رضی الله عنه په حق کې داسې فرمایلي و:«إِنَّ ابْنِي هَذَا سَيِّدٌ وَلَعَلَّ اللَّهَ أَنْ يُصْلِحَ بِهِ بَيْنَ فِئَتَيْنِ عَظِيمَتَيْنِ مِنَ الْمُسْلِمِينَ». (۳: ۶۱)

ژباړه: زما دغه زوی سردار دی، ښايي دغه زوی به مې د مسلمانو د دوو لويو ډلو تر منځ سوله وکړي.

که چېرته کوم شرعي عذر موجود نه وي او امام وغواړي، چې د دنيوي او اخروي مسئوليت څخه د خلاصون په خاطر ځان عزل کړي، په دې باره کې دوه نظرونه بيان شوي دي.

لومړی نظر: دا دی، چې عزل دې شي، ځکه چې دده په دې مسؤليت سره دنياوي او اخروي اضرار ملحق کيږي، لکه څرنګه چې نوموړی د بيعت په اجابت باندې ملتزم نه دی. (۲۴: ۶۶)

لکه څرنګه چې دغه شخص د مسلمانانو وکيل دی، وکيل کولای شي چې په خپله هم ځان عزل کړي.(۱۵: ۲۴۰)

دويم نظر: دا دی، چې بايد عزل نه شي، د دوی په نظر کله چې حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه د خلافت څخه د بر طرف کيدو غوښتنه وکړه او ويې فرمايل: چې ما د خلافت څخه لېرې کړئ، خلکو ورته وويل: چې هيڅکله به موږ تا د خلافت څخه لېرې نه کړو او نه به له تا څخه د بر طرف کيدو غوښتنه او تقاضاء وکړو، ځکه چې نبي پاک صلی الله عليه وسلم ته د خلافت ددې منصب لپاره خوښ او غوره کړی يې، د خلکو اشاره دې ته وه، چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم د خپل ور پېښ شوي مرض په وخت کې حضرت ابو بکر صديق رضی الله عنه د لمانځه د امامت لپاره ټاکلی وو.(۱۳: ۴۸۸)

ب: د امام د عزل کولو لپاره د تورې او قوت استعمال: علماوو ددې طريقې او وسيلې په استعمال سره متفق نه دي، ځکه دغه طريقه د مشکلاتو او جنجالونو څخه ډکه ده، نو بايد چې نوموړی امام او حاکم د تورې او قوت په استعمال سره عزل نه شي. (۱۱: ۲۰۴)

جمهور أهل سنت په دې عقيده دي، چې بايد موازنه وشي، که چېرته ددې امام عزل کول د ټولنې له پاره ګټور وي، نو بايد چې عزل شي او که په خلافت باندې يې پاتې کيدل ګټور و، بايد چې پاتې شي، تر څو د دغې خليفه او امام لېرې کيدل د ټولنې د خلکو تر منځ د فساد او نورو مشکلاتو د رامنځ ته کيدو باعث نه شي.(۱۳: ۴۸۹)

ج: د امام عزل کول د سالمې طريقې له لارې: د مخکې ذکر شويو دوو طريقو څخه بله درېيمه لار د امام او خليفه د عزل کولو لپاره سالمه لار او طريقه دا ده، چې اهل حل او عقد يعنې هغه کسان چې خلک يې د امام او خليفه له پاره بيعت کولو ته هڅول، دغه اهل حل او عقد خلک د انتظار وکړي، که چېرته نوموړی امام او خليفه باندې وعظ او نصيحت تاثير ونه کړ او سمې

لارې ته را ونه ګرځيد، نو بيا دې دا ډول امام د عزل کولو لپاره هره سالمه وسيله چې ممکنه وي په کار واچوي، تر څو د نوموړي امام او خليفه په دغه نصب او حاکميت باندې د باقي ناستې مخه نيول شوی وي. (۷: ۲۷۳)

**پايله**

د لوی او ښښونکي الله جل جلاله په ځانګړي لورينه باندې ددې څېړنې په بهير او پای کې لاندې پايلو ته ورسيدم:

له کومه وخته، چې الله جل جلاله د ځمکې پر مخ باندې وګړي پيدا کړي دي او د بشريت بنسټګر آدم عليه السلام يې ځمکې ته راليږلی دی، له همغه وخته سياست او نظام په يوه نه يوه بڼه ځان ښکاره کړی دی، د بشريت د پيل څخه د تاريخ په اوږدو کې الله جل جلاله د وګړو د لارښوونو لپاره زيات استازي او پيغمبران راليږلي دي، چې هر استازی به خپلو پيروانو او ملاتړو ته ځانګړی نظم ورکاوه، تر څو د خپلو موخو د لاس ته راوړلو لپاره په برياليتوب سره کار وکړي، نو ضمناً يې قانون هم ور سره راليږلی، چې د خپلو استازو په لارښوونه يې وګړو ته بيان کړي. سياست او نظام د انسان له ژوند سره تړلې مسلك او چاره ده له هغې ورځې را هيسې، چې انسان مدني ژوند پيل کړی، ور سره سم يې د خپل ژوند او ټولنې د چارو د سمون او تنظيم په موخه واکمني رامنځ ته کړي، د واك او حکومت بنسټ سياسي فکر او سياسي جوړښتونه تشکيلوي، له همدې امله ما کوشش کړی دې، چې په خپله دغه ليکنه کې د بيعت تعريف او د اثبات لپاره يې د کتاب الله او سنت نبوي څخه دلايل، د بيعت له لارې واك ته رسيدل او د هغې حکم، د بيعت ډولونه ، د بيعت طرز او طريقه په مختلفو زمانو کې، د امام عزل کيدل او په زور سره بيعت اخيستل او ځينې نور اړين موضوعات دې مقاله کې په عام شکل درنو لوستونکو ته وړاندې شوي، تمه کيږي چې درانه لوستونکي به يې دقيق ولولي او په خپل ژوند کې به ترې ګټه پورته کړي.

**وړانديزونه**

د بخښونکي او مهربانه څښتن په ځانګړي لورينې سره ددې ليکنې تر بشپړيدو پورې يو شمېر نتايجو ته ورسيدم، چې په لاندې توګه دي:

لومړی وړانديز مې دا دې، چې د بيعت پيژندل او د بيعت په ثبوت باندې د قرآن کريم او نبوي احاديثو څخه بې شمېره دلايل موجود دي، چې دا هر څه په دې باندې دلالت کوي، چې بايد

هیڅوک د بیعت د حقیقت څخه انکار ونه کړي.
دویم وړاندېز مې دا دې، لکه څرنګه چې د بیعت د حکم او د اقسامو یادونه په ډېرو قوي او مستندو دلایلو سره وشوه، نو هغه علماء چې د بیعت د حقیقت څخه انکار کوي، یقینا د هغوی دلایل یې کمزوري او ضعیف دي، د اسلامي ملت پوه او با فهمه خلک دې د دغه ضعیفو خلکو پسې اقتداء او تابعداري نه کوي.
په همدې ترتیب بل وړاندیز مې دا دې، لکه څرنګه چې د بیعت حکم واجب دی، باید هر مسلمان د یو عالم، عادل او متقي امیر او مشر سره بیعت وکړي؛ ځکه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: څوک چې مړ شو او د هغه په غاړه کې بیعت محکمه رسی نه وه، هغه شخص د جاهلیت په مرګ مړ شوی دی.
او په آخر کې مې دغه وړاندیز دی، چې په بیعت باندې وفا کول واجب او د بیعت ماتول د اسلام له دایرې څخه د وتلو سبب ګرځي، چا چې بیعت مات کړو او د مسلمانانو د جماعت یا ډلې څخه خارج شو، مرتد عن الاسلام ګرځي، همدې وجه نه ټول مسلمان وګړي باید چې همدې نقاط ته په کتو سره ځانونه متوجه او با فهم کاندي، ترڅو د دنیا او آخرت د بې عزتی او بد نامی څخه د تل لپاره وژغورل شي.

**مآخذونه**


۱- قرانکریم

۲- ابن حجر، حافظ احمد بن علي العسقلاني.(۱۳۹۰هـق). الاصابة في تميزالصحابة. جلد، ۴. چاپ، اول: مكتبة الكليات الازهرية.

۳- ابن حجر، حافظ احمد بن علي العسقلاتي.(۱۳۹۰هـق). فتح الباري. جلد، ۱۶. چاپ، اول: المكتبة السلفية.

۴- ابن خلدون، عبدالرحمن بن محمد.(۱۳۲۹ هـق). مقدمة ابن خلدون. مصطُفي فهمي الكتبي. الناشر: مطبعة التقدم القاهرة.

۵- ابن كثير، الحافظ عماد الدين.(۱۹۷۹ م). البداية والنهاية. چاپ، دريیم: المكتبة المعارف بيروت لبنان.

۶- ابن منظور، العلامة ابي الفضل جمال الدين محمد بن مكرم الافريقي المصري. (ب. ت). لسان العرب: نشر. ادب الجوزة دار الاشاعة الكتب الاسلاميه.

۷- ابوفارس، محمد عبدالقادر. (ب. ت). النظام السياسي في السلام: مكتبة الجامعة الاسلاميه للعلوم وتنقيه.

۸- ابويعلي، محمد بن الحسن الفراء الحنبلي. (۴۵۸ هـق). الاحكام السلطانية: دار الكتب الاسلامية.

۹- ابی العباس، احمد بن حمزة بن شهاب الدين.(۱۳۵۷هـق). نهايته المحتاج: طبعة شركة و كتبة و مطبعة البابي.

۱۰- احمد بن حنبل.(۱۳۶۸هـق). مسند احمد. شرحه و وضع فهارسه احمد محمد شاكر: طبعة دار المعارف بمصر.

۱۱- اشعري، ابي الحسن علي بن اسماعيل.(۱۳۸۹هـق). مقالات الاسلامين. تحقيق محمد محي الدين عبدالحميد. چاپ. دويم: مكتبة النهضة المصريه.

۱۲- اصبهاني، ابي نعيم احمد بن عبدالله.(۱۳۹۴هـق). حلية الاولياء و طبقات الاصفياء: مكتبة السعادة القاهره.

۱۳- الدميجي، عبدالله بن عمر بن سليمان.(۱۴۰۷هـق). امامة العظمى عند اهل السنة الجماعة. چاپ، اول: مكتبةالجامعة الاسلامية للعلوم والتنقيه.

۱۴- بخاري، ابي عبدالله محمد بن اسماعيل. (۱۹٤- ۲٥٦ هـق). صحيح البخاري. جلد، ۲: المكتبة السلفية.

۱۵- بغدادي، ابي منصور عبدالقادر بن طاهر.(ب. ت). اصول الدين: لاهور چاپ پاكستان.

۱۶- بيهقي، ابي بكر احمد بن الحسين.(۱۳۹۱هـق). مناقب الشافعي للبيهقي. تحقيق احمد صقر: دار لكتب التراث.

۱۷- تبريزي، شيخ ولي الدين ابي عبدالله محمد بن عبدالله الخطيب العمري.(ب. ت). مشكاة المصابيح : المطبعة العربية.

۱۸- سجستاني، سليمان بن الاشعث.(ب، ت). سنن ابو داود. جلد، ۴: دار الكتب العربي بيروت.

۱۹- سواتی، مترجم مولوي ګل برخان.(ب. ت). المنجد. تاج كتب خانه.

۲۰- صنعاني، عبدالرازق بن همام.(۱۹۷۲ م). مصنف عبدالرازق: بيروت لبنان.

۲۱- قرطبي، ابي عبدالله محمد بن احمد الانصاري.(۱۳۸۷هـق). الجامع الحكام القرآن. چاپ، دریيم: دار الكتب العربي للطباعة والنشر القاهرة.

۲۲- قشيري ابي الحسن مسلم بن الحجاج. صحيح مسلم. المكتبة السلفية.

۲۳- قلقشندي، ابي العباس احمد بن علي.(ب. ت). صبح الاعشي في صناعة الا نشاء: مطبعة الاميرية.

۲۴- قلقشندي، احمد بن علي.(۱۳۸۰هـق). مآثر الانافة في معالم الخلافة. چاپ، دويم: علام الكتب بيروت لبنان.

۲۵- ماوردي، امام ابو احسن علي بن محمد بن حبيب البصري البغدادي. (٤٥٠ هـق). الاحكام السلطانية: د ارالكتب العلمية، بيروت لبنان.

۲۶- معافري، ابي محمد عبدالملك بن هشام. (۱۳۷۵هـق). سیرت ابن هشام. جلد، ۴: مکتبة مصطفي البابي الحلبي.

۲۷- مولانا،ګوهرالرحمان. ژباړن، قریب الرحمان.(ب. ت). اسلامي سیاست: خپروندوی، پیغام نشراتي مرکز.

۲۸- نووي، محي الدين ابي ذكريا يحي ابن اشرف. (ب. ت). مسلم بشرح النووي. جلد، ۱۲: المطبعة المصرية.

۲۹- هیثمي، علامه نور الدين. (۱۹۶۷ م). مجمع الزوائد. الناشر: بيروت لبنان.

# الیکټرونیکي سوداګري او د هغې اړتیا

لیکونکی: پوهنمل محمدصدیق نوابزاده، شیخ زاید پوهنتون، اقتصاد پوهنځی، مالي او بانکي څانګې استاد
تقریظ ورکوونکی: پوهندوی سیدولي شاه مندوزی د شیخ زاید پوهنتون د اقتصاد پوهنځي استاد

**لنډیز**

سوداګري (Commerce) عبارت له ټولو هغه اقتصادي فعالیتونو څخه ده، چې اجناس د تولید له ځایه مصرفوونکی ته رسوي یا په بل عبارت سره ټول هغه اقتصادي فعالیتونه چې د مولدینو او مصرفوونکو ترمنځ اړیکه ټینګوي تجارت یا (Commerce) بلل کیږي (۴: ۴۴).

د بریښنایې سیستمونو او چینلونو له لارې د تولیداتو او خدماتو پیرودولو او پلورلو ته الیکټرونیکي یا برېښنایي سوداګري ویل کیږي، چې د ډېرو پوهانو په باور په ۱۹۷۰ لسیزې څخه وروسته د انټرنېټ له منځته راتګ سره سم پیل شوې ده(۳: ۲۲۷). د بریښنایې سوداګرۍ مهمه او اساسي وسیله د نړۍ جال یا انټرنېټ (Internet) او ځینې نورې کمپیوټري شبکې دي، چې په مرسته یې د کاغذي اسنادو پرته د پېر او پلور چارې په الیکټرونیکي بڼه د وېب پاڼو له لارې ترسره کیږي. یوازې د ویب پاڼو له لارې سوداګري برېښنایي سوداګري نه ده، بلکې د هر ډول برېښنایي سیستم لکه تلیفون، فاکس، د صرافي اتومات ماشینونه (ATM) او د نورو برېښنایي وسایلو په مټ ترسره شوي معاملات په برېښنایي سوداګرۍ کې شامل دي. الیکټرونیکي سوداګري لومړۍ په امریکا او له هغه وروسته په چین، دوبی، سینګاپور، انګلیستان، بمبیي او یو شمیر نورو هیوادونو کې د ونډو بازار او الکترونیکي سوداګري نظریه په پراخیدو شوه.

همدارنګه الیکټرونیکي سوداګري له خپلو زیاتو ګټو او اسانتیاوو سره ځینې ستونزې هم لري، چې د پلورنکي او پېرودونکي ترمنځ باور، انټرنیټي امنیت، د شخصي معلوماتو د بربنډېدو خطر، د توکو او خدماتو د ټیټ کیفیت امکان، د توکو او خدماتو په رسولو کې ځنډ، د انټرنیت د کمزوري یا نشتوالي ستونزو یادونه کېدلی شي.

**کلیدي ټکي**: الیکټرونیکي سوداګري، انټرنېټ، پلور، پېر، مصرف کوونکی

**هدف**

ددې مقالې د لیکلو موخه او هدف د بریښنایې سوداګري او ارزښت پیژندل او د هغې اړتیا په سوداګریزو فعالیتونو کې څیړي، ترڅو لوستونکي د الیکټرونیکي سوداګري په اړه معلومات ترلاسه کړي او په ځانګړي توګه د اقتصاد او کمپیوټر ساینس رشتې مینه والو او محصلینو لپاره

پدې برخه کې معلومات تهیه شوي وي.

**د کار مواد او میتود**

د دې لپاره چې د (د الیکترونیکي سوداګري او د هغې اړتیا) ترعنوان لاندې مقاله بشپړ کړم نو د مختلفو ژبو له معتبرو کتابونو، مجلو، مقالو او له انټرنیټ څخه مې استفاده کړیده. دمقالې د عنوان له ټاکلو وروسته د ضرورت وړ مواد د کتابخانایي تحقیق د میتود په اساس راټول او دلارښود استاد په مشوره فهرست ترتیب او دکار لاندې ونیول شول.

**سریزه**

د کمپیوټر او انټرنیټ په اختراع او منځته راتګ او د ټکنالوژي او اطلاعاتو چټک بدلون د ژوند په ډېرو برخو کې خورا زیاتې اسانتیاوې رامنځته کړې دي او د ژوند په ټولو اړخونو باندې یې فوق العاده اغېز کړي دي. د نړۍ د غرونو او بحرونو فاصلې یې رالنډې کړې دي، چې له برکته یې په څو ثانیو کې د نړۍ هر ګوټ سره اړیکه نیول کېدلی شي. د ټکنالوژي د پرمختګ له وجې په نړۍ کې په سوداګریزو، سیاسي او نورو اړخونو کې سختو سیالیو هم زور کړی دی (۶: ۱۲).

له بلې خو د کرونا وایروس اوسنی کړکېچ، چې په ټوله نړۍ کې دولتونو ښارونه، دفترونه، ښوونځي، روغتونونه، پلورنځي او کارځایونه بند کړي دي او د خلکو په تګ را تګ یې سخت بندیزونه لګولي دي، تصدي ګانې او شرکتونه هڅه کوي خپل تولیدات او خدمات د انټرنیټ او برېښنایي سوداګري په مرسته تر مصرف کوونکو ورسوي. له بلې خوا مصرف کوونکي هم د کرونا وبا د خطر او سختو بندیزونو له وجې اړ دي چې د خپلې اړتیا وړ توکي او خدمات د انټرنیټي ویب سایټونو، ټلیفون اپلیکېشنونو او نورو برېښنایي وسیلو څخه په ګټه اخیستلو سره را ونیسي.

افغانستان د الیکترونیکي سوداګرۍ په لومړیو پړاوونو کې دی خو د بانکداري او مخابراتو په سکتورونو کې یې د پام وړ پرمختګ کړی دی.

موجوده شرایطو ته په پام سره د مخ پر ودې هیوادونه مجبور دي ترڅو د عنعنوي سوداګرۍ ترڅنګه د نورو نړیوالو پرمختګونو او نوښتونو په اړه هم فکر وکړي ،ځکه چې په اوسني عصر کې دهر هیواد پرمختګ په الیکترونیکې تجارت پورې تړلی شو، لکه څرنګه چې دپرمختللو هیوادونو د پرمختګ څرګند مثالونه لیدلی کیږي.

څرنګه چې د بریښنایې سوداګرۍ او ور پورې اړوند مسایلو څېړل او توضیح کول یو پراخ بحث او وخت ته اړتیا لري، نوپدې مقاله کې د بریښنایې سوداګري مربوط ټول مسایل په مفصل ډول نشي څېړل کیدلای خو تر ډیره حده هڅه شوې ده، چې د بریښنایې سوداګري شالید، ډولونه، ستونزې او رول په سوداګریزو فعالیتونو کې په لنډ ډول توضیح شي ترڅو لوستونکي تر یوې اندازې پورې د بریښنایې سوداګري په اړه ابتدایې معلومات حاصل کړي.

**سوداګري د انساني فعالیت په توګه**

انسان یو طبعیي مخلوق دي او د همدې خاصیت په بنسټ د خپلو اړتیاوو د لیرې کولو په غرض یو شمیر فعالیتونه سرته رسوي نو سوداګري هم یو انساني فعالیت دی چې د اقتصادي فعالیتونو له جملې څخه ګڼل کیږي، چې موخه او هدف ورڅخه په قانوني توګه د مادیاتو او ګټې ترلاسه کول دي، چې نوموړي ګټه د اجناسو او خدماتو د پېر او پلور له لارې لاسته راوړي، یعنې داخیستوونکو او خرڅوونکو ترمنځ د اجناسو او خدماتو تبادله چې د ګټې په مقابل کې ترسره کیږي او دا کار پرته د فعالیته څخه نشي ترسره کیدای. همدارنګه سوداګري په حقوقي لحاظ سره داسې توضیح کوو چې: سوداګري د منقولو اجناسو او اموالو خرڅول او اخیستل چې د ګټې په موخه په دوامداره توګه د یو شغل او کاروبار په توګه ترسره کیږي عبارت له سوداګري څخه دی (۱: ۵).

د سوداګرۍ لغوي معنی د توکو یا اجناسو د راکړې ورکړې څخه عبارت ده، خو په اصطلاح کې د تولیدوونکو او مصرف کوونکو ترمنځ د توکو او اجناسو تبادله ده. همدارنګه د سوداګري پراخه مفهوم چې معمولاً په لویه اندازه سره د توکو یا اجناسو پیرودلو او پلورلو ته(Commerce) یا تجارت ویل کیږي، چې دا د سوداګرۍ لپاره نسبتاً پراخه مفهوم ارایه کوي، دا نه یوازې د شیانو یا اجناسو پیر او پلور بلکې له تولیدونکو څخه تر مستهلکینو پورې د اجناسو د رسولو ټوله پروسه په برکې نیسي (۲: ۷۲).

همدا ډول د سوداګري یا (Commerce) مفهوم او معنی ټول هغه اقتصادي فعالیتونه چې اجناس د مولد له ځایه مصرفوونکی ته ورسوي د (Commerce) څخه عبارت دي. یا په بل عبارت سره ټول هغه اقتصادي فعالیتونه چې مولدینو او مصرفوونکو ترمنځ اړیکه ټینګوي سوداګري یا (Commerce) بلل کیږي (۴: ۴۴).

**د الیکترونیکي سوداګري تعریف اومفهوم**

د بریښنایي سیستمونو او چینلونو له طریقه د تولیداتو او خدماتو پیرودولو او پلورلو ته برېښنايي سوداګري ویل کیږي. د بریښنایي سوداګرۍ مهمه او اساسي وسیله د نړۍ جال یا انټرنېټ (Internet) او ځینې نورې کمپیوټري شبکې دي. ددغې شبکې په مرسته له کاغذي اسنادو پرته، په برېښنايي او ډیجیټلي ډول د راکړې او ورکړې لارې چارې د ویب پاڼو له لوري چې په همدې موخه او هدف جوړیږي، اداره کیږي. یوازې د ویب پاڼو له طریقه بر ښنايي سوداګري نه شو بللی بلکې د هر ډول برېښنايي سیستم لکه تلیفون، فاکس، د پیسو د ورکړې اتومات ماشینونه یا ATM او د نورو برېښنايي وسایلو په مټ ترسره شوي ټول معاملات په برېښنايي سوداګرۍ کې شامل دي (۳: ۲۲۷).

برېښنايي سوداګري د بریښنایي کاروبار یا E-Business له پراخه فعالیتونو او کړنو څخه یوازې د خرڅلاو او تادیاتو لوری دی. برېښنايي سوداګري د یو کاروبار د پرمختګ او انکشاف لپاره یوه لویه اړتیا ده . که څه هم دغه اړتیا نوي رامنځ ته شوي وي خو په داسې حالت کې واقعیت ده چې د یو کاروبار لپاره ډیره اړینه او د نه استعمال له امله یې د نن ورځې سوداګریز فعالیتونه نیمګړي ګڼلی شوو. برېښنايي سوداګري یو کاروبار له اضافي او عملیاتي لوړو لګښتونو څخه ساتي، دسیالۍ په ډګر کې یې د سیالو کاروبارونو سره سیال او یا یې له هغوی څخه لړ څه وړاندې کوي او همدارنګه د برېښنايي سوداګرۍ په وسیله د یوه مشتري غوښتنتو ته چټک او پر وخت ځواب ویلای شو. په لنډ ډول ویلای شو چې بریښنایي تجارت عبارت دی له د انټرنیټ او ویب پاڼو استعمال د تجارتي معاملاتو له لپاره، چې دا استعمال په زیاته توګه د تجارتي سازمانونو او اشخاصو ترمنځ صورت مومي (۷: ۶).

**د برېښنايي سوداګرۍ شالید**

الکترونیکي یا بریښنایي تجارت پیدایښت د انټرنیټ له پیدایښت سره سم صورت موندلی او اکثریت پوهان په دې باور لري چې د الکترونیکي تجارت پراختیا د ۱۹۷۰ مې لسیزې سره مطابقت خوري، ځکه چې هغه وخت د امریکا متحده ایالاتو د اسهامو بازار کې یي زیات شهرت پیدا کړی ؤ. خلکو به د انټرنیټ له لارې او یا په فزیکي ډول د دوی اسهام اخیستل او خرڅول. د ونډو بازار یادونه په الکترونیکي سوداګري کې ډیره اړینه موضوع ده ځکه په اوسني عصر کې په زرګونو تصدیګانو د مربوط هیواد یا نورو هیوادونو د ونډو په بازار کې خپلې ونډې

ثبت کړې دي او د هغوی له الکترونیکي پېر و پلور څخه نهایي ګټې تر لاسه کوي. وروسته له امریکا څخه په چین، دوبی، سینګاپور، انګلیستان، بمبیي او یو شمیر نورو هېوادونو کې د ونډو بازار او الکترونیکي تجارت مفکوره په پراخیدو شوه. د نړیوال برقي ژورنال International Electronic Journal (IEJ) د پروفیسور په وینا بریښنایي تجارت د الکترونیکي میډیا له طریقه د معلوماتو شریکول، د تجارتي اړیکو ایجادول او همدارنګه د تجارتي معاملو رامنځ ته کولو څخه عبارت دی. دیاد شوي پروفیسور په اند الکترونیکي تجارت په هغه وخت کې شتون درلود، کله چې په (۱۹۴۸) میلادي کال کې د برلین خلکو لپاره د هوا له لارې مواد او کومکونه ترسره کیدل. په (۱۹۶۰) میلادي کال کې په الکترونیکي تجارت کې یو څه اندازه بدلون راغی چې تجارتي بڼه یې غوره کړه. په همدې وخت کې د بیلا بیلو تصدیګانو ګروپ یو داسې جوړښت او ترکیب رامنځ ته کړو چې په وسیله یې اخیستنه، خرڅونه او د تصدیو مالي برخې تر کنټرول او څار لاندې راوستلی شوې. څرنګه چې دغه جوړښت یوازې یو څو شاملو تصدیګانو ته مواجه وو، نو څکه خلک اړ شول چې د لازیات پرمختګ او ودې لپاره هڅې او کوششونه ترسره کړي نو هغه وو چې په پایله کې یې په ۱۹۷۰ م کال کې دبریښنایې معلوماتو تبادله (Electronic Data Interchange (EDI سیستم رامنځته شو. د الیکترونیکي تجارت اوسنی بڼه په ۱۹۹۴م کال کې منځته راغلي وه او په هغه وخت کې زرګونه دندې په الکترونیکي تجارت پورې تړل شوي وې. په لومړیو کې الکترونیکي تجارت په الیکترونیکي تولیداتو پورې محدود ؤ، خو په واقعیت کې بریښنایي سوداګري داقتصادي چارو د اسانتیا لپاره منځ ته راغلي ده چې (Electronic data interchange (EDI یا د برقي معلوماتو د تبادلې سیستم په ۱۹۷۰ میلادي کال کې معرفي کړل شو، خو شرکتونو او سازمانونو ته یې معلوماتو د لیږدولو اجازه وروسته ورکړه. د (EDI) څخه د ګټې اخیستنې طرزالعمل داسې ترتیب شوی ؤ، چې په دوه بیلا بیلو کمپیوټرونو کې به یو ډول سافټویرونه انسټال وو او معلومات به پرې له یو او بل سره شریک کیدل چې زیاتره یی په تولیدي تصدیو او نظامي موټرو کې استفاده کیدل. د دغه سیستم څخه په ۱۹۹۶ میلادي کال کې تر ۵۰۰۰ څخه زیاتو اروپایي تصدیو ګټه اخیستله او همدارنګه ۴۴۰۰ امریکایي تصدیو هم د نوموړي سیستم څخه استفاده کوله (۹: ۸).

په ۱۹۸۰ میلادي کال کې د صرافي اتومات ماشین (ATM) کارډ رامنځته شولو او همدارنګه په امریکا کې سابره (SABARE) او په برتانیه کې ټریوي ډات کم (TRAVI.COM)

تصدیو خپل معاملات د برقي یا بریښنایي سوداګرۍ له لارې ترسره کول. په ۱۹۹۰م کال کې ERP پروګرام د سرچینو د پانګونې په اساس سره نړیوالې ارتباطي شبکې یا انټرنیټ په نړۍ کې زیات بدلون راوستلو چې هغه ته په WWW سر ه وصل کیدلای شو، ځکه چې نړیوالو د انټرنیټ سره د ۱۹۹۴م کال څخه راپدې خوا زیاته مینه او علاقه پیدا کړه، چې دغه مینه او علاقه یې دموسیک (MOSAIC) ویب سایټ له لارې پیدا شوه. په ۲۰۰۰ میلادي کال کې انټرنیټي بحران ددې باعث وګرځېد چې ډیر شرکتونه او تصدیګانې د انټرنیټي تجارت سره اړیکي پرې کړي، چې وروسته دالکترونیکي تجارت په قوانینو او مقرارتو کې د غوره بدلون راتګ او د نورو اسانتیاوو راوستلو په صورت کې ډیر شمیر امریکایي او اروپایي شرکتونو الکترونیکي تجارت ته دوباره مخه کړه. دا هغه وخت ؤ چې د شرکتونو ترمنځ ډیره شدیده سیالي او رقابت روان وو او د وخت په تیریدو سره دغه سیالی او رقابتونه لا زیات شول (۹: ۸ – ۱۲).

**د الکترونیکي سوداګرې ډولونه**

الیکترونیکي تجارت شپږ لوی ډولونه لري چې په لاندې ډول ور څخه یادونه کوو:

۱ – تجارت له تجارت سره یا Business to Business(B2B)

۲ - تجارت له مصرف کوونکو سره یا (Business to Consumer (B2C

۳ - مصرف کوونکی له مصرف کوونکی سره یا(Consumer to Consumer (C2C

۴ – مصرف کوونکی له تجارت سره یا (Consumer to Business (C2B

۵ - تجارت له ادارې سره یا (Business to Administration (B2A

۶– مصرف کوونکی له ادارې سره یا (Consumer to Administration (C2A

**۱ - تجارت له تجارته سره**

تجارت له تجارت سره دا مفهوم او معنی افاده کوي چې دلته د الیکترونیکي یا بریښنایي تجارت له لارې تجارتي معاملې د اجناسو او خدماتو یوازې او یوازې چې د کمپنیو په منځ کې ترسره کیږي په برکې نیسي.

**۲- تجارت له مصرف کوونکو (مشتریانو) سره**

تجارت د مشریانو سره پدې مفهوم او معنی سره ښودل کیږي چې دلته ټولې تجارتي معاملې د کمپنی او مصرف کوونکی (مشتري) ترمنځ په برکې نیسي، یعنې د کمپنۍ اومصرف کوونکی ترمنځ اړیکه ټینګوي.

**۳ – مصرف کوونکی له مصرف کوونکی سره**

مصرف کوونکی له مصرف کوونکی سره یا مشتري له مشتري سره داسې توضیح کیږي چې ټولې برېښنايي تجارتي معاملې د اجناسو او خدماتو چې د مشتريانو ترمنځ ترسره کیږي په برکی نیسي، په عمومي ډول دغه ډول معاملې د دريم شخص په لاربښوونه سره اداره کیږي.

**۴ – مصروف کونکی له تجارته سره**

مصرف کوونکی له تجارته سره ددې معنی او مفهوم توضیح کوي چې دلته په مکمله توګه په متقابل ډول د معلوماتو تبادله صورت نیسي او دغه ډول برېښنايي تجارت یوعام ډول تجارت دی، په انفرادي ډول په لوړ مقدار او تعداد سره تولیداتو او خدمات داخیستلو لپاره موجود وي. همدارنګه د کمپنیو د پیرودولو لپاره هم تولیدات او خدمات موجود وي .

**۵- تجارت له ادارې سره**

تجارت د ادارې یا اداراتو سره پدې معنی ده چې په دغه برخه کې ټولې انلاین معاملې د کمپنیو او عامو ادارو ترمنځ چې ترسره کیږي په برکی نیسي، په دغه برخه کې په لویه کچه او مقدار سره مختلف ډوله خدمات شامل دي خاصتا مالي، ټولنیزامنیت، استخدام، د قانوني اسنادو ثبت او داسې نور.

(http://ecommerce.about.com/od/eCommerce-Basics/tp/Advantages-Of-Ecommerce.htm)

په برېښنايي سوداګري کې دوخت په تیریدو سره تغیرات

یو عالم چې نوم یې میکایل الدریخ (Michael Aldrich) دی په۱۹۷۹ م کال کې برېښنايي انلاین پیر یا خرڅلاو اختراع کړ.

دتونسن هالیډیز (Thonson Holydays) په نوم یو کس په ۱۹۸۱م کال کې لومړنی خرڅلاو د B2B ترمنځ په برتانیه کې رامنځته کړ.

مینتل (MINTEL) په نوم یو کس په ۱۹۸۲ م کال کې د فرانسې په هیواد کې انلاین سیستم د France Telecom په مرسته رامنځته کړو، چې پدې توګه انلاین یا برېښنايي تجارت ادامه پیدا کړه.

ګیټس هیډ (Gateshead) په نوم یو بل شخص په ۱۹۸۴ م کال کې لومړنی انلاین خرڅلاو دسیس ټسکو (SIS / Tesco) په نوم او د B2C په منځ کې یې برېښنايي تجارت منځته

راوړ. همدارنګه میرمن سنوبال (Snowball) په لومړي ځل سره د کورنیو توکو لپاره د ۷۲ تعداد په اندازه د انلاین خرڅلاو ځایونه په کار واچول.

سویرګ (Swerg ) په نوم یو کس په ۱۹۸۷م کال کې دهارډویر اوسافټ ویر په مرسته خپلو حاصلاتو ته وده او رشد ورکړ، او د یو میکانیزم له مخې یې بریښنایي حسابونه یا اکاونټونه په کار واچول.

دټیم برنرز-لي (Tim Berners-Lee) په نوم یو تن په ۱۹۹۰م کال کې لومړۍ لیکنه په ویب پاڼه کې وکړه چې پدې سره د ویب سایټ نړۍ ته نور پرمختګ ورکړل شو او د نویو کمپیوټرونو په مرسته دا برخه نوره هم پراخه شوه (۸: ۹۵).

**د الیکترونیکي سوداګرۍ د زیاتوالی لاملونه**

د بریښنایي سوداګري د حجم زیاتوالی ګڼ شمیر لاملونه لري، چې د بېلګې په توګه یې دلته د یو څو دلایلو څخه یادونه کوو:

تکنالوژیکي پرمختګ: هغه هیوادونه چې د معلوماتو او اړیکو Telecommunication په برخه کې یې پرمختګ ترسره کړیدی، طبیعي خبره ده چې کاروبارونه او مصرف کوونکي یعنې پلورونکي او پیرودونکي به یې د همدې ټکنالوژۍ له لارې سره پیوست کړل شي.

سیاسي عوامل: د دولت او حکومت له اړخه وضع شوي قوانین اومقرارت هم د بریښنایي سوداګرۍ پر رایج کیدو او پرمختګ باندې مستقیماُ تاثیر لري . ځینې هیوادونه ممکن د بریښنایي سوداګرۍ په برخه کې خاص او ځانګړي قوانین او مقرارت ولري چې لدې امله یې د بریښنایې سوداګرۍ چټک دود او د رایج کیدو بهیر له یو څه ځنډ سره مخامخ کیدای شي(۳: ۲۱۵).

ټولنیز لاملونه: هغه ټولنې او سیمې چې وګړي یې د پرمختللي تکنالوژۍ او بریښنایي وسایلو له کارونې سره اشنایې ولري، نو په نوموړو سیمو کې بریښنایي سوداګري په چټکۍ سره پرمختګ کولای شي، خو برعکس زمونږ د ټولنې او سیمې خلک چې وګړي یې د معلوماتي تکنالوژۍ سره پوره اشنایې نه لري همدا علت دی چې بریښنایې سوداګري په کې چندانې وده او پرمختګ نه شي کولای.

اقتصادي لاملونه: د سوداګریزو فعالیتونو د جریان سموالی، شتمني او ځینې ګڼ شمیر اقتصادي عوامل دي چې د بریښنایې سوداګرۍ په پرمختګ باندې څرګنده اغیزه لري. په لومړیو وختونو کي بریښنایې سوداګري یوازې د مشتریانو او کاروبار ترمنځ مروجه وه او ددې سوداګرۍ په

اساس د مشتري او کاروبار ترمنځ د تولیداتو، خدماتو او معلوماتو تبادله او معامله ترسره کېږه. د برېښنایي سوداګري په اوایلو کې یوازې یو څو شبکې موجودې وې چې انلاین معاملې یې ترسره کولې لکه ډیل ډاټ کم او امازون (Dell & Amazon) (۳: ۲۱۵).

**پر اقتصاد اوکاروبار باندې د برېښنایې سوداګرۍ تاثیرات**

برېښنایي سوداګري یوازې د برېښنایي پاڼو او برېښنایې وسایلو پراساس خرڅول او اخیستل ندي بلکې د کاروبار لپاره د نوي لارې او فکر ایجاد هم دی، چې دکاروبار او مدیریت په سابقه اصولو او لارو چارو باندې یې څرګنده اغیزې کړیدي، چې ځینو ته یې لنډه کتنه کوو.

بانکوالي او حسابداري: د بانکوالي په برخه کې یې تاثیرات دا وو چې پر کرېښه یا انلاین بانکوالي یې رامنځته کړه. همدارنګه د کاروبارونو لپاره د محاسبې ځینې کارونه او د حسابونو پلټنه (Audit) هم د برېښنایې سیستمونو په وسیله له لرې سیمو څخه څارل کیږي (۳: ۲۳۰).

بازارموندنه: د برېښنایې سوداګرۍ په اثر د بازار موندنې په برخه کې یو اندازه تغیرات رامنځته شویدي چې خاصتاً د اعلاناتو په برخه کې زیات بدولون او نوښتونه راغلي دي، ځکه په پخوا وختونو کې به ځینې کمپنۍ دروازه په دروازه ګرځیدلې او یا به یې د خپلو محصولاتو کتلاکونه پر خلکو وېشل، خو اوس دا کار ډېر په اسانۍ سره کوي او د خپلو توکو او خدماتو اعلانات پېرودونکو ته دویب پاڼې له لارې ورپیژني. پخوا چې برېښنایې سوداګري وده نه وه کړې په کومه سیمه کې به چې کوم کاروبار کېده په همغې سیمې په خلکو پورې منحصر او تړلی ؤ، یعنې د همدې سیمې بازارونه به یې تر پوښښ لاندې راوستلي وو. خو اوس چې برېښنایې سوداګري پوره وده او پرمختګ کړیدی، نو په بازارونو کې پولې او سرحدات هم له منځه تللي، ټول کورني او نړیوال بازارونه یې رانغاړلي دي.

معلوماتی ټکنالوژي: برېښنایي سوداګري د معلوماتي ټکنالوژۍ په برخه کې د پام وړ پرمختګونه او نوښتونه رامنځته کړي دي، په دې برخه کې د برېښنایي سوداګرۍ داسانتیا په موخه کمپیوټري شبکو وده او پرمختګ وکړ او د کمپیوټر بیلابیل پروګرامونه او ژبې رامنځته شوې.

د وخت سپما: د برېښنایي سوداګرۍ له امله د یو سازمان او کاروبار د عملیاتي چارو په وخت کې د پام وړ کموالی راځي. د اخیستونکو له لوري د یوه توکي د غوښتنې وخت ۹۰ سلنه ټیټ شویدی او ددې ترڅنګ پیرودونکي ته د توکي د رسولو وخت هم د انلاین پروسې له امله ډیر کم شویدی، په ځانګړي ډول د کمپیوټري پوستونو، غږیزو موادو، اډیوګانو او ویډیوګانو په

برخه کې دا پروسه تر نورو څکه چټکه ده چې پېرودونکي کولای شي سمدلاسه په ډیجیټل بڼه د خپلې اړتیا او غوښتنې وړ توکي تر لاسه کړي. په وخت پورې مربوط د برېښنايي سوداګرۍ یوه ځانګړنه دا هم ده چې د اونۍ په ټولو ورځواو شپو کې او په څلورویشت ساعته ډول سوداګرۍ ته لاسرسی لرو او پدې اساس سره د خپلې غوښتنې او اړتیا وړ توکي اخیستلای شوو (۳: ۳۳۱).

تولیداتو اسانتیا: د برېښنايي کاروبارونو او اقتصادي فعالیتونو د غوښتنې پر اساس د توکو تولید ته لار برابره کړي. پخوا به مولدینو ته د خپل تولید د تقاضا او غوښتنې اټکل کول ډېر ستونزمن ؤ او د خپل اټکل او احتمال له مخې به یې په لویه اندازه سره توکي تولیدول، چې ډېر وخت به له خرڅلاو څخه پاتې کیدل، خو په اوسني وخت کې کمپنۍ او تولیدکوونکي د انټرنیټ له لارې د مشتریانو غوښتنې او فرمایشات راټولوي او د همدغه غوښتنو او فرمایشاتو پراساس تولید کوي. له بله اړخه دا کار په هغو حالاتو کې ډېر ګټور دی چې کوم وخت د تولید ډیزاین کوونکي انجنیران، ماهرین او نور په بیلا بیلو ځایونو کې وي، نو د برېښنايي سیستم د شتون په وجه په اسانۍ سره کولای شي د یو اخیستوونکي غوښتنه او فرمایش تر یادو کسانو ورسوي او هغوی د غوښتل شویو تولیداتو د ډیزاین او تولید کار پیل کړي.

د معلوماتي سیستم مدیریت: د یوې برېښنايي سوداګرۍ او کاروبار انلاین معلومات باید په سمه او صحیحه توګه کنترول او اداره کړل شي. په همدې موخه نن ورځ په سازمانونو کې یوه نوي مدیریتي څانګه رامنځته شوي چې Management Information System (MIS) یا د معلوماتي سیستم مدیریت ورته ویل کیږي.

د انساني سرچینو مدیریت: برېښنايي سوداګرۍ د انساني سرچینو (بشري منابع) د مدیریت په برخه کې یو لړ زیات بدلونونه رامنځته کړیدي، چې په اوسني وخت کې د استخدام پروسې ډېر کارونه پرکرښه یا انلاین ډول تر سره کیږي.

سوداګریز قوانین او اخلاق: دا چې برېښنايي سوداګري د کاروبار یوه نوي بڼه تشکیلوي، نو څکه د تنظیم په موخه یې نویو قوانینو، مقرراتو او اصولو ته ضرورت لیدل کیږي. همدارنګه د اوسني نړیوالتوب له امله باید په نړیوال مارکیټ کې د کاپي کولو حق (Copyright) د مشتري د هویت محفوظ ساتل، د بریښنايي تړونونو او نور اخلاقي اصول او قوانین په پام کي ونیول شي. پیرودونکي له برېښنايي سوداګرۍ څخه دا ګټه ترلاسه کوي چې هغوی وکولای شي د اړتیا وړ

توکي د بیلا بیلو عرضه کوونکو ویب سایټونه له لارې وپلټي، د هغوی کیفیت تر خرڅلاو وروسته خدمات او قیمتونه سره مقایسه کړي او هغه توکي را ونیسي چې په یادشویو ځانګړنو سره تر نورو توکو بهتر وي دغه کار د اخیستوونکو هغه ستړیا له منځه وړي چې د توکو د رانیولو پر وخت به دوکان په دوکان ګرځیدل او د عرضه کوونکو د اجناسو کیفیت او قیمتونه به یې سره مقایسه کول ( ۳: ۲۳۰ – ۲۳۲).

**برېښنايي سوداګري پر وړاندې پرتې ستونې او ننګونې**

برېښنايي سوداګري د ځینو پرمختګ او ګټو سره په څنګ کې ځینې ستونزي او ننګونې هم لري، چې په لاندې ډول ترې یادونه کیږي.

د پېرودونکو او پلورونکو ترمنځ باور: څرنګه چې په الیکترونیکي سوداګري کې د پېرودونکي او پلورونکي ترمنځ مخامخ اړیکه نه وي، نو د معاملې شرایطو ته پابند پاتې کېدلو باندې زیات باور هم نه وي، ځکه ډېر ځلونه پېرودونکي د پلورنکو لخوا یا هم پلورونکي د پېرودونکو لخوا په الیکترونیکي معامالاتو کې دوکه او فریب شوي دي. ځینې ویب پاڼې او اپلېکېشنونه د استعمالوونکو څخه په چل او فریب سره پرته له دې چې خدمات یا توکي پرې وپلوري، پیسې ترلاسه کوي، چې دغه کار د الیکترونیکي سوداګري باور ته پوره زیان اړولی دی (۵: ۲۰).

انټرنیټي امنیت او د شخصي معلوماتو برېنډېدل: د الیکترونیکي سوداګري ټولې وېب پاڼې او الیکترونیکي وسایل د انټرنیټي امنیت له اړخه خوندي نه دي او په انلاین ډول د توکو او خدماتو د رانیولو په وخت کې د پېرودونکو شخصي او د بانکي حساب اړوند معلوماتو ته د لاس رسي او نه غلا کولو هېڅ ډاډ او تضمین نه شته. فلهذا د انټرنېټ امنیت او د شخصي معلوماتو د برېنډېدو وېره د الیکترونیکي سوداګري پر وړاندې بله جدي ننګونه ده (۵: ۲۱).

**د توکو او خدماتو کیفیت:** تر څو چې توکي یا خدمات و پیرودونکي ته رسیدلي نه وي، تر هغه وخته په انلاین او الیکترونیکي بڼه د پېرودل شویو اجناسو د کیفیت څخه ډاډ نه شي ترلاسه کېدلی. د کیفیت په اړه د ډاډمنتیا نشتوالی د الیکترونیکي سوداګري په اړه ډېری پېرودونکي زړه نا زړه کړي دي او په وړاندې یې یوه ننګونه ګرځېدلې ده (۶: ۹).

له دې پورته یادو شویو ستونزو ور ها خوا ځینې نورې نقطې هم شته، چې کېدلی شي د الیکترونیکي سوداګري په وړاندې خنډ وګرځي. له دغو خنډونو څخه د بېلګې په توګه د توکو او خدماتو په رسولو کې ځنډ، کمزوری انټرنېټ یا نشتوالی او په ځانګړي ډول په وروسته پاتې

ټولنو کې د انټرنېټ سره نابلدتیا او د سواد د ټیټې کچې څخه یادونه کولی شو (۶: ۲۰).

**پایله**

سوداګري هرهغه قانوني فعالیت چې د ګټې د ترلاسه کولو په خاطرترسره کیږي عبارت له سوداګرۍ څخه دی. یا په بل عبارت سره، سوداګري د منقولو اجناسو او اموالو د پیرودلو او پلورلو څخه عبارت ده چې د ګټې  د حاصلولو لپاره د یوې دندې په ډول په دوامداره توګه تر سره کیږي .

د الیکترونیکي وسایلو له لارې د توکو پېر او پلور د الیکترونیکي سوداګرې څخه عبارت ده. یا په بله وینا، د برېښنایي سیستمونو او چینلونو له لارې  د تولیداتو او خدماتو پیرودل او پلورل برېښنایې سوداګري بلل کیږي.

د بریښنایې سوداګرۍ مهم عامل او وسیله د نړۍ جال(انټرنیټ) او ځینې نورې کمپیوټري شبکې دي. که څه هم بریښنایې سوداګري دومره زیاته سابقه نلري، خو په نننۍ عصر کې د تجارت لپاره یوه مهمه اړتیا او وسیله ګڼل شویده. سوداګرو او تاجرانو ته یې د زیاتو مفادو حاصلولو او د مصارفو څخه د سپما یو بهترین فرصت په لاس ورکړی دی، ترڅو د خپلو سیالانو یا رقیبانو سره د سیالۍ کولو جوګه شي. لکه څرنګه چې بریښنایې تجارت د کمپیوټر د پیدایښت سره جوښت رامنځته شویدی او همدارنګه د بریښنایې تجارت پراختیا د۱۹۷۰ م کال سره سمون خوري، ځکه چې هغه وخت په امریکا کې د ونډو بازار په خلکو کې ډېر زیات شهرت پیداکړی وو او خلکو ونډې د انټرنیټ له لارې یا په فزیکي ډول اخیستلې او خرڅولې. خو دا باید له یاده ونه باسو چې بریښنایې تجارت هغه وخت شتون درلود چې د برلین خلکو ته په ۱۹۴۸ م کال کې د هوا له لارې مواد او کومک رسول کیدل او په ۱۹۶۰م کال کې یې یو څه اندازه  بدلون وکړ او تجارتي اړخ یې غوره کړ. برېښنایې سوداګري یوازې د وېب پاڼو او برېښنایې وسایلو له لارې پیر او پلور ندی بلکې، د کاروبار لپاره یوه نوي لار او فکر دی، چې ددې نوي فکر او بدلون سره د کاروبارونو او مدیریت په زړو اصولو او لارو چارو باندې څرګنده اغیزې کړې دي چې بېلګې یې  پدې لیکنه کې ذکر شویدي.

**اخذلیکونه**

۱- سعیدي، سیدقیاس.(۱۳۹۲). دسوداګرۍ اساسات، جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه.
۲- عادل، عبدالله او ورین، امان الله .(۱۳۹۴). اقتصادي اصطلاحات، جلال اباد: کتاب

خپرندويه اداره

۳- کوټوال،نصير. (۱۳۹۴) .اقتصادي درسونه، کابل: اکسوس کتاب پلورنځی.

۴- نيازی، محمد داود.(۱۳۹۱). کاروبار، جلال اباد: ګودر خپرندويه ټولنه.

Khan, A. G. (2016). Electronic commerce: A study on benefits and challenges in an emerging economy. *Global Journal of Management and Business Research*.

Franco, Eugine and Bulomine Regi. (2016). Advantages and Challenges of E-Commerce Customers and Businesses: In Indian Perspective. *International Journal of Research-Granthaalayah*, 4(3), 7-13.

Gabriel, Roland. (2010). E-commerce, Bochum: Ruhr University Bochum

Khoshnampour, Mohsen and Nosrati, Masoud. (2011). An Overview of E-commerce. World Applied Programming, Vol (1), No (2).

Watson, Rechard T; Berhton,Pierre; Pitt, Leyland F and Zinkhan, George M. (2008): Electronic Commerce: The Strategic Perspective, Zurich: Jacobs Foundation,

# د لیوني سپي ناروغۍ انتقال، کنترول او درملنه

لیکونکی : پوهنمل اجمل خوستی ، شیخ زاید پوهنتون، وترنري علومو پوهنځی، پاراکلینیک څانګې استاد
تقریظ ورکونکی: پوهندوی رحمت الله هاشمي د زراعت پوهنځی استاد

**لنډیز**

د لیوني سپي ناروغۍ سببي عامل د یوې ریشتې لرونکی (RNA (single-stranded ویروس څخه عبارت دی. په محیط کې د یاد ویروس ژوندي پاتې کیدل د حیوان په نوعې پورې اړه لري. د لیوني سپي ناروغۍ ویروس مرکزي عصبي سیستم په ناروغۍ اخته کوي، چې د اعصابو د التهاب د پرمختګ په صورت کې په انسانانو کې د مړینې لامل کیږي. رابییز (Rabies) یوه ویروسي زونوتیکه ناروغي ده چې هر کال په نړۍ کې تقریبا د ۵۰۰۰۰ څخه تر ۱۰۰۰۰۰ انسانانو پورې د دې ناروغۍ په سبب له منځه ځي. د دې ناروغۍ د مړینې پیښې اکثره مخ پرودې هیوادونو کې زیاتې واقع کیږي. په نړۍ کې خصوصاً پرمخ ودې هیوادونو کې سپی د دې ناروغۍ یو له مهمو انتقالونکو څخه شمېرل کیږي. انسانانو ته معمولا یاده ناروغي د لیوني سپی د کاکړو لاړو او داړلو په مرسته انتقالیږي. د ناروغۍ مخفي دوره له ۳۰ – ۹۰ ورځو پورې رسیږي. د حساسیت لوړیدنه، په خودکاره فعالیتونو کې اختلال، د روښنایی او اوبو څخه ویره د رابیز ناروغۍ د انسفالیت شکل له عمده ځانګړنو څخه شمیرل کیږي، چې تقریبا ۸۰ سلنه د یادې ناروغۍ واقعات تشکیلوي. د داړل شوي عضوې فلج کیدل په عمومي ډول سره د اطرافو څخه شروع کیږي او په متانظر او یا هم په غیرې متناظر ډول پرمختګ کوي. کله چې په یوه حیوان کې د ناروغۍ اعراض راڅرګند شي او پرمختګ وکړي نو په ناروغۍ اخته حیوان له منځه ځي. په ځارویو کې کولای شو د لیوني سپي ناروغۍ د کنترول په موخه کتلوي معافیت رامنځ ته کړو، ویلګرد یا کوڅه ډبه ځاروي له مینځه یوړل شي، د کورنیو ځارویو خاوندانو ته باید عامه پوهاوی ورکړل شي تر څو خپل ځاروي د لیوني سپي ناروغۍ پر وړاندې واکسین کړي او صحي قوانین مراعت کړي. هغه اشخاص چې په لوړه کچه د خطر سره مخامخ دي یا هم هغه خلک چې اوږد مهاله سفرونه کوي هغه هیوادونو ته چې د جدي ګواښ سره مخامخ دي او یا هم هغه هیوادونو ته چې هلته مناسبو صحي خدماتو ته لاس رسی شتون ونه لري نو دا ډول خلکوته باید عصري (مډرن) واکسینونه چې د حجروي کلچر په نتیجه کې لاس ته راځي تطبیق کړی شي. کوم خلک چې د لیوني سپي په ذریعه وداړل شي او مخکې یې واکسین نه وي کړي

نو لازمه ده چې د زخم پاکولواو مړرنو واکسینو تطبیق سره یو ځای immune globulin هم تطبیق شي.

**کلیدي ټکي:** رابیز، انتقال، درملنه، کنترول، بیا کتنه

**سریزه**

لیوني سپي ناروغي(Rabies) د ټی لرونکو ځارویو یوه عصبي ناروغي ده، چې همیشه د کلینیکي نښو په ځرګندیدوسره د حیوان د مړینې لامل کرځي. انسانان هغه وخت په دې ناروغۍ اخته کیږي کله چې د یو ناروغ ځاروي په وسیله وداړل شي ، یا هم د ناروغ ځاروي له لاړو سره او یا هم د مرکزي عصبي سیستم له انساجو سره په تماس کې شي. که څه هم د لیوني سپي ناروغي په پرمخ تللو هیوادونو کې د ځارویو د اهلي کولو په سبب تر کنترول لاندې راغلي ده. د لیوني سپي ناروغي اوس هم د نړۍ په برخو کې لکه افریقا، منځیني ختیځ، اسیا او لاتین امریکا کې په دوامداره ډول جدي ستونزې رامنځ ته کوي. که چیرې یاده ناروغي په وخت تشخیص او مخکې له کلینیکي نښو یې درملنه صورت ونیسي نو په موثره توګه قابل د علاج ده. که څه هم هغه خلک چې په غریبو او وروسته پاتې هیوادونو کې دناروغۍ د واقع کیدو وړاندې وقایوي تدابیرو او صحي خدماتو ته لاس رسی نه لري، په یاده ناروغۍ اخته کیږي.[6]

د لیوني سپي ناروغي (Rabies) د ډیرې پخوا څخه پیژندل شوي ویروسي ناروغي ده، چې په ګرمه وینه لرونکو ځارویو او انسانانو کې مرکزي عصبي سیستم تر اغیزې لاندې راولي [20]. د لیوني سپي ناروغي یو زونوتیکه (zoonotic) ناروغي ده، چې په ټولو ټی لرونکو ځارویو کې د وژونکي عصبي التهاب (encephalitis) لامل کیږي[7]. په دې ناروغۍ کې عصبي نښې، فلج او وروسته مړینه د عمده ځانګړونو څخه شمیرل کیږي[1]. یو ځل چې د ناروغۍ اعراض(symptoms) ځرګند شي نو د مړینې لامل کیږي، ناروغي قابل د وقایې ده ولې بدبختانه د علاج وړ نه دی[7]. مخ پر وده هیوادونو کې سپي د یادې ناروغۍ عمده زیرمې تشکیلوي په داسې حال کې چې په پرمخ تللو هیوادونو کې د وحشي ځارویو نوعې د یادې ناروغۍ زیرمې تشکیلوي[25].

**موخه**

دا چې د لیوني سپي ناروغي یوه زونوتیکه (zoonotic) نا علاجه ناروغي ده او په نړۍ کې هر کال ګڼ شمېر انسانان او ځاروي د دې ناروغۍ په سبب خپل ژوند له لاسه ورکوي. نو د دې په

خاطر چې د مسلک خاوندان، د وترنري پوهنځي محصلين او عام خلك د دې ناروغۍ د انتقال، درملنې او مخنيوي په برخه کې معلومات حاصل کړي، پر ياده موضوع مې څېړنه ترسره کړه.

**کړنلاره او مواد**

د دې ليکنې کړنلاره کتابتوني ده، همدارنګه د انترنيت څخه هم په کې استفاده شوي ده. لومړي مې مختلف معلومات ، کتابونه، مختلفو هيوادونو ژورنالونو لکه د امريکا متحده ايالاتو، جنوبي افريقا او داسې نورو چې د ۲۰۰۷ م کال څخه تر ۲۰۱۷ م کال پورې چاپ شوي دي راټولې کړي چې جمله ۳۰ مقالې کيږي او وروسته مې د هغې څخه اړين مواد په دې ليکنه کې ځای پر ځای کړل. د کار وسايل يا مواد چې د دې ليکنې لپاره اړين دي عبارت دي له: اړوند کتابتون، ژورنالونه، مقالې، انترنيټ، کمپيوټر او داسې نور دي.

**عامل**

د ليوني سپي ناروغۍ سببي عامل په *Lyssavirus* جنس او *Rhabdoviridae* فاميل پورې تعلق لري. ياد ويروس مرمۍ ډوله(bullet)، يو ريشتيي RNA جينوم لرونکی ويروس دی[22]. ياد ويروس د التراويوليت وړانګو (ultraviolet radiation) په وړاندې حساس دی. کله چې د ازادې هوا، روښنايي سره په تماس کې شي او همدارنګه په وچو شوو وينه لرونکو افرازاتو کې په چټکۍ سره غير فعال ګرځي[31].

د ليوني سپي ناروغۍ سببي عامل يو نيوروتروپيک ويروس دی. جينوس کې په جينوټايپ I او سيروټايت I باندې ډلبندي شوی دی. همدرانګه زيات شمير د ريبيز ويروس strains شتون لري، چې هر strains يې په يوه مشخص ميزبان کې ساتل کيږي. سره له دې، چې ياد ويروس په اسانۍ سره په نورو species کې د ناروغۍ د منځ راتلو سبب کيدای شي، اما د ځينو speices څخه د تيريدو په صورت کې چې زمينه ورته مساعده نه وي مړ کيږي. کله کله د ميزبان د صفت په ډول د strain’s د منشاء د تشريح له پاره کارول کيږي. د مثال په ډول که چيرته ويروس د skunk له ډول څخه وي او په سپي کې د ريبيز سبب وګرځي، دا په سپي کې د skunk ريبيز په نوم ياديږي. اما که چيرې ويروس د سپيو په رمه کې پاتې او وساتل شو، نو د canine ريبيز په نوم ياديږي. کله کله ياد ويروس په يو species کې تطابق کوي او په بل species کې راڅرګنديږي. د امريکا په متحده ايالاتو کې skunk ډول نفوس يې د راکون او bat ډوله ريبيز په واسطه رامنځ او canine ريبيز د تګزاس او اريزونا ايلاتو کې په وحشي

ځارويو لکه په خړ رنګه ګيدړو کې پيدا کيږي. [1]

Lyssaviruses سره نيږدې اړيکې لرونکي ويروسونه چې د rabies-related lyssaviruses يا non rabies lyssaviruses په نوم هم پيژندل شوي، ريبيز ته ورته د عصبي ناروغي د رامنځ ته کيدو سبب ګرځي. Lagos bat ويروس (جينوټايپ ۲، سيروټايپ ۲) د افريقا په ځينو برخو کې په bats کې پيدا او په پيشوګانو، سپيو او water mongoose (Atilax paludinosis) کې عصبي ناروغۍ رامنځ ته او يادو ځارويو د مړينې سبب ګرځي. د دغو پيشوګانو او سپيو له ډلې ځينې يې د ريبيز په مقابل کې واکسين کيږي. موکولا ويروس (جينوټايپ ۳، سيروټايپ ۳) يواځينی lyssavirus ويروس دی، چې په bat کې تر اوسه نه دی موندل شوی. دغه ويروس په افريقا کې د rodents او shrews کې موندل شوی، خو ميزبان يې نامعلوم دی. ياد ويروس په سپيو، انسانانو او پيشوګانو (په شمول دې واکسين شويو پيشوګانو او سپيو کې) وژونکي عصبي ناروغي رامنځ ته کوي. د ناروغۍ څخه په صحت شوي ځارويو کې د موکولا ويروس په مقابل کې د انتي باډۍ راپور هم ورکړل شوی او يو ماشوم چې په دغه ناروغۍ اخته شوی وو، ښه شوی هم دی. په افريقا کې Duvenhage ويروس (جينوټايپ ۴، سيروټايپ ۴) په bats کې رامنځ ته شوی او په زياتره خلکو کې ريبيز ناروغۍ ته ورته وژونکي ناروغي رامنځ ته کوي. اروپايي bat lyssaviruses (EBLV) د Duvenhage ويروس ته ډير ورته والی لري، اما د اروپا په کره کې موندل کيږي. دوی سيروټايپ ۵ دي، چې بيا په دوو بيوټايپ فرعي ګروپونو EBLV1 (جينوټايپ ۵) او EVLV2 (جينوټايپ ۵) باندې ويشل شوي دي. کلينيکي واقعات يې په انسانانو او ځارويو (ميږې، a stone marten) کې راپور شوي دي. استراليايي bat lyssavirus (ABLV; genotype (7) په استراليا کې تجريد شوی. دا هم په انسانانو کې مرګوني ريبيز ته ورته د ناروغۍ راپور ورکړل شوی دی.

ريبيز او ريبيز اړوند lyssaviruses په دوو فيلوګروپ باندې ډلبندي شوي، چې دا ويشل د دوی د ارتباط په اساس تر سره شوي دی. فيلوګروپI يې ريبيز ويروس، Duvenhage ويروس، EBLV1، EBLV2 او استراليايي Bat ويروس په بر کې نيسي، په داسې حال کې چې په فيلوګروپ II کې Lagos bat virus او موکولا ويروس شتون لري. څلور نور اضافي استراليايي bat ويروسونه هم په ازمايشي ډول د lyssaviruses په ډول ډلبندي شوي

دي. په دې ویروسونو کې ایرکوټ ویروس، آراوان ویروس، خجند چې ټول د فیلوګرپ I اړه لري او د غربي قفقاز bat ویروسونو له جملې څخه دي. [1]

**اپیډیمولوژي**

د یو شمېر څېړنو پر بنسټ، په افریقا او اسیا کې هر کال نږدې ۵۵۰۰۰ کسان د لېوني سپي د ناروغۍ له امله مړه کېږي. په کور کې د ساتل شویو سپیو او پیشوګانو د ټولیز(کتلوي) معافیت لپاره د امریکا متحده ایالتونه په غټه کچه نږدې ۳۰۰ میلیونه ډالر مصرفوي، چې له امله یې په یاد هېواد کې په انسانانو کې د لېوني سپي ناروغۍ کچه ډېره ټیټه شوي ده. د دې سربېره په ۲۰۰۵ م کال د متحده ایالتونو د ناروغیو د کنټرول او وقایې مرکز (CDC) ته په وړاندې شوېو پېښو (cases) کې، ۹۲ سلنه د لېوني سپي ناروغي د وحشي ژویو لکه اسمان څکالي، راکون، ګېدړې، سکنک (یو ډول امریکایي پیش پړانګ ته ورته حېوان دی) په واسطه رامنځته شوي دي [5]. په امریکا کې د لېوني سپي ناروغي د وچې د ژویو له امله د سپیو سربېره چې د ټېکساز او میکسیکو په پوله ژوند کوي، په راکون چې په ختیځ ساحل کې ژوند کوي او په ګیدړه، سکنک او امریکایي سحرایي لېوه کې ډېره خپرېږي. د سپیو د کورنۍ د لېوني سپي ناروغي او همدارنګه د اسمان څکالي د لېوني سپي ناروغي په مکسېکو او نورې نړۍ کې لویې ستونزې دي [29]. په متحده ایالتونو کې، خوله لګوونکي ژوي د لېوني سپي ناروغۍ ویروس انسان ته په اسانۍ سره لیږدولی شي خو واړه خوله لګوونکي ژوي ( لکه: نولي، موش خرما، موږکان، مږې) او لاګومورفونه (لکه سوۍ او سحرایي سوۍ) مخکې له دې چې د لېوني سپي ناروغي انسان ته انتقال کړای شي، معمولاً مړه کېږي. تر دې مهاله د یادو تي لرونکو ژویو څخه انسان ته د لېوني سپي د ناروغۍ د سرایت کومه پېښه نه ده ثبت شوې [4].

**انتقال**

د لېسا ویروس انتان د ټولو ګرمې وینې لرونکو ژویو په وسیله انتقالیږي، خو د سړې وینې لرونکوو ژویو په حجراتو کې هم وده کولی شي [21]. دا ناروغي د ناروغ حېوان د لاړو له لارې د روغ حېوان د داړلو په وخت، د پوستکي د ټپونو او څېرې شویو برخو او یا مخاطي غشا له لارې د روغ حېوان بدن ته ننوځي [18]. د لېوني سپي ناروغي حقیقي زونیتیکه ناروغي نه ده، ځکه چې په ویروس اخته حېوان د شدید انتان له امله مري [27]. په یوې څېړنه کې چې په متحده ایالتونو کې په لېسا ویروس لرونکو سپیو شوې ده، ښیي چې ټول سپي په دې ویروس د

اخته کېدو څخه وروسته یوازې د اتو ورځو په موده کې دننه مړه شوي دي. نږدې ټول انتان د داړلو له لارې سرایت کوي. دا چې ویروس په لاړو کې پټ وي، دا ناروغي ډېر کم وخت د لاړو په واسطه د ککړ شوي ګرېدلي ځای له لارې خرګندېدای شي او د سرایت کچه یې ۵۰ سلنه ټیټه ده [11]. د انسان څخه انسان ته د دې ناروغۍ لیږد خورا کم دی که څه هم د غړو د پیوند جراحی (Transplant Surgery) په پایله کې د ناروغۍ کم شمېر پېښې ثبت شوي دي [30].

د لیوني سپي ناروغۍ ویروس د تی لرونکو ځارویو په مینځ کې په اسانی سره انتقالیږي، په هر صورت دوی یو شان یا مختلفې نوعی لري. دا ویروس معمولا په ناروغۍ د اخته ځاروي د لاړو په مرسته خپریږي، کله چې یو اخته ځاروی بل سالم ځاروی وداړي. کله نا کله هم ځاروی یا سړی د مکوزي غشاګانو یا هم د تخریب شوي پوستکي له لارې د ککړو لاړو یا عصبی انساجو سره د تماس پواسطه په ناروغۍ اخته کیږي. د لیوني سپي ناروغۍ ویروس د سالم پوستکي له لارې نه لیږدول کیږي[6].

د نورو لارو پواسطه د انتقال کم راپورونه شتون لري. د اعضاؤ د ځای پر ځای کونې وروسته یو څو پیښو راپورونه ورکړل شوي، په ځانګړي توګه قرنیه، همدارنګه د پانقراص، پښتورګو او ځګر راپورونه هم ورکړل شوي دي. د هوا له لارې انتقال په ځانګړو حالاتو کې مستند شوی، لکه په لابراتوارونو او لرګی خفرو کې د هوا قطرو غیر معمولي لوړ کثافت، ژوندی ویروس ذراتو سره انتقالیږي. په تجربوي ډول د خوړو له لارې هم د لیوني سپي ناروغي په ځارویو کې د انتقال وړ ده، او داسې شواهد شتون لري چې د شیدو له لارې د وري بچي او یو ماشوم ته یاده ناروغي انتقال شوي.[6]

ځینې داسې انګیرنې شتون لري چې خوراك د وحشی حیواناتو تر منځ د لیوني سپي ناروغۍ انتقال کې رول لوبولی شي. په دوه پیښو کې چې د متحده ایالاتو د ناروغیو کنټرول او مخنیوي مرکزونو لخوا خپرل شوي، هغه خلکو چې د لیوني سپي غواګانو څخه غیر پاستورایز شیدې څښلي، د څپړنې وروسته د وقایې لاندې نیول شوي. د پاستورایز شوي شیدو او پخه شوي غوښې په وسیله د ناروغۍ د انتقال خطر شتون نه لري، ځکه چې د لیوني سپي ویروس د تودوخې له امله غیر فعال کیږي؛ په هرصورت، د احتیاط په توګه، د عامه روغتیا وترنرانو ملي اتحادیه د لیوني سپو ځارویو څخه د نسجونو او شیدو مصرفولو په وړاندې وړاندیز کوي[6].

په بدن کې د لیوني سپي ویروس انتشار ( The dissemination of the rabies virus within the body)

د اخته کیدو څخه سمدلاسه وروسته د لیوني سپي ویروس د eclipse مرحلې ته ننوځي په داسې حال کې چې په دغه موده کې دا په اسانۍ سره نه موندل کیږي. د دې مرحلې په جریان کې، دا په غیر عصبي نسجونو لکه عضلاتو کې تکثیر کوي. دا معمولا پدې وخت کې د معافیت عکس العمل نه تحریک کوي، مګر که چیرې په بدن کې انتې باډي شتون ولري نو په اسانۍ سره خنثی کیدای شي. څو ورځې یا میاشتې وروسته، ویروس محیطي اعصابو ته ننوځي او په اکسون کې د بیرته راستنیدو جریان پواسطه مرکزي عصبي سیستم ته انتقالیږي. په CNS کې د خپریدو وروسته، چیرې چې کلینیکي نښې وده کوي لکه څنګه چې نیورانونه په ناروغۍ اخته کیږي، ویروس د محیطی اعصابو له لارې ډیرو انساجو ته توزیع کیږي. زیات شمېر ویروس په عصبي نسج، د لاړو غدواتو، لاړو او مغزي نخاعي مایع (CSF) کې موندل کیږي، نو بنا د مطالعې په وخت کې باید زیاته پاملرنه ورته وشي[6].

ځینې ویروسونه په نورو نسجونو او غړو کې هم کشف یا پیدا شوي دي، په شمول د سږو، ادرینال غدې، پښتورګو، مثانې، زړه، تخمدانونو، خصیو، پروسټاټ، پانکراس، کولمو کانال، قرنیه، په پوستکې کې د ویښتو فولیکولونو د پوستکي ویښتو نمویي حجراتو، غوږ لرونکو غدو ، د ژبې په سر روتلو جوړښتونو (papillae) کې موندل کیږي. د لیوني سپي ویروس په نیورون کې موجود وي، او د بدن ډیرى مایعاتو یا روغ غړو کې ځای پر ځای کیږي داسې فکر کیږي چې د انتان د حمل او نقل ټیټ خطر رامنځ کوي. په هرصورت، په تیوري توګه که چیرې د یوه ستنې (needle) په ذریعه د نیورون برخه سورى یا صدمه موندلې وي خاصتا د صحي کارمندانو، کوم چې د لیوني سپي ناروغانو په درملنه کې بوخت وي، په دې حالت کې د ویروس د انتقال خطر موجود وي، نو یادو اشخاصو ته د طبي پیشګیری ( post-exposure prophylaxis) توسیعه کیږي. د غړو پیوند کول هم (ډیر لږ) خطر رامنځ ته کوي، که چیرې ورکونکی ونه پیژندل شي تر څو د لیوني سپي په ناروغۍ اخته وي. وینه، ادرارو او فضوله موادو کې د ویروس د شتون په اړه فکر نه کیږي او د ویروس په خپریدنه او انتقال کې هم کومه برخه نه اخلي. په هرصورت، یو څو مطالعاتو وړاندیز کړی چې په وینه کې د ویروس موجودیت ممکن د انفکشن پرمهال په بعضو نقطو کې واقع شي. په موږکانو کې یوې وروستی مطالعې، د

(PCR) polymerase chain reaction ازمایش کارولو سره، په موږکانو کې RNA ویروس وموندل شو کله چې دوی له کلینیکي پلوه ناروغه و، مګر کله چې ویروس کوم کلینیکي علایم نه درلودل او ویروس مرکزي عصبي سیستم ته انتقال په حال کې وي نه موندل کیږي.[6]

**د ناروغۍ پرمختګ**

د لېسا ویروس د ټپي پوټکي له لارې او یا هم کله چې اغیزمنې شوي مخاطي غشا سره په تماس کې شي، بدن ته ننوځي. دا ویروس د روغ پوستکي له لارې بدن ته نه شي ننوتلی. د لېوني سپي ناروغۍ ویروس د داړل شویو عضلاتو په نسج کې تکثر کوي او بیا مرکزي عصبي سېستم ته ننوځي [32]. کوربه (مېزبان) ژوي ته ننوتونکي ویروسونه د ننوتلو په مهال له ځانه سېستونه تاووي [17] او motor axons تر څنګ په بشپړه توګه د تېز retrograde لېږد په وسیله مرکزي عصبي سېستم (CNS) ته حرکت کوي، چې د حسي یا سېمپاتېتیکې اخرې برخې پرې نه خبرېږي [15]. کله چې ویروس عصبي نسجونو ته ننوځي معمولاً د تنفسي فعالیتونو د زیانمنېدو او ثانوي مېتابولیکو او دورانی سېستم نېمګړتیاوې رامنځته کوي، چې د مړینې لامل کیږي [3].

**کلېنیکي نښې**

څېړنو ښودلې د ناروغۍ پرمختګ سره سم، د حېوان په سلوک کې غیر نورمال تغیرات منځته راځي. د لېوني سپي هر شکمن تایید شوې پېښه باید د لابراتوار ټېسټ د تایید شوي راپور په واسطه څرګنده شي [7]. لمړنی کلینیکي نښې زیاتره وخت ناڅرګندې وي اواضطراب (اینزایټي )، عصبانیت، بې اشتهایي یا ډېره اشتها، استفراق، اسهال، کمه تبه، د سترګو د تورو پراخېدل، د نهایي زیاتو لاړو سربېره د هرې انګېزې په وړاندې د حده زیات عکس العمل د ځانه سره لري. د لېوني سپي د ناروغۍ د واکسین د تطبیق څخه وروسته لومړنی نښې عموماً د واکسین شوي غړي سستېدل دي. د حېوان په کړو وړو او سلوک کې په منظمه توګه بدلونونه لیدل کیږي او کېدای شي په یو نااشنا تېري کوونکي حېوان بدل او په ځانګړتیاوو کې یې د پام وړ بدلونه او تغیرات راشي [2].

**لمړی مرحله**

د ناروغۍ د نښو نښانو د ښکاره کېدو د څرګندې دورې څخه د مخه، کلینیکي نښې نښانې

پیلیږي. د دې لومړنۍ مرحلې په ترڅ کې چې په عامه توګه په ۳–۱ ورځو کې پای ته رسیږي، د ناروغ په سلوک کې ښایي مختصر بدلون ولیدل شي، چې په څارویو کې غوسه، د ورځې په مهال د شپې ګرځېدونکو څارویو راڅرګندېدل، په د وحشي ژویو کې د انسان څخه د ډار له منځه تلل او د اشتها بې نظمي شامل دي [33].

**د هیجان (شدیدې غوسې) مرحله**

د شدیدې غوسې ډول کې بې ځایه ګرځېدل، سونګېدل او اوښکې تویول، پارونه، ژر ژر ساه اخېستل، د خولې څخه د لاړو بهېدل، په خپلو هم نوعو او یا نورو څارویو او شیانو حمله کول شامل دي. په ویروس اخته حیوانات په مکرره توګه بهرني شیان لکه د سون لرګي، جغل او داسې نورو خوړلو هڅه کوي. په وحشي ژویو کې د انسان څخه ډار او ویره له منځه ځي، او ښایي انسانان او د چاپېریال بل حیوان (لکه شکونړ) چې په نورماله توګه یې ترې مخکې ډډه کوله د ځورولو هڅه وکړي. همدارنګه د شپې ګرځېدونکي حیوانات ښایي د ورځې له خوا هم ولیدل شي. په غواګانو او غواګانو ته ورته څارویو کې، نااشنا متوجه والی د دې حالت د نښو څخه دي [2].

**د فلج (ګونګوالي) مرحله**

د لېوني سپي د ناروغۍ دا ډول معمولاً د دوامداره فلج څخه پېژندل کیږي. په دې مرحله کې د مرۍ او ماهیچې (masseter) عضلات فلج کیږي، حیوان ښایي د خواړو د تېرولو او د ډېرو لاړو د تولیدولو وړتیا د لاسه ورکړي. په دې مرحله کې د حنجره فلج له امله د حیوان په اواز کې یعنې د غوا د رمباړې او د سپیو په غپېدو کې غیر معمولي بدلون راتلی شي. د دې سربېره په دې مرحله کې ښایي مخ فلج شي او لاندېنۍ ژامه د کاره ولویږي. شخوند وهونکي ژوي ښایي د خپلې رمې څخه جلا شي [34]. د دې نه علاوه، په دې مرحله کې د څګ لرونکو لاړو راتلل بندیږي او شاتنۍ پښې فلج کیږي چې په پای کې بشپړ فلج ته لار هواریږي او وروسته ترې د ناروغ حیوان مړینه یقیني کیږي [33].

**د اوبو څخه ویره**

دا اصطلاح چې د اوبو څخه د ډار په معنا ده د لېوني سپي د ناروغۍ لپاره یوه پخوانۍ مترادفه کلیمه ده [28]. دا حالت د انفېکشن دپرمختللي مرحلې د ګواښونکو حالتونو مجموعې ته راجع کیږي، چې په کې ناروغ د خواړو په تېرولو او اوبو څښلو کې ستونزو سره مخ کیږي. هر تي

لرونکی چې په دې ویروس اخته شي، ممکن د اوبو څخه ویره ( Hydrophobia) نښې په کې ولیدل شي. په دې حالت کې د لاړو تولید د نورمالې اندازې زیاتیږي او حیوان د څښلو په وخت کې د کړاو سره مخ کیږي او په ستوني کې د عضلاتي نسجونو او صوتي تارونو دردناک تشنج څخه ناروغ حیوان سخت ځوریږي. ویروس په لاړو( Saliva) کې پاتې کیږي او نورو ځارویو ته د اغېزمن حیوان د خولې او داړلو له لارې خپریږي [21].

**تشخیص**

دا ناروغي د نښو او نښانو د پیل د تعقیب څخه پېژندل کیږي [33]. د لیوني سپي ناروغۍ تشخیص په ژوندي جسم (vivo) کې او یا د مړو شویو انساجو د معاینې (autopsy) له لارې ترسره کیږي [9]. د لیوني سپي د ناروغۍ تشخیص د ante-marten په وسیله اسانه نه دی. خو هایډروفوبیا نهایي شکمنوونکې ده. د دې سربېره، د انفېکشن هېڅ کومې طبي نښې د دې ناروغۍ تشخیصوونکې او ځرګندوونکي نه دي. د ناروغ حیوان په اعصابو کې د شته ذراتو(Negri-bodies) په موندنو تاریخي تکیه نوره د ناروغۍ په تشخیصي ارزونه کې مناسب نه ګڼل کیږي، ځکه چې د لنډې مودې حساسیت او متبادلو لارو چارو له امله د انفېکشن د تشخیص لپاره ځینې لابراتواري ټېسټونه رامنځته شوي دي [1]. د لیوني سپي د ناروغۍ (Rabies) د ویروس د تشخیص لپاره د شکمن حیوان د ماغزو د نسج یوه برخه اخېستل کیږي. خو زیاتره وخت د تاییدوونکي تشخیص لپاره د ماغۍ ساقې (brain stem) او وړو دماغو یا سېرېبیلیم (Cerebellum) څخه نمونې اخېستل کیږي [35]. په انسان کې د دې ویروس د انټيجن د پیدا کولو لپاره د فلورېسېنټ انټي باډي ټېسټ (FAT) په وسیله د دماغو د حجراتو یوې ډېرې وړې برخې (Brain Smears) څخه کار اخېستل کیږي. دا ټېسټونه د انسان او همدارنګه د حیواني نمونو دواړو لپاره ډیزاین شوي دي. په زیاترو ځارویو کې، مستقیم (FAT) د تاییدوونکي تشخیصي ټېسټ په توګه خورا ښه ثابت شوی دی. په لومړي جدول کې د دې ویروس د پیدا کولو د نورو مېتودونو یادونه هم شوې ده.

لومړی جدول: د لېوني سپي (Rabies) ناروغۍ د تشخیص تخنیکونه[35]

| تخنیکونه | نمونه | ګټې / تاوانونه |
|---|---|---|
| پولیمیریز ځنځیري عکس العمل (PCR) | د بدن مایعات، لاړې، تشې بولې، د مغزې نخاع مایعات | په ټولو نسجونو کې د پلې کېدو وړ دی خو مجربو تخنیکارانو ته اړتیا لري. |
| موږک (mouse) اینوکیولیشن تخنیک (MIT) | ینه، دماغ، د لاړو غدې، توری، تریخی تر ټولو مناسبې نمونې دي. | په دې تخنیک کې د دقیقې پایلې لپاره یوازې تازه نسج کارېدلی شي |
| مستقیم فلورسنت انټي باډي تخنیک (DFA) | (MIT) ته ورته دی. | د نسجونو په زیاترو سرچینو کې د تطبیق وړ دی. په خرابو شویو نسجونو کې د تطبیق وړ نه دی. |

**وقایه او کنټرول**

په ۱۸۸۵م کال کې لوېس پاستیور د ایمیلي روکس سره یو ځای د لېوني سپي ناروغۍ (Rabies) واکسین جوړ کړ، له دې مخکې د لېوني سپي نږدې ټولې انساني پېښې وژونکې وې. جوړ شوی واکسین په دې ویروس اخته شویو سویو په مرسته تولید شو. په دې مرحله کې، ویروس د سویو په عصبي سېسټم کې نږدې د لسو ورځو لپاره د اوبو له لاسه ورکولو (dehydrate) په واسطه کمزوری کېږي [14]. د دې سربېره د انسان د ډیپلوېډ حجراتو د لېوني سپي د ناروغۍ واکسین په ۱۹۶۷م کال کې جوړ شو. خو نن سبا د چرګوړو د جنین د حجراتو واکسینونه (Chicken Embryo Cell Vaccines) شته چې ارزانه هم دي [19].

بل نوی جوړ شوی واکسین چې د Raboral V-RG په نوم یادېږي چې د متحدو ایالتونوسربېره په فرانسې، بېلجیم او المان کې په وحشي ځارویو کې د دې ناروغۍ د مخنیوي لپاره کارول کېږي [23]. د انسان د سپي ناروغي (Human Rabies) مخه د سپي د ناروغي د ښکاره کېدو څخه د مخه د مناسبو ژغورونکو تدابیرو او د اغېزمن ټپ د مهالنۍ سیمه ییزې درملنې په واسطه، نیول کېدای شي [31]. د انسان غیر فعال واکسین د وترنرانو، ځارویو روزونکو، د وحشي ژویو کارکوونکو، د لابراتوار کارکوونکو او داسې نورو لپاره چې د دې ناروغۍ د لوړ خطر سره مخ دي، وړاندیز شوي او کارولکېږي [7].

**د ناروغۍ پېش بيني**

هغه انسانان چې واکسين شوي نه دي د لېوني سپي ناروغي د نيورولوژيکې ګواښونکو نښو د ښکاره کېدو څخه وروسته په ثابته توګه وژونکې ده. د واکسين د تطبيق تجربه په ناروغۍ د اخته کېدو څخه وروسته ژغورونکي تدابير(post-exposure prophylaxis (PEP ، نهايي ګټور او برياليي دي خو په دې شرط چې د ناروغۍ څخه وروسته د شپږو ورځو دننه تطبيق شي. په ناروغۍ د اخته کېدو څخه وروسته په ژغورونکو تدابيرو post-exposure prophylaxis (PEP)په کنټرول کې د خنډ سره مخ کېدلو په صورت کې، په درملنه کې برياليتوب بيا هم شونی دی [21].

**درملنه**

کله چې د لېوني سپي ناروغي خپلې نښې ښکاره کړي، که ژر يې درملنه پيل کړو عموماً درملنه ګټوره ثابتېدلی شي. ناروغ ته د ارام لپاره درمل ورکول کيږي تر څو وېره او درد وزغمي. د جدي پاملرنې ملاتړ کې د فلج اندازه معلومول، ارامول او همدارنګه اکسيجن ورکول د درملنې اساسي برخې جوړوي. کيټامين (ketamine) په دې حالاتو کې تر ټولو مناسب ګڼل کيږي [16]. لېسا ويروس د ازادې هوا سربېره د لمر د ځلا او صابون په واسطه په اسانه غير فعاليږي. د ټپ اندېښنه د لېوني سپي د ناروغۍ د سرايت د مخنيوي لپاره اړينه ده. د ځېړل شويو ځارويو څخه جوتيږي چې که د ويروس د خپرېدو په لمړيو درېو ساعتونو کې د ټپ عمومي درملنه وکړو، د لېوني سپي د ناروغۍ د خپرېدو نږدې بشپړ مخنيوی کولی شو [10]. ټولې ټپي شوې ساحې بايد احتياط سره په انټي سېپټيک صابون او اوبو پاکې پرېمينځل شي. له دې وروسته دې د پايوډين-ايوډين يا الکولو څخه کار واخېستل شي، تر څو د ويروس د خپرېدو مخه لا ښه ونيول شي [13].

CDC د انسان د لېوني سپي د ناروغۍ د ايميونوګلوبولين (HRIG) د ډوز وړانديز کوي چې داړل شوې ساحه کې، د ژور بين العضلاتي بوسټر په وسيله د واکسين د وخت په ځای سمدلاسه تطبيق کيږي [21].

**پايله**

د لېوني سپي يا ربيز ناروغي يوه ويروسي ناروغي ده چې په طبيعي توګه په ناواکسين شويو انسانانو او ځارويو کې وژونکې ده. د دې ويروس په وړاندې د خاصو معلوماتو او معافيت په

درلودلو سره د لېسا ویروس د فارم او کور کې ساتل شویو څارویو کې کنټرول کېدای شي. که په دې ناروغۍ د اخته حېوان سره د مستقیم تماس، د دې د مخاطي غشا او ټپونو څخه ځان وساتو نو د لېوني سپي د ناروغۍ مخه نیول کېدای شي. ټولې ټپي شوې ساحې باید احتیاط سره په انټي سپټیک صابون او اوبو پاکې پرېمینځل شي. همدارنګه د دې ناروغۍ څخه د ساتلو لپاره باید د وحشي څارویو روزونکو، وترنرانو، څارویو سره کارکوونکو او د لابراتوار کارکوونکو ته مناسب او سمه روزنه ورکړل شي ځکه چې وقایه د درملنې څخه غوره ده.

**واړندیزونه**

۱- دا چې د لیوني سپي ناروغي یوه ویروسي، وژونکي او قابل د علاج ناروغي نه ده نو بنا د ټولنې ټولو خلکو ته د دې خطرناکې ناروغۍ په برخه کې عامه پوهاوی وشي.

۲- خپل کورني څاروي خاصتا سپي باید واکسین شي.

۳- انسان یا څاروی چې د لیوني سپي په ذریعه وداړل شي باید لومړی د زخم ساحې په انټي سپتیک موادو پریمېنځل شي او ډیر ژر نږدې صحي مرکز ته مراجعه وکړي.

۴- د لیوني سپي ناروغۍ مشکوک څاروي غوښه او نور محصولات باید مصرف نه شي.

۵- کوم څاروي چې د یادې ناروغۍ په سبب له منځه ځي یعنې مړه کیږي باید د خاورې لاندې ژغور دفن شي.

**ماخذونه**


Center for Food Security & Public Health. (2009). *Rabies - Hydrophobia, Lyssa*. *RABS_2009*(October 2009), 1–9.

Moges N (2015). Epidemiology, prevention and control methods of rabies in domestic animals. Eur. J. Biol. Sci. 7(2): 85-90.

Chernet B, Nejash A (2016). Review of rabies preventions and control. Int. J. Life Sci. 4(2): 293-301.

Rupprecht CE, Barrett J, Briggs D, Cliquet F, Fooks AR, Lumlertdacha B, Meslin FX, Müler T, Nel LH, Schneider C, Tordo N (2007). Can rabies be eradicated? Develop. Biologic. 131: 95-121.

Tojinbara K, Sugiura K, Yamada A, Kakitani I, Kwan NC (2016). Estimating the probability distribution of the incubation period for rabies using data from the 1948–1954 rabies epidemic in Tokyo. Prev. Vet. Med. 123: 102-105. https://

doi.org/10.1016/j.prevetmed.2015.11.018
Blanton JD, Palmer D, Christian KA, Rupprecht CE (2008). Rabies surveillance in the United States during 2007. J. Am. Vet. Med. Assoc. 233(6): 884-897. https://doi.org/10.2460/ javma.233.6.884
Smith JS (1996). New aspects of rabies with emphasis on epidemiology, diagnosis and prevention of the disease in the United States. Clin. Microbiol. Rev. 9(2): 166.
Blanton JD, Hanlon CA, Rupprecht CE (2007). Rabies surveillance in the United States during 2006. J. Am. Vet. Med. Assoc. 231(4): 540-556. https://doi.org/10.2460/ javma.231.4.540
Mustafa M, Ellzam EM, Sharifa AM, Rahman MS, Sien MM, Nang MK (2015). Rabies a zoonotic disease, transmission, prevention and treatment. J. Dent. Med. Sci. 14(10): 82–87.
Langley RL (2009). Human fatalities resulting from dog attacks in the United States, 1979–2005. Wildern. Environ. Med. 20(1): 19-25. https://doi.org/10.1580/08-WEME- OR-213.1
Sikes RK (1962). Pathogenesis of rabies in wildlife. I. Comparative effect of varying doses of rabies virus inoculated into foxes and skunks. Am. J. Vet. Res. 23: 1041-1047.
Eng TR, Fishbein DB (1990). Epidemiologic factors, clinical findings and vaccination status of rabies in cats and dogs in the United States in 1988. National study group on Rabies. 197(2): 201-209.
Srinivasan A, Burton EC, Kuehnert MJ, Rupprecht C, Sutker WL, Ksiazek TG, Paddock CD, Guarner J, Shieh WJ, Goldsmith C, Hanlon CA (2005). Transmission of rabies virus from an organ donor to four transplant recipients. New England J. Med. 352(11): 1103-1111. https://doi. org/10.1056/NEJMoa043018
Ugolini G (2007). Use of rabies virus as a transneuronal tracer of neuronal connections: implications for the understanding of rabies pathogenesis. Develop. Biologic. 131: 493-506.
Klingen Y, Conzelmann KK, Finke S (2008). Double-labelled rabies virus: live tracking of enveloped virus transport. J. Virol. 82(1): 237-245. https://doi.org/10.1128/JVI.01342- 07
Hemachudha T, Ugolini G, Wacharapluesadee S, Sungkarat W,

Shuangshoti S, Laothamatas J (2013). Human rabies: neuropathogenesis, diagnosis and management. Lancet Neurol. 12(5): 498-513. https://doi.org/10.1016/S1474- 4422(13)70038-3

Bishop, G.C., Durrheim, D.N., Kloeck, P.E., Godlonton, J.D., Bingham, J. and Speare, R., 2003. Rabies guide for the medical, veterinary and allied professions. Rabies Advisory Group, South African Department of Agriculture and Health, Pretoria.

Banyard AC, Horton DL, Freuling C, Müller T, Fooks AR (2013). Control and prevention of canine rabies: the need for building laboratory-based surveillance capacity. Antivir. Res. 98(3): 357-364.

WHO (2013). World Health Organization Expert consultation on rabies, 2nd Report (No. 982).

Yang DK, Shin EK, Oh YI, Lee KW, Lee CS, Kim SY, Lee JA, Song JY (2012). Comparison of four diagnostic methods for detecting rabies viruses circulating in Korea. J. Vet. Sci. 13(1): 43-48. https://doi.org/10.4142/jvs.2012.13.1.43

Smallman-Raynor, Cliff A, Haggett P, Matthew (2004). World atlas of epidemic diseases. Arnold, London. Pp. 51. https:// doi.org/10.1201/b13526

Consales CA, Bolzan VL (2007). Rabies review: immunopathology, clinical aspects and treatment. J. Venomous Anim. Toxins Trop. Dis. 13(1): 5-38. https://doi. org/10.1590/s1678-91992007000100002

Abera E, Assefa A, Belete S and Mekonen N(2015) Review on Rabies, with Emphasis on Disease Control and Eradication Measures. 4(2): 60-70.

Yousaf MZ, Qasim M, Zia S, Ashfaq UA, Khan S (2012). Rabies molecular virology, diagnosis, prevention and treatment.

Geison GL (1978). Pasteur's work on rabies: Reexamining the ethical issues. Hasting Center Rep. 8(2): 26-33. https://doi. org/10.2307/3560403

Ly S, Buchy P, Heng NY, (2009). Rabies situation in Cambodia. 3(9): e511. https://doi.org/10.1371/ journal.pntd.0000511

Reece, J.F. and Chawla, S.K., 2006. Control of rabies in Jaipur. India by the sterilisation.

Jackson AC, Warrell MJ, Rupprecht CE, (2003). Management of rabies in humans. Clin. Infect. Dis. 36: 60–63. https://doi. org/10.1016/B978-012379077-4/50008-0

Dean DJ, Baer GM, Thompson WR (1963). Studies on the local treatment of rabies-infected wounds. Bull. World Health Org. 28(4): 477.

Gautret P, Blanton J, Dacheux L, Ribadeau-Dumas F, Brouqui P, Parola P, Esposito DH, Bourhy H (2014). Rabies in nonhuman primates and potential for transmission to humans: a literature review and examination of selected French national data. PLoS Negl. Trop. Dis. 8(5): e2863. https://doi.org/10.1371/journal.pntd.0002863

## د قتل ډولونه او اړوند یې د فقهاوو اقوال او نظریات

لیکونکی: پوهنمل محمد ولید اسحق زی، شیخ زاید پوهنتون، شرعیاتو پوهنځی، د اسلامي ثقافت څانګې استاد

تقریظ ورکوونکی: پوهندوی سید ولي شاه مندوزی د اقتصاد پوهنځي استاد

**لنډیز**

لکه څرنګه چې ښکاره او معلومه ده، چې ټول انسانان په حقیقت کې د ژوند په ټولو پړاوونو کې د ازمایښتونو سره مخامخ کیدونکي دي، په همدې اساس باید چې هر مسلمان بنده د هر مشکل او تکلیف په مقابل کې صابر واوسي، تل د مسئولیتونو او مکلفیتونو په ټولو برخو کې الله تعالی ته رجوع وکړي او حتی الوسع د هر ډول ناوړه او ظالمانه کړنو څخه ځانونه وساتي، ځکه څه ډول چې په یوه اسلامي ټولنه کې الله تعالی حقوق دي، په همدې ترتیب حقوق العبد هم دي، د بیلګې په توګه کله چې په یوه اسلامي ټولنه کې یو قتل صورت ونیسي نو دلته د مقتول حقوق رامنځته کیږي، په همدې بناء په قصاص کې حق العبد زیات او غالب دی، ځکه الله تعالی د انسان ظاهري بدن ډیر قدرمن او محترم گرځولی دی او همدغه قاتل دغه عظیم احترام د تل لپاره له منځه یوسي، چې په اساس یې الله تعالی ته دغه د قاتل ناوړه فعل او عمل ډېر ناخوښه دی او یواځې د مقتول ورثاء کولی شي، چې د قاتل دا عظیم جرم معاف او وبښي.

**کلیدي ټکي**: جرم، قتل، قاتل، د انسانانو ژوند، جنت او جهنم

**سریزه**

ألحمدلله الذي أنزل الکتاب بیاناً وتبیاناً وجعله هدی و نوراً و برهاناً.

أمابعد: فأعوذ بالله من الشیطن الرجیم

(وَ مَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا) (النساء ۹۳)

لکه څرنګه چې ټولو ته ښکاره او واضحه ده، اسلامي شریعت تل د بشریت د قدر، عزت، هوسا ژوند او داسې نورو لپاره په مختلفو وختونو کې احکام او اوامر را لیږلي دي، د انسانانو د بدن ټول غړي، مال او متاع عزت او ناموس یې په یو بهترین فورمول او قانون کې معزز او با شانه ګرځولي دي، د اسلام په مقدس دین کې نه یواځې یو چا ته ضرر او نقصاص رسول ګناه او جرم ګڼل کیږي، بلکې په مختلفو طریقو سره ورته مجازات هم ټاکل شوي دي، د بیلګې په توګه: د زنا او غلا په مقابل کې حدود وضع شوي دي، په همدې ترتیب د قتل عمد ( قصدي

قتل) په مقابل کې د قصاص جزاء ټاکل شوي ده او داسې نورو جرمونو کې تعزيري جزاء ګانې هم ټاکل شوي دي، ترڅو د ملت ټول خلك تل سوکاله او د امن ژوند تير کاندي، عام فقهاء په همدې وجه د قتل او اندامونو ته د نقصان رسولو د احکامو ذکر د جناياتو په ټکې سره کوي، چې په دې کې هر ډول ظلم او زياتی شامل دی، الله تعالی تل د ژوند په هره برخه کې په ټولو انسانانو باندې د يووالي، عدالت او ترحم غږ کړی دی او هم يې د ناروا قتلونو او دردونو څخه د ځان ساتنې غږ کړی دی.

**د څېړنې موخې**

لوستونکي به په دې وتوانيږي، چې:

۱ – د قتل په لغوي او اصطلاحي څېړنه به پوه شي.

۲ – د قتل ډولونه او اقسام به وپيژني.

۳ – د قتل عمد او شبه عمد ترمنځ په توپير باندې به پوه شي.

۴ – د شخص قاتل په وعيدونو، جزاګانو او داسې نورو باندې به پوه شي.

**د څېړنې اهميت**

لکه څرنګه چې د قتل موضوع يوه ډيره دردوونکي او مايوسه کوونکي موضوع ده، او د تل لپاره د هر وخت او زمان ټولې انساني ټولنې ورسره درديدلي او ځړيدلي دي، او هم يې ډير بد تأثيرات په ټولنه کې پاتې کړي دي، دا چې الله کريم انسان تل آزاد، مستقل او خود مختاره پيدا کړی دی او هيچاته دا اجازه نشته، چې د انسان دغه ځواك او قدرت بېغير له کوم عذر شرعي څخه له منځه يوسي، همدې نقاطو ته په کتو ما هم خپله مقاله د قتل موضوعاتو اړوند وليکله، ترڅو يوې خوا لوستونکي به په دنيا کې د قتل په زيانونو باندې پوه کړای شي او له بلې خوا به د آخرت د سختو وعيدونو او عذابونو څخه با خبر کړای شي، په همدې ترتيب اسلامي او انساني ټولنې به د تل لپاره د دغه وحشتونو او ځړا ګانو څخه په امن کې پاتې شي، بشري ټولنې به هوسا او آرام ژوند تير کاندي، او راتلونکي انساب به مو د خپلو والدينو او مشرانو د سيورې لاندې د تل لپاره د خوشحالی، سوکالی او آزادی ژوند تير کاندي.

**د کار مواد او کړنلاره**

دا چې زما مقاله يوه کتابتوني (علمي څېړنيزه ) مقاله ده، نو ما هم په دې مقاله کې د مختلفو کتابونو څخه استفاده کړې ده لکه:

قرآن کريم، نبوي احاديث، د مذاهبو مهم او باوري فقهي کتابونه او هم د حقوقي اړوند کتابونو او داسې نورو اسلامي سرچينو څخه مې ګټه اخيستې ده، او په ټوله ليکنه کې مې د هر ليکونکي ( مؤلف) او داسې نورو حق په ښه شان سره اداء کړی دی.

**د قتل لغوي او اصطلاحي پيژندنه**

**الف: د قتل لغوي پيژندنه:** قتل يوه عربي کليمه ده، (قتل يقتل قتلا) چې مړه کولو ته وايي. چې جمع يې قاتلون او قتال راځي.

**ب: د قتل اصطلاحي پيژندنه**

«هو الفعل المزهق للنفس او الميت».( ۳۶:۷)

ژباړه: قتل کول د نفس لپاره داسې يوفعل دې، چې په هغې سره ژوند له منځه ځي.

**د بې ځايه قتلونو منع او حرمت**

په قرآن عظيم الشان او د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) په نبوي سنتو کې د قتل کولو د جرم د سرته رسولو د منعې او حرمت په اړه ډير نصوص راغلي دي، چې مو ږ يې لاندې نصوصو په ذکر کولو سره د قتل حرمت واضح او ثابتوو.

الله رب العزت دې لپاره چې د انسانانو وينې په ناحقه تويې نه شي، د دغه انسان د وينې د ساتنې لپاره په کايناتو کې ډيره زياته پاملرنه ورته شوی ده، په اړه يې رب کريم داسې فرمايلي دي:

«مِنْ أَجْلِ ذَٰلِكَ كَتَبْنَا عَلَىٰ بَنِي إِسْرَائِيلَ أَنَّهُ مَنْ قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي الْأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعًا وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَا أَحْيَا النَّاسَ جَمِيعًا وَلَقَدْ جَاءَتْهُمْ رُسُلُنَا بِالْبَيِّنَاتِ ثُمَّ إِنَّ كَثِيرًا مِنْهُمْ بَعْدَ ذَٰلِكَ فِي الْأَرْضِ لَمُسْرِفُونَ». (المائده: ۳۲)

ژباړه: په دې وجه موږ بني اسرائيلو ته دا حکم کړی وو، چې چا يو نفس د بل نفس د بدلې څخه بغير يا د ځمکې په مخ د فساد کولو څخه بغير و واژه، نو ګويا هغه ټول بني آدم يې و واژه او چا چې د يو نفس ژوند وژغورلو نو ګويا هغه د ټولو خلکو ژوند يې بچ کړ، په تحقيق سره زموږ پيغمبرانو دوی ته څرګندې نښې راوړې دي ليکن بيا هم په دوی کې ډيری خلک د ځمکې پر مخ زياتی کوونکي دي.

په همدې ترتيب الله تعالی په خپل بهترين قانون يعنې اسلام کې د ماشومانو وژنه په کلکو او قوي دلايلو سره منع کړې ده، په اړه يې الله کريم داسې فرمايلي دي:

«وَلَا تَقْتُلُوا أَوْلَادَكُمْ خَشْيَةَ إِمْلَاقٍ نَحْنُ نَرْزُقُهُمْ وَإِيَّاكُمْ إِنَّ قَتْلَهُمْ كَانَ خِطْئًا كَبِيرًا». (الاسراء: ۳۱)

ژباړه: او خپل اولادونه د غریبی له ویرې مه وژنئ، موږ هغوی ته او تاسو ته هم روزي درکوو، بېشکه چې د دوی ( اولادونو) وژل ډیرلوی جرم دی.

همدارنګه د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په نبوي ارشاداتو کې هم د هغه شخص چې عمداً یعني قصداً قتل وکړي، ډیر مذمت او قباحت بیان کړی دی، د بیلګې په توګه به ځینې نبوي احادیث بیان او واضح کړو.

«عُبَادَةَ بْنَ الصَّامِتِ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " مَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا ثُمَّ اغْتَبَطَ بِقَتْلِهِ لَمْ يُقْبَلْ مِنْهُ صَرْفٌ وَلَا عَدْلٌ». (۴۰۸:۵)

ژباړه: عبادة بن صامت رضی الله عنه فرمایی: چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل: چې څوك یو مسلمان ووژني او د هغې په وژلو خوشحاله شي، الله تعالی د هغه نفلي او فرضي عبادتونه نه قبلوي.

« لَوْ أَنَّ أَهْلَ السَّمَاءِ وَالأَرْضِ اشْتَرَكُوا فِي دَمِ مُؤْمِنٍ لأَكَبَّهُمُ اللَّهُ فِي النَّارِ».**(۶۹،۳:۴)**

ژباړه: که چېرې د آسمان او ځمکې ټول موجودات د یو مسلمان د وینې په تویولو کې ګډون وکړي، الله کریم به هغه ټول په جهنم کې واچوي.

په همدې اساس رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایلي دي: چې زه د الله تعالی د استاذي په توګه شاهدي ورکوم، چې د هغه انسان وینه تویول چې د الله کریم په وحدانیت باندې ایمان لري روا ندي، لیکن په دریو حالتونو کې، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) یې په اړه داسې فرمایلي دي:

« عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَا يَحِلُّ دَمُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَنِّي رَسُولُ اللَّهِ، إِلَّا بِإِحْدَى ثَلَاثٍ: الثَّيِّبُ الزَّانِي، وَالنَّفْسُ بِالنَّفْسِ وَالتَّارِكُ لِدِينِهِ المُفَارِقُ لِلْجَمَاعَةِ». ( سنن الترمذي (۴:۴. ۱۹)

ژباړه: ابن مسعود رضی الله عنه فرمایي: چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل: چې د هر هغه مسلمان چې په الله تعالی او رسول الله ( صلی الله علیه وسلم) باندې ایمان او ګواهي ورکوي، د هغه شخص وینه تویول روا نده، مګر په دریو حالتونو کې: لومړی: زنا کار انسان چې واده یې کړی وي لیکن بیا هم د نورو ښځو سره په ناروا طریقو سره زنا کوي، دویم: د قاتل قصاص چې قصداً یې یو بې ګناه شخص وژلی وي، دریم: هغه څوك چې دین او د مسلمانانو جماعت پرېږدي.(مرتد شي).

په همدې ترتیب رسول الله ( صلی الله علیه وسلم) د هر هغه چا په حق کې چې بې ځایه او ظالمانه قتل تر سره کړي، او د بشریت آرام او سکون له منځه وړي، په هکله یې ډېر بد بشارتونه او وعیدونه بیان او روښانه کړي دي.

په اړه یې رسول الله ( صلی الله علیه وسلم) داسې فرمایلي دي:

«عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ أَعَانَ عَلَى دَمِ امْرِئٍ مُسْلِمٍ بِشَطْرِ كَلِمَةٍ كُتِبَ بَيْنَ عَيْنَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ: آيِسٌ مِنْ رَحْمَةِ الله».(۲:۷،۲۵۶)

اوس راځو د خپل بحث او مقالې په دې پړاو کې خپلې اساسي موضوع ته یعنې (د قتل ډولونه او اړوند یې د فقهاؤ اقوال او نظریات)، غواړم چې د موضوع په پیل کې د قتل ډولونه وځیړم او بیا به پرلپسې په ترتیب سره باقي نورو موضوعاتو باندې ان شآءالله بحث وکړم.

په لومړي سرکې فقهاوو په ټوله کې قتلونه په دوو عمومي برخو واضح او ویشلي دي لومړی جایز قتلونه دویم ناجایز قتلونه، جایز قتلونه خو موږ د خپل بحث په پیل کې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په یو نبوي حدیث سره ثابت کړ، چې فرمایلي دي:

« عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَا يَحِلُّ دَمُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَنِّي رَسُولُ اللَّهِ، إِلَّا بِإِحْدَى ثَلَاثٍ: الثَّيِّبُ الزَّانِي وَالنَّفْسُ بِالنَّفْسِ، وَالتَّارِكُ لِدِينِهِ الْمُفَارِقُ لِلْجَمَاعَةِ». (۴:۴. ۱۹)

ژباړه: ابن مسعود رضی الله عنه فرمایي: چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وفرمایل: چې د هر هغه مسلمان چې په الله تعالی او رسول الله ( صلی الله علیه وسلم) باندې ایمان او ګواهي ورکوي، د هغه شخص وینه تویول روا نده، مګر په دریو حالتونو کې: لومړی: زنا کار انسان چې واده یې کړی وي لیکن بیا هم د نورو ښځو سره په ناروا طریقو سره زنا کوي، دویم: د قاتل قصاص چې قصداً یې یو بې ګناه شخص وژلی وي، دریم: هغه څوک چې دین او د مسلمانانو جماعت پرېږدي. (مرتد شي).

لیکن حنفي فقهاوو (رحمه الله علیهم) ناجایز قتلونه په پنځو ډولونو وېشلي دي.

۱- قتل عمد ۲- شبه عمد ۳- قتل خطاء ۴- جاري مجري الخطاء ۵- قتل په سبب سره.

اوس به راشو هر یو د دغه قتلونو څخه به په تفصیل سره د فقهاوو د اقوالو او نظریاتو په ترڅ کې په مستندو او مؤثقو دلایلو سره وځیړو.

**۱- عمدي قتل**

عمدي قتل د قصدي جرمونو له جملې څخه دی او قصدي جرمونه عبارت دي له هغه جرمونو څخه چې جنايتکار ناروا کار ته په قصدي توګه هڅه وکړي او هم شخص مجرم په دې باندې پوه وي چې ناروا دی، په قصدي يا عمدي جرمونو کې د عمد عامه معنا همدا ده، مګر عمد په قتل کې خاص مفهوم لري، هغه دا چې ناروا کار ته په قصدي توګه هڅه کول او د هغه نه د خاصې نتيجې انتظار درلودل.

د امام ابو يوسف ( رحمةالله عليه) په آثارو کې د قصدي قتل په دې ډول تعريف شوی دی.

«قَتْلُ عَمْدٍ، وَ هُوَ مَا تَعَمَّدْتَ ضَرْبَهُ بِالسِّلَاحِ فَفِيهِ الْقِصَاصُ». **( ۱: ۲۱۸)**

ژباړه: قصدي قتل دادې، چې يو کس د بل کس د وژلو (قتلولو) کوښښ د اوسپنيزې وسلې په ذريعه وکړي او بيا په دې ډول قتل کې قصاص دی.

په همدې ترتيب د ستانکزي صاحب په کتاب د حقوقي اصطلاحاتو قاموس کې عمدي قتل داسې تعريف شوی دی:

که د فاعل ( قاتل) عمل تجاوز وي او د مجنی عليه د وژلو نيت يې هم کړی وي، قتل عمدي ګڼل کيږي.(۶:۱۱۲)

د الهي قوانينو په اساس د عمدي قتل څخه منع کيدل

د قصدي قتل د حراموالي او منع کيدو په اړه ډير قرآني آيتونه او نبوي احاديث راغلي دي، چې موږ به يې په خپله موضوع کې د ځينو بيلګو په ذکر کولو سره واضح او روښانه کړو.

« وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا ( النسآء:**۹۳)**

ژباړه: څوک چې په قصدي توګه قتل وکړي د هغه لپاره په جهنم کې تل اوسيدل دي او هم د الله تعالی غضب وي په ده باندې، او هم به د لعنت مستجاب وي، بر سيره پر دې پر ده باندې د الله تعالی عذاب به هم زياتيږي.

په همدې ترتيب رسول الله (صلی الله عليه وسلم) هم د قصدي قتل څخه د منع کيدو په اړه په يو روايت کې داسې فرمايلي دي:

عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَا يَزَالُ الْمُؤْمِنُ مُعْنِقًا صَالِحًا، مَا لَمْ يُصِبْ دَمًا حَرَامًا، فَإِذَا أَصَابَ دَمًا حَرَامًا بَلَّحَ». **(۵: ۴،۱۰)**

ژباړه: تل یو مؤمن تر هغه په یوه نیکه لاره باندې جلتي کوونکی او نیکي کوونکی روان وي ترڅو چې حرامې وینې یې نه وي تویې کړي (مؤمن یې نه وي وژلی) لیکن هر کله چې حرامې وینې تویې کړي(مؤمن ووژني ) نو ستړی شي ( د خیر په کار کې وړاندې نشي تللی) او توفیق نشي موندلی.

**د عمدي قتل جزاء**

ټول اسلامي امت د قصاص په وجوب باندې اتفاق لري، په همدې ترتیب عقل هم د قصاص په قانونیت باندې حکم کوي، ځکه پدې کې عدالت تامینیږي، چې د فاعل (قاتل) سره دې هم د هغه د کړنې په عوض کې هماغه شان معامله تر سره شي.  پدې کې د ټولنې مصلحت دی، ځکه د قصاص د حکم په جاري کولو سره عمومي امن تامینیږي، د مظلومو او بې ګناه کسانو د وینو د بهیدو مخنیوی کیږي، او په پایله کې د نفسونو حمایه او ساتنه رامنځته کیږي او داسې نور.

لهذا د عمدي (قصدي قتل) جزاء د فقهاوو په نزد قصاص دې، همدارنګه په اسلامي شریعت کې هم د قصدي قتل جزاء همدغه قصاص دی.

د قصدي قتل د مشروعیت دلیل په لاندې آیت شریف سره ثابت دی، په اړه یې الله کریم داسې فرمایلي دي:

«یَاأَیُّهَاالَّذِینَ آمَنُوا کُتِبَ عَلَیْکُمُ الْقِصَاصُ فِي الْقَتْلَى الْحُرُّ بِالْحُرِّ وَالْعَبْدُ بِالْعَبْدِ وَالْأُنْثَى بِالْأُنْثَى». ( البقرة: ۱۷۸)

ژباړه: ای مؤمنانو د قتل په جرم کې په تاسو باندې قصاص فرض کړای شوی دی آزاد به د آزاد، غلام به د غلام او ښځه به د ښځې په بدله کې قصاص کیږي.

په همدې ترتیب د قصدي قتل په تړاو چې قاتل باید قصاص کړای شي، د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په نبوي احادیثو کې هم ډیر زیات قوي روایات راغلي دي  چې موږ به یې یواځې په یو حدیث شریف باندې اکتفاء وکړو.

« وَالنَّفْسُ بِالنَّفْسِ». ( ۴:۴. ۱۹)

ژباړه: نفس د نفس په مقابل کې باید قصاص کړای شي.

**۲- شبه عمدي( قصدي قتل)**

**لومړی:** د امام ابوحنیفه (رحمة الله علیه) په نزد شبه عمدي قتل هغه قتل او وژنه ده، چې جاني د داسې یوې آلې په ذریعه چې وسله نه وي او د وسلې او سلاح په حکم کې نه راځي د مجني

علیه د وهلو قصد یې کړی وي، لکه امساء، (عصا) یا غټ لرګی او یا هم لویه تیږه.
په دې معنا چې جاني د مجنی علیه د وژنې قصد نه وي کړی، بلکې یواځې د مجنی علیه د وهلو او ټکولو نیت او هوډ یې کړی وي.

**دوهم:** شوافع او حنبلي فقهاوو(رحمهم الله علیهما) په نزد په درووند (مثقل) آلې سره وژنه عمدي (قصدي قتل) بلل کیږي، ځکه د دوی په نزد شبه عمد قتل هغه دې، چې په هغې کې جاني د مجنی علیه د وهلو قصد په داسې یوې آلې سره کړی وي، چې غالباً په هغې سره قتل منځ ته نه راځي، لکه وړه تیږه، سپکه امسا او وړوکی لرګی او داسې نور.

**دریم:** مالکي فقهاء (رحمه الله) د ټولو فقهاء (رحمهم الله) بر عکس دا ټول شبه عمد قتلونه عمدي قتل بولي یواځې په هغه حالت کې چې پلار خپل ځوی وژلی وي، شبه عمد بولي او بس. (۲۱:۷)

**د شبه عمد قتل جزاء**

فقهاء (رحمهم الله) د شبه عمد قتل لپاره دوه ډوله جزاء ګانو لره اشاره کړي ده:

**الف:** دیت

**ب:** کفاره

اوس راځو هر یو به د دلایلو په وړاندې کولو سره روښانه کړو:

**لومړی: دیت**

رسول الله ( صلی الله علیه وسلم) د شبه عمد قتل په تړاو په خپل یو روایت کې داسې فرمایلي دي:

« أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ: " أَلَا إِنَّ فِي قَتِيلِ الْخَطَأِ شِبْهِ الْعَمْدِ قَتِيلِ السَّوْطِ وَالْعَصَا، مِائَةً مِنَ الإِبِلِ الدِّيَة مُغَلَّظَةً».(۸۰:۸:۳)

ژباړه: رسول الله ( صلی الله علیه وسلم) د مکې د فتحې په ورځ وفرمایل: ای خبر دار په عمدي خطا یعنې شبه عمد قتل کې کوم چې د کوتک، امساء او تیږې په وسیله واقع شوی وي سل اوښان لازم دي ( دیت مغلظة).

**علمي نقطه:** په شبه عمد قتل کې قصاص نشته، بلکې په عاقله باندې مغلظه دیت واجب دی.
همدارنګه د عمدي قتل او یا شبه عمد قتل په دیت کې د نوع، مقدار او تغلیظ له حیثه هم کوم توپیر نشته، بلکه توپیر یې په ملزم بها او د هغې د اداء په وخت کې دی. هغه دا چې د عمد قتل

دیت په عاجله توګه د جاني د مال څخه اخیستل کیږي او د شبه عمد قتل دیت په مؤجله توګه ( د وخت په تیریدو) د دریو کلونو په موده کې د عاقلو اشخاصو څخه اخیستل کیږي. (۷:۲۱ـ۲۲)

**دوهم: کفاره**

روژه د کفارې ورکولو بدیله جزاء ده او دا جزاء هغه وخت تطبیقیږي، چې د اصلي جزاء د تنفیذو منع موجود وي، د نص د ظاهر دلالت دا دې، چې په قتل خطاء کې کفاره مشروع شوي ده، شبه عمد قتل د عدم قصد له نقطه نظره په قتل خطاء پورې ملحق دی او په دې باندې ټول فقهاء متفق دي، چې په دې دواړو قتلونو باندې کفاره لازمه ده، لیکن د عمدي قتل د کفارې په باره کې فقهاء اختلاف لري.

**۱-** امام ابوحنیفه (رحمة الله علیه) فرمایي: چې د بالغ مسلمان څخه بغیر په بل چا باندې کفاره لازمه نه ده، ځکه چې لیوني او ماشوم ته اصلاً تشریعي خطاب یعنې امر او نهي متوجې نه دی او غیر مسلمان خو په عبادت باندې مکلف نه دی، په همدې اساس کفاره که څه هم عقوبت دی، لیکن عبادت هم دی.

**۲-** امام مالک (رحمة الله علیه) فرمایلي دي: کفاره په هغه قاتل باندې لازمه ده چې مسلمان، عاقل او بالغ وي، بر عکس په غیر مسلمان باندې یې لازمه نه بولي ځکه چې د ده په نزد کفاره تعبدي عمل او کار دی او غیر مسلمان پرې نشي مکلف کېدای.

**۳-** د امام شافعي او امام احمد (رحمهم الله علیهما) په نزد په قاتل باندې که بالغ وي او که ماشوم، که عاقل وي او که لیوني، که مسلمان وي او که کافر په ټولو باندې کفاره واجب ده.

دلیل یې دا دې، چې کفاره ماشوم او لیوني ته مالي سزا ده، که څه هم جنایي مسؤلیت دوی ته راجع نه دی، لیکن مالي ضمان ورباندې لازم دی او په غیر مسلمان باندې کفاره ځکه لازمه ده، چې د کفارې نص عام دی، او په دې کې ټول یو ډول شامل دي.

**علمي نقطه:** روژه نیول هم د کفارې لپاره بدیله جزاء ده او دا سزا هغه وخت لازمیږي، کله چې مجرم مریی (غلام) پیدا کړ هغه به آزادوي، که د خپل حاجت څخه یې مال زیات وي صدقه به کوي او که مال یې هم نه درلود نو بیا به روژه نیسي. (۸:۵۹۳)

**۳- خطاء قتل**

د خطاء قتل دغیر قصدي جرمونو له جملې څخه دی، غیر قصدي جرمونه عبارت له هغه جرمونو څخه دي، چې مجرم نه غواړي ناروا کارته هڅه وکړي، خو د خطاء له امله دغه ناروا کارترې

واقع شي.
خطايي قتل د هغې وژنې څخه عبارت دی، چې په هغې کې د وژنې او يا د وهلو قصد وجود ونلري او دا خطاء بيا په دوه ډوله ده:
**الف: د فاعل په قصد او يا گمان کې خطاء (تیروتنه)**
او هغه دا دې، چې فاعل د ښکار کولو په گمان په يو شي باندې گوزار وکړي، ليکن د ده د گمان پرخلاف هغه انسان وخيژي او يا دا چې فاعل پرې د حربي گمان وکړي، خو هغه مسلمان وي، دلته خطاء د زړه فعل ته چې قصد ورڅخه مراد وي راجع کيږي(۱۶:۷)
**ب: د فاعل په فعل کې خطاء**
يو څوک په کوم ښکار باندې وار وکړي او هدف يې د ښکار کولو او يا کومې ځانگړي موخې وېشتل وي، تصادفاً (يو ناڅاپه) هغه پرانسان ولگيږي، په دې صورت کې خطاء د يو تصادف په اساس رامنځته کيږي، چې د يو چا د مرگ سبب کيږي.
په دې معنا چې په دې دواړو حالتونو کې قتل پداسې بڼه رامنځته کيږي، چې قصد پکې اعتداء او تيرى نه وي، او نه د قتل انگېزه پکې وي، په قتل خطاء کې علت وي خو انگيزه نه وي، فاعل نه د قتل او نه هم د وهلو نيت لري او داسې نور. (۱۶:۷)
**د خطاء قتل جزاء**
په اسلامي شريعت کې د خطاء قتل لپاره قصاص نشته، فقط دوه جزاوې لري، چې اصلي جزايې ديت او کفاره ده ، او تبعي جزاء يې د ميراث او وصيت څخه محرومتيا ده.
**علمي نقطه:** په قتل خطاء کې ديت اخماساً يعنې په پنځه ډوله اخيستل کيږي.
احناف او حنابله فقهاوو (رحمهم الله عليهم) مذهب دا دې، چې په اوښانو کې به شل بنت مخاض، شل ابن مخاض، شل بن لبون، شل حقې او شل جذعې ورکوي.
مالکيان او شوافعو فقهاوو (رحمهم الله عليهم) مذهب بيا دا دې، چې د بني مخاض پرځای شل بني لبون لازم بولي. همدارنگه پدې قتل کې هم ديت پرعاقله وو دی(۱۶:۷)
ځکه چې په ټولنه کې د خطاء جنايات ډير دي او د انسان ديت دې هم کم نکړای شي نو حکمت به د دې ايجاب وکړي، چې د بسنې په توگه به دعاقله وو څخه ديت واخيستل شي.
د خطاء قتل د کفارې په اړه الله تعالی په قرآن کريم کې داسې فرمايلي دي:
وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ أَنْ يَقْتُلَ مُؤْمِنًا إِلَّا خَطَأً وَمَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَأً فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُسَلَّمَةٌ إِلَى

أَهْلِهِ إِلَّا أَنْ يَصَّدَّقُوا فَإِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ عَدُوٍّ لَكُمْ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ وَإِنْ كَانَ مِنْ قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ مِيثَاقٌ فَدِيَةٌ مُسَلَّمَةٌ إِلَى أَهْلِهِ وَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَصِيَامُ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ تَوْبَةً مِنَ اللَّهِ وَكَانَ اللَّهُ عَلِيمًا حَكِيمًا (النسآء: ۹۲)

ژباړه: د یو مؤمن کار دا ندې، چې بل مؤمن ووژني، مګر دا چې خطاء ورڅخه وشي او څوك چې کوم مؤمن په خطایی سره ووژني، نو د هغه کفاره دا ده، چې یو مؤمن له غلامۍ نه آزاد کړي او د وژل شوي (مقتول) وارثانو ته د وینو بیه هم ورکړي، مګر دا چې هغوی خوني (قاتل) وبښي، خو که وژل شوی مسلمان له کوم داسې قوم څخه وو، چې له هغه سره ستاسې دښمني وي، نو د هغه کفاره د یو مؤمن غلام آزادول دي او که هغه د کوم یو داسې نا مسلمان قوم وګړی وو، چې له هغه سره ستاسې تړون وو، نو د هغه وارثانو ته به د وینو بیه ورکول او د یو مؤمن غلام به آزادول وي، نو که څوك غلام ونه مومي پر له پسې دې دوه میاشتې روژه ونیسي، دا په دې ګناه باندې الله تعالی ته د توبې ایستلو طریقه ده او الله تعالی دعلم او پوهې خاوند دی.

**۴- د خطاء جاري مجري قتل**

دا هغه ډول قتل دې، چې په یو شرعي عذر بناء (موجود) کړی شوي وي، لیکن بیا هم د خطاء د قتل په شان په هغې کې بې احتیاطي، اهمال او یا هم غفلت په یوه نښه بڼه موجود وي.

فقهاوو د خطاء یو بل قسم مشابه قتل خطاء ذکر کړی دی، چې د پورته قرآنې آیتونو او احادیثو څخه یې استدلال کړی دی، چې اړوند یې دوه صورتونه بیان او لیکلي دي.

**الف:** لومړی صورت دا چې د قتل دغه غلطي له ده څخه پخپله شوي وي، لکه څوك چې په خوب کې په ډډه اوړي او بل کس یې د اړخ لاندې راشي او مړ شي.

د بیلګې په توګه: یوه مور د خوب کولو پر مهال، خپل ماشوم تر خپل څنګ څملوي او د شپې په خوب کې پرې را اوړي، ماشوم د ډډې لاندې کوي او وژني یې، دغه ډول قتل د خطاء په څیر قتل شمیرل کیږي.

نو دارنګه قتل باندې د خطاء د قتل حکم نافذیږي، یعنې دیت به هم ورکوي، اګر که دغه قتل بغیر د کوم ډول قصد او ارادې شوی هم وي، ځکه چې دا حکم د هغه قتل خطاء په څیر دې چې څوك په چا را وغورزیږي او لاندې شوی کس مړشي.(۹۱۴:۹)

**ب:** دویم صورت دا دې، چې که یو کس توره په لاس کې تاووله او په لاره روان وو بیا نو توره په یو چا ورپریوته او هغه مړشو او یا هم د سورلی لاندې څوك راغلو او ووژل شو، نو دا

ډول د قتل خطاء مشابه دي، یعنې د ده په ذمه دیت شته او کفاره به پرې نه وي او نه به میراث نه محرومیږي. (۹:۹۱۶)

**علمي نقطه:** د خطاء جاري مجري قتل کې د آخرت نیونه نشته.

۵- قتل بالسبب (په تسبب سره قتل)

دا هغه ډول قتل دی، چې په غیر مباشر اوغیر مستقیم واسطې سره قتل رامنځته شوی وي د بیلګې په توګه: یو سړی د بل چا په ملکېت کې یو کوهي کني، یا هم په عامه لاره کې کنده جوړوي او په هغې کې یو بل انسان لویږي او مري، او یا هم دا چې د لارې په منځ یې یوه غټه تیږه او یا یو لوی لرګی اچوي، چې په ترخ کې یې موټر راځي او ورسره ټکر کوي او قتل واقع کیږي، او یا دا چې څوک د چا په قتل باندې د دروغو شهادت ورکوي

او هغه شخص د همدې شهادت په سبب په مرګ محکومیږي، بیا وروسته د خپل شهادت څخه رجوع هم کوي، لیکن دا هغه وخت وي چې مشهود علیه وژل شوی وي، دا ډول په سبب سره قتل ګڼل کیږي، دیت به د دغه کورنۍ خلک ډول په شریکه ادا کوي، البته دغه مجرم به د مقتول د میراث څخه نه محرومیږي، همدارنګه که د جزاء د قانون (۴۰۰) مادې ته وکتل شي دا به جوته شي، چې په دغو ټولو صورتونو کې که هغه د خطاء جاري مجري قتل دی او که په سبب سره قتل وي شاملیږي او مدني مسؤلیت هم په کې منتفي کېدای نشي.

**پایله**

د لوی او ښښونکي الله جل جلاله په ځانګړي لطف او احسان د دې څیړنې په بهیر او پای کې لاندې پایلو ته ورسیدم:

لکه څرنګه چې نوموړي موضوع کې دا روښانه شوه، چې اسلامي شریعت د انسانانو د ژوند د ساتلو لپاره تل د هغه په حفاظت او درنښت باندې امر کړی دی، ترڅو د بشریت ټول وګړي په هر ځای او سیمه کې د اطمئنان خوښۍ او سلامتیا څخه ډک ژوند تیر کړای شي. د تاریخ په اوږدو کې موږ ته هیڅ یوه داسې انساني ټولنه په سترګو نه راځي، چې د انسانانو د ژوند په اخیستو باندې یې سترګې پټې کړې وي او یا هم په مقابل کې یې د ډیر زیات خفګان اظهار نه وي کړی، په همدې ترتیب قتل ته یې جواز ورکړی وي، او یا هم قاتل یې په حیث دې یو خطرناک مجرم نه وي طلقي کړی، څه ډول چې لیدل کیږي، د انسان د پیدا کیدو او خلقت سره سم دا د قتل او وژنې دا بد او دردوونکي واقعات په مختلفو طریقو سره رامنځته کیدل، د

ټولنې پوه او خواخوږي خلك تل د دغو پیښو په شیوع او مخ نیوي کې د مختلفو طریقو څخه ګټه پورته کوله، ترڅو ټول بشریت په یو وخت کې په عادلانه توګه د امن او خوشحالی په فضاء کې ژوند تیر کاندي، همدې نقاطو ته په کتو سره شخص قاتل ته په دنیا او آخرت کې د الهي او وضعي قوانینو په اساس د ډیرو سختو او سنګینو مجازاتو غوښتنه او پیشبیني شوي ده. پس هر هغه څوك چې د دغه مظلومو انسانانو ژوند بغیر د کوم عذر شرعي څخه واخلي، معلومه ده، د دې په خاطر چې نورو انسانانو لپاره درس او عبرت شي، الله رب العزت اړوند قاتلینو لپاره په دنیا او آخرت کې د ډیرو سختو عذابونو او دردنو بشارتونه او وعیدونه ارشاد فرمایلي دي. په آخر کې د الله تعالی په عظیم دربار کې لاسونه په دعا لپه کوو، چې موږ او د نړۍ ټول مسلمانان د ژوند تر آخري سلګیو پورې د یو او بل خوا خوږي وګرځوي.

**وړاندیزونه**

د قدرمنو لوستونکیو او لیدوونکیو څخه مې هیله دا ده، چې پورته لیکنه په پوره شوق او ذوق سره مطالعه کړي، تر څو د قتل او د هغې اړوند اړینو موضوعاتو باندې پوه شي او بیا د ژوند په اوږدو کې د هر ډول وژنې څخه د الله تعالی په فضل او کرم سره ځانونه وساتي.

۱ - لکه څرنګه چې الله تعالی وژوونکي انسانان نه خوښوي. په همدې اساس راځئ چې د ژوند په ټولو برخو کې د مظلومو انسانانو د وژوونکیو ډلې څخه حتی الامکان ځانونه وساتو.

۲ – دا چې قاتلین د الله تعالی د فرمان په اساس تل لپاره د جهنم په اور کې سوځي، پس موږ لره هم په کار ده، چې د ملت هر ډول قاتلین په دې عذابونو باندې خبر کړو، تر څو خبر او په راتلونکي کې د دې ډول ناوړه وژلو څخه ځانونه وساتي.

۳ - لکه څرنګه چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) څومره ښه فرمایلي دي، چې څوك یو مظلوم مسلمان وژني او د هغې په وژلو باندې خوشاله شي، الله تعالی د هغه قاتل انسانن نفلي او فرضي عبادتونه نه قبلوي، پس همدې وعید ته په کتو باید چې تول انسانان د مظلومو نوره انسانانو د وژلو څخه ځانونه وساتي.

۴ – لکه څرنګه چې حنفي فقهاؤ ( رحمهم الله علیهم) د ناجایزو قتلونو پنځه ډولونه ښودلي دي، لکه: (عمد شبه عمد – خطاء - د خطاءجاري مجري او په سبب سره قتل). پس ټولو مسلمانانو ته په کار ده، چې د بې ځایه او مظلومو قتلونو اړوند پوهه حاصله کړي او حتی الامکان د قتل د ټولو ډولونو څخه د الله کریم په ځانګړي فضل او کرم سره ځانونه وساتي.

۵ – دا چې د قتل عمد د حراموالي او منع کیدو په اړه ډېر زيات قرآني ایتونه او نبوي احاديث راغلي دي، پس موږ ټولو مسلمانانو ته په کار ده، چې د قتل د ټولو ډولونو اړوند بايد چې کافي پوهه او معلومات حاصل کړو، ترڅو له يوې خوا بې ځايه او مظلومه وينه تويونه بند کړای شي او له بلې خوا د دنيا او آخرت د سختو عذابونو څخه په حفظ او امان کې پاتې شو.

**مصادر او مراجع**

١ – قرآنكريم

٢ – أبو يوسف، يعقوب بن إبراهيم بن حبيب بن سعد بن حبتة الأنصاري.(١٨٢هـ). الآثار. ج١. الناشر: دار الكتب العلمية. بيروت.

٣ – البيهقي، أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخُسْرَوْجِردي الخراساني. (۴۵۸هـ). السنن الكبرى. ج.٨ الناشر: دار الكتب العلمية. بيروت. لبنان.

۴ـ الترمذي. محمد بن عيسى بن سَوْرة بن موسى بن الضحاك.( ٢٧٩هـ). سنن الترمذي. (ج٣). الناشر: دار الغرب الإسلامي. بيروت.

۵- السِّجِسْتاني، سليمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشير بن شداد بن عمرو الأزدي. (٢٧۵هـ). سنن أبي داود. ج ۴ . الناشر: المكتبة العصرية. بيروت.

۶– ستانکزی، نصرالله. (ب.ت) د حقوقي اصطلاحاتو قاموس. (١٣٨٧هـش). ناشر: د افغانستان عدلي او قضايي امور.

٧- شريفي، سيد مراد.( ١٣٨٨هـ .ش ). قضاء مجله. ناشر:کابل افغانستان.

٨ـ عوده، عبدالقادر. (ب.ت). د اسلام جنائي تشريع او وضعي قوانين. دوهم. ټوک. ( ١٣٨۴هـش ). کابل: خپرندوی. پيغام نشراتي مرکز.

٩ – ندوي، مجيب الله. (ب.ت). اسلامي فقه. ژباړن: فرهاد محمد غالب ترين خويشکی. ناشر: زيب آرټ پبلشر. پيښور.

# د افغان جنګ او سولې نړیوال خبري پوښښ او بهرنۍ پالیسۍ

لیکونکي: پوهنیار احمدضیاء الهام او پوهنیار عزیزالله صدیق د شیخ زاید پوهنتون، ژورنالېزم او عامه اړیکو پوهنځی، ژورنالېزم څانګې استادان
تقریظ ورکوونکی: پوهندوی محمدخان نیازی د ژورنالېزم او عامه اړیکو پوهنځي، عامه اړیکو څانګې استاد

**لنډیز**

د ژورنالېزم په برخه کې، رسنیزه ازادي او د رسنیو سانسور/پر رسنیو د حکومتونو کنټرول مهم بحثونه دي. د ازادو او حکومت تر واک لاندې، مطبوعاتو په اړه بې له څنډه د وګړو ذهن ته دا خبره لوېږي، چې ازادې رسنۍ ګواکي د پېښو په پوښښ کې مستقل عمل کوي او د حکومت تر واک لاندې/سانسور او نیمه سانسور رسنۍ، پېښو ته د حکومت له عینکو ګوري او د هغوی په خوښه خبري پوښښ ورکوي. خو دې څېړنې دا په ډاګه کړه، چې ازادې او حکومت تر کنټرول لاندې رسنۍ هسې تش نومونه دي. د نړیوالو پېښو په پوښښ کې، د خپلو هېوادونو بهرنۍ پالیسۍ او ګټې په پام کې نیسي او ډېر وخت حقایق د خپلو واکمنو ډلو او چارواکو له وینا سره سم تعبیر، تفسیر او خپروي. دا څېړنه د Framing تیورۍ تر چتر لاندې، Indexing تیورۍ په رڼا کې د نیویارک ټایمز او چاینا ډیلي په یو کلن خبري پوښښ تر سره شوه. موندنې ښیي، چې دواړه ورځپاڼې په افغان خاوره د روانې جګړې او سولې خبرو اترو اړوندو خبرونو په پوښښ کې، د خپلو هېوادونو له بهرنیو پالیسو متأثرې وې. د کمي اړخه د څېړنې پایلې ښیي، چې سافټ پاور/سوله پالنه او مورال څپنه دوه هغه انډیکېټر وو، چې د دواړو ورځپاڼو په کابو اتیا سلنه خبري سټوریو کې انعکاس ورکړل شوی ؤ. خو د لږ تر سترګو شویو انډیکېټرو له ډلې، په نیویارک ټایمز ورځپاڼه کې حکومت جوړونه او په چاینا ډیلي کې د وینا او کړنو تر منځ توپیر ؤ.

**کلیدي کلمې:** افغانستان، جنګ، سوله،نړیوالې رسنۍ، خبري پوښښ، بهرنۍ پالیسي

**سریزه**

افغانستان له څه باندې څلورو لسیزو راهیسې، د سیمې او نړۍ د لویو ځواکونو د سیالۍ ډګر ګرځېدلی او په بېلابېلو بهانو په نیابتي جګړو کې ښکېل شوی. د افغانستان په خاوره، د پردیو کړیو د ګټو په پار روانې جګړې، په سیاسي بحثونو کې تل پېچلې او پای ته نه رسېدونکې بلل شوې. خو دغه نظر کله هم ونه ننګول شو، چې ولې د افغانانو په کور بل اور نه مړ کېدونکی

دی. موږ په پښتو کې ډېر ښه متل لرو، چې -که غر لوړ دی، په سر یې لار شته- نو که د افغانانو په خاوره د سیمې او نړۍ د ځواکمنو هېوادونو روانه استخباراتي جګړه هم، هر څومره پېچلې ده، له دې جګړې د راوتلو لپاره ګڼې لارې چارې هم شته، څو خپله خاوره او ولس په امن کړو. د یوه وتلي یوناني ډرامه لیکوال او ممثل Aeschylus مقوله ده، چې ((د جنګ لومړنی قرباني، حقیقت دی)). له بده مرغه په افغانستان کې هم، ورته قضیه روانه ده. د دولت له وړوکي مأمور نیولې، تر لوړ پوړو چارواکو او رسنیزو لوبغاړو یو هم د روانو بدمرغیو له اصلي لاملونو پرده نه پورته کوي. ځکه په روان کړکېچ کې د ځینو ګټې خوندي دي او ځینې بیا د خپل سر ساتنې او ژوند خوندیتوب په موخه پټه خوله دي. البته د دې جګړې اصلي ریښې بربنډول، په یوازې/ډله ییزه بڼه د وګړو په خوځښتونو پورې دومره نه دي تړلي، لکه څومره مسؤلیت چې سیمه ییزو، ملي او نړیوالو رسنیو ته ور په غاړه دی. دلته اصلي ستونزه په رسنیو کې ده، چې حقایق نه خپروي. خو له بده مرغه رسنۍ هم تر ډېره، د سیاسیونو او پېژندل شوو څېرو د دروغجنو او مکرجنو ادعاوو خپرولو، غوره او اغېزمنې وسیلې ګرځېدلې. ننۍ رسنۍ د دې پر ځای، چې د عامو وګړو، له پامه لوېدلی غږ رسنیز کړي، تل د سیاسیونو او مطرح څېرو خولې ته بوخې ناستې وي.

څېړنیزې موخې: دا څېړنه د Framing Theory تر چتر لاندې، د Indexing Theory له مخې د یادو ورځپاڼو خبري پوښښ څېړلی، چې لاندې څېړنیزو پوښتنو ته پکې ځواب ویل شوی دی.

RQ1: ایا په افغان خاوره، د روانې جګړې او سولې بهیر په خبري پوښښ کې، یادې ورځپاڼې د خپلو اړوندو هېوادونو له بهرنیو کړنلارو متأثره شوې دي؟

RQ2: که له بهرنیو کړنلارو متأثره شوې وي، د خپلو اړوندو هېوادونو د پالیسیو په کومو برخو یې په خپلو رپوټونو کې ډېر تمرکز کړی دی؟

RQ3: که بهرنیو پالیسیو متأثره وي، دا اغېز به تر کومې کچې وي؟

**د څېړنې مېتود او نمونه اخیستنه**

د دې څېړنې لپاره په ټاکل شوې موده کې، د NYT او China Daily له وېب پاڼو ټولټال ۱۴۴ خبرونه او رپوټونه را اخیستل شوي وو. د دې خبرونو د ټاکنې او را اخیستنې په موخه، د یادو ورځپاڼو پر وېب پاڼو د Advance Search Option له لارې د ۲۰۱۸ز کال سپټمبر له

لومړی نېټې تر ۲۰۱۹ز کال اګسټ ۳۱ مې پورې وخت وټاکل شوی او په Search Engine کې د (Afghan, War, Conflict, Peace, Taliban) کلمې وپلټل شوې او له دې لارې ټولې موندل شوي خبرونه او رپوټونه له وېب پاڼو را ښکته شول. په دې ۱۴۴ خبرونو کې، ۱۰۷ د NYT او ۳۷ د China Daily خبرونه وو. بیا له یادو ۱۴۴ خبرونو څخه ۷۳ نمونوي خبري سټوری د مختلفو کټګوریو له مخې وټاکل شوې. لومړی له دواړو ورځپاڼو هغه خبرونه په نښه شول، چې په ورته پېښو/ سوژو خپاره شوي وو، چې پر دې اساس له هرې ورځپاڼې اووه خبرونه انتخاب شول. په دویمه کټګوري کې، له دواړو ورځپاڼو هغه خبرونه وټاکل شول، چې په اصلي/فرعي سرلیکونو کې یې د جنګ/جګړې کلمې راغلې وې، چې په دې سره د NYT څلور او د China Daily اووه خبرونه په نښه شول. په درېیمه کټګوري کې، هغه خبرونه وو، چې په اصلي/فرعي عنوانونو کې یې د (سولې) کلمه راغلې وه؛ له دې مخې د NYT ۱۶ او د China Daily اووه خبرونه وټاکل شول. په وروستۍ کټګوري کې هغه خبري سټوری وې، چې په اصلي/فرعي سرلیکونو کې یې (طالبان) کلمه ذکر شوې وه. د دې پر بنسټ له NYT ۱۷ او له China Daily اته خبرونه وټاکل شول.

د تحلیل او ارزونې په موخه، د را ټولې شوې ډاټا د کوډ کولو لپاره، لومړی څېړونکي ټول ارزول کېدونکي خبرونه او د یادو هېوادونو بهرنۍ پالیسۍ مطالعه کړې؛ بیا یې د یادو خبرونو او پالیسو تر منځ ګډ لوی ټکي په نښه کړل او د هماغه ټکو پر بنسټ یې دې څېړنې ته اووه Indicators په نښه شول؛ څو ټاکل شوې رسنیزه منځپانګه پرې و آزمایل شي. په تعریف شویو Indicators کې، د وینا او کړنو ترمنځ توپیر، مورال ځپنه، حکومت جوړونه، هارډ پاور/جنګ ته لمن وهنه، سافټ پاور/سوله پالنه، ټولیز اختیار لرنه/وروستي پرېکړه کوونکي تمثیل او څواکونو ایستنه شامل وو. له دې وروسته، د تحلیل، څېړنې او ارزونې په موخه یادې ۷۳ سټورۍ په بشپړه ځیرتیا د څېړونکي له خوا مطالعه او د کلمو، اصطلاحاتو او مفهومونو له مخې SPSS پروګرام ته د ټاکلو Indicators له مخې کوډ او په SPSS پروګرام کې د Descriptive Analysis له مخې د کوډ شویو معلوماتو ارزونه وشوه. د یادونې ده، چې دې مقالې ته ځینې جدولونه د SPSS پروګرام له پایلو را اخیستل شوي او ځینې د تر لاسه شویو پایلو پر بنسټ په MS Word پروګرام کې ډیزاین شوي دي. په دې عملي څېړنه کې، د مأخذ لیکنې د ښه تنظیم په موخه، له Mendeley پروګرام څخه ګټه اخیستل شوې، چې Zotero ته ورته، د

مأخذ لیکنې د غوره تنظیم یوه علمي ټولنیزه شبکه ده.

**تېرو اثارو ته کتنه**

په افغان خاوره، د روانو جګړو په اړه ګڼې څېړنې شوې؛ ډېری یې د یاد جګړو خونړی تاریخ او تراژیدی بیانوي؛ افغان ولس پکې، له خپلو حقونو محروم، په جنګ کې پیدا او جنګ کې مړ ملت معرفي شوی؛ ځینې څېړنې په یادو جګړو کې، یوازې د څرګندو ښکېلو لوبغاړو، برسېرنو لاملونو او پایلو بابولالې غږوي؛ خو د یادو څېړنو او لیکنو یو ګډ ټکی دا دی، چې غوڅ اکثریت یې د بهرنیو څېړونو او لیکوالو کار او زیار دی ( Cristol, 2019; R. Johnson, 1979; Edwards, 2002; Gopal, 2014; Collins, 2011; Cassidy, 2012; Cordesman, 2019; Baral, 2013; Ewans, 2005 ). خو په دې برخه کې بې پرې نیوکیزې لیکنې په نشت حساب دي. د دې تر څنګ، ځینو لیکوالو د افغانستان د سولې موضوع هم څېړلې ده. د دوی له څېړنو دا په ډاګه کېږي، چې په افغانستان کې روانه جګړه، د جنګ له لارې نه حلېږي او د روانو جګړو پای ته رسېدو یوازېنۍ لار یې د خبرو اترو له لارې ملي روغه جوړه، پخلاینه، سوله او سیاسي جوړجاړی بللی دی.

په دې سربېره، ځینو څېړنو د جنګ او سولې سیاسي سوداګري، افغانستان کې شته زورواکي، نشه یي توکو کاروبار، نړیوالو ځواکونو پراخ حضور، ډرون حملې، ملکي تلفات، سیمې او نړۍ د هېوادونو دوه مخی چلند او متمرکز نظام جوړونې ته نه پاملرنه د سولې په وړاندې پراته خنډونه بللي دي ( Jarstad, 2012; Powell, 2014; Seerat, 2015; Fazly, 2016; M. H. J. Khan & Pervaz, 2016; Vishwakarma, 2017; R. M. Khan & Abbasi, 2016; Najibullah, 2017; Foxley, 2014; Ahmed, 2017; Kaura, 2018; Ikram-Ul-Haq, 2018; Pandey, 2019 ). له دې ها خوا ځینو لیکوالو، له بېلابېلو زاویو په افغان خاوره د روان جنګ او سولې رسنیز پوښښ څېړلی دی. د یادو څېړنو له ډلې ځینو د هېوادونو او رسنیو ترمنځ اړیکې څېړلې او د څېړنو پایلې یې دا په ډاګه کوي، چې رسنۍ د یادې موضوع په پوښښ کې د خپلو اړوندو هېوادونو بهرنۍ پالیسۍ پالي او تر ډېره د واکمنو کړیو تر اغېز لاندې دي ( Rasul, 2010; Rasul, Shahzad, Bilir, & Rasul, 2017; (Rasul, Robinson, & McDowell, 2016; Schoch, 2011 ). خو ښاغلي (Noorzai, 2012) او (Hamid, 2014) بیا د Framing Theory له مخې په افغانستان کې د سولې او جنګ خبري پوښښ څېړلی؛ څو دا ومومي، چې د یادې موضوع انعکاس ته

کومه بڼه ورکړل شوې او په کومو فریمونو ډېر تمرکز شوی دی.

د پورتنیو اثارو له کتنې دې پایلې ته رسېږو، چې یوازې عظمت رسول، په افغان خاوره د جنګ او سولې بهیر خبري پوښښ د هند او پاکستان په ځینو مطرح رسنیو کې په پرتلیزه بڼه څېړلی دی، چې هغه مقالې یوه په ۲۰۱۰ز او بله په ۲۰۱۷ز کلونو کې خپرې شوې دي. دا چې د ۲۰۱۸ز کال جون میاشتې را په دې خوا په افغانستان کې د روان جنګ او سولې بهیر یوه نوي تاریخي پړاو ته داخل شو او ګڼ بدلونه پکې رامنځته شول، یو ځل بیا د نړیوالو رسنیو د خبرونو سرټکی شو. نو اړتیا لیدل کېده، چې په دغه مهم پړاو کې د افغانستان جنګ او سولې خبري پوښښ په نړیوالو رسنیو کې وڅېړل شي او دا په ډاګه شي، چې د دوی خبري پوښښ متوازن او بې پرې دی او که یې له بهرنیو پالیسو اغېزمن شوی دی. دې موخې ته د رسېدو په پار New York Times او China Daily ورځپاڼې وټاکل شوې. د یادو هېوادو ورځپاڼې ځکه ټاکل شوې، چې امریکا یو نړیوال ځواک دی او د افغانستان د جنګ او سولې په بهیر کې، د نېغ په نېغه ښکېل لوبغاړي رول هم ور په غاړه دی. له بلې خوا چین هم تازه ځلېدونکي نړیوال ځواک دی او د افغانستان د یوه ځواکمن ګاونډي په توګه له دې مسئلې لرې/ګوښه نه شي ساتل کېدلی او په یاده برخلیک ټاکونکې مسئله کې به، هرو مرو خپل رغنده رول لوبوي.  په دې مقاله کې د ۲۰۱۸ز کال سپټمبر له لومړۍ نېټې تر ۲۰۱۹ز اګسټ ۳۱ مې نېټې پورې د ټاکل شوې موضوع په اړه د یادو ورځپاڼو خبري پوښښ څېړل شوی. د دې څېړنې لپاره دا یو کلنه دوره ځکه ټاکل شوې، چې په دې کې د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد او طالبانو تر منځ نهه ۹ دورې مذاکرات وشول؛ څو امریکا د خپل تاریخ تر ټولو اوږدې جګړې ته د خبرو اتر او سیاسي جوړجاري له لارې د پای ټکی کېږدي.

**په افغانستان کې د روانو جګړو شالید**

افغانستان د نړۍ د لویو ځواکونو، د بېلابېلو تېریو او غوبل اوږده مخینه لري. خو د وروستیو روانو جنګ، جګړو ۴۳ کلنه اوږده غمیزه پکې بې ساري ده، چې پیل یې له ۱۹۷۸زیږدیز کاله د ثور له پوځي کودتا کېږي، چې د سردار محمد داود خان واکمنۍ ته یې د پای ټکی کېښود او د پخواني شوروي اتحاد یرغل ته یې لار پرانیسته (Noorzai, 2012). له دې وروسته، د واک پر ګدۍ د خلق او پرچم خپلمنځي اختلافات روان وو، چې نورمحمد ترکی او حفیظ الله امین د یادو اختلافاتو ښکار شول او بالاخره د ۱۹۷۹ز کال په ډسمبر کې شوروي په افغانستان مستقیم

یرغل وکړ (Gritzner & Shroder, 2007 ،Maass, 2006). له دې وروسته په ۱۹۸۰ ز کال د سرو یرغلګرو او وخت شته نظام په وړاندې مجاهدینو وسله وال پاڅون پیل کړ، چې د سیمې او نړۍ استخباراتي ادارو یې مالي او روزنیز ملاتړ کاوه. بالاخره په ۱۹۸۹ز کال فبرورۍ کې شوروي ځواکونو افغانستان پرېښود (Collins, 2011) او کابو درې کاله وروسته په ۱۹۹۲ز کال د ډاکټر نجیب الله د رژیم په راپرځولو سره مجاهدین واک ته ورسېدل (Rasanayagam, 2002). له ۱۹۹۲ز کاله تر ۱۹۹۴ د واک پر ګدۍ. د نه جوړجاړي له امله. په خپلمنځي اخ او ډب اخته ؤ (Maass, 2006)، چې په ۱۹۹۴ز کال طالبانو د مجاهدینو د واکمنۍ په وړاندې وسله وال پاڅون پیل کړ (Strickland, 2006) او بالاخره د ۱۹۹۶ په سپټمبر کې د مجاهدینو واکمني ختمه او طالبان واکمن شول (T. H. Johnson & Mason, 2007. خو په وړاندې یې بیا هم شمالي ټلوالې تر ۲۰۰۱ز کال پورې مقاومت وکړ (Achikzad, 2012; Bowman & Dale, 2009; Collins, 2011; Maass, 2006).

بالاخره د ۲۰۰۱ز کال په وروستیو کې، امریکا دې میدان ته د ترهګرۍ په وړاندې جنګ! په بهانه را ودانګل او په افغانستان یې پوځي یرغل وکړ، چې افغانان تر ننه د دې خونړۍ جګړې پور پرې کوي او لا یې هم د پای ته رسېدو څه څرک نه لګي ( Cristol, 2019; Cordesman, 2019; Gopal, 2014; Baral, 2013; Cassidy, 2012; Linschoten & Kuehn, 2012).

**د سولې او پخلاینې هڅو لنډه مخینه**

مشهور متل دی، چې غوټه چې په لاس خلاصیږي، خولې ته یې حاجت نشته. د دې متل له مخې د انسانانو/انساني ټولنو تر منځ هر ډول پېښې شوي/پېښېدونکي ټکرونه باید د خبرو اترو له لارې حل شي. که د بشریت تاریخ ته وکتل شي، هېڅ داسې شخړه/ټکر به پیدا نه شي، چې له روغې، جوړې/خبرو اترو پرته حل دې شوي وي. نو دې پایلې ته رسېږو، چې وینه په وینه، نه مینځل کیږي او جګړه په جګړه نه پای نه مومي. یوازېنۍ حل لاره بیا هم ټولنیز/سیاسي جوړجاړی دی. په افغانستان کې روانې جګړې ته د پای ټکی ایښودل هم، له سولې، پخلاینې او ملي روغې جوړې پرته بله لار نه لري. په تېرو څه باندې څلورو لسیزو کې، لومړی ځل د ډاکټر نجیب الله د واکمنۍ پر مهال، د ۱۹۸۶ز کال په وروستیو کې، د ملي پخلاینې کړنلاره رامنځته او خپره شوه، چې مجاهدینو ته یې د سولې او ملي روغې جوړې دروازه پرانیسته، خو له بده مرغه بې پایلې پاتې شوه (Najibullah, 2017). له دې وروسته څه باندې یوه لسیزه په خپلمنځي

اخ او ډب کې تېره شوه، چې د ۲۰۰۱ز کال په وروستیو کې، امریکا د طالبانو حکومت دړې وړې کړ.

دا مهال امریکا په افغانستان کې، یوازې د جنګ پالیسي پر مخ بېوله (Tiwari, 2016). خو د طالبانو بیا ځلي وسله وال پاڅون، یو ځل بیا داسې تمثیل شو، چې ګواکې افغان دولت او امریکا ته په لوی سرخوږي بدل شوي. نو امریکا خپله کړنلاره کې، څه نرمښت راووست؛ له افغان حکومت سره، د طالبانو د ځینو جنګیالیو بیا یو ځای کېدو او پخلاینې لړۍ پیل شوه (Sheikh & Greenwood, 2013). په تېرو دوو لسیزو کې له طالبانو سره د سیاسي جوړ جاړي او سولې ټیکاو ګڼې هڅې وشوې، چې له ګڼو خنډونو او ننګونو سره مخ او بې پایلې شنډې شوې (Cornish & Timory, 2013; Sheikh & Greenwood, 2013; UNDP, 2017; Kuehn, 2018; Mohammadi, 2018; Tiwari, 2016; Royo Aspa et al. 2018; Zaki, 2019). خو په وروستیو کې کې د ۲۰۱۸ز کال جون له میاشتې، د افغانستان د ملي پخلاینې په برخه کې د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد په هڅو، د سولې پیل شوې لړۍ تر ډېره بریده هیله بښونکې وه او د یوه ځوربدلي ملت ګڼې هیلې ورسره تړلې وې. ښاغلي خلیزاد، له طالبانو سره سیاسي جوړجاړي په پار، د ۲۰۱۸ز اکتوبر ۱۲ نېټې څخه د ۲۰۱۹ز کال آګسټ تر ۲۲ نېټې ټولټال نهه دورې مخامخ ناستې لرلې، چې اته دورې یې د قطر په پلازمېنه دوحه او یو دور په عربي متحده اماراتو کې وې (Shah & Nordland, 2018; Rotman, 2018; Aljazeera, 2018; CBSnews, 2018; Tolonews, 2019; Tolonew, 2019; Sediqi & Jain, 2019a; Jain, 2019; Qazi, 2019; Sediqi & Jain, 2019b). د یادو نهو دورو ناستو په پایله کې، بالاخره د ۲۰۲۰ز کال فبرورۍ په ۲۹ نېټه، امریکایان او طالبان په دې سلا شول، چې په افغانستان کې روانه جګړه به پای ته رسوي او سوله به راولي (Hansler, 2020). د همدې هوکړې له مخې، د طالبانو ۵۰۰۰ بندیان د حکومت له زندانونو خوشې شول، چې په بدل کې یې طالبانو هم د حکومت ۱۰۰۰ بندیان ازاد کړل. د دې تر څنګ بین الافغاني خبرو اترو ته، لار پرانیستل شوه. د افغان حکومت او طالبانو د مذاکراتي ډلو ترمنځ خپلمنځي خبرې اترې د ۲۰۲۰ز کال سپټمبر په ۱۲ پیل شوې او تر ننه دوام لري.

**رسنیزه منځپانګه او بهرنۍ پالیسي**

دغه د رسنیزې منځپانګې څېړنه، د Framing (Entman, 2003) تیورۍ تر چتر لاندې، د Indexing (Bennett, 1990) په رڼا په افغان خاوره د جنګ او سولې خبرونه څېړي؛ څو د

یادو رسنیو په خبری منځپانګه کې نغښتې ښکاره او پټې ماناوې کوڼ او و آزمایل شي. د شلمې پېړۍ له وروستۍ نیمایي را پدې خوا، د رسنیز ډګر ډېری پوهانو د رسنیزې منځپانګې د فرېمونو په اړه په دوو برخو کې ګڼې څېړنې کړې دي. ځینو یې دا څېړلې، چې ډله ییزې رسنۍ خبرونو ته څنګه ځانګړې بڼه ورکوي/کوم فرېمونه پکې ځای پر ځای کوي. تر څنګ یې نورو دا څېړلې، چې مخاطب د رسنیزو خبرونو په منځپانګه کې نغښتي فرېمونه څنګه تفسیروي (Schwalbe, 2006). په ټوله کې د Framing تیورۍ موخه دا ده، څو دا په ډاګه کړي، چې د رسنیو پالیسي جوړوونکي، ټولنیزو حقایقو او واقعیتونو ته، څنګه له خپلو موخو سره سم رنګ او بڼه ورکوي؛ عامو وګړو ته یې، په کوم رنګ او بڼه د رسنیزو خپرونو په منځپانګه کې نغاړي. په دې بهیر کې په خورا ځیرکۍ، د رسنیزو پالیسیو مطابق له وړاندې ځینې انګېرل شوي/اټکل شوي تعبیرونه، په رسنیزه منځپانګه کې د ښکاره او پټو ماناوو په بڼه ځای پر ځای کیږي؛ څو ټولنې ته حقایق او واقعیتونه له خپلو عینکو تعریف کړي او په مدار مدار ټولیز افکار په خپلو ګټو را وڅرخوي. د تفصیلي معلوماتو لپاره دا سرچینې کتلی شئ ( Entman, 2004; Entman, 1993; Scheufele, 2000; G. C. Edwards & Wood, 1999; Druckman & Holmes, 2004; Druckman & Nelson, 2003).

ډله ییزې رسنۍ، د ټولنیز ژوند په هر اړخ بې درېغه اغېز ښندي. ډله ییزې رسنۍ دا وړتیا لري، چې په خپله منځپانګه کې د نغښتو فرېمونو په واسطه، د یوه وګړی/وګړي، ډلې ټپلې، ټولنې او هېوادونه فکري بدلون ته تیار کړي او دا چاره په ځانګړې توګه په بېړنیو حالاتو ښه ترسره کېدای شي (An & Gower, 2009). د دې تر څنګ د ځینو څېړنو پایلې ښیي، چې په رسنیزو خپرونو کې فرېمونه نغښتل او ټولنیز واقعیتونه تعریفول، مستقل بهیر نه دی؛ بلکې رسنۍ یې نېغ په نېغه د خپلو اړوندو هېوادونو له دودونو، ارزښتونو، اصولو او قوانینو، په تأثر خپلوي او خپروي (Zelizer & Allan, 2011؛ Hamdy & Gomaa, 2012). د رسنیزو اړیکو ګڼ شمېر پوهانو، د رسنیو او بهرنۍ پالیسي تر منځ اړیکې څېړلې او د دوی د څېړنو موندنې دا ښیي، چې د جګړه ییزو خبرونو په پوښښ کې، رسنۍ د سیاسونو، واکمنو کړیو، جنګي ستراتیژي جوړوونکو او پالیسي جوړوونکو تر ژور اغېز لاندې دي ( Aday, 2010; Altschull, 1995; Chomsky, 1989; Entman, 2004; Gitlin, 1980; Mouffe, 1979; Robinson, Goddard, Parry, & Murray, 2009).

د رسنیو او حکومتونو تر منځ په اړیکو ترسره شوې ډېری څېړنې دا په ډاګه کوي، چې رسنۍ د

دې پر ځای چې په بهرنیو پالیسیو نظارت ولري، ساتنه او پالنه یې کوي (Bennett, Lawrence, & Livingston, 2006). په دې سربېره د ګڼو نورو پوهانو د څېړنو پایلې هم دا څرګندوي، چې د جګړه ییزو خبرونو په پوښښ کې، تل رسنۍ د پالیسي جوړوونکو او واکمنو کړیو لپاره، مدافع وکالت تر سره کړی دی ( Cohen, 1963; Herman & Chomsky, 1988; Robinson et al., 2009; Zelizer & Allan, 2011; McQuail, 2010).

بالاخره په دې برخه کې د Indexing (Bennett, 1990) تیورۍ، د رسنیزو اړیکو له څېړونکو سره دا مرسته وکړه، څو د نړیوالو پېښو په پوښښ کې، د رسنیو او بهرنۍ پالیسي تر منځ د اړیکو آزمایلو یو غوره چوکاټ په لاس ورکړي. دې تیورۍ څېړونکو ته دا موقع برابره، څو معلومه کړي، چې د نړیوالو پېښو -په ځانګړې توګه جګړې خبرونو- په پوښښ کې رسنۍ څومره مستقل کار کوي او تر کومې کچې د سیاسیونو او واکمنو کړیو تر اغېز لاندې دي. د دوی د څېړنو پایلې ښیي، چې تر ډېره رسنۍ هغه څه وایي، چې د واکمنو ډلو، اشرافو او سیاسیونو له خولې را وځي ( Rasul et al., 2016; Althaus, 2003; Bennett, Lawrence, & Livingston, 2007). نو په دې مقاله کې څېړونکي دا هڅه کړې، چې د ۲۰۱۸ز کال سپټمبر څخه تر ۲۰۱۹ز کال اګسټ پورې د NYT او China Daily په افغانستان کې د روانې جګړې او سولې هڅو خبرونه د Indexing تیورۍ له مخې تحلیل او و ارزوي؛ څو معلومه کړي، چې یادې ورځپاڼې د یادې موضوع په خبري پوښښ کې د خپلو اړوندو هېوادونو د بهرنیو پالیسیو تر اغېز لاندې دي او که نه؛ که وي تر کومې کچې د خپلو هېوادونو د بهرنیو پالیسیو اغېز د دوی په خبري پوښښ کې تر سترګو کېږي.

**د څېړنې موندنې:** په دې برخه کې، په چارټونو او جدولونو کې د څېړنې موندنې ځای پر ځای شوې او د هر چارټ او جدول وروسته د یادو موندنو لنډه تشریح هم شوې ده.




۱شکل: لاندې چارټ په دواړو ورځپاڼو کې د **Indexing** تیورۍ له مخې **Dominant Indicators** ښيي.

نوټ: IndxV1 = د وینا او کړنو ترمنځ توپیر، IndxV2 = مورال پنه، IndxV3 = حکومت جوړونه، IndxV4 = هارډ پاور/جنګ ته لمن وهنه، IndxV5 = سافټ پاور/سوله پالنه، IndxV6 = تولیز اختیار لرنه/وروستي پرېکړه کوونکي تمثیل، IndxV7 = څواکونه ایستل

په پورتني شکل کې دا په ډاګه شوي، چې د Indexing تیورۍ په اساس د دواړو ورځپاڼو په ګډ پوښښ کې تر ټولو ډېر تر سترګو شوی انډیکېټر سافټ پاور/سوله پالنه ؤ، چې له ۷۳ خخه په ۶۲ خبري سټوریو کې موجود ؤ. په دې پسې، د مورال ځینې انډیکېټر په لوړه کچه کارېدلی ؤ، چې په ۵۵ خبرونو کې موندل شوی ؤ. همدارنګه هارډ پاور/ جنګ ته لمن وهنه، تولیز اختیار لرنه/وروستي پرېکړه کوونکي تمثیل، بهرنیو څواکونو وتل او حکومت جوړونه انډیکېټر هر یو په ترتیب سره په ۴۹، ۳۹، ۳۱ او ۲۸ خبري سټوریو کې تر سترګو شوي وو.

**۱جدول: دا جدول د Indexing تیورۍ له مخې په پرتلیزه بڼه د دواړو ورځپاڼو ډېر تر سترګو شوي/Dominant انډیکېټر ښيي.**

| چاینا ډیلي ورځپاڼه | | نیویارک ټایمز ورځپاڼه | |
|---|---|---|---|
| انډیکېټر | شمېر (سلنه ٪) | انډیکېټر | شمېر (سلنه ٪) |
| سافټ پاور/سوله پالنه | ۲۴ (٪ ۸۲،۸) | سافټ پاور/سوله پالنه | ۳۸ (٪ ۸۶،۴) |
| مورال ځینه | ۲۰ (٪ ۶۹) | مورال ځینه | ۳۵ (٪ ۷۹،۵) |

| | | | |
|---|---|---|---|
| هارډ پاور/جنګ ته لمن وهنه | ۱۵ (۵۱،۷ ٪) | ټولیز اختیار لرنې/وروستي پرېکړه کوونکي تمثیل | ۳۴ (۷۷،۳ ٪) |
| ځواکونه ایستل | ۱۴ (۴۸،۳ ٪) | هارډ پاور/جنګ ته لمن وهنه | ۳۴ (۷۷،۳ ٪) |
| حکومت جوړونه | ۱۰ (۳۴،۵ ٪) | د وینا او کړنو ترمنځ توپیر | ۲۷ (۶۱،۴ ٪) |
| ټولیز اختیار لرنې /وروستي پرېکړه کوونکي تمثیل | ۵ (۱۷،۲ ٪) | ځواکونه ایستل | ۲۵ (۵۶،۸ ٪) |
| د وینا او کړنو ترمنځ توپیر | ۱ (۳،۴ ٪) | حکومت جوړونه | ۲۱ (۴۷،۷ ٪) |

پورتنی جدول په ډاګه کوي، چې سافټ پاور/سوله پالنه انډیکېټر، د دواړو ورځپاڼو په منځپانګه کې ډېر تر سترګو شوی دی. په نیویارک ټایمز ورځپاڼه کې له ۴۴ خبرونو څخه په ۳۸ او چاینا ډیلي کې له ۲۹ نه په ۲۴ سټوریو کې موندل شوی دی. په دې پسې ډېر تر سترګو شوی انډیکېټر مورال ځپنه دی، چې په نیویارک ټایمز کې په ۳۵ او په چاینا ډیلي کې په ۲۰ خبري رپوټونو کې لیدل شوی. همدارنګه تر ټولو لږ تر سترګو شوی انډیکېټر په نیویارک ټایمز کې حکومت جوړونه او په چاینا ډیلي کې د وینا او کړنو تر منځ توپیر ؤ.

**۲ جدول: د Indexing تیورۍ د انډیکېټرو له مخې د دواړو ورځپاڼو پرتلیزې څېړنې پایلې.**

| انډیکېټر | نیویارک ټایمز [شمېر او (سلنه ٪)] | چاینا ډیلي [شمېر او (سلنه ٪)] |
|---|---|---|
| د وینا او کړنو ترمنځ توپیر | ۲۷ (۶۱،۴ ٪) | ۱ (۳،۴ ٪) |
| مورال ځپنه | ۳۵ (۷۹،۵ ٪) | ۲۰ (۶۹ ٪) |
| حکومت جوړونه | ۲۱ (۴۷،۷ ٪) | ۱۰ (۳۴،۵ ٪) |
| هارډ پاور/جنګ ته لمن وهنه | ۳۴ (۷۷،۳ ٪) | ۱۵ (۵۱،۷ ٪) |
| سافټ پاور/سوله پالنه | ۳۸ (۸۶،۴ ٪) | ۲۴ (۸۲،۸ ٪) |

| | | |
|---|---|---|
| ټولیز اختیار لرنې/وروستي پرېکړه کوونکي تمثیل | ۳۴ (٪ ۷۷،۳) | ۵ (٪ ۱۷،۲) |
| ځواکونه ایستل | ۲۵ (٪ ۵۶،۸) | ۱۴ (٪ ۴۸،۳) |

د دویم جدول له امارو او ارقامو څرګندیږي، چې د دواړو ورځپاڼو په خبري پوښښ کې، تر ټولو ډېر تر سترګو شوی انډیکېټر سافټ پاور/سوله پالنه ؤ، چې د دواړو ورځپاڼو په٪۸۰ سلنه خبرونو موندل شوی ؤ. ورپسې مورال ځینه ؤ، چې په نیویارک ټایمز کې کابو ٪۸۰ او په چاینا ډیلي کې نږدې ٪۷۰ سلنه لیدل شوی ؤ. تر ټولو کمرنګه انډیکېټر په نیویارک ټایمز کې حکومت جوړونه او په چاینا ډیلي کې د وینا او کړنو تر منځ توپیر ؤ.

**د جنګ او سولې په رپوټولو کې د رسنیو رول**

رسنۍ د ژوند په ټولو اړخونو، کې مهم رول لري؛ نو د جنګ او سولې خبرونو په پوښښ کې یې هم اهمیت له پامه نه شو غورځولی. رسنۍ له خپلو عینکو، د ټولنیزو حقایقو په تعریف او ټولیزو افکارو اغېزمنولو کې ستره ونډه لري. ډېر کم شمېر ځیرک وګړي به، ښایي په دې پوه شي، چې رسنۍ پېښې څنګه انعکاسوي او تر شا یې څه موخې نغښتې؛ خو ګڼ شمېر خلک پرته له نیوکیز فکره له رسنیو تر لاسه کړیو پیغامونو پر بنیاد پرېکړې کوي او د رسنۍ له لیدلوري تعریف شوي واقعیتونه په پټو سترګو مني. له دې دا په ډاګه کېږي، چې که رسنیز لوبغاړي له نیوکیزې زاویې رپوټونه ونه کړي، نو د جګړه ییزو حالاتو پروپاګند به هرو مرو په رسنیو او مخاطبانو د حقایقو په نوم تپل کېږي.

د (Arno, 2009) له قوله، که له شخړو رپوټ ورکونه کې د رسنیو یو منفي اړخ دا دی، چې له جنګ جګړو به حتمي رپوټ ورکوي، خو بله خوا یې مثبت اړخ دا دی، چې د جګړو په کنټرول او کابو کې هم مهم رول لوبولی شي. له بده مرغه د رسنیو یوه بدګڼه/تور اړخ دا دی، چې تل پرته له نیوکیز فکره، یوازې د جګړې څرګند/برسېرن جزئیات وړاندې کوي. که رسنۍ د ټولنیز مسؤلیت نظریې له مخې، پېښې په نیوکیزه بڼه رپوټ کړي، د واکمنو او جګړه ییزو پالیسیو جوړوونکو د شومو موخو په وړاندې ستر خنډ جوړېدای شي. د سولې مخکښ لیکوال جان ګلټونګ هم په دې نظر دی، چې که رسنۍ د خبري ځانګړنې (شخړې) له مخې د جګړو رپوټ ته نه، نه شي ویلی؛ لږ تر لږه دې یوازې د جنګ او تاوتریخوالي رپوټ نه ورکوي (Galtung & Fischer, 2013).

د جګړه ییزو پېښو رپوټ ورکونه کې، د رسنیز بهیر لوبغاړي/رسنۍ باید د واکمنو کړیو، جنګي ستراتیژي جوړوونکو او... تر اغېز لاندې را نه شي او جګړې د لاملونو اړوند د پردې تر شا پټ حقایق او واقعیتونه باید د دوی د دروغو او پروپاګند قرباني نه کړي. امریکا د سپټمبر ۱۱مې پېښې په غچ کې، د ۲۰۰۱زېږدیز کال اکټوبر میاشتې په اوومه نېټه، په افغانستان یوازې د القاعدې او نورو ترهګریزو ډلو ځینې تر شعار لاندې پوځي یرغل وکړ. دوی تور پورې کړ، چې د القاعدې مشر اسامه بن لادن، د افغانستان له خاورې یاد برید طرحه کړی؛ هلته یې پټنځایونه لري او پناه یې اخیستې. رسنیو دا ټولې پېښې، پرته نیوکې په پټو سترګو رپوټ کړې، خو کابو یوه لسیزه وروسته، په ۲۰۱۱ کې د مې په دویمه نېټه د القاعدې مشر د پاکستان پوځي او تر ټولو امن ساحه ایبټ آباد کې د امریکا ځانګړو ځواکونو په شپني برید کې ووژل شو. خو یوې رسنۍ هم امریکا ونه ننګوله، چې په افغانستان یې د اسامه د پټنځای یوې تشې ادعا له مخې، بې له ځنډه نظامي تېری وکړ، خو د پاکستان په وړاندې چوپه خوله ده؛ له دې ها خوا، یوې رسنۍ امریکا ونه پوښتله، چې د ترهګرۍ ځینه، مرز او پولې نه پېژني؛ نو ولې په کویټه کې، د طالبانو رهبرۍ خوندي ځایونو او جنګېدونکو ډلو روزنځایونو په اړه اقدام نه کوي (Tiwari, 2016). له دې ځرګندونو په ډاګه کېږي، چې رسنۍ په پراخه کچه د واکمنو او ځواکمنو کړیو په ولکه کې دي او د هغوی د پروپاګند لپاره یوازې د لوډسپیکر رول لوبوي؛ که نه امریکا او نړیوال ملاتړي یې نن باید په نړیواله کچه رسنیو ننګولي وای، چې شل کاله وروسته ولې لا هم په خپل ماموریت کې پاتې راغلي دي.

**د امریکا او چین بهرنۍ پالیسۍ او پر رسنیو یې اغېز**

د امریکا پخواني ولسمشر بوش اداري پر مهال امریکا ظاهرا، یوازې جنګي ستراتیژي پر مخ وړه. له هغه وروسته، د اوبا د واکمنۍ پرمهال کړنلاره بدله شوه، چې له افغان حکومت سره د طالبانو د جنګیالیو بیا یو ځای کېدو، پخلاینې او بالاخره قطر کې د طالبانو سیاسي دفتر پرانیستنې، د طالبانو او افغان حکومت تر منځ سولې، روغې جوړې او سیاسي جوړجاړي لپاره لاره هواره کړه (Cassidy, 2012). همدارنګه د ټرامپ اداري هم د افغانستان په اړه، په خپله بهرنۍ پالیسي کې، د طالبانو له مشرانو سره د سولې خبرو اترو، پوځیانو ایستلو، حکومت جوړونه او له ژمنې سرغړونې په صورت کې طالبانو پر وړاندې جنګ او... باندې تمرکز درلود (Dorani, 2019 and Thomas, 2019). خو د افغانستان په اړه د چین بهرنۍ پالیسي په سافټ پاور، سوله ییز

پرمختګ او سوله ییزې نړۍ رامنځته کولو باندې څرخېده (Lanteigne, 2009; Ross & Bekkevold, 2016). د څېړونکي له خوا د دواړو هېوادونو بهرنیو پالیسیو ته په کتو، په افغان خاوره د روانې جګړې په اړه د نیویارک ټایمز او چاینا ډیلي له رپوټونو، ځینې ټراو لرونکي ټکي په نښه او د دې څېړنې د انډیکټرو Indicators په توګه وکارول شول.

د ترهګرۍ په وړاندې مبارزې له مخې، د امریکا او نړیوالې ټولنې، د خبرو او کړنو تر منځ لویه فاصله ده. ویښ او نیوکیز خبریالان باید پېښې په مسؤلانه ډول رپوټ کړي. د بېلګې په توګه د نیویارک ټایمز څېړل شویو خبرونو کې راغلي: (*پاکستان کې د طالبانو خوندي ځایونه؛ د چا غبږ مهم دی، بهرنیان، چې جنګ ته مو هڅوي، که خپل خلک چې سولې ته مو ورکاږي؛ په پاکستان فشار راوستل، څو د ترهګرو ډلو له ملاتړ لاس واخلي؛ له کلونه دوه مخي چلند وروسته، د پاکستان همکاري؛ د سولې بهیر د افغانانو دی او افغانان به یې رهبري کوي).*

نیویارک ټایمز یادې ادعاوې، د ملکي او نظامي لوړ پوړو امریکایي چارواکو له خولې رپوټ کړې. خو په رپوټونو کې یې، د دوی دا څرګندونې، نه دي نقد کړې؛ څو دا وپوښتي، چې ولې د State Terrorism په وړاندې غلي دي او د افغان سولې بهیر کې ولې مستقیمې مداخلې کوي. ځکه چې رسنۍ د سیاسیونو، واکمنو، نظامي ستراتیژي جوړوونکو او اشرافو تر ژور اغېز لاندې دي. د دې پر ځای چې د عامو وګړو رښتینی غبږ خپور، د دوی دورغ او پروپاګند یې تل د خبرونو لوی سرټکي وي. که رسنۍ د عامو خلکو نا ویل شوې کیسې خپرې کړي، د Elite طبقې ټولې دروغجنې ادعاوې، مکرجنې کیسې او پټې معاملې بربنډېږي. د (Bennett, 2016) څېړنې له مخې، د ۲۰۰۳-۲۰۰۲ کلونو تر منځ، د عراق په اړه د امریکا نوموتو رسنیو د بوش ادارې دروغجنه ادعا په پراخه کچه خپره کړه، چې بغداد د سترې تباهۍ وړ وسلې لري؛ خو وروسته په ډاګه شوه، چې عراق دا وسلې نه لرلې او د امریکا د وخت ادارې یوه تشه ادعا وه.

همدارنګه د سافټ پاور/سولې پالنې له اړخه هم، د یادو ورځپاڼو په منځپانګه کې ځینې ټکي د نقد وړ وو. د افغان سولې په ټراو بار بار ویل شوي وو، چې دا پروسه د افغانانو ده او افغانان به یې پر مخ وړي، خو ټولو ته څرګنده ده، چې امریکا او په افغان خاوره د روان جنګ د ګټو شریکان، په خومره سپین سترګۍ په یاده پروسه کې مداخلې کوي او په ډېرۍ پرېکړو کې موجوده حکومت په انزوا کې ښکاري. د دې تر څنګ هارډ پاور/جنګ ته لمن وهنه برخه کې هم ځینې مهم ټکي د یادو ورځپاڼو له منځپانګې نوټ شوي، چې د تبصرې وړ دي. د بېلګې په

توگه (*په طالبانو نظامي فشار زیاتول، ځکه سوله په سوال زاریو نه راځي؛ پر طالبانو د هوایي بریدونو توپان؛ په طالبانو حملو زیاتېدو، دوی د سولې خبرو ته چمتو کړل؛ د نړیوالو ځواکونو ۷۰۰۰بېلابېلې حملې؛ هره میاشت د افغان او بهرنیو ځواکونو ګډې لسګونه چاپې*) له بلې خوا د نیویارک ټایمز د یوه رپوټ په حواله، د طالبانو ویاند سهیل شاهین خبره نقل کړې وه، چې: ((*ځومره مو چې وژني، هغومره مو وینه په جوش راځي*)). د رسنیز بهیر لوبغاړو له یوه اړخ نه هم ونه پوښتل، چې د سولې مذاکراتو په بهیر کې دا ډول ځرګندونې پرته له دې، چې د جنګ اور ته نور هم پوکی ورکړي، نور هېڅ ګټه نه لري.

په دې سربېره، امریکا او نړیوال ملاتړي یې په افغانستان کې د حکومت جوړونې چیغې وهي. خو د خپلو پټو معاملو او شیطاني ځرګندونو واسطه، ببرته د همدې پښې وهي او جرړې یې وباسي. لکه (*د طالبانو د معارف چارواکي؛ سیاسي مخالفین، افغان سرکار د امریکا هر امر ته، بلې بلې ویونکی سړی بولي؛ د افغان راتلونکي سیاسي جوړښت لپاره نقشه؛ اساسي قانون کې بدلون راوستل؛ په پراخه کچه نا امني او فساد او...*)، په داسې حساسو شرایطو کې، دا د دواړو ورځپاڼو په خپرل شوې منځپانګه کې هغه ځرګندونې وې، چې د حکومت مورال ځپي او لا یې د تزلزل خوا ته بیایي.

دې ته ورته د مورال ځپنې له اړخه هم، ډېرې داسې ځرګندونې په رپوټونو کې ځای شوې وې، چې د حکومت ثبات او قوت ته زیان اړوي. لکه (طالبانو په حکومت فشار زیات کړی؛ طالبان په جنګ کې، په حکومت برلاسي دي؛ طالبان د حکومت په نسبت، ښه مجهز او مسلح دي؛ خلک له افغانستان په تېښته دي؛ د افغان حکومت انزوا او په مهمو پرېکړو کې، افغان چارواکي له پامه غورځول)، دا ټولې هغه ځرګندونې دي، چې نېغ په نېغه د حکومت مورال ځپي او د ترهګرو په وړاندې یې دریځ کمزوری کېږي. د پورتنیو موندنو په اساس ویلی شو، چې ازاد او د حکومت تر کنټرول لاندې/سانسور کېدونکي مطبوعات، هسې د ټولیزو افکارو د ګمراهۍ او تېر ایستنې لپاره تش نومونه دي. ځکه د دواړو ورځپاڼو رپوټرانو د واکمنو ډلو شومې موخې او کړنې نه وې نقد کړې. که په یادو مسایلو انتقادي رپوټونه شوي وی، لرې نه وه، چې ژر تر ژره به روانو ناخوالو ته د پای ټکی ایښودل شوی ؤ.

**پایله**

په دې څېړنیزه مقاله کې، په افغان خاوره د روانې جګړې او سولې هڅو په خبري پوښښ کې،

په نیویارک ټایمز او چاینا ډیلي ورځپاڼو د امریکا او چین هېوادونو د بهرنیو پالیسیو اغېزې ارزول شوې دي. څېړنه د Framing (Entman, 1993) تیورۍ په رڼا کې، د Indexing Theory (Bennett, 1990) تیورۍ له مخې ترسره شوې ده. یادې تیورۍ ته د بېلاغلي بېښې په (1993; 1995; 2011) څېړنیزو اثارو کې پراختیا ورکړل شوې ده. د څېړنې موخه دا وه، څو معلومه کړي، چې په افغانستان کې د شخړو او سولې خبرو اترو په خبري پوښښ کې، یادې ورځپاڼې د خپلو هېوادو د بهرنیو پالیسیو تر اغېز لاندې راغلې دي، که نه؛ د دې تر څنګ له کمي اړخه، دا په ډاګه کړي، چې که تر اغېز لاندې وي، د دې اغېز کچه به څومره وي. د یادو څېړنیزو موخو لاسته راوړنې په پار، د دواړو ورځپاڼو له وېب پاڼو ټولټال ۱۴۴ خبرونه/رپوټونه را اخیستل شوي وو، چې د یوه خاص میکانیزم له مخې، (په Sampling برخه کې بشپړه تشریح شته) له دواړو ورځپاڼو ۷۳ بېلګه ییزې خبري سټورۍ د څېړنې او ارزونې په موخه وټاکل شوې، چې ۴۴ د نیویارک ټایمز او ۲۹ د چاینا ډیلي ورځپاڼې وې. د Indexing تیورۍ په رڼا کې، د ټاکلو انډیکېټرو له مخې په دواړو ورځپاڼو *سافټ پاور/سوله پالنه* او *مورال څېنه* انډیکېټر ډېر موندل شوي وو، چې په نیویارک ټایمز کې په ترتیب سره په ۳۸ او ۳۵ خبري سټوریو او په چاینا ډیلي کې په ۲۴ او ۲۰ رپوټونو کې تر سترګو شوي وو. تر ټولو لږ تر سترګو شوي انډیکټر، د نیویارک ټایمز په خبري پوښښ کې *حکومت جوړونه* او په چاینا ډیلي کې *د وینا او کړنو تر منځ توپیر* ښودل شوی ؤ. له کیفي اړخه، د څېړنې موندنې دا ښیي، چې دواړه ورځپاڼې په افغان خاوره د روان ناورین او سولې بهیر په خبري پوښښ کې، د خپلو هېوادونو بهرنیو پالیسیو تر اغېز لاندې راغلې وې. د دوی په خبري منځپانګه کې په بار بار هغو ټکو ته ځای ورکړل شوی ؤ، چې د دوی واکمنې ډلې، سیاسیون، نظامي ستراتیژي او بهرنۍ پالیسي جوړوونکي او په ټوله کې اشراف یې ویل او تر خلکو رسول غواړي. خو یوازې د سیاسیو، واکمنو، اشرافو او... چارواکو خولې ته کېناستل او له دروغجنو او مکرجنو کیسو یې خبرونه او رپوټونه جوړول او تر مخاطبه رسول د سولې ژورنالېزم په وړاندې ستر زیاتی دی. که رسنۍ خپل رښتینی ځواک درک کړي، د نیوکیزې او پلټونکې خبریالۍ پر مټ، د پېښو له څرګندو جزئیاتو ها خوا، د پېښو اصلي رېښې او پټ اړخونه را وسپړي، د واکمنو ډلو په وړاندې به یو ستر ګوزار وي؛ خو د ټولنیز مسؤلیت نظریې مطابق به د عامو وګړو زړونه ګټل شوي او په ټولنه کې مثبتو بدلونونو ته لاره هواره شوې وي. د رسنیز بهیر لوبغاړو ته په کار ده، چې د وجداني او ټولنیز

مسؤلیت له مخې، د نیوکیزې رپوټ ورکونې له لارې، د جنګي حالاتو په خبري پوښښ کې، د ټولو اړخونو شومې موخې، پټې معاملې او دروغجنې ادعاوې، مخاطبانو ته په ډاګه کړي؛ څو د جګړې ترینګلتیا او پیچلتیا له منځه لاړه شي او د تلپاتې او ټولمنلې روغې جوړې، پخلاینې او سولې لپاره لاره هواره شي.

## References


Achikzad, F. F. (2012). Rebuilding Afghanistan- Practical Measures for Improving the Economy. *Middle East Institute*. Retrieved from https://www.mei.edu/publications/rebuilding-afghanistan-practical-measures-improving-economy

Aday, S. (2010). Chasing the bad news: An analysis of 2005 Iraq and Afghanistan war coverage on NBC and Fox News channel. *Journal of Communication*, *60*(1), 144–164. https://doi.org/10.1111/j.1460-2466.2009.01472.x

Ahmed, S. (2017). The Exclusion of the Taliban from Afghanistan's State-Building and Its Human Security Vulnerabilities. *IAFOR Journal of Politics, Economics & Law*, *4*(1), 14–28. https://doi.org/10.22492/ijpel.4.1.02

Aljazeera. (2018, November 19). Taliban holds talks with US envoy in Qatar. *Al Jazeera*. Retrieved from https://www.aljazeera.com/news/middleeast/2018/11/taliban-hold-talks-envoy-qatar-181118085252177.html

Althaus, S. L. (2003). When News Norms Collide, Follow the Lead: New Evidence for Press Independence. *Political Communication*, *20*(4), 381–414. https://doi.org/10.1080/10584600390244158

Altschull, J. H. (1995). *Agents of Power: The Media and Public Policy* (2nd ed.). Retrieved from https://archive.org/details/agentsofpowermed00alts

An, S. K., & Gower, K. K. (2009). How do the news media frame crises? A content analysis of crisis news coverage. *Public Relations Review*, *35*(2), 107–112. https://doi.org/10.1016/j.pubrev.2009.01.010

Arno, A. (2009). Alarming Reports: Communicating Conflict in the Daily News. In *Journal of Chemical Information and Modeling* (Vol. 53). New York & Oxford: Berghahn Books.

Baral, J. K. (2013). The Afghan Game: Interests and Moves. *Strategic Analysis*, *37*(6), 700–715. https://doi.org/10.1080/09700161.2013.847038

Bennett, W. L. (1990). Toward a Theory of Press-State Relations in the United States. *Oxford Academic Journal of Communication*, *40*(2), 103–127. Retrieved from https://doi.org/10.1111/j.1460-2466.1990.tb02265.x

Bennett, W. L. (2011). *News: The Politics of Illusion* (9th Editio). Pearson.

Bennett, W. L. (2016). Indexing Theory. *The International Encyclopedia of Political Communication*, 1–5. https://doi.org/10.1002/9781118541555.wbiepc180

Bennett, W. L., & Lawrence, R. G. (1995). News Icons and the Mainstreaming of Social Change. *Journal of Communication*, *45*(3), 20–39.

https://doi.org/10.1111/j.1460-2466.1995.tb00742.x

Bennett, W. L., Lawrence, R. G., & Livingston, S. (2006). None dare call it torture: Indexing and the limits of press independence in the Abu Ghraib scandal. *Journal of Communication, 56*(3), 467–485. https://doi.org/10.1111/j.1460-2466.2006.00296.x

Bennett, W. L., Lawrence, R. G., & Livingston, S. (2007). *When the press fails: Political power and the news media from Iraq to Katrina*. Chicago: The University of Chicago Press.

Bennett, W. L., & Manheim, J. B. (1993). Taking the public by storm: Information, cuing, and the democratic process in the gulf conflict. *Political Communication*, *10*(4), 331–351. https://doi.org/10.1080/10584609.1993.9962998

Bowman, S., & Dale, C. (2009). War in Afghanistan : Strategy , Military Operations , and Issues for Congress.

Cassidy, R. M. (2012). War, Will, and Warlords: Counterinsurgency in Afghanistan and Pakistan, 2001-2011. In *RUSI Journal* (Vol. 157). https://doi.org/10.1080/03071847.2012.697294

CBSnews. (2018, December 17). 3Rd Round. *CBS Interactive Inc*. Retrieved from https://www.cbsnews.com/news/us-taliban-talks-uae-no-afghanistan-reps-pakistan-saudi-arabia-khalilzad/

Chomsky, N. (1989). Necessary illusions. In *Sight and Sound* (Vol. 14).

Cohen, B. C. (1963). *The press and foreign policy*. Retrieved from https://www.jstor.org/stable/j.ctt183q0fp

Collins, J. J. (2011). *Understanding War in Afghanistan*. Washington, D.C.: NDU Press.

Cordesman, A. H. (2019). *Afghanistan : A War in Crisis !* 1–291. Retrieved from https://www.csis.org/analysis/afghanistan-war-crisis

Cornish, E., & Timory, S. (2013). Afghanistan Peace and Reintegration Programme: (UNDP Support) 2013 ANNUAL PROJECT PROGRESS REPORT.

Cristol, J. (2019). The United States and the Taliban before and after 9/11. In *The United States and the Taliban before and after 9/11*. https://doi.org/10.1007/978-3-319-97172-8

Dorani, S. (2019). America in Afghanistan: Foreign Policy and Decision Making From Bush to Obama to Trump. London, UK: Bloomsbury Publishing Plc.

Druckman, J. N., & Holmes, J. W. (2004). Does Presidential Rhetoric Matter? Priming and Presidential Approval. *Presidential Studies Quarterly*, *34*(4), 755–778. https://doi.org/10.1111/j.1741-5705.2004.00222.x

Druckman, J. N., & Nelson, K. R. (2003). Framing and Deliberation: How Citizens' Conversations Limit Elite Influence. *American Journal of Political Science*, *47*(4), 729–745. https://doi.org/10.1111/1540-5907.00051

Edwards, D. B. (2002). *Before Taliban: Genealogies of the Afghan Jihad*. https://doi.org/10.1525/ae.2002.29.4.1048

Edwards, G. C., & Wood, B. D. (1999). Who Influences Whom? The President, Congress, and the Media. *American Political Science Review*,

*93*(2), 327–344. https://doi.org/10.2307/2585399
Entman, R. M. (1993). Framing: Toward Clarification of a Fractured Paradigm. *Journal of Communication*, *43*(4), 51–58. https://doi.org/10.1111/j.1460-2466.1993.tb01304.x
Entman, R. M. (2003). Cascading Activation: Contesting the White House's Frame after 9/11. *Political Communication*, *20*(4), 415–432. https://doi.org/10.1080/10584600390244176
Entman, R. M. (2004). Projections of Power: Framing News, Public Opinion, and U.S. Foreign Policy (U. of C. Press, Ed.). Chicago.
Ewans, M. (2005). Conflict in Afghanistan: Studies in asymmetric warfare. In *Conflict in Afghanistan*. https://doi.org/10.4324/9780203312544
Fazly, H. (2016). THE DEADLOCK OF AFGHAN PEACE PROCESS Table of Contents :
Foxley, T. (2014). Changing the message: improving the prospects for conflict resolution in Afghanistan. (December).
Galtung, J., & Fischer, D. (2013). Johan Galtung: Pioneer of Peace Research. In H. G. Brauch (Ed.), *Journal of Peacebuilding & Development* (Vol. 10). https://doi.org/10.1007/978-3-642-32481-9
Gitlin, T. (1980). The whole world is watching: Mass Media in the Making & Unmaking of the New Left. California: University of California Press.
Gopal, A. (2014). AMERICA, TALIBAN, AND THE WAR THROUGH AFGHAN EYES: No Good Men Among the Living.
Gritzner, J. A., & Shroder, J. F. J. (2007). *Afghanistan* (2nd ed.; C. F. Gritzner, Ed.). New York: Infobase Publishing.
Hamdy, N., & Gomaa, E. H. (2012). *Framing the Egyptian Uprising in Arabic*. 1–17. https://doi.org/10.1111/j.1460-2466.2012.01637.x
Hamid, A. (2014). A comparative study of Pakistani and British press regarding the framing of Afghanistan war 2001. (July).
Hansler, J. (2020). *US and Taliban sign historic agreement*. Retrieved from https://edition.cnn.com/2020/02/29/politics/us-taliban-deal-signing/index.html
Herman, E. S., & Chomsky, N. (1988). Manufacturing consent The political economy of the mass media. The Bodley Head.
Ikram-Ul-Haq, H. M. (2018). THE GEOPOLITICS OF PEACE PROCESS : A CASE STUDY OF POST 9 / 11 AFGHANISTAN. Central University of Punjab.
Jain, R. (2019, July 9). *U.S., Taliban talks end after rival Afghans agree on "roadmap for peace."* Retrieved from https://www.reuters.com/article/us-usa-afghanistan-talks/u-s-taliban-talks-end-after-rival-afghans-agree-on-roadmap-for-peace-idUSKCN1U40KY
Jarstad, A. K. (2012). Paving the way for Taliban rule , civil war or a new start for Afghanistan ? 1–24.
Johnson, R. (1979). *The Soviet – Afghan War 1979-89*. OSPREY PUBLISHING.
Johnson, T. H., & Mason, M. C. (2007). Understanding the Taliban and Insurgency in Afghanistan. *Elsevier*, *51*(1), 71–89.

https://doi.org/10.1016/j.orbis.2006.10.006
Kaura, V. (2018). *Understanding the Complexities of the Afghan Peace Process*. (April). Retrieved from https://www.orfonline.org/wp-content/uploads/2018/04/ORF_Occasional_Paper_151_Afghanistan.pdf
Khan, M. H. J., & Pervaz, I. (2016). ENDURING PEACE IN AFGHANISTAN; FINDING ROLE FOR UN. 107–126.
Khan, R. M., & Abbasi, A. (2016). The Afghan peace process: strategic policy contradictions and lacunas. *IPRI Journal*, *16*(1), 59–74. Retrieved from http://libproxy.unl.edu/login?url=http://search.ebscohost.com/login.aspx?direct=true&db=ijh&AN=66.7502&login.asp&site=ehost-live
Kuehn, F. (2018). Taliban history of war and peace in Afghanistan.
Lanteigne, M. (2009). Introduction to the Special Issue: New Trends in Chinese Foreign Policy. In *Asian Security*. Routledge.
Linschoten, A. S. Van, & Kuehn, F. (2012). *An enemy we created: the myth of the Taliban-Al Qaeda merger in Afghanistan*. https://doi.org/10.5860/choice.50-4687
Maass, C. D. (2006). National Reconciliation in Afghanistan. Conflict History and the Search for an Afghan Approach. *Internationales Asienforum*, *37*(1–2), 5–35. https://doi.org/10.11588/iaf.2006.37.343
McQuail, D. (2010). *Mass Communication Theory* (5th ed.). SAGE Publications Ltd.
Mohammadi, D. (2018). Reconciliation and Reintegration ( R2 ), A Failed or Successful Initiative in Afghanistan ( The Case of APRP ). (June 2018).
Mouffe, C. (1979). *Gromsci and Marxist Theory Edited by*. London: Routledge & Kegan Paul Ltd.
Najibullah, H. (2017). Reconciliation and Social Healing in Afghanistan. Retrieved from Print
Noorzai, R. (2012). The Role of Media in Framing of the Afghan Conflict and the search for Peace. (August).
Pandey, S. (2019). Exploring the Prospects for a Negotiated Political Settlement with the Taliban : Afghanistan ' s Long Road to Peace. (279).
Powell, J. (2014). *Talking to terrorists: How to end armed conflicts* (p. 408). p. 408. Retrieved from https://books.google.se/books/about/Talking_to_Terrorists.html?id=KmfQz2ynnAUC&redir_esc=y
Qazi, S. (2019, August 14). "Peace deal is near": What we know so far about US-Taliban talks. *Al Jazeera*. Retrieved from https://www.aljazeera.com/news/2019/05/taliban-talks-peace-afghanistan-190510062940394.html
Rasanayagam, A. (2002). *Afghanistan: A Modern History* (I. B. TAURIS, Ed.). London - New York.
Rasul, A. (2010). Elite Perceptions: South Asian English newspapers and the war on terror in Afghanistan.
Rasul, A., Robinson, B. C., & McDowell, S. D. (2016). The Taliban factor: conflict in Afghanistan and elite South Asian newspapers†. *Journal of*

*International Communication*, *22*(2), 273–292. https://doi.org/10.1080/13216597.2015.1106960

Rasul, A., Shahzad, K., Bilir, D., & Rasul, M. E. (2017). Don’t Laugh When Your Neighbor’s Oven is on Fire: Coverage of Afghan Conflict in the Elite Press of China, India, Iran, and Pakistan. *Journal of Media Critiques*, *3*(12), 193–211. https://doi.org/10.17349/jmc117411

Robinson, P., Goddard, P., Parry, K., & Murray, C. (2009). Testing models of media performance in Wartime: U.K. tv news and the 2003 invasion of Iraq. *Journal of Communication*, *59*(3), 534–563. https://doi.org/10.1111/j.1460-2466.2009.01435.x

Ross, R. S., & Bekkevold, J. I. (Eds.). (2016). *China in the era of Xi Jinping: Domestic and foreign policy challenges*. Washington, DC: Georgetown University Press.

Rotman, A. F. (2018, November 10). Moscow shows it’s back in the ‘Great Game’ by hosting Taliban-Afghan peace talks. *Washington Post*. Retrieved from https://www.washingtonpost.com/world/europe/in-a-first-moscow-prepares-to-host-afghan-talks-between-taliban-and-kabul-envoys/2018/11/08/1adffc42-e2a4-11e8-b759-3d88a5ce9e19_story.html

Royo Aspa, J. M., Urgell García, J., Urrutia Arestizábal, P., Villellas Ariño, A., & Villellas Ariño, M. (2018). *Peace Talks in Focus 2019. Report on Trends and Scenarios*. Retrieved from https://reliefweb.int/sites/reliefweb.int/files/resources/negociaciones19i_0.pdf

Scheufele, D. A. (2000). Agenda-Setting, Priming, and Framing Revisited: Another Look at Cognitive Effects of Political Communication. *Mass Communication & Society*, *5436*(August 2014), 37–41. https://doi.org/10.1207/S15327825MCS0323

Schoch, C. J. (2011). Blood on Their Hands: Media Framing of the Afghan War Diary Leaks. (December).

Schwalbe, C. B. (2006). Remembering our shared past: Visually framing the Iraq war on U.S. news websites. *Journal of Computer-Mediated Communication*, *12*(1), 264–289. https://doi.org/10.1111/j.1083-6101.2006.00325.x

Sediqi, A. Q., & Jain, R. (2019a, May 9). Sixth round of Taliban-U.S. peace talks end. *REUTERS*. Retrieved from https://www.reuters.com/article/us-usa-afghanistan-talks/sixth-round-of-taliban-u-s-peace-talks-end-idUSKCN1SF1PR

Sediqi, A. Q., & Jain, R. (2019b, August 23). Ninth round of U.S., Taliban peace talks start in Qatar. *REUTERS*. Retrieved from https://www.reuters.com/article/us-usa-afghanistan-talks/ninth-round-of-us-taliban-peace-talks-start-in-qatar-idUSKCN1VC2A7

Seerat, R. A. (2015). *China ’ s Role in Afghan-Taliban Peace Talks : Afghan Perspectives*. (24), 11. Retrieved from http://www.icsin.org/uploads/2015/08/24/6f949b585a51f6f4fd06226212c951aa.pdf

Shah, T., & Nordland, R. (2018, July 28). U.S. Diplomats Held Face-to-Face

Talks With Taliban, Insurgents Say. *New York Times*. Retrieved from https://www.nytimes.com/2018/07/28/world/asia/us-taliban-afghanistan-talks.html

Sheikh, M. K., & Greenwood, M. T. J. (2013). *Taliban Talks: Past, Present and Prospects for the US, Afghanistan and Pakistan*. Retrieved from http://subweb.diis.dk/graphics/Publications/Reports2013/RP2013-06-Taliban-Talks_web.jpg.pdf

Strickland, M. R. T. (2006). THE MUJAHIDEEN: PRECURSORS TO THE TALIBAN. *Canadian Army Journal*, *9*(2), 74.

Thomas, C. (2019). Afghanistan: Background and U.S. Policy In Brief. *Congressional Research Service*.

Tiwari, S. (2016). Understanding Taliban and the Peace Process. *Indian Council of World Affairs*, 1–27.

Tolonew. (2019, March 12). US-Taliban Talks Enter Third Day, 'Ceasefire Discussed.' *ToloNews Website*. Retrieved from https://tolonews.com/afghanistan/us-taliban's-qatar-talks-end-agreements

Tolonews. (2019, March 12). US-Taliban's Qatar Talks End With 'Agreement In Draft.' *Tolonews Website*. Retrieved from https://tolonews.com/afghanistan/us-taliban's-qatar-talks-end-agreements

UNDP. (2017). Afghanistan Peace and Reintegration Programme ( UNDP Support ) PROJECT COMPLETION REPORT. (April).

Vishwakarma, M. K. (2017). the Role of United Nations Peace Building Process in Afghanistan in the Post-Taliban Era. 5(6), 77–90.

Zaki, M. (2019). The Peace Puzzle : A Study of Afghanistan Peace Process The Peace Puzzle : A Study of Afghanistan Peace Process Mohammad Mahdi Zaki. (November 2018).

Zelizer, B., & Allan, S. (Eds.). (2011). *Journalism After September 11* (2nd ed.). Routledge.

# شرعي نکاح او افغاني غیرشرعي دودونه

لیکونکی : پوهنیار خطاب الله خطاب، شیخ زاید پوهنتون، شرعیاتو پوهنځی اسلامي ثقافت څانګې استاد
تقریظ ورکوونکی: پوهندوی سیدولي شاه مندوزی داقتصاد پوهنځي استاد

**لنډیز**

داچې نکاح او واده د الله تعالی د نعمتونو څخه یو ستر نعمت او د بشر د نسل د زیادت لامل ده او همدارنګه د یوې سالمې ټولنې په تشکیل کې مهم رول لري ځکه کورنۍ د ټولنې بنسټ ګڼل کیږي او کورنۍ د نکاح او واده پرته نه رامنځ ته کیږي اسلامي شریعت نکاح ډېره اسانه کړې؛ترڅو هر مسلمان ددې نعمت څخه برخمن شي،خو په خوا شینۍ سره چې زموږ افغانۍ ټولنه کې ډېر داسې دودونه په واده کې ځای پرځای شوي،چې ډېری ځوانان یې ددغه ستر نعمت څخه بې برخې او ډېرې ستونزې رامنځ ته کړي د بېلګې په ډول د ولور دود او رسم،خرڅې(دواده مصارف د هلکك له کورنۍ څخه اخستل)،د ناوې لپاره ډېرې قیمتي جوړې اخیستل،د واده ډوډۍ کې اسراف کول،نکاح پلار او د بدل نکاح شوه،دا ټول هغه ناروا دودونه دي چې افغاني ټولنه کې واده ستونزمن کړی، د الله تعالی څخه غواړم چې زموږ ټولنې ته له دغو بدو دودونو څخه نجات ورکړي.

**کلیدي ټکي:** بدل نکاح، خرڅې،، نکاح پلار، نکاح پېژندنه، ولور، ولیمه.

**سریزه**

الحمد لله وکفی والصلوة والسلام علی من لا نبی بعده اما بعد:

دا چې الله تعالی انسان یو اجتماعي مخلوق پیدا کړی اجتماع او ټولنې ته اړتیا لري انفرادي ژوند په سمه توګه نشي کولای او همدارنګه ټولنیز ژوند د انسان فطري غوښتنه ده او الله تعالی د انسان سالم فطرت ته اهمیت ورکړی دی. اوس ټولنه د کورنۍ څخه تشکیلیږي او کورنۍ د یو نارینه او یوې ښځینه څخه رامنځ ته کیږي؛ نو د ټولنیز ژوند او د انساني نسل د بقاء لپاره الله تعالی په هر امت باندې نکاح کول لازم کړي دي.لکه الله تعالی فرمایي: (وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلاً مِّن قَبْلِكَ وَجَعَلْنَا لَهُمْ أَزْوَاجًا وَذُرِّيَّةً ) [الرعد:۳۸]

ژباړه : په تحقیق سره ستا نه وړاندې مو پیغمبران لیږلي وو او هغوی ته مې ښځې او اولادونه ورکړي وو. همدارنګه نبي علیه السلام فرمایلي دي : (اربع من سنن المرسلین الحیاء والتعطر والسواک والنکاح ) (۲۵۴:۱۵)

ژباړه: څلور شیان د ټولو انبیاؤ سنت دي حیاء، خوشبويي استعمال ، مسواک وهل او نکاح کول.

د پورته ایت شریف او حدیث څخه څرګنده شوه، چې نکاح په مخکنیو امتونو کې هم وه . بیا د جاهلیت په دور کې د نکاح ډولونه زیات شول ، خو د اسلام د لمر د وړانګو په راختلو سره ټولې د جاهلیت نکاحګانې حرامې او یوازې شرعي نکاح باقي پاتې شوه.

اوس الحمدلله زموږ افغاني ټولنه یوه اسلامي ټولنه ده نکاحګانې زموږ شرعي نکاحګانې دي ؛ خو ځینې غیر شرعي کارونه مو ورسره یو ځای کړي دي، چې زموږ د ټولنې سرخوږی ګرځیدلی او په مشقت کې یې غورځولي یو، چې هغه ناروا رسمونه او رواجونه دي ،چې په لاندې څو کرښو کې یې لیکل غواړم. خو اول باید شرعي نکاح وپیژنو.

**موخې**

لوستونکي به په دې وتوانیږي چې:

۱- شرعي نکاح وپېژني.

۲- د ولور په شرعي حکم پوه شي.

۳- دخرڅي او اړوند بې ځایه لګښتونو په ناروا والي پوه شي.

۴- د بدل نکاح په حکم پوه شي.

**د کار توکي او کړنلاره**

ددې مقالې د لیکلو په لړ کې مې دا تګلاره غوره کړې ده :د تحقیق او لیکنې کړنلاره مې کتابتوني ده ، چې د هرې مسئلې په اړه مې اول دقرآن کریم څخه دلیل راوړی او د ایت پښتو ژباړه مې هم کړی ده، په دویم قدم کې مي نبوي احادیثو ته مراجعه کړې ده اود حدیث د ذکر کولو په صورت کې مې د حدیث ژباړه هم کړی، د قرآن کریم او نبوي سنتو څخه وروسته د فقهې معتمدو او معتبرو متونو ته مې مراجعه کړې ده اود مسئلې اړوند مې د فقهاء نظریات روړي او د اړتیا په صورت کې مې راجح قول هم په نښه کړی، او مقاله مې په پښتو ژبه ده نو د پښتو لیک دود ټول معیارونه مې مراعت کړي.

**د نکاح لغوي پیژندنه**

په عربي ژبدود کې نکاح د وطي او عقد دواړو په معنی سره راځي؛ څکه چې نکاح کول د روا او حلالی وطی(جماع) لپاره سبب ده د نکاح کلمه چې د عقد په معنی سره راځي لکه عرب وایی(نَکَحْتُها ونَکَحَتْ هِيَ أي تزوَّجت) هغه مې په نکاح کړیده او هغې نکاح کړیده یعنی

دنکاح عقد يې کړيدی  او د وطی په معنی سره هم په کلام د عربو کې استعمال شويدی، عرب وايي( نَكَحَها : بَاضَعَهَا، وَ دَحَمَها) وطی يي کړه، يعني جماع يي ورسره وکړه.(۶۲۶-۴:۶۲۵:)

امام نسفي رحمه الله وايې: د نکاح لفظ په قرآنکريم کې د عقد او وطي(جماع) دواړو معناو سره راغلی دی .(۸:۲۴)

ترجيح: بهتره داده چې د نکاح لفظ د عقد او وطی دواړو معناووسره استعمال شي.

**د نکاح اصطلاحي معنی**

فقهاء د نکاح ګڼ شمير تعريفونه کړي دلته زه يواځې د حنفي  فقهاء تعريف ذکر کوم دوی وايي: (عَقْدٌ يُفِيدُ مِلْكَ الْمُتْعَةِ) . (۳:۲)

دا يو تړون دی چې له امله يې د (ښځی ) څخه دجنسي فائدې اخيستلو ملکيت په لاس راځي.

**د نکاح اهميت**

په اسلامي شريعت کې د نکاح اهميت او ارزښت د دې څخه هم څرګنديږي چې اسلام نکاح کولوته په مختلفو طريقو سره ترغيب ورکوي او نکاح نه کول بد ګڼي، پدی اړه ګڼ شمير قرأني نصوص، نبوي احاديث او د سلفو اقوال شتون لري، ځيني قراني نصوص داسې دي ؛ چې نکاح کول يې الهي ستر نعمت بللی دی چې پدې کې د بندګانو هوساينه او آرام دی او د اولادونو زيږول دي او ځيني قراني آياتونه داسې دي؛ چې په نکاح کولو امر کوي، دغه قرأني آياتونه، نبوي احاديث او د سلفو اقوال په لاندې ډول دي.(۱۰۵:۲۰)

**د نکاح په ترغيب کې قراني آياتونه**

۱-(وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُمْ مَوَدَّةً وَرَحْمَةً إِنَّ فِي ذَلِكَ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ).[الروم:۲۱]

ژباړه:او ځينی د نښو د قدرت د الله تعالی څخه دا دي؛ چې پيدا کړی يې دي تاسې ته ستاسو د نفسونو نه ستاسی ښځی د دې لپاره چې مايل شئ دوی ته او آرام ورته حاصل کړی او ګرځولی يې ده ستاسی (ميړه او ميرمن)په منځ کې دوستي او مهرباني بی شکه د ازواجو په منځ کې د مودت او رحمت پيدا کولو کې خامخا ډيرې نښې د قدرت دي د هغه قوم لپاره چې د الله په صنع کې فکر کوي.

۲-(وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُمْ مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَزْوَاجًا وَجَعَلَ لَكُمْ مِنْ أَزْوَاجِكُمْ بَنِينَ وَحَفَدَةً وَرَزَقَكُمْ مِنَ الطَّيِّبَاتِ أَفَبِالْبَاطِلِ يُؤْمِنُونَ وَبِنِعْمَتِ اللَّهِ هُمْ يَكْفُرُونَ) .[النحل:۷۲]

ژباړه: الله تاسی ته ستاسو د جنس نه ستاسی ښځی پیدا کړیدي؛ چې زړه مو ورته آرام شي او تاسو ته یې ستاسو له ښځو نه ستاسو زامن او لمسي پید کړیدي او رزق یې در کړیدی تاسوته د پاکیزه او خوندورو شیانو نه، آیا نو دغه کافران پر باطلو معبودانو ایمان راوړي او په نعمت د الله چې اسلام دی دوی کافران کیږي.

**د نکاح د ترغیب په اړه نبوي احادیث**

لکه څرنګه چې نکاح کول په اسلامي شریعت کې لوی ارزښت لري ؛ نو د ذکر شوو قرأني آیاتونو په څیر ځیني نبوي احادیث هم شته چې د نکاح طرف ته ترغیب ورکوي،د دغه احادیثو د جملی نه د نموني په ډول یو څو ستاسو مخ ته عرض کوم.

۱-عن عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه قال:كنا مع النبي صلى الله عليه و سلم شبابا لا نجد فقال لنا رسول الله صلى الله عليه و سلم ( يا معشر الشباب من استطاع منكم الباءة فليتزوج فإنه أغض للبصر وأحصن للفرج ومن لم يستطع فعليه بالصوم فإنه له وجاء ) .(۱۹۵:۱۱)

ژباړه: عبد الله بن مسعود رضی الله عنه ویلي دي : مونږ درسول الله صلی الله علیه وسلم سره د ځوانی په حالت کې وو خو څه مال مو نه لرلو، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته وویل: ای د ځوانانو ټولګیه! که په تاسو کې څوك د نکاح تکالیفو د برداشولو توان لري هغه دی نکاح وکړي، ځکه چې نکاح کول نظر لره ښکته کوونکی او د شرمګاه حفاظت او ساتنه کوونکی ده، او که څوك د نکاح د تکالیفو برداشولو توان نه لري هغه دی روژي ونیسي؛ ځکه روژي نیول د ده لپاره خصي کول دي.

۲-عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (مَنْ تَزَوَّجَ فَقَدِ اسْتَكْمَلَ نِصْفَ الْإِيمَانِ، فَلْيَتَّقِ اللَّهَ فِي النِّصْفِ الْبَاقِي).(۲۳۲:۱۸)

ژباړه: انس بن مالك رضی الله عنه فر مایلي دي؛ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایې: چاچې نکاح وکړه د ده نیمایې ایمان پوره شو او په باقي نیمایې ایمان کې دی د الله تعالی څخه وویریږي.

**نکاح ته د ترغیب په اړه د سلفو اقوال**

۱- عن سعيد بن جبيرقال : قال لي ابن عباس هل تزوجت ؟

قلت لا قال (فتزوج فإن خير هذه الأمة أكثرها نساء).(۱۹۵۱:۱۱)

ژباړه: سعید بن جبیر رحمه الله فرمایې: ماته عبد الله بن عباس رضي الله عنه وویل: آیا تا نکاح

کړیده؟ ما ورته وویل نه هغه راته وویل نکاح وکړه؛ ځکه ددې امت غوروالی او بهتروالی پدې کې دی،ډیرې ښځې ولري.

۲ــــ عَنْ طَاوُسٍ، قَالَ: (لَا يَتِمُّ نُسُكُ الشَّابِّ حَتَّى يَتَزَوَّجَ) .(۴۵۳:۱)

ژباړه: د طاوس رحمه الله نه نقل دي وایې: د یو ځوان عبادات تر هغي پوری نه بشپړیږي تر څو چې نکاح ئي نه وي کړی.

**د نکاح مشروعیت**

څرنګه چې نکاح کول د هوسا او آرام ژوند لپاره یوه ذریعه او سبب دی، لدې پرته د انسان ژوند د ګڼو ستونزو سره مخ کیږي، په همدې وجه په اسلامي شریعت کې نکاح کول یو مشروع عمل دی او مشروعیت یې په څلور ډوله دلایلو سره ثابت دی، چې په لاندې ډول ذکرشویدي:

**الف:د نکاح په رواوالي قرأني دلایل:** ګڼ شمیر قرأني آیاتونه د نکاح په روا والي دلالت کوي ځیني صراحتاًو ځینی ضمناً زه د دغه آیاتونو جملي څخه دوه ایاتونه د نمونې په توګه ذکر کوم، چې د نکاح په مشروعیت صراحتاً دلالت کوي:

۱- الله تعالی فرمایې: (وَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تُقْسِطُوا فِي الْيَتَامَى فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ مَثْنَى وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ فَإِنْ خِفْتُمْ أَلَّا تَعْدِلُوا فَوَاحِدَةً أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ ذَلِكَ أَدْنَى أَلَّا تَعُولُوا) .[النساء:۳]

ژباړه: که تاسو ویریږئ چې د یتیمانو په حق کې به عدل او انصاف و نه کړی شئ ؛ نو د یتیمانو پرته نورې هغه ښځې په نکاح واخلئ چې تاسو ته حلالی او خوښي وي دوه دوه او درې درې او څلور څلور، بیا که ویریږئ چې د ښځو تر منځ به په نفقه، نوبت او نورو کې به انصاف ونکړی شئ؛ نو یوه اصیله ښځه په نکاح واخلئ یا هغه وینځی چې ستاسو ښي لاسونه یې مالکان دي یعني تاسو یې مالکان یاستی، دا نکاح د یوي اصیلي یا د ډیرو وینځو دیته ښه نژدی ده چې تاسو ظلم ونکړئ او یو جانب ته مائل نشئ.نوموړی آیت د نکاح په مشروعیت دلالت کوي او د دې تر څنګ په یتیمانو انجونو باندې ظلم کول منع کوي ابن جریر رحمه الله وایې: د دې آیت په تفسیر کې مختلف اقوال دي بعض وایې چې خطاب اولیاؤ ته دی الله تعالی وایې ای د یتیمانو اولیاوو که چېرته تاسې سره دا ویره موجوده وي، چې ددوی سره به عدل او انصاف و نکړئ او مهر به یې د نورو انجونو په څیر ورنکړئ، نو بیا د دې یتیمو انجونو سره نکاح مه کوئ بلکې ددوی پرته نورې هغه انجونې په نکاح کړئ کومې چې الله درته د یوې څخه تر څلورو پورې روا کړې دي او ستاسي خوښې وي، او که ویره موجوده وه چې په دغه متعددو ښځو کې به

درڅخه بې عدالتي او ظلم وشي؛ نو بیا یوه ښځه په نکاح کړه او یا د وینځې سره نکاح وکړه.(۵۳۱:۱۹)

۲ - (وَأَنْكِحُوا الْأَيَامَى مِنْكُمْ وَالصَّالِحِينَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَإِمَائِكُمْ إِنْ يَكُونُوا فُقَرَاءَ يُغْنِهِمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ) .[النور:۲۳]

ژباړه: نکاح وکړئ هغه بې میړونو ښځو او بې ښځو سړیو ته له تاسې او صالحان نیکان له مریانو او وینځو خپلو، که چیرته دوی فقیران نادارن وي؛ نو الله تعالی به یې غنیان کړي د خپل فضل نه الله تعالی د پراخه علم والا دی. په نوموړي آیت شریف کې غوره خبره داده چې خطاب اولیاؤ ته دی، مطلب دا دی چې بې واده انسان که نر وي ښځه ورته په نکاح کړئ او که ښځه وي سړي ته یې په نکاح ورکړئ او د فقر له ویرې د نکاح څخه مه وروسته کیږئ، که څوک ناداره او بې وسه وي الله تعالی به یې غني کړي، ځکه پدې ایت کې د نکاح په وجه واده کوونکو ته د مالداره کیدلو وعده ورکړ شویده، البته هغه واده کوونکې چې هدف یې د الله تعالی رضا او د ګناه څخه ځان ساتنه وي.

ب: د نکاح مشروعیت په نبوي سنتو کې

د نبوي احادیثو په ذخیره کې د نکاح په مشروعیت ګڼ شمیر احادیث شتون لري ځینې احادیث د نکاح په کولو امر کوي او ځینې نور بیا د نکاح مصلحتونه او ګټې دی عمل ته د تر غیب په موخه ذکر کوي، تر څو اسلامي امت د دې عظیم نعمت څخه بې فکره او بې برخې پاتې نشي، د دغه احادیثو د جملې نه دوه د نمونې په توګه ذکر کوم.

۱-عن مَعْقِلِ بنِ يسارٍ،قال: (جاء رجل إلى النبيِّ - صلَّى الله عليه وسلم - فقال: إني أصبتُ امرأةً ذاتَ حَسَبٍ وجَمَال، وأنها لا تَلِدُ، أفاتزوجُها؟ قال: " لا" ثم أتاهُ الثانيةَ فنهاه، ثم أتاه الثالثةَ، فقال: "تزوجوا الوَدُودَ الوَلُودَ فإني مكاثِرٌ بكُمُ الأمم").(۳۹۵:۷)

ژباړه: د معقل بن یسار رضي الله عنه څخه نقل دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یو سړی راغی او وویل ما یوه داسې ښځه موندلې (راته معلومه ده) چې د ښه نسب او ښایست څخه برخه منه ده؛ خو اولادونه نه زیږوي، آیا زه ورسره نکاح وکړم؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل نه، دویم کرت ورته بیا راغې او دغه پوښتنه یې تکرار کړه؛ خو رسول الله صلی الله علیه وسلم منع کړ، په دریم کرت یې تری بیا دغه پوښتنه وکړه نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: مینه کوونکو او اولادونه زیږوونکو ښځو سره ودونه وکړئ بی شکه زه به ـــ د

قیامت په ورځ ستاسو په زیاتوالي فخر کوم.

۲ -عَنْ عَبْدِ اللهِ ابن مسعود، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : تَزَوَّجُوا الأَبْكَارَ ؛ فَإِنَّهُنَّ أَعَذَبُ أَفْوَاهًا ، وَأَنْتَقُ أَرْحَامًا ، وَأَرْضَى بِالْيَسِيرِ.(۱۸۲:۱۷)

ژباړه: عبد الله بن مسعود رضي الله عنه وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: د پیغلو سره نکاحونه وکړئ؛ ځکه ددوی خوله خوږه وي - د ا کنایه ده ددینه چې ښکلول او خبرې یې خوندور وي - او رحم یې نطفی لره ښه قبلوونکی وي یعني ډېر اولادونه زیږوي او په ډیر کم شي خوشحالیږي.

پدې عنوان کې ذکر شوي قرآني آیاتونه او نبوي احادیث په نکاح کولو امر کوي او په امر کې ددغه کار تر سره کولو غوښتنه وي نو په دغه نصوصو کې غوښتنه (طلب) د نکاح په مشروعیت دلالت کوي.

## د نکاح حکم

د مخکې څیړنې څخه څرګنده شوه، چې نکاح کول په اسلامي شریعت کې مشروع عمل دی مهمه خبره داده چې د نکاح مشروعیت په کومه مرتبه کې دی؟ یعني د نکاح کول مباح دي او که مستحب او آیا نکاح کول د وجوب مرتبی ته پورته کیږي او که نه؟ آیا دا ممکنه ده چې نکاح کول حرام او مکروه وي؟ یا په بل عبارت، آیا په نکاح کې تکلیفي احکام چې عبارت دي د اباحت، استحباب، وجوب، کراهت او تحریم څخه جاري کیږي او که نه؟ د دی پوښتنو ځواب په لاندې فقراتو کې تو ضیح کیږي.

د فقهاؤ له انده په نکاح کې تکلیفي احکام د شخص د حالاتو مطابق جاري کیږي یعنی نکاح به کله واجب، کله مستحب، کله مکروه او کله حرام وي ،نوموړي حالات به په لنډه توګه توضیح شي.

## د نکاح د وجوب حالت

د څلور واړو مذهبونو په اتفاق سره هغه څوك چې د نکاح د نه لرلو په صورت کې په زنا او نورو محرماتو کې واقع کیږي په ده نکاح کول واجب دي، لیکن په تعبیراتو او جزیاتو کې سره لږ څه اختلاف لري. (۶:۲)

## د نکاح د استحباب حالت

د فقهاو له انده نکاح هغه مهال مستحب ده؛ چې کله شخص ته د نکاح په وجه مقصودی شي په

لاس راځي چې شریعت ورته ترغیب ورکړیدی لکه عفت، د شهوت پوره کیدل،د نظر ساتنه او د عورت حفاظت. (۷:۲)

### د نکاح د کراهت حالت

د فقهاوو له انده نکاح کول هغه مهال مکروه ده ؛ چې نکاح کونکي سره پر مېرمن د انفاق قدرت نه لرلو ویره وي او نکاح کولو ته میلان نه لري، سخت مکروه هغه وخت وي چې کله یې نکاح کول په عبادت کې خلل راولي..(۶:۲)

### د نکاح د حرمت حالت

د فقهاو په اند نکاح کول هغه مهال حرام دي؛ چې د نکاح کونکې لخوا په مېرمن باندې ظلم کول یقیني وي په مادي شکل سره وي او که په معنوی شکل سره مثلا په هغې د مصارفو قدرت نه لرل، او د هغې سره د جماع او مباشرت توان نه درلودل.(۷:۲)

### د نکاح اباحت(نکاح کولو او نه کولو برابروالي) حالت

د فقهاؤ په اند نکاح کول په هغه صورت کې مباح دي چې نکاح کونکی د سنت نیت ونه کړي، بلکې یواځې د شهوت پوره کولو په نیت نکاح وکړي، همدارنګه چې نکاح ته یې شوق نه کیږي او د اولاد یا نسل امید ترې نه کیږي، د حنابله ؤ په اند نکاح کول د هغه چا لپاره مباح دي چې شهوت نه لري. (۷:۲)

**غیر شرعي دودونه**(هغه رسمونه،رواجونه او عادات چې زموږ افغاني ټولنه کې په نکاح کې ځای پرځای شوي او اسلامي شریعت کې ناروا دي)

زموږ ټولنه یوه اسلامي ټولنه ده؛خو یو شمیر غیر شرعي دودونه او رواجونه شتون لري؛چې زموږ په اسلامي ټولنه کې اجراء کیږي.هغه رواجونه او دودونه چې غیر شرعي ګڼل شویدي؛د ځینو څخه یې لاندې یادونه شوی ده:

**۱ـ ولور :** په افغاني ټولنه کې ولور د هغو پیسو نوم دی ،چې جینۍ والا یې د خپلې لور یا خور په بدل کې د هلك والا کورنۍ څخه اخلي ، خو اسلامي شریعت په نکاح کې د ولور په نامه څه نه پیژني یوازې مهر پیژني چې هغه هم د جینۍ حق دی.

د ولور اخیستل دومره یو بد رواج دی، چې د دې له وجې اکثره ځوانان د نکاح له ستر نعمت څخه بې برخې ګرځي او اکثره یې په اخلاقي فساد کې ښکیل دي او ځینې ځوانان دیته اړ شي چې په سختو قاچاقي لارو خارج ته د سفر هڅه کوي یا خو خپل خوږ ژوند له لاسه ورکړي او

یا هم د مسافرت سختې شپې او ورځې تیروي.
شرعاً هم ولور اخیستل حرام او بد کار دی، چې د ازاد انسان د خرڅولو حکم لري نبي کریم صلى الله علیه وسلم فرمایلي دي : قال: قال الله تعالى: (ثلاثة انا خصمهم یوم القیامة : رجل اعطى بی ثم غدر ، ورجل باع حراً فأكل ثمنه ، ورجل استأجر اجیراً فاستوفى منه ولم یعطه اجره ) (۹۰:۱۰)

ژباړه: نبي علیه السلام فرمایي، چې الله تعالي فرمایي : درې کسان دي ،چې د قیامت په ورځ به زه ورسره جګړه کوم اول هغه کس دی چې زما په نوم د چا سره عهد وکړي او بیا ورسره دوکه وکړي. دویم هغه کس دی ،چې اصیل انسان خرڅ کړي او پیسې یې وخوري. دریم هغه کس دی ،چې مزدور راولي خپل کار پرې تر سره کړي او مزدوري ورنکړي. د پورته حدیث څخه معلومه شوه چې ولور اخیستل هم د خپل اولاد د خرڅلاو حکم لري ، چې دا یو ناروا عمل دی.
ځینې کسان د ځان د برائت لپاره ناسم استدلال کوي او وایي ،چې ولور بیرته په جینۍ باندې مصرفیږي تجهیزات ورته اخیستل کیږي او یا هم وایي چې که ولور وانه اخیستل شي په هغه کور کې د جینۍ قدر نه وي؛ خو دا غلط استدلال دی؛ ځکه چې جهیز د ښځې په سړي باندې حق دی او د خپل وس مطابق به ښځې ته جهیز برابروي څه اجبار ورباندې نشته . او بل موږ په خپله ټولنه کې هغه ښځې وینو ،چې ولور یې کم اخیستل شوی وي ژوند یې نسبت هغو ښځو ته ،چې ولور یې زیات اخیستل شوی وي ، ښه دی .که چېرې بالکل وانه اخیستل شي؛ نو ژوند به یې لا زیات خوږ او له قدر څخه ډک وي.
۲ـ خرڅی (د واده مصارف چې د هلك له کورنۍ څخه اخستل کیږي)
زموږ په افغاني ټولنه کې بل بد رواج دا دی ،چې د نکاح د عقد څخه وروسته متصله واده نه ورکوو ،بلکه د لوی دستمال یا د خوږې په نامه ورڅخه خرچه اخلو او همدارنګه د براتي ،اختري او نوروزي په نامه ورڅخه ناري اخلو. همدارنګه د دې مصارفو تر څنګ د واده مصرف هم د هلك کورنۍ څخه اخلو ،خوشحاله وي که خفه خو مصارف به د جینۍ والا کورنۍ ته ورکوي؛ بلکه اکثره وخت د خرڅي په اخیستلو سره د هلك کورنۍ او جینۍ کورنۍ تر منځ خفګان رامنځ ته کیږي اویاهم دنامانی په بهانه دجینی ماما پیسی غواړي اویاهم ددروازه وانی په نوم دشاه څخه پیسی اخلودهغه درضا پرته او د مسلمان هغه مال ،چې د هغه د رضا پرته واخیستل

شي حرام او ناروا دی . نبی علیه السلام فرمایي: (لا یحل مال امرئ مسلم الا بطیب نفسٍ منه) (۳۸۷:۱۳)

ژباړه: هیڅکله هم روا ندی د مسلمان مال خوړل مګر د هغه په خوښه .

اوس دغه مصرف د هلك کورنۍ په خوښه نه وي مګر د مجبوریت له مخې یې ورکوي نو باید ورڅخه ځان وساتو. دا،چې لور هم اولاد ده د زوی په واده کې چې په خپله مصرف کوو؛ نو باید د لور په واده کې هم مصرف وکړو؛ ځکه د اولادونو تر منځ توپیر کول ناروا دی او د اولادونو ترمنځ رسول الله صلی الله علیه وسلم د عدل حکم کړی هغه ویلي:( اعدِلُوا بینَ أبنائِکم، اعدِلُوا بینَ أبنائِکم) (۴۰۳:۹)

ژباړه: د اولادونو ترمنځ برابری وکړئ، د اولادونو ترمنځ برابری وکړئ.

همدارنګه بل حدیث مرفوع حدیث کې راغلي:( سَوُّوا بَیْنَ أَوْلَادِکُمْ فِي الْعَطِیَّةِ، فَلَوْ کُنْتُ مُفَضِّلًا أَحَدًا لَفَضَّلْتُ النِّسَاءَ) (۲۹۴:۱۴)

ژباړه: د اولادونو ترمنځ ورکړه کې برابروالی کوئ که ما اولادونو کې چا ته دوه برابره برخه ورکولی نو ښځینه وو ته به مې ورکړی وی.د یادو حدیثونو څخه دا معلومه شوه چې د اولادونو ترمنځ توپیري چلند ناروا دی، د څوی په واده کې چې مصرف کوی نو د لور واده کې به یې هم کوی.

۳ـ ولیمه کې ناروا رواجونه او دودونه

**ولیمه پیژندنه**

ولیمه( د واده ډوډۍ) : هغه خوراک ته وایي، چې د واده د ستر نعمت له برخمن کېدو په شکرانه کې ورکول کیږي ؛ خو دغه خوراك د اولې شپې له تیریدو څخه پس ورکړل شي دا یو سنت عمل دی رسول الله صلی الله علیه وسلم پرې امر کړی او په خپله یې هم ورکړې ده.

**د ولیمې لغوي معنی**

الْوَلِیمَةُ فِي اللُّغَةِ مُشْتَقَّةٌ مِنَ الْوَلْمِ وَهُوَ الْجَمْعُ ، لأِنَّ الزَّوْجَیْنِ یَجْتَمِعَانِ، وَهِيَ اسْمٌ لِطَعَامِ الْعُرْسِ وَالأْمْلاَكِ (۶۴۳:۶)

ژباړه: ولیمه د ولم څخه اخستل شوی، په لغت کې یو ځای کیدو ته وایي، دلته ښځه او خاوند هم سره یوځای کیږي،دا د هغې ډوډۍ نوم دی چې د واده او یاهم د یوشي مالك کیدو په وجه ورکول کیږي .

**د ولیمې اصطلاحي معنی**

وَفِي الاِصْطِلاَحِ تَقَعُ الْوَلِيمَةُ عَلَى كُل طَعَامٍ يُتَّخَذُ لِسُرُورٍ حَادِثٍ مِنْ عُرْسٍ وَإِمْلاَكٍ وَغَيْرِهِمَا، لَكِنَّ اسْتِعْمَالَهَا مُطْلَقَةً فِي الْعُرْسِ أَشْهَرُ . (۲۳۲:۱۶)

ژباړه: ولیمه په اصطلاح کې هر هغه خوراک ته ویل کیږي چې د خوښۍ ،واده، د یوشي مالک ګرځیدو په وجه ورکول کیږي لیکن د واده په ډوډی کې استعمال مشهور دی.

**د ولیمې حکم**

د ولیمې حکم په اړه د فقاء مختلف نظریات دي خو د احنافو او جمهورو فقهاء په آند سنت ده :

ذَهَبَ جُمْهُورُ الْفُقَهَاءِ: الْحَنَفِيَّةُ وَالشَّافِعِيَّةُ فِي الْمَذْهَبِ وَالْحَنَابِلَةُ فِي الْمَذْهَبِ إِلَى أَنَّ وَلِيمَةَ الْعَرَسِ سُنَّةٌ، زَادَ الْحَنَفِيَّةُ وَفِيهَا مَثُوبَةٌ عَظِيمَةٌ. (۲۳۳:۱۶)

ژباړه: د واده ډوډی د جمهورو فقهاء:احناف،شوافع،او حنابله په آند سنت ده او احناف وایي چې دی کې ډیر ثواب دی.

**د ولیمې وخت**

په دی اړه د فقهاو مختلف اقوال دي خو د احنافو په نزد د واده څخه وروسته باید ولیمه ورکړي

فَذَهَبَ الْحَنَفِيَّةُ وَالْمَالِكِيَّةُ فِي الْمَشْهُورِ وَابْنُ تَيْمِيَّةَ إِلَى أَنَّ الْوَلِيمَةَ تَكُونُ بَعْدَ الدُّخُول (۲۴۹:۱۶)

ژباړه: د احنافو،مشهورو قول د مالکیانو او د ابن تیمیه په آن ولیمه(واده ډوډی) به د ښځې سره د یوځای کیدو وروسته ورکوي.

موږ په خپله افغاني ټولنه کې د ولیمې په نامه ډیر زیات مصرف کوو؛ خو د شریعت خلاف ؛ ځکه ولیمه هغه ده ،چې اول ناوې راوړل شي شپه ورسره تیره شي بیا خوراک ورکړل شي.موږ اول خوراک ورکوو بیا ناوې راوړو . که چیرې دغه خوراک هم په سم نیت ورکړل شي عامه صدقه ده؛ خو د ولیمې اجر پرې نشته . بله دا چې موږ اکثره د واده په خوراک کې اسراف کوو غریب خلک راڅخه هیر وي او د مالدارو عزت کوو، چې دا په خپله یو بد کار دی. نبي علیه السلام د داسې واده د خوراک په اړه فرمایلي دي: (شرالطعام طعام الولیمة یدعی الیه الأغنیاء ویترک المساکین) (۱۰۵۴:۲۳)

ژباړه: بدترین په خوراکونو کې د هغه واده خوراک دی، چې مالداران ورته دعوت کولی شي او مسکینان ورڅخه پاتې کیږي.چې ژوندی مثال یې په اوسني وخت کې د هوټلونو ودونه دي ،چې موسیقي ،اسراف او د غریبو خلکو د نه موجودیت سره مل دي.

۴ـ د ناوې لپاره د واده جوړه

زموږ په ټولنه کې بل بد رواج دا دی ،چې د خوږې او یاهم د واده د ورځې او شپې لپاره د ناوې ځانګړې جامې وي ،چې د یو ساعت لپاره نه استعمالیږي؛ خو په ډېر لوړ قیمت یې اخلو. دا ناروا ده ؛ځکه یو خو اسراف دی بل خوا د شهرت لباس دی په دې هکله نبي علیه السلام فرمایلي دي: (من لبس ثوب شهرة فی الدنیا البسه الله ثوب مذلة یوم القیامة) (۴۴:۸)

ژباړه: چا چې دنیا کې د شهرت جامه واغوسته الله تعالی به ورته په اخرت کې د ذلت جامه واغوندي. دا عیب زموږ په عامو ښځو کې هم موجود دی ، پردي واده دپاره به درې ،څلور جوړه جامې کوي یوه چې واغوندي دوهم ځل یې نه استعمالوي وایي ،چې دا زمونږ په ټولنه کې یو دود (دستور) ګرځیدلی دی.

۵ـ نکاح پلار(نکاح کې د جینی لخوا د تړون وکیل)

زموږ په ټولنه کې بل غیر شرعي کار دا دی ،چې د عاقدینو او اولیاؤ په موجودیت کې ښځه پردی سړی وکیل د نکاح نیسي او حال دا چې د اولیاؤ ایجاب او قبول کفایت کوي وکیل ته اړتیا نشته. بدي یې په دې کې ده ،چې دغه د نکاح وکیل ته د پلار په شان حیثیت ورکول کیږي او محرم یې ګڼي ،ستر او پرده هم ورڅخه نه کوي اګر که څومره لیرې شخص هم وي دا یو غیر شرعي کار دی او په شریعت کې کوم اصل نه لري.

۶ـ د شغار نکاح (بدل)

د بدل نکاح ، چې په افغاني ټولنه کې عام دود او رواج دی دیته وایي ، چې یوه ښځه د بلې مهر ګرځول کیږي ، چې دا یو غیر شرعي کار دی او جمهور علماء یې ناجایزه بولي.

**د بدل نکاح پیژندنه**

په عربي ژبدود کې د بدل نکاح په (شغار) سره تعبیریږي چې په لغت کې او چتولو ته وایې د (شغر الکلب) څخه اخیستل شویدی معنی دا چې سپې پښه د بولو لپاره پورته کړه،مناسبت یې دادی چې په شغار نکاح کې مهر پورته یعني نوي، شغار د شین تورې په زبر سره د جاهلیت زمانې نکاح ته ویل کیږي، چې یو تن به یوه ښځه چاته پدې شرط په نکاح کوله چې؛ هغه به حتما ده ته بله ښځه د مهر پرته په نکاح ورکوي، ځینو داکړنه د خپلوانو انجونو پوري خاص کړیده .(۴۱۷:۵)

په فقهي اصطلاح کې(شغار) دیته وایې: چې یو سړی خپله لور یا خور پدې شرط بل سړي ته په

نکاح ورکړي چې؛ هغه به خپله لور یا خور ده ته ورکوي او د هرې یوې بضع(مخصوص اندام) د بلي په مهر کې واقع شي.(۲۷۸:۲۲)

**د بدل نکاح حکم**

ددې نکاح حکم د صحت او عدم صحت په اعتبار سره دهغه شرط په وجه چې پدې عقد کې ذکر وي د فقهاو څخه دوه قوله نقل دي :

لمړې قول: د احنافو پرته جمهور فقهاء وايې: بدل نکاح د هغه شرط په اساس چې د دې عقد پورې پیوسته وي مثلا: یو تن بل ته ووایې زه لور درکوم پدې شرط چې ته به هم لور راکوی او د هرې یوې بضع (مخصوص اندام) دبلې لپاره مهر وګرځوي او بل شخص یې په همدغه الفاظو قبوله کړي نکاح صحیح نه بلکې باطله ده،داسې نکاح د مالکیه اوشوافعو له انده له دخول مخکې او وروسته فسخه ده مګر شوافع وایې که د یوې یا دواړو لپاره مهر تعین شو، په مهر مثل سره به نکاح ثابته وي او مالکیه دا هم وایې که مهر تعین شو د دواړو لپاره بیاهم نکاح فاسده ده دخول د مخه به فسخه کولی شي بعد الدخول به په مهر مثل ثابته پریښودلی شي او حنابله وایې: مهر تعین کړي که نه نکاح درسته نده .(۳:۲۴۵-۲۴۶)

دویم قول: احناف فقهاء وايې: د بدل نکاح صحیح ده او هغه شرط چې د دې عقد پورې پیوسته دي باطل دی یعنې عقد صحیح او شرط باطل دی او د هرې ښځې لپاره مهر مثل لازم دی.(۲۷۸:۲۲)

د جمهورو لپاره دلیل دا حدیث دی

۱ – (عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الشِّغَارِ، وَالشِّغَارُ: أَنْ يُزَوِّجَ الرَّجُلُ ابْنَتَهُ، عَلَى أَنْ يُزَوِّجَهُ ابْنَتَهُ، وَلَيْسَ بَيْنَهُمَا صَدَاقٌ).(۱۲:۱۲)

ژباړه: د ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د شغار نکاح څخه منع فرمایلي ده او شغار دیته وایې: چې یو سړی خپله لور بل ته پدې شرط په نکاح ورکړي چې هغه به هم خپله لورده ته په نکاح ورکوي او ددواړو لپاره مهر نوي.

**د استدلال طریقه**: رسول الله صلی الله علیه وسلم د بدل نکاح عقد څخه منع کړیده او منع په منهی عنه کې په فساد دلالت کوي معلومه شوه چې د بدل نکاح فاسده ده.

۲-(عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَا شِغَارَ فِي الْإِسْلَامِ).(۱۰۳۵:۲۳)

ژباړه: د ابن عمر رضي الله څخه روایت دی؛ چې یقینا رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي

دي: په اسلام کې شغار نشته یعني د شغار نکاح په اسلام کې درسته نده.
جمهور عقلي وجه داسې بیانوي: د شغار نکاح د بطلان اوفساد عقلي وجه داده چې هر ولي د خپل ولایت لاندې جینۍ بضع(مخصوص اندام) د نکاح د عقد مورد ګرځولی او د بلې جینۍ مهر یې ګرځولی دی او دا کار په وجوبي توګه عقد داسې فاسدوي لکه څرنګه چې یوه جینۍ دوه سړیو ته په نکاح ورکړل شي، دا نکاح فاسده نو شغار هم فاسد دی.(۲۴۵:۲۵)
احناف فقهاء د بدل نکاح د صحت لپاره عقلي دلیل ذکر کوي: هر کله چې پدغه نکاح کې د هرې ښځې بضع(مخصوص اندام) دبلې ښځې مهر ګرځول شویدی؛ نو دوی هغه څه په مهر سره مسمی کړیدي چې د مهر کیدو صلاحیت نه لري او نکاح په فاسد شرط سره نه باطلیږي، نو پدې صورت کې نکاح صحیح ده او دهرې یوې لپاره مهر مثل واجبیږي لکه څرنګه چې مهر شراب او خنزیر وټاکل شي پدې صورت کې مهر مثل لازمیږي؛ نو په بدل نکاح کې هم مهر مثل لازمیږي او داخو تاسوهم منۍ چې که مهر یوې یا دواړو ته وټاکل شي بیا نکاح جائز بولۍ او یا که په نکاح کې مهر ذکر نشي د نکاح په عدم صحت کوم تاثیر نه لري او عقد صحیح وي لکه څرنګه چې په فاسد عقد کې د مهر یادونه د عقد په صحت کوم اغیز نه لري، حاصل داشو چې په عقد کې فساد د مهر له امله دی او دمهر فساد د عقد فساد نه واجبوي او د حدیث نهی (منع) مهر ته متوجه ده نه نکاح ته، همدا وجه ده چې عقد درست او شرط باطل دی او دواړښځو لپاره مهر مثل دی.(۲۷۸:۲۲)
تر جیح: ددلایلو او مناقشي پر اساس لمړی قول غوره دی یعني د بدل نکاح باطله ده د هغه شرط په اساس چې د دې عقد پورې د اول نه پیوسته وي، که پدې شرط سره عقد وشي دا به باطل او فسخ وي مخکې د دخول نه او که دخول صورت موندلی وي بیا د احنافو قول غوره دی یعنی شرط باطل دی او دواړو انجونو ته مهر مثل واجب دی؛ ځکه پدېکې اساني ده او د کورنۍ بقاء ده په خپل حال باندې.
د ذکر شوی څیړنې څخه معلومه شوه د بدل نکاح په اتفاق د فقهاو په احادیثو کې د نهي له امله روانده، کله چې یو شی روا نه وي د هغې څخه ځان ساتل ضروري دي، داسې اعمال د نکاح پروړاندې خنډ ګرځول پکار ندي؛ بلکې د دې عمل څخه ځان ساتل بهتر دي، که چېرې د بدل نکاح د مهر له امله صحیح هم شي؛ خو دغه نکاحګانې چې په ټولنه کې څومره شویدي بده پایله لري، حتی ځینې وخت د جانبینو یا دیو جانب په طلاقو یا دښمنۍ تما میږي، نو دا ډول

نکاح دنیاوي او اخروي دواړه ضررونه لري. هر هغه شی چې ضرر یې زیات او فائده یې کمه وي ناروا او ځان ساتل ترې بهتر وي. لهذا د بدل نکاح څخه ځان ساتل غوره او پدې لړ کې چاته ستونزه جوړول ندې پکار، بلکې خور او لور د بدل پرته په نکاح ورکړئ.

خو احناف یې جائزه بولي په هغه صورت کې چې د هرې یوې لپاره جدا مهر وټاکل شي او یوه د بلې د مهر په مقابل کې ونه اوسي؛خو سره د جوازوالی بیا هم د مشکلاتو او ستونزو څخه ډکه نکاح وي ،چې د ډیرو کورنیو د بدیو سبب ګرځي او د دواړو ښځو ژوند تریخ وي ؛ نو باید حتی الامکان ورڅخه ځان وساتل شي. څو په ژوند کې له مشکلاتو څخه وژغورل شو.

**پایله**

اسلام یو ټولنیز دین دی او دسالمې ټولنې په جوړښت ټینګار کوي. ټولنه له کورنۍ پرته نشي راتلای او دکورنۍ اساس نکاح ده.

د بشریت ستر لارښود د خپل امت ځوانان نکاح کولو ته تشویق کړي.

د مسلمان حال ته په کتو د نکاح حکم جلا جلا دی واجب،سنت،مستحب،مباح ،مکروه او حرامه. زمونږ ټولنه کې ځینې رواجونه په نکاح کې ننوتي چې شریعت سره هیڅ اړخ نه لګوي.

په خور او لور ولور(پیسې)اخیستل ناروا او حرامې دي.

د اولادونو ترمنځ توپیري چلند حرام دی، نو ځکه جینۍ کورنی به د هلك څخه د واده مصارف نه اخلي. ولیمه (واده ډوډی) ورکول سنت دي د ناوی له روړولو څخه یوه شپه وروسته به ورکوي. نکاح پلار چې غیرمحرم وي یواځې تر عقد پورې د جینۍ وکالت کوي د عقد وروسته وکالت له منځه ځي او هیڅکله محرم نشي کیدای. د بدل نکاح که څه هم د احنافو په آند چې یوه جینۍ د بلې مهر بدل کې واقع نشي روا ده؛ خو بیا هم ډیری ټولنیزې ستونزې لري باید ځان ساتنه ترې وشي.

**وړاندیزونه**

۱-د لوړو زده کړو وزارت ته مې وړاندیز دی چې د اسلامي ثقافت کریدت زیات کړي ترڅو محصلین د کورني نظام اړوند پوره معلومات ترلاسه کړي.

۲-حج اوقافو وزارت څخه غوښتنه کوم چې د هیواد ټولو خطیبانو ته د جمعې په خطبو کې د کورني نظام اړوند ناروا دودونو موضوعات ورکړي ترڅو عام مسلمانان پرې اګاه وسي.

۳- د علماؤ څخه دا غوښتنه ده ،چې په خپلو عامو بیانونو او خطبو کې دا غیر شرعي رسمونه

خلکو ته واضح او زیانونه یې پر ښه کړي؛ تر څو عام مسلمانان ورځخه خبر او ځانونه ترې وساتي.

۴- عام مسلمانان باید هم په دې اړه د علماء څخه پوښتنه وکړي او ددې بدو دودونو څخه ځانونه وساتي.

**ماخذونه**

القرآن الكريم

ابن ابى شيبة، ابوبكر عبد الله بن محمد بن ابراهيم بن عثمان،(۱۴۰۹ه). المصنف في الأحاديث والآثار.ج.۳. مكتبة الرشد، المملكة العربية السعودية، الرياض، لمړی چاپ.

ابن عابدين، محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الدمشقي،(۱۴۱۲ه). رد المحتار على الدر المختار.ج.۳. دار الفكر، لبنان، بيروت، دوهم چاپ.

ابن عبد البر، ابو عمر يوسف بن عبد الله بن محمد ، (۱۴۰۰ه- ۱۹۸۰م). الكافي في فقه اهل المدينة.ج.۲. څېړونکی: محمد محمد احيد ولد ماديک الموريتاني، مكتبة الرياض، المملكة العربية السعودية، الرياض، دويم چاپ.

ابن منظور ، محمد بن مكرم بن علي أبو الفضل . جمال الدين الانصاري الرويفعي الأفريقي المصري، (۱۴۱۴ه). لسان العرب.ج.۲.دار صادر، لبنان، بيروت، دريم چاپ.

ابن منظور ، محمد بن مكرم بن علي أبو الفضل . جمال الدين الانصاري الرويفعي الأفريقي المصري، (۱۴۱۴ه). لسان العرب.ج.۴. دار صادر، لبنان، بيروت، دريم چاپ.

ابن منظور ، محمد بن مكرم بن علي أبو الفضل . جمال الدين الانصاري الرويفعي الأفريقي المصري، (۱۴۱۴ه). لسان العرب.ج. ۱۲. دار صادر، لبنان، بيروت، دريم چاپ.

ابوداود، سليمان بن الأشعث بن اسحاق السجستاني، (۱۴۳۰ه ــ ۲۰۰۹م). سنن ابي داود.ج. ۳.څېړونکی: شعيب الأرنؤوط او محمد كامل قره، دار الرسالة العالمية، لمړی چاپ.

ابوداود، سليمان بن الأشعث بن اسحاق السجستاني، (۱۴۳۰ه ــ ۲۰۰۹م). سنن ابي داود.ج . ۴.څېړونکی: شعيب الأرنؤوط او محمد كامل قره، دار الرسالة العالمية، لمړی چاپ.

ابوداود، سليمان بن الأشعث بن اسحاق السجستاني، (۱۴۳۰ه ـ ۲۰۰۹م). سنن ابي داود.ج . ۵.څېړونکی: شعيب الأرنؤوط او محمد كامل قره، دار الرسالة العالمية، لمړی چاپ.

البخاري، محمد بن اسماعيل ابو عبد الله الجعفي، (۱۴۰۷ه). صحيح البخاري.ج. ۳.څېړونکی: د.

مصطفی دیب البغا، دار ابن کثیر، لبنان، بیروت، دریم چاپ.

البخاري، محمد بن اسماعیل ابو عبد الله الجعفي، (۱۴۰۷ه). صحیح البخاري.ج.۵.څیړونکی: د. مصطفی دیب البغا، دار ابن کثیر، لبنان، بیروت، دریم چاپ.

البخاري، محمد بن اسماعیل ابو عبد الله الجعفي، (۱۴۰۷ه). صحیح البخاري.ج . ۷. څیړونکی: د. مصطفی دیب البغا، دار ابن کثیر، لبنان، بیروت، دریم چاپ.

البیهقي، ابو بکر احمد بن الحسین البیهقي (المتوفي: ۴۵۸ه)،(۱۴۲۳ه ـــ ۲۰۰۳م)، الجامع لشعب الایمان،.ج.۴. څیړونکی: عبد العلي عبد الحمید حامد، مکتبة الرشد، مملکة العربیة السعودیة، الریاض، لمړی چاپ.

البیهقي، احمد بن الحسین بن علي بن موسی ابو بکر ،(۱۴۲۴ه- ۲۰۰۳م). السنن الکبری.ج.۶. څیړونکی: محمد عبد القادر عطا، دار الکتب العلمیة، لبنان، بیروت، دریم چاپ.

الترمذي، أبو عیسی محمد بن عیسی بن سَوْرة بن موسی بن الضحاك ، (۱۹۹۸ م). سنن الترمذي.ج.۴.څیړونکی: بشار عواد معروف، دار الغرب الاسلامي، لبنان، بیروت، ( ـــــــــــ ).

دکویټ داوقافواواسلامي امورو وزارت، الموسوعة الفقهیة الکویتیة.ج.۴۵.چاپ کال،۱۴۲۷-۱۴۰۴

الطبراني، ابو القاسم سلیمان بن احمد، ( ۱۹۸۳م). المعجم الکبیر.ج.۱. تحقیق: حمدي عبد المجید السلفي، دار احیاء التراث العربي، دویم چاپ.

الطبراني، سلیمان بن أحمد بن أیوب بن مطیر اللخمي أبو القاسم الشامي، (ــــــــــــــ). المعجم الأوسط.ج.۷.څیړونکی: طارق بن عوض الله بن محمد، عبدالمحسن بن ابراهیم الحسیني، دار الحرمین، مصر، القاهره، (ــــــــــــ).

الطبري، محمد بن جریر بن یزید بن کثیر، (۱۴۲۰ه ـ ۲۰۰۰م). جامع البیان في تأویل أی القرأن.ج.۷. څیړونکی: احمد محمد شاکر، مؤسسة الرسالة، لمړی چاپ.

عطیة صقر، (۱۴۲۷ه ). موسوعة الأسرة تحت رعایة الاسلام.ج.۱. مکتبة وهبة، مصر، القاهرة، ( ـــــــــ ).

العیني، ابو محمد محمود بن احمد بن موسی بن احمد بدر الدین، ( ۱۴۲۰ه۲۰۰۰-م). البنایة شرح الهدایة.ج.۵. دار الکتب العلمیة، لبنان، بیروت، لمړی چاپ (ــــــــــ).

الکاساني، علاءالدین ابو بکر بن مسعود بن احمد، (۱۴۰۶ه). بدائع الصنائع في ترتیب الشرائع.ج.۲. دار الکتب العلمیة، دویم چاپ.

مسلم، مسلم بن الحجاج ابو الحسن القشيري، (ـــــــ). صحيح مسلم.ج.۲.څیړونکی : محمد فؤاد عبد الباقي، دار احياء التراث العربي، لبنان، بيروت، (ـــــــ).

نسفي، نجم الدين ابو حفص النسفي، (۱۴۰۶).طلبة الطلبة في الاصطلاحات الفقهية،لبنان، بيروت،دار القلم، لمړی چاپ.

نووي، ابو زكريا محي الدين بن شرف، (ـــــــ). المجموع شرح المهذب، دار الفكر، لبنان، بيروت، (ـــــــ).

# كمپيلو بكتريوزيس

ليكوالان: پوهنيار خالد بشرمل او پوهنيار عبيد الله محق شيخ زايد پوهنتون، وترنري پوهنځي، پري كلينيك څانګې استادان

تقريظ وركوونكى: پوهندوى رحمت الله هاشمي د زراعت پوهنځي استاد

**لنډيز**

Campylobacter په جنيتيكى ډول د مختلفو انواعو په يو ګروپ كى شامل دى چى په انسانانو او حيواناتو كى د يو تعداد محدودو ناورغيو باعث كيږي. د Campylobacteriosis زيات واقعات د پولترى خامى يا نيمه خامى غوښه خوړولو يا تهيه كولو سره يو ځاى وي. Campylobacter spp خصوصاً C. jejuni او C. coli په انسانانو كې د كولمو التهاب يو لوى لامل دى. نورې ډولونه يې په پسونو او غواګانو كې د تناسلى سيستم د ناروغيو باعث كيږي. زياتره حيوانات چې په Campylobacter spp اخته وي بيدون د علايمو ښودلوعامل انتقالوي او اورګانيزم په خپلو فضله موادو كې محيط ته خپروي. مرغان خصوصا غوښين چرګان د دي باكترياو مهمه منبع بلل كيږي سره له دي چې دوى خپله ناورغ نه وي. د مرغانو په فارمونو كې د نومو‌ړې ناروغۍ د مخنيوي لپاره مختلفې كړنلارې په كار وړل شوې دي خو بياهم Campylobacter واقعات د غوښينو چرګانو فارمونو كې په پراخه پيمانه سره ليدل كيږي. انسانانو ته د ملوثو يا نيمه پاخه شوو غوښو (په خاص ډول د مرغانو)، unpasteurized شيدو يا د شيدو توليداتو او غير صحي اوبو له لارې انتقاليږي. همدارنګه د اخته شويو حيواناتو او د هغوى فضله موادو سره د تماس له لارې هم انتقاليږي. Campylobacteriosis ناروغۍ په انسانانوكې له خفيف نه تر شديد حالت پورې رسيدلى شي، مګر اكثريت واقعات Self-limiting (د ناروغۍ عامل په ميزبان كې وي ميزبان روغ وي او علايم له ځان څخه نه ښيي بلكې نورو ته يې انتقالوي) دي. كه څه هم عواقب يې غير معمول يا كم دي. C. jejuni د Guillain-Barre syndrome لپاره يوه ستره پېښه ده. C. fetus يو موقع موندونكى توليدونكې انساني ناروغۍ ده او عموما په خلكو كې د سيستميك انتان باعث ګرځي. د Campylobacter spp مقاومت د انتي بيوتيكونو په مقابل كې خصوصاً د Fluoroquinolones او Tetracyclines په مقابل كې په نړيواله سطحه يو جدى مشكل دى.

**كليدى ټكي:** Campylobacter، لوى حيوانات، انسانان، چرګان، سقط جنين.

**سریزه**

کمپیلوبکتریوزیس (Campylobacteriosis) د هغې ناروغۍ څخه عبارت ده، چې د Campylobacter باکتریا پواسطه رامنځته کیږي. دغه باکتریا یوه ګرام منفي، هوازي، مارپیچې او میله ډوله باکتریا ده چې د Campylobacteriaceae په کورنۍ کې شامله ده. Campylobacter په کولمو کې او ځینې وختونه په وینه کې تخریبات رامنځته کوي، چې دا باکتریا ۱۶ اصلي ډولونه او ۶ فرعي ډولونه لري، چې د کمپیلوباکتر Genus تعینوي. چې د دې جملې څخه یې په انسانانو کې د C. jejuni او C. Coli د ناروغۍ زیات تکراري راپورونه ورکړل شوي دي [۱۶: ۳]. Campylobacter spp په هر ځای کې موجود دي چې په انسانانو او د حیواناتوپه مختلفو ډولونو کې موندل کیږي، په داسې حال کې چې ځینې ډولونه یې په مشخصو حیواناتوکې ناروغۍ مینځ ته راوړي. د C. jejuni، C. Coli او C. fetus انتانونو د موجودیت او ناروغیو په اړه په نړیواله سطحه باندې راپورونه ورکړل شویدي د میږو په نسلګیرۍ کې Campylobacter زیات موجودیت د سقط جنین (Abortion) او عقیم والی (Infertility) سبب کیږي. انتانی او غیرانتانی عوامل دواړه کولای شي چې د سقط جنین په پلټنه (Investigations) کې رول ولوبوي [۲۲: ۱۰۵].

کمپایلو باکتر C. Jejuni او C. coli د ملوثو غذایي موادو د خوړلو له لارې انتقالیږي د چرګانو خامه او ملوثه غوښه د نورو غوښه خوړونکو لپاره لکه Pets (هغه حیوانات چې په کورنو کې د تفریح او ښکلا لپاره ساتل کیږي) او همدارنګه تجارتی سمسوري (Mink) د ناروغۍ دعامل منابع بلل کیږي. د Campylobacter ډولونه له زیاتره ضد عفونی موادو سره حساس دي.Campylobacter د فارم په حیواناتو کې یوه باکتریایی ناروغۍ ده چې ددې جملې څخه Campylobacter fetus په میږو کې د سقط جنین (Abortion) یو عام سبب بلل کیږي. همدارنګه په ځینې حالاتو کې Campylobacter fetus په انسانانو کې د ناروغۍ سبب کېدلی شي خصوصاً په هغو ناروغانو کې چې کمزوری معافیتي سیستم (Immuno-Compromise) لري [۵: ۱۵۴].

Ovine Campylobacteriosis د Campylobacter fetus او Campylobacter jejuni پواسطه رامنځ ته کیږي. دواړه اورګانیزمونه دا قدرت لري چې په میږو کې سقط جنین (Abortion) رامینځته کړي. په داسې حال کې چې په استرلیا او نیوزلند کې

Campylobacter fetus fetus یو لوی عامل د سقط جنین پاتی شوی دی او د استرالیا په ټولو برخوکې د Ovine Campylobacteriosis راپورونه ورکړل شوی دي. [۲۲: ۱۰۸]. د استرلیا هیواد د میږو په ټولو رمو کې نوموړی ناروغی عامه ده. چې په بلاربو میږو کې سقط جنین د د بلاربوالی په مختلفو مودو کې منځ ته راوړي. چې د میږو په رمو کې د ۱۰-۵ سلنه کموالی منځ راوړي. په حیواناتو کې یو احتمالی تشخیص یې د Darkfield مایکروسکوپ پواسطه صورت نیسي او قطعی تشخیص یې د کلچر پواسطه ترسره کېدلی شي. فضله مواد او وینه په نادرو حالاتو کې د کلچر او تشخیص لپاره استعمالیږي. او دقیق تشخیص یې د PCR پواسطه صورت نیسي. د تداوي لپاره یې انتي بیوتیکونه په کاروړل کیږي زیاتره وختونه د ناورغی عامل د انتي بیوتیکونو په مقابل کې مقاومت ښیي. دمخنیوي لپاره یې تر ټولو غوره لاره د حفظ الصحې مراعات کول دي [۴: ۱۷].

**موخې**

داچې کمپیلوبکتریوزیس (Campylobacteriosis) یوه باکتریایی ناروغی ده او د نړی په زیاتره هیوادونو کې د افغانستان په شمول په انسانانو، حیواناتو، او مرغانو کې د مختلف ډوله ضایعاتو سبب کیږي. د ذکرشوې ناروغی په اړه په پښتو ژبه کې د معلوماتو لاسته راوړل به د انساني او حیواني ډاکترانو سره یوه اړینه او پرځای مرسته وي. دا چې د کمپیلوبکتریوزیس (Campylobacteriosis) ناروغی په اړه نوې ترسره شوې څیړنې اکثره په انګلیسي ژبه باندې خپریږي، نو د دې مقالې د لیکلو موخه هم دا وه تر څو دغه نوې څیړنې په لنډ ډول سره په پښتو ژبه کې راغونډې شي.

**مواد او کړنلاره**

دغه مقاله چې د کمپیلوبکتریوزیس (Campylobacteriosis) د ناروغی په اړه پکې معلومات راټول شویدي یوه کتاخانه يي څیړنه ده. د ذکرشوې مقالې د لیکلو لپاره انټرنیټي سرچینو او نړیوالو معتبرو ژورنالونو ته مراجعه شویده او په نوموړیو ژورنالونو کې د خپرو شویو څیړنیزو مقالو څخه ګټه اخیستل شویده.

**لامل**

Campylobacter یوه ګرام منفي، هوازي، مارپیچې او میله ډوله باکتریا ده چې د Campylobacteriaceae په کورنی کې شامله ده. C. jejuni او C. coli په اهلي

حیواناتو او انسانانو کې د کامپیلوباکتر د غړو ډولونو له جملې څخه دي چې ځینې ستراینونه یې لکه C. jejuni، C. fetus subsp. Venerealis او C. fetus subsp. Fetus په شخوندوهونکو حیواناتو کې دعقیموالي (Infertility) اوسقط جنین (Abortions) باعث ګرځي. C. fetus ځینې وختونه د انسانانو له میکروبی وینی څخه هم تجرید شویدي. نوري اضافی ساري ډولونه یې له C. helveticus، C. hyointestinalis، C. lari، C. upsaliensis، C. sputorum او C. ureolyticus څخه عبارت دي. هغه ډولونه چې یواځی په انسانانو کې ناروغۍ مینځ ته راوړي عبارت دي له C. concisus او C. curvus چې د معدې او کولمو التهاب رامنځته کوي، C. gracilis، C. rectus او C. showae چې د وینې د میکروبي کیدو او د کولمو د التهاب سبب کیږي، C. lari subsp. Concheus او C. peloridis چې د کولمو د التهاب سبب کیږي کې شامل دي [۱۵: ۱۳۱۶].

**اخته کیدونکي حیوانات**

Campylobacter spp په هر ځای کې موجود دي چې په انسانانو او د حیواناتوپه مختلفو ډولونو کې موندل کیږي، په داسې حال کې چې ځینې ډولونه یې په مشخصو حیواناتوکې ناروغۍ مینځ ته راوړي. C. jejuni او C. coli کولی شی چې غواګانې، پسونه، چرګان، فیل مرغان، سپیان، پیشوګانې، سمسوری (Mink)، موش خرما (Ferrets)، خوګان او نور حیوانات اخته کړي. نور ډولونه یې چې په اهلی حیواناتو کې د Campylobacter د ناروغۍ عامل کېدلی عبارت دي له C. Lari، C. Hyointestinalis، C. Helveticus، C. Upsaliensis، C. fetus subsp. Fetus شامل دی چې زیاتره یې په غواګانو، پسونو او وزو کې پیدا کیږي. په داسې حال کې چې د C. fetus subsp. Venerealis راپوروونه په غواګانو کې هم ورکړل شوي دي. همدارنګه الوتونکي او خزنده ګان هم د ځینو ډولونو پواسطه اخته کېدلی شي [۱۴: ۸۵].

انسانان د مختلفو Campylobacter spp انتانونو سره حساس دي. هغه ډولونه چې په انسانانو کې ناروغي رامنځته کوي د C. jejuni او C. fetus څخه عبارت دي. نور ډولونه یې لکه C. lari، C. Upsaliensis او C. Hyointestinalis په ډیره کمه اندازه سره په انسانانو کې پیدا شوي دي. برخلاف حیوانات او انسانان د اوږدی مودی لپاره د دې باکتریا محزن نه شي پاتې کیدلی [۱۷: ۵۲].

**جغرافیاوی خپریدنه**

د C. jejuni، C. Coli او C. fetus انتانونو د موجودیت او ناروغیو په اړه په نړیواله سطحه باندې راپورنه ورکړل شویدي [۸: ۱۲].

**انتقال**

C. Jejuni او C. coli د ملوثو غذایي موادو د خوړلو له لارې انتقالیږي د چرګانو خامه او ملوثه غوښه د نورو غوښه خوړونکو لپاره لکه Pets (هغه حیوانات چې په کورنو کې د تفریح او ښکلا لپاره ساتل کیږي) او همدارنګه تجارتی سموری (Mink) د ناروغی دعامل منابع بلل کیږي. همدارنګه C. jejuni د سقط ورکوونکو میږو د واجن په افرازاتو، سقط شوی بچې او پلاسنتا کې هم موجود وي. وحشی ژوونکي لکه موږک او حشرات لکه مچان ممکن د میخانیکې انتقالوونکو په شکل رول ولوبوي. Campylobacter fetus subsp. Fetus په غواګانو، میږو او وزو کې دخوړو پواسطه انتقالیږي. حیوانات د فضله موادو، د مهبلی افرازاتو، سقط شوی بچي او پلاسنتا سره د تماس له لارې ورباندې اخته کیږي. C. fetus subsp. venerealis په غواګانو کي په مقاربتی ډول هم انتقال کیداي شی. د تناسلی سیستم C. fetus انتانونه د ککړ سمین، ککړ اسبابو او وسایلو اوهمدارنګه نر غوایي دطبعي القاح پواسطه انتقالیږي. ، ځینی غوایان او غواګانې د اوږدې مودې لپاره د دې ناروغی عاملین پاتې کیږي [۱۵: ۱۳۱۱].

د Campylobacter ډولونه وچوالی او ګرموالی نه شی تحمل کولی مګر په لوند یا مرطوب محیط کې د یو څه وخت لپاره ژوند کولی شي. Campylobacter په اوبو کې چې حرارت درجه یې 4 °C وی د ۴-۳ هفتو لپاره ژوند کولی شي او که چیرې داوبو د حرارت درجه 15 °C څخه لوړه وي یوازې څو ورځې پکې ژوند کولی شي. C. jejuni شاید په فضله موادو کې تر ۹ ورځو، په شیدو کې تر ۳ ورځو او په اوبو کې د ۳-۲ ورځو پوری ژوندی پاتې شي. C. jejuni او C. coli د مرغانو دفارم په مرطوب فرش کې د اوږدی مودی لپاره د ناروغی دمنبع په شکل پاتی کیدلی شي. C. fetus په مایع خوشیو کې د ۲۴ ساعتونو لپاره او په خاوره کې تر ۲۰ ورځو پوری ژوند کولی شي [۲۲: ۱۰۴]. انسانانو ته په عام ډول سره دمرغانو د ملوثې او نیمه پخه شوې غوښې، خامو شیدو، او نورو ملوثو شویو غذاګانو لکه نه وینځل شوي سبزیجاتو له لارې انتقالیږي. غیر صحی اوبه هم دنوموړې ناروغی دعامل یوه بله قوی منبع بلل کیږي. Campylobacter spp انسانانو ته هم له اخته شویو کورنیو حیواناتو او همدارنګه د

مالداري د مختلفو توليداتو له لارې انتقاليږي. اضافی Campylobacter spp له يو شخص نه بل شخص ته مستقيم او غير مستقيم تماس پواسطه د خولې، جنسي تماس او فضله موادو له لارې انتقال کيدای شي [۸: ۲۰۵].

**ضد عفونی**

د Campylobacter ډولونه له زياتو ضد عفونی موادو سره حساس دي. C. jejuni او C. coli ډولونه يې د Iodophors، Quaternary ammonium compounds، Phenolic compounds، 70% ethyl alcohol او Glutaraldehyde پواسطه غير فعالې کيدلی شي. همدارنګه Hypochlorite (5mg/L) هم ښه ضدعفوني تاثيرات لري. د C. coli 1.5% NaCL او لوړ pH (<5.0 and >9.0) سره حساس دي. C. jejuni او C. coli دواړه د حرارت په 70°C کې د يوی دقيقی څخه ورسته غير فعاليږي. C. jejuni هم د ګاما شعاګانو سره حساسيت ښودلی دی [۱۲: ۱۲۲].

۱- په حيواناتو کي دکمپيلو باکتريوزيس انتانونه ( Campylobacteriosis infections in animals)

**مخفی دوره**

د Campylobacter انتانونو لپاره مخفی دوره په عموم کې لنډه ده چې د کولمو د التهاب علايم د دريو ورځو په موده کې په کوچنيو سپيانو کې او په تيزی سره په چرګانو کې ظاهريږي [۱۷: ۶۲].

**کلينيکې علايم**

زيات صحت مند حيوانات د Campylobacter spp بغير له دې چې کلينيکي علايم وښيي انتقالوي. همدارنګه د Campylobacter spp په مختلفو ډولونو کې د کولمو د التهاب، سقط جنين او شنډوالي (Infertility) لامل کيږي [۸: ۳۲].

**کولمو التهاب**

C. jejuni او کله کله C. coli په سپيانو، پيشوګانو، خوسکېانو، پسونو، سمسوری (Mink)، موش خورما (Ferrets)، مرغانو، خوګ او د لابراتواري حيواناتو په ځينو انواعو د کولمو دالتهاب باعث ګرځي. کلينيکي علايم ممکن په ځوانو حيواناتو کې لکه د حيواناتو بچيو، کوچنيو سپيانو او خوسکيانو کې ډير شديد وي. سپيان ممکن اسهال، د اشتها کموالی، استفراق او

ځینی وختونه تبه هم ولري. فضله مواد معمولاً اوبه ډوله مخاط لرونکي او ځینې وختونه وینه هم پکې لیدل کیږي. کلینیکې علایم په عمومی ډول په اخرو (۷-۳) ورځو کې لیدل کیږي، مګر ځینې حیوانات نوبتی اسهال د هفتو او کله کله هم د میاشتو لپاره لري. په ځانګړي ډول سره په خوسکېانو کې اسهال لیدل کیږي چې په غایطه موادو کې یې غلیظ مخاط او کله کله هم په کمه اندازه وینه اطراح کیږي. ځینې وختونه تبه هم ورسره موجوده وي. مخاط لرونکی، اوبه لرونکی او ځینی وختونه وینه لرونکې اسهال په پیشوګانو، عالی حیواناتو، سمسوری، موش خرما، همسټر، ګونیا خوګ، مږو او موږکانو کې لیدل کیږي. په نویو زیږیدلو او بالغو هګۍ ورکونکو چرګانو کې د کولمو حاد التهاب، شدید اسهال او مړینی په علایمو سره پیژندل کیږي. په داسی حال کې چې ناروغۍ په تجروبوی ډول تکثیر کېدلی نه شي [۱۸: ۷].

**په تناسلي سیستم کې علایم**

په غواګانو کې C. fetus subsp. Venerealis او C. fetus subsp. Fetus د Bovine genital campylobacteriosis لامل کېدلی شي. دغه ناروغۍ د شنډوالي، د حاملګي په دوران کې د بچي د مړینی او د بچې زیږونی موده کې د زیاتوالي رامنځته کېدو سره تشخیص کیږي. بچې غورځیدنه غیر معمول ده مګر کله کله لیدل کیږي. اخته غواګانی ممکن Mucopurulent endometritis ته انکشاف وکړي مګر نور سیستمیک علایم نه لري. نوموړې ناروغۍ په غوایان کې غیر د علایمو (Asymptomatic) شکل سره رامنځته کیږي [۱۷: ۲۲۵]. C. jejuni په اوسني وخت کې په امریکا کې د میږو د سقط جنین کېدو اصلي عامل بلل کیږي. C. fetus subsp. Fetus هم دحاملګۍ په ورستیو وختونوکې د بچې غورځیدنې سبب کیږي. په پسونو کې د ناروغۍ عامل ځینې وخت د رحم د التهاب او کله کله د مړینې سبب هم کیږي او که حیوان روغ شی نو د دوهم ځل لپاره د انتان په مقابل کې معافیت لرونکی وي. پسونه په دومداره ډول اخته کېدلی شي او باکتریاوي همیشه په فضله موادو کې محیط ته خارجیږي. Campylobacter spp په وزو کې هم د بچې د زیان کیدولو سبب کیږي [۶: ۷۲].

Campylobacter fetus subsp. Venerealis د غیر حامله اوښانو د رحم د عنق څخه په اخستل شویو نمونو کې تشخیص شوی دی همدارنګه د جنین په سقط پوری مربوط Campylobacter (C. fetus subsp. fetus) په alpacas (Vicugna pacos) کې

تشخیص شوی دی. د Campylobacter نوری ډولونه د ناروغۍ عامل کېدلی شی مګر په اهلی حیواناتو کې په کم اهمیت سره ظاهرېږی. په دوی کې C. lari، C. hyointestinalis، C. helveticus او C. upsaliensis شامل دی. کوم چې په حیواناتو کې د معدی او کولمو التهاب سره تړلی دي. غیر مشخص Campylobacter ډولونه ممکن په Hamsters کې د ایلیوم التهاب، په موش خرما (Ferrets) کې د کولون د التهاب سبب شي [۳: ۵۸].

**د مرګ څخه وروسته د جسد پلټنه**

د سپیانو په کولون کې معمولاً احتقان او اډیما لیدل کیږي. په خوسکېانو کې یې اختلالات ممکن د حفیفه یا شدیده خونریزي، د کولون التهاب او د میزاینتریک لمفنوډونو اډیما کېدل ولیدل شي. په چرګانو کې د جیجنیوم پراخوالي، منتشره خونریزي چی لرونکې د کولمو التهاب او په ځیګر کې نقطوی التهاب  موجود وي. د غواګانو سقط شوی بچې ممکن د سینه بغل (Bronchopneumonia)، د پلورا خفیف فیبریني التهاب او د پریتونیم التهاب موجود وي. د پلاسنتا التهاب معمولا حفیف وي او کتلیډونونه ممکن خونریزي لرونکي او په داخلي برخو کې اډیما لرونکي وي [۱۹: ۱۳]. د پسونو  د سقط شوي بچی په ځیګر کې معمولاً د  ۲-۱ سانتی مترو پورې ژیړي نیکروتیک نقطی لیدل کیږي. د پلاسنتا التهاب ممکن د خونریزۍ لرونکی وي او نیکروتیک کتلیډونونه په اډیمایي شکل سره مشاهده کیږي [۷: ۱۰۲].

**تشخیصی ټستونه**

احتمالي تشخیص د .Campylobacter spp د موجي حرکاتو د لیدلو پواسطه صورت نیسي، کوم چې په اخستل شویو انساجو کې د darkfield او phase contrast مایکروسکوپونو پواسطه سره لیدل کیږي. ګرام منفی، منحنی یا مارپیچي میله شکله باکتریا د ګرام رنګامیزۍ د ترسره کولو څخه وروسته لیدل کیږي [۲۴: ۱۱۴].

**د کولمو د التهاب تشخیص**

د کولموالتهاب کېدلی شی د فضله موادو په تازه نمونو کې د ناروغۍ رامنځ ته کوونکو اورګانیزمونو د جدا کولو پواسطه سره تشخیص شي. په داسی حال کې چې Campylobacter ضعیفه یا باریک جسامت لري او همیشه پیدا کېدلی نه شي. د مختلفو میډیاګانو د استعمال وروسته په کلچر کې مختلفې کالونۍ لیدل کیږي. همدارنګه د تشخیص لپاره یې د بیوشیمیکي ټیستونو، انتي جن ټیستونو څخه هم استفاده شوېده. د دې څخه علاوه  د

باکتریا د مشخصې ډولونه او Strain د تشخیص لپاره د Restriction endonuclease DNA analysesټیسټ څخه هم استفاده کیږي. PCR هم د نوموړې ناروغۍ د عامل د تشخیص لپاره په اوسني عصر کې په پراخه پیمانه سره په کار وړل کیږي. جین تسلسل لکه 16S rRNA، Multi locus sequence typing او داسې نور ټیسټونه د اپیډیمولوژیکي تشخیص لپاره هم پکار وړل کیږي. سیرولوژیکي ټیسټونه هم په ځینو کېسونو کې ممکن مرسته وکړي [۷: ۹۹].

**د تناسلي سنډروم تشخیص**

د Darkfield او Phase contrast preparations معایناتو لپاره نمونې له پلاسنتا، دبچې ابومازوم او رحم افرازاتو څخه اخستل کیږي چې په پسونو کې د Campylobacter abortions د تشخیص لپاره استعمالیږي. همدارنګه د Campylobacter انتیجنونه د Immunofluorescence مایکروسکوپ پواسطه تشخیص کیږي [۱۷: ۱۵۸].

Bovine genital campylobacteriosis د سیرویکس په میوکس کې د مشخصې انتی باډي (IgA) پیداکولو پواسطه تشخیص کېدلی شي. دغه انتي باډیګانې د اخته غواګانو د حاملګۍ په نیمایي کې د زیاتو میاشتو لپاره موجودې وي. زیاتره د Vaginal mucus agglutination test (VMAT) او Enzyme-linked immunosorbent assays (ELISAs) ټیسټونو څخه استفاده کړی. د دغه ټیسټ لپاره د غواګانو د ګلی ٪۱۰ څخه باید نمونې واخستل شي. Sheath washings تقریبا په یوه هفته کې دوه ځلی له غوایانو واخیستل شي، کېدلی شی د کلچر یا ایمنوپلوروسنس ټیسټ لپاره ثبت شي [۷: ۱۰۴].

**تداوی**

د Campylobacteriosis زیاتره واقعات Self-limiting دي او یواځې تقویتي تداوي (Supportive therapy) ته ضرورت لري. انتی بیوتیکونه ممکن د کولمو التهاب لپاره ګټور وي په خاص ډول هغه چې ډیر شدید وي. Macrolides او Fluoroquinolones په عام ډول د Campylobacteriosis لپاره تجویز شوي دي. اګر چې د Macrolides، Fluoroquinolones او ځینې نورو انتي بیوتیکونه سره مقاوت هم ښیي. د صحت منده حیواناتو تداوي د زیاتو دلایلو لپاره نه ده پشنهاد شوي. د Re-exposure (بیااخته کیدنې) چانس یې زیات دی او داسی شواهد نشته چې تداوی موثره وي [۱۳: ۵۷].

**وقایه**

انسانانو ته زیاتره د چرګانو په ځانګړي ډول د غوښینو چرګانو څخه انتقالیږي. په داسې حال کې چې دغه باکتریا په هر ځای کې موجوده وي، او دا ډیره مشکله ده چې په دغه الوتونکو کې د مهاجرت او په انتاني اخته کېدو مخنیوی وشي. زیاتې کړنلارې په کار وړل شوی دي تر څو د مرغانو په فارمونو کې د نوموړې ناروغي سرایت راکم کړي، په داسې حال کې چې هیڅ یوه یې هم د غوښینو چرګانو په فارمونوکې د Campylobacter واقعاتو راکم کړي نه دي [۱: ۷۶]. د مخنیوي لپاره یې په عمومی ډول سره د بایوسیکوریتی سخت ګیری توصیه شویده. د مثال په توګه مشخص تدابیري اقدامات د حشراتو کنترول لکه مچان او د ژوونکو (Rodent) کنترول او د پښو پاکونکو (Footbaths) استعمال پشنهاد شوي دي [۲۱: ۷].

**اخته کېدنه او مړینه**

په مرغانو کې د Campylobacter واقعات د (۱۰۰-۰)٪ واقع کیږي او د نړۍ په زیاتو برخو کې ۵۰ سلنه اخته کیده د مرغانو د ملوثې غوښې د خوراك پواسطه رامنځته کیږي. په مرغانو کې د پسرلي په موسم کې واقعات زیاتیږي په داسی حال کې چې د دغه لپاره تر اوسه دلیلونه واضح نه دي. د Campylobacter spp واقعات په سپیانو او پشوګانو کې عموماً زیات دي. اوسنیو څیړنودا ښودلې ده چې روغ سپیان ٪۷۶ او ورغې پیشوګانې ٪۵۸ د دې ناروغۍ انتقالونکي ښودل شوي دي. دا چې د سپیانو او پیشوګانو روزنه زیاتره په تړلي سیستم کې ترسره کیږي نو دغه کار هم د ناروغۍ د انتقال لپاره زیاته زمینه مساعدوي. په داسی حال کې چې د کولمو د باکتریایي التهاب د واقعاتو اندازه په حیواناتو کې غیر واضح پاتې کیږي. ځینې څېړنې ښیی هغه حیوانات چې زیات مهاجرت کوي نو په اسهال زیات اخته وي. په نورو حیواناتو کې د Campylobacter خپریدنه محدوده وي. یوې اوسنۍ مطالعې د Ohio په شیدو ورکونکو غواګانو کې ښودلې ده چې په ۳۷ سلنه د فضله موادو نمونو کې د Campylobacter spp پیښې مثبتې وې. په داسی حال چې د امریکا په متحده ایالاتونو کې مطالعاتو دغه ډول واقعات ۱۹ سلنه ښودلي دي. همدارنګه د نړۍ په نورو هیوادونو کې هم په ورته اندازه سره د پیښو راپورونه ورکړل شویدي [۱۰: ۱۳۹۱].

د معدې او کولمو Campylobacteriosis معمولا په تی لرونکې کې Self–limiting (عامل پکې موجود وی حیوان علایم نښی بلکې نورو حیواناتو ته عامل انتقالوي) دي. همدارنګه

هغه بالغ پسونه او غواګانې چې سقط جنین او شنډوالی ولري مړینه پکې ټیټه ده. مړینه ممکن په پسونو کې په ناڅاپي ډول سره تر ۹۰ فیصده پورې ورسیږي خو په عام ډول ۵۰-۵ فیصده مړینه رامنځته کوي [۲۵: ۴].

۲- په انسانانو کې د کمپیلوباکتریوزیس انتانونه ( Campylobacteriosis infections in Humans)

**مخفی دوره**

په عمومي ډول سره په انسانانو کې د C. jejuni مخفی دوره د معدې او کولمو د التهاب واقعاتو کې د (۱۰-۱) ورځو پورې رسیږي، خو ځینې وختونه بیا د (۵-۱) ورځو پورې وي. مخفی دوره د C. Fetus انتانونو لپاره معمولاً (۵-۳) ورځو پورې ښودل شویده [۲۱: ۲].

**کلینیکې علایم**

C. jejuni او کله کله C. coli د کولمو د التهاب باعث کیږي. د ناروغۍ شدت توپیر لري کوم چې د معدې او کولمو د خفیفو ناخوالو څخه آن د کولمو تر شدید التهاب پورې رسیږي. د معدې او کولمو خفیفې ناخوالې يې د ۲۴ ساعتونو شاوخوا کې بیرته جوړیږي. نور علایم يې له اوبه لرونکی یا چسپناکه اسهال، تبې، زړه بدوالی، استفراق، د ګیډې درد، سردردي او د عضلاتو درد څخه عبارت دي. فضوله مواد شاید وینه درلودونکي وي. عواقب يې عام نه دي، په داسی حال کې Endocarditis، Reactive arthritis، Hemolytic uremic syndrome او Septicemia هم کله کله پکې لیدل کیږي [۹: ۹۷۰]. په کمه اندازه سره Meningitis، Recurrent colitis، Post-infectious irritable bowel syndrome، Acute cholecystitis او Guillain–Barré syndrome هم واقع کیږي. د C. jejuni سقط جنین یا واقعات په انسانانو کې لیدل شوي دي، مګر ډیر کم وي. C. jejuni زیاتهر د bacteremia اوپه ځانګړي ډول سره immunocompromised باعث کیږي [۲۲: ۱۰۷].

C. fetus یو موسمي انسانی پاتوجن دی او عموما د سیستمیک انتانونو باعث ګرځي. انتانونه د دې موقع په انتظار وي تر څو پورې په انسانانو کې له ضعیف کوونکو ناروغیو لکه HIV/AIDS، Diabetes، Cancer یا Cirrhosis سره واقع شي. د کولمو ممکن حفیف وي. تبه يي یواځینی علامه ده مګر د ګیډې درد، د توری غټوالی او د ځیګر غټوالی يې عام

علایم بلل کیږي. همدارنګه په ځینو واقعاتو کې Subacute Endocarditis، Septic Arthritis، Meningitis او نا معلومې منشاه لرونکې تبه هم موجوده وي. د ذکرشوې ناروغۍ عواقب په انسانانو کې عبارت دي له Endocarditis، Pericarditis، Pneumonia، Thrombophlebitis، Peritonitis یا Meningoencephalitis څخه. C. fetus په نادر ډول په حامله ښځو کې د pre-term labor باعث کیږي. نورې زونوتیک ډولونه د Campylobacter چې په انسانانو کې د ناروغتیا سبب کیږي د ماشومانو له حفیف اسهال څخه تجرید شوي دی [۲۳: ۱۶۰۸].

**تشخیصی تیستونه**

په حیواناتو کې یو احتمالی تشخیص یې د Darkfield مایکروسکوپ پواسطه صورت نیسي او قطعي تشخیص یې د کلچر پواسطه ترسره کېدلی شي. فضله مواد او د وینه په نادرو حالاتو کې د کلچر او تشخیص لپاره استعمالیږي. دقیق تشخیص یې په هغو نمونو کې چې د انسانانو د غایطه موادو څخه اخستل شوی وي د PCR-based تخنیکونه پواسطه سره صورت نیسي. ځینو څېړنو یو تعداد سیرولوژیک ازمایشونه هم د نوموړې ناروغۍ د تشخیص لپاره پشنهاد کړي خو موثریت یې کم دی [۲۰: ۹].

**تدواي**

تداوي یې اکثراً د مایعاتو او الکترولایتونو عوض کوونکې دواګانو پورې منحصره ده. انتی بیوتیکونه کله کله ورکول کیږي، په ځانګړي ډول کله چې پرمخ تلونکی او شدید علایم موجود وي. په داسی حال کې چې استعمال یې د کولمو د میکروبونو د نورمالو فلوراوو لپاره مشکلات ایجاد کوي. په Immunocompromised خلکو کې هغوی چې HIV/AIDS ولري د انتی بیوتیک دواګانی معقول مطرح شوي دي. د انتی بیوتیکونو پواسطه تداوی د میکروبونو پوښونه له منځه وړلی شي. په انسانانو کې د Campylobacter انتانونو مقاومت د انتي بیوتیکونو په مقابل کې یوه د پام وړ ستونزه ده لکه په حیواناتو کې اکثریت د دواګانو په مقابل کې د عامل مقاومت واقع کیږي [۱۲: ۲۱۰]. په نړیواله کچه Fluoroquinolones (لکه Ciprofloxacin) او Tetracycline په مقابل کې د عامل مقاومت ډیر زیات عام دی. د Macrolide په وړاندې مقاومت هم په ځینې ساحو کې مشاهده شوی دی. د امریکا په متحده ایالاتو کې هم د نوموړی ناروغۍ د عامل مقاومت د Fluoroquinolones،

Macrolides ،Tetracyclines او نورو انتی بیوتیکونو په مقابل کې ښودل شویدی. په ۲۰۱۱ کال کې د امریکا په متحده ایالاتو کې د ټیست شوو ازمایښتونو څخه نیږدي ۲۵ فیصده یې د Ciprofloxacin په مقابل کې مقاوم وو [۱۳: ۶۸].

**وقایه**

دغذایي موادو تیارول، پخول او خوړل د Campylobacteriosis لپاره زمینه مساعدوي، برعکس د غذایي موادو په درست ډول پخول، تیارول او خوړل د ذکر شوې ناروغۍ په مخنیوي کې مهم رول لوبوي. د غذایی موادو تیارونکي باید په مکرر ډول سره خپل لاسونه ووینځي، او ټول هغه لوازم او وسایل چې په پخلنځي کې د غذایي موادو د پخولو او تهیه کولو لپاره په کار وړل کیږي په بشپړ ډول سره پاک وي. په ځانګړي ډول د حیواني تولیداتو د پخولو او تهیه کول په صورت کې باید حفظ الصحه په جدي ډول سره مراعات شي. ټولې غوښې باید په ښه ډول پخې شي او سبزیجات باید په ښه ډول سره ووینځل شي. د غیر پاستورایزه شیدو تولیدات او ناپاکې اوبه باید مصرف نه شي. ناروغ حیوانات لکه کوچني سپیان، پیشوګانې او اهلی څلور پښو لرونکي باید له ماشومانو نه لرې وساتل شي. هغه خلک چې Immunocompromised دي په شمول د حامله ښځو باید له حیواناتو سره محدود تماس ولري او د حیواناتو فضله موادو له تماس څخه جلوګیری وکړي. هغه څوک چې Campylobacteriosis ناورغي لري باید ښه حفظ الصحه مراعات کړي تر څو نورو ته د ناروغۍ د انتقال مخه ونیول شي [۲۴: ۱۱۴].

**اخته کېدنه او مړینه**

C. jejuni په نړیواله کچه د باکتریایي اسهال یو عمده عامل بلل کیږي. په داسی حال کې چې زیاتره انتانونه یې غیر تشخیص شوی یا هم یې راپورونه نه دي ورکړل شوي او د سرویلانس پروګرامونه یې هم په اکثره انکشافي هیوادونو کې بند دي. د امریکا په متحده ایالاتو کې یو راپور ښولې وه چې په ۲۰۱۲ کال کې په هر ۱۰۰۰۰۰ کسانو کې ۱۴،۳ کسان په ذکرشوې ناروغۍ باندې اخته وو [۱۷: ۳۲۳]. په اروپایي اتحادیه کې د یو بل راپور له مخې په ۲۰۰۹ کال کې په هر ۱۰۰۰۰۰ کسانو کې ۴۵،۶ کسان ورباندې اخته وو. همدارنګه څیړنې په نوموړې ناروغۍ د اخته کسان شمیره د چین په ښاري ساحو کې ۱۶۱ کسان په هرو ۱۰۰۰۰۰ کسانو کې او داشمیره په اطرافي ساحو کې کمه ده او ۳۷ کسان په هرو ۱۰۰۰۰۰ کسانو پدې ناروغۍ اخته موندل شوي وو. همدارنګه د ناروغۍ زیات واقعات یې د انکشافي هیوادونو په مختلفو ساحو کې

واقع کيږي. دمثال په ډول په زياتره منطقو کې لکه ختيځ او لوديځ آسيا او افريقا کې Campylobacter د سفر په وخت د پيداکېدونکي اسهال يو اساسي عامل بلل کېږي [۲: ۱۵۵۶]. په جنوب شرقي اسيا او د افريقا په زياتره ساحو کې هم د اسهال يو مهم لامل بلل کيږي. داسې اټکل شويده چې ۸۰-۵۰ سلنه اخته انسانانو ته ذکرشوې ناروغي د چرګانو څخه انتقال شوېده. Campylobacter په خصوصی ډول په ځوانو او بالغو چرګانو کې له ۲۹-۱۸ ورځو عمر کې ډيره عامه ده. C. jejuni او C. coli اسهال معمولاً self-limiting او بغير د مشخصې تداوی وي. او عموما ورسته ۱۰-۷ ورځو کې ناروغ بيرته جوړيږي. دوهم ځلي اخته کيدنه د ۲۵-۱۰ سلنه واقع کېدلی شي. Immunosuppressed افرادو کې دوهم ځلي اخته کيدنه septicemia لپاره يو لوی خطر بلل کيږي. مړينه په C. jejuni انتانونو کې کمه ده او عموما په هغو ناروغانو کې چې له سرطان يا بلې ضعيف کوونکې ناروغۍ سره يوځای وي ليدل کيږي. د تخمين شويو واقعاتو د مړينې اندازه د C. jejuni انتانونو لپاره په ۱۰۰۰ کې يو دي [۴: ۱۸].

Guillain-Barré syndrome (GBS) تقريبا د ۱۰۰۰ تشخيص شويو واقعاتو څخه وروسته ۱ دانه ليدل شوی. اوسنی څېړنې ښيي چې د GBS واقعاتو ۳۱ فيصده د campylobacter انتانونو سره اړيکه لري. د GBS په واقعاتو کې د ۱۵-۴ سلنه د ناروغان د مړينې سره مخامخ کيږي او ۳۰ فيصده يا زيات يې په کمزوزۍ او يا نورو عصبي اختلالاتو باندی اخته کيږي. همدارنګه Campylobacteriosis يو وظيفوی ناروغۍ هم مطرح شويده، لکه څنګه چې د مرغانو د روزنې او پروسيس کارکوونکو کې زياته ثبت شويده [۱۷: ۷۸].

**پايله**

دا څېړنه څرګندوي چې کمپيلو بکتريوزيس يوه باکتريايی ناروغۍ ده او د نړۍ په زياتره هيوادونو کې د افغانستان په شمول په انسانانو، حيواناتو، او مرغانو کې د مختلف ناروغيو رامنځ ته کيدو سبب کيږي. د ناروغۍ انتقال د خولې د لارې صورت نيسي، چې زياتره واقعات يې د مرغانو نيمه خامی غوښې د خوړلو په نتيجه کې رامنځ ته کيږي. د کمپيلوبکتر مختلف انواع خصوصأ کمپيلوبکتر جيجوني او کمپيلوبکتر کولي په انسانانو کې د کولمو التهاب لوی عامل دی. نور ډولونه يې په پسونو او غوګانو کې د تناسلی سيستم د ناروغيو سبب کيږي. نو پکار ده چې د دې ناروغي د مخنيوي لپاره حفظ الصحوي شرايطو ته پاملرنه وشي او د مرغانو غوښې په سمه توګه پاخه او استفاده تري وشي.

**وړاندیزونه**

۱ـ خلك باید د ملوثو غذایي موادو د خوړلو څخه ډډه وکړي

۲ـ د چرګانو او نورو مرغانو غوښه په سمه توګه پخه شي

۳ـ څرنګه چې دا بکتریا د سقط ورکوونکو میږو د واجن افرازاتو کې په زیاته اندازه موجوده وي نو دي وخت کې حفظ الصحوي شرایط مراعت شي

۴– د ناوغه حیواناتو تداوي په خپل وخت تر سره شي

## References

1- Baker, M., Wilson, R., Ikram, R., Chambers, S., Shoemack, S., & Cook, G. (2006). Regulation of chicken contamination urgently needed to control New Zealand's serious campylobacteriosis epidemic. The New Zealand Medical Journal, 119(9), 76-83.
2- Berrang, M. E., Bailey, J. S., Altekruse, S. F., Patel, B., Shaw Jr, W. K., Meinersmann, R. J., & Fedorka-Cray, P. J. (2007). Prevalence and numbers of Campylobacter on broiler carcasses collected at rehang and postchill in 20 US processing plants. Journal of food protection, 70(7), 1556-1560.
3- Bidewell CA, Woodger NG, Cook AJ, Carson TV, Gale SL, Chanter JI, Williamson SM. (2010). Campylobacter fetus subspecies fetus abortion in alpacas (Vicugna pacos). Vet Rec.167:457-58.
4- Centers for Disease Control and Prevention [CDC]. (2013). Surveillance for waterborne disease outbreaks associated with drinking water and other nonrecreational water - United States, 2009-2010. MMWR Morb Mortal Wkly Rep. 62(35): 14-20.
5- Clark, G, Swanney, S, Nicol, C, Fenwick, S (2000). Salmonella Brandenburg – the 1999 season. Proceeding 30th seminar of the Society of Sheep and Beef Cattle Veterinarians, NZVA, PP 151-158.
6- Clune, T., Beetson, S., Besier, S., Knowles, G., Paskin, R., Rawlin, G., & Jacobson, C. (2021). Ovine abortion and stillbirth investigations in Australia. Australian Veterinary Journal, 99(3), 72-78.
7- Cornelius, A. J., Nicol, C., & Hudson, J. A. (2005). Campylobacter spp. in New Zealand raw sheep liver and human campylobacteriosis cases. International journal of food microbiology, 99(1), 99-105.
8- Dasti JI, Tareen AM, Lugert R, Zautner AE, Gross U. (2010). Campylobacter jejuni a brief overview on pathogenicity-associated factors

and disease-mediating mechanisms. Int J Med Microbiol, 300(4):205–11.
9- Domingues, A. R., Pires, S. M., Halasa, T., & Hald, T. (2012). Source attribution of human campylobacteriosis using a meta-analysis of case-control studies of sporadic infections. Epidemiology & Infection, 140(6), 970-981.
10- Doorduyn Y, Van Den Brandhof WE, Van Duynhoven YT, Breukink BJ, Wagenaar JA, Van Pelt W. (2010). Risk factors for indigenous campylobacter jejuni and campylobacter coli infections in the Netherlands a case–control study. Epidemiol Infect, 138(10):1391–404.
11- Food and Drug Administration (FDA). (2012). Bad bug book, Foodborne pathogenic microorganisms and natural toxins. 2nd ed, [online]. Campylobacter jejuni. pp. 14-17.
12- Fujihara N, Takakura S, Saito T, Iinuma Y, Ichiyama S. (2006). A case of perinatal sepsis by Campylobacter fetus subsp. fetus infection successfully treated with carbapenem--case report and literature review. J Infect. 53(5): e199-202.
13- Ge B, Wang F, Sjölund-Karlsson M, McDermott PF. (2013). Antimicrobial resistance in Campylobacter: susceptibility testing methods and resistance trends. J Microbiol Methods. 95(1):57-67.
14- Man S.M. (2011). The clinical importance of emerging campylobacter species. Nat Rev Gastroenterol Hepatol, 8(12):669–85.
15- Mullner, P., Spencer, S. E., Wilson, D. J., Jones, G., Noble, A. D., Midwinter, A. C., & French, N. P. (2009). Assigning the source of human campylobacteriosis in New Zealand: a comparative genetic and epidemiological approach. Infection, Genetics and Evolution, 9(6), 1311-1319.
16- Ontario Ministry of Health and Long-Term Care (OMHLTC). 2017. Publications Campylobacteriosis. Integrated Public Health information system (IPHIS), www. Health.gov.on.ca/en/public/publications/ disease/campylobacter.aspx. PP 1-3.
17- Poropatich KO, Walker CL, Black RE. (2010). quantifying the association between campylobacter infection and guillain-barré syndrome: a systematic review.J Health Popul Nutr, 28(6):545–52.
18- Ramonaite, S., Tamuleviciene, E., Alter, T., Kasnauskyte, N., & Malakauskas, M. (2017). MLST genotypes of Campylobacter jejuni isolated from broiler products, dairy cattle and human campylobacteriosis cases in Lithuania. BMC infectious diseases, 17(1), 1-10.
19- Sanad, Y. M., Jung, K., Kashoma, I., Zhang, X., Kassem, I. I., Saif, Y.

M., & Rajashekara, G. (2014). Insights into potential pathogenesis mechanisms associated with Campylobacter jejuni-induced abortion in ewes. BMC veterinary research, 10(1), 1-13.

20- Scallan E, Hoekstra RM, Angulo FJ, Tauxe RV, Widdowson MA, Roy SL, Jones JL, Griffin PM. (2011). Foodborne illness acquired in the United States major pathogens. Emerg Infect Dis, 17(1):7–15.

21- Schielke, A., Rosner, B. M., & Stark, K. (2014). Epidemiology of campylobacteriosis in Germany–insights from 10 years of surveillance. BMC infectious diseases, 14(1), 1-8.

22- Skarp, C. P. A., Hänninen, M. L., & Rautelin, H. I. K. (2016). Campylobacteriosis: the role of poultry meat. Clinical Microbiology and Infection, 22(2), 103-109.

23- Steinkraus, G. E., & Wright, B. D. (1994). Septic abortion with intact fetal membranes caused by Campylobacter fetus subsp. fetus. Journal of clinical micr
obiology, 32(6), 1608-1609.

24- Williams, M. S., Golden, N. J., Ebel, E. D., Crarey, E. T., & Tate, H. P. (2015). Temporal patterns of Campylobacter contamination on chicken and their relationship to campylobacteriosis cases in the United States. International Journal of Food Microbiology, 208, 114-121.

25- Williams, M. S., Ebel, E. D., & Nyirabahizi, E. (2021). Comparative history of Campylobacter contamination on chicken meat and campylobacteriosis cases in the United States: 1994–2018. International Journal of Food Microbiology, 342,(9), 1- 8.

# د عرضه کوونکو او مشتریانو تر منځ متقابلې اړیکې

لیکوالان: پوهنیار حفیظ الله مین امین او پوهنیار شرف الدین شرف، شیخ زاید پوهنتون، اقتصاد پوهنځی، اداري او تجارت څانګې استادان

تقریظ ورکوونکی: پوهندوی سیدولي شاه مندوزی د شیخ زاید پوهنتون د اقتصاد پوهنځی استاد

**لنډیز**

د کاروبار د پرمختګ او انکشاف په خاطر ټول مشتریان باید په مستقیم یا غیر مستقیم ډول پر ښو او باوري عرضه کوونکو باندې تکیه ولري. پرته د عرضه کوونکو د توقعاتو څخه مشتریان هم اړ کیږي، چې عرضه کوونکو ته وفاداره واوسي؛ تر څو له عرضه کوونکي سره اړیکې پیاوړې او قوي کړي، یعنې نه یوازې دا چې مشتریان له عرضه کوونکو څخه د خپلو توقعاتو د پوره کولو په فکر کې وي، بلکې د دې تر څنګ دوی باید عرضه کوونکو ته وفاداره واوسي او اړیکه ورسره قوي کړي. د مشتري او عرضه کوونکي تر منځ مثبته اړیکه د عرضه کوونکي په ابتکار سره پیلیږي او هغه داسې چې عرضه کوونکی د مشترې د اړتیاوو پر وړاندې حساسیت وښیې، یعنې عرضه کوونکي د مشتري د اړتیاوو د پوره کولو لپاره هڅه او هاند وکړي. یو مشتري باید همیشه له عرضه کوونکي سره مخلص او صادق واوسي؛ تر څو د خپل کاروبار یو ارامه جریان ولري؛ خو زیاتره وخت عرضه کوونکي د مشتري سره د اړیکې د جوړولو په شروع کې دغه اړیکه تخریبوي.

**کلیدي ټکي:** اړیکې، بشري سرچینې، د عرضه کوونکو اړیکې، مشتریان، مشتریانو مدیریت

**سریزه**

په اوسني وخت کې د بشري سرچینو د غوره روزلو په برخه کې پوره کار تر سره شوی او د پرمختګ او سهولتونو لپاره لا ډیره لاره هواره شوي ده، چې مهم علت یې د کار په ساحه کې تخصص دی؛ خو د دې لپاره چې کاروبار وده وکړي او د اجناسو او خدماتو په کیفیت کې ښه والی راشي؛ نو د غوره عرضه کوونکو سره اړیکې ټینګې او پر وخت دوی ته تادیه صورت ونیسي. سره د دې چې د معاملې دواړه لورې یو د بل په وړاندې د خپلو توقعاتو د پوره کولو په فکر کې وي؛ نو دواړه لوري باید یو او بل درک او یو او بل ته وفاداره پاتې شي؛ خو دا اړیکه هغه وخت مثبت اړخ نیسي، چې عرضه کوونکي د مشتریانو د اړتیاوو پوره کولو په فکر کې واوسي. مشتري باید همیشه له عرضه کوونکو سره مخلص او صادق واوسي؛ تر څو د خپل کاروبار په یوه ارامه فضا کې سرته ورسوي؛ خو زیاتره وخت عرضه کوونکي د مشتري سره د

اړیکې د جوړولو په پیل کې دغه اړیکه له منځه وړي (۳: ۷-۶).

**هدف**

د دې مقالې د لیکلو موخه د عرضه کوونکو او مشتریانو تر منځ د متقابلو اړیکو پیژندنه، د بازارموندنې مدیریت او مدیریت سره اړونده نورو څانګو او برخو سره د مشتریانو اړیکې په ګوته کوي، چې څه ډول او څنګه کولای شو، چې عرضه کوونکي د مشتریانو سره اړیکې ټینګې او د کومو دلایلو په وړاندې کولو سره دواړه لوري یو له بل سره اړیکې جوړوي او په کومو دلایلو سره دوی یو له بل سره اړیکې پرې کوي، د اړیکو جوړولو عناصر پیدا او د وخت او زمان مطابق ورڅخه په موقع استفاده وشي؛ تر څو لوستونکي د عرضه کوونکو او مشتریانو د اړیکو په اړه معلومات تر لاسه او په ځانګړي ډول د اقتصاد پوهنځی استادانو او محصلینو لپاره په دې برخه کې ګټور معلومات برابر شي.

**د کار مواد او میتود**

د دې لپاره، چې (د عرضه کوونکو او مشتریانو تر منځ متقابلې اړیکې) تر عنوان لاندې مقاله بشپړه کړم؛ نو د مختلفو ژبو له معتبرو کتابونو، مجلو، علمي مقالو او معتبرو ژورنالونو څخه مې استفاده کړې. د مقالې عنوان ټاکلو وروسته د ضرورت وړ مواد د کتابخانایي تحقیق د میتود په اساس راټول او د لارښود استاد په مشوره فهرست ترتیب او د کار لاندې ونیول شول.

**مشتري سره د متقابلو اړیکو ایجادول**

د بازار موندنې په برخه کې لومړنی درې مرحلې شتون لري، چې عبارت دي له: د مشتري او بازار د اړتیاوو درک کول، د مشتري اړوند د ستراتیژۍ جوړول او مشتري ته د ارزښت د وړاندې کولو لپاره د زمان بندي شوي برنامې رامنځته کولو څخه دي. ددې دریو مرحلو وروسته څلورمه او تر ټولو مهمه مرحله له مشتري سره د ګټورې اړیکې رامنځته کولو څخه عبارت ده.

په نوې بازار موندنه کې له مشتري سره د اړیکو مدیریت اصطلاح تر ټولو مهمه اصطلاح ده او ځینې یې په دې نظر دي، چې د دې معنی له مشتري سره د یوې ګټورې اړیکې رامنځته کول او د دې اړیکې ساتل دي، چې دا موخه مشتري ته د لوړ ترین ارزښت د ارایه کولو او د هغه د اړتیاوو او غوښتنو د پوره کولو له لارې ترلاسه کیږي.

له دې نظره، د مشتریانو جذب، ساتل او د هغوی د شمېر د زیاتولو اړخونو ته پام کیږي.

د مشتري لپاره د ارزښت رامنځته کول او د مشتري د رضایت تامین د مشتري سره د پایداره

اړیکو دوه اصلي ارکان دي، چې په ډېر زيات احتمال سره دغه دوه ارکان د شرکت یا سازمان پر وړاندې د مشتري د وفاداره کولو باعث کیږي او له شرکت څخه راضي او خوشاله مشتري به د خپلو فعالیتونو زیاته برخه نوموړې شرکت یا سازمان ته تخصیص کړي(۱: ۴۲-۴۱).

**د مشتري سره د پام وړ ارزښت رامنځ ته کول:** د مشتري جذبول او ساتل ډېر سخت کار دی. هر مشتري په ورځ کې له مختلف ډوله اجناسو او خدماتو سره مخامخ کیږي، چې د انتخاب حق لري. یو مشتري هغه وخت د یو شرکت څخه خریداري کوي، چې هغه شرکت وکولای شي نوموړې مشتري ته د پام وړ ارزښت ورکړي (هر مشتري په بازار کې د نورو شرکتونو له خوا د وړاندې شوو محصولاتو سره د یو شرکت اړونده محصولات د هغوی د اړونده ګټو او لګښتونو له مخې پرتله کوي). ډېره مهمه مسئله دا ده، چې زیاتره مشتریان د محصولاتو د لګښتونو او ګټو په اړه په دقیق یا عیني ډول قضاوت نه کوي؛ بلکې د خپل تصور وړ ارزښت له مخې د هغې په اړه قضاوت کوي (۴۲:۱).

**د مشتري د رضایت تامین:** د مشتري رضایت هغه وخت ترلاسه کیږي، چې محصول د مشتري د توقع مطابق کړنه ترسره کړي. څرنګه چې مشتري توقع لري، چې یو اخیستل شوی محصول به ورته د تصور وړ کړنه او کار وکړي؛ نو که چېرې په همغه ډول چې نوموړي مشتري یې توقع درلوده محصول کار وکړ نو د دې سره د نوموړې مشتري رضایت تامین او ترلاسه کیږي. که چېرې د محصول کړنه او کار د مشتري د انتظار او توقع څخه په کمه اندازه وو؛ نو په دې صورت کې به مشتري خوشحاله نه وي او که چېرې د محصول کړنه او کار د مشتري د انتظار او توقع له حد څخه زیات وو؛ نو په دې صورت کې به مشتري راضي وي او له دې محصول څخه خوند اخلي.

زیاتره ترسره شوي څېړنې ددې ښودونکي دي، چې د ډېرو زیاتو مشتریانو رضایت یا خوشحاله ساتل د شرکت پر وړاندې د هغوی د وفادارۍ د زیاتوالي سبب کیږي او په پایله کې د شرکت کړنې او فعالیتونه به هم بهتر شي. مشتري سره د اړیکې په ماهیت کې ډېر تغیرات د رامنځته کیدو په حال کې دي. د نن ورځې ډیجیټالي وسایل لکه انټرنیټ، د ټولنیزو شبکو څخه استفاده، ګرځنده تیلیفون او ټولنیزي رسنۍ ددې سبب شوي دي، چې هغې طریقې او شیوې تغیر کړي د کومو په واسطه، چې د څمکې د کرې پر مخ وګړې یو له بل سره اړیکه نیسي. له بلې خوا، دغه ابزار یا وسایل توانیدلي، چې له مشتریانو سره د شرکتونو او محصولاتو (د خاص نوم او

سوداګریز نښان) پر اړیکې او د دغې اړیکې پر شیوې او طریقې باندې زیات تاثیر واچوي(۱: ۴۶-۴۳).

**عرضه کوونکي غواړي چې د مشتریانو سره اړیکه ولري**

دا چې ولې کمپنیانې غواړي، چې له مشتریانو سره اړیکې جوړې کړي، د دې اساسي لامل اقتصادیت دی، یعنې دوی د ګټې په خاطر غواړي، چې مشتریانو سره اړیکې جوړې کړي. کمپنیانې د مشتریانو د مدیریت کولو په صورت کې ښې پایلې ترلاسه کوي؛ هغه داسې، چې له دې لارې دوی ګټور مشتریان، پېژني، ترلاسه کوي یې، اړتیاوې یې ورته پوره کوي او له ځان سره یې ساتي. دا د مشتري سره د اړیکې مدیریت د زیاتو ستراتیژیو کلیدي موخې دي.

د مشتري د ساتنې د نرخونو لوړولو اغېز دا دی، چې دا د مشتري د پایې (Customer base) اندازه زیاتوي. په (۱،۱) جدول کې دوه کمپنیاني پرتله شوي دي. د (A) کمپني یو د مشتري د تیښتې نرخ (Churn) لري، چې دغه نرخ په فی کال کې د (۵٪) په اندازه دی، یعنې دوی په هر کال کې ( ۵٪) مشتریان له لاسه ورکوي؛ د (B) کمپنۍ د مشتري د تیښتې نرخ ( ۱۰٪) دی. یا په بل عبارت، د دوی د اړونده مشتریانو د ساتنې نرخ په ترتیب سره ( ۹۵٪) او ( ۹۰٪) دی. د همدې حالت او موقف څخه په شروع کولو سره او په هر کال کې د مساوي شمېر نویو مشتریانو په ترلاسه کولو سره، د (A) کمپنۍ د مشتري پایه له څلورو کلونو وروسته نسبت د (B) کمپنۍ ته ( ۱۹٪) زیاته ده: یعنې (۱۲۶۸) مشتریان په نسبت د (۱۰۶۶) مشتریانو. د مشتریانو د تیښتې په نرخ کې د پام وړ بدلون کوي. د انرژۍ د افادې څخه کار اخیستل کیږي تر څو د مشتریانو د تیښتې د ټیټې سطحې څخه خوند واخیستل شي، چې لامل یې د دوی انحصاري موقفونه دي. په هر صورت، په برتانیه کې د صنعتي فعالیتونو د ځینې ډولونو څخه د دولت د قوانینو او مقرراتو د له منځه وړلو وروسته، تقریباً ( ۲۵٪) د مشتریانو افادې د دوه کالونو په دننه کې په عرضه کوونکو کې بدلون راوست. صنعت د (۱۰-۵) فیصدو پورې د مشتریانو د تیښتې توقع درلوده، خو حقیقي د تیښتې سطحې حیران کړل. زیاتره هغه مشتریان، چې له یو عرضه کوونکي څخه د بل عرضه کوونکي پر لوري اوښتي وو، د بهترو قیمتونو او د تخفیف ترلاسه کولو په لټه کې وو. په بې هدفه ډول د مشتري د پایې په وده کولو کې لږه ښیګڼه او ګټه شتون لري. هدف باید دا وي، چې موجوده مشتریان وساتل شي او هغه نوي مشتریان وموندل شي؛ کوم چې راتلونکي بالقوه ګټې لري او یا د نورو ستراتیژیکو اهدافو لپاره مهم وي. ټول مشتریان د مساوي اهمیت درلودونکي نه وي. کیدای شي، چې ځینې مشتریان د راجلبولو او یا له ځان سره د ساتلو ارزښت

ونه لري، د بېلګې په ډول هغه مشتريان چې ورته خدمات ترسره کول لوړ لګښت ولري، هغه مشتريان چې مال په پور سره اخلي هغه مشتريان چې په ځنډ سره تاديه کوي او يا هغه مشتريان، چې په مکرر ډول کله يو عرضه کوونکي ته او کله بل عرضه کوونکي ته ور اوړي.

(۱،۱) جدول: د مشتريانو د تيښتې تاثيرات د مشتريانو په شمير باندې ښيي.

| د B کمپني ( ۱۰٪ خرخيدنه | | د A کمپني ( ۵٪ خرخيدنه ) | | | کالونه | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| مجموعي مشتريان | نوي مشتريان | موجوده مشتريان | مجموعي مشتريان | نوي مشتريان | موجوده مشتريان | |
| ۱۱۰۰ | ۱۰۰ | ۱۰۰۰ | ۱۱۰۰ | ۱۰۰ | ۱۰۰۰ | ۲۰۰۱ |
| ۱۰۹۰ | ۱۰۰ | ۹۹۰ | ۱۱۴۵ | ۱۰۰ | ۱۰۴۵ | ۲۰۰۲ |
| ۱۰۸۱ | ۱۰۰ | ۹۸۱ | ۱۱۸۸ | ۱۰۰ | ۱۰۸۸ | ۲۰۰۳ |
| ۱۰۷۳ | ۱۰۰ | ۹۷۳ | ۱۲۲۹ | ۱۰۰ | ۱۱۲۹ | ۲۰۰۴ |
| ۱۰۶۶ | ۱۰۰ | ۹۶۶ | ۱۲۶۸ | ۱۰۰ | ۱۱۶۸ | ۲۰۰۵ |

که چېرې نور شيان ثابت وي، د مشتري لويه پايه بهتر کاروباري اجراات رامنځته کوي. په همدې ډول، لکه څرنګه، چې د مشتري د ساتنې نرخونه پورته کېږي (يا د مشتري د تيښتې نرخونه ټيټېږي)؛ نو ځکه د مشتري د قبضه کولو اوسط اندازه (Average customer tenure) هم پورته کېږي، چې دا په (۲،۱) جدول کې ښودل شوي دي. قبضه کوونه (Tenure) يوه اصطلاح ده، چې هغه وخت د اندازې د ښودلو لپاره کارول کېږي په کوم کې، چې يو مشتري د مشتري په توګه پاتې کېږي. که د مشتري په ساتنه کې په کوچنۍ اندازه ښه والی او پرمختګ راشي؛ نو دا په زياته اندازه د مشتري د قبضه کولو لامل کېږي. د مثال په ډول، که چېرې د مشتري د ساتنې نرخ له ( ۷۵٪) څخه ( ۸۰٪)ته زياتوالی وکړي؛ نو دا د مشتري د اوسط قبضه کولو اندازه له (۱۰) کلونو څخه (۱۲،۵) کلونو ته زياتوي. د مشتري د تيښتې نرخ د راکمولو په واسطه د مشتري د قبضه کوونې اداره کول به ډېر ستونزمن وي.

په هوښيارانه ډول د مشتري د ساتنې اداره کول د کمپنيو لپاره دوه کليدي ګټې رامنځته کوي، چې عبارت دي له: د بازار موندنې کم شوي لګښتونه او د مشتري بهتر پوهاوی.

(۲،۱) جدول: د مشتري د تیښتي نرخ.

| د مشتري د ساتلو متوسطه دوره | د مشتریانو د ساتلو اندازه (٪) |
|---|---|
| ۲ کاله | ۵۰ |
| ۳ کاله | ۶۷ |
| ۴ کاله | ۷۵ |
| ۵ کاله | ۸۰ |
| ۱۰ کاله | ۹۰ |
| ۱۲،۵ کاله | ۹۲ |
| ۲۰ کاله | ۹۵ |
| ۲۵ کاله | ۹۶ |
| ۳۳،۳ کاله | ۹۷ |
| ۵۰ کاله | ۹۸ |
| ۱۰۰ کاله | ۹۹ |

**د بازار موندنې کم شوي لګښتونه**

د مشتري د ساتنې بهتروالی د یوې کمپنۍ د بازار موندنې لګښتونه راکموي. د تښتیدلو مشتریانو پر ځای د نورو مشتریانو د تعویض لپاره د لږې اندازې پیسو مصرفولو ته اړتیا ده. د مثال په ډول داسې اټکل شوی دی، چې د بازار موندنې یوې ادارې لپاره د حداقل له (۲۰) چندو څخه زیات لګښت لري، چې یو نوی مشتري پیدا کړي نسبت هغې ته، چې یو موجوده مشتري له ځان سره وساتي؛ یعنې د نوو مشتریانو پیدا کول نسبت د موجوده مشتریانو ساتلو ته ډېر زیات لګښت لري. لویي ادارې کولای شي، چې په څېړنه، ستراتیژیک تحلیل او ابتکار باندې تر (۴) څلور میلیونه ډالرو پورې مصرف وکړي او څلور مبتکر ټیمونه په مختلفو اجرأتو او کړنو باندې کار ترسره کړي. یوه اداره ممکن دغه لګښتونه یو څو چنده په هغه صورت کې وګالي، کله چې دوی د لاسه ورکړی یو مشتري پر ځای بل تعویضوي. د مشتری د ترلاسه کولو د لګښت کمیدلو سربیره د وخت په اوږدو کې موجوده مشتریانو ته د خدمت کولو لګښت هم راکمیږي. بالاخره، لکه په ځینې کاروبار – کاروبار بازارونو کې اړیکه ممکن په بشپړ ډول باندې خودکاره او اټوماټیکه وي. د مثال په ډول، ځینې د عرضې د ځنځیر اړیکې د بریښنایي ډېټا تبادله Electronic Data Interchange (EDI) په کار واچوي، کوم چې په بشپړ ډول د فرمایش

(اړډر) ورکولو، د سوداګریزي امتعي د اخیستلو، او د بیل ورکولو پروسې خودکاره (اتوماتیک) کوي؛ یعنې دغه پروسې په اتومات ډول د ماشین (کمپیوټر) په واسطه ترسره کیږي.

https://www.lifehack.org/432426/4-ways-you-can-bring-down-the-marketing-costs-for-your-business

**د مشتري بهتر پوهاوی**

په هره اندازه چې د مشتري قبضه کول طولاني کیږي (اوږدیږي)، هومره عرضه کوونکي کولای شي، چې د مشتري د اړتیاوو او توقعاتو په اړه په بهتر ډول پوه شي. همدارنګه مشتریان هم په دې باندې پوهیږي، چې یو عرضه کوونکی د دوی لپاره څه کولای شي. په پایله کې، عرضه کوونکي په بهتر ډول د مشتري اړتیاوې پېژندلای شي او په ګټوره توګه یې اړتیاوې پوره کولای شي، او همدارنګه په ساتل شوي مشتري باندې په زیاته اندازه اجناس او خدمات خرڅولای شي. د وخت په تیریدو سره، چې اړیکې لا پیاوړې او ژورې کیږي؛ نو ددې امکان شته، چې د ښکیلو خواوو تر منځ باور او ژمن توب زیات شي. په دغو شرایطو او حالاتو کې، هغه عواید او ګټې، چې د مشتریانو څخه ترلاسه کیږي، ډیرې خوندي کیږي. د مثال په ډول، یوه څیړنه ښیي، چې د یوې اړیکې په (۳۱-۳۶) میاشتو کې نسبت د نومړې اړیکې په (۶-۰) میاشتو په انلاین ډول د جامو او پوښاک مشتریان د (۶۷٪) په اندازه زیات او اضافي مصرف کوي، د کور د سودا مشتریان د (۲۳٪) په اندازه زیات مصرف کوي. په مجموعي ډول دګټې د مساوي کولو د لګښت او عایددواړه اړخونه د مشتري د ساتنې په واسطه اغېزمن کیږي. ځینې کمپنیانې یو ماډل په کار اچوي، چې په مختلفو نومونو سره یادیږي، لکه: د ارزښت زینه (Value ladder) یا (Value staircase) تر څو له دې لارې دوی په دې باندې پوه شي، چې د کمپنی سره مشتریانو ساتنې په برخه کې دوی په کوم مقام کې موقعیت لري. په عام ډول مشتریان د یو نه زیاتو عرضه کوونکو څخه اجناس او خدمات خریداري کوي. د مثال په ډول، لوی او منځنې تشبثات (کاروبارونه) اکثره وخت له یو څخه زیاتو بانکونو سره کاروبار او راکړه ورکړه ترسره کوي او مستهلکین ممکن د غیر الکولي مشروباتو د خریدارۍ لپاره د برانډ کاربن لرونکو مشروباتو د یو کوچنې ګروپ څخه انتخاب وکړي. کله چې مشتریان په زینه باندې خیږي؛ نو ستاسو د کمپنۍ لپاره د دوی ارزښت زیاتیږي.

په (۳،۱) جدول کې له شکمن حالت او موقف څخه ساتندوی حالت ته د مشتري د حرکت اووه مرحلې ښودل شوي دي

| | |
|---|---|
| شکمن | آيا بالقوه مشتري ستاسو د ټاکل شوي مارکيټ له پروفايل سره برابر دی؟ |
| هيله مند | مشتري د ټاکل شوي مارکيټ له پروفايل سره برابر دی او د لومړي ځل لپاره تماس نيسي. |
| د لومړي ځل مشتري | مشتري لومړنۍ خريداري ترسره کوي. |
| تکراري مشتري | مشتري اضافي پيرودنې ترسره کوي. ستاسې وړانديز (آفر) د مشتري په پورټفوليو کې يو کوچنی رول لوبوي. |
| اکثريت مشتري | مشتري ستاسې کمپني د عرضه کوونکي په توګه انتخابوي. ستاسې کمپني د مشتري په پورټفوليو کې يو د پام وړ ځای اشغالوي. |
| وفاداره مشتري | مشتري د عرضه کوونکي د بدلون پر وړاندې مقاومت کوي او ستاسې د کمپنۍ يا وړانديز (آفر) پر وړاندې يوه پياوړې مثبته رويه لري. |
| مدافع (ساتندوی) | مشتري د خولې له لارې د مثبتو اشتهاراتو د ترسره کولو لپاره نور مشتريان هم راجلبوي او کمپنۍ ته اضافي ګټه په لاس ورکوي. |

https://hbr.org/2012/09/better-customer-insight-in-real-time

ځينې مشتريان ممکن يوه اوږده د پوخوالي مرحله (يعنې د وفاداره مشتري مرحله) ولري؛ ځينې نور مشتريان ممکن يو لنډ عمر او وخت ولري، چې شايد هيڅکله د لومړي ځل مشتري له حالت څخه د تکراري مشتري حالت ته حرکت ونه کړي؛ ځينې نور مشتريان ممکن هيڅکله د هيله مند مشتريانو څخه د لومړي ځل مشتري حالت ته بدلون ونه کړي. هيله مند مشتريان هغه حالت دی، چې په هغې کې مشتري د ټاکل شوي مارکيټ له مشخصاتو سره برابر دی او د لومړي ځل لپاره د اجناسو او خدماتو د اخيستلو لپاره له کمپنۍ سره تماس نيسي (۴: ۱۰).

د مشتري سره د اړيکې مديريت (CRM) سافټوير لرونکو کمپنيو ته اجازه ورکوي، چې دا معلوم کړي؛ ترڅو پر دغه مسير او لاره باندې مشتريان چېرته موقعيت لري او په هوښيارانه توګه

منابع تخصیص کړي.

د دغې حرکت او مسافرۍ په هره مرحله کې لګښتونه او عواید توپیر کوي. په لومړنیو مرحلو کې، یوه کمپنۍ ممکن په دې برخه کې زیاته پانګه اچونه وکړي، چې یو هیله مند مشتري په لومړي ځل خریداري کوونکي مشتري باندې واړوي. د اړیکې جوړولو په موخه ترسره کیدونکي پانګه اچونه، ممکن د یو څه وخت لپاره بېرته ترلاسه (Recover) نشي. د مثال په ډول، په یوه څېړنه کې ښودل شوې ده، چې په انلاین ډول د جامو او پوښاک خریداري کوونکي مشتري د ترلاسه کولو لګښت په څلورو پیرودنو کې په (۱۲ میاشتو کې) بېرته راګرځي، حال دا، چې په انلاین ډول د کور د سودا خریداري کوونکي مشتري د ترلاسه کولو لګښت په ( ۱۸ میاشتو کې) بېرته راګرځي؛ تر څو عواید او مصارف یو شان شي یعنې د ( Break even )حالت رامنځته کیږي (۲: ۳۴-۳۱).

**عرضه کوونکي نه غواړي، چې د مشتریانو سره اړیکه ولري**

د هغو مالي ګټو با وجود، چې له یوې اړیکې څخه کمپنیو ته په لاس ورځي، ځینې وختونه کمپنۍ نه غواړي، چې له مشتریانو سره اړیکې ولري او د دغو اړیکو پر وړاندې مقاومت ښیي.
د کاروبار – کاروبار (B2B) په برخه کې، د دغه مقاومت یو شمېر لاملونه په لاندې ډول دي:

- ✓ د کنټرول له لاسه ورکول.
- ✓ د خارجیدلو لګښتونه.
- ✓ د سرچینو کارول.
- ✓ فرصتي مصارف.

**اوس یې هر یو په لاندې ډول سره تشریح او توضیح کوو:**

**د کنټرول له لاسه ورکول:** د یوې قوي اړیکې په صورت کې د دواړو خواوو تر منځ راکړه او ورکړه موجوده وي. په دوه طرفه اړیکو کې، عرضه کوونکي ممکن د خپل کاروبار پر منابعو باندې یو اړخیزه کنټرول له لاسه ورکړي. د مثال په ډول، د انجینرۍ د خدمتونو یو عرضه کوونکی ښایي ونه غواړي، چې د یوې نوې پروژې لپاره یو مشتري ته په وړیا ډول مشوره ورکړي؛ ځکه چې په یاد مشتري باندې لوړ لګښتونه راځي؛ په هر صورت د اړیکې ښکیلې خواوې ممکن څرګند تواقعات ولري، چې باید کوم فعالیتونه ترسره شي او د دواړو خواوو لپاره کوم ډول منابع په خپله وکارول شي او کومې سرچینې د نورو له خوا وکارول شي.

**د خارجیدلو لګښتونه:** ټولې اړیکې بقا او پایښت نه کوي. د یوې اړیکې څخه خارجیدل اسانه نه

دي او یا هم د اړیکې څخه خارجیدل د لګښتونو څخه خالي نه وي. ځینې وختونه هغه پانګې اچونې، چې په اړیکو کې ترسره کیږي د اړیکې د ماتیدلو په صورت کې بېرته نه راګرځي؛ یعنې د دې په خاطر، چې د اړیکې څخه ګټه ترلاسه شي نو پر اړیکې باندې پانګه اچونه کیږي او پیسې پرې مصرفیږي؛ خو که اړیکه ماته شي، نو بیا دغه ګټه نه ترلاسه کیږي. په اړیکو جوړولو کې پانګه اچونه د غیر مهمې پانګې اچونې څخه تر ډېرې مهمې پانګې اچونې پورې توپیر کوي.

**د سرچینو کارول:** اړیکې د سرچینو لکه وګړو، وخت او پیسو کارولو ته اړتیا لري. کمپني باید تصمیم ونیسي، چې ایا دا به بهتره وي، چې د مشتري په مدیریت باندې سرچینې تخصیص کړل شي او یا د کاروبار په ځینو نورو ساحو لکه په عملیاتو یا په څېړنې او انکشاف باندې تخصیص کړل شي. یو ځل، چې سرچینې وکارول شي؛ نو بیا دوی په نه راګرځیدونکو لګښتونو (Sunk costs) باندې بدلیږي.

(Sunk costs) د نه راګرځیدلو وړ تېر لګښتونه دي دا ډول لګښتونه په عادي ډول په هغه وخت کې په نظر کې نه نیول کیږي؛ کله چې یوې اړیکې ته د دوام ورکولو په هکله تصمیم نیول کیږي؛ ځکه چې دا ډول لګښتونه بېرته نه راګرځي، که اړیکه دوام کوي او که یې نه کوي. په هر صورت، دا هم باید په نظر کې ونیول شي.

**فرصتي مصارف:** که چېرې سرچینې یو مشتري ته ونه کارول شي؛ نو دغه سرچینې بیا بل مشتري ته نشي تخصیص کیدای. اړیکې له خپل ځان سره لوړ فرصتي مصارف لري. که چېرې تاسې (A) مشتري ته منابع وکاروئ؛ نو په دې صورت کې تاسې به د (B) مشتري سره د اړیکې جوړولو امکان له لاسه ورکړئ (۲: ۴۱–۴۰).

**مشتریان غواړي، چې د عرضه کوونکو سره اړیکه ولري**

مشتریان د دې لپاره د عرضه کوونکو سره اړیکه رامنځ ته کوي، چې تر څو عرضه کوونکې د دوی لپاره د ضرورت وړ اجناس تهیه او په وخت د دوی غوښتنو ته رسیدنه وشي.

په دې برخه کې لاندې موارد شامل دي چې عبارت دې له:

د کاروبار ـ کاروبار په برخه کې ( B2B Context ): یو شمېر حالات شتون لري، په هغو کې د کاروبار (B2B) مشتري ممکن وغواړي، چې له یو عرضه کوونکي سره اوږد مهاله اړیکه ولري.

د تولید معلق والی: که چېرې تولید یا هم د هغې تطبیق او استعمال پیچلی وي لکه د شبکې زیربنا.

د تولید ستراتیژیک اهمیت: که چېرې تولید په ستراتیژیک ډول مهم وي لکه د تولید د یوې پرله پسې پروسې لپاره د اساسي خامو موادو عرضه کول.

د خدمت اړتیاوې ( Service Requirements ): که چېرې تر پیرودنې وروسته خدمت ته اړتیا موجوده وي لکه د ماشین د بیا ترمیم لپاره پرزه جاتو ته اړتیا.

مالي خطر: که چېرې مالي خطر لوړ وي لکه د سرمایوي تجهیزاتو د لویو اقلامو خریداري.

دوه اړخیز تجارتي امتیازات او ګټې ( Reciprocity ): یو مالي تفتیش کوونکی ممکن وغواړي، چې د مدیریت په برخه کې له مشورې ورکوونکي سره نږدې اړیکې ولري؛ ځکه نو هره یوه ډله یو بل ته د نورو مشتریانو د راجلبولو څخه ګټې ترلاسه کوي.

د کاروبار او مستهلك په برخه کې ( B2C Context ): د کاروبار او مستهلك تر منځ (B2C) د راکړو ورکړو په برخه کې، اړیکې ممکن هغه وخت ارزښت ولري؛ کله چې مشتري په مستقیم ډول د اجناسو او خدماتو د مصرفولو او کارولو څخه ګټه ترلاسه کوي.

پېژندنه ( Recognition ): مشتریان ممکن هغه وخت ډېر با ارزښته احساس وکړي؛ کله چې مشتري وپېژندل شي، په نوم سره په نښه شي او د ډېر وخت لپاره په یاد کې وساتل شي.

ځانګړي کول ( Personalization ): اجناس او خدمات د خپلې خوښې سره سم برابریدلی شي، لکه د وخت په تیریدو سره د کاروبار مالك ممکن د یو مشتري په ترجیحاتو او تواقعاتو باندې په ښه ډول پوهیدلی شي.

قوت ( Power ): له مشتریانو سره اړیکې ځواکمنې کیدلای شي. د مثال په ډول د بانکونو او مشتریانو تر منځ اړیکه هغه وخت ځواکمنه کیدلای شي؛ کله چې مشتریان داسې احساس وکړي، چې دوی د مشخصو بانکونو له کارکوونکو یا څانګو سره شخصي اړیکې لري.

د خطر کمول ( Risk reduction ): خطرات مختلف ډولونه لري لکه د اجرأتو، فزیکي، مالي، ټولنیز او رواني خطر. د زیاتو مشتریانو له خوا درک کیدونکی خطر د منلو وړ نه وي. یوه اړیکه کولای شي، چې دغه درک کیدونکی خطر کم او حتا له منځه یې یوسي.

موقف ( Status ): مشتریان کیدای شي، چې داسې احساس وکړي، چې له یو مشتري سره د اړیکې درلودلو له وجې د دوی موقف او حیثیت لوړیږي، لکه د هغې کمپنۍ سره د اړیکې

درلودلو په صورت کې، چې پلاتینم کریډیټ کارتونه وړاندې کوي.

وابستګي او یو ځای کیدنه ( Affiliation ): د خلکو ټولنیزې اړتیاوې د سوداګریزو او یا غیر سوداګریزو اړیکو له لارې پوره کېږي. زیاتره خلک د مسلکي یا ټولنیزو اتحادیو مشتریان (غړي) دي.

د مشتریانو برخې او ګروپونه له عرضه کوونکو سره د اړیکو درلودلو څخه مختلفې موخې لري. د مثال په ډول، لوی شرکتونه خپل د خزانې ډیپارټمنټونه لري او اکثره وخت له بانک سره د اړیکې درلودل ورته لږ ارزښت لري؛ کوچني د شخصي حسابونو درلودونکي هغوی اضافي خدماتو ته اړتیا نه لري؛ کوم چې د یوې اړیکې درلودلو په پایله کې ورته وړاندې کېږي؛ کوچني او منځني تشبثات او د لوړ خالص ارزښت انفرادي اشخاص ممکن له یو بانک څخه د نږدې اړیکو درلودلو څخه زیاته ګټه ترلاسه کړي او ورته زیات ارزښت ولري.

یو شمېر د Business to Customer (B2C) سازمانونه له خپلو مشتریانو سره د نږدې اړیکو جوړولو څخه زیاتې ګټې ترلاسه کوي. د مثال په ډول Nestlé’s mother and baby) club) نوو میندو شوو ښځینه وو (هغو ښځو ته چې د لومړي ځل لپاره یې ماشوم زیږولی وي) ته مشورې او معلومات وړاندې کوي (۲: ۴۷-۴۵).

مشتریان نه غواړي، چې د عرضه کوونکو سره اړیکه ولري په داسې حال کې، چې په عمومي ډول کمپني ګانې غواړي، چې د پورته ذکر شوو اقتصادي لاملونو له وجې له مشتریانو سره اوږد مهاله اړیکې ولري؛ خو د دې تر څنګ داسې اندیښنې هم شته، چې مشتریان نه غواړي له عرضه کوونکو سره اړیکې ولري.

د کاروبار – کاروبار (Business to Business) په برخه کې یې ځینې تشویشونه په لاندې ډول سره ذکر شوي دي.

د تکیه کولو وېره ( Fear of dependency ): دا د یو شمېر تشویشونو له امله رامنځته کېږي. مشتري ممکن په دې اندیښنه کې وي، چې عرضه کوونکي فرصت طلبه سلوک او کردار ونه کړي، یعنې په هغه صورت کې، چې په غوره موقف کې قرار ونیسي؛ نو قیمتونه لوړوي. همدارنګه مشتریان ممکن دا وېره هم ولري، چې د نورو متبادلو عرضه کوونکو د انتخاب په برخه کې به د دوی ارتجاعیت راکم شي، یعنې دوی به د نورو متبادلو عرضه کوونکو د انتخابولو په برخه کې ډېر لږ ارتجاعي وي. همدارنګه د شخصي واک (صلاحیت) او کنټرول د

لاسه ورکولو وېره هم شتون لري.

په اړیکه کې د درک کیدونکي ارزښت نشتوالی: مشتریان کیدای شي، باور ونه کړي، چې دوی به د معاملاتو په لګښتونو کې له اساسي پس اندازونو څخه خوند واخلي (برخمند شي)، یا هم د هغه اړیکو څخه خوند واخلي؛ کومه چې له دوی سره د یو بهتر رقابتي موقف په رامنځته کولو یا هم د اضافي عوایدو یا ټولنیزو ګټو په رامنځته کولو کې مرسته کوي.

په عرضه کوونکو باندې د اعتماد نشتوالی: مشتري له دې امله اړیکه جوړول نه غواړي، چې دوی داسې احساس کوي، چې بالقوه عرضه کوونکي بې اعتباره، ډېر کوچني، په ستراتیژیک ډول بې اهمیته، د کم شهرت لرونکي او په غیر کافي اندازه ابتکار کوونکي دي.

مشتري د اړیکو جوړولو ذوق ونه لري: د اړیکو جوړولو پر وړاندې ټولې کمپنۍ یو شان میلان نه لري، ځینې ډېرې زیاتې معاملاتي وي. د مثال په ډول ځینې پرچون فروشان داسې یو سیاست کاروي، چې د خپلو سوداګریزو اموالو زیاته برخه د خاصو وړاندیزونو (آفرونو) له لارې خریداري کوي.

چټک تکنالوژیکي بدلونونه: په هغه صنعت کې، چې ټکنالوژي پکې په چټک ډول بدلون کوي یو عرضه کوونکي ته ژمن او متعهد پاتې کیدل به په دې معنی وي، چې مشتري هغه نوي پرمختګونه له لاسه ورکوي؛ کوم چې د نورو عرضه کوونکو له خوا رامنځته شوي دي. د کاروبار – مستهلک (B2C) په برخه کې مستهلکین په سلهاوو مختلف اجناس او خدمات خریداري کوي (۲: ۴۸–۴۷).

**پایله**

د تحقیقي څیړنې په پایله کې ویلی شو، چې عرضه کوونکي باید د مشتریانو سره د دوی د غوښتنو او توقعاتو مطابق دایمي او کلکه اړیکه ولري؛ تر څو مشتریانو ته دا فرصت برابر نه شي، چې د عرضه کوونکو سره فاصله ونیسي او په اساس یې مشتریان د دوی له لاسه ووځي او د بل متبادل عرضه کوونکي مشتري جوړ شي. د غوره او باکیفیته عرضه کوونکو شتون او د هغه مسلکي، تخنیکي او علمي مدیریت؛ د مربوطه ذیدخل اړخونو او مشتریانو سره د متداومې اړیکې د حفظ او ساتنې اساسي او بنسټیزه لار ده.

په نتیجه کې ویلي شو، چې په اوسني شدید رقابتي محیط کې د مشتریانو جلب او جذب او د دوی سره د متقابلو اړیکو ساتل له یوې خوا یو له ستونزمنو موضوعاتو څخه ده او له بلې خوا یوه

له کلیدي او حیاتي پدیدو څخه ګڼل کیږي. بناً د اړیکو موندل او ساتل د قوي مدیریت په شتون کې ممکن دي او پدې برخه کې باید هره مدیریتي تشه له منځه یوړل شي.

**وړاندیزونه**

۱: عرضه کوونکي باید د مشتریانو تواقعات او غوښتنې وپیژني او د هغوی د غوښتنو او تواقعاتو مطابق اجناس او خدمات وړاندې کړي.

۲: عرضه کوونکي اداري او سازمانونه باید د مشتریانو سره د متقابلو اړیکو په رامنځته کولو کې د مدیریت له ټولو اساسي اصولو څخه سالمه او مسلکي استفاده وکړي.

۳: مشتریان باید خپلې غوښتنې او ضرورتونه په وخت د عرضه کوونکو سره شریک کړي.

۴: دواړه لوري باید د اړیکو د پریکون پر ځای د اړیکو په ټینګښت او پیاوړتیا او د اړیکو د له منځه وړلو فکتورونو ته متوجه واوسي.

۵: د دې لپاره چې عرضه کوونکي په مارکیټ کې پاتې شي، نو باید ابتکارات رامنځ ته او مشتریان خوښ وساتي.

۶: عرضه کوونکي باید د مشتریانو سره د اړیکو په ایجادولو کې ټول اخلاقي، مذهبي، کلتوري او ټولنیز ارزښتونه په جدي توګه په پام کې ونیسي.

۷: عرضه کوونکي او مشتریان باید د یو او بل پر وړاندې خپل قیمتي وخت بې ځایه مصرف نه کړي او یو د بل نه سالمه استفاده وکړي.

۸: عرضه کوونکي باید د مشتریانو پر وړاندې فرصت طلبه سلوک اختیار نه کړي؛ تر څو د مشتریانو دا تشویش له منځه لاړ شي چې که چیرې عرضه کوونکي په لوړو موقفونو کې قرار ونیسي نو بیا به د خپلو اجناسو او خدماتو قیمتونه لوړ کړي.

**اخځلیکونه**

روستا، احمد؛ ونوس، داور او ابراهیمي، عبدالحمید.( ۱۳۹۷). مدیریت بازاریابی. تهران.

زکلیکی، محمد علی بابایی. ( ۱۳۹۶ ). بازاریابی بین المللی. تهران: یاران ( قم )، صحافی (قم).

کاتلر، فیلیپ او ارمسترانګ، ګری. ژباړن: علی پارسائیان. ( ۱۳۹۷). اصول بازاریابی. تهران: دیبا – طنین.

متین، حسن زارعی. ( ۱۳۹۳ ). مدیریت منابع انسانی. تهران: قم موسسه بوستان کتابخانه. څلورم چاپ.

Francis, B. (2009). Customer Relationship Management. Burlington:

Elsevier Ltd.

Khushboo. B. Oza. Trends in HRM and CRM. VOLUME 2 / ISSUE 1 / JAN-MARCH 2015. E ISSN 2348 –1269, PRINT ISSN 2349-5138.

Mohammad Reza Noruzi. Human Resource Management and Customer Relationship Management. Payam-e-Noor University Iran-Maragheh.

Peter C. Verhoef. Understanding the Effect of Customer Relationship Management Efforts on Customer Retention and Customer Share Development. Journal of Marketing, Vol. 67 (October 2003), 30–45.

S. Arun Kumar. Customer Relationship Management. II MBA Program, Sasurie Institute.

V.Kumar, & Reinartz, W. (2012). Customer Relationship Management. Verlage GmbH Germany: John Wiley & Sons.

Werner Reinartz, Manfred Krafft, Wayne D. Hoyer. The Customer Relationship Management Process: Its Measurement and Impact on Performance. Journal of Marketing Research, Vol. 41, No. 3 (Aug 2004), pp. 293-305.

# په افغاني ټولنه کې د مبارکي د دود شرعي حکم

ليکونکی : پوهنيارخطاب الله خطاب، شيخ زايد پوهنتون، شرعياتو پوهنځی اسلامي ثقافت څانګې استاد
تقريظ ورکوونکی: پوهندوی سيدولي شاه مندوزی داقتصاد پوهنځي استاد

**لنډيز**

انسان په خپل ژوند کې د الله تعالی د بې شميره نعمتونو سره مخ کيږي،او خپل مينځ کې يو بل ته د نعمت په ترلاسه کيدو خوښي څرګندوي او مبارکي وايي،داچې زمونږه افغاني ټولنه يوه اسلامي ټولنه ده، مونږ هم په خپله ټولنه کې د مبارکيانو اړوند دود او دستور لرو،چې ځينې شرعي بڼه لري،لکه د واده مبارکي، اولاد پيدا کيدو مبارکي، عقيقې مبارکي،سفر څخه را ستنيدو مبارکي،اخترونو مبارکي،حج او عمرې مبارکي او د نوی جامو اغستلو مبارکي،دا هغه مبارکيانی دي، چې شريعت کې اصل شته؛ خو ځينې نورې مبارکيانې هم زمونږ ټولنه کې شتون لري چې شريعت خلاف دي،او له نورو بشري ټولنو څخه زمونږ ټولنې ته را نقل شوي،لکه کليزې مبارکي،نوي کال مبارکي،د ځانګړو ورځو مبارکيانی او دی ته ورته نور مبارکې اړوند دودونه، چې ناروا دي او مسلمان بايد ورڅخه ځان او ټولنه وساتي،تر ډيره بريده علماء مسئول دي، چې په اړوند يې عوامو (خلکو) ته معلومات ورکړي، ما هم په دغه مقاله کې د قران کريم،نبوي سنتو او فقهاو د ويناوو په رڼاکې ددغو دودونو مختصره څيړنه کړی.

**کليدي ټکي:** اختر مبارکي، اولاد پيدا کېدو مبارکي ، دنده ترلاسه کولو مبارکي، کليزې مبارکي، واده مبارکي.

**ســــر يــزه**

إن الحمد لله، نحمده ونستعينه ونستهديه ونستغفره، ونتوب إليه، و نعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له.واشهد أن لا اله إلا الله وحده لا شريک له، واشهد أن محمدا عبده ورسوله - صلى الله عليه وعلى آله وصحبه و سلم- تسليما كثيرا، وبعد .

مسئله دتهنئې ( مبارکی ) دژوند د هغو مهموقضاياو څخه ده، چې ډېرو متقدمينو او متأخرينو علماء پرې بحث کړی دی دومره خبره ده، چې دا موضوع او مسئله موجوده عصر کې هم دبحث اوڅېړنې وړده!

پدې معنی اوسني حالت ته وګورئ، چې ملت په کومو ناروا او دشريعت خلاف عادتونو او

رواجونو اخته دي، او دامصیبتونه ورځ تربلې زیاتیږي ،او نوي نوي نور ناروا دودونه هم داسې په سرعت سره منځ ته راځي، لکه اور چې په لرګیو سره زیاتیږي او خلك په همدې رواجونو او عادتونو کې راګیردي.

**موخې**

لوستونکي به په دې وتوانیږي چې:

۱- مبارکي وپیژني.

۲- د روا او ناروا مبارکیانو په شرعي حکم پوه شي.

۳- د مبارکې اړوند دودونو کې د کفارو سره مشابهت په نارو والي پوه شي .

**د کار توکي او کړنلاره**

ددې مقالې د لیکلو په لړ کې مې دا تګلاره غوره کړې ده، چې د هرې مسئلې په اړه مې اول دقرآن کریم څخه دلیل راوړی او د ایت پښتو ژباړه مې هم کړی ده، په دویم قدم کې مي نبوي احادیثو ته مراجعه کړې ده او د حدیث د ذکرکولو په صورت کې مې د حدیث ژباړه هم کړی، د قرآن کریم او نبوي سنتو څخه وروسته د فقهې معتمدو او معتبرو متونو ته مې مراجعه کړې ده اود مسئلې اړوند مې د فقهاء نظریات روړي او د اړتیا په صورت کې مې راجح قول هم په نښه کړی، د لیکنې کړنلاره مې کتابتوني ده او مقاله مې په پښتو ژبه ده نو د پښتو لیک دود ټول معیارونه مې مراعت کړي.

**د تهنئه (مبارکی)پېژندنه**

د تهنئه کلمې لغوي څیړنه اومعنی

۱- التَّهْنِئَةُ فِي اللُّغَةِ خِلاَفُ التَّعْزِيَةِ ، يُقَال : هَنَّأَهُ بِالأَمْرِ وَالْوِلاَيَةِ تَهْنِئَةً. وَالْهَنِيءُ وَالْمَهْنَأُ : مَا أَتَاك بِلاَ مَشَقَّةٍ وَلاَ تَنْغِيصٍ وَلاَ كَدَرٍ (۶۸:۸)

ژباړه: تهنئة دتعزیة ضد ده مبارکي ته ویل کیږي. لکه یوڅوك ووايي: فلاني ته يې دمشرۍ اوياکوم بل کارمبارکي وويله.

وَالْهَنِيءُ مِنَ الطَّعَامِ : السَّائِغُ ، وَاسْتَهْنَأْتُ الطَّعَامَ اسْتَمْرَأْتُهُ (۶۸:۸)

ژباړه: هغه مزه دار او بې عیبه طعام ته ویل کیږي چې له ستوني نه په اسانۍ سره تیریږي

وَالْهَنِيءُ وَالْمَهْنَأُ: معنی ده: یوڅوك تاته بېدون د احسان او تکلیف څخه څه شی درکړي.

**دتهنئة کلمې اصطلاحي معنی**

وَفِي الاِصْطِلاَحِ: لاَ تَخْرُجُ التَّهْنِئَةُ – فِي الْجُمْلَةِ – عَنِ الْمَعْنَى اللُّغَوِيِّ ، لَكِنَّهَا فِي مَوَاطِنِهَا قَدْ تَكُونُ لَهَا مَعَانٍ أَخَصُّ كَالتَّبْرِيكِ ، وَالتَّبْشِيرِ ، وَالتَّرْفِئَةِ ، وَغَيْرِ ذَلِكَ مِمَّا يَرِدُ ذِكْرُهُ (۹۵:۲۱)

تهنئة ( مبارکي ) په اصطلاح کې هم همدا لغوي معنی مقصود دی،مګردومره خبره ده چې داستعمال اوځای په اعتبارسره بیاهره یوه کلمه خاصه معنی لري،لکه تبریک ،تبشیر ، ترفئه...... چې فرقونه یې په لاندې مطلب او مطالبوکې څېړو.

**مبارکي دقران او سنت په رڼا کی**

**الف: دقراني نصوصوپه رڼاکې**

مونږ باید لومړی دا وواېو، چې من جملة دمبارکی ذکر په قران کریم کې په ګڼ شمېر ایاتونو او مقامونوکې شویدی، الله تعالی هغه حال ذکرکوي کوم چې د اعراف اهل (هغه خلک چې اعراف کې وي ) هغوی ‌ به جنتیانوته مبارکی ورکوي دجنت ته دداخلېدو:

الله تعالی فرمايي: (وَبَيْنَهُمَا حِجَابٌ وَعَلَى ٱلْأَعْرَافِ رِجَالٌ يَعْرِفُونَ كُلاًّ بِسِيمَاهُمْ وَنَادَوْاْ أَصْحَابَ ٱلْجَنَّةِ أَن سَلاَمٌ عَلَيْكُمْ لَمْ يَدْخُلُوهَا وَهُمْ يَطْمَعُونَ) [البقره:۴۶]

د دې دواړو ډلو ترمینځ به یوه پرده ( برید) وي چې دهغې دپاسه ( پراعراف باندې ) به څه نورکسان وي.دوی به هر ډله دهغې له څېرې نه پېژني او جنتیانو ته به اواز وکړي وبه وايي چې سلامتي دې وي پرتاسې.

امام نسفي رحمه الله په خپل تفسیرکې ددې اية لاندې لېکي: چې داعراف خلک به جنتیانو ته اواز وکړي چې سلام دې وي په تاسو،چې دا سلام به په معنی دمبارکی وي د اهل اعراف لخوا جنتیانو ته. (۱۴:۳۴)

سعدي په خپل تفسیرکې ددې اية لاندې لیکي: الله تعالی فرمایي:

( وَأُزْلِفَتِ ٱلْجَنَّةُ لِلْمُتَّقِينَ غَيْرَ بَعِيدٍ)

داسې به ورته نږدې شي چې کوم نعمتونه پکې موجود وي هغه به ویني،او دا به دمتقیانو لپاره نږدي کیږي.اودوی ته به دتهنئة (مبارکی) په ډول ویل کیږي:

هَـٰذَا مَا تُوعَدُونَ لِكُلِّ أَوَّابٍ حَفِيظٍ [ق:۳۲]

دا جنت اوهغه نعمتونه چې په دې جنت کې دي،چې دنفس ورته اشتهاءکیږي اوسترګې ورڅخه خوند اخلي دا هغه څه دي چې الله تعالی یې وعده کړیده. (۸۰۶:۲۴)

دارنګه په دې اية کريمه کې هم دتهنئة (مبارکۍ) ذکرراغلی دی، کله چې مؤمنان په جنت کې نعمتونه ترلاسه کړي. الله تعالی فرمايي
كُلُواْ وَٱشْرَبُواْ هَنِيٓـَٔۢا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ). [الطور:١٩] (٢۴:٨٠٦).
نو ددې اياتونه څخه څرګنده شوه. چې په قران کريم کې دتهنئة (مبارکۍ ) يادوونه شوې ده. اوس غواړو چې په لنډ ډول دنبي کريم صلی الله عليه وسلم احاديثو طرف ته هم توجو وکړو او وګورو چې په نبوي احاديثوکې هم دمبارکۍ يادونه شوې ده اوکنه؟

**ب: دنبوي احاديثو په رڼاکې**

دتهنئة او مبارکۍ ذکر او ثبوت په نبوي احاديثوکې هم راغلی اوثابت ده لکه په قصه دکعب بن مالک رضی الله عنه کې راځي.کعب بن مالک رضی الله عنه فرمايي: زه په هيڅ يوه غزوه کې دنبي کريم صلی الله عليه وسلم څخه نه وم پاتې شوی، يواځې په غزوه تبوک کې مې ورسره شرکت ونکړ.... واقعه يې اوږده ده وايې نبي عليه السلام چې راځخه وپوښتل ولې درواغ مې ورته ونه ويل او ومې وويل هيڅ عذرمې نه درلوده يارسول الله! نو نبي عليه السلام راته وويل: چې رښتيا هم خبره همداسې ده نوزه پاسه؛ ترڅو چې الله تعالی ستا په حق کې فېصله وکړي،کعب بن مالک رضی الله عنه فرمايي: چې نبي عليه السلام صحابه کرام هم راسره دخبروکولو څخه منع کړي وه اوخلکو به راځخه ځان ګوښه کاوه تردې، چې ځمکه راباندې تنګه شوه اودا حال جاري وه خو زه به مسجد ته تللم،په ښارونوکې به ګرځېدلم او زما دوه ملګري نور هغوی په کورکې ناست وه بېرون نه راوتل او ماسره چا خبرې نه کولې.... وخت تېرېده کله چې څلوېښت شپې تېرې شوې، د نبي عليه السلام له طرفه يواستازی راغی او راته يې وويل: نبي عليه السلام تاته ددې امرکوي، چې د ښځې څخه جدا شه! کعب رضی الله عنه وايي ماورته وويل: چې طلاقه يې کړم؟ اوکه څه وکړم؟ هغه راته وويل: نه جدايي کړه، نو مامې خپلې ښځې ته وويل زه پلار کورته دې لاړه شه، اوهم هلته اوسه تردې چې الله تعالی خپل حکم راولېږي؛ نو په دې اوږدوکې لس شپې نورې هم تېرې شوې او پنځوس شپې پوره شوې د هغه وخت نه چې نبي عليه السلام خلک مونږسره دخبروکولونه منع کړي وه،کعب رضی الله عنه وايي: کله مې چې دپنځوسمې شپې دسهار لمونځ وکړ او هماغه شان خفه ناست وم، چې پدې وخت کې مې ناڅاپه يو اوچت اواز واورېده چې ويل يې ياکعب بن مالک ( أَبْشِرْ ) ای کعب بن مالک مبارک شه؛ نوزه په سجده پريوتم اوپوه شوم چې الله تعالی را باندې خوشحالي را

وستله، نو نبي علیه السلام چې کله دسهار لمونځ وکړخلکو ته یې زما دتوبې دقبلېدو خبر ورکړ نوخلکو به راته مبارکي راکوله، بیا نبي علیه السلام به د راتلو په دوران کې مې خلك ( صحابه کرام ) مخې ته راتلل دتوبې دقبلېدو مبارکي یې را کوله وویل به یې:( لِتَهْنِكَ تَوْبَةُ اللهِ عَلَيْكَ) د توبې قبلېدل دمبارک شه. تردې چې مسجد ته داخل شوم نو نبي علیه السلام مسجدکې ناست وه او نور صحابه کرام هم ورسره ناست وه د دوی دمنځ څخه یواځې طلحه بن عبیدالله رضی الله عنه راپاڅېده رامنډه یې کړه ستړې مشي یې راسره وکړه او مبارکي یې راته راکړه ، کعب رضی الله عنه وایي : کله مې چې نبي علیه السلام ته سلام واچوه؛ نو د خوشحالی څخه یې مخ لکه دسپوږمی ځلېده اوداسې وویل:( اَبْشِرْ بِخَيْرِ يَوْمٍ مَرَّ عَلَيْكَ مُنْذُ وَلَدَتْكَ أُمُّكَ ) (۳:۱۵).

ژباړه: دداسې ورځې مبارکي درته وایم، چې دکومې ورځې څخه ته پېداشوی یې داسې ورځ درباندې نه ده راغلې.

## د مبارکی حکم

مبارکي په اصل کې دا د عاداتوڅخه دی،نه د عباداتو له جملې .

او اصل په عاداتوکې اباحت دی ترهغه چې د حرمت دلیل یې نه وي موجود شوی.

مبارکي په اصل کې د خلکو عرف او عادت دی په عرف او عاداتوکې قاعده دا  ده چې دا مباح دي تر څو پوري چې د حرمت دلیل نه وي موجود شوی. که د تحریم دلیل یې موجود شو بیا یې حکم د اباحت څخه تحریم،کراهیت او نورو احکاموته وځي په اړه یې عمومي قاعده په لاندی ډول ده:

ألاصل فی التهنئة أنها من العادات. (۲:۲۹)

ژباړه: مبارکي په اصل کې د عاداتوڅخه ده .

او د عاداتو په اړه عمومي قاعده په لاندی ډول ده:

وأن العادات الاصل فیها الاباحة،فلایحرم منها الا ماودر تحریمه. (۳۱:۲).

شیخ الاسلام بن تیمیه رحمه الله هم همدا دواړه قواعد ذکرکړیدي،او دا خبره یې هم ورسره ذکرکړېده،په کوم شي چې د امام مالك رحمه الله مذهب بناء ده هغه هم داده چې: اصل په عاداتوکې اباحت دی، ترڅو چې د حرمت دلیل یې نه وي راغلی. (۲:۲۹)

هرکله چې مبارکیانې د عاداتو له جملې څخه دي،یواځې هغه به منع وي چې شریعت منع کړې وي په همدې وجه اسلام هم ځینې عادات چې په عربوکې وه مخکې داسلام څخه ځینې یې په

خپل حال پرېښودل لکه ( لکه مېلمه پالنه ) اوبعضې یې حرام وګرځول لکه سجده دښه راغلاست او هرکلي چې عربي کې ورته ( سجدة التحیه ) وايي.

**د مبارکۍ د رواکېدو حکمت**

حکمت یې داده چې پدې ( مبارکۍ ) سره د مسلمانانو تر منځ مینه، محبت، دوستي،ترحم او یو د بل سره صله رحمي رامنځ ته کیږي او ور باندې خوشحاله کیږي. او د یو مسلمان خوشحاله کول ډېرعظیم اجر او ثواب لري او دګناهونو د مغفرت سبب هم ګرځي رسول الله صلی الله علیه وسلم پدې اړوند فرمایلي دي:( إِنَّ مِنْ مُوجِبَاتِ الْمَغْفِرَةِ إِدْخَالَ السُّرُورِ عَلَى أَخِيكَ الْمُسْلِمِ. (۱۴۱:۲۵)

په قران کریم کې هم د مبارکۍ د هغه حالت ذکر راغلی، چې کله مؤمنان جنت ته داخل شي د هغوی د خوشحالتیا لپاره الله جل جلاله فرمایي: كُلُواْ وَٱشْرَبُواْ هَنِيٓـَٔۢا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ. [الطور:۱۹] ژباړه: خورئ اوڅښئ په خوند سره د هغه عملونوپه بدل کې چې تاسې کول.

مبارکي په عام ډول په هغه شیانوکې وي، چې د شریعت موافق او انسانان وربانديې خوشحالیږي لکه دنکاح مبارکي، دماشوم پیداکېدو مبارکي، داخترونو مبارکي، دکلونو او میاشتو مبارکي، دسفر نه د راتلو مبارکي، د حج او یا عمرې څخه د راتلو مبارکي، دطعام او یا د سختی نه وروسته د اسانتیا راتلو مبارکي او یا داسې نورشیان چې اوس نوي دخلکو ترمنځ مروج دي. (۹۷:۲۱)

**دتهنئة (مبارکۍ ) انواع او احکام**

الف: جائز(روا) مبارکي :دلته د هغه مبارکیانو څېړنه کوم چې شریعت کې د هغه حرمت په اړه څه نه دي راغلي،او یواځې د یو عادت په حیث شریعت ورته کتلې،یا یې په تایید باندې نصوص راغلي وي.

**دمولود (ماشوم پېداکېدومبارکي)**

زموږ ټولنه کې د ماشوم په پیدا کیدو په ځانګړی ډول چې نارینه وي دا دود دی خلک ډېره خوښي ښکاره کوي څښې خلک هوایي ډزې کوي او یوبل ته مبارکي او زیري ورکوي داچې اولاد دالله جل جلاله ډېرلوي نعمت دی کله چې الله جل جلاله په انسان دومره لورېنه وکړي د دې لویې لورېنې مبارکي ویل څه حکم لري؟

او ایاپه شریعت کې یې چېرته مثل شته اوکنه؟

جمهورعلماء وايي: دماشوم په پېداکېدوسره مبارکي ويل مستحب ده.
التَّهْنِئَةُ بِالْمَوْلُودِ عِنْدَ جُمْهُورِ الْفُقَهَاءِ مُسْتَحَبَّة ، وَتَكُونُ عِنْدَ الْوِلاَدَةِ، وَالأَوْجَهُ عِنْدَ الشَّافِعِيَّةِ امْتِدَادُ زَمَنِهَا ثَلاَثًا بَعْدَ الْعِلْمِ أَوِ الْقُدُومِ مِنَ السَّفَرِ. (۹۷:۲۱)
ژباړه: د جمهور علماو په نزد د ماشوم پېدا کېدو مبارکي ورکول مستحب دي، خو دا د ولادت په وخت کې، او شوافعو په آند غوره دا ده، چې د خبريدو او د سفر څخه د راسنيدو د وخت وروسته تر دري ورځو پوري مبارکي ورکول روا دی.

**د مبارکۍ الفاظ**

په اسلامي شريعت کې د ماشوم د پيدا کيدو مبارکۍ لپاره ځانګړي الفاظ دي او هغه کلمات چې مبارکي ويوونکی يې دماشوم پلار لپاره او يامورته وايي،په لاندې ډول دي:
(بَارَكَ اللَّهُ لَكَ فِي الْوَلَدِ الْمَوْهُوبِ، وَشَكَرْتَ الْوَاهِبَ، وَبَلَغَ أَشُدَّهُ، وَرُزِقْتَ بِرَّهُ).
ژباړه: اولاد دې الله تعالی برکتي کړه، او دالله تعالی شکر اداء کړه، چې ته يې ځوانۍ ته ورسولې اوښه روزي يې درکړه.
پورته ذکر شوي الفاظ د حسين رضی الله عنه څخه په حديث کې روايت شوي دي.
وَقَدْ رُوِيَ عَنِ الْحُسَيْنِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ عَلَّمَ إِنْسَانًا التَّهْنِئَةَ فَقَالَ: قُل ( بَارَكَ اللَّهُ لَكَ فِي الْمَوْهُوبِ لَكَ ، وَشَكَرْتَ الْوَاهِبَ ، وَبَلَغَ أَشُدَّهُ ، وَرُزِقْت بِرَّهُ). (۴۸۸:۱)
ژباړه: د حسين رضی الله عنه څخه روايت شوی دی، چې هغه يو نفرته د مبارکۍ کلمات ورښودل داسې يې ورته وويل چې دمبارکۍ په وخت کې دا کلمات وايه: الله دې ستاپه دې بچې کې خير او برکت واچوي، اود الله تعالی شکر اداء کړه، چې ته يې ځوانۍ ته ورسولې اوخپل انعام يې پرتا وکړ.
او دا شان چاته چې مبارکي ويل کيږي هغه لپاره هم دامستحب دی چې په ځواب کې داسې اودې ورته کلمات ووايي: بَارَكَ اللَّهُ لَكَ، وَبَارَكَ عَلَيْكَ، وَجَزَاكَ اللَّهُ خَيْرًا، وَرَزَقَكَ مِثْلَهُ، أَوْ: أَجْزَل اللَّهُ ثَوَابَك، وَنَحْوَ هَذَا . (۶۵۰:۹)
الله تعالی دې اجر درکړي، الله تعالی دې نېکه بدله درکړي، همد اشان اولاد دې تاته هم الله جل جلاله درکړي، او ياهم داسې چې الله تعالی دې ثواب درکړي. او دېته ورته نورکلمات.
دلائل يې په لاندې ډول دي: الله تعالی فرمايي: (فَبَشَّرْنَاهُ بِغُلَامٍ حَلِيمٍ) [الصافات:۱۰۱]
مونږهغه ته ديوحليم ( زغمونکي ) هلك زيری ورکړ.

دوکتوروهبة الزحیلي په خپل کتاب الفقه الاسلامي وادلته ذکرکړیدي:

وتستحب كما تقدم، التهنئة بالمولود بين الرجال وبين النساء، بأن يقال: بارك الله لك في الموهوب لك، وشكرت الواهب، وبلغ أشده، ورُزقت بِرَّه. ويجيب الوالد والوالدة: بارك الله لكم، وبارك عليكم، وأجزل ثوابكم. (۲۹۱:۲۲)

ژباړه :چې نارینه و اوښځینه ؤ دواړولپاره یوبل ته مبارکي ورکول مستحب دي.

**دنووجامومبارکي**

زمونږ افغاني ټولنه کې بل دود دا دی، چې یو شخص نوې جامې وا غوندي ملګري ورته مبارکي ورکوي، دا یو روا عمل دی شریعت یې تاییدوي .

امام بخاري رحمه الله یوحدیث په باب ( مایدعي لمن لبس ثوبا جدیدا) کې دام خالد بنت خالد څخه یوروایت نقل کړی دی چې هغه وایې: – قَالَتْ أُتِيَ رَسُولُ الله صلى الله عليه وسلم بِثِيَابٍ فِيهَا خَمِيصَةٌ سَوْدَاءُ قَالَ مَنْ تَرَوْنَ نَكْسُوهَا هَذِهِ الْخَمِيصَةَ فَأُسْكِتَ الْقَوْمُ قَالَ ائْتُونِي بِأُمِّ خَالِدٍ فَأُتِيَ بِي النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم فَأَلْبَسَهَا بِيَدِهِ وَقَالَ أَبْلِي وَأَخْلِقِي مَرَّتَيْنِ.(۱۴۸:۱۶)

ژباړه : ام خالدبنت خالد رضی الله عنها فرمایي: پیغمبر ص ته یوجوړ جامې راوړل شوې، چې تورګلان یې درلودل نو صحابو سره یې مشوره وکړه، چې دا جامې چاته ورکړو، صحابه چپ شول، بیا پیغمبر علیه السلام وویل: ام خالد را وغواړئ کله چې زه راغلم پیغمبر علیه السلام راته راکړې اوراته یې وویل: ( أَبْلِي وَأَخْلِقِي ) زړې یې کړې اوشیرې یې کړې او دا خبره یې دوه ځله راته وکړه.

عبدالله بن عمر رضی الله عنه دخپل پلار عمررضی الله څخه روایت کوي وایي: چې پلارمې وویل: رسول الله صلى الله عليه وسلم زمایه تن سپینې جامې ولیدلې، نبي علیه السلام راته وویل: ( ثَوْبُكَ هَذَا: غَسِيلٌ أَمْ جَدِيدٌ ؟) داجامې دي نوې دي اوکه وینځلې دې دي؟ عمر رضی الله عنه وورته وویل وینځلې مې دي او یو روایت کې دي چې نوې دي نونبي علیه السلام ورته وویل: ( الْبَسْ جَدِيدًا ، وَعِشْ حَمِيدًا ، وَمُتْ شَهِيدًا.(۲۸۳:۲۷)

ښه یې واغوندې، ښه ژوند ولرې اوپه پای د شهادت مقام ترلاسه کړې. دا راز ابوسعید الخدري رضی الله عنه څخه روایت دی فرمایي: نبي علیه السلام به چې کله نوې جامې ، که قمیص به وه یاپټکی، نو نوم به یې ورته اخیسته اودادعاء به یې ویله: اللهم لك الحمد أنت كسوتنيه أسألك خيره وخير ما صنع له وأعوذ بك من شره ومن شر ما صنع له. (۴۹:۱۴)

حمد ا وثنا تا لره ده ای ربه! تاراته لباس راکړ، راته یې ښې کړې، او د شر څخه یې پناه راکړې.
همدارنګه ابونضرة رضی الله عنه وایي: صحابه کراموکې به چې کوم یوتن نوې جامې واغوستلې ویل به یې ورته ( تبلي ویخلف الله ) زړې یې کړې او الله جل جلاله دې نورې درکړي.

**د عقیقې مبارکي او حکم**

هغه خواړه چې د ماشوم پیدا کیدو په شکرانه کې ورکول کیږي او خلك ورته را بلل کیږي په دغه وخت کې د عقیقې مبارکي خلك وایي،اول د عقیقې تعریف ذکر کوم بیا یې حکم.
التَّعْرِيفُ: تُطْلَقُ الْعَقِيقَةُ فِي اللُّغَةِ عَلَى: الْخَرَزَةِ الْحَمْرَاءِ مِنَ الأَحْجَارِ الْكَرِيمَةِ ، وَقَدْ تَكُونُ صَفْرَاءَ أَوْ بَيْضَاءَ وَعَلَى: شَعْرِ كُل مَوْلُودٍ مِنَ النَّاسِ وَالْبَهَائِمِ يَنْبُتُ وَهُوَ فِي بَطْنِ أُمِّهِ، وَعَلَى الذَّبِيحَةِ الَّتِي تُذْبَحُ عَنِ الْمَوْلُودِ عِنْدَ حَلْقِ شَعْرِهِ.(۵:۲۸۰)
ژباړه: عقیقه په لغت کې هغه نرۍ لیکو اوتارونوته ویل کیږي، چې په قیمتي تیږو کې وي چې سور، یازیړ اویا هم کله سپین رنګ لري. اوهغه وېښتان، چې د مور په ګېډه کې په جنین راشنه کیږي دیته هم عقیقه وایي. اوهغه حیوان ته هم ویل کیږي چې د ماشوم د سرکلولو په وخت کې ذبحه کیږي.
وَالْعَقِيقَةُ فِي الاِصْطِلاَحِ : مَا يُذَكَّى عَنِ الْمَوْلُودِ شُكْرًا لِلَّهِ تَعَالَى بِنِيَّةٍ وَشَرَائِطَ مَخْصُوصَةٍ. (۹۷:۲۱)
اوپه اصطلاح کې هغه حیوان چې دالله جل جلاله دشکرداداکولوپه خاطردخاصوشرائطوپه نظرکې نیولوسره په نیت دعقیقې ذبحه ( حلالیږي ) عقیقه ورته وایي.
عقیقه دا یوسنت عمل دی خو اوس مهال دخلکوڅخه هېره شوې ده. څوك یې نه عملي کوي نوومې غوښتل چې په خپل دې بحث کې ورته په لنډه توګه اشاره وکړم، که الله جل جلاله وکړي چې په خلکوکې دنبی علیه السلام یوهېرشوی سنت را ژوندی شي، چې خلکو سنت پریښې اونورې نوې طرېقې او رواجونه په کې مشهورشوي دي. دعقیقې روا والی دنبي علیه السلام له قولي اوفعلي احادیثوڅخه ثابت دی.
امام بخاري رحمه الله سندا د محمد بن سیرین څخه روایت رانقل کړی دی وایي: چې سلمان بن عامرالضبي رضی الله عنه وویل: ما د نبي علیه السلام څخه اورېدلي دي، چې هغه صلی الله علیه وسلم به وویل: قَالَ : سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صلی الله علیه وسلم يَقُولُ: مَعَ الْغُلاَمِ عَقِيقَةٌ فَأَهْرِيقُوا عَنْهُ دَمًا وَأَمِيطُوا عَنْهُ الأَذَى.(۱۰۹:۱۶)
ژباړه : د ماشوم سره عقیقه وي او د هغه دشکرانې په بدل کې وینه تویه کړئ او د هغوی څخه

ضررونه دفع کړئ.

دا راز د سمرة بن جندب رضی الله عنه نه هم روایت دی فرمایي، چې نبي علیه السلام فرمایلي دي: هرماشوم په خپله عقیقه کې ګروه دی،په اومه ورځ ورځخه ( دعقیقې په نوم ) ذبحه وکړئ سریې ورکل (وخرویوئ) کړئ اونوم هم وربانديې کیږدئ.

عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– قَالَ « كُلُّ غُلاَمٍ رَهِينَةٌ بِعَقِيقَتِهِ تُذْبَحُ عَنْهُ يَوْمَ سَابِعِهِ وَيُحْلَقُ وَيُسَمَّى.(۴۵۷:۴)

دالله تعالی په نعمتونوکې اولاد ډېرلوی نعمت دی نوچاته چې الله تعالی دومره لوی نعمت ورکړي باید ددې نعمت دشکراداکولولپاره عقیقه وکړي. دعقیق دحکم په اړه دعلماء اختلاف موجود ده.

صحابه کرام رضوان الله علیهم،تابعین اوجمهورعلماء پدې نظردي چې داسنت مؤکد دی.(۶۳۷:۲۲)

امام طحاوي حنفي په خپل مختصر او ابن عابدین په العقودالدریة کې وایي: عقیقه مستحب ده، دچاچې خوښه وي ودې کړي اوکه خوښه یې نه وي نه دې کوي.(۲۱۲:۶)

نودپورتنیو دلا ئلوڅخه څرګندیږي چې د عقیقې مجلس ته تلل اوهلته دماشوم والدېنوته تبریکي ویل جائز عمل دی.

**د روغتیا ( صحت ) مبارکي**

صحت دالله تعالی لوی نعمت دی،چې کوم انسان ته الله تعالی صحت اوتندرستی ورکړي، نوبل مسلمان وروردهغه دخوشحاله کولو او دالله تعالی دنعمتونود شکرانې په خاطرهغه ته دمباکۍ مراتب وړاندې کوي،زمونږپه اسلامي ټولنه کې داهم یو لوی دود دی چې خلک ناروغ ته د ناروغتیا څخه دروغېدو اوجوړېدو وروسته د صحت مبارکی وایي. ایا دغه دود په اسلامي شریعت کې کوم اصل لري اوکنه؟

دجواب په ډول باید ووایم چې پدې اړوندحاکم په مستدرک کې دابي خوات بن جبیررضی الله عنه یوحدیث روایت کړی دی:ابي خوات بن جبیررضی الله عنه فرمایي: مَرِضْتُ فَعَادَنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، فَلَمَّا بَرَأْتُ قَالَ : صَحَّ جِسْمُكَ يَا خَوَّاتُ....(۲۷۶:۲۶)

خوات بن جبیر رضی الله عنه فرمایي: زه مریض شوی وم او نبي علیه السلام مې پوښتنې ته راغی چې کله روغ شوم، نبي علیه السلام راته وویل ښه شوی یې ای خواته...

کله چې څوک دمرض څخه جوړشي هغه ته داسې کلمات ویل تبریک شه، چې د مرض څخه ښه شوې،ددې اودېته ورته کلماتوویل جائز دي هیڅ کوم باک نلري،بلکه ښه اود خیردعاء به ورته کوي، او یا به دا ډول کلمات وايي: ( الحمد لله علی سلامتک.(۲:۳۱)
ژباړه: شکر دی چې روغ شوې یاست.

**وظیفه اخیستل او یا په یو پوست مقررېدل**

په موجوده عصرکي زمونږه افغاني ټولنه کې خلک خپلو خپلوانو ته د هر راز خوشحالیو مبارکی وايي، اوس دا موضوع څیړو چې کله یو څوک په یو چوکۍ مقرر شي ( لاسته ته یې راوړی ) ده ته مبارکي ورکول جائز دی او کنه ؟

لوموړی مونږ په دې موضوع خبرې کوو چې دا موضوع دوه اړخونه لري دا چې کله څوک په کوم مقام کې مقرر شي او کوم ځای تر واک لاندې راولي د مبارکي ویلو اړوند به یې څه حکم وي؟

په دې اړه چې هر څوک کوم ځای کی مقرر شي او یا کوم ځای تر واک لاندې راولي او د فضیلت څښتن شي مونږ ورته مبارکي ویلی شو، چې په دې اړه د انس رضی الله عنه څخه یو روایت نقل شوی دی فرمایي: عن أنس قال : لما انصرف رسول الله صلی الله علیه و سلم من الحدیبیة نزلت هذه الآیة: إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحاً مُّبِيناً (١) لِّيَغْفِرَ لَكَ ٱللَّهُ مَا تَقَدَّمَ مِن ذَنبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ وَيُتِمَّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكَ وَيَهْدِيَكَ صِرَاطاً مُّسْتَقِيماً(۲)

قال المسلمون یا رسول الله هنیئا لک ما أعطاک الله فما لنا فنزلت { لِّيُدْخِلَ ٱلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا ٱلأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَيُكَفِّرَ عَنْهُمْ سَيِّئَاتِهِمْ وَكَانَ ذٰلِكَ عِندَ ٱللَّهِ فَوْزاً عَظِيماً (٥) [الفتح:۱-۵](۱۲۲:۱۳)

ژباړه : ای پیغمبره! مونږ تاته ښکاره فتحه درکړه؛ ترڅوچې الله ستا له مخکینۍ وروستنۍ هرې کوتاهۍ نه درتېرشي اوپرتاباندې خپل نعمت بشپړ کړي اوتاته سمه لاره دروښيي. اوله تاسره قوي مرسته وکړي. همغه ذات دی چې د مؤمنانو په زړونو کې یې ډاډینه واچوله؛ ترڅو چې د خپل ایمان ترڅنګ هغوی یوبل ایمان زیات کړي. دځمکې اواسمانونوټولې لښکرې د الله د قدرت په ولکه کې دي هغه علیم او حکیم دی. ( هغه داکار د دې دپاره کړیدی ) ترڅومؤمن نارینه اوښځې دهمېشه اوسېدولپاره داسې جنتونوته ننباسي، چې ترهغولاندې به ویالې بهېدونکې وي اودهغوبدۍ به له هغوی نه ایسته کړي دالله په نزد دا ستر بریالتوب دی.

انس رض الله عنه فرمايي: کله چې پيغمبر عليه السلام دحديبيې څخه بېرته راستون شونودا ايت نازل شو: إِنَّا فَتَحْنَا لَكَ فَتْحاً مُّبِيناً (١) لِّيَغْفِرَ لَكَ ٱللَّهُ مَا تَقَدَّمَ مِن ذَنبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ وَيُتِمَّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكَ وَيَهْدِيَكَ صِرَاطاً مُّسْتَقِيماً:

(صحابه کرامو وويل ای دالله تعالی رسوله مبارك شه هغه څه چې تاته الله تعالی درکړل داخوستا لپاره دی! زمونږ لپاره څه دي؟ په دې وخت کې دا ايت نازل شو(لِّيُدْخِلَ ٱلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَاتِ جَنَّاتٍ تَجْرِى مِن تَحْتِهَا ٱلأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا وَيُكَفِّرَ عَنْهُمْ سَيِّئَاتِهِمْ وَكَانَ ذٰلِكَ عِندَ ٱللَّهِ فَوْزاً عَظِيماً) د لته هم صحابه کرامو نبي عليه السلام ته مبارکي ورکړې ده اوهغه عليه السلام ورڅخه انکارندی کړی.

**د علمي مقام اورتبې لاسته راوړلومبارکی حکم**

کله چې څوك کومه علمي رتبه ( علوم ديني اوياساينسي څخه فارغ ) شي دامقام اومرتبه ترلاسه کړي مونږ ورته تبريکي او مبارکي ويلی شو؛ ځکه چې د صحابؤکرامويه عصرکې داسې موضوعات ډېر پېښ شوي دي اوپه نبي عليه السلام خپله صحابه کرامو ته مبارکي ويلې چې په اړه يې د ابی ابن کعب رضی الله عنه دا روايت دی فرمايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:« يَا أَبَا الْمُنْذِرِ أَتَدْرِى أَىُّ آيَةٍ مِنْ كِتَابِ اللَّهِ مَعَكَ أَعْظَمُ ». قَالَ قُلْتُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. قَالَ « يَا أَبَا الْمُنْذِرِ أَتَدْرِى أَىُّ آيَةٍ مِنْ كِتَابِ اللَّهِ مَعَكَ أَعْظَمُ ». قَالَ قُلْتُ اللَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الْحَىُّ الْقَيُّومُ. قَالَ فَضَرَبَ فِى صَدْرِى وَقَالَ (وَاللَّهِ لِيَهْنِكَ الْعِلْمُ أَبَا الْمُنْذِرِ.(۱۹۹:۳۳) ( ليهنك العلم ) أي ليكن العلم هنيئاً لك.(۵:۱)

ژباړه: ای د منذرپلاره! پوهيږې په قرانکريم کې کوم اية لوی دی؟ ما ورته وويل: الله اودهغه رسول ښه پوهيږي، بيايې راڅخه داپوښتنه دوباره وکړه، ماورته وويل:( اللَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الْحَىُّ الْقَيُّومُ). آية کرسي، په سينه يې ووهلم اوراته يې وويل : علم دمبارك شه!

امام نووي رحمه الله په شرح د صحيح مسلم کې داقول د نبي عليه السلام ذکرکوي، چې ابی بن کعب رضی الله عنه ته وايي: ( وَاللَّهِ لِيَهْنِكَ الْعِلْمُ أَبَا الْمُنْذِرِ.) علم دمبارك شه

فِيهِ مَنْقَبَة عَظِيمَة لِأُبَيٍّ وَدَلِيل عَلَى كَثْرَة عِلْمه. وَجَوَاز مَدْح الْإِنْسَان فِي وَجْهه إِذَا كَانَ فِيهِ مَصْلَحَة، وَلَمْ يُخَفْ عَلَيْهِ إِعْجَاب وَنَحْوه؛ لِكَمَالِ نَفْسه وَرُسُوخه فِي التَّقْوَى.(۱۶۴:۳۵)

ژباړه: پدې وېنا اوتبريکی کې د ابی ابن کعب رضی الله عنه لپاره لوی فضيلت پروت دی او دا دليل دی په زياتوالي د علم د ابی ابن کعب رضی الله عنه. اودوهمه خبره داده، چې د يو انسان

صفت کول د هغه مخکې جائز دي، پدې شرط چې مصلحت په کې وي همدارنګه چې صفت کوونکی پدې پوهیږی، چې زه د چاصفت کوم هغه ته تکبراولويي نه پيداکيږي،اوکه پوهيده چې زه د ده په وړاندې د ده صفت وکړم داخوشحاله کيږی او ورسره ورسره تکبرهم کوي بيا جائز نه دی.

وَذَهَبَ الْحَنَابِلَةُ إِلَى أَنَّ التَّهْنِئَةَ بِالأُمُورِ وَالنِّعَمِ الدِّينِيَّةِ الْمُتَجَدِّدَةِ مُسْتَحَبَّةٌ ، وَاحْتَجُّوا بِقِصَّةِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ، أَمَّا التَّهْنِئَةُ بِالأُمُورِ الدُّنْيَوِيَّةِ فَأَجَازَهَا بَعْضُ مُتَأَخِّرِيهِمْ، وَقَال بَعْضُهُمْ: تَحْسُنُ أَوْ تُسْتَحَبُّ. وَلَمْ نَجِدْ مَنْ تَعَرَّضَ لِهَذَا مِنَ الْحَنَفِيَّةِ وَالْمَالِكِيَّةِ.(۱۰۲:۲۱)

حنابله پدې نظردي چې په ديني اموروکې چې سړي يې نوي لاسته راوړي مبارکي ورکول مستحب دي، اوپه دليل کي قصة دکعب ابن مالک وړاندې کوي، اود د نياوي نعمتونوپه با ره کې بعض متاخرينوحنابلوهم جواز ورکړيدی، اوبعض وايي ښه خبره ده اوبعض وايي چې په دنياوي اموروکې مبارکی هم مستحب ده. خوداحنافو او مالکيانو څخه پدې اړه څه ندي نقل شوي.

**دواده مبارکي**

څرنګه چې واده په اسلامي شريعت کې يو مهم کار ګڼل ګيږي او دا راز نکاح دټولوانبياء عليهم السلام اودرسول الله صلى الله عليه وسلم سنت هم دی لکه څرنګه چې فرمايي( عَنْ عَائِشَةَ ، قَالَتْ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّمَ : النِّكَاحُ مِنْ سُنَّتِي.(۵۴:۱۰)

ژباړه: نکاح زمادسنتوڅخه دی.

کله چې واده ( نکاح ) دومره مهم کار دی، چې ايمان تکميلوي او د رسول الله صلى الله عليه وسلم سنت هم دی کله چې څوک دوه نفره ( نراوښځه ) واده وکړي هغوی ته مبارکي ويل به څه حکم لري؟

درسول الله صلى الله عليه وسلم د مبارکو احاديثوڅخه څرګنديږي، چې نبي عليه السلام په خپله هم ځينې صحابؤ کراموته دواده مبارکی ورکړيده، چې په دې اړوند دابوهريرةرضى الله عنه روايت دی فرمايي: أَنَّ النَّبِىَّ -صلى الله عليه وسلم- كَانَ إِذَا رَفَّأَ الإِنْسَانَ إِذَا تَزَوَّجَ قَالَ « بَارَكَ اللَّهُ لَكَ وَبَارَكَ عَلَيْكَ وَجَمَعَ بَيْنَكُمَا فِى خَيْرٍ »(۳۸۱:۱۲)

کله به چې يوتن واده وکړ نونبي کريم عليه السلام به ورته دا دعاء کوله.....

دا راز د عبدالله بن محمد بن عقيل ابن ابي طالب رضى الله عنه په حديث کې هم واضح

شويدي اودهغې دعاء کلمات هم په کې ذکردي چې نبی عليه السلام واده کوونکوته کړي دي:
تزوج عقيل بن أبي طالب فخرج علينا فقلنا بالرفاء والبنين فقال مه لاَ تَقُولُوا ذَلِكَ فَإِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ نَهَانَا عَنْ ذَلِكَ ، قُولُوا : بَارَكَ اللَّهُ لَهَا فِيك ، وَبَارَكَ لَك فِيهَا .(۲۰۱:۱۲)

عقيل بن ابي طالب رضی الله عنه واده وکړ کله چې زمونږ خواته راغی مونږ د زوی مبارکي ورکړه هغه وويل: داسې مه وايي، ځکه پيغمبر ص د داسې وېناڅخه منع کړېده، داسې وايي: هغه دې الله تاته مبارکه کړي او تادې الله هغې ته مبارک کړي. ( تادې الله هغې ته ښه کړي اوهغه دې الله تاته ښه کړي).

ابن منير رحمه الله وايي: ددې حديث دکلماتوڅخه داسې ښرګنديږي چې پيغمبر عليه السلام داسې کلمات ښه نه ګڼل ، هغه پدې وجه چې دې کې دجاهليت دزمانې دخلکودويناو اودعاء سره په کې مشابهت دی، ځکه دعربوجاهلانو به داخبرې دفال په وجه کولې نه د دعاء په خاطر،نوځکه پيغمبر عليه السلام په مبارکۍ کې د داسې کلماتو او الفاظو دويلو نه منع وکړ چې دجاهليت درواجونواو اصلوسره په کې مشابهت وي.(۲۲۲:۴)

**د سفرمبارکي**

څرنګه چې انسان په خپل ژوندکې مختلفولورو اوطرفونوته سفرکوي، بيا چې کله دسفراراده وکړي اوياکله هم بېرته راستون شي دوستان ورته مبارکي اوهرکلی وايي، دشرعي حيثيت اوحکم دڅرګندولوپه منظورمې وغوښتل چې داموضوع تريوحده ترڅېړنې لاندې ونيسم ترڅوپدې هکله خپلومسلمانوورونواوخوېندوته داحقيقت تريوحده برملا اوڅرګند شي!

دسفرڅخه دراستنېدو پرمهال دغاړې ورکولو، سلام اچولو، مسافرته دپاڅېدلو او استقبال کولو دميلمستيا تيارول ثابت دي، چې عربي کې همدې مېلمستياته ( نقيعه ) وايي.(۶۲۲:۳۲)

د انس بن مالك رض څخه روايت دی فرمايي: كان أصحاب النبي صلى الله عليه وسلم إذا تلاقوا تصافحوا وإذا قدموا من سفر تعانقوا.(۳۷:۲۸)

**د اختر مبارکي**

په مسلمانانودالله تعالی يوه داسې پېرزوينه چې په راتلوسره يې هرڅوک دخوښيو احساس کوي، دغمونوبهيرېې کميږي، دالله تعالی لخواخپلومسلموبنده ګانوته پکې دهرراز خوشحالی چې داسلامی شريعت مطابق وي جوازورکړيدی، خوبيا هم زمونږ ځينې مسمانان ورونه په کې داسې کړنې ترسره کوي چې دالله تعالی اورسول الله صلی الله عليه وسلم داوامرو اونواهيوڅخه په کې

سرغړونه کیږي اوځینې دودونه هم په کې ترسره کوي لکه دمبارکي ویل، یا بل سره معانقه کول، مصافحه کول، دیوبل زیارت اولیدنه کول..... په همدې اساس چې اسلامي شریعت په دې ورځ دخوښیوجواز ورکړی، نودابه وڅیړوچې کوم راز خوښی روا اوکوم راز خوښی نا روا دي.؟

۱ ـ داخترپه ورځ یوبل ته غاړه ورکول: دایوجائز عمل دی، دجبیربن نفیر رضی الله عنه څخه روایت دی وایي: كان أصحاب رسول الله صلى الله عليه و سلم إذا التقوا يوم العيد يقول بعضهم لبعض تقبل الله منا ومنك.(۴۴۶:۳)

صحابه کرام به چې کله داخترپه ورځ له یوبل سره مخامخ کېدل، نویوبل ته به یې ویل: الله تعالی دې زمونږ اوستاسې نېک اعمال قبول کړي.

ابن حجر رحمه الله فرمایي: چې داخترپه ورځ یوبل ته مبارکي ورکول جائزدي اوپه دلیل کې داحدیث شریف وړاندې کوي عَنْ خَالِدِ بْنِ مَعْدَانَ قَالَ : لَقِيتُ وَاثِلَةَ بْنَ الأَسْقَعِ فِى يَوْمِ عِيدٍ فَقُلْتُ : تَقَبَّلَ اللَّهُ مِنَّا وَمِنْكَ فَقَالَ: نَعَمْ تَقَبَّلَ اللَّهُ مِنَّا وَمِنْكَ قَالَ وَاثِلَةُ: لَقِيتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَوْمَ عِيدٍ فَقُلْتُ: تَقَبَّلَ اللَّهُ مِنَّا وَمِنْكَ فَقَالَ:« نَعَمْ تَقَبَّلَ اللَّهُ مِنَّا وَمِنْكَ »(۳۱۹:۱۸)

چې خالد ابن معدان رضی الله عنه وایي زه واثله ابن الاسقع رضی الله عنه سره داخترپه ورځ مخامخ شوم داسې مې ورته وویل: تَقَبَّلَ اللَّهُ مِنَّا وَمِنْكَ، هغه راته وویل: نَعَمْ، بلې او واثله بن الاسقع راته وویل: زه دنبي صلى الله عليه وسلم سره داخترپه ورځ مخامخ شوم همداسې کلمات مې ورته وویل،او نبي علیه السلام راته په ځواب کې وویل: نَعَمْ.

جمهورفقهاء په دې نظردي چې داخترپه ورځ مبارکي ورکول جائز دي.

ذَهَبَ جُمْهُورُ الْفُقَهَاءِ إِلَى مَشْرُوعِيَّةِ التَّهْنِئَةِ بِالْعِيدِ مِنْ حَيْثُ الْجُمْلَةُ.(۹۹:۲۱)

نن سبا خلك په اخترونوکې یوبل ته دا الفاظ وایي( اخترد‌مبارک شه ) پداسې حال کې چې ځینې خلك ورته بدعت وایي، ایا داسې الفاظ ویل شرعا جائزدي اوکنه؟

دائمه اربعوترڅنګ یواځې امام اوزاعي ورته بدعت ویلي دي. اوپه یوقول کې امام مالك رحمه الله ورته مکروه ویلي دي.(۵۵۷:۷)

**د حج مبارکي**

حج د اسلام له پنځه ګونو بناو څخه یو بنا ده، چې په هرعاقل، بالغ ،مسلمان اودتلواوراتلوپه مالي او امنیتي لحاظونوهم وسع او قدرت ولري، چې دفضیلت په اړوندیې دنبي کریم علیه السلام

ډېراحاديث رانقل شوي دي، اما زمونږ د بحث نقطه هغه ددې ( حج ) دفرېضې د ادا کولووروسته هغه مبارکي ويل دي چې دابه شرعي بڼه لري اوکنه؟

د عروة بن مضرس رضى الله عنه څخه روايت دى فرمايي: أتيت النبي صلى الله عليه وسلم بمنى فقال: أفرخ روعك يا عروة.(۵۶۴:۳۶)

زه په منى کې د نبي عليه السلام خواته راغلم نبي عليه السلام راته وويل: غم دې درنه لرې شي.

دا راز دانس رضى الله عنه څخه روايت دى فرمايي: الله تعالى ادم عليه السلام ته وحي وکړه او ورته يې وويل: مخکې لدې نه چې کومه پېښه درباندې وشي ددې کور حج وکړه، ادم عليه السلام وويل: څه پيښه به وي يارب؟ الله ج ورته وويل نه پوهېږې چې مرګ شته ادم عليه السلام وويل مرګ څه شى دى؟ الله تعالى ورته وويل: ژر ده چې وبه يې څکې.... ادم عليه السلام دهندڅخه دحج په خاطر روان شوکله چې مکې ته ورسېده په بطحاسيمه کې ورسره ملائکې مخامخ شوې او ورته يې وويل: اسلام عليك يا ادم حج دقبول شه،خومونږ دستاڅخه په زرګونوکالووړاندې حج کړى دى....(۱۶۸:۳۷)

په دې حديث کې هم دمبارکۍ څخه ياد ونه شوې ده....

**ب: ناجائزې ( ناروا ) مبارکۍ**

**دکليزې ( سالګيرې ) مبارکي**

دکليزې اوياسالګيرې دمبارکۍ شرعي حيثيت به څه وي؟

جواب داده چې طبعا جائزنه ده؛ ځکه چې پدې سره مشابهت راځي دکفاروسره اودکفاروسره مشابهت حرام دى لکه نبي صلى الله عليه وسلم فرمايي: عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– « مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ.(۷۸:۱۱)

ژباړه: څوك چې دکوم قوم سره ځان مشابه کوي دهمغوی له جملې څخه شمېرل کيږي.

کفارهغه خلك دي، چې رواجونه يې راويستلي دي او په مسلمانانوکې يې عام کړيدي. مونږمسلمانان يو اومونږ صرف دوه دخوشحالۍ ورځې لروچې هغه داخترونوورځې دي يوه د ( واړه اختره ورځ اوبله دلوى اخترورځ ) او د جمعې ورځ چې دا دهفتې اخترده. څوك چې بل اختر اودخوشحالۍ ورځ پيداکوي اولمانځي يې ګناه ګار دى.( ومن أدخل عيداً آخر فإنه يكون آثماً؛ لأن الشريعة حصرت أعياد الأمة بهذه، فإذاً عيد الأم، وعيد رأس السنة، وأعياد الميلاد كلها من الأمور المحرمة.(۶:۳۰)

ځکه اسلامي شریعت د دې امت اخترونه ټردې ورځوپورې خاص کړیدي، نودمورورځ، نوی کال، کلیزې ( سالګیرې ) لمانځل اوتبریکي ورکول داټول حرام دي.

**د حمام کولو مبارکي**

دحمام کولوڅخه وروسته دمبارکۍ ورکولوڅه حکم دی؟

ابوسعیدالمتولي وایي: التحیة عند الخروج من الحمام بأن یقول له طاب حمامک لا أصل له. (۵:۳۱)

مبارکي اوښه راغلاست ویل هغه چاته چې دحمام څخه راووځي هیڅ کوم اصل نلري.

امام نووي رحمه الله په خپل کتاب الاذکارکې ذکرکړیدي: هذا المحل لم یصح فیه شيء ولو قال إنسان لصاحبه علی سبیل المودة والمؤانسة واستجلاب الوداد أدام الله لک النعیم ونحو ذلک من الدعاء فلا باس به. (۵:۳۱)

پدې هکله کوم صحیح روایت نه شته خوکه چېرې یوانسان بل انسان ته د دوستۍ، مینې، محبت اوملګرتیا په وجه چاته و وایي: الله جل جلاله دې درباندې خپل نعمتونه همېشه کړي.

خلاصه که چېرته څوک داخبره د دوستۍ اوخپلوۍ اودعاء په خاطر کوي جائزده.

اوهغه روایتونه چې رانقل شوي دي ضعیفه دي پدې دلیل چې دیلمي بلاسندروایت کړېده. اودعبدالله ابن عمررضی الله عنه څخه چې کوم روایت دی، دهغې جواب داده چې هغه وخت کې حمامونه نه وه. اوامام نووي رحمه الله فرمایي: خاصکرچې داروایت پرې کمزورۍ کیږي لکه داخبره سخاوي رحمه الله هم کړېده چې هغه وخت کې حمامونه نه وه اوکوم روایت کې چې دحمام ذکراغلی دهغه څخه مرادپه ګرمواوبولمبل که هغه دچېنې اوبه وي اوکه دځاه. (۵:۳۱)

**د سر او ږیرې لنډولو مبارکي**

الف: کله چې یوڅوک دسرویښتان کل اویالنډ( جوړ) کړي هغه تبریکي ورکول په دې الفاظوسره چې ډېرښه ویښتان دې جوړکړي دي څه حکم لري؟

د همدې پوښتنې په ځواب کې شیخ محمدصالح المنجد داسې لیکلې دي: من حلق مثل من شرب.(۵:۳۱)

د سرکلول دا داسې دي لکه داوبوڅښل، نوڅوک چې ورته تبریکي ورکوي داجائز دی دهغې قاعدې په بنسټ چې مونږ مخکې ذکرکړېده نوکله چې یې په اړه کومې خاصې کلمې اودعاء ګانې موجودې نه دي نو اختیارده چې څوک په کومو الفاظوسره مبارکي ورکوي؛ خو چې

دکفاروسره په کې مشابهت نه وي، او د ده داعقیده هم نه وي چې دا الفاظ سنت دي. اودومره همېشه والی اوتېنګار به هم پرې نکوي لکه په شرعي اذکار و یې چې کوي.
مشکل دلته ده چې ځینې خلك ورباندې دومره ټینګارکوي حتی خپلوکشرانواولادونوته یې هم لکه دسنتوپه څېرتعلیم ورکوي. آن تردې چې خپل اولادونه وهي ډبوي چې کله چاته داکلمات اومبارکي ونه وایي.
په دومره شان تعلیم ورکول اوپه دومره اهمیت ورته قائل کېدل، دابیا دممنوع درجې ته رسوي. (۵:۳۰)

ب: او دا راز دګیرې لنډوونکي ته به دربرې لنډولومبارکي نه وایي! (۵:۳۰)
ځکه چې ډیره پرېښودل سنت دي دا نه چې یواځې زمونږ د خوږ نبي صلی الله علیه وسلم بلکه دټولوانبیاء علیهم السلام سنت دي، نوچې څوك یې کلوي اویایې لنډوي هغه ته به د دې عمل مبارکي نه ورکول کیږي.دهغې قاعدې په بناء چې مونږ په دوهم فصل کې ذکرکړیده.

**د نوي کال مبارکي**

داچې اوس په خلکوکې دې موضوع او دود ډېر زور اخیستی، هرڅوك کوښښ کوي، چې خپل ځان او دوستانوته دنوي کال په اړه یوڅه برابرکړي،اوبیاهرکله چې کال نوی شي یوبل ته تبریکي وایي، او پوښتنه داده چې نوی کال لمانځنه اویوبل ته دتبریکي ویل څه حکم لري؟ نودهجري کال دنوي کېدو مبارکي ورکول، او داراز که څوك چاته مبارکي ورکړي هغه ورته په ځواب کې څه ووایي؟
د دې پوښتنې دځواب لپاره رأفت الحامدالعدني په خپل کتاب احکام التهنئة کې دشیخ عثیمین هغه فتوی رانقل کړېده چې همدې پوښتنې ته یې په کې ځواب ویلی دی.
الجواب: إن هنّاك أحد فرد علیه، ولا تبتدئ أحداً بذلك، هذا هو الصواب في هذه المسألة، لو قال لك إنسان مثلاً: نهنئك بهذا العام الجدید قال: هنأك الله بخیر وجعله عام خیر وبركة.(۲:۲)
که چادرته مبارکي درکړه نوجواب ورکړه،اولومړی ته چاته مبارکي مه ورکوه، پدې مسئله کې همدا صحیح خبره ده.مثال یوسړی درته ووایي د دې کال مبارکي درته وایم، ته ورته  ووایه: خیر یوسې اوالله دې داکال درته دخیر اوبرکت کال وګرځوي.
هغه کلمات اوالفاظ چې دکال بدلېدوپه باره کې یوبل ته ویل کیږي، شیخ عثیمین رحمه الله وایي داسې به ورته وایې! دنوي کال مبارکي درته وایم، دتېرکال ګناهونه دې الله تعالی درمعاف

کړي، اودراتلونکي مشکلات دې الله جل جلاله حل کړه.

**د ځانګړو ورځو مبارکي**

زمونږه افغاني ټولنه کې نوي رواج شوي دودونو څخه هغه د ځانګړو ورځو مبارکي ده لکه: د مور ورځ،د پلار ورځ، دماشوم ورځ،د معلم ورځ او داسې نور......ځينې افغانان ددې ورځو لمانځنه کوي ډالۍ راوړي او يو بل ته مبارکي وايي،که څه هم اسلام د موراو پلار يا هم معلم او ماشوم حقوقو باندي تاکيد کړی او هر وخت يې دوي د قدر وړ بللي او کومه ځانګړې ورځ يې ورته نه ده ټاکلې،خو بيا هم مخکې مونږ يوه قاعده ذکر کړه، چې مبارکي د عاداتو څخه ده او اصل په عاداتو کې اباحت دی؛ تر څو په هکله حرمت نه وي راغلی،نو د يادو ورځو په لمانځلو او مبارکی ويلو په حرمت دليل نشته، خو دومره ده چې دا ورځې ټاکل د کفارو د کړنو له جملې څخه دي او اسلامي نړۍ ته هم د کفارو څخه رانقل شوي، نو په لمانځلو کې به يې د کفارو سره مشابهت رانشي او د کفارو سره مشابهت حرام دی شريعت ترې منعه کړی حديث شريف کې راغلي: عَنِ ابْنِ عُمَرَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– « مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ.(۷۸:۱۱)

ژباړه: څوک چې دکوم قوم سره ځان مشابه کوي دهغوی له جملې څخه شمېرل کيږي.

**غيرې اسلامي حکامو ته د مبارکی حکم**

شيخ عبدالعزيزابن باز رحمه الله ليکلي: چې داسلامي حکمتونومشرانوته دخېرتوفيق غوښتنې، داسلامي شريعت دتحکيم او د دې لپاره چې حاکم دوخت خپل ملت په اسلام باندې تمسک ته دعوت کړي دې حکاموته مبارکي ورکول او دعاء کول جائزدي، د دې لپاره چې دمسلمانانوڅخه شردفع شي.(۵:۳۰)

غيراسلامي حکومت مشرانوته د نړيوالوحقوقو اوبين المللي روابطوپه اساس دهغوی د اخترونو او نورو خوشحاليو مبارکي ورکول څه حکم لري؟

ددې پوښتنې په ځواب کې شيخ سفرالحوالي ليکلي دي: لا يجوز تهنئة الدول ولا الأفراد. رواندہ مبارکي ورکول دولت اونه يوفردته چې غير اسلامي حکاموته دهغوی دخوښيو مبارکي ورکړي.

دا چې ځينې خلك وايي: دا نړيوال پرنسيپ اواصول دي، مونږدلته يوه قاعده يږدو! او وايو: لا نهنئكم بعيدكم ولا تهنئونا بعيدنا: {إن لكل قوم عيداً} كما قال صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فلا تهنونا ولا نهنيكم.

ژباړه: مونږ ورته د دوی د اخترمبارکي نه وايوو اودوی زمونږ د اخترمبارکي نه راکوي. لکه پېغمبر عليه السلام فرمايي، هرقوم اخترلري، مونږ ته دې مبارکي نه راکوي اومونږ دوی ته مبارکي نه وايوو؛ نوخلاصه دا چې زمونږ اوکفاروترمنځ ډېر واټن شته دی ،هغه داده چې مونږ دوی ته مبارکي نه ورکوو د دوی په دينې اموركې اومونږ ته به مبارکي نه راکوي- لکه مونږ لمونځ کوو اودوی نه کوي، مونږ داسې وايو، نشهد ان لا اله الا الله، الله واحد لاشريک دی، اودوی وايي: ان الله هوالمسيح، عيسی عليه السلام الله دی. زمونږ اودوی ترمنځ ډېرفرق دی. نوکفاروته مبارکي ورکول جائز ندي.(۵:۳۰)

**پایله**

تهنئة دتعزية ضد ده مبارکي ته ويل کيږي. لکه يوڅوک ووايي: فلاني ته يې د مشرۍ اوياکوم بل کارمبارکي وويله.

د مبارکي يادونه په قرآن کريم او نبوي احاديثو کې شوې ده چې ځينو حالاتو کې صحابه و يوبل ته مبارکي ويلی ده.

مبارکي دوه ډوله ده روا او ناروا چې روا مبارکي لپاره احاديثو کې ځانګړي الفاظ ذکر شوي دي.

اولاد پيدا کيدو، نوو جامو، عقيقې، روغتيا، علمي رتبهاو مقام ترلاسه کول،واده، سفر څخه راستنيدو، اخترونواو حج مبارکي روا ده او په اسلامي شريعت کې د روا والي ګڼ شمير دلايل موجود دي.

کليزې، حمام کولو، سر او ږيرې کمولو، نوي کال، ځانګړو ورځو او غير اسلامي حاکمانو ته مبارکي ويل ناروا دي.

**وړانديزونه**

۱-د لوړو زده کړو وزارت تاليف او ترجمې رياست ته مې وړانديز دی چې علمي کادر غړي وهڅوي ترڅو په افغاني ټولنه کې د نوو دودونو او رواجونو په هکله ليکنې وکړي.

۲-حج اوقافو وزارت څخه غوښتنه کوم چې د هيواد ټولو خطيبانو ته د جمعې په خطبو کې د نوو دودونو او رواجونو د حکم په هکله د عام مسلمانانو اګاهی موضوعات ور کړي.

۳- د علماؤ څخه دا غوښتنه ده ،چې په خپلو عامو بيانونو او خطبو کې نوو دودونو او رواجونو د حکم واضح او زيانونه يې پر نښه کړي؛ تر څو عام مسلمانان ورڅخه خبر او ځانونه ترې وساتي.

۴- عام مسلمانان باید هم په دې اړه د علماء څخه پوښتنه وکړي او ددې بدو دودونو څخه ځانونه وساتي.

**مصادر**


القرآن الكريم

ابن الجعد ،علي بن الجَعْد بن عبيد الجَوْهَري البغدادي (۱۴۱۰ – ۱۹۹۰). مسند ابن الجعد.ج.۱. مؤسسة نادر – بيروت.لومړی چاپ.

ابن تيميه، تقي الدين ابو العباس احمد بن عبد الحليم الحراني، (ـــــــــ) . رسالة في القواعدالفقهيه ، مجمع ملك فهد، المملكة العربيه السعودية، المدينة المنورة، (ـــــــــ).

ابن حجر، احمد بن علي بن حجر العسقلاني،(۱۳۷۹). فتح الباري شرح صحيح البخاري.ج.۲۰. دار المعرفة، لبنان، بيروت،( ـــــــ ).

ابن حجر، احمد بن علي بن حجر العسقلاني،(۱۳۷۹). فتح الباري شرح صحيح البخاري.ج. ۹. دار المعرفة، لبنان، بيروت،( ـــــــ ).

ابن حجر، احمد بن علي بن حجر العسقلاني،(۱۳۷۹). فتح الباري شرح صحيح البخاري.ج.۱۰. دار المعرفة، لبنان، بيروت،( ـــــــ ).

ابن عابدين، محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الدمشقي الحنفي ،( ـــ ). العقود الدرية في تنقيح الفتاوى الحامدية .ج.۲. دار المعرفة(ـــ).

ابن عابدين، محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز عابدين الدمشقي،(۱۴۱۲ه). رد المحتار على الدر المختار.ج.۱. دار الفكر، لبنان، بيروت، دوهم چاپ.

ابن فارس، أحمد بن زكرياء القزويني الرازي، أبو الحسين (۱۳۹۹هـ – ۱۹۷۹م.). معجم مقاييس اللغة.ج.۶.

ابن قدامة، ابو محمد موفق الدين عبد الله بن احمد الحنبلي ، (۱۳۸۸ه ـــ ۱۹۶۸م). المغني لابن قدارمة.ج.۸. مكتبة القاهرة، مصر، القاهرة، (ـــــــــ).

ابن ماجة ، أبو عبد الله محمد بن يزيد القزويني (۱۴۳۰ هـ – ۲۰۰۹ م) سنن ابن ماجه .ج.۳. دار الرسالة العالمية.لومړی چاپ.

ابوداود، سليمان بن الأشعث بن اسحاق السجستاني، (۱۴۳۰ه ـــ ۲۰۰۹م). سنن ابي داود.ج.۴.څېړونکی: شعيب الأرنؤوط او محمد كامل قره، دار الرسالة العالمية، لمړی چاپ.

امام احمد، احمد ابن حنبل ابو عبدالله الشيباني،( ــــــــــــ ). مسند امام احمد.ج.۱. موسسة قرطبه، مصر، قاهره، وروستی چاپ.

امام احمد، احمد ابن حنبل ابو عبدالله الشيباني،( ــــــــــــ ). مسند امام احمد.ج.۳. موسسة قرطبه، مصر، قاهره، وروستی چاپ.

امام احمد، احمد ابن حنبل ابو عبدالله الشيباني،( ــــــــــــ ). مسند امام احمد.ج.۱۸. موسسة قرطبه، مصر، قاهره، وروستی چاپ.

البخاري، محمد بن اسماعيل ابو عبد الله الجعفي، (۱۴۰۷ه). صحيح البخاري.ج.۶.څېړونکی: د. مصطفى ديب البغا، دار ابن كثير، لبنان، بيروت، دريم چاپ.

البخاري، محمد بن اسماعيل ابو عبد الله الجعفي، (۱۴۰۷ه). صحيح البخاري.ج.۷.څېړونکی: د. مصطفى ديب البغا، دار ابن كثير، لبنان، بيروت، دريم چاپ.

بن باز، عبد العزيز بن عبد الله، (ـــــــــ ). مجموع الفتاوى عبدالعزيز بن باز، جمع او ترتیب:محمد بن سعد الشويعر،(ـــــــ)، (ـــــــ).

البيهقي، احمد بن الحسين بن علي بن موسى ابو بكر ،(۱۴۲۴ه- ۲۰۰۳م). السنن الكبرى.ج.۳. څېړونکی: محمد عبد القادر عطا، دار الكتب العلمية، لبنان، بيروت، دريم چاپ.

الترمذي، أبو عيسى محمد بن عيسى بن سَوْرة بن موسى بن الضحاك ، (۱۹۹۸ م). سنن الترمذي.ج.۳. څېړونکی: بشار عواد معروف، دار الغرب الاسلامي، لبنان، بيروت، ( ــــــــــــ ). دار الفكر. (ـــــــ).

دکویټ داوقافواواسلامي امورو وزارت،(۱۴۲۷-۱۴۰۴ه ). الموسوعة الفقهية الكويتية.ج.۱۴. دارالسلاسل – الكويت.دويم چاپ.

الزحيلي، دكتور وهبة بن مصطفى، (ـــــــ). الفقه الاسلامي وادلته.ج.۳. دار الفكر، سوريه، دمشق، څلورم چاپ.

الزحيلي، دكتور وهبة بن مصطفى، (ـــــــ). الفقه الاسلامي وادلته.ج.۴. دار الفكر، سوريه، دمشق، څلورم چاپ.

السعدي، عبد الرحمن بن ناصر بن عبد الله(۱۴۲۰هـ ۲۰۰۰- م). تيسير الكريم الرحمن في تفسير كلام المنان .ج.۱.مؤسسة الرسالة.لومړی چاپ.

الطبراني، ابو القاسم سليمان بن احمد، ( ۱۹۸۳م). المعجم الكبير.ج.۱۲. تحقيق: حمدي عبد

المجيد السلفي، دار احياء التراث العربي، دويم چاپ.

الطبراني، ابو القاسم سليمان بن احمد، ( ۱۹۸۳م). المعجم الكبير.ج.۳. تحقيق: حمدي عبد المجيد السلفي، دار احياء التراث العربي، دويم چاپ.

الطبراني، ابو القاسم سليمان بن احمد، ( ۱۹۸۳م). المعجم الكبير.ج.۴. تحقيق: حمدي عبد المجيد السلفي، دار احياء التراث العربي، دويم چاپ.

الطبراني، سليمان بن أحمد بن أيوب بن مطير اللخمي أبو القاسم الشامي، (ـــــــــــــ). المعجم الأوسط.ج.۱.څېړونکی: طارق بن عوض الله بن محمد، عبدالمحسن بن ابراهيم الحسيني، دار الحرمين، مصر، القاهره، (ـــــــــــ).

العدني، رآفت الحامد، (ـــــــ). احكام التهنئة.ج .۱. الشاملة الذهبية . (ـــــــ).

العدني، رآفت الحامد، (ـــــــ). احكام التهنئة.ج .۲. الشاملة الذهبية . (ـــــــ).

العدني، رآفت الحامد، (ـــــــ). احكام التهنئة.ج .۳. الشاملة الذهبية . (ـــــــ).

الفيومي، أحمد بن محمد بن علي ابو العباس، (ـــــ). المصباح المنير في غريب شرح الكبير.ج.۲. المكتبة العلمية، لبنان، بيروت، (ـــــــ).

مسلم، مسلم بن الحجاج ابو الحسن القشيري، (ـــــ). صحيح مسلم.ج.۲.څېړونکی : محمد فؤاد عبد الباقي، دار احياء التراث العربي، لبنان، بيروت، (ـــــ).

النسفي ، أبو البركات عبد الله بن أحمد بن محمود حافظ الدين (۱۴۱۹ هـ – ۱۹۹۸ م). تفسير النسفي (مدارك التنزيل وحقائق التأويل) .].۲. دار الكلم الطيب، بيروت لومړی چاپ.

النووي، ابو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف، (۱۳۹۲ه). المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج.ج.۳. دار احياء التراث العربي، لبنان، بيروت، دويم چاپ.

الهيثمي ،أبو الحسن نور الدين علي بن أبي بكر بن سليمان (۱۴۱۴ هـ ۱۹۹۴ م). مجمع الزوائد ومنبع الفوائد.ج.۳.مكتبة القدسي، القاهرة. (ـــ).

الهيثمي ،أبو الحسن نور الدين علي بن أبي بكر بن سليمان (۱۴۱۴ هـ ۱۹۹۴ م).مجمع الزوائد ومنبع الفوائد.ج.۱۱.مكتبة القدسي، القاهرة. (ـــ).

# کلتوري یرغل او د هغې مخنیوي لارې چارې

لیکونکی: پوهنیار سیف الله غروال، شیخ زاید پوهنتون، ټولنیزو علومو پوهنځي، تاریخ او جغرافیې څانګې استاد

تقریظ ورکوونکی: پوهندوی محمد شفیق مندوزی د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي استاد

**لنډیز**

کلتوري یرغل یا کلتوري جګړه چې نن ورځ د نرمې جګړې په نوم هم یادیږي له هغې جګړې څخه عبارت ده چې په ډېره ځیرکانه او ماهرانه ډول د کمزورو ملتونو په وړاندې پلان او ترسره کیږي، تر څو د مقابل لوري ملي ارزښتونه، دین، ژبه، فرهنګي میراثونه او په ټوله کې د یو ملت کلتور له منځه یوسي او یا تر یوه بریده هغه دومره کمزوری کړي چې د خپل کلتور تر ژورې اغیزې لاندې یې راولي. اصلي مرحله یې د دوهمې نړیوالې جګړې وروسته پیلیږي، ځکه ځواکمنو هېوادونو دا غوره وبلله چې نظامي یرغل پر ځای چې ډیرو لګښتونو ته اړتیا لري، کمزوري ملتونه د ځان تابع کړي. په دې جګړه کې ځوان نسل ډېر اغېزمن کیږي او دوښمن اوسنیو عصري وسایلو لکه: انټرنېټ، تصویري او غږیزو رسنیو څخه ګټه اخلي. ددې مقالې پایلې دا ښیي چې باید له مختلفو لارو کار واخلو او له کلتوري یرغل څخه خپله ټولنه وساتو، په ځانګړي ډول د ځوان نسل رزونې ته ډېره جدي پاملرنه وکړو، دیني، ښوونیز، ملي او کلتوري بنسټونه پیاوړي کړو او د علمي مقالو، سمنیارونو او غونډو له لارې ټولنې ده عامه پوهاوی وکړ. ددې مقالې مواد چې د کتابتوني مېتود له لارې راټول شوي دي، د کلتور اساسي مفاهیم، د کلتوري یرغل پېژندنه، د کلتوري یرغل لاملونه او په پای کې د کلتوري یرغل د مخنیوي لارې چارې راپېژني.

**کلیدي ټکي:** کلتور، کلتوري یرغل، د کلتوري یرغل عوامل، د کلتوري یرغل په وړاندې مبارزه.

**سریزه**

دا چې اوس مهال په نړیواله توګه ملتونو فکري وده کړې ده، نو د نظامي لښکرکښیو له لارې د مستعمراتو رامنځته کول او هلته نفوذ کول تر ډېره بریده امکان نه لري او یرغلګر یې د درنو لګښتونو بوج نشي پورته کولای؛ له همدې امله څه باندې یوه پیړۍ کیږي چې استعمارګرانو په هیوادونو کې د نفوذ نوعیت ته بدلون ورکړی دی. دا هېوادونه معمولاً د مذهبي تبلیغاتو، ټکنالوژۍ او د ژبې په ترویج، خیریه بنسټونو، روغتیایي خدمتونو، سواد زده کړو او یا د کلتوري سیاستونو له لارې خپلې موخې تر لاسه کوي. که څه هم نشو کولای دغه ډول موارد د دوستۍ

او انسانیت له اړخه له پامه وغورځو؛ خو ددې ډول اړیکو تاریخچه دا څرګندوي چې که چېرې دې ډول کړنو ته دقیق پلان جوړ نه شي او د هېواد کلتوري ودې اړخ پکې په نظر کې و نه نیول شي، نو د هېواد د بشپړ کلتوري، ټولنيز، اقتصادي او سياسي اسارت زمينه به برابره شي(۶: ۱۰۱).

پورتنۍ موضوع ته په پام سره ويلای شو چې اوس مهال د يرغل لومړۍ مرحله چې په هغې کې نظامي يرغل يا څرګند سياسي تسلط ترسره کيږي، خپل مؤثريت له لاسه ورکړی دی او خپل ځای يې غير مستقيم يا نابښکاره يرغل ته ورکړی دی. ددې ډول استعماري خوځښت دريمه مرحله، استثمار او اقتصادي واکمني ده او څلورمه مرحله چې په معاصره دوره کې يې شهيدان يو، کلتوري يرغل دی چې په مختلفو لارو ترسره کيږي او د يوه هېواد کلتوري بنسټونه له منځه وړلای شي(۵: ۹۱- ۹۰).

د اوسني دور په تحولاتو کې، کلتوري يرغل په بشپړ ډول هغه جريان ته ويل کيږي، چې په واسطه يې د يو هېواد ځايي او اصيل کلتور له داخل او يا بهر څخه تر يرغل لاندې ونيول شي او پر ځای يې يو بل کلتوري نظام ځای پر ځای شي.

دا چې کلتور او د هغه اصلي مفاهيم څه دی؟ کلتوري يرغل څه ته وايي؟ مراحل او پړاوونه يې کوم دي؟ او څرنګه کولای شو چې د کلتوري يرغل مخه ونيسيو؟ په دې مقاله کې تر بحث لاندې نيول شوي دي.

**د څېړنې ميتود:** ددې څېړنې مواد د کتابتوني ميتود له لارې له معتبرو او نويو ترسره شويو څېړنيزو مقالو او کتابونو څخه راټول شوي دي، توضيح او تحليل شوي دي.

**د څېړنې موخه**

کلتوري يرغل او په وړاندې يې د مقابلې او مبارزې لارو چارو پېژندل.

**فرعي موخې**

۱- کلتور او د هغه د مفاهيمو پېژندنه او تعريف.

۲- د کلتور د ځانګړتياوو پېژندنه.

۳- د کلتوري يرغل پېژندنه.

۴- د کلتوري يرغل د پړاوونو پېژندل.

۵- کلتوري يرغل د مخنيوي لارو چارو پېژندل.

**بنسټيز مفهومونه**

وړاندې له دې چې د کلتوري يرغل د مخنيوي پر لارو چارو بحث ته ورشو، اړينه ده چې د کلتور اصطلاح او د کلتوري يرغل له مفهوم سره اشنا شو:

**کلتور:** کلتور د يوه مفهوم په توګه ډېر اوږد تاريخي شاليد او مخينه لري. ډېرى کسان د کلتور په اړه ضمني پوهه لري؛ خو په تعريف کې يې له ستونزو سره مخ کيږي. له دې امله دا چې کلتور څه شی دی؟ په اړه يې بېلابېل نظريات شتون لري او پوهانو يې په اړه مختلف تعريفونه او نظرونه وړاندې کړي دي، خو په ټوله کې دا ټول تعريفونه ګډې ځانګړتياوې لري(۱۲: ۱۰۳-۱۰۴).

د کلتور اصطلاح د ټولنپوهنې او انسان پېژندنې علومو څېړونکو زياته کارولې ده، خو نن يې لمن ډېره پراخه شوې ده او په ټولو ټولنيزو علومو کې کارول کيږي. د کلتور اصطلاح په تخصصي ډول د نولسمي ميلادي پېړۍ په نيمايي کې د انسان پېژندنې د ځانګړې پوهانو په ليکنو کې راڅرګنده شوه او په علمي ډول د نولسمې پېړۍ په پای کې د انګريز انسانپوه ادوارډ بارنټ ټايلور(Edward Burnett Tylor)په واسطه وکارول شوه.

کلتور په اروايي او د انسان پېژندنې په علومو کې له مهمو مفاهيمو څخه شميرل کيږي، چې تر دې مهاله په لازم ډول تر ارزونې لاندې نه دی نيول شوی. کلتور هغه څه دی چې انسان يې زده کوي او همدا ډول د هغه د کړنو ټاکنه کوي. دا چې کلتور څه ډول رامنځ ته کيږي، بايد وويل شي چې کلتور هغه پديده ده چې له طبيعي غوښتنو او ټولنيز ځواک څخه سرچېنه اخلي. جغرافيه، د يوه قوم تاريخي پېښې، د خلکو ترمنځ مروجه ژبه او ادبيات، دين او مذهب، اقتصاد او د خلکو د ژوند طريقه د کلتور په پيدايښت کې اغېز لري، دا پديدې له يوې بلې سره ترکيب کيږي چې د ارزښتونو او باورونو يوه ټولګه رامنځ ته کوي او په انساني کړنو اغېز کوي، بالاخره د وګړو ترمنځ د اړيکو په نيولو کې اسانتياوې رامنځ ته کوي(۴: ۲۶).

دا چې کلتور د ټولنيزو علومو يوه مهمه موضوع ده، نو د وخت په تېرېدو سره يې د مديريت علم ته هم لاره پيدا کړه او اوس په مديريت کې له ډېرو مهمو موضوعاتو څخه شميرل کيږي.کلتور د يوه سازمان د برياليتوب يو مهم او اساسي لامل دی چې د سازمان ژوند او کړنو ته لوری او جهت وربخښي (۹: ۸).

کلتور چې په فارسي ژبه کې د فرهنګ په وی سره ليکل کيږي، يوه آريايي ترکيبي اصطلاح

ده، چې له دوو کلمو څخه جوړه شوې ده، فره ( لوړتیا) او هنگ د ( پوهې، معرفت ) په معنا دی. اوستایي ریښه یې تنګ Thang =(Θang) ده چې دغه دواړه کلمې د لاتیني ژبې (edcat) او (edure) له کلمو سره انډول دي چې د لوړتیا او ښوونې او روزنې په معنا دي او په عربي ژبه کې ورته ثقافت ویل کیږي. د لرغونو متونو له مطالعې څخه څرګندیږي چې زموږ په هېواد کې د «فرهنګ» اصطلاح له لرغونې دورې رواج موندلی دی او آن له اوستا وروسته د نورو ژبو لکه سغدي، مانوي او ختني په متونو کې د فرهنګ کلمه پیدا کولای شو. همدارنګه د فردوسي، سعدي، مولانا او خوشحال خان خټک په آثارو کې دغه اصطلاح لېدل کیږي(۱: ۳۷۹).

د فارسي ژبې د لغاتو سیند( فرهنګ فارسی عمید) کلتور یا فرهنګ د یوه قوم یا ملت د " علم، پوهې، آدابو او علمي او ادبي آثارو په مفهوم او همدا ډول د لغاتونو د کتاب چې په هغه کې د یوې ژبې د لغاتو ماناوې شتون ولري" راپېژني(۱۵: ۱۸۳۷). همدا ډول زاهد پښتو- پښتو سیند د کلتور اصطلاح په کولتور سره لیکي او د " کلچر، فرهنګ، ثقافت، تهذیب، مدنیت، دود او دستور، آداب او تاسیساتو ) په ماناوو سره یې بیانوي( ۷: ۸۳۷). ټایلور د کلتور د ارزښت په اړه لیکي« کلتور د پوهو، باورونو، هنرونو، قوانینو، اخلاقیاتو عاداتو او هر هغه څه چې انسان یې د ټولنې د یوه غړي په توګه زده کوي، یوه پېچلې ټولګه ده.»(۲: ۳۹).

هوبل(۱۹۷۹) کلتور د زده شویو رفتاري ځانګړتیاو ټولګې په توګه چې د یوې ټولنې د غړو په واسطه زده شوي وي، تعریفوي. یو کلتور له هغه چاپېریال سره چې هغه په کې رامنځ ته شوی ډېرې نږدې اړیکي لري او هم د هماغه چاپېریال د سرچینو په واسطه ساتل کیږي؛ خو کلتور کولای شي چې خپل چاپېریال ته هم ځانګړی شکل او جوړښت ورکړي. د بېلګې په توګه شونې ده وګړي د معمولو محیطي ځانګړتیاوو پورې وتړل شي، چې د خپلو کلتوري فعالیتونو په کولو سره د هغوی د ساتلو هڅه کوي(۲۲).

په ټوله کې د کلتور مفهوم د بشري ټولنې د ټولنیز ژوند له کیفیت یا څرنګوالي څخه عبارت دی، چې له یوه نسل څخه بل نسل ته انتقال مومي. د ادګار شاین (Edgar Schien) په باور کولای شو کلتور د هغې پدیدې په توګه تر تحلیل او شننې لاندې ونیسو چې زموږ چاپېریال یې احاطه کړی دی. د هغه په نظر کله چې شخص د یو سازمان لپاره کلتور رامنځ ته کوي باید په څرګند ډول د هغه رامنځ ته کول، ځای پر ځای کول او د هغه پراخوالی تر نظر لاندې ولري او

همدا ډول هغه تر خپل نفوذ لاندې راولي، مدیریت یې وکړي او د اړتیا په صورت کې په هغه کې بدلون راولي(۱۴: ۲).

**د کلتور بنسټیزې ځانګړتیاوې**

کومې څېړنې چې د مختلفو کلتورونو په اړه ترسره شوي دي، د توپیرونو برسېره ډېرې مشترکې ځانګړتیاوې هم لري او د علمي تګلارو له لارې کولای شو چې تر تحلیل، شننې او څېړنې لاندې یې ونیسو. یو شمیر ځانګړتیاوې یې دلته بیانوو:

**۱- کلتور د زده کړې وړ دی:** یعنې کلتور د زده کولو وړ دی او د وراثت له لارې نورو ته نه انتقالیږي. له دې امله ویلای شو چې په انساني ټولنه کې د ښوونې او روزنې د شتون فلسفه هم همدا ځانګېړنه لري. که چېرې کلتور د زده کړې وړ نه وای او د ارث له لارې نورو ته لیږدیدلای؛ نو له یوې خوا به ډېرو ټولنو د اسلافو او نیکونو له لاسه ورکولو سره د کلتور له نعمت څخه بې برخې کېدل او له بلې خوا به په کلتوري برخه کې هیڅ ډول پرمختګونه نه رامنځ ته کېدل.

**۲- کلتور ټولنیز دی او عادتونه یې په ټولنه کې ریښه لري:** کلتور یوه ټولنیزه موضوع ده چې د رامنځ ته کېدو ځای یې انساني ټولنه ده، په همدغه ځای کې زرغونیږي او له همدې ځای څخه مفهوم پیدا کوي. یعنې کلتور د بشري ټولنې غوښتنه ده چې وده او پرمختګ یې هم په ټولنې پورې تړاو لري. که چېرې یوه ټولنه ورکه او له منځه لاړه شي، ډېری کلتوري عناصر او برخې یې هم له منځه ځي، ځکه چې د هغه د ودې او پرمختګ لپاره ځای شتون نه لري.

**۳- ارزښت لرونکی دی:** که څه هم کلتور د ټولنې یوه لویه غوښتنه ده، ددې برسیره د انسان د ژوند تر ټولو اساسي او ارزښت لرونکي غوښتنه پوره کوي. د بېلګې په توګه د یوه ملت پېژندګلوي او هویت په بشپړ ډول د هغه ملت په کلتور پورې تړلی دی. په کومه اندازه چې یو ملت ژوندی او غني کلتور ولري په هماغه اندازه یې پېژندنه او هویت هم ژوندی او غني وي، یا په بل عبارت د ملتونو ترمنځ د یو پرمختللي ملت په توګه پېژندل کیږي. په نړۍ کې ډېر داسې ملتونه شته چې خپل کلتور یې له لاسه ورکړی او په نورو ملتونو کې مدغم شوي دي او اوس د یوه ژوندي ملت په توګه نه پېژندل کیږي.

**۴- کلتور بدلون (تحول) منونکی دی:** ومو ویل چې کلتور یوه ټولنیزه پدیده ده؛ خو کوم بدلونونه او تحولات چې په ټولنه کې رامنځ ته کیږي، هغه هم پر ځای نه دریږي له ټولنې سره

یو ځای بدلون پیدا کوي.
**۵- کلتور لیږدېدونکی هم دی:** وړاندې یادونه وشوه چې کلتور له ټولنیزو چارو سرچینه اخلي، له دې امله هره ټولنیزه پدیده د لیږدېدو وړ ده؛ نو ویلای شو چې کلتور هم د انتقال وړتیا لري، یعنې کلتور له یو نسل څخه بل نسل ته او له یو ملت څخه بل ملت ته انتقالیږي(۱۱: ۷۲- ۷۳).
د کلتوري یرغل تعریف
کلتوري یرغل په دوه ډوله د تعریف وړ دی. لومړی ډول یې مستقیم او دوهم ډول یې غیر مستقیم دی. مستقیم یا نیغ په نیغه کلتوري یرغل په هغه وخت کې صورت نیسي چې یو هېواد د مختلفو رسنیزو وسایلو او یا هم د انټرنیټي شبکو له لارې د خپل کلتور د پیاوړتیا لپاره کار او فعالیت کوي او موخې یې نړیوالې او یوازې په خپل هېواد او د سیمې هېوادونو پورې محدودې نه وي؛ خو که چېرې نور هېوادونه د هغه هېواد کلتور او د ژوند کولو طریقې او تګلارې په کتلو سره په اګاهانه یا نااګاهانه توګه هڅه کوي، چې د هغوی په څېر شي، نو دې ډول ته یې غیر مستقیم یرغل ویل کیږي. نیغ په نیغه کلتوري یرغل فاجعه رامنځ ته کوي، ځکه مهاجم کلتور هڅه کوي چې یوې ځانګړې سیمې او هېواد ته پاملرنه واړوي او له مختلفو لارو غواړي خپل کلتوري فعالیتونه پراخ کړي، چې تر ډېره بریده دا کار د لویدیځې نړۍ له خوا ترسره کیږي(۸: ۶).
د ملي کلتور د کمرنګه کولو له لارې د پردي کلتور ځای پر ځای کول، چې ډېری وخت په اګاهانه ډول منل کیږي او د خپل کلتور څخه د یو ملت ناخبري چې د پردي کلتور د منلو سبب کیږي ''کلتوري یرغل په نوم یادیږي'' (۱۳: ۹۱- ۱۰۰). په بل عبارت هر ډول رواني او رسنیز تبلیغات چې ټولنه تر برید لاندې نیسي او د نظامي جګړې پرته مقابل جانب له ماتې سره مخامخ کوي د کلتوري یرغل په نوم یادیږي(۲۱: ۱۲۹).
د غالب کلتور کړنې چې د ځواک او سیاسي یا اقتصادي غلبې څخه په ګټې اخیستنې سره خپل ارزښتونه په نورو ورتپي د کلتوري یرغل په نوم یادیږي. دا حالت د کمزورتیا په شرایطو کې د بل ځواکمن کلتور له لوري صورت نیسي. مهاجم کلتور اصولاً د لوړ کلتوري موقعیت او حالت په درلودلو سره اغېز لرونکی وي او د کلتوري یرغل وړتیا لري او تر یرغل لاندې کلتور د داخلي کمزورتیا له امله د سختې ضربې سره مخامخ او اغېزمن کیږي. کوم کلتور چې له ودې، پرمختګ او نوښت څخه لیرې پاتې وي او د خپل وخت په پرتله له کلتوري معرفت او

همدارنګه د نورو کلتورونو د ماهیت د پیژندنې وړتیا ونه لري، نو له ذهنیتي پلوه له درانه زیان سره مخامخ کیږي. مهاجم کلتور نورو کلتورونو ته د مثبتو کلتوري محورونو د ټاکنې، څېړنې او تحلیل فرصت نه ورکوي، بلکې د خپل ځواک څخه په ګټې اخیستنې د خپلې خوښې ارزښتونه او معیارونه پر هغوی تحمیلوي. مهاجم کلتور په تدریجي ډول د هغوی ملي ـ مذهبي ارزښتونه له منځه وړي او د عمومي اذهانو په تحریف سره تر یرغل لاندې کلتور ځواک او زور کموي، وروسته د بنسټیزو بدلونونو د راوستلو لپاره د کلتوري او ښوونیزو مرکزونو کړنو او فعالیتونو تګلوري ته بدلون ورکوي. له دې امله، کلتوري یرغل د یو بل کلتور په وړاندې یو ځانګړی عمل دی چې متقابل او رغوونکی جوړښت په یو ړنګوونکي او مخرب عمل بدلوي. آلوین تافلر په دې باور دی، چې هر هغه څوک چې پر راتلونکي باندې د مسلط کېدلو لپاره جنګېدلي دي، له ثروت او پوهې یې ګټه اخیستې ده. د کلتوري یرغل ځانګړتیاو او د تاریخ په بهیر کې د کلتوري یرغل مخینې ته په کتو سره لېدل کیږي چې کلتوري یرغل تل د تمدنونو او کلتورونو د نیږدیوالي او جوړښت پر ځای د کلتورونو او تمدنونو د مقابلې او جګړې باعث کرځېدلی دی.(۳: ۱۵-۱۴)

د پورتنیو خبرو په تائید سره ویلی شو چې په کلتوري یرغل کې ټولنه او په کلتوري یرغل کې اغېز لرونکي لاملونه هڅه کوي چې د یوې ټولنې کلتور مسخه او فسخه کړي او خپل مطلوب او د خپلې خوښې اعتقادات او ارزښتونه د هغه په عوض ځای پر ځای کړي. کلتوري یرغل د کلتور او عقیدې په برخه کې یوه جګړه ده چې باید ټولنه د هغه په وړاندې له ځانه دفاع وکړي.

**د کلتوري یرغل پړاونه**

د نظریاتو او تیوریو مطابق کلتوري یرغل په دوو مرحلو کې صورت نیسي چې په هر یوه مرحله کې ځانګړې لارې او چارې په پام کې نیول کیږي:

**لومړی – د خپل کلتور تخلیه کول:** کله چې په فضا کې خلا رامنځ ته شي، تر ټولو نیږدې موجود ځواک هغه ډکوي. کلتوري تشه د پردي مهاجم کلتور د حضور لپاره لومړنی اړین شرط بلل کیږي (۱۷: ۵۴).

**دوهم- د پردي کلتور تثبیت:** په دې مرحله کې د هغه کلتور د ځای پر ځای کېدو لیدونکي یو چې د کلتوري تشې د رامنځ ته کېدلو له امله په تحمیلي او یا تشویقي ډول په مطلوبه ټولنه کې واکمن کیږي. (۲۱: ۱۷۰).

همدارنګه په یو بل ځای کې د کلتوري یرغل پړاوونه په ورته ډول په ښو توضحیاتو سره په لاندې توګه بیان شوي دي:

**الف- د خپل کلتور پرېښودل( تخلیه):** له دې مرحلې څخه موخه داده چې له خپل وياړه ډك تاریخ سره اړیکي پرې شي. دا مرحله په ډېر ظرافت او دقت سره پلان کیږي او له لاندې طریقو څخه پکې ګټه اخیستل کیږي:

۱- د اعتقادي او اخلاقي ارزښتونو په وړاندې د خلکو ترمنځ تردید رامنځ ته کول، له دین سره دوښمني، انزوايي روحانیت، د دین د اصیلو مدافعاتو او مبلغانو بې ارزښته کول.

۲- د فساد مروج کول.

۳- قوم پالنه رامنځ ته کول.

۴- د پردي کلتور نفوذ.

۵- په نورو پورې اړوند فکري تګلارو منل.

ب- د پردي کلتور تثبیتول:

په ملي او نړیواله سطحه د مختلفو بنسټونو رامنځ ته کول او په هغوی کې یرغل کوونکو پورې تړلیو کسانو ګمارنه. هغه کارونه چې په دې مرحله کې ترسره کیږي:

۱-  کلتوري شبکو ته ورته موسساتو رامنځ ته کول.

۲- د مختلفو قومونو، نژادونو، مذهبونو او اقلیتونو د تحریکولو له لارې د کلتور تجزیه کول.

۳- د تاریخ تحریفول.

۴- د ژبې او لیك بدلول.

۵- د کلتوري میراثونو له منځه وړل یا په هغوی کې بدلون راوستل(۱۸: ۶۵).

**د کلتوري یرغل لاملونه**

مسګر نژاد د کلتوري یرغل لاملونه په دوو برخو ویشلي دي:

**الف) بهرني لاملونه**: هغه زمینې، عناصر او وسایل چې په یوه ډول سره بهرني یا لویدیځ هیوادونه پکې ښکېل وي، د کلتوري یرغل بهرني لاملونو په توګه پېژندل کیږي؛ لکه: د مستشرقینو لیږل، له مختلفو لارو له دین سره دوښمني، د کلتوري ماتې روحیې رامنځ ته کول، د ارتباطي وسایلو، لکه: انټرنیټ، ډیش، تلویزون، ټولنیزې رسنۍ او ........ سلطه طلبه هېوادونو سیاسیون او فرهنګیان دا ډول پلانونه جوړوي او د کمزورو هېوادونو په داخلي افرادو یې پلي کوي.

**ب) داخلي لاملونه:** هغه فرصتونه، عناصر او وسایل چې داخلي رېښه لري په مستقیم یا غیر مستقیم ډول له بهر څخه داخل ته د کلتوري یرغل منلو سره مرسته کوي، د کلتوري یرغل له داخلي لاملونو څخه شمیرل کیږي، لکه: بیکاري، اقتصادي فقر، کورنی تاوتریخوالی، د کلتوري او ټولنیزو چارو د مسؤلینو ناغیړي، د کلتوري او نورو مسایلو په اړه د ځوانانو او نوو ځوانانو ناخبري (۱۸: ۳۷).

همدا ډول نړیوال کېدل (Globalization) چې یوه غربي اصطلاح ده چې کیدای شي د کلتوري یرغل په ترسره کېدلو کې ښه ونډه ترسره کړي. د کلتور په نړیوال کېدلو کې پر کمزورو ملتونو کلتور تپل کیږي یا په بله مانا په ټوله نړۍ د لویدیځ کلتور منل او قبلول دي. دې موخې لپاره لویدیځوال د انټرنیټ په شمول د نورو عصري غبږیزو او تصویري وسایلو څخه ګټه اخلي(۱۶: ۵۲).

**د کلتوري یرغل ځانګړتیاوې**

په اصل کې کلتوري یرغل د نظامي یا اقتصادي یرغل په پرتله په فرد پورې اړوند ځانګړتیاوو پورې اړه لري. کلتوري یرغل معمولاً ناملموس، اوږد مهاله او پاتې کېدونکي دی، ژورې رېښې لري، هر اړخیز دی، حساب شوی دی، د پراخ پلان او وسایلو لرونکي دی، پراخ او ټولییز دی، پایله او خطر لرونکی دی. ددې برسېره کلتوري یرغل د کلتوري کار په څیر یو آرام او د شور او ځوږ پرته کار دی او قربانیان یې تر ډېره بریده ځوانان دي.

په نظامي یرغل کې، دوښمن د نظامي امکاناتو او تجهیزاتو په واسطه د جګړې میدان ته راځي، خو په کلتوري یرغل کې لښکر او نظامي لګښتونو ته اړتیا نشته او همدا ډول په دې یرغل کې دوښمن له ټولو سیاسي، اقتصادي، رواني او تبلیغاتي وسیلو څخه کار اخلي. په کلتوري یرغل کې یوازې د هېواد یو څو پولې او سیمې د دوښمن تر مستقیم تیري لاندې راځي، خو په کلتوري یرغل کې د دوښمن ورانوونکي وسلې د هېواد هر کور ته رسیږي او د انسانانو زړونه او ذهن نښانه ګرځوي. له همدې امله د دوهمې نړیوالې جګړې وروسته د امریکا ولسمشر آیزنهاور اعلان وکړ چې:"یوه جګړه په مخکې لرو، کومه چې په هغې کې د انسانانو ذهنونه تسخیر کیږي"(۲۰: ۵۴).

**له کلتوري يرغل څخه د مخنيوي لارې چارې**

په نننۍ نړۍ کې هېوادونه نشي کولای چې له ځانه ديوالونه چاپېر کړي او خپله ټولنه د پردي کلتور سره له ټکره وساتي. که چېرې د ټولنې کلتور خپل توان له لاسه ورکړي او خلك له خپل کلتور څخه پردي او جدا شي، نو د سم فکر کولو ځواك له لاسه ورکوي او د اړيکو په درياب کې غرق کيږي. که چېرې يو ملت د کلتوري هويت د ساتنې سره مينه ولري، نو بايد هڅه وکړي چې د ټولنې غير مادي کلتور وساتي؛ خو دا ددې مانا نلري چې خپل کلتور په بشپړ ډول سوچه او اصيل پاتې کړي، ځکه بدلون د کلتور يوه ځانګړنه ده، مګر دا بدلون په هغه صورت کې کلتوري هويت ته زيان نه رسوي چې د بدلون جريان په عادي ډول د کلتوري ځانګړتياوو سره صورت ونيسي.

د کلتوري يرغل په وړاندې د مبارزې لارې چارې ډېرې دي، چې يو شمير يې دلته په لنډ ډول بيانوو:

۱- د کلتوري يرغل او د دوښمن د موخو هر اړخيزه پېژندنه:

که چېرې د کلتوري يرغل او د دوښمن د موخو پوره پېژندنه ترسره شي، نو دا د کلتوري يرغل څخه د مخنيوي لومړۍ لاره ده.

۲- د ټولنې ديني او سياسي پوهې ځواکمنول:

د ټولنې د ديني باورونو ځواکمنتيا او په ښوونيز ډګر کې د ديني ښوونې او روزنې او سياسي پوهې لوړولو سره کولای شو چې د دوښمن کلتوري بمبار څخه د خلکو په کلکه ساتنه وکړو او د دوښمن موخې له منځه يوسو. په دې سره به له يوې خوا د ټولنې وګړو ته د سمو کړنو لاربښوونه شوې وي او له بلې خوا به د پردي کلتور له بشپړ نفوذ څخه مخنيوی شوی وي.

) https://hawzah.net/fa/Magazine/View/5211/7149/87155(

۳- علمي او اقتصادي اصلاحاتو رامنځ ته کول:

دولت بايد د هېواد هر اړخيز پرمختګ لپاره پلان جوړونه وکړي او هېواد له علمي او صنعتي اړخه په ځان متکي او خپلواك کړي. په ځان بسيايني لپاره زمينه برابره کړي، کورنيو توليداتو د پياوړتيا لپاره کار وکړي او له اقتصادي اړخه د ټولنې اړتياوې پوره کړي. د ځوان نسل د جسمي او روحي اړتياوو، لکه: کافي زده کړې، مناسبه دنده، د کورنۍ تشکيلول، فراغت، تفريح او دې

ته ورته د نورو امکاتو برابرول د ملي کلتور په تثبیت او ساتلو کې ډېره ونډه لري.
۴- د کلتوري او روزنیزو سیاستونو رامنځ ته کول:
د کلتوري یرغل په مقابله کې د ټولنیزو رسنیو له ونډې څخه سترګې نشو پټولی. ددې لپاره چې له ټولنیزو رسنیو څخه د خپل کلتور په پیاوړتیا او د پردي کلتور په له منځه وړلو کې غوره او مناسبه ګټه واخلو باید د دولت له خوا ورته یوه منظمه پالیسي ترتیب شي او له ټولنیزو رسنیو څخه په منظم ډول ځارنه ترسره شي، تر څو د ګټې پر ځای ټولنه له تاوان او ناورین سره مخامخ نشي(۱۹: ۱۲۷).
په دې اړه علامه قرضاوي وایي: « اړینه ده چې مسلمان د خپل اسلامي کلتور د ساتلو لپاره انټرنیت ته په تیزۍ سره ننږدي شي او د اسلام لپاره ترې رغنده کار واخلي او دا زموږ لپاره یوه فرېضه او وجیبه ده، هغه فریضه چې دیني ښوونو اړینه ګڼلې او هغه ضرورت چې د وخت تحولاتو حتمي ګرځولی دي» (۱۶: ۲۱۰).
همدا ډول لاندې لارې چارې د کلتوري یرغل په وړاندې مبارزه کې ډېر اغېزمن ثابتېدلی شي:
د هنري فعالیتونو کیفیت ته ځانګړې پاملرنه کول؛
له پولو بهر د کلتوري بنسټونو پراخول؛
د کلتوري مرکزونو ترمنځ د همغږۍ رامنځ ته کول او په کلتوري چارو کې د نا متخصصو او مسؤلو افرادو د لاسوهنو مخه نیول؛
مشترك المنافع هېوادونو سره د کلتوري اړیکو پراخول؛
د اصیلو کلتوري بهیرونو ساتل او د نظام د واقعي مدافعینو ملاتړ کول؛
په کلتوري کړنو کې نویو ځوانانو او ځوانانو ته ګډون ورکول، لکه: د دوی په ګډون سره د علمي او کلتوري مسایلو په اړه د سمینارونو او کلتوري مسابقاتو ترسره کول، په هغوی کې د کتاب لوستنې روحیې پیاوړې کول او د جذابو دیني او ملي کتابونو خپرول.
د پوهنتوني درسي منابعو بیا کتنه په ځانګړي ډول هغه کتابونه چې له نورو ژبو ژباړل شوي وي.
د ډېرو لګښتونو روحیه له منځه وړل په ځانګړي ډول هغه موارد چې هېواد په اقتصادي ډول په نورو هېوادونو پوري تړي(۱۰: ۳۵)

**پایله**

له پورتني بحث څخه دې پایلې ته رسیږو چې د نړیوال نظم په اساس، کلتوري یرغل په ځانګړي

ډول لویدیځ کلتور پر نورو کلتورونو د یرغل په حال کې دی او دا کار د ټکنالوژۍ او نورو ارتباطي وسایلو په مرستې سره په شدت او تیزۍ سره روان دی او ورځ تر بلې پیچلی شکل ځانته غوره کوي. لویدیځ چې د نړۍ د رهبرۍ خوبونهویني د یو قطبي نظام غوښتنه لري، هر ډول رقیب کلتور چې ددې سیاست مخالفت وکړي، دوی به یې ونه زغمي. په دې لړ کې اسلامي کلتور د نورو کلتورونو په پرتله له ډېر تهدید سره مخامخ دی.

دا چې کلتوري یرغل کلتوري پروسه ده، نو باید په کلتوري وسایلو یې دفاع وکړل شي او له تاوتریخوالي ډکې مبارزې څخه پرهیز وشي؛ یعنې کلتوري تولیداتو ته له ملي او دیني کلتور سره متناسبه پراختیا ورکړو او ددې تولیداتو په رامنځ ته کولو کې په هېواد مین او ژمن ځواک څخه مرسته وغواړو؛ او بیا دا تولیدات په ډېر ښه ډول ځوان نسل ته وړاندې کړو. ددې پرځای چې د کلتوري یرغل په وړاندې دفاعي عمل وکړو، باید د خپل اصیل کلتور ربښې ځواکمنې کړو او په دې سره یرغلیز حالت ځانته غوره کړو. ځکه هېواد ته د پردي کلتور د ننه کېدل او هغه ښکاره کول ددې څرګندونه کوي چې ټولنې په فني، اقتصادي، سیاسي او ټولنیزه برخه کې پرمختګ نه دی کړی، باید هڅه وکړو چې د ټولنې په هره برخه کې متخصص ځواک وروزو او د نورو ټولنو له قتصادي، ټولنیز او سیاسي پرمختګ څخه په ګټه اخیستنې سره له همدغه متخصص ځواک څخه کار واخلو. معمولاً ځوان نسل د کلتوري یرغل په وړاندې د ټولنې هغه برخه ده چې ډېر زیان ویني او د یرغلګرو د توجه محراق همدغه طبقه ده، باید ډېره پاملرنه ورته وشي، د دوی جسمي او روحي اړتیاوو پوره کول د دولت په لویو پلانونو کې لومړیتوب ولري. د دولت مسؤلین باید د اسلامي او ملي کلتور په پیاوړتیا او ترویج کې عملي ګامونه واخلي او د هېواد ټولو ارزښتونو ته درناوی او احترام ولري.

**وړاندیزونه**

۱- دولت دې له کلتوري یرغل سره د مبارزې لپاره روښانه او څرګندې پالیسۍ ترتیب او په عمل کې پلې کړي، تر څو په لویه کچه د کلتور ساتنه شوي وي.

۲- دولت دې د کلتور د پیاوړتیا لپاره، غوره کلتوري مرکزونه رامنځته کړي او د هغوی ته دې په غوره انساني او مالي سرچینو سمبال کړي.

۳- دولت دې خواله رسنۍ او نور هر ډول مطبوعات تر جدي څار او کنترول لاندې وساتي او د ځوانانو د بې لارې کېدلو مخه دې ونیسي.

۴- عصري او ديني ښوونيز مرکزونه او د هغوی مربيان دې د کلتور پياوړتيا ته ډېره پاملرنه وکړي او په درسي ساعتونو کې دې ځوانانو ته د خپل کلتور د ښودلو زمينه مساعده کړي.

۵- د چاپي، تصويري او غږيزو رسنيو له لارې دې د کلتور پياوړتيا ته ډېره پاملرنه وشي.

۷- دولت او نور کلتوري مؤسسات دې د کلتوري يرغل او د هغه د تاوانونو په اړه عامه پوهاوی ترسره کړي.

۸- څېړونکي او نور پوهان دې د کلتوري يرغل په مختلفو اړخوو او برخو څېړنې ترسره کړي.

**مآخذونه**


۱- آريانا دايرة المعارف. ( ۱۳۹۲). د افغانستان علومو آکاډمی د دايرة المعارف مرکز رياست. کابل: نبراسکا مطبعه.

۲- آشوري، داريوش. (۱۳۵۷). تعريفها و مفهوم فرهنگ. تهران: خيابان کروش کبير.

۳- اسلامي، حسين. (۱۳۸۸). تهاجم يا تبادل فرهنگي، نامه پژوهش فرهنگي، سال دهم، دوره سوم، شماره هشتم، صص ۱- ۲۳.

۴- باقري زاده، سيد محمد.(۱۳۷۵). فرهنگ سازماني در قلمرو بالندگی سازمان. تدبير، شماره ۶۳، ص ص ۳۳-۲۶.

۵- رفيع، جلال. (۱۳۷۲). فرهنگ مهاجم و فرهنگ مولد، تهران: دانشگاه تهران.

۶- روحالامينی، محمود. (۱۳۷۲). زمينه فرهنگ شناسی، پويايی و پذيرش، چاپ سوم، تهران : انتشارات عطار.

۷- زاهد مشوانی، عبدالقيوم.(۱۳۹۱). زاهد پښتو- پښتو سيند. دانش خپرندويه ټولنه.

۸- زهيري، مريم؛ سوداگر، محمدرضا؛ غفوري فر، فاطمه. (۲۰۱۷). مطالعه نقش مديران فرهنگي در مقابله با تهاجم فرهنگی ـ هنری به استناد بر بيانت مقام معظم رهبري. Venue: Conference center of Shiraz University International division (pdf) www.sid.ir

۹- سجاني، عبدالحق.(۱۳۹۵). بررسي رابطه بين فرهنگ سازماني و تعهد شغلی کارمندان وزارت تحصيلات عالی. تيزيس ماستری، کابل: پوهنتون کابل- پوهنځی روانشناسي و علوم تربيتي.

۱۰- صلاحي، جاويد. ( ۱۳۷۶). تهاجم فرهنگي و مقابله با آن، گزارش تحقيقاتي، مشهد: دانشگاه فردوسي مشهد.

۱۱- طارق، محمد اعظم.(۱۳۸۸). فرهنگ و ويژگيهای آن از ديدگاه اسلام (مجموعه مقالات

سمینار علمی تحقیقي: صیانت از فرهنگ ملی – اسلامی). کابل : اکادمی علوم افغانستان.

۱۲- عسگریان، محمد.(۱۳۸۸). مفهوم شناسی فرهنگ سازماني. دو ماهنامه توسعه ی انسانی پلیس، سال ششم، شماره ی ۲۴ ص ص ۱۲۴-۱۰۱.

۱۳- عصاره، علی رضا؛ بیدخت، محسن حسیني . (۱۳۹۹). واکاوي نقش توسعه موسسات آموزش عالی در قبال فرهنگ و تهاجم فرهنگي، مجله مطالعات توسعه اجتماعی ایران، سال شسم / شماره دوم، صص (۹۱- ۱۰۰)

۱۴- عطافر، علی.(۱۳۷۵). فرهنگ سازماني و نحوه ایجاد تحول در آن، سمینار فرهنگ کار اصفهان، ص ۵-۴.

۱۵- عمید، حسن.(۱۳۸۱). فرهنگ فارسی عمید، چاپ هشتم، تهران: انتشارات امیر کبیر.

۱۶- قرضاوي، یوسف. (۱۳۸۶). اسلام او نړیوال کېدل، ژباړه: محمد داؤد منصوري، پېښور: میهن خپرندویه ټولنه.

۱۷- محمود موالیی کرمانی، بتول؛ بکائی جو پاری، منصوره؛محمودموالیی کرمانی، مهین و اسلامی، علی. (۱۳۹۰). تبیین جامعه شناختی مؤلفه های قدرت نرم اسلام. مطالعات قدرت نرم، ۲(۵) صص.۶۹-۵۱.

۱۸- مسگر زاده، جلیل. (۱۳۷۳). جایگاه ادبیات وعلوم ادبی در بازداری تهاجم فرهنگی، مجموعه مقالات کنفرانس تهاجم فرهنگی، دانشگاه علامه طباطبایی.

۱۹- مصباح یزدي، محمد تقي. ( ۱۳۷۶). تهاجم فرهنگي، قم: موسسه آموزشي و پژوهشي امام خمیني.

۲۰- هدایت خواه، ستار؛ جمشیدي، محمدحسین. تهاجم فرهنگ، مجله علمي پژوهشي بسیج: شماره ۴و ۳.

22- Wang, S. Y. (2013). Globalization of Chinese film and television industry, protection and dissemination of national culture. Journal of HUBEI Correspondence University, 26(2): 169-170.

23- Xu, J., Ma, E. T., Tashi, D., Fu, Y., Lu, Z., & Melick, D. (2005). Integrating sacred knowledge for conservation: cultures and landscapes in southwest China. *Ecology and Society*, *10*(2). (pdf) http://www.ecologyandsociety.org/vol10/iss2/art7

# د حیواناتو په روغتیا کې د بایوتکنالوژۍ د پرمختګ او پلي کیدلو اهمیت

لیکوالان: پوهنیارعبیدالله محق او پوهنیار خالد بشرمل، شیخ زاید پوهنتون، وترنري پوهنځی، پري کلینیک څانګې استادان
تقریظ ورکونکی: پوهندوی رحمت الله هاشمي د زراعت پوهنځي استاد

**لنډیز**

په عمومي ډول سره د بایوتکنالوژي اصطلاح د ژوندیو اورګانیزمونو او موادو د کارولو د وړتیا څخه عبارت ده. چې په واسطه یې حیواناتو، نباتاتو او یاهم مایکرواورګانیزمونو ته د یو خاص هدف له پاره پرمختګ ورکول کیږي. د بایوتکنالوژي په پرمختګ او تطبیق سره د مالدارۍ په دریو عمده برخو کې لکه جنتیک، تغذیه او روغتیا کې د پام وړ مثبت بدلون رامنځته شوی دی. د حیواناتو د روغتیا سربیره د بایوتکنالوژي په مرسته د حیواني محصولاتو لکه غوښه، شیدې او هګیو د تولید کیفیت هم لوړشویدی. سربیره پردې بایوتکنالوژي حیواني ناروغیو د وقایې او درملنې په برخه هم ډیره موثره تمامه شوې ده او همدارنګه د بایوتکنالوژي د تخنیکونو په مرسته لکه مصنوعي القاح، د زایګوټ یا بچي انتقال له یوه حیوان څخه بل حیوان ته، په باندني محیط کې القاح، د حیواناتو مشابه کول او داسې نور پرمختللي د نسلګیرۍ پروګرامونه مالدارانو ته د دې زمینه برابروي چې ښه او سالم حیوانات او حیواني تولیدات تولید کړي. د حیواني واکسینونو، درملو او تشخیصي میتودونو په معیاري کیدو سره انسانانو له پاره صحي خواړه برابرشوي دي او د دې ترڅنګ حیوانات د ډیرو کلونو راپدېخوا د انساني درملو د انکشاف او تولید له پاره په لابراتوارونو کې استعمالیږي. بایوتکنالوژی په چاپیریال کې دهغو حیواناتو په ساتنه کې مهم رول لري چې د ورکیدو د خطر سره مخ دي او په عین وخت کې نوموړې نوعې د چاپیریال د ښکلا سبب کیږي. برسیره پردې د حیواناتو په تغذیه کې چې کوم پرمختګ د بایوتکنالوژی په مرسته رامنځته شوي دی په سبب یې په چاپیریال کې د پاتې شونو موادو د جمع کیدو مخنیوي شوي ده. داچې بایوتکنالوژي په حیوانې روغتیا کې ډیر مهم رول لري؛ نو په دې مقاله کې دبایوتکنالوژي څنې تخنیکونو ته چې په حیواني روغتیا کې تطبیق او استعمال لري لنډه کتنه شوي ده.

**کلیدي ټکي**: بایوتکنالوژي، تطبیق، جنتیکي اینجینرنیګ، حیواني روغتیا، پولیمیریزچین ریکشن، د حیواناتو مشابه کول.

**سزیزه**

د بایو تکنالوژي اصطلاح په عمومي ډول سره د ژوندیو اورګانیزمونو او موادو د کارولو د وړتیا څخه عبارت ده، چې په واسطه يې حیواناتو، نباتاتو او یاهم مایکرواورګانیزمونو ته د یو خاص هدف لپاره پرمختګ ورکول کیږي [۱، ۲]. یاهم په ورته ډول سره بایوتکنالوژي د مختلفو تکنالوژیو مجموعه ده، چې د حیواناتو د پرمختګ له پاره استعمالیږي [۳]. د حیواناتو په دودیزه نسلګیرۍ کې د حیوان انتخاب او ظاهري خواصو په اساس د غوره افرادو انتخابول د بایو ټیکنالوژۍ د پلي کولو یوه ښه نمونه ده [۴]. په هر حال نوې بایوتیکنالوژۍ د اوسني عصر د پرمختګونو څخه اخستل شوې، د بیلګې په ډول لکه د DNA دوباره سره یوځای کول چې دا جینیټیکي مواد په ژوندیو اورګانیزمونو کې د ټولو وظایفو د اجرا او کنترول وظیفه په غاړه لري [۵، ۶]. دDNA تکنالوژي او د هغه مربوطه تخنیکونه لکه Monoclonal antibody technique، Embryo manipulation technology، Polymerase chain reaction او داسې نورو دا ممکنه کړې ده چې ژوندي او بیولوژیکي سیستمونه لکه مایکرو اورګانیزمونه د جینتیکي انجینري په وسیله تغیرکړي او د انسانانو د روغتیا د پیاوړي کیدو په موخه یې وکاروي [۷]. پورته لاسته راوړنې او پرمختګونه په انساناني طبابت کې رغنده رول لوبوي. د وترنري بایوتکنالوژي پرمختګ په زیاتی اندازی سره په پرمختللیو هیوادونو کې لیدل کیږي او په وروسته پاتې هیوادونو کې د نوموړې بایوتکنالوژي د تطبیق اوپرمختګ له پاره په حیواني طبابت او مالدارۍ کې موثرې ستراتیژۍ او پلانونه نه ترسترګو کیږي. [۸]. د بایوتکنالوژي پرمختګ د حیواناتو د نسلګیرۍ، روزنې او روغتیا په برخه کې یو قوي مؤثر بدلون رامنځته کړی. بایوتکنالوژي د حیواناتو په روزنه، روغتیا او نسلګیرۍ کې د ډیرو کلونو راپدې خوا استعمالیږي؛ خو په ځانګړي ډول سره یې د حیواناتو په روغتیا، جینتیك او تغذیه کې د پام وړ پرمختګ ګړئ دی [۳]. د حیواناتو د روغتیا سربېره بایو تکنالوژي په حیواني تولیداتو لکه غوښه، شیدې او هګیو کې زیات پرمختګ منځته راوړي دي. همدارنګه بایوتکنالوژي د روغتیا په برخه کې د حیواني ناروغیو په تشخیص، تداوي او مخنیوي کې ډیره مرسته کړې ده. د نسلګیرۍ په برخه کې د بایو تکنالوژي د میتودونو لکه مصنوعي القاح، دجنین انتقال ( Embryo transfer)، په مصنوعي محیط کې القاح (In vitro fertilization) او د حیواناتو مشابه کول (Animal cloning) پواسطه زیات پرمختګونه رامنځته شویدي. د پورته میتودونو په تطبیق

سره مالداران پدې توانیدلي دي چې د حیواناتو د نسلګیرۍ په نتیجه کې د حیواناتو سالم بچي او په زړه پورې صحي حیواني تولیدات لاسته راوړي [۹]. بایوتکنالوژي د کلونو راپدېخوا د طبابت په مختلفو برخوکې په کار وړل کیږي خو په وترنري طبابت کې د بایوتکنالوژي استعمال د حیواناتو په روغتیا او دهغوی په تولیداتو کې د واضح او مثبت بدلون سبب شوی دی [۸]. دا چې زموږ په ګران هیواد افغانستان کې د بایوتکنالوژي تطبیق په ځانګړي ډول په حیواني روغتیا کې ډیر محدود دی نو لازمه مو ګڼله چې پدې مقاله کې په ځینو بایو تکنالوژیکي میتودونو باندې چې په وترنری طبابت کې تطبیق کیږي لکه Molecular gene cloning، Recombinant DAN technology، Recombinant derived vaccination او Real time polymerase chain reaction (RT-PCR) باندې یوڅه رڼا واچوو.

**موخې**

دا چې د انسانانو او حیواناتو په روغتیا کې ډیر عوامل دخیل دي، چې یو د هغوی له جملې څخه بایوتکنالوژي ده، چې د نن ورځې اکثره پرمختګونه په حیواني او انساني طبابت کې  په بایو تکنالوژي پورې تړلي دي. په ځانګړي ډول سره حیواناتو کې  بایوتکنالوژي د مصنوعي القاح، نسلګیرۍ، د حیواني نسلونو په اصلاح ، دحیواناتو په خصي کولو، د درملو او واکسینونو په جوړولو او تهیه کولو او د دې څخه علاوه د حیواني تولیداتو د پروسیس په برخه کې په پراخه پیمانه سره په کار وړل کیږي. داچې زموږ په ګران هیواد افغانستان کې د تکنالوژي استعمال په حیواني طبابت کې خورا محدود دي؛ نو لازمه مو وګڼله، چې د بایو  تکنالوژي  د  تطبیق  او پرمختګ په اړه یو څه اندازه معلومات په پښتو ژبه  کې مسؤلینو او د مسلك مینوالو ته وړاندې کړو ترڅو هغوي هم د بایوتکنالوژي  د پرمختګ او پلي کولو په ارزښت پوه شي او تطبیق کولو له پاره یې هلې ځلې شروع کړي.

**مواد او کړنلاره**

دا څیړنه په ۱۴۰۰هـ ش کال ترسره شوي ده چې تقریباً د ۴۳ هغو مقالو څخه په کې استفاده شوي ده چې په معتبرو نړیوالو ژورنالونو کې خپرې شوي دي.  پدې لیکنه کې چې د کومو څیړنو څخه استفاد شوي ده ټولې یې د 2002 څخه تر 2019 میلادي کلونو منځ کې خپرې شوي دي او د نړۍ په ۲۳ هیوادونو کې ترسره شویدي چې زیاتره یې پرمختللي هیوادونه دي لکه چین، جاپان، برازیل، د امریکا متحده ایات، اروپایي اتحایه، افریقا او داسې نور. پورته

څېړنې په مختلفو انټرنيټي سايټونو لکه Google Scholar، Science Direct، Web of Science، Scopus او داسې نورو کې د کليدي کلميو، DOI نمبر، عنوانونو او نور مشخصاتو پر اساس پلټل شوي دي. په دي مقاله کې د حيواناتو د روغتياپه برخه کې د بايوتکنالوژي د استعمال او پرمختګ په اړه معلومات راټول شوي دي چې په دې ورستيو شلو کلونو څېړونکو په واسطه خپاره شوي دي.

**بايو تکنالوژي او حيوانات**

حيوانات په خپله هم د بايوتکنالوژي په پرمختګ کې ډېرمهم رول لوبوي او په مقابل کې حيوانات د بايوتکنالوژي د انکشاف او پرمختګ څخه ګټه اخلي. د حيواناتو په روغتيا او ساتنه کې د بايوتکنالوژي په تطبيق سره په لاندې څلورو ساحو کې اساسي پرمختګونه رامنځته شوي دي [۹، ۱۰].

د حيواني بايو تکنالوژی رول د انساني روغتيا په پرمختګ کې ( Animal biotechnology to advance human health): د کلونو راهسې حيوانات د انساني درملو د توليد او انکشاف له پاره استعماليږي. زياتره درمل توليد څخه مخکې په لابراتواري حيواناتو باندې استعماليږي؛ ترڅو يې انسانان د جانبي عوارضو څخه خوندي پاتې شي. د دې څخه علاوه ځينې حيوانات د درملو د توليد په لابراتوارونو کې د دې له پاره ساتل کيږي، چې د هغوي د شيدو، هګيو، وينې او نورو توليداتو څخه د درملو په جوړولو کې استفاده کيږي. همدارنګه د بايوتکنالوژي په مرسته د مختلفو حيواناتو څخه د هغوي اعضاوې انساج او حجرات د انسان بدن ته د درملنې په غرض انتقاليږي، چې خوګ د دې حيواناتو له جملې څخه يو غوره مثال دی [۹، ۱۰].

د حيواني توليداتو لوړوالی (Enhancements to animal products): دا چې د بايوتکنالوژي د تطبيق او استعمال په وجه د حيواني ناروغيو د مخنيوي او درملنې په منظور معياري واکسينونه، درمل او تشخيصي ميتودونه رامنځته شوي دي؛ نو په نتيجه کې ټول هغه توليدات چې د حيواناتو څخه لاسته راځي د مصرف کوونکو د صحت له پاره ګټور تماميږي. همدارنګه د حيواناتو او مرغانو په فارمونو کې د په زړه پورې خواصو انتقالوونکو جينونو د ځای پرځای کولو په نتيجه کې د حيواني غذايي موادو کيفيت هم لوړ شوي دی. سربيره پر دي په راتلونکې کې به د بايوتکنالوژي د استعمال او تطبيق په وسيله وکولای شو چې حيواني محصولات لکه غوښه، هګۍ او شيدې په داسې کيفيت سره توليد کړو چې د غذايي ارزښت په

لحاظ به ډیرې غني وي [۹].

د چاپیریال ساتنې ګټې (Environmental and conservation benefits):
بایوتکنالوژي د هغوحیواناتو په ساتنه او پرمختګ کې مهم رول لري چې د چاپیریال د ښکلا سبب کیږي. همدارنګه د بایوتکنالوژي داستعمال په واسطه کولی شو د حیواناتو دهغه انواعو ساتنه وکړو چې د ورکیدو له خطرسره مخامخ دي. دا چې د حیواناتو د تغذیې تولید او د فاضله موادو پروسیس د بایوتکنالوژي د استعمال په وجه ډیر په معیاري ډول سره ترسره کیږي؛ نو په چاپیریال کې پاتې شونو او فضله موادو د جمع کیدو څخه مخنیوی کوي ځکه، چې د فضله موادو او نورو پاتې شونو موجودیت د چاپیریال د ککړیدو سبب کیږي [۱۰].

د بایوتکنالوژی رول د حیواني روغتیا په پرمختګ کې (Biotechnology to improve animals' health): د تیرو څو لسیزو راپدېخوا مالدارن د خپلې مالدارۍ او د حیواناتو د رمو کیفیت د بایوتکنالوژي د موجودو تخنیکونو په واسطه مخته وړي، چې نوموړي تخنیکونه لکه مصنوعي القاح، د جنین انتقال (Embryo transfer)، په مصنوعي محیط کې القاح ( In vitro fertilization)، د حیواناتو د DNA تحلیل او د حیواناتو مشابه کول ( Animal cloning) دي چې د حیواناتو د نسلګیرۍ په انکشاف کې یې اساسي رول لوبولی دی. ددې ترڅنګ بایوتکنالوژی دحیواني روغتیا په برخه کې د درملو، واکسینونو، تشخیصي ټیسټونو او پرمختللو وسایلو په وړاندې کولو سره نه یوازې دا چې د زیاتره ناروغیو مخنیوی او درملنه په ښه ډول سره ترسره کړیده بلکې مالداران یې د زیاتو اقتصادي زیانونو څخه ژغورلي دي. د پورته لاسته راوړنو په نتیجه کې د حیواناتو سالم اوصحي تولیدات رامنځته شویدي چې د زیاتو هغو ناروغیو څخه مخنیوی شوی کومې چې د حیواني محصولاتو د مصرف په سبب په انسانانو کې رامنځته کیږي [۱۱، ۱۲].

**د بایوتکنالوژي تطبیق په وترنري طبابت کې**

پرمختللې بایوتکنالوژي زیاتره د وترنری طبابت د تشخیص په برخه په کار وړل کیږي؛ ترڅو د ناروغیو عاملین چې ډیر زیات ورته والی سره لري په دقیق ډول سره وپیژندل شي. کوم درمل او واکسینونه چې په تجارتي ډول تهیه کیږي د وترنر ډاکترانو د تداوی په برخه کې یې د پام وړ اسانتیاوې رامنځته کړي دي [۱۳]. داچې د ناروغیو وقایه د درملنې په نسبت په لومړي قدم کې قرار لري نو په همدې اساس د نوې بایوتکنالوژي تطبیق او استعمال ته په وقایوي برخه ډیره

پاملرنه شویده چې د Molecular gene cloning، د نویو تولیدیدونکو درملو دتاثیراتو ارزیابي کولو، دبایوتکنالوژي په وسیله دواکسینونو تولیدول، پرمختللي تشخیصي ټیسټونه، Immunocastraion او داسې نورې د یادولو وړ دي [۱۴]. د حیواني بایوتکنالوژي تطبیق دټولو حیواناتو په روغتیا او تولیداتو کې د پرمختګ سبب شوي دی لکه مالداري، مرغان، ماهیان، حشرات، کورني او تفریحي حیوانات، لابراتواري حیوانات (موږکان اوسویان) او داسې نور. د تحقیق او څیړنو په برخه د بایوتکنالوژي تطبیق په دریو مهمو او اساسي کرنیز او حیواني سکتورونوکې ډیر پرمختګ کړي دی چې په لاندې ډول دي:

Genomics :Animal genomic د یو حیوان مکمل جنیتکي ساختمان څخه عبارت دی چې د نوموړي حیوان د بدن د ټولو جوړ ښتونو او د هغوی د اړوند تغیراتو او وظایفو اساس تشکیلوي. د حیواناتو د Genomics ساختمان د مطالعې په واسطه سره کولی شو چې په حیواناتوکې دناروغیو په مقابل مقاومت، د ناروغیو په وړاندې حساسیت، زیات تولید ورکولو، دوزن زیاتوالي او داسې نورو په زړه پورې خواصو اساس وپیژنو [۱۰].

Animal cloning: د حیوان کولن کول د هغی عملیې څخه عبارت دی، چې دهغی په وسیله کټ مټ د یوحیوان په څیر بل حیوان هم تولید شي. د بایوتکنالوژي څخه په استفاده اوس مالداران کولی شي، چې د نسلګیري په وخت کې یوه حقیقي جنیتکي کاپي د یوه ژوندي حیوان تولید کړي چې د سوماتیک حجراتو د هستې د انتقال په اساس صورت نیسي. د Cloning په واسطه د حیواناتو په جنیتکي ساختمان او DNA کې هیڅ تغیر نه راځي بلکې په دې طریقه کې تولید شوي حیوان د بل حیوان کټ مټ دوهمه کاپي ده [۱۰].

Cloning مختلف ډولونه لري لکه Molecular gene cloning، DNA cloning، Therapeutic cloning او Reproductive cloning چې په ټولو تخنیکونو کې د موجوده جنیتکي موادو کټ مټ دوهمه کاپي تولید کیږي [۱۵]. د پورته ټولو تخنیکونو په نماینده ګۍ په Molecular gene cloning باندې لږه رڼا اچوو.

Molecular gene cloning: د هغه تخنیک څخه عبارت دی د کوم پواسطه چې یو زیات تعداد کاپي د یوه Plasmid او یاهم بل کولننګ کیدونکي جنیتکي ساختمان څخه تولیدیږي. په دې میتود کې Plasmid د هغه مربوطه مناسب میزبان په حجره کې ځای پرځای کیږي چې نوموړی میزبان ددې توانائي لري؛ ترڅو دا نوی ځای پرځای شوی Plasmid د جنیتکي موادو

د Replication په وخت څو ځله کاپي کړي. د باکتریاوو د جملې څخه Escherichia coli زیاتره د Plasmid د Replication لپاره د مناسب میزبان په توګه په کار وړل کیږي [۸]. خپله د Gene cloning څخه اصلي هدف دا دی، چې د یوه ژوندي ارګانیزم په جنتیکي ساختمان کې د DNA یا هم پروتین داسې یوه برخه ځاي پرځای کړل شي کومه چې د ذکرشوي ارګانیزم د والدینو په جنتیکي ساختمان کې موجوده نه وي او کله چې دا نوې برخه څو ځله کاپي شي؛ نو د هغه ځای پرځای شوې جنتیکي برخې خواص په حیوان کې ښکاره کیږي [۱۶].

Bioengineered :Genetic engineering of animals حیوانات د لومړي ځل لپاره د 1970 کلونو په شاوخواکې رامنځته شول. د دې څخه 40 کاله وروسته Transgenic حیوانات په مختلفو انواعو د حیواناتوکې رامنځته شول [۱۰]. Genetic engineering (GE) دهغه تخنیک څخه عبارت دی، چې ساینس پوهان په لابراتوارکې ترتیب شوې DNA یاهم (Recombinant DNA) د یوه ژوندي ارګانیزم په حجراتو کې د جنتیکي موادو په ساختمان کې ځای پرځای کوي ترڅو راتلونکي بچي هغه خواص ولري چې په ترتیب شوې DNA کې ځای پرځای شوي دي. پورته ډول حیواناتو ته Transgenic animals ویل کیږي چې جنتیکي مواد یې دخپلو والدینو څخه نه وي بلکې د بلې نوعې جنتیکي مواد په خپل ځان کې انتقالوي. د دې پرمختللې بایو تکنالوژی په مرسته ساینس پوهان چې په دقیق ډول سره هغه جینونه چې د خوښې وړ او ګټور خواص انتقالوي د حیواناتو له یوې نوعې څخه بلې ته انتقال کړي [۳].

Recombinant DNA technology: (rDNA) د DNA د هغه مالیکول څخه عبارت دی چې په لابراتوار کې د څو نوعو حیواناتو د جنتیکي موادو څخه مشتق شوی وي. کوم بیسونه چې د rDNA په ترکیب کې ځای پرځآی کیږي چې د باکتریا، نبات او حیوان د هرې نوعې څخه انتخاب شي [۱۲]. د rDNA تکنالوژي پواسطه چې کوم واکسینونه په لابراتوار کې تهیه کیږي په انساني او حیواني طبابت کې یې د باکتریایي او وایروسي ناروغې د وقایې او مخنیوي په برخه کې فوق العاده پرمختګ او سهولت رامنځته کړی دی [۱۷]. د پورته ذکرشوې تکنالوژي په واسطه تولید شوي واکسینونه نه یوازې دا چې د مختلفو ناروغیو د مخنیوي په منظور استعمالیږي بلکې د دې ترڅنګ د حیواناتو د تولید د زیاتوالي، په بدن کې د هورمونونو د

تنظیم، د معافیتي سیستم وظایفو د تنظیم، د خارجي پرازیتونو د کنترول او Immunocastration په منظور هم استعمالیږي [۱۴]. له 1796 کال راپدیخوا کله چې Edward Jenner د لومړي ځل له پاره د Smallpox وایرس د Latin vacca په نامه غواګانو څخه لاسته راوړو او بیرته یې د نوموړې ناروغۍ د وقایې په غرض د استعمال کړ، تراوسه پورې ډیرزیات تعداد خطرناکې ساري ناروغۍ د همدې واکسینونو د استعمال په وجه له منځه تللي (Eradicate) شوي دي [۱۸]. پورته ذکرشوی درملنه چې مواد یې د Latin vacca غوا څخه لاسته راوړل شوي وو د Vaccination په نوم سره یاده شوه، چې تر نن ورځې پورې د واکسین په نوم د زیاترو ساري او غیرساري امراضو د قایې په منظور استعمالیږي. د بایوتکنالوژي پرمختګ سره سم اوس د نوموړیو واکسینونو DNA vaccines، Subunit vaccines، Vectored vaccines، Inactivated (killed) vaccines او داسې نور ډولونه موجود دي [۱۷].

د جینونو ترتیبول (Gene editing): د جینونو ترتیبول د بایوتکنالوژي هغه تخنیک دي په کوم کې، چې د Site-directed nucleases (SDN) انزایمونو په مرسته د یوه Target جین جنتیکي کوډ په دقیق ډول سره تغیر او ترتیب کیږي. څرنګه چې د نامه څخه یې معلومیږي gene editing ساینس پوهانو او څیړونکو ته د دې توانایي ورکوي، چې د یوه جین په جنتیکي کوډ کې ځینې حروف زیات، کم او یاهم له منځه یوسي. پورته تخنیک مثال د کمپیوتر د مایکروسافټ ورډ پروګرام د Spell checker په شکل مخته ځي چې لیکل شوې ګرامري غلطۍ د حروفو د زیاتولو، کمولو او یاهم تغیرکولو سره اصلاح او ترتیب کیږي. څیړونکي د بایوتکنالوژي دا تخنیک د دې له پاره کاروي ترڅو نامطلوب جینونه په مطلوب او دخوښې وړ جینونو باندې تبدیل کړي. نوموړی تخنیک په طبابت کې د تطبیق او استعمال ډیرزیات موارد لري. دمثال په ډول د دې تخنیک په واسطه څیړونکي کولی شي هغه ناروغۍ او ناخوالې چې د جنتیکي تغیر په اساس رامنځته شوي وي تداوي کړي. د دې څخه علاوه ددې تخنیک په مرسته لېرتولید ورکوونکي جینونه په زیات تولید ورکوونکو جینونو باندې تبدیلیږي. د دې څخه معلومیږي، چې Gene editing د بایو تکنالوژي د نورو تخنیکونو په نسبت ډیر دقیق تخنیک دی چې په ځانګړي ډول سره یو جین پکې په خپله خوښه ترتیب کیږي [۳]

**په حيواناتو کې د انتي بيوتيکونو په وړاندې مقاومت پيژندلو کې د بايوتکنالوژي رول**

له 1928 کال راپديخوا د کله نه چې پينسلين (Penicillin) کشف شوي، انتي بيوتيکونه د مختلفو باکتريايي ناروغيو د تداوي په منظور په انساني او حيواني طبابت کې استعماليږي او د باکتريايي ناروغيو په تداوي کې يې ډيرمهم رول لوبولی دی؛ خو د 1950 کلونو په شاوخوا کې ځينې باکترياوو دانتي بيوتيکونو د يو يا هم زياتو ډولو په مقابل کې مقاومت پيداکړو چې دا پيښه يوه نړيواله روغتيايي ستونزه ومنل شوه [۱۹]. د دې له پاره چې په انسانانو او حيواناتو کې د باکتريايي ناروغيو په وړاندې دانتي بيوتيکونو استعمال خپل تاثيران په مکمل ډول سره وښيي؛ نو د انتي بيوتيکونو په وړاندې د باکترياوو د مقامت موضوع بايد په مکمل ډول سره وڅيړل شي. Antimicrobial resistance (AMR) د باکترياوو دهغه توانايي څخه عبارت ده چې د تداوي په منظور د استعمال شويو انتي بيوتيکونو په مقابل کې يې له ځانه ښي [۱۲]. هغه جينونو چې په باکترياوو کې د انتي بيو تيکونو په مقابل کې د مقاومت خاصيت انتقالوي د مورنۍ باکتريا څخه لوړو باکترياوو ته د حجروي ويش دلارې انتقاليږي او همدارنګه د يوې نوعې څخه بلې نوعې ته د Plasmid پواسطه انتقاليږي. Plasmid په باکترياوو کې د جنتيکي DNA او کروموزوم څخه علايده د DNA يو بل کوچني ماليکلول دی چې د باکترياوو ترمنځ هغه معلومات او خواص انتقالوي چې د دوی د ژوندي پاتې کيدو لپاره ګټور وي لکه د انتي بيوتيکونو په وړاندې مقاومت خاصيت او داسې نور [۲۰] پدې صورت کې ډيره ضروري ده چې دا معلومات لاسته راوړل شي چې نوموړې باکترياوې په کوم ميکانيزم سره د انتي بيوتيکونو په وړاندې مقاومت کوي، چې دا کار بايو تکنالوژي په مرسته په اسانی سره ترسره کيدلی شي. د اوسني پرمختللې بايو تکنالوژی په مرسته داممکنه ده، چې هغه جينونه، چې به باکترياوو کې د انتي بيوتيکونو په وړاندې د مقاومت خاصيت انتقالوي تشخيص کړو او Gene editing تخنيک پواسطه يې نوموړی خاصيت تغير کړو [۱۲].

**په وترنري تشخيصي سيستمونو کې د بايوتکنالوژی رول**

کله چې يوه نوې ناروغی په انسانانو او حيواناتو کې رامنځته کيږي؛ نو دهغه د کنترول له پاره هڅې شروع کيږي، خو د دې ناروغۍ کنترول هغه وخت ممکن دی چې کله يې عامل معلوم شي او په دقيق ډول سره وپيژندل شي چې دا دقيق ډول پيژندل د تشخيص (Diagnosis) په نوم سره ياديږي [۸]. د Diagnosis اصطلاح له دوه برخو څخه ترکيب شويده لومړۍ برخه يې Dia ده، چې معنی يې په واسطه او دوهمه برخه يې Gnosis ده، چې معنی يې علم دی، چې

مفهوم یې د یوې ځانګړې ناروغۍ عامل پېژندل د علم په واسطه دي [۲۱]. په وترنرۍ طبابت کې د تشخیص پخواني میتودونه لکه سیرولوژیکي ټیسټونه او مایکروسکوپي معاینات نه شي کولی، چې د ناروغیو هغه عاملین چې ډیر سره ورته والي ولري د هغوی نوع (Species) او Subspecies معلوم کړي [۸]. اما هغه مالیکولي ټیسټونه چې اوس په وترنرۍ طبابت کې د ناروغیو د عاملینو د تشخیص له پاره پکار وړل کیږي لکه Single DNA sequences، PCR، Real time- PCR او داسې نور تخنیکونه چې ډیر حساس دي کولی شي چې دا عاملین په ډیر دقیق او اعتباري ډول سره تشخیص کړي [۲۱]. نوموړي پرمختللي تخنیکونه د ناروغیو هغه عاملین چې د ظاهري شکل (Morphology) له لحاظه ډیر سره ورته والی لري هم په دقیق ډول سره تشخیص او تفریق کولی شي [۱۴]. د دې څخه علاوه د پروتیومیک تخنیکونو (Proteomics techniques) په مرسته کولی شو، چې د جینونو موقعیت، د جینونو پواسطه د پروتینو ترتیب کیدل، د جینونو وظایف، د ارثي پیغامونو د انتقال څخه ورسته تغیرات او هغه پروتینونه، چې دمختلفو باکتریاوو او وایروسونو د Genomes په واسطه په مشخص ځای او مشخص وخت کې تولید شوي وي تحلیل او تشخیص کړي [۲۲]. پورته تخنیکونو د خپل حساسیت او دقیقوالي په سبب په وترنري تشخیصي سیستم کې د اهمیت وړ رول لوبوي [۲۳]. پروتیومیک تخنیکونه د ساینس پوهانو او څیړونکو سره د دې مرسته هم کوي، چې د باکتریاوو، وایروسونو او نورو پاتوجنونو په واسطه تولید شوي پروتینونه مطالعه کړي او دهغوې د مطالعې او تحلیل په نتیجه د نوموړیو مایکرو ارګانیزمونو ضد واکسینونه او درمل تهیه کړي او د دوی د له منځه وړلو له پاره یې وکاروي [۲۴]. د دې څخه علاوه نوربایوتکنالوژي تختیکونه لکه biosensors، Fluorescent In Situ Hybridization (FISH) ، Nanotechnologies اوداسې نور په وترنري تشخیصي سیستم کې نوی ځاي پرځای شویدي [۲۵].

**پولیمیریزچېن ریکشن یا پي سي آر**

PCR یو موثر، ساده او ارزانه تخنیک دي چې په اسانۍ سره کولی شي د جنتیکي موادو (DNA Sequences) یوه کاپي او یاهم د یوه جین د جنتیکي کوډ څخه په ملیونو کاپي تولید کړي. د بایوتکنالوژی پرمختللي تخنیک څخه په وترنری تشخیصي سیستم کې د جنتیکي تغیر (Genetic mutation)، دمختلفو باکتریایي، وایرسي او پرازیتي ناروغیو د عاملینو په تشخیص کولو، د مختلفو پاتوجنونوپواسطه د تولید شویو پاتوجنیک پروتینونو او توکسینونو په

تشخیص کولو، د بدن په مختلفو عضاوو کې د جینونو د فعالیت اندازې (Gene expressions) او ډیرو داسې نورو مغلقو ټیستونو کې په کار وړل کیږي . د PCR له پاره ضروري وسایل او مواد عبارت دي له DNA template، Primers (forward and reverse)، Polymerase enzyme او د PCR machine (Thermocycler) څخه. د PCR ټیسټ ټوله پروسه په دریو لویو مرحلو ویشل شوي ده چې د Denaturation، Annealing او Extension or Elongation څخه عبارت دي [۲۶]. د پورته مراحلو د بشپړیدو څخه وروسته د دې له پاره چې معلومه شي، چې د هغه Target DNA څوځله کاپي شوي ده نتیجه یې په Agarose gel electrophoresis کې کتل کیږي. او د Target DNA دقیقې اندازې د تخمین کولو له پاره د تولید شوې کاپي د DNA ladder سره مقایسه کیږي [۲۷].

**د پولیمیریزچین ریکشن تطبیق**

په نني طبابت کې PCR تر ټولو حساس او باوري تخنیک دی چې په وسیله یې په کمه موده کې په کلنیکي نمونو کې د میکروبي پاتوجنونوتشخیص ترسره کیږي [۲۸]. د لومړي ځل له پاره د شمالي امریکا په برازیل هیواد کې د PCR په واسطه د Epizootic hemorrhagic disease virus (EHDV) د Serogroup-4 تشخیص ترسره شو او د دې څخه لږ وروسته د PCR په نور پرمختګ سره EHDV-2 په ځانګړي ډول سره تشخیص شو په دې توګه PCR په طبابت کې د راتلونکې تشخیصي سیستم اساسي او مخکښ تخنیک ومنل شو [۲۹، ۳۰]. د دې څخه ورسته په امریکامتحده ایالاتو او شمالي امریکا کې د Mycobacterium Bacilli باکتریا تشخیص د هغه د 16S-23S رایبوزومي RNA د Intergenic Spacer (ITS) جین د جنتیکي کوډونو په اساس د PCR په مرسته په کامیابۍ سره ترسره شو او دا معلومه شوه چې Mycobacterium genavense په ټولو هغه مرغانو کې چې په ازاد ډول او یاهم په پنجرو او فارمونو کې ساتل کیږي د Mycobacteriosis ناروغۍ عامل دی [۳۱].

**د ریل ټایم پولیمیریز چین ریکشن تطبیق**

Real-time polymerase chain reaction د عادي PCR په نسبت ډیر پرمختللی، حساس او دقیق دي. لکه څرنګه، چې د نوم څخه یې معلومیږي د نوموړي تخنیک په واسطه کولی شو، چې د Target gene د فعالیت اندازه (Expression) د ټیسټ د اجراکیدو په

وخت کې همزمان معلومه کړو. همدارنګه ددې تخنیک په مرسته دا هم ممکنه ده چې د Target gene د جنتیکي کوډ د سلسلې د کاپي کیدو مشخص او دقیق تعداد هم اندازه کړو [۳۲]. د بایوتکنالوژی دغه تخنیک ډیر زیات دقیق، حساس، ارزانه دی او په عین وخت کې نتیجه لاسته راوړلو او اندازه کولو وړتیاهم لري. د دې څخه علاوه کوم سافټ ویر، چې د RT-PCR په ماشین (Thermocycler) کې نصب شوی لاسته راغلي ارقام (Data) هم تحلیل او محاسبه کولی شي. پورته ذکرشوی تخنیک د اوسنیو پرمختللیو څیړنو د ترسره کولو له پاره اساسي او بنیادي تخنیک بلل کیږي. همدارنګه د وترنري طبابت په اوسني تشخیصي سیستم کې RT-PCR یوه نوې پلې شوې او اعتباري تکنالوژي ده [۳۳].

اوسنی Microarray تخنیک د PCR ترڅنګ یوبل نوی تخنیک دی د کوم پواسطه کولی شو د یوه مشخص پاتوجن مکمل جینوټایپیک ساختمان (Genotypic Structure) معلوم کړو چې دا دول مطالعات د وترنری پرازیتونو په اپیدیمولوژیکي څیړنوکې د اهمیت وړ رول لوبوي [۳۴]. دا چې د PCR تخنیک په تدریجي ډول سره پرمختګ کړی سبب یې دا دی چې کله د PCR تخنیک په لومړي وخت کې ایجاد شو نو ډیر ساده وو او د څیړونکو ځینې غوښتنې یې نه شوی پوره کولي، نو په همدې دلیل تکنالوجستانو د هغوي د غوښتنو مطابق د PCR تخنیک په تدریجي ډول د نویو زیاتونو او پرمختګونو سره څیړونکو ته وړاندې کولو چې نن ورځ د PCR د یو پرمخ تللي ډول (RT-PCR) شاهدان یو [۳۵]. د طبابت په اوسني تشخیصي سیستم کې په څرګند ډول سره معلومه ده چې د عادي PCR دتطبیق ساحه د RT-PCR په نسبت ډیره محدده ده [۳۶، ۳۷].

**د جین پواسطه تداوي په وترنري طبابت کې**

جین په پواسطه تداوي (Gene therapy) په وترنري طبابت د تداوي په برخه کې د بایوتکنالوژي یو نوی تخنیک دی. د دې تخنیک په واسطه ساینس پوهان او څیړونکي کولی شي چې یو غیرفعال او یا هم په جنتیکي ډول سره تغیرشوی جین د یوفعال جین پواسطه سره تعویض کړي. د دې کار پواسطه د حجرې هغه دندې، چې د اړوند جین دغیرفعال کیدو په سبب مختل شوې وې د نوي جین د ځاي پرځای کیدو په سبب بیرته فعال کیږي، چې اوسنۍ پرمختللې بایوتکنالوژي نتیجه ده [۳۸، ۳۹]. په انساني او حیواني طبابت کې د جین پواسطه تداوي او درملنه د سرطاني ناروغیو د تداوي له پاره یواعتباري او پرمختللي تخنیک منل شوي دی [۳۹]. د جین تراپي د مهمو تخنیکونو دجملې څخه یو هم د Electroporation تخنیک دی د کوم

پواسطه چې په حقیقي ډول سره جینونو انتقال کیږي. د مثال په ډول د Chemotherapeutics او Plasmid DNA انتقال د میزبان حجراتو ته د دې تخنیک پواسطه په کامیابۍ سره ترسره کیږي. نوموړي تخنیک په اوس وخت کې د ساینس پوهانو او طبي څیړونکو له خوا د Nucleic acids، Cytotoxic drugs، Ions او نورو جنتیکي موادو د انتقال له پاره یو محفوظ، موثر او اعتباري تخنیک منل شویدی [۴۰]. په ذکرشوي تخنیک کې انتخاب شوي مواد د مخصوصو وسایلو په واسطه د حجروي غشا دلارې سایتوپلازم ته داخلیږي. د څیړنو په نتیجه کې دا ثابته شوي ده چې د پورته تخنیک په واسطه د جنتیکي او نورو موادو انتقال هیڅ ډول جانبي عوارض نه درلودل [۴۱]. د دې څخه علاوه نوموړی تخنیک د ځینو ایونو او Chemotherapeutics موادو د انتقال په برخه کې د حیواناتو څخه انسانانو ته هم مثبته نتیجه ورکړې ده [۴۲]. په عمومي ډول سره د بایوتکنالوژی د پرمختګ په مرسته پوهانو داسې اټکل کړی چې په راتلونکی کې به په دې هم وتوانیږي، چې د ګلوکوز آخذې (Glucose sensors) په اسکلیټي عضلاتو کې د Glucokinase انزایم او Insulin هورمون داړوند جینونو د Co-expression په اساس ایجاد کړي چې په دې سره به د Hyperglycemia کنترول د شکرې په ناروغان کې په کامیابۍ سره ترسره شي [۴۳].

**نتیجه ګیري**

داچې د انسانانو نفوس د ځمکې پرمخ ورځ تربلې د زیاتیدو په حال کې دی او د دې په څنګ کې انسانانو د غذا او نورو موادو غوښتنې هم په ورته ډول سره زیاتیږي دا ټولو غوښتنو ته د بایوتکنالوژي په مرسته ځواب ویل شوي دی. په عمومي ډول بایوتکنالوژي په مالدارۍ کې په دریو مهمو برخو کې د اهمیت وړ رول لوبوي د مثال په ډول سره بیولوژیکي تکنالوژي، کیمیاوي بایوتکنالوژی او فزیکي بایو تکنالوژی. د پورته دریو مهمو تکنالوژیو په مرسته د حیواناتو په روغتیا، تغذیه، نسلګیرۍ او تولیداتو کې د اهمیت وړ پرمختګ رامنځته شویدی. د بایو تکنالوژۍ زیاتره نوي تخنیکونه یوازې په پرمختللي هیوادونو کې تطبیق کیږي او په یادو هیوادونو کې د مالدارۍ د جنتیکي، تغذیوي او روغتیایي پرمختګ اساس تشکیلوي. د بایو تکنالوژي د نویو او پرمختللیو تخنیکونو له جملې څخه Animal cloning، Genetic engineering، In vitro nucleic acid techniques، Gene cloning، Gene therapy، Gene editing، RT-PCR، Antibiotic resistance technology او

داسې نورتخنیکونه دي، چې په نړیواله سطحه یې انساني او حیواني طبابت کې یو لوی انقلاب رامنځته کړی دی. د بایوتکنالوژي په مرسته نه یوازې دا چې د مختلفو ناروغیو د عاملینو پروړاندې درمل، واکسینونه، د نوموړیو ناروغیو د عاملینو د تشخیص له پاره ټیسټونه او دهغوی اړوند وسایل تولید شوي دي بلکې د دې څنګ د مختلفو ناروغیو رامنځته کیدو میکانیزم او مختلفو پاتوجنونو د ژوند شرایط هم د بایوتکنالوژي په مرسته تثبیت شوي، چې دهغوی په نظر کې نیولو سره د واکسینونو او نورو اړوند موادو په تهیه کول سره ډیرې خطرناکې ناروغۍ په مکمل ډول سره له منځه تللي (Eradicate) شوې دي. په وترنري طبابت کې د بایوتکنالوژي د پرمختګ اوتطبیق په وجه د حیواناتو روغتیا تضمین شوي ده چې دهمدې حیواناتو څخه بیا صحي او سالم غذایي تولیدات انسانانو ته وړاندې شوي دي. د دې څخه د حیواناتو او انسانانو د روغتیا پواسطه په محیط کې د مختلفو ناروغیود خپریدو څخه مخنیوي شوي دی. دا چې د بایوتکنالوژی پر مختګ او تطبیق یوازې په پرمختللیو هیوادونو کې لیدل کیږي نو باید ورسته پاتې هیوادونو هم ددغه تکنالوژی د تطبیق له پاره هڅې پیل کړي ترڅو خپل تولیدات، خپله روغتیا او خپل چاپیریال د هر ډول ستونزو څخه خوندي وساتي.

## References


Abraham H., and P. S. K. (2014). Animal Biotechnology Options in Improving Livestock Production in the Horn of Africa. *International Journal of Interdisciplinary and Multidisciplinary Studies*, *1*(3), 1–8.

Ahmed, S., & Khosa, A. N. (2010). An introduction to dna technologies and their role in livestock production: A review. *Journal of Animal and Plant Sciences*, *20*(4), 305–314.

Aradaib, I. E., McBride, J. W., Wilson, W. C., & Osburn, B. I. (1995). Development of polymerase chain reaction for specific identification of epizootic hemorrhagic disease virus serotype 1. *Archives of Virology*, *140*(12), 2273–2281.

Asmare, B. (2014). Biotechnological Advances for Animal Nutrition and Feed Improvement, *2*(3), 115–118.

Bartlett, J. M. S., & Stirling, D. (2003). A shorts History of the Polymerase chain Reaction. PCR protocole. (pp. 1–6).

Beltran, W. A., Cideciyan, A. V., Lewin, A. S., Iwabe, S., Khanna, H., Sumaroka, A., … Aguirre, G. D. (2012). Gene therapy rescues photoreceptor blindness in dogs and paves the way for treating human

X-linked retinitis pigmentosa. *Proceedings of the National Academy of Sciences of the United States of America*, *109*(6), 2132–2137.

Borroto, C. G. (2008). Botechnology and Its Application to Veterinary Science. 19th Conference of the OIE Regional Commission for the Americas (Havana, Cuba, 17–21 November 2008), 231–240.

Callejas, D., Mann, C. J., Ayuso, E., Lage, R., Grifoll, I., Roca, C., … Bosch, F. (2013). Treatment of diabetes and long-term survival after insulin and glucokinase gene therapy. *Diabetes*, *62*(5), 1718–1729.

Calvet, C. Y., & Mir, L. M. (2016). The promising alliance of anti-cancer electrochemotherapy with immunotherapy. *Cancer and Metastasis Reviews*, *35*(2), 165–177.

Ceciliani, F., Eckersall, D., Burchmore, R., & Lecchi, C. (2014). Proteomics in Veterinary Medicine: Applications and Trends in Disease Pathogenesis and Diagnostics. *Veterinary Pathology*, *51*(2), 351–362.

Chandrashekara, K. N.; Yakkaldevi, A. (2015). Basic Concept of Biotechnology, (June), 518.

Cobb, M. (2014). Oswald Avery, DNA, and the transformation of biology. *Current Biology*, *24*(2), R55–R60.

Cutrera, J., King, G., Jones, P., Kicenuik, K., Gumpel, E., Xia, X., & Li, S. (2015). Safe and effective treatment of spontaneous neoplasms with interleukin 12 electro-chemo-gene therapy. *Journal of Cellular and Molecular Medicine*, *19*(3), 664–675.

De Simone, F., & Serratosa, J. (2005). Biotechnology, animal health and animal welfare within the framework of European Union legislation. *OIE Revue Scientifique et Technique*, *24*(1), 89–99.

Edwards, D. (2008). Animal Biotechnology Update ~ September 2008. *Animal Biotechnology*, (September).

Eenennaam, A. L. Van. (2016). The Current and Future Uses of Biotechnology in Animal Agriculture, *54*(August), 72–81.

Favero, C. M., Matos, A. C. D., Campos, F. S., Cândido, M. V., Costa, É. A., Heinemann, M. B., … Lobato, Z. I. P. (2013). Epizootic hemorrhagic disease in brocket deer, Brazil. *Emerging Infectious Diseases*, *19*(2), 346–348.

Guoyao, W., & Baze,  and F. W. (2019). Application of new

biotechnologies for improvements in swine nutrition and pork production. *Journal of Animal Science and Biotechnology*, *6*, 1–16.

Hoffmann, B., Beer, M., Reid, S. M., Mertens, P., Oura, C. A. L., van Rijn, P. A., … King, D. P. (2009). *A review of RT-PCR technologies used in veterinary virology and disease control: Veterinary Microbiology* (Vol. 139).

Kelly, K. M., Wack, A. N., Bradway, D., Simons, B. W., Bronson, E., Osterhout, G., … Montali, R. J. (2015). Identification of Mycobacterium Genavense in a Diana Monkey ( Cercopithecus Diana ) By Polymerase Chain Reaction and High-Performance Liquid Chromatography . *Journal of Zoo and Wildlife Medicine*, *46*(2), 339–344.

Kfoury, C. (2007). Therapeutic cloning: Promises and issues. *McGill Journal of Medicine*, *10*(2), 112–120.

Kim, J. S., Cho, D. H., Park, M., Chung, W. J., Shin, D., Ko, K. S., & Kweon, D. H. (2015). Crispr/cas9-mediated re-sensitization of antibiotic-resistant escherichia coli harboring extended-spectrum β-lactamases. *Journal of Microbiology and Biotechnology*, *26*(2), 394–401.

Koch, B. J., Hungate, B. A., & Price, L. B. (2017). Food-animal production and the spread of antibiotic resistance: the role of ecology. *Frontiers in Ecology and the Environment*, *15*(6), 309–318.

Kubista, M., Andrade, J. M., Bengtsson, M., Forootan, A., Jonák, J., Lind, K., … Zoric, N. (2006). The real-time polymerase chain reaction. *Molecular Aspects of Medicine*, *27*(2–3), 95–125.

Lebedev, A. V., Paul, N., Yee, J., Timoshchuk, V. A., Shum, J., Miyagi, K., … Zon, G. (2008). Hot Start PCR with heat-activatable primers: A novel approach for improved PCR performance. *Nucleic Acids Research*, *36*(20), 1–18.

Liew, P. S., & Hair-bejo, M. (2015). Farming of Plant-Based Veterinary Vaccines and Their Applications for Disease Prevention in Animals. *Advances in Virology*, *2015*, 1–12.

Meyfour, A., Tavirani, M. R., & Sadeghi, M. R. (2013). Common Proteomic Technologies, Applications, and their Limitations. *Journal of Paramedical Sciences*, *4*(11).

Mohammed, B., & Wilding, C. (2014). Cloning Of Anopheles Gambiae CYP6M2 Gene Promoter And Construction Of Its Luciferase Reporter System. *International Journal of …, 010259*(January).

Nailis, H., Coenye, T., Van Nieuwerburgh, F., Deforce, D., & Nelis, H. J. (2006). Development and evaluation of different normalization strategies for gene expression studies in Candida albicans biofilms by real-time PCR. *BMC Molecular Biology*, *7*, 1–9.

Okonko, I. O., Olabode, O. P., & Okeleji, O. S. (2006). The role of biotechnology in the socio-economic advancement and national development: An overview. *African Journal of Biotechnology*, *5*(23), 2354–2366.

Ormandy, E. H., Dale, J., & Griffin, G. (2011). Genetic engineering of animals : Ethical issues , including welfare concerns. *Canadian Veterinary Journal*, *52*(5), 544–550.

Patil, A., Chan, C. T. Y., Dyavaiah, M., Rooney, J. P., Dedon, P. C., & Begley, T. J. (2012). Translational infidelity-induced protein stress results from a deficiency in Trm9-catalyzed tRNA modifications. *RNA Biology*, *9*(7), 990–1001.

Salih, B., Tripathi, V., & Trifonov, E. N. (2015). Visible periodicity of strong nucleosome DNA sequences. *Journal of Biomolecular Structure and Dynamics*, *33*(1), 1–9.

Schlipköter, U., & Flahault, A. (2010). Communicable diseases: Achievements and challenges for public health. *Public Health Reviews*, *32*(1), 90–119.

Schmitt, B., & Henderson, L. (2005). Diagnostic tools for animal diseases. *OIE Revue Scientifique et Technique*, *24*(1), 243–250.

Schrödl, W., Büchler, R., Wendler, S., Reinhold, P., Muckova, P., Reindl, J., & Rhode, H. (2016). Acute phase proteins as promising biomarkers: Perspectives and limitations for human and veterinary medicine. *Proteomics - Clinical Applications*, *10*(11), 1077–1092.

Singh, M. (2015). Biotechnological Approaches for Enhancing Animal Health and Production. *Journal of Dairy, Veterinary & Animal Research*, *2*(1), 16–17.

Soetan, K. O., & Abatan, M. O. (2008). Biotechnology a key tool to breakthrough in medical and veterinary research. *Molecular Biology*,

*3*(August), 88–94.
Soliman, M., Rhaman, M., Samy, M., Mehana, O., & Nasef, S. (2016). Molecular, Clinical and Pathological Studies on Viral Rabbit Hemorrhagic Disease. *Alexandria Journal of Veterinary Sciences*, *48*(1), 20.
Subash, V., & Sasikala, M. (2012). Application of Biotechnology A Current Review. International Journal of Pharmacy, 2(2), 59 – 66.
VanGuilder, H. D., Vrana, K. E., & Freeman, W. M. (2008). Twenty-five years of quantitative PCR for gene expression analysis. *BioTechniques*, *44*(5), 619–626.
Verweij, J. J., & Rune Stensvold, C. (2014). Molecular testing for clinical diagnosis and epidemiological investigations of intestinal parasitic infections. *Clinical Microbiology Reviews*, *27*(2), 371–418.
Yamamoto, Y. (2002). PCR in diagnosis of infection: Detection of bacteria in cerebrospinal fluids. *Clinical and Diagnostic Laboratory Immunology*, *9*(3), 508–514.

# د خوشحال خان خټک په کلیاتو کې بهرني ځاینومونه

لیکونکی:پوهنیار عبدالبصیر رحماني، فراه د لوړو زده کړو مؤسسې د ښوونې او روزنې پوهنځي پښتو څانګې استاد

تقریظ ورکوونکی: پوهندوی میاولي شاه میاخېل د ژبو او ادبیاتو پوهنځي استاد

**لنډیز**

د تاریخ په اوږدو کې پښتو ژبې ته ډېرو لیکوالانو او شاعرانو خدمتونه کړي دي، چې نه یوازې خپلې ژبې ته یې خدمتونه کړي، بلکې د وخت د یرغلګرو په وړاندې هم ټينګ دریدلي دي او په مېړانه ورسره جنګېدلي دي. دا څېړنه د خوشحال خان خټک په کلیاتو کې د بهرني ځایونو نومونې ته ځانګړې شوې ده. خوشحال خان خټک هغه توریالی او نومیالی لیکوال او شاعر دی، چې نن پرې ټول پښتانه ویاړي. د ده اثار که په دقیق ډول مطالعه کړو، نو موږ ته څرګندیږي، چې خوشحال ګرځندوی سړی و او د ډېرو هېوادونو له کلتور او فرهنګ سره اشنا و. د څېړونکو لپاره د دې نومښود ارزښت تر هرچا زیات دی، ځکه په عمومي سطحه دا کار نه دی شوی، نو که څوک غواړي په دې برخه کې معلومات ترلاسه کړي، مجبور دی چې د خوشحال خان ټول زاړه متنونه ویلټي، خو که دغه مواد د یوه څېړونکې لاسته ورشي، نو کولای شي، چې د دغو ځایونو په اړه کره معلومات ترلاسه کړي. په دغه څېړنیزه مقاله کې د کتابتوني ډول او تشریحي، توضیحي میتود څخه کار اخېستل شوی او دې پایلې ته رسېدلي یوو، چې خوشحال خان خټک هم په خپلو شعرونو کې د ډېرو بهرني ځایونو یادونه کړې ده.

**کلیدي وییونه:** پښتو ادبیات، خوشحال خان، بهرني ځای نومونه.

**سریزه**

د تاریخ په اوږدو کې پښتنو د خپلې خاورې د ازادۍ لپاره هر ډول سرښندنې او مبارزې کړې دي، چې یو له دې څخه د توري او قلم خاوند خوشحال خان خټک دی، چې د پښتنو د آزادۍ لپاره یې د مغولو سره د ژوند تر وروستۍ سلګۍ پورې مبارزه کړې ده.

د دې مقالې په پیل کې مې د خوشحال خان پېژندنه کړې، که څه هم چې خوشحال خان اوس زموږ لوی او واړه پېژني، خو ما په لنډ ډول د ده پېژندنه راخیستې، او ټوله توجه مې د بهرني ځایونو په نومښود باندې اړولې ده، په دې برخه کې مې پراخ بحث کړی دی. د خوشحال کلیات مې مطالعه کړی او وروسته مې هغه بیتونه، چې په هغه کې د ځای نومونه راغلي دي اخېستې او په خپله مقاله کې مې د بېلابیلو ماخذونو په ګټې اخېستنې سره هغه بیتونو کې د بهرني

ځای نومونو تشریح کړې ده.

په دې مقاله کې هڅه شوې چې له ډېرو ګټورو او معتبرو ماخذونو څخه ګټه واخېستل شي. آشنایی با شهرهای جهان، جغرافیه تاریخي افغانستان، د خوشحال خان کلیات او نور هغه اثار دي، چې په دې مقاله کې مې ورڅخه پوره پوره ګټه پورته کړې.

**د څېړنې موخې**

**اصلي موخه**

د خوشحال خان په کلیاتو کې د بهرني ځای نومونو د څېړنې او سپړنې په اړه څېړنیزه مقاله وړاندې کول.

**فرعي موخې**

د مسلک له مخې زده کړیالانو او مسلکي غړو ته درسي مواد په واک کې ورکول.

د پښتو ځانګې غوښتنه او اړتیا په پام کې نیول.

**د څېړنې پوښتنې**

**د څېړنې اصلي پوښتنه**

۱. خوشحال خان خټک ولې په خپلو شعرونو کې د بهرني ځایونو نومښودنه کړې؟

**فرعي پوښتنې**

۱. د خوشحال خان خټک د کلیاتو نومښود څه ارزښت لري؟

۲. خوشحال خان خټک په خپل شعرونو کې د کومو بهرني ځایونو یادونه کړې ده؟

**د څېړنې روش او میتود**

د دې لپاره چې یوه څېړنه په ښه او بشپړ ډول سرته ورسیږي، نو اړتیا ده، چې څېړونکی د ځان لپاره د څېړنې میتود وټاکي، ځکه چې د میتود ټاکل څېړونکی له خطا او ښویدنې څخه ژغوري، نو ما هم د دې مقالې د بشپړولو لپاره له کتابتوني ډول او تشریحي، توضیحي میتود څخه کار اخېستی دی.

**د څېړنې ارزښت**

په دې څېړنه کې مې د نورو ژبو له ماخذونو څخه ګټه پورته کړې، ترڅو د لوستونکو په واک کې کره مواد وړاندې کړم. د دې څېړنیزې مقالې په مرسته به څېړونکي او لوستونکي وکولای شي، چې د خوشحال خان په کلیاتو کې د راغلو سیمو او ځایونو په اړه کره معلومات

ترلاسه کړې.

خوشحال خان د داسې بهرني ځایونو نومونه يې په خپلو اشعارو کې ذکر کړې، چې په اوسنی وخت کې د دې ځایونو نومونه بدل شوي دي، چې ما دغو هېر شوو نومونو ته هم په دې مقاله کې اشاره کړې ده.

**د څېړنې فرضيه**

آیا د دې امکان شته، چې د خوشحال خان په کلیاتو کې د بهرني ځایونو نومونه موجود وي؟

**د خوشحال خان خټک لنډه پېژندنه**

خوشحال خان خټک د (۱۰۲۲ هـ . ق) کال د ربیع الثاني په میاشت کې، چې د (۱۶۱۳ ع) کال د مې او جون سره سمون خوري په اکوړه کې وزیږید، د خوشحال پلار شهبازخان نومیده، چې کورنی يې د خټکو خانان وه.

خوشحال خان خټک له ځوانی څخه د تحصیل ترڅنګه يې له ښکار سره هم خپله مینه پاللـه، خوشحال خان عالم فاضل انسان و، دی د شیخ رحمکار کاکا مرید و او اسلامي علوم يې د مولانا عبدالحکیم سیالکوټي او د شاه ویس صدیقي ملتاني په صحبت کې د کېناستو نتیجه وه. (۸ : ۲۳م)

پوهاند حبیبي لیکلي، چې خوشحال خان په کوچینوالي کې د خپلې زمانې مروجه علوم ټول ویلي وو، د ده له کلامه ښکاري، چې ده اسلامي علوم لکه فقه، حدیث، تفسیر او نور عقلي او فلسفي علوم لکه منطق، حکمت او ادبي علوم د فصاحت او بلاغت اصول لکه معاني، بیان، عروض، قافیه او نور ټول ویلي وو. (۶ : ۱۸م)

خوشحال خان په ډنبره کې تر پناه اخېستلو وروسته ډېره موده ژوندی پاتې نه شو او د روه د هېواد دا ستر ویاړ او د توري او قلم خاوند تر حیرانوونکو بریالیتوبونو وروسته په (۱۱۰۰ هـ . ق) کال د کب د میاشتې په لومړی نېټه د جمعې په ورځ د لسګونو نا امیدیو سره د (۷۸) کالو په عمر له دې نړی څخه سترګې پټې کړې او د ارمانونو څخه ډک او د پښتنو څخه ګیله من لاړ. (۸ : ۱۲۶م)

**د خوشحال خان خټک په کلیاتو کې بهرني ځاینومونه**

له یوې ژبې څخه بلې ژبې ته د لغاتو یا نومونو تګ راتګ په بېلا بېلو وختونو کې په مستقیم یا غیر مستقیم ډول سره ننووځي. د دغه ډول لغتونو یا نومونو تګ راتګ د یوې ژبې څخه بلې ژبې

ته د اقتصادي، سیاسي، تاریخي اجتماعي، کلتوري او تجارتي اړیکو له مخې رامنځته کیږي، چې دغه ډول لغتونو ته په ژبه کې پردي یا مستعار لغتونه ویل کیږي. (۱۲ : ۴۶ م)

پښتو ژبې ته هم د مستعارو لغاتونو د راتګ لړۍ له ډېر پخوا څخه را روانه ده او د شاعرانو او لیکوالو په لیکنو کې تر سترګو کیږي؛ څکه په نړۍ کې هیڅ مجرده ژبه نشته، چې هغه دې د دغه ډول لغاتونو له راتګ څخه خوندي وي. پښتو ژبې ته هم ډېر لغاتونه یا نومونه له هغو ژبو څخه راننوتلي، چې د دغې ژبې ویونکو اړیکې ورسره په یو نه یو ډول موجودې وې، لکه : عربي، فارسي، هندي، انګریزي، ترکي، ایټالیوي او نور...

د خوشحال خان خټک په کلیاتو کې هم موږ د دغه ډول ډېرو لغاتونو او نومونو سره مخ کیږو، چې په نورو سیمو یا ژبو پورې اړه لري، چې د ګرامر له مخې هم په بېلا بېلو ډلو پورې اړوندیږي. دا چې موږ په دغه لیکنه کې یوازې په بهرني او خارجي نومونو بحث کوو، دغه لغات یا نومونه د خاصو نومونو په ډله کې راځي، چې په لاندې ډول یې هر نوم تر بحث او څېړنې لاندې نیسو.

خیرآباد لره دې رایشي لښکره
چې احوال د غلیمانو شي تباه

(۱۵: ۱۸۹م)

بهاګ نګر او خیرآباد د حیدرآباد زاړه نومونه دي، چې دغه ښار محمد قلي قطب شاه د ګولکنډې پاچا له ګولکنډې ښار نه د درو یا څلورو کروهو په فاصله آباد او پایتخت کړی و، څکه چې د ګولکنډې هوا او اوبه ښې وې. نوی ښار یې د خپلې معشوقې بهاګ مستي په نامه بهاګ نګرو ونوموه، خو بیا یې ورله د خپل زوی په نامه حیدرآباد ونوماوه ، خو ډېره موده په عوامو کې د خیرآباد په نامه مشهور و. (۱۸ : ۲۲۱م)

د ډیلي بادشاه به شکته کا له تخته
که شین خال د دواړو وروڅو ترمنځ کیږدي

(۱۵: ۲۵۱م)

ډیلي، ډهلي. دیلي د هندوستان په شمال کې یو کوچني ایالت (سټېټ) دی، چې پراخوالی یې (۸۵۷) کیلومتره مربع دی. (۳ : ۱۴۶۳)

ډیلي د هندوستان اوسنی مرکز دی او د ختیځ له مهمو مشهورو کلتوري، صنعتي ، تجارتي او

تاريخي ښارونو څخه دی، د ډيلي ښار اوس دوې برخې لري، چې يوه ته يې زوړ ډيلي وايي، چې د زړې جامع جومات، فتح پورې او لال کلا په شاوخوا کې آباد دی، بل يې نوی ډيلي دی، چې له (۱۹۳۱ ـ ۱۹۰۱م) کلونو پورې يې د جوړولو بندوبست شوی دی. د ډيلي ښار د جمنا پر غاړه آباد دی. د نفوسو شمېر يې ( اردو انسايکلو پيډيايا) د کښنې له مخې (۲۳۴۴۰۵۱) وګړي ښودل شوی دی. (۹: ۲۱م)

په ډيلي کې د اسلامي مدنيت د فني عمارتونو ډيرې ښې او زړې نمونې ليدل کيږي، لکه: لال کلا، د ډيلي جامع جومات، فتح پورې جومات، قطب مينار، پرانا کلا(زړه کلا) د سوري شېرشاه او نورو سوري او لودي پښتنو د دورې آثار، د قطب الدين بختيار کاکي (۵۸۳ – ۶۳۳ ق. ۱۱۸۶–۱۲۳۵م) مزار، د خواجه نظام الدين مقبره او همدارنګه د نوي عصر ډېرې ښې ودانۍ او نور داسې د ليدو ځايونه په کې شته. (۳ : ۱۴۶۳)

کـه مې يـو ځـلـه رسـد وشی تر سنده
نور دې مه وينم په تورو سترګو هنده

(۱۵ : ۱۳۲م)

دا کلمه هم ډېره تاريخي ده او زړه بڼه يې په ريګويدا کې (سپنه سندهو) مکرراً راځي، يعنې اووه روده چې دغه نوم په اوستا کې کټ مټ دغسې (هپته هندو) ذکر کيږي. په دې علاقه کې چې اووه روده بهيدل، يوه حصه يې اوسنی پنجاب دی، چې پنځه رودونه په کې بهيږي. سيندهو په ويدي سندرو کې صرف د رود په معنا دی، چې هر وخت د اوستا ژبه کې د ويدي ژبې (س) په (هـ) بدليږي. په اتهروا ويدا کې هم دا کلمه په دغو دواړو معناوو راغلې ده. کله مطلق رود ته وايي او کله انډوس ته سندهو ويل شوی دی. (۹ : ۱۵۵م)

زه يې هـند لـره روان کـړم
په نشـاط او په طـرب شول

(۱۵ : ۷۲ م)

هند د همالیي غره په جنوب کې پروت دی، ختيځ ته يې بنګله دېش او برما، لويديځ ته پاکستان او عربي سمندر، جنوب ته د هند سمندر دی. مساحت يې (۳۲۵۶۰۰۰) کيلومتره مربع دی. د وګړو شمېر يې شپـږنيم سوه ميليونه تنه دی، حکومت يې صدراعظمي دی. هند له انګريزانو نه خپله خپلواکۍ تر اوږدې مبارزې وروسته د (۱۹۴۷ع) د اګست مياشتې پر پنځلسمه

تر لاسه کړه او تر آزادۍ وروسته پر دوو برخو (هند او پاکستان) وويشل شو. هند کې د مسلمانو شمېر (اته سوه ) ميليونه، د عيسويان شمېر(پنځه ميليونه)، د بودايانو شمېر (درې ميليونه)، د زردشتيانو شمېر (يو لک) او د يهوديانو شمېر (دېرش زره) وګړو پورې اړکل شوی دی. (۹ : ۳۷م)

يو بادشاه و په ايران کې

بل بادشاه و په توران کې

(۱۵ : ۷۹۷ م)

په پورته بيت کې د ايران يادونه شوې ده، د ايران پلازمينه د تهران ښار دی، خلک يې په فارسي ژبې خبرې کوي او د پيسو واحد يې ریال تومان دی.

د ايران مساحت (۱۶۸۱۹۵) کيلو متره مربع ته رسيږي او د نفوسو شمېر يې (۷۷۳۵۶۶۶۹) وګړو ته رسيږي، چې په آسيا کې موقعيت لري او څلور خواوې يې په دې ډول دي: شمال ته يې آذربايجان، ارمنستان، ترکمنستان، لوېديځ ته يې ترکيه او عراق دي، سهيل ته يې د فارس خليج او د عمان درياب دی او ختيځ ته يې د افغانستان او پاکستان هېوادونه دي. د دې هېواد دين اسلام دی او اکثره وګړي يې شيعه او سوني مذهبه دي. د تيلو او نفتو ډېر کانونه لري، چې په دې برخه کې د نړۍ له لويو صادرونکو هېوادونو څخه ګڼل کيږي. (۱۷ : ۹۲م)

لبت از آب حيوان آب برده

رخت نور از رخ مهتاب برده

(۱۵ : ۱۱۸۶ م)

آب حيوان، آب حيات، چشمه حيوان، آب خضر، آب سکندر، د حيات اوبه، د ژوند اوبه او جاوداني اوبه، چې په عربي ورته نهرالحياة وايي، د هغه خيالي چينې نوم دی، چې وايي يو ځل اوبه ترې وڅښي ، نو هميشه به ژوندی يې.

په ادب کې د آب حيات يا آب حيوان تعبير د ښه او نازک کلام او وينا کنايه ده، په تصوف کې ترې عشق او حقيقي مينه مرام ده، چې د همېشني ژوند باعث کيږي. آب خضر هغه لدني (خدای جل جلاله ورکړه) علم ته وايي، چې په مبارکو پيغمبرانو او سپېڅلو وليانو پورې خاص وي، د ځينو رواياتو له مخې سکندر په دې چينې پسې ډېر ګرځېدلی وو، خو موندلې يې نه وه؛ روايات ښيي چې تر سکندره د مخه حضرت خضر او الياس(ع) دا چينه موندلې او اوبه يې ترې

ځښلي وي. (۱۰ : ۵ م)

ته په مثال د دانې يې

**دا فلک لکه آسیا**

(۱۵ : ۴۵۰ م)

په نړۍ کې تر ټولو لویه وچه د آسیا براعظم دی، چې ټول مساحت یې (۴۵۰۶۶۰۰) کیلومتره دی. د آسیا په لویه وچه کې (۴۶) هېوادونه شتون لري. (۱۸ : ۱۷۲م)

د نفوس له مخې د آسیا د لویې وچې ګڼې سیمې د آسیا جنوبي سیمې لکه پاکستان، هند او بنګله دیش او جنوب ختیځې آسیا ځیني برخې لکه اندونیزیا او ختیځه آسیا بیا لکه چین، کوریا ټاپووزمه او جاپان دي. د دې سیمې په هېوادونو کې په منځني ډول د نفوسو ګڼوالی په یو کیلومتر مربع مساحت کې له (۱۰۰) تنو څخه زیات دی او په ځینو ځانګړو ځایونو کې د یو کیلومتر مربع په مساحت له (۱۵۰) تنو څخه زیات دي، چې علت یې موسمي آب و هوا، د کرهنیزو ځمکو، د وریجو د کرنې ښه شرایط او د نفوسو طبیعي زیاتوالی دی.(۱۷: ۹۳م)

دا یې سحر د بابل د مځکې راوړه
چې درست اوښ په کوت کې ومانده حاجي

(۱۵ : ۷۶۵ م)

د بابل اصلي نوم په سومري ژبه کې کارنګیررا او وروسته تر هغه دا کادی یا بلو په ژبه یعنی د خدای دروازه ترجمه شوی. بابل په عراق کې د یو ښار نوم دی، چې د ملګرو ملتونو کلتوري او علمي اداري (یونسکو) د عراق بابل ښار د نړیوالو میراثي ځایونو په نوملړ کې راوستلی دی. عراق د یونسکو په انساني میراث کې د بابل ښار د راوستلو لپاره مخکې ډېر کمپاین وکړ. ویل کیږي چې دا ښار (۴۰۰۰) کاله لرغونتوب لري، بابل د نړۍ په اوو سترو عجایبو کې هم راغلی، چې ډېر باغونه لري. په تیرو څو کلونو کې دغې تاریخي سیمی ته د جګړو اوناامنیو له کبله ډېر زیان اوښتی.

راغلم په شهر لاس په لاس شوه له ما ورکه
کوی په کوی جار وځم پسې غواړم بخارا

(۱۵ : ۵ م)

بخارا د ازبکستان یو له لرغونو ښارونو څخه دی. د بخارا ښار په ساحه کې د لرغونپوهانو د شل

مترو ژورو کېندنو په پایله کې د کورونو، د ټولګټو ودانیو پاتې شونې، د کور لوښي، سکې ، وسلې او د زرګرۍ شیان موندلي، چې له میلاد نه مخکې په څلورمه پیړۍ پورې تړاو لري. د نوموړي ښار د نفوسو شمېر (۳۶۳۴۰۰) وګړو ته رسیږي. دین یې اسلام دی او د یونسکو په فرهنګي لړلیک کې ځای لري. په دې ښار کې د دري ژبې لویو ادیبانو لکه ابو علي سینا، عمر خیام، رودکي او فردوسي ژوند کړی دی.( ۱۷ : ۷۷۴ م)

په عراق کې د بخت نصر په لاس د جوړ شوي ښار نوم دی، چې دویم ځل منصور ودان کړ او د بنو عباس د خلیفه ګانو پلازمینه وه او اسلامې پوهنتون یې د مسلمانانو له عهد راهیسې نړیوال نوم ګټلی دی. مولوي قبول محمد په خپل هفت قلز کې د بغداد د تسمیې وجه داسې ښیې، د یوه ښار نوم دی، چې په اصل کې باغ داد (د عدل باغ) و، ځکه دلته به نوشیروان هر هفته په دغه باغ کې عام مجلس لرلو، چې د زمانې په تېریدو سره (الف) ترې وغورځېده، دغه ښار منصورین علی بن عبدالله بن عباس (رض) ودان کړ، د اسلام ستر عارف او د قادریه طریقې مخکښ حضرت شیخ عبدالقادر جیلاني مزار هم په بغداد کې دی. (۹ : ۶۲م)

شاه جـهان لا په اندوه د ترکستان و
تـا نـاګـاهـه بـلـه چـار کړه ور عیانه

(۱۵ : ۹۰۶م)

ترکستان پارسی لفظ دی، چې د ترکانو د ژوند کولو ځمکې په معنا دی او هېڅکله په یوې ځانګړې منطقې پورې اړه نه لري ، کله چې روسانو په (۱۸۶۰م) کال کې د منځني آسیا او قزاقستان ځینې سیمې تر خپلې امپراتورۍ لاندې راوستلې نو په دې سیمه باندې د ترکستان نوم کېښودل شو. (۱ : ۳۸۸م)

د چـین او ماچـین په ملک کې ډېـرې ګلفامې
د هند په لته هم خال خال به چیرته څرګندیږي

(۱۵ : ۵۳ م)

چین یو آسیایي هېواد دی، چې پیکنګ یې پلازمینه ده، د وګړیو شمېر یې (۸۰۰) میلیونه دی، (۹،۱۷۰۰۰) کیلومتره مربع مساحت لري، د حکومت طرز یې کمونیستي دی، کمونیست چین تر دویم ستر جنګ وروسته د ماوتسي تونګ په مشرۍ د چیانکاشیک ځواکونه له اصلي چینه وایستل. د چین ولسي مذهب بواییت او لوړه طبقه یې د کالفیوش ( کا، فیوش) مذهب پیروان

دي.

په ټوله دنیا کې یې ژبه ډېر ویونکي لري او د نړۍ تر ټولو نه لوی فوځ لري، چې د پیلزآرمې په نوم یادیږي او د نړۍ لوي دیوال په چین کې دی. (۱۸ : ۱۰-۱۱م)

چین په دریو لویو وچو اروپا، آسیا او افریقا کې موقعیت لري، نو په سېمه کې نړیوال او لویو قدرتونو په منځ کې له ستراتیژیک اهمیت څخه برخمن دی. چین په شمالي نیمه کره، آسیا په ختیځه برخه او د آرام سمندر په لویدیځ ساحل کې پروت دی، چې (۹،۶)میلیونه کیلومتره مربع په لرلو د نړۍ دریم لوی هېواد دی.

چې هومره ښه مخونه په دا خاورو کې ګور دي
چې دوی لـره وردرومم ګـور ومـا و ته ارم دی

(۱۵ : ۲۱۷م)

د کعبې انګړ، د کعبې شاه خو د قدر او درناوي وړ ځای دی، هغه ځای چې له محرم نه پرته بل څوک نه شي ورننوتلای، د کور شاوخوا، د کور غول، د سلطنتی ماڼیو هغه خاص ځایونه، چې وینځې او ښکلې ښځې په کې ساتل کېدې، د دغو حرمونو بنسټ لومړی ځل عیسوي باز انطیني شاهنشاهانو کېښود. حرم، حرام، حریم، ارم او احرام هم له همدې ریښې څنې دي، مکې معظې او مدینې منورې ته له همدې امله حرمین الشریفین وایي، چې کعبه او د آنحضرت صلی الله علیه وسلم مطهره روضه په کې ده او د درناوي او عزت وړ ځایونه دي. (۱۴ : ۱۵م)

توغي حج وکړ په روم په شـــام شو
کـــور تـــه چې راغی په احترام شو

(۱۵ : ۴۴۵م)

روم، روما د ایټالیې پایتخت دی، چې د ټیپر د سیند پر غاړه پروت دی. دغه ځای د روم جمهوري، رومي امپراتوري او د کلیسایي دولتونو مرکز و، چې په ( ۷۵۳ ق.م) کې جوړ شوی و. (۱۸ : ۲۱۴م)

لرغونی شام د جغرافیه له لحاظه په غربي آسیا کې ډېر لوی مساحت لري، چې غرب ته یې د مدیترانې او فرات ساحلونه، شمال ته حجاز، جنوب ته شرقي روم او ترکیه موقعیت لري. مشهور سند یې د فرات په نامه سره یادیږي، په اسلامي تاریخ کې تر ټولو لرغونی ځای ګڼل کیږي او د اسلامي جنګونو په تاریخي دوران کې په ځانګړي ډول هغه جنګونه چې له اروپایانو سره شوي،

لوی سنګر تیر شوی. شام د اسلامي نړی د تمدن مرکز دی له دویم نړیوال جنګ وروسته شام په څلورو هېوادونو سوریه ، اردن ، فلسطین او لبنان باندې وویشل شو. (۱۳ : ۹۷۰م )

بنگر که باغبان قضا در ریاض حسن

صانی جـان سکنـدلان را بـیافـریـد

(۱۵ : ۱۱۷۷م)

د سعودي عربستان پایتخت ریاض دی، اکثریت خلك یې په عربي ژبه خبرې کوي، پولي واحد یې ریال سعودي او شاهي حکومت لري، چې په آسیا کې موقعیت لري. د سعودي عربستان مساحت (۲۱۴۹۶۹۰) کیلومتر مربع دی، چې ټول نفوس یې (۲۹۱۹۵۸۹۵) وګړو ته رسیږي. سعودي عربستان له دې هېوادونو سره سرحدونه لري: اردن ، کویټ، عربي متحده امارت، قطر، فارس خلیج ، عمان او یمن، چې مکه و مدینه یې مشهوره ښارونه دي.

که به شهد یې ساتې مزه یې نه وي

ناشپاتی د سمرقند د هند په څمکو

(۱۵ : ۱۱۱ م )

سمرقند ښار د سیحون او جیحون ترمنځ پروت دی، سمرقند ښار په اسلامي دوره کې ډېر ښکلی او له نعمتونو ډك ښار و او یو ښار هم په ښکلا او سپیڅلتیا کې ورسره سیالی نه شوه کولای. هوا یې ډېره ښکلې ده، د سمرقند ستر بازار د ( راس الطاق ) په نامه یادېده، څلورو خواوو نه یې یو نیم دایروي دېوال تاو وو. دغه ښار تاریخي ارزښت لري او د نړی د بېلابېلو هېوادونو ډول ډول سامانونه په کې پیدا کېدل، سمرقند د ځینو نورو ښارونو په څېر په (۶۱۶ هـ ـ ۱۲۱۸م) کې د مغولو په یرغلونو کې ړنګ شو.

سمرقند په (۹۷ق ـ ۱۲۶۲م) کې د ګوډ تېمور له خوا پایتخت کړل شو، چې مقبره او نور آثار یې په همدغه ښار کې دي. سمرقند په منځنۍ آسیا کې د ازبکستان یو مشهور او ډېر لرغونی ښار دی، پراخوالی یې ( ۴۵۰۰۰۷ ) کیلومتره مربع دی. (۳ : ۱۸۶۳ م)

که هوا یې د عراق د خراسان وای

د جنـت به د ډیـلي سره غیرت و

(۱۵ : ۵۹۱ م)

عراق په لغت کې د سیند غاړې او ساحل ته وایي. عراق د دجلې او فرات سیند پر غاړه پروت

دی، لرغونی نوم یې (موسو پوتیما) دی، چې مرکز یې د بغداد ښار دی ، مساحت یې ( ۴۴۴۰۰۰) کیلو متره مربع دی، د وګړو شمېر یې (۱۳) میلیونو ته رسیږي. د حکومت دود یې جمهوریت او پولي واحد یې دینار دی. (۱ : ۵۵۳۳ م)

بیا دې تور باڼه د دواړو ستر ګو کـربلا
بیا دې تورې زلفې تر ښامار و بد بـلا

(۱۵ : ۷م)

د رنځ او مصیبت مقام، د عراق به ښېدیا کې د هغه ځای نوم دی، چې امام حسین ( رض ) په کې د یزید له خوا له اویاوو څخه زیات ملګرو او کورنۍ سره په شهادت ورسید. کربلا یو وچ ډاګ و، کربلا هغه ځای ته وایي، چې اوبه په کې نه وې، د شهیدانو هدیرې ته هم کربلا وایي، دا له کرب ( درد ) نا آرامي ، مصیبت او بلا نه جوړه کلمه ده. (۱۱ : ۲۳ م)

چې تا منع کوي د بت په عشق کې ورته وایه
کعبه د کاڼو ګوره ترودي څه خلك احرام کا

(۱۵ : ۲۱ م)

کعبه، شریفه، کابه، بیت الله، د کعبې کور، بیت الحرام، د سعودي عربستان به مکه معظمه کې یوه مکعب شکله کوټه ده، چې اته متره لوړوالی لري او ضلعې یې هم په دغه اندازه دي. (۳ : ۲۵۸۴ م)

کعبه شریفه د مسلمانانو هغه متبرك او سپیڅلی مقام دی، چې هر کال په کې د حج فریضه ادا کیږي. د اسلامي روایاتو له مخې آدم علیه السلام لومړی ځل کعبه ودانه کړې وه او بیا د حضرت نوح علیه السلام د زمانې تر توپان وروسته حضرت ابراهیم علیه السلام د اسماعیل په ملګرتیا ودانه کړه او د کونجي (کلي) ساتنه یې د اسماعیل علیه السلام د اولادې پر غاړه شوه، وروسته پرې بني جرهم او بیا بنو خزاعه برید وکړ او د بوت نمانځنې بنسټ په کې کېښودل شو، بیا د قریشو لاس ته ورغله. د پخواني اسماعیلي نسل تسلسل یې جاري کړ. حضرت اسماعیل علیه السلام د کعبې ودانولو پر وخت له جبرائیل علیه السلام نه حجرالاسود ترلاسه کړ، چې اوس هم د کعبې د ودانی په جنوب ختیځ اړخ کې لګیدلی ښکاري او د حاجیانو د حج د مناسکو یو رکن دی. (۱۴ : ۳۹ م)

زهی قدت که بسر و التفات او نبود

زهی چه ذقنت چاه یوسف کنعان

(۱۵ : ۱۱۱۷م )

کنعان د هغې سیمې نوم دی، چې په انجیل کې د فلسطین په نامه یاده شوی دی، په لومړي سر کې کنعان یوازې هغه ځای ته ویل کېده، چې اوس د اردن سیند په لوېدیځ کې پروت دی، د کنعان کلمه د حضرت یوسف علیه السلام کیسې ته منسوبه ده. (۱۸ : ۲۳ م)

په کوفه کې یې میلاد و
په مکتب کې د حماد و

(۱۵ : ۱۰۰۲م)

کوفه په عراق کې یو ښار دی، چې د فرات د رود په لوېدیځ کې واقع دی، بنسټ یې په (۱۶ هـ . ق) کال د قادسیې تر پېښې وروسته سعد بن ابی وقاص ایښی دی. کوفه د حضرعلي (رض) بن ابي طالب په وخت کې داراخلافه وه. (۳ : ۲۶۹۴ م)

نو له دې کبله نوموړی ښار ډېر تاریخي ارزښت لري. د کوفې ښار شرق نه فرات سیند، لوېدیځ نه دښته، جنوب او شمال شرق ته یې ذي الکفل موقعیت لري، نوموړی ښار ښې زراعتي ځمکې لري، چې په درې کیلومترۍ کې یې د فرات سیند بهیږي.( ۵ : ۲۳ م)

موسی په کوه طور د تجلی طاقت رانه وړ
تا ولیده د سر په سترګو خپل مولی بهتر

(۱۵ : ۱۷۳ م)

کوه طور د شام هغه مشهور غر دی، چې خدای جل جلاله په کې حضرت موسی علیه السلام ته خپله تجلا وښوده او شرعي احکام یې ورته په کې نازل کړل. (۵ : ۲۳ م)

تـر مکې ، تر مدینې لاړې حـاجـي
لا د نفس له خوبه هیڅ نه یې ناجي

(۱۵ : ۳۸۹ م)

المدینه منورة، یثرب، طیبه، طابة، ارض المهجر، الحصینة ، مدینه الرسول صلی الله علیه و اله وسلم، اکله القری و البلدان، الجابرة، المبارکة، البارة ، العذراء، المسکینة ، مضجع الرسول صلی الله علیه و اله وسلم، قریة الانصار.

مدینه منوره تر مکې معظمې وروسته د حجاز او عربو دویم مقدس ښار دی، چې مکې معظمې په شمال کې (۲۵۷) میله لیرې پروت دی، د رسول الله صلی الله علیه واله وسلم تر هجرت دمخه د مدینې نوم یثرب و، مګر د هجرت وروسته مدینه النبي (ص) ونومول شوه، چې په لنډون سره مدینه پاتې شوه او اوس مسلمانان ورته مدینه منوره یا مدینه طیبه وایي، مدینه په میداني سېمه کې پرته ده، اوبه یې ښې پرېمانه دي، د رسول الله صلی الله علیه و اله وسلم تر ورتګ د مخه دلته اوس و خزرج او د یهودو یو څو کلي شاوخوا ته پراته وو، چې په انقرې، خیر، فلام اوحجر مشهور وو، تر هجرت وروسته پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم د نبوي مسجد بنسټ کېښود، چې یوه خونه کې د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم مبارکه روضه او نړۍ د مسلمانانو زیارتځی دی، تر رسول الله (ص) وروسته هم مدینه د خلفای راشدینو مرکز و. د عثماني ترکانو د خلافت پر وخت له مدینې نه یو ښکلی ښار جوړ شو او د بیت المقدس او مدینې ترمنځ د اورګاډي پټلۍ هم و غځېدې.(۱۸ : ۱۲۵ م)

چې مکې لره څوک درومې په خره سور
که حاجي شي نه یې ننګ وي نه پیـغور

(۱۵ : ۳۲م)

مکه معظمه د حجاز هغه مشهوره سیمه ده، چې د خدای جل جلاله کور بیت الله شریف په کې دی ، د روایاتو له مخې دا ځای د ادم علیه السلام له وخته متبرک ځای دی. د مکې پخوانی نوم (بکة) و، چې په قرآن کریم کې هم په همدې نامه یاد شوی دی. مکه د هجرت تر اتم کاله د کفارو مرکز و، چې پر همدغه کال مسلمانانو د رسول الله صلی الله علیه وسلم په مشرتابه فتح کړ او له هماغې راهیسې هر کال دې ښار ته په لکونو مسلمانان د حج د فریضې د ادا کولو لپاره ورځي. (۱۰ : ۸۰ م)

که د سرو شونـډو سره غواړې تحقیق
د یـمن په مـلك بـه نـه وي دا عـقیق

(۱۵ : ۱۲م)

یمن صنعتي ښار دی، چې د وګړو ژبه یې عربي ده، پیسې یې یمن ریال دی، د حکومت ډول یې جمهوري دی. مساحت یې ( ۵۲۷۸۲۹ ) کیلومتره مربع دی، نفوس یې ( ۲۳۸۳۳۰۰۰ ) تنو ته رسیږي. د یمن څلورو خواوو څخه شمال ته سعودي عربستان، سهیل ته یې د عرب بحیره،

لوېدیځ ته یې د ساحل بحیره او ختیځ ته یې د عمان بحیره موقعیت لري، یمن په(۱۹۹۰م) کال په دوو هېوادونو ویشل شوی، چې یو یې عربي یمن(شمالي یمن) او بل یې جمهوري دموکراتیک یمن(جنوبي یمن) دی، خو وروسته دا دواړه هېوادونه سره یوځای شول او نوم یې جمهوري یمن پرې کېښود. د دې هېواد دین اسلام دی او په ټولو عربي هېوادونو کې د اقتصاد په لحاظ ډېر فقیر هېواد دی. (۴ : ۳۸م)

**پایله**

د خوشحال خان خټک د کلیاتو تر مطالعې وروسته دې پایلې ته رسیږو، چې خوشحال خان یو سیاح سړی و. نوموړي د خپلې شاعرۍ د نورو مفکوروي اړخونو ترڅنګ د هرې سیمې او ځای په اړه دقیقه او پوره مطالعه درلوده او په ژوندون یې ډېرو ځایونو ته سفرونه هم کړي و.

له ادبي پلوه د خوشحال خان خټک له کلیاتو څخه د بهرني ځای نومونو رایستل لوړ ادبي ارزښت لري، چې د دې سیمو د زیاتو پېژندلو لپاره زموږ سره زیاته مرسته کوي. خوشحال خان د داسې بهرني سیمو نومونه یې په خپلو اشعارو کې ذکر کړې دي، چې په اوسنۍ زمانې کې د دې سیمو نومونه بدل شوي دي، چې ما دغو هېر شوو نومونو ته هم په دې مقاله کې اشاره کړې ده.

**وړاندیزونه**

۱. د خوشحال خان خټک په کلیاتو کې د پښتنخوا زیات شمېر ځای نومونه شتون لري، چې باید په راتلونکي کې وڅېړل شي.

۲. دا چې زما څېړنه د یوې مقالې په حد کې ده، نو د خوشحال خان په کلیاتو کې زیات شمېر بهرني ځای نومونه پاته دي، چې د ځانګړې رسالې یا مونوګراف حوصله لري.

۳. د خوشحال خان خټک په کلیاتو کې د افغانستان زیات شمېر ځای نومونه شتون لري، چې څېړنه یې ډېر څه په لاس راکولای شي.

۴. که د خوشحال خان خټک په کلیاتو کې د حیواناتو او مرغانو د نومونو پېژندنه او څېړنه وشي، یو غوره کار به وي.

**اخځونه**

۱. ابوعبیده بن الجراح او نور... (۱۳۲۹ل). آریانا دایرة المعارف(اووه ټوکه). کابل: عمومي مطبعه.
۲. ارشاد، اورنګزیب. (۱۳۹۰ل). افغانستان پېژندنه (دویم چاپ). دانش خپرندویه ټولنه.

۳. امرخېل، عزیزالله او نور... (۲۰۱۲م). پښتو ـ پښتو تشریحي قاموس(درې ټوکه). کابل: میهن خپرندویه ټولنه.

۴. تنیوال، مولاجان. (۱۳۹۱ل). جغرافیه عمومي افغانستان. ننگرهار: مومند خپرندویه ټولنه.

۵. حبیبي، عبدالحی. (۱۳۶۲ل). جغرافیه تاریخي افغانستان. بنگاه انتشارات میوند، کتابخانه سبا.

۶. حبیبي، عبدالحی. (۱۳۷۱ل). د خوشحال خټک ملغلرې. قندهار: د طلوع افغان مطبعه.

۷. ځل، سیدنورالله. (۱۳۹۲ل). افغانستان پېژندنې لنډه لاره. ننگرهار: مومند خپرندویه ټولنه.

۸. شېرزاد، پښتون آقا. (۱۳۹۳ل). خوشحال پېژندنه(دویم چاپ). کابل: نویسا خپرندویه ټولنه.

۹. صفري، هانیه. (۱۳۹۸ل). آشنایی با شهر های جهان. زر قلم کیهان انتشارات.

۱۰. عارض، جیلاني. (۲۰۰۰م). افغانستان د ولایتونو جغرافیه. تهران: کتابخانه های سیار اریک.

۱۱. غبار، میرغلام محمد. (۱۳۶۸ل). جغرافیه تاریخی افغانستان. لینو تایپ دولتي مطبعه.

۱۲. غوربندی، میراجان. (۱۳۹۶ل). لغت پوهنه. کابل: نویسا خپرندویه ټولنه.

۱۳. فایض، فدامحمد. (۱۳۵۶ل). معرفی اسامی رجال و اماکن در قابوسنامه(مونوگراف). کابل پوهنتون.

۱۴. فرهنگ، میرمحمدصدیق. (۱۳۸۹ل). افغانستان په وروستیو پنځو پېړیو کې. کابل: میوند خپرندویه ټولنه.

۱۵. مشوانی، عبدالقیوم زاهد. (۱۳۸۷ل). د خوشحال خان کلیات. کابل: دانش خپروندویه ټولنه.

۱۶. مومند، قلندر او صحرائي، فرید. (۱۹۹۰م). دریاب قاموس. امید پرنټرز لاهور مارکېټ.

۱۷. نورستاني، اکبر شورماچ. (۱۳۹۷م). جغرافیه عمومي افغانستان. مؤسسه انتشارات زور.

۱۸. هوتک، زلمی. رونقي، شیرمحمد. شیرزی بابکرخېل، قدیم. (۱۳۹۰ل). د دولسم ټولگي تاریخ. د معارف وزارت د تألیف مطبعه.

# د دولتونو لپاره ملي ارزښتونه

لیکونکی: پوهنیار عرفان وزیر، شیخ زاید پوهنتون، حقوقو پوهنځي، اداره او دیپلوماسي څانګې استاد
تقریظ ورکوونکی: پوهنوال محمدالله مندوزی د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي استاد

**لنډیز**

د ملي دولتونو په رامنځ ته کیدو سره دولتونه په دې هڅه کې دي، چې ځینې ارزښتونه چې د همغه دولت او ملت سرنوشت ور پورې تړلی وي وساتي. دغه ملي ارزښتونه چې د ملي اهدافو او منافعو په نومونو سره هم ترې یادونه کیږي معمول دي. د دغه څیړنې په اساس خلاصه کیږي، چې د دولتونو ترمنځ په سیاسي، اقتصادي، کلتوري، نظامي ... او جغرافیوي برخو کې تفاوت او له بلې خوا د سیاسي مشرانو ترمنځ داخلي کشمکشونه، د داخلي اړتیاوو پوره کول او په خارجي سیاست کې د نورو لوبغاړو د رفتار بدلون هغه لاملونه دي، چې د دولتونو ترمنځ په ملي ارزښتونو ( اهدافو، منافعو) کې تفاوت او بدلون رامنځ ته کوي. ولې د دې ترڅنګ ځینې ارزښتونه چې ټولو دولتونو ته تقریباً د ملي ارزښتونو په عنوان مطرح دي، د دولتونو د نفس په بقاء (self- preservation) او د امنیت په ترلاسه کولو پورې تړل کیږي. د امنیت تامین د ټولو دولتونو لپاره د اهمیت د درجې له لحاظه په ټولو ارزښتونو باندې مقدموالی لري چې د امنیت څخه مقصد نفس او د نفس د ساتلو څخه مقصد د ارضي تمامیت ساتل، د خلکو ساتنه، د دولت استقلال او د سیاسي او اقتصادي سیستم بقاء ده.

**کلیدي ټکي:** ملي ارزښتونه، په تاریخي لحاظ د ارزښتونو موجودیت، د ارزښتونو متغیر والی، د ملي ارزښتونو درجه بندي.

**سریزه**

دا چې نړۍ په مختلفو دولتونو ویشل شویده او دولتونه هم د ځانګړي محدودې یعنې قلمرو لرونکي دي، نو دولتونو هم د خپلو ملي ارزښتونو د مشخص کولو وروسته د هغوی د ترلاسه کولو او ساتلو په هڅه کې وي. ولې د ملي ارزښتونو د ترلاسه کولو او ساتلو لپاره دولتونه دا هڅې د ساحي له پلوه په دوه برخو کې ترسره کیږي، یوه برخه یې په د اخلي سطحه یعني د قلمرو په داخل ترسره کیږي او دوهمه برخه، چې دولتونه یې د ملي ارزښتونو د ترلاسه کولو او ساتلو لپاره  ترسره کوي، د دولتونو د قلمروونو دباندې ترسره کیږي. هغه هڅې چې دولتونه یې په داخلي سطحه ترسره کوي د داخلي سیاست په نوم او هغه هڅې چې دولتونه یې د قلمرو د

باندې ترسره کوي د خارجي سیاست په نوم معهمول دي. داخلي سیاست د هغه مجموعه روشونو او تصمیماتو څخه عبارت دی، چې هر دولت یې د خپل قلمرو په داخل کې د خپلو ملي ارزښتونو (اهدافو، منافعو) د ترلاسه کولو، ساتلو او توسعې لپاره رامنځ ته کوي او بهرنی سیاست بیا د هغه مجموعه روشونو او تصمیماتو څخه عبارت دی، چې هر هیواد یې په نړیواله صحنه کې د خپلو ارزښتونو (منافعو، اهدافو) د حاصلولو او توسعې لپاره انتخابوي(۳: ۴۴).

بعضې وخت د یوه هیواد د بهرني سیاست څخه مقصد په نړیواله صحنه کې د ذکر شوي هیواد دیپلوماتیک رفتارونه دي. اګر چې بهرنی سیاست په عام ډول ( د کوم خاص هیواد د قید څخه بغیر) استعمالیږي په هغه صورت کې بهرنی سیاست او نړیوالې اړیکې په یوه معنی باندې اطلاق کیږي او مترادف هم وي. ولې د خارجي سیاست څخه  مقصود همغه لومړنی معنی ده چې په ابتدا کې ورته اشاره وشوه. په دغه لیکنه کې د دولتونو په ملي ارزښتونو، په تاریخي لحاظه د دولتونو لپاره ملي ارزښتونه او د وخت له لحاظه په ملي ارزښتونو بحث شوی.

**د تحقیق هدف**

د دغه څیړنې  موخه دا ده، په تاریخي لحاظ د د دولتونو ملي ارزښتونه، د دولتونو د ملي ارزښتونو توپیر او د دولتونو د ملي ارزښتونو په اساس د مختلفو سیاستونو غوره کول واضح شي.

**د کار مواد او میتود**

د څیړنې میتود کتابخانایي دی، په دغه څیړنه کې د مختلفو معتبرو کتابونو، انټرنیټي مقالو څخه استفاده شوي ده.

**په نړیواله صحنه کې د دولتونو ملي ارزښتونه**

کریستوفرهیل بهرنی سیاست داسې تعریفوي: هغه رسمي بهرني روابط دي، چې د یوه مستقل لوبغاړي (معمولاً یو دولت) له طرفه په نړیوالو اړیکو کې ترسره کیږي(۱: ۴).

بهرنی سیاست د ټولو هغو کړنو، دریځونو او پریکړو مجموعه ده، چې یو دولت یې د بل دولت او یا سازمان په وړاندې لري، چې له دې څخه یې اساسي موخه د مستقل دولت په څیر د خپلو ارزښتونو ساتنه ده(۵ : ۴۸).

د بیلابیلو دولتونو ترمنځ سیاسي او ډیپلوماټیکو کړنو او عکس العملونو ته نړیوال سیاست ویل کیږي. نړیوال سیاست د بهرني سیاست مطالعه کول دي، چې  پر بنسټ یې د سترو قدرتونو ملي ارزښتونه (ګټې، کړنې او قدرت) روښانه کیږي(۹: ۱۸).

په کلي طور سره د خارجي سیاست څخه هدف د یو هیواد د ملي ارزښتونو حفظ او تامینول دي. د ارګانسکي په عقیده (( د هر ملت هدف د راتلونکي څخه مطلوب تصویر دی او د هغې په لاره کې د ترلاسه کولو کوشش کوي)). په نړیواله صحنه کې د هیواد د منافعو ساتلو او د اهدافو ترلاسه کولو لپاره هر هیواد په خاص ډول کړنې ترسره کوي. کیدای شي دوه هیوادونه په نړیواله صحنه کې د مشابه ارزښتونو د ترلاسه کولو لپاره متفاوتې لارې خپلې کړي. لکه څرنګه چې افراد هم د مختلفو او متضادو ارزښتونو (اهدافو او منافعو) لرونکي دي. هیوادونه هم مختلف ارزښتونه (اهداف، مقاصد او متفاوتې منافع) لري ځکه هیوادونه مختلف سیاسي او اقتصادي سیستمونه، اجتماعي نظامونه، اداري او مختلفې طریقې او همداشان غیر برابر قدرتونه او د مختلفو لیډلورو سره رهبري نسبت ملي ارزښتو او نړیوالې صحلې ته وجود لري، چې ټول ذکر شوي عوامل د ملي ارزښتونو (اهدافو او منافعو) او سیاسي خط مشي په تعین او انتخاب کې تاثیر لرونکي دي(۳: ۴۵ـ ۵۱).

د بهرني سیاست او ملي ارزښتونو د مختلفوالي اصلي عوامل: ۱ـ د قدرت له نظره د هیوادونو نه یوشانوالی، ۲ـ د هیوادونو د مختلفو رهبرانو موجودیت، ۳ـ په هیوادونو کې د نفوذ لرونکو ډلو نه یوشانوالی دی(۶: ۱۴۴).

هغه مهم عوامل، چې د ملي ارزښتونو په سلسله مراتبو کې د لوړیتوبونو او بدلونونو سبب ګرځي. د سیاسي نخبګانو ترمنځ داخلي کشمکشونه، د نړیوال سیاست په ډګر کې د دولتونو د قدرت ښودلو د زیاتوالي سیاست، د داخلي اړتیاوو رفع کول او بلاخره د نورو لوبغاړو د رفتار بدلون څخه عبارت دي(۸: ۸۷).

نظامي امادګي، اقتصادي پرمختګونه، جغرافیوي موقعیت، ایډیالوژي خاصتآ ناسیونالیزم، د حکومت ډول او د یوه هیواد بین المللي پرستیژ او همداشان بین المللي سیستمونه ( مثلآ په خاضر وخت کې (ویرې توازن ) هم د هغه جمله عواملو څخه دي، چې د یوه هیواد په خارجي سیاست کې د د ملي ارزښتونو (اهدافو او منافعو) په انتخاب او یا تعقیب کې مستقیم دخالت لري او د دې موجب کیږي چې دولتونه ذکر شوو عواملو ته په توجو او ارزیابی سره خپل بهرني ارزښتونه (اهداف او منافع) تعین او تعقیب کړي. نو له دې وجې اولین اساسي سوال او مهم مشکل د بهرني سیاست په تحلیل او تجزیه کې دا دی، چې د هیوادونو ملي ارزښتونه (اهداف او منافع) څه شی دي او ایا کولی شو هغوی په یو عمومي قالب کې راوړو او په جامعي جمله کې یې بیان

کړو؟

هغه دلایلو ته په توجو سره چې پورته ذکر شول مور نشو کولی د ملي ارزښتونو ( اهدافو او منافعو) په مورد یو کلي قانون استخراج کړو او یا یې بیان کړو چې هیوادونه دغه ... ارزښتونه په نړیواله صحنه کې تعقیبوي او د هغې د ترلاسه کولو په هڅه کې دي.

د دغه سوال په ځواب کې چې ملي ارزښتونه (ملي منافع) څه شی دي؟ درې ډوله شکلونه نور وجود لري: په دې معنا چې د اقتصادي او جعرافیوي وضعیت، د حکومتونو ډولونو، نظامي امادګی یا مثلاً پر بین المللي پرستیژ د اختلافاتو برسیره او د مشابه اهدافو د تحصیل لپاره د مختلفو لارو انتخاب، چې مخکې ذکر شول د هیوادونو د ملي ارزښتونو (اهدافو او منافعو) په تعین کې (۳) درې نور کلي شکلونه وجود لري:

۱ـ پر بهرني سیاست باندې د داخلي سیاست تاثیر.

۲ـ د مختلفو رهبرانو موجودیت.

۳ـ تاریخي اشکال.

**داخلي او خارجي سیاست** په شدت سره د یو بل مربوط او تړلي دي. په دې ترتیب مجموعه شرایط او د یوه هیواد داخلي سیاستونه ( د قدرت شرایط، سیاسي اوضاع، اقتصادي پرمختګ، جغرافیوي، فرهنګي، تاریخي وضعه، د حکومت ډول او وغیره) د خارجي سیاست په تصمیم نیونه او تعین باندې قطعي او زیات تاثیر لري. د بل هیواد شرایطو ته تفاوت کوي او دغه امر د یوه هیواد بل هیواد ته د خارجي هدفونو د اختلاف باعث ګرځي.

**د مختلفو رهبرانو وجود** په هیوادونو کې د ملي ارزښتونو (اهدافو او منافعو) د تشخیص نور اشکال دي، یعنې دا چې هغه ملي ارزښتونه چې د هیوادونو رهبرانو او تصمیم نیوونکو له لوري د ملي ارزښتونو په نوم ذکر کیږي واقعآ ملي ارزښتونه دي او یا دا چې صرف د هیوادونو د رهبرانو د شخصي ارزښتونو (منافعو او هدفونو) شاملول او د پوښښ لاندې راوستل دي، پوره مشکل کار دی. سره د هغه ارزښتونو چې د رهبرانو په وسیله عنوان کیږي، بعضې وخت فقط یو بل ارزښت ته د رسیدلو یوه وسیله وي. د ارزښت او وسیلې تشخیص زیات وختونه د اشکالو سره مخامخ کیږي.

**د تاریخي اشکالو** تشخیص په مورد د هیوادونو ملي ارزښتونه (اهداف او منافع) په نړیواله صحنه کې څه شی دي؟ دا دي چې د هیوادونو او بین المللي واحدونو ملي ارزښتونه (اهداف او منافع)

په مختلفو اعصارو کې متفاوت وو. د ملي ارزښتونو د تحول سیر یوه لنډه بررسي چې د څو تېرو شوو پېړیو په جریان کې تر نن ورځې پورې معمولاً د هیوادونو په واسطه په نړیواله صحنه کې د تعقیب او تحصیل وړ وه، ښکاره کوي چې د هیوادونو ملي ارزښتونو د بهرني سیاست په صحنه کې په هر دوران کې غالباً د یوه بل سره تفاوت لرلی دی مثلا: د قبایلو لپاره ارزښت د شنه زراعت او چینو ساتل وو، چې هغوی هلته اوسیدل او د هغو څخه یې استفاده کوله، په دې دوره کې نور دسته جمعي ارزښتونه مطرح نه وو او فقط که چیرې یو فرد د یوې قبیلې څخه د بلې قبیلې په واسطه زخمي او یا وژل کیدو په دې صورت کې د قبیلې د ټولو افرادو وظیفه دا وه چې د جبران او انتقام لپاره د زور سره یو ځای شي. د خارج سره د دیپلوماتیکو روابطو ایجاد او د عمومي رفاء تامین د قبایلو له لوري کم لیدل شوي دي. ډلې لکه Vikings، پخواني انګلوساکسون او Danes د سامان الاتو او غلامانو د ترلاسه کولو په چپاولګرۍ او بغاوت لاس پورې کوه او هغه خلک چې د نظامي لحاظه به کمزوري وو مغلوب او خاوره به یې ورڅخه تصرف کوله.

**د مذهب او فرهنګ توسعه** د هغه ارزښتونو څخه وو چې د زیات وخت لپاره یې د اسلامي، چینایي او رومي امپراطوریو د خارجي روابطو اساس او بنیاد تشکیلولو. اسلامي جنګونه چې د فرانسې دروازه او ټوله هسپانیه یې په بر کې نیولي وه او د منځینۍ اسیا او د افریکا شمال یې هم په خپل تصرف کې راوستل د اسلام د توسعې په خاطر وو. چینایانو او رومیانو د خپل حکومت د قلمرو څخه خارج خلک بربر او وحشي پیژندل او د خپل فرهنګ پراخوالی یې د خارجي ارزښتونو څخه یو اصلي هدف او معنوي رسالت ګڼلو. شمالي امریکا په لاتین امریکا کې د یوه قرن په حدودو کې خپل معنوي رسالت او د بهرني سیاست اساس د خپل فرهنګ او حکومتي سیستم پراخوالی ګڼلو له دې وجې وه چې د اروپا په قاره کې یې په سیاسي قدرت کې د عدم مداخلې سیاست انتخاب کړ، ترڅو په لاتین امریکا کې خپل ارزښتونه بهتر او زودتر ترلاسه کړي.

**په ۱۵ پنځلسمو او ۱۶ شپاړسمو پیړیو** کې اروپا کوچنیو واحدونو، هیوادونو او شهرونو منحصره کړي وه چې ټولو د روم امپراطورۍ څخه اطاعت کولو. په دغه دوه پیړیو کې بهرنی او نړیوال سیاست د شاهزادګانو او د کوچنیو واحدونو د اُمراوو، چې د فامیلي منافعو، د قدرت ښودلو، جاه طلبی او مذهب څخه یې سرچینه اخیستي وه خلاصه کیږي او د ذکر شوو واحدونو خارجي

ارزښتونه (اهداف او منافع) همغه د شخصي مقاصدو او مذهبي ارزښتونو تحصيل، توسعه ، د پرستيژ کسب او د ارضي پراخوالی وو. د روم امپراطورۍ خارجي ارزښتونه د قدرت توسعه او شخصي افتخارات، د ثروت زياتوالی او د يوې مسيحي امپراطورۍ ايجاد وو. د ذکر شوو ارزښتونو د توسعې لپاره د اسلام په وړاندې سليبي جنګونه، د مديترانې او مجارستان خاوره د روم امپراطورۍ په دوره کې د تصرف لاندې راغله.

**په ۱۷ اوه لسمه پیړۍ** کې د پروتستانتانو او کاتوليکانو مذهبي جنګونو نور نړيوال مسايل تر تاثير لاندې راوستل. شاهزادګانو او اروپايي امرا وو نورو دولتونو او افرادو ته د مذهب تحصيل او توسعه د خپلو اوليه وظايفو او ملي ارزښتونو څخه ګڼل. په دغه دوره کې نړيوال سياست د مذهبي ناامنۍ، جنګ او خونريزۍ سره يوځای وو. مذهب د داخلي او خارجي سياست د رفتار اصلي عامل او محرک وو، تر هغه ځايه چې بادشاهانو او امراوو خاص مذهب ته چې لرلو يې معرفي کيدل. خونريزي، ورانکاري، هرج او مرج چې د (۱۶۱۸ـ ۱۶۴۸ع) ديرش کلن مذهبي جنګ زيږونکی وو، د فرانسې د لوی انقلاب پورې يې په اروپا کې سابقه نه لرله. په خلاصه ډول دا چې په دغه دوره کې د اروپايي شاهزاده ګانو، امراوو او د روم امپراطورۍ خارجي سياست ارزښتونه د مذهب پراخوالی وو.

**په ۱۸ اتلسمه پيړۍ** کې د هيوادونو خارجي سياست د سلاطينو او آمرينو په شخصي، فاميلي، مذهبي، تجارتي او د ملي ارزښتونو په تعقيب او تحصيل ولاړ وو. په دغه دوره کې خارجي بازارونو، مهمو تجارتي لارو او ستراتيژيکو مواضعو ته لاس رسی د استعماري منافعو د کسب او حفظ لپاره د افريکا او اسيا پر خاوره تسلط پيدا کول هم د جاري ارزښتونو څخه وو.

**په ۱۹ نولسمه پيړۍ او د شملې پيړۍ په اوايلو** کې د هيوادونو بهرنی سياست په کمه اندازه په شخصي او فاميلي ارزښتونو ولاړ وو. په وروسته پاتې هيوادونو کې چې د سنتي، ديکتاتوري او نظامي حکومتونو لرونکي وو اوس هم شخصي، فاميلي ارزښتونه، د افتحار ترلاسه کول او د شخصي حکومت حفظ د خارجي سياست اساس او د هغوی ملي ارزښتونه تشکيلوي.

د ناسيوناليزم پديدې او د نورو مختلفو ايډيالوژيو په ظهور او پوختدګۍ، د اتومي سلاحګانو پيدايښت، د ارتباطاتو او مواصلاتو په واسطه د هيوادونو يو بل ته نيږدولی، همداشان د سړه جنګ ظهور او شدت، د ارزښتونو تحقق او هغه ارزښتونه لکه امنيت، رفاه، اقتصادي بازارونو او تجارتي لارو ته لاس رسی، پر ستراتيژيکو منافعو تسلط، د بين المللي سياست په صحنه کې د

هیوادنو د ایډیالوژۍ توسعې اساسي او اولیه نقش وړاندې کولو. له هغه څه څخه چې تیر شول داسې نتیجه اخیستلی شو چې ملتونو د تاریخي نظره متفاوت ارزښتونه (اهداف او منافع) لرل او د هیوادونو خارجي ارزښتونه نشوکولای چې په یوه جامعي جمله کې یې ذکر کړو او یا یې د یوه کلي قانون لاندې راوړو. دا چې ټول هیوادونه په نړیواله صحنه کې خاص ارزښتونه تعقیب وي. بناء پردې په نړیواله صحنه کې د ملي ارزښتونو (اهدافو او منافعو) په بحث کې باید د هر هیواد ارزښتونه په جدا ډول د قدرت عواملو، اقتصادي پرمختګ، جعرافیوي موقعیت، فرهنګ، د حکومت ډول او اجتماعي سیتم ته په توجو سره د تحلیل او تجزیې لاندې ونیول شي.

مورګنتا په نړیوالو اړیکو کې د (سیاسي قدرت) د مکتب بنیادګذار د دوهم نړیوال جنګ وروسته عقیده لرله چې د هر ډول سیاست هدف که څه هم داخلي وي یا خارجي او په کلي ډول سره هره سیاسي پدیده په حقیقت کې د قدرت لپاره کوشش دی (politics is a straggle of power) په دې معنا چې د هیوادونو ټول سیاستونه د لاندې درې ډوله ارزښتونو (اهدافو) او فعالیتونو په خاطر ترسره کیږي.

۱ـ د قدرت ساتل (حفظ) (To keep power)

۲ـ د قدرت زیاتوالی (To increase power)

۳ـ د قدرت نمایش (To demonstrate power)

هیوادونه د دغه درې ډوله ارزښتونو (اهدافو) په ارتباط د خپل ځان لپاره درې ډوله بهرنی سیاست انتخابوي: واضحه ده که هیوادونه د قدرت ساتلو (حفظ) ته تمایل ولري، نو د (موجوده وضعې د حفظ) (police of the status Quo) سیاست څخه پیروي کوي. هغه هیوادونه چې د نړیوال قدرت سره د خپلې ګټې په خاطر د رابطې تعیر د قدرت زیاتوالی غواړي د امپریالستي سیاست طرفداري کوي او بلاخېره هغه هیوادونه چې د قدرت نمایش یې هدف وي (که څه هم د قدرت حفظ او یا د قدرت زیاتوالی) د پرستیژ (Policy of prestige) د سیاست څخه پیروي کوي، نو د مورګینتا په نظر د هیوادونو ملي منافع او اهداف په ذکر شوو درې اهدافو کې خلاصه کیږي(۳: ۴۵ـ ۵۱).

هانس جي مورګینتا (۱۹۰۴ـ ۱۹۸۰): د سیاست د برخې لوبغاړي ګډې موخې او پایلې لري، د قدرت لاسته راوړل، ساتل او د نړیوالو باور د ترلاسه کولو په موخه د قدرت یا ځواک ښودل دي. هغه مخکې وایي: د بهرني سیاست موخې باید د ملي ارزښتونو (ګټو او اهدافو) پر بنسټ

تعریف شي او ملي ارزښتونه (ګټې) د قدرت یا ځواك پر اساس تعریفیږي(۱۰: ۲۳۲).
مورګینتا د ځواك د زیربنا لپاره د اتو اصلي لاملونو څخه یادونه کوي: ۱ـ جغرافیوي موقعیت، ۲ـ د طبیعي زیرمو شتون، ۳ـ صنعتي ظرفیت، ۴ـ د پوځي تیاري وضعیت، ۵ـ نفوس، ۶ـ ملي ځانګړتیاوې، ۷ـ ملي روحیه، ۸ـ د دیپلوماسۍ څرنګوالی.
ژان ژاک روسو وایي: ملي ګټې یو داسې اند دی، چې ملتونه په نړیوال چاپیریال کې د خپلو ګټو سره سم اغیز شیندونکي کوښښونه او هاندونه رامنځ ته کوي او پلي کوي. هغه مخکې وایي: که چیرې یو کس یا یو شخص ته یوازې خپل ارزښتونه او مصالح مطرح وي، په هغه صورت کې ټولنیز قرارداد نه رامنځ ته کیږي، په دې توګه د ملتونو ملي ارزښتونه (اهداف او منافع) هغه وخت ساتل کیږي او خوندي کیږي چې وګړي په ټولیزه او ټولنیزه توګه د نورو د خیر ښیګڼې او ارزښتونو لپاره فکر وکړي.
هینري جان ټیمپل (۱۷۸۴ـ ۱۸۶۵ع) چې په لارډ پالمرسټن هم یادیږي، په ۱۹ پیړۍ کې د انګلستان صدراعظم ؤ، د ملي ګټو (اهدافو) په اړه وایي: موږ تلپاتې ملګري او دښمنان نه لرو، یوازې زموږ ملي ګټې تلپاتې او دایمي دي او زموږ دنده دا ده چې خپلې ملي ګټې تعقیب کړو او ورته وفاداره اوسوو(۱۰: ۲۳۳).
بروکنګ انستیتیوت په واسطه د ملي منافعو تعریف داسې شوی دی: ( ملي منافع هغه مفادات دي د کومو د تکمیل لپاره چې یو ملت هلې ځلې کوي).
چارلس لارچ وایي: هغه موخې چې د پوره کولو لپاره یې یو ریاست، ملت او حکومت لاس او پښې وهي).
ایچ، جي، مارګینتا وایي: دا هغه سیاسي عرف او عمومي فرهنګي روایات دي د کومو په چوکاټ کې چې یو هیواد خپل بهرنی سیاست ترتیبوي.
ایوان هیوجز وایي: بهرنی سیاست فقط په مجردو او وچو خبرو باندې نه شي جوړیدای بلکې بهرنی سیاست د ټولو اړینو غوښتنو او اړتیاؤ په نتیجه کې رامنځ ته شوو او یا هم د تاریخي پسمنظر لرونکو قومي یا ملي مفاداتو په رڼا کې رامنځ ته کیږي (۲: ۵۹).
د بهرني سیاست موخې : ذاتي یا شخصي ساتنه، ملي ساتنه، اقتصادي پرمختګ او ملي قدرت زیاتیدل دي(۴: ۱۷۲ـ ۱۷۳).
د ټولو لپاره قبول شوی تعریف دا دی، چې ملي ارزښتونه (منافع او اهداف) د هغه عامو او

همیشنیو هدفهونو څخه عبارت دي، چې د هغې د تحقق په لاره کې ملت فعالیت کوي(۷: ۱۱۸).
د حاضر عصر ځینې ورستي نړیوال لیکونکي داسې عقیده څرګندوي چې، چون ملتونه تقریباً ټول د عمومي مقاصدو لپاره لکه امنیت، بین المللي پرستیژ او د عمومي رفاه لپاره تلاش کوي شاید وکولای شو د هیوادونو خارجي ارزښتونه (منافع او اهداف) په داسې ډول تقسیم بندي کړو چې ووایو، ټول هیوادونه زیات او کم همدا ارزښتونه په نړیواله صحنه کې تعقیبوي.
په بهرني سیاست کې د اهمیت د درجې له لحاظه د ملي ارزښتونو(اهدافو) تقسیم بندي هم امکان پذیره ده. په نړیوالو روابطو کې امریکایی څیړونکی Holsti عقیده لري، چې د دغه امر د ترسره کولو لپاره ۳ درې خصوصیات په نظر کې نیسو:
۱ـ هغه ارزښت چې د هیواد سیاستمداران د هغې لپاره په هدف قایل وي.
۲ـ هغه زماني موده چې د هدف د ترلاسه کولو لپاره په نظر کې نیول شوي ده.
۳ـ د هغې غوښتنې ډول چې دغه هدف د نړۍ په نورو هیوادونو باندې تحمیل وي.
د پورته درې ډوله خصوصیاتو په نظر کې نیولو سره کولی شو ملي ارزښتونه (اهداف) د اهمیت د درجې له نظره په ۳ درې ډولونو باندې تقسیم کړو:
۱ـ حیاتي ارزښتونه ـ (اوله درجه اهداف).
۲ـ متوسط ارزښتونه ـ (دوهمه درجه اهداف).
۳ـ اوږد مهاله ارزښتونه ـ (دریمه درجه اهداف)(۳: ۴۵ـ ۵۱).

**حیاتي ارزښتونه**

حیاتي ارزښتونه هغه ارزښتونه دي، چې دولت او زیات خلک خاضر وي چې د هغې په خاطر ځانونه قربان کړي او معولاً د بهرني سیاست د اساسي اصولو په شکل بیدون له انتقاده د ټولنې د منلو وړ ګرځي او د هیواد د حیاتي ارزښتونو په خطر کې د لویدلو په صورت کې معمولاً هیواد په جنګ لاس پورې کوي.
دغه ډول ارزښتونه غالباً د یوه سیاسي واحد د نفس په بقاء (self- preservation) او د امنیت په ترلاسه کولو پورې مربوط کیږي. د امنیت تحصیل د ټولو هیوادونو لپاره د اهمیت په درجه کې او په ټولو خارجي ارزښتونو باندې مقدم دی. د امنیت څخه مقصد نفس Self او د نفس د ساتلو یا حفظ څخه مقصد لاندې څلور ارزښتونه دي.
۱ـ د ارضي تمامیت ساتل (National Territory)

۲ـ د خلکو ساتنه (People)

۳ـ د هیواد استقلال (sovereignty)

۴ـ د سیاسي او اقتصادي سیستم بقاء (the political and Economic system)

په دې ترتیب امنیت د همغه پورته ۴ څلورو ارزښتونو څخه عبارت دی، چې هیواد د هغې لپاره د جنګ اقدام هم کوي. د امنیت کلمه په عامو او خاصو مفهومونو سره استعمالیږي. په عامه اصلاح کې امنیت معنی د کوم جدي خطر څخه نه ویریدل او په خاصه اصطلاح کې امنیت معنی د هیواد او خلکو څخه ساتنه ده.

د نړیوالو اړیکو په قاموس کې ملي ارزښتونو ته د بهرني جدي خطر مخنیوي ته امنیت ویل کیږي. د دولت وظیفه ده ترڅو کوښښ وکړي چې د خلکو ژوند او ملي منافع له خطر ه وساتي(۶: ۱۴۳).

د والترلیپمن په عقیده: یو ملت تر هغې خوندي، چې اصلي ارزښتونه یې له خاطر سره مخامخ نه وي.

(( A nation is secured to the extent to which it is in danger of having to sacrifice core values, if it wishes to avoid war, and is able, if challenged, ion maintain them by victory in such a war)).

د دغه امر په نظر کې نیولو سره چې نن ورځ د اتمي اسلحو او قاره پیما د موجودیت په وجه په جنګ کې بریالیتوب خپله معنا له لاسه ورکړې ده او په حقیقت کې جنګ به یو مکمل یا تمام جنګ (Total-war) وي او نشو کولای چې قوتونه د پخوا په څېر د ملي ارزښتونو د ترلاسه کولو لپاره د یوې مهمې وسیلې به حیث وکار وو، باید ووایو چې امنیت د حملې او دفاع څخه زیات څه شی نه دي. مثلا د هیواد ازادي د خپلو ارزښتونو په تعقیب کې د هغه لارو څخه چې خپله یې تعین وي، یا مثلا د هغه هیوادونو په مورد چې د قدرت زیاتوالي ته تمایل ولري، امنیت د نورو هیوادونو د مجبورولو په معنا دی، بلخصوص د ګوندیانو سره د هغوی د همکارۍ په عوض د نفوذ د منطقې ساتنه او په ستراتیژیکو مناطقو، ابي او موصلاتي لارو د تسلط ساتل دي.

جورج مارشال د امریکا خارجه وزیر د ترومن په وخت کې اعلان کړه چې د امریکا بهرنی سیاست اساسآ په هغه شرایطو پورې مربوط دی چې د هیواد څخه خارج دي. دغه شرایط ممکن زموږ د ملت په امنیت او رفاه اثر واچوي. ځای ناستی یې اورین اچسون د امریکا د خارجي سیاست اساسي هدف د امریکا د خلکو د امنیت استحکام د هغه اقداماتو په وسیله چې د نړیوالې

صحلې د شرایطو د ایجاد لپاره دی، اعلان کړ.
جان اف. کندی، د امریکا پخواني جمهوررئیس په ۱۹۶۲م کال د جنوري میاشتې په ۱۱ تاریخ د امریکا کنګرې ته په خطاب کې د امریکا د بهرني سیاست د هدف په باره کې داسې وویل:
))زموږ اساسي هدف د ازادو او خپلواکو دولتونو څخه یوه سولیزه نړیواله ټولنه ده. (Yet our Basic Goal remains the same: A peaceful world community of free and independent states …
نن ورځ امنیتي سیاست او بهرنی سیاست تقریباً تردې حده د یو بل سره مخلوط دي، چې سیاستمداران او د هیواد نظامي قدرت طراحان ضرور او همیشه مشترك تصمیم نیسي، البته دغه په دې معنی نه ده چې امنیت فقط د اسلحې، ټکنالوجی او نظامي دکتورینو له طریقه ترلاسه کیږي، بلکې دغه په حقیقت کې وروستی حل لاره ده. نورې لارې پخوا او اوس د امنیت د ترلاسه کولو لپاره د استفادې لاندې نیول شویدي چې شاید بدون د زور د استعمال څخه امنیت حفظ کړي. دغه لارې چې ځینو د هغې څخه شکست خوړلی دی او پاتې چې اوس هم استعمالیږي عبارت دي لې:
انزواګرائي (منزوي والی) (Isolationism)
بیطرفي (Neutralism)
د قواؤ توازن (Balance of power)
دستجمعي امنیت (Collective security)
د حمایت کوونکو اتحادونو ایجاد (Protective Alliances)
باید ووایو چې لوی هیوادونه معمولاً په یواځېتوب سره د خپل امنیت په ساتنه قادر وي ولې ضعیف او کوچني هیوادونه عالبآ د خپل امنیت د حفظ او ساتنې لپاره د خارج سره متوصل کیږي او له دغه ځایه باید د ټولو نظامي او منطقوي قراردادونو ریښه بلخصوص د نړیوال جنګ څخه وروسته وپلټل شي.
په هرحال څرنګه چې مخکې وویل شول، امنیت اساسآ د ارضي تمامیت ساتنې، خلکو ساتنې، د هیواد استقلال او حاکمیت ساتنه او د سیاسي او اقتصادي سیستم ساتنې ته شاملیږي او دغه په نړیواله صحنه کې د هیوادونو اولیني او حیاتي ترین ملي ارزښتونه دي، چې ټول د هغې د تحصیل او ساتنې په هڅه کې دي که څه هم چې د ترلاسه کولو او ساتنې لارې یې نظر هیوادونو ته تفاوت لري. د هیوادونو د حیاتي هدفونو څخه یو یې امنیت شمیرل کیږي، چې ټول

د هغې د تحصیل په هڅه کې دي، ولې د لویو هیوادونو لپاره خاصتآ پر ستراتیژیکو مناطقو، مهمو آبي او موصلاتي لارو تسلط او د نفوذ د منطقې ساتنه د حیاتي اهدافو څخه دي، چې استعماري هیوادونو په ۱۸ او ۱۹ پیړۍ کې د خپلو مستعمیراتو د حیاتي ارزښتونو څخه ګڼل، له دې لارې وه چې انګلستان د خپلو مستعمیراتو د ساتنې په خاطر مثلآ په شمالي امریکا کې په نظامي اقداماتو لاس پورې کړ. ولې په ۲۰ پیړۍ کې د نړیوالو شرایطو او اوضاع په نظر کې نیولو سره انګلستان رودزیا چې د دوی د مستعمیراتو څخه وو په خپله یو طرفه مستقل اعلان کړ او جنګ ته خاضر نه شول.

اسرائیل د مطمئنو پولو لرلو، د سویز په کانال او د تیران په تنګي کې د کیشتی چلولو ازادي او د داسې عربو ګونډیانو لرل چې د دوی هیواد په رسمیت وپیژني، د خپلو حیاتي او امنیتي اهدافو څخه ګڼي(۳ : ۵۲ـ ۵۵).

**متوسط ارزښتونه**

متوسط ارزښتونه چې په دوهمه درجه کې اهمیت لري د Holsti په عقیده څلورو ډولونو ته شاملیږي:

۱ـ اول ډول هغه ارزښتونه دي چې د خلکو د عمومي رفاه Welfare لپاره تعقیب کیږي او دولتونه د نړیوالو فعالیتونو له لارې د داخلي ضرورتونو د پوره کولو لپاره کوشش کوي. دغه ارزښتونه د تجارت، خارجي کمک، خارجي بازار او د ارتباطي وسایلو له لارې ترلاسه کوي.

۲ـ د هیواد د متواسطو ارزښتونو دوهم ډول په بین المللي صحنه کې د هیواد د پرستیژ لوړولو څخه عبارت دی. اصولآ پرستیژ عبارت دی لې: هغه احترام څخه چې هیواد یې په خارج کې لري (Prestige is the respect which a country enjoys a broad).

پخوا د نړیوال پرستیژ لوړوالی د دیپلوماسی او د نظامي قدرت د نمایش له لارې ترسره کیدو، ولې نن ورځ د هیواد د اعتبار پرستیژ د علمي او ټکنالوجیکي پرمختګونو، د صنعتي پرمختګ او د لویو رهبرانو په لرلو سره ترلاسه کیږي. هغه دولتونه چې د توسعې په حالت کې دي او سیاستوال چې د هیواد د مادي فقر سره نسبت زیات حساسیت لري، ممکنه ده چې د زندګۍ د سطحې د لوړولو لپاره د داخلي فشارونو د ځواب پرعلاوه د نړیوال پرستیژ د ترلاسه کولو په خاطر وسیع برنامې شروع کړي. توسعه د نن ورځې لویو ملي ارزښتونو څخه شمیرل کیږي او حتی په دې لاره کې د اوله درجه حیاتي ارزښتونو په شان کوشش کیږي. دغه ډول متوسط

اهداف هیڅ ډول زماني محدودیت نه لري، ولې د مخ پروده هیوادونو زیات رهبران امید لري، چې د خپلې زندګۍ په دوران کې خپل هیواد د اقتصادي لحاظه د پرمختللو هیوادونو اقتصادي سطحې ته ورسوي. صنعتي هیوادونه او لوی قدرتونه کولی شي خپل نړیوال پرستیژ د نظامي قدرت د پراخوالي سیاستونو، خارجي کمکونو، صنعتي او عملي نمایشاتو او بلخصوص د اتومي سلاحګانو او فضایي پرمختګ په وسیله زیات کړي. د پرستیژ زیاتوالی د زیاتو فعالیتونو او غوښتنو متضمن دی، ولې اقلاً په حاضر وخت کې نه ترسترګو کیږي چې د یو هیواد د پرستیژ ترلاسه کول د بل هیواد د حیاتي اهدافو سره مغایر وي. د لویو رهبرانو لرل، لکه څرنګه چې مخکې هم ذکر شول، یا د هیوادونو نړیوال اقداماتو، بلخصوص هغه وخت چې هغه اقدامات نړیوال انعکاس ولري د هیواد د پرستیژ په زیاتوالي کې ډیر موثر دي.

۳ـ دریم ډول د متوسطو ارزښتونو څخه چې بلخصوص په ورستیو لسیزو کې د دولتونو په وسیله تعقیبیږي او هغه دا چې خپل خاص سیاسي او اقتصادي سیستم د بهترین سیستم او اجتماعي نظام په عنوان په نورو هیوادونو کې رسوخ وکړي او قبول یې کړي. مثلاً ( د یوې خاصې ایډیالوژۍ تعقیب د بهترین خارجي سیاست د نمونې (ماډل) په عنوان او په نورو د هغې قبلولول) او په ضمن کې کوشش کول چې په خپل هیواد کې د مخالفې ایډیالوژۍ د ورود او رسوخ مخه ونیسي.

۴ـ د متواسطو اهدافو څلورم ډول څخه کولی شو د توسعه طلبۍ (Expansionism) او امپریالیزم (Imperialism) د مختلفو ډولونو نومونه واخلو. د دوهمه درجه اهدافو په تحصیل او تعقیب کې د امپریالیزم پدیده که څه هم سیاسي، اقتصادي، رواني، فرهنګي، مذهبي، علمي او ادغامي (Assimilative) ده، په بین المللي صحنه کې د لوی دولت یا امپراطورۍ په وسیله رامنځ ته شویده(۳: ۵۵ـ ۵۷).

**اوږد مهاله ارزښتونه**

اوږد مهاله ارزښتونه لاندې دوه ډولونو ته شاملیږي:

۱ـ د مختلفو هیوادونو سره د فرهنګي او علمي روابطو ایجاد.

۲ـ هغه اهداف چې معمولا د عمومي طرحې په شکل وي لکه: اوږد مهاله ارزوګانې، یا د صحلې لپاره د یوه نړیوال سیستم یا نظام منځ ته راوړل چې ځینې هیوادونه یا د هغوی رهبران په نړیواله صحنه کې دغو طرحو ته د تحقق لپاره تمایل لري.

د نړیوال حکومت څخه حمایت، د نړیوال سوسیالیزم او کارګري حکومت ایجاد، چې د

کمونیستانو لخوا تعقیبدل او د افریکایي او عربي اسلامي انجمنونو رامنځ ته کول، چې ناصر هغه د خپلو خارجي ارزښتونو (اهدافو او منافعو) څخه شمیرل او د اتلانتیک ټولنې تحقق چې د امریکایانو لخوا تعقیب کیږي، ټول د اوږد مهاله خارجي ارزښتونو (اهدافو او منافعو) او مقاصدو د جملې څخه دي.

د اوږد مهاله ارزښتونو په تعقیب کې د وخت مفهوم د سیاستوالو په نظر متغیر دی. د لنین له نظره اوږد مهاله کمونیستي ارزښتونه اهداف) د تعداد مطابق په میاشتو کې تفسیر کیدل. د ستالین له نظره اوږد ارزښت (هدف) هغه هدف وو، چې د شوروي سیاستمدارانو او سره پوځ په دوه یا درې راتلوونکو لسیزو کې باید تعقیب کړی وای او نن ورځ د نړیوال کمونیست د اوږد مهاله ارزښت (هدف) ترلاسه کول د څو نسلونو په محدوده کې تعقیب کیږي. Holsti لیکي:

Khrushchev suggested that in the united State, the present generation's grandchildren will live under socialism.

This could mean anywhere between 1985 and 2020 (۳: ۵۷ـ ۵۸)

**نتیجه**

ملتونه د تاریخي نظره متفاوت ارزښتونو (اهداف او منافع) لري او د هیوادونو بهرني ارزښتونه نشو کولای چې په یوه ټول شموله جمله کې ذکر کړو او یا یې د یوې کلي قاعدې لاندې راوړو، ځکه ټول دولتونه په نړیواله صحنه کې خاص ارزښتونه تعقیبوي. نو له دې وجې په نړیواله صحنه کې د ملي ارزښتونو (اهداف او منافعو) په بحث کې باید د هر هیواد ارزښتونه (اهداف او منافع) په جدا ډول د قدرت عواملو، اقتصادي پرمختګ، جغرافیوي موقعیت، فرهنګ، د حکومت ډول او اجتماعي سیستم ته په توجو سره د تحلیل او تجزیې لاندې ونیول شي.

نظامي امادګي، اقتصادي پرمختګونه، جغرافیوي موقعیت، ایډیالوژي خاصتآ ناسیونالیزم، د حکومت ډول او د یوه هیواد بین المللي پرستیژ او همداشان بین المللي سیستمونه په حاضر عصر کې د هغه جمله عواملو څخه دي چې د یوه هیواد خارجي سیاست د ارزښتونو (اهدافو) په انتخاب او تعقیب کې مستقیم دخالت لري او د دې موجب کیږي چې دولتونه ذکر شوو عواملو ته په توجو او ارزیابی سره خپل خارجي اهداف تعین او تعقیب کړي.

**وړاندیزونه**

۱ـ دا چې لوی هیوادونه معولآ په یواځیتوب سره د خپل امنیت په ساتنه قادر وي، ولې ضعیف او کوچني هیوادونه عالبآ د خپل امنیت د حفظ او ساتنې لپاره د خارج سره وصل کیږي. نو په لویه

کې افغان دولت ته وړاندیز وو، چې د لویو او قوي هیوادونو سره په توصل کې یواځې ملي ارزښتونه (اهداف او منافع) تعقیب کړي. او په موجود حالت کې د داخلي امن او نظم د تامین، سیاسي ثبات او اقتصادي ودې لپاره هڅې وکړي.

۲ـ دا چې په هیواد کې د ننه د ملي ارزښتونو پر سر په یوالي او اختلاف کې د مختلفو رهبرانو موجودیت، د نفوذ لرونکو ډلو نه یوشان والی او کشمکشونه زیات رول لري او زموږ په هیواد کې تر ډیره د دغه مواردو موجودیت دی، چې د ملي ارزښتونو په تعین او توافق یې اغیز اچولی. نو موجود حکومت ته وړاندیز وو، چې د خارجي سیاست اړوند د ملي ارزښتونو (اهدافو او منافعو) په برخه کې د لویو دولتونو او ګوانډیو هیوادونو سره د کړنو او عکس العمل په مورد د مختلفو هغه اشخاصو او ډلو د نظر یوالی رامنځ ته کړي، چې د مختلفو اقشارو، قامونو او ګروپونو رهبري په غاړه لري او همداشان د ملي ارزښتونو د تعین او درجه بندۍ په مورد د داخلي کشمکشونو د هواري لپاره هڅې وکړي.

**ماخذونه**


۱ـ اسمت، استیو؛ امیلیا هدفیلد او تیم دان. (۱۳۹۵هـ ش). سیاست خارجی نظریه، بازیګران و موارد مطالعاتی. جلد اول، مترجمین: میرمحمد حاجی یوسفی، محسن محمودی او ایوب کریمی. (چ. ا). تهران: سازمان مطالعه و تدوین کتب علوم انسانی دانشګاهها (سمت) مرکز تحقیق و توسعه علوم انسانی.

۲ـ بصیرت، نبي. (۱۳۹۶هـ ش). ډیپلوماسی تاریخ. (چ.ا). جلال اباد: سلام خپرندوی ټولنې تخنیکي څانګه .

۳ـ بهرزادي، حمید. (۱۳۴۹هـ ش). اهداف و سیاست خارجي. (چ. ا). مجله دانشکده حقوق و علوم سیاسي. شماره ۴.
http://ensani.ir/fa/article/244297.

۴ـ حیدري، شمشاد. (۱۳۹۰هـ ش). نړیوالې اړیکې. (چ.ا). جلال اباد: مومند خپرندویې ټولنه.

۵ـ داوري، فرهاد. (۱۳۹۶هـ ش). د دیپلوماسی عمومي تاریخ. (چ. ا). کندهار: عرفان خپرندوی ټولنه.

۶ـ علیزی، عبدالمقیم؛ واکمن، محراب الدین. (۲۰۱۷ ع). د نړیوالو اړیکو اصول. (چ.ا).کابل: خاور خپرندوی ټولنه.

۷ـ فرانکل، جوزف. (۱۳۸۶هـ ش). روابط بین الملل در جهان متغیر. ترجمه: عبدالرحمن عالم.

(چ.ا). تهران: وزارت امورخارجه، مرکز چاپ و انتشارات.

۸ـ قوام، عبدالعلی. (۱۳۹۶هـ ش). د بهرني سیاست اصول او نړیوال سیاست. ژباړه: حکیمزی، حسیب الله. (چ.ا). کابل: نوی مستقبل خپرندویه ټولنه.

۹ـ نعیمي، ګل احمد. (۱۳۹۵هـ ش). نړیوال سیاستونه. (چ.ا). کندهار: عرفان خپرندویه ټولنه.

۱۰ـ نور، نورولي. (۱۳۹۳هـ ش). د نړیوالو اړیکو، اند او انګیزې. (چ.ا). روم/ ایټالیه.

# په افغانستان د شوروي اتحاد یرغل او د پاکستان غبرګون

لیکونکی: پوهنیار محمد شاهد، شیخ زاید پوهنتون، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، اداره او دیپلوماسي څانګې استاد
تقریظ ورکوونکی: پوهندوی عبدالرحمن رحیمي د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي استاد

**لنډیز**

پر افغانستان د شوروي اتحاد یرغل دومره درنه حادثه وه؟ چې افغانستان او نړۍ یې له یو سره تر بل پورې په حرکت راوستله. د نړۍ اکثرو هېوادونو دغه یرغل وغندلو. د پاکستان جمهور رئیس ضیاءالحق او د هغه هېواد د پټو اطلاعاتو څانګې ای اس ای رئیس اختر عبدالرحمن یوه داسې طرحه جوړه کړه چې د هغې په اساس یې د شوروي پر ضد د اسلام په چوکاټ کې اوه تنظیمونه ایجاد کړل. زما په دغه څېړنیزه مقاله کې پر افغانستان باندې د شوروي اتحاد یرغل او د هغې په واړندې د پاکستان دریځ څېړل شوي دی . او په څنګ کې ورسره د افغان او شوروي جګړه کې د پاکستان رول، موخې او د افغانستان دیموکرتیک جمهوریت او پاکستان ترمنځ د جینوا توافقات روښانه شوي دي.

**کلیدي ټکي:** د افغان او شوروي جګړه، د پاکستان موخې، د جینوا توافق، د اسلام اباد او واشنګټن اړیکې.

**سریزه**

د ۱۹۷۹م کال د دسمبر په ۲۷ شوروي اتحاد پر افغانستان یرغل وکړ، خفیظ الله امین ووژل شو د خلق دیموکراتیک ګوند د پرچم ډلې ببرک کارمل د واک پرګدۍ کینول شو. شوروي یرغل ته د لویدیځ په ګډون پاکستان هم توند غبرګون وښود او د شوروي له خوا په پښو د ودرول شوي د کابل رژیم مخالفت یې وکړ. پر افغانستان د شوروي د یرغل پر مهال پاکستان په نړیواله کچه منزوي شوی و. د اسلام اباد او واشنګټن ترمنځ اړیکې د پاکستان د اټومي پروګرام، د علي بوټو د اعدام او د ۱۹۷۹م په نومبر کې د امریکا په سفارت د پاکستانیانو د برید له امله ټیټې کچې ته راښتکته شوي وې. د پاکستان اقتصادي وضعیت سخت خراب و او دفاعي ځواکونه یې په زړو وسلو سمبال وو. پر افغانستان د شوروي اتحاد یرغل د ضیاءالحق د رژیم لپاره له دغې سختې وضعې څخه د وتلو یو چانس و. د پاکستان جمهور رئیس ضیاءالحق او د هغه هېواد د پټو اطلاعاتو څانګې ای اس اي رئیس اختر عبدالرحمن یوه داسې طرح جوړه کړه چې د هغې په اساس یې د شوروي پر ضد د اسلام په چوکاټ کې اوه تنظیمونه ایجاد کړل. د امریکا په

مشرۍ تړل لویدیځ او خلیج هېوادونو د پاکستان ژغورلو ته په دې ژمنو ور ودانګل چې اقتصادي او پوځي مرسته به ورسره کوي. افغان مجاهدینو ته دغه تړلې مرستې د پاکستان د ای اس ای له لارې رسول کېدې ترڅو شوروي اتحاد له افغانستان څخه اوباسي. په دغه مقاله کې د افغان او شوروي جګړه او په نوموړې جګړه کې د پاکستان رول، دریځ او موخې څېړل شوي دي.(۵ : ۷۷)

**موخې**

دا چې پر افغانستان د شوروي اتحاد یرغل موضوع په نړیواله، سمیه ییزه او ملي سطحه د ارزښت څخه برخمنه موضوع ده. نو ومې پتیله چې په دغه څېړنیزه مقاله کې پر افغانستان د شوروي یرغل او د پاکستان غبرګون په اړه لنډ معلومات را ټول کړم. تر څو وکولای شي د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی استادان، محصلان او عامه لوستونکي پر افغانستان د پخواني شوروي یرغل او د هغې پر وړاندې د پاکستان غبرګون په اړه څه نه څه معلومات لاسته را وړي.

**دکار مواد او مېتود**

ددې مقالې په لیکلو او ترتیبولوکې د څېړنې ټول اصول او اساسات مراعات شوي دي. پر افغانستان د پخواني شوروي یرغل او د پاکستان دریځ داسې یوه موضوع ده چې کتابخانه یي څېړنې ته ضرورت لري لدې امله مې په دغه مقاله کې د معتبرو، مؤثقو علمي کتابونو او مقالو، نړیوالو مأخذونو څخه ګټه پورته کړې ده.

**پر افغانستان د پخواني شوروي اتحاد یرغل او د پاکستان غبرګون**

د ۱۹۷۹م کال د دیسمبر په ۲۷ شوروي اتحاد پر افغانستان یرغل وکړ، حفیظ الله امین ووژل شو د خلق دیموکراتیک ګوند د پرچم ډلې ببرک کارمل د ّواک پرګدۍ کینول شو. د شوروي یرغل ته د لویدیځ په ګډون پاکستان هم توند غبرګون وښود او د شوروي له خوا په پښو د ودرول شوي د کابل رژیم مخالفت یې وکړ. ځکه پر افغانستان د شوروي اتحاد یرغل د پاکستان په شمالي ( ډیورنډ کرښه ) د شوروي ګواښ رامنځته کړ. داسې ښکاریده چې شوروي اتحاد به افغانستان د پاکستان د بې ثباتۍ لپاره وکاروي. دغه مها ل ضیاءالحق او ملګري یې د بهرنۍ پالیسۍ په تړاو له سختې ستونزې سره مخ شول. پاکستان ویرېده چې شوروي او د کابل رژیم به د پښتنو او بلوڅو ملاتړ وکړي. ډیرو پاکستانیانو فکر کاوه چې پاکستان به د مسکو بل هدف وي. د پاکستان له نظره، پر افغانستان د شوروي له یرغل وروسته د پاکستان امنیت ته ربښتینی

ګواښ پېښ شو. د پاکستان په خوا کې د یو زبرځواک موجودیت د دغه هېواد د ملي امنیت ګټې اغېزمنولې. داسې وېره هم موجوده وه چې هند به د پاکستان د پوځ د ختمولو او یا د خاورې د یوې برخې د نیولو لپاره په پاکستان برید وکړي.(۱ : ۷۶ )
پر افغانستان د شوروي اتحاد د یرغل پر مهال پاکستان په نړیواله کچه منزوي شوی ؤ. د اسلام اباد او واشنګټن ترمنځ اړیکې د پاکستان د اټومي پروګرام، د علي بوټو د اعدام او د ۱۹۷۹م په نومبر کې د امریکا پر سفارت د پاکستانیانو د برید له امله ټیټې کچې ته راښکته شوي وې. د پاکستان اقتصادي وضعیت سخت خراب و او دفاعي ځواکونه یې په زړو وسلو سمبال و. پر افغانستان د شوروي یرغل د ضیاءالحق د رژیم لپاره له دغې سختې وضعې څخه د وتلو یو چانس و. د امریکا په مشرۍ ټول لویدیځ او خلیج هېوادونو د پاکستان ژغورلو ته په دې ژمنو ور ودانګل چې اقتصادي او پوځي مرسته به ورسره کوي.
پر افغانستان د شوروي اتحاد یرغل سره د کابل او اسلام اباد اړیکې پرې شوې او د ډیورنډ کرښې د مسلې د حل تمه ور سره ختمه شوه. امریکا د اسلامي هېوادونو کنفرانس او نورو هېوادونو پر افغانستان د شوروي یرغل وغنده. افغان مجاهدینو ته د لویدیځو او اسلامي هېوادونو له خوا مرستې پیل شوې. له ۱۹۸۰م کال څخه تر۱۹۸۹م کال پورې امریکا له افغان مجاهدینو سره نږدې درې میلیارده ډالر مرسته وکړه. په ۱۹۸۰م کې له دیرش میلیونه ډالرو پیل شوه او په وروستیو درېو کلونو کې هرکا ل ۶۳۰ میلیونه ډالر مرسته کېده. امریکا په وسلو، استخباراتو، روزنې او اقتصادي برخو کې د افغان مجاهدینو مرسته کوله. د امریکا دغه عملیات د امریکا د استخباراتو ( سي ای اې ) په تاریخ کې تر ټولو اوږده عملیات بلل کېږي.( ۲ : ۲۲۱ ـ ۲۲۲ )
افغان مجاهدینو ته دغه ټولې مرستې د پاکستان د ای اس ای له لارې رسول کېدې. د ( ای اس ای ) د افغان عملیاتو مشري له ډګروال محمد یوسف سره وه. یوسف څلور کاله د ( ای اس ای ) د مشر جنرال اختر عبدالرحمن تر لاس لاندې کار وکړ. یوسف د خاموش مجاهد عنوان لاندې یو کوچنی کتاب هم لیکلی. یوسف، اختر عبدالرحمن د افغان جهاد تر شا مدبر جنرال بللی او ستاینه یې کړې ده.
یوسف لیکي: افغانستان ته د شوروي پوځ راتګ پاکستان له سخت حالت سره مخ کړی و. یوې خوا هند او بل خوا شوروي، پاکستان له داسې حالت سره مخ کړی و ددې سخت خطر و چې پاکستان د دوو ځواکمنو دښمنانو په منځ کې د ژرندې د پلونو ترمنځ د دانو په څېر دل نه شي.

د شوروي اتحاد د یرغل پر مهال له نړۍ سره د پاکستان اړیکې ښې نه وې. د شوروي پر ضد هر ډول دریځ غوره کولو پاکستان پر راتلونکي ژور اغیزکاوه. افغانستان ته د شوروي راتګ او پر ضد یې د دریځ نیولو پریکړه ضیاءالحق، اخترعبدالرحمن ته وسپارله. د یوسف په وینا اخترعبدالرحمن د سیمې او نړۍ حالاتو په ژور ډول مطالعه کولو وروسته جګړې ته د ننوتلو پرېکړه وکړه. دلیل یې دا و چې افغانستان د پاکستان لومړنی دفاعي لیکه ده. سربیره پر دې اختر عبدالرحمن ویل چې پر افغانستان د روسانو یرغل په اصل کې په اسلام یرغل دی.
پاکستان، شوروي ضد جګړې ته د ننوتو پرېکړه کړي وه. خو د شوروي اتحاد له راتګ نږدې شپږ میاشتې وروسته و چې د چین، سعودي عربستان او نورو هېوادونو مرستي له افغان مجاهدینو سره پیل شوې. لیکوال وایي چې د لومړنیو شپږو میاشتو ټول بوج پاکستان پر خپل سر اخیستی و. لیکوال له افغان مجاهدینو سره د ( ای اس ای ) او نورو هېوادونو د مرستو، مجاهدینو ته د روزنې او دوی ته د وسلو ورکولو په اړه په تفصیل سره خبرې کړي دي. د یوسف په وینا د اخترعبدالرحمن تر ټولو غټه هیله دا وه چې د شورویانو له وتلو وروسته کابل ته لاړ شي. او الله ته د شکرانې لمونځ اداء کړي چې ده ( اختر) افغانستان له دښمنانو پاک کړ. لیکوا ل لیکي چې د اخترعبدالرحمن له نظره، د مخامخ جګړې پر ځای چریکې جګړه، پر قافلو بریدونه ، پلونو، پایپونو، لینونو او هوایي ډګرونو ته زیان رسول د افغان مجاهدینو د بري لامل و. هوایي ډګر، مهمې کارخانې او سړکونه او د سالنګ لویه لار د راکټونو د پرلپسې بریدونو نښه وه.
یوسف وایي چې افغان جهاد درې ضربې ولیدلې. یوه د ( ای اس ای ) له مشرتوبه د اخترعبدالرحمن لرې کول. دویمه د راولپنډۍ په اجړي کېمپ کې د مجاهدینو لپاره د زیرمه شوي وسله تون اور اخیستل او دریمه د ۱۹۸۸م کا ل د اګست په اوولسمه له ضیاءالحق، د امریکا له سفیر او نورو یو دیرش نفرو سره په یوه نظامي الوتکه کې د اختر عبدالرحمن وژل کېدل.(۳ : ۷۷ ـ ۷۸ )

**افغان ــ شوروي جګړه او د پاکستان موخې**

د پاکستان او د نورې نړۍ له ملاتړ پرته به افغان مجاهدینو ته ډیره سخته وه چې پیاوړی شوروي پوځ په دومره کمه موده ( نهوکلونو) کې خبرو او وتلو ته اړ او په ګونډوکړي. دغه جګړه کې د شوروي مخالفو ( افغانانو، پاکستان او امریکا) درې واړو اړخونو خپلې ګټې درلودې.
افغان ولس چې معاصر تاریخ کې یې د بهرنیو له ملاتړ پرته، درې ځله د خپل وخت زبرځواک

(برتانیې) سره جګړې کړې وې او خپلواکي يې اخيستې وه، د شوروي ماتول او د هېواد ازادول يې لويه موخه وه. افغان تاريخ را ښوولې ده چې يرغلګر پوځ سره يې په سختۍ جوړجاړی او سر ټيټ کړی دی. که د بهرنيو مرستې هم نه وای، نو افغان ولس به دغه جګړه کړې وه او ښايي د يرغلګر پوځ وتلو به له نهو کلونو زيات وخت نيولی وای، خو د خپلواکۍ دغه جګړه افغان ولس ته ور تر غاړې وه.

د ويتنام په جګړه کې ويتناميانو د شوروي په مرسته امريکايي پوځ مات کړ او د ويتنام يووالی يې تر لاسه کړ چې هغې جګړه کې زرګونه امريکايي پوځيان ووژل شول. د برژنسکي او د امريکا د کانګرس د هغه مهال د غړي چارلس وېلسن په ګډون ګڼ امريکايي چارواکي مني چې لويه موخه يې له افغانستان څخه د شوروي ته ويتنام جوړول و.(۱ : ۷۹ )

بل خوا پاکستان بيا خپلې موخې درلودې. Marvin G. Weinbaum په يوه څېړنيزه مقاله کې په افغانستان باندې د شوروي اتحاد د يرغل پر مهال د پاکستان ځينې موخې واضحه کړې دي. هغه ليکي: د پاکستان يوه موخه له افغانستانه د شوروي پوځيانو ايستل و. د پاکستان د حکومت د ننه ژوره اندېښنه وه چې شوروي به په بلوچستان او خيبر پښتونخوا کې بېلتونپالي وپاروي. د ضياءالحق بله موخه دا وه چې پاکستان د شوروي کمونيزم پر ضد د اسلام دفاع کوونکی وښيي. د ليکوال له نظره د پاکستان لويه موخه د افغان نشنليزم د بيا را ژوندي کولو مخه نيول او د ډيورند کرښې په رسميت پيژندل و. پېښور او نورو سيمو کې لسګونه داسې روشانفکران او ملتپالي افغانان ووژل شول چې غوښتل يې د افغان جهاد مشري بايد افغانانو ته وسپارل شي. دغو روشانفکره افغانانو کې تر ټولو وتلي يې سيد بهاوالدين مجروح ، عزيز الفت و چې د ځېنو د وژلو پړه په افغان مجاهدينو اچول کيږي. دوی لوستي افغانانو وو او د پاکستان لاس ته د افغان جهاد د مشرۍ د ورتللو له ناوړه پايلو ويرېدل. په ګڼو روشانفکره او لوستو افغانانو د پېښور چاپيريال تنګ شو او نورو هېوادونو ته کډوال شول.(۹: ۵ )

افغان ډاکتر اختر قاسميار يو له هغو افغانانو څخه و چې دوه کاله يې پېښور کې تيرکړل او د افغان مجاهدينو سره يې مرسته وکړه، خو بيا په ځينو جهادي ډلو او د هغوی پر پاليسو د نيوکو له امله اړ شو چې پېښور پرېږدي او سعودي ته کډوال شي. هغه په خپل کتاب پېښور کې د افغان مجاهدينو له لوري د رامنځته شوي وضعيت په اړه تفصيل ورکړی دی. هغه ان وايي چې د يوې جهادي ډلې له لوري د وژونکو په لېست کې شامل شوی و.

د ضیاءالحق تر لاس لاندې پاکستان لویه موخه درلوده. په افغانستان کې یو تغیر منونکی (د تابع او ملګري) رژیم جوړېدل او په منځنۍ اسیا کي ملګري هېوادونه موندل په افغانستان کې د یو ملګري او د پاکستان د تابع حکومت جوړېدل د پاکستان د ستراتېژیکي ژورتیا د پالیسی مهمه برخه ده.(۷ : ۶۶ )

فضل رحیم مروت وایي: په څرګنده د پاکستان افغان پالیسي په دیني، انساني او اسلامي وروروليٰ ولاړه، خو پاکستان پټې موخې هم درلودې چې د نورو تر څنګ یې له افغانستانه د شوروي پوځ ایستل، کابل کې د شوروي پلوه حکومت له منځه وړل، د پښتون نشنلېزم ځپل او مخه نیول د ستراتېژیکي ژورتیا پلان د افغان بنسټونو بې ثباته کول او افغانستان داسې وضعیت ته وړل چې لږ تر لږه د پاکستان پر لاس د کېنول شویو کسانو له خوا اداره شي.
ډګروال یوسف په خپل یو بل کتاب تلک خرس کې د افغان جهاد له ملاتړه د ضیاءالحق انګیزو ته اشاره کړې. هغه وایي، ضیاءالحق د پوځي رژیم ژوندي پاتې کېدل په اسلامي نړۍ کې د رهبرۍ مقام موندل، د اسلام له لارې د ملي یووالي تر لاسه کول او د لویدیځ د اقتصادي او پوځي مرستو لاسته راوړل د ضیاءالحق نورې موخې وې. د ۱۹۸۸م کال د اګست په ۱۷ ضیاءالحق، اختر عبدالرحمن او د امریکا سفیر سره د ګڼو نورو لوړ پوړو چارواکو په یوه الوتکه کې ووژل شول. د حسین حقاني په وینا، ډېرو فکر کاوه چې عبدالرحمن به د ضیاءالحق ځای ناستی وي. د ضیاءالحق له مړیني سره د پاکستان پوځ او ای اس ای د افغانستان جګړه او د ستراتیژیکي ژورتیا پلان پرېنښود. د فضل رحیم مروت په وینا، ضیاءالحق له مرګ وړاندې مشهور امریکایي لیکوال سلیګ هرسن سره په یوه مرکه کې اعتراف کړی و چې د جګړې له پیله یې غوښتل چې په افغانستان کې به کمونیستي تاسیسات ویجاړوي، په افغانستان کې به یو تر لاس لاندې رژیم واکمنوي او په جنوبي آسیا کې به د هېوادونو یوه ستراتیژیکه کرښه جوړ وي. ضیاءالحق زیاته کړې چې اجازه به ورنه کړي چې په کابل کې د پخوا په څېر د هند او شوروي نفوذ رامنځته شي، څو له ډیورنډ کرښې اخوا خاورې باندې ادعا وکړي. د ضیاءالحق په وینا، افغانستان کې به یو ربښتینی اسلامي حکومت جوړ شي او د شوروي مسلمانان به هم وګټي.(۴ : ۸۱ )

**د جینیوا توافقات او پاکستان**

له شپېږوکلونو خبرو اترو وروسته د ۱۹۸۸م کا ل د اپرېل په ۱۴ د افغانستان د دیموکرتیک

جمهوریت او پاکستان د اسلامي جمهوریت ترمنځ په جینیوا کې یو توافق لیک لاسلیک شو. امریکا او شوروي د دغو توافقاتو د تضمین کوونکو په توګه پرې لاسلیک وکړ ملګري ملتونو د خبرو اترو کور به و.

د توافقاتو له مخې شوروي پوځ به د ۱۹۸۹م کال د فبرورۍ تر ۱۵ له افغانستانه وځي او افغانستان او پاکستان به د یو بل خاوره کې لاسوهنې بندوي، خو دغو توافقاتو کې د اوربند په اړه هیڅ نه و ویل شوي.

په داسې حال کې چې د افغان بحران یو اصلي لورى افغان مجاهدین وو، خو د هیڅ افغان جهادي مشر لاسلیک په دغه توافقاتو نه وو. که څه هم یو شو جهادي مشرانو دغه خبرې رد کړې، خو د هغوی ردولو هیڅ اغېز نه درلود. افغان مجاهدین د کابل او مسکو په ټینګار دغو خبرو اترو ته نه و بلل شوي.

ضیاءالحق دغه توافقات د پاکستان او افغان مجاهدینو لپاره تاریخي لاسته راوړنه وبلله خو د کابل د حکومت د مشر په توګه د نجیب الله په پاتې کېدو خوښ نه و. داسې فکر کېدو چې ضیاءالحق په کابل کې یو بنسټپاله رژیم غواړي او په دې اړه یې ګلبدین حکمتیار ته لومړیتوب ورکوو. V.D.Chopra لیکي، ضیاءالحق غوښتل چې کابل کې یو پاکستان پلوه اسلامي حکومت جوړ شي. د ضیاءالحق له نظره کابل کې د یو پاکستان پلوه اسلامي حکومت جوړېدو سره به په سویلي اسیا کې د ځواک انډول د اسلام اباد په ګټه شي. د توافقاتو په پایله کې پاکستان خپله لومړۍ موخه چې له افغانستانه د شوروي پوځ ایستل وو تر لاسه کړه. ضیاءالحق څرګنده کړه چې د نجیب الله رژیم به ډېر وخت پاتې نه شي او افغان مجاهدین به وتوانېږي چې د نجیب الله حکومت چپه کړي.

د جینیوا توافقاتو کې د افغان مجاهدینو او د نجیب الله د حکومت ترمنځ د جګړې د ودرېدو په اړه څه نه و ویل شوي. افغان مجاهدینو ویل چې د شوروي پوځ له وتلو وروسته به هم جګړه روانه وساتي. د جینیوا د توافقاتو پر بنسټ د ۱۹۸۹م کال د فبرورۍ په ۱۵ وروستۍ شوروي عسکر له امو سیند واوښت او شوروي یرغل پای ته ورسید.(۸: ۲۱ )

فضل رحیم مروت لیکي، شوروي ضد افغان جګړه د افغان اسلامپستانو لپاره جهاد د عامو افغانانو لپاره بدل اخستنه. د امریکا لپاره شوروي ضد مقاومت او د پاکستان لپاره یو طلایي چانس و، چې پښتون افغان نشلېزم په کې وځپي او یو پاکستانی نسل رامنځه ته کړي. د شوروي عسکرو له

وتلو وروسته پاکستان د افغان مجاهدينو ملاتړ جاري وساته. د افغان مجاهدينو انتقالي دولت چې د ۱۹۸۹م کال په فبروۍ کې جوړ شوی وو، پاکستاني استخباراتو هيله درلوده چې د جلال اباد په نيولو سره به دغه دولت هلته ولېږدول شي او بيا به د نجيب الله حکومت ژر سقوط شي، خو ولېدل شو چې د پاکستان محاسبه سمه نه وه او افغان مجاهدين مات شول. د ۱۹۸۹م کال په مارچ کې افغان مجاهدينو په جلال اباد يوه لويه حمله وکړه، خو له ناکامۍ سره مخ شول. دغې حملې کې زرګونه افغان مجاهدينو برخه اخيستې وه، خو د نجيب الله حکومت سخته ماته ورکړه او دغه جګړه يې وګټله. واشنګټن پوسټ په خپل رپوټ کې د جګړې ګټل د نجيب الله د حکومت لپاره مهمه بريا بللې. رپوټ کې ويل شوي چې د افغان مجاهدينو ماته د پاکستان او امريکا د پاليسۍ ماتېدل و.(۵: ۵ـ۶ )

د افغان مجاهدينو او د نجيب الله د حکومت ترمنځ کورنۍ جګړه تر ۱۹۹۲م کال پورې روانه وه. افغان جهادي مشرانو د نجيب الله د ملي روغې جوړې پروګرام ونه منو، د ۱۹۹۲م کال په اپرېل کې د نجيب الله حکومت سقوط شو او ور سره کابل کې د کورنۍ جګړې يو بل پړاو پيل شو.( ۱ : ۸۳ )

**پايله**

په پايله کې ويلي شو چې پر افغانستان د شوروي يرغل په وخت کې پاکستان د افغانستان دولت سره خپلې اړيکې پرې کړې. د پاکستان د هغه وخت جمهور رئيس ضياءالحق له دغې موقعې څخه ګټه پورته کړه افغان مجاهدينو سره يې د همکارۍ پريکړه وکړه. ضياءالحق او د هغه هېواد د پټو اطلاعاتو څانګې ای اس ای رئيس اختر عبدالرحمن يوه داسې طرحه جوړه کړه، چې د دغه طرحې په اساس يې د شوروي په ضد د اسلام په چوکاټ کې اوو تنظيمونه ايجاد کړل. د هر تنظيم په سر کې يې يو مذهبی او روحانی شخصيت ودراوه تر څو د شوروي په ضد مبارزه وکړي. د امريکا په مشرۍ ټولو لويديځو او خليج هېوادونو خپلې اقتصادي او نظامي مرستې افغان مجاهدينو ته د پاکستان ای اس ای استحبارتي شبکې له لارې ورسولې. په دغه جګړه کې پاکستان خپلې موخې لرلې چې يوه موخه يې له افغانستان څخه د شوروي اتحاد وتل، بل يې په افغانستان کې د نشنلزم د بيا را ژوندي کولو مخه نيول او د ډيورنډ کرښې په رسميت پيژندل و. چې د همدې موخو تر لاسه کولو لپاره په پيښور او نورو سيموکې لسګونه داسې روشانفکره او ملتپالي افغانان ووژل شول چې غوښتل يې د افغان جهاد مشري بايد افغانانو ته وسپارل شي. او

نورو ډېرو افغان روشانفکرانو پاکستان پرېښود او نورو هېوادونو ته کډوال شول. د امریکا موخه د شوروي اتحاد څخه غچ اخیستل او شوروي پوځ ته د افغانستان نه د ویتنام جوړول و.

**وړاندیزونه**

ـ د افغانستان اوسني دولت باید د سولې په پروسه کې د پاکستان موخې او اهداف په ښه ډول سره درک کړي تر څو د هغې مخه ونیول شي.

ـ د افغانستان دولت باید د جینوا توافق څخه درس واخلي او د۱۹۹۰م کالونو تجربه بیا تکرار نه کړي.

ـ د افغانستان دولت ته په کار ده چې پاکستان دولت سره د نړیوالو په ضمانت کولو سره داسې یوه توافق ته ورسیږي چې د افغانستان په کورنیو چاروکې لاسو هنه ونکړي.

**مأخذونه**

۱ـ خیلي، زاهد.( ۱۳۹۸ه ش ). د افغانستان او پاکستان اړیکې. ( لومړی چاپ). ننګرهار: مومند خپرویه ټولنه.

۲ـ عطایي، محمد ابراهیم. ( ۱۳۸۳ ه ش ). د افغانستان پر معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه.(دوهم چاپ). پېښور: میوند خپرندیه ټولنه.

۳ ـ ډګرال، یوسف.( ۱۳۷۲ ه ش). خاموش مجاهد.( لومړی چاپ ). پېښور: میهن خپرندیه ټولنه.

۴ ـ ډګرال، یوسف.( ۱۳۷۵ ه ش). تلک خرس (لومړی چاپ ). پېښور: میوند خپرندیه ټولنه.

۵ ـ مروت، فضل رحیم.( ۲۰۰۵م ). د مهاجرت څخه تر مجاهد پوری.(دوهم چاپ ). پېښور: میوند خپرندیه ټولنه .

۶ـ نظرزی، اباسین.(۱۳۹۱ ه ش ). د افغانستان سیاسي اوضاع ته لنډه کتنه. (لومړی چاپ). جلال اباد: مومند خپرندویه ټولنه.

۷ـ یون، پانیچکین. (۱۳۷۶ ه ش). د پاکستان منځته راتلل او د پښتنو مسله.(دوهم چاپ). کابل: اکسوس خپرندویه ټولنه..

8_ Ali, M., Hussain, K., Ullah, M., Ali, U., Khan, S. U., Bussmann, R. W., ... & Shao, J. W. (2020). Nannorrhops ritchieana (Griff.) Aitch.(Arecaceae)–a traditional multipurpose plant species of Pakistan. *Ethnobotany Research & Applications*, *19*(35).

9_ Weinbaum, M. G. (1991). War and peace in Afghanistan: The Pakistani role. *Middle East Journal*, *45*(1), 71-85.

# د ماتم ( إحداد) شرعي حکم

لیکونکی: پوهنیار فخرالدین عزام، د شرعیاتو پوهنځي د اسلامي ثقافت څانګې استاد
تقریظ ورکوونکی: پوهندوی سیدولي شاه مندوزی د اقتصاد پوهنځي استاد

**لنډیز**

دا موضوع د ماتم (إحداد ) شرعي حکم تر عنوان لاندې لیکل شوې، کتابخانه یي څېړنه ده، چې موخه یې د ماتم حکم، مشروعیت او د ماتم اړوند احکام پېژندل دي، ماتم د عدت په موده کې د ښځې لخوا د مېړه په مړینه باندې د غم او خفګان له وجې د سینګار پرېښودل دي، چې مشروعیت یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سنتو سره ثابت دی، هغه ښځه، چې عاقله، بالغه او مسلمانه وي او مېړه یې مړ شي د عدت په موده کې پرې ماتم کول واجب دي. د جمهورو علماوو په آند پر ماشومې باندې هم ماتم واجب دی، ولي به یې د هغو کارونو څخه منع کوي، چې د ماتم پر خلاف وي.د ماتم موده د مېړه د مړینې سره سمه شروع کیږي، په دې موده کې بې له ضرورته د کور څخه وتل، سینګار لکه سرخي وهل، رانجه لګول، نکریزې لګول، د تېلو استعمالول، د رنګه جامو اغوستل او داسې نور د سینګار شیان استعمالول روا نه دي. د تخرګونو ویښتان ویستل، د نورو اضافي ویښتانو لیرې کول، د سروینځل، غسل کول، صابون وهل او د پاکو جامو اغوستل روا دي؛ ځکه نوموړي توکي د پاکوالي په خاطر کارول کیږي او سینګار ورته نشو ویلی. نتیجه کې باید ووایم، چې د کومې مکلفې ښځې مېړه مړ شوی وي، ماتم او د ماتم احکامو ته غاړه اېښودل پرې واجب دي او که سرغړونه وکړي ګناهګاره ده؛ خو د ماتم نه کولو له وجې پرې بیا ځلې عدت نه لازمیږي.

**کلیدي ټکي:** د ماتم پېژندنه، د ماتم حکم، د ماتم څرګندونکي ، د ماتم د مشروعیت حکمت، د ماتم د مودې شروع

**سریزه**

الحمد لله والصلاة والسلام علی رسول الله أما بعد:

{وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنْكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا فَإِذَا بَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا فَعَلْنَ فِي أَنْفُسِهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَاللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ} [البقرة: ۲۳۴]

ژباړه: له تاسې څخه چې څوک ومري او کونډې یې پاتې شي؛ نو هغوی دې پر خپل ځان څلور میاشتې او لس ورځې ( په عدت کې) تېرې کړي بیا چې کله یې عدت پوره شي؛ نو د خپلو

شخصي چارو په اړه د هغو خپله خوښه ده، په ښه توګه چې څه کوي ویې دې کړي، پر تاسې څه مسؤلیت نشته الله تعالی ستاسې له کړنو څخه خبر دی.

الله تعالی انسانانو ته وخت پر وخت د خپلو انبیاوو پر اساس احکام او لارښوونې رالیږلي دي، په هغو کارونو یې ورته امر کړی، چې د انسان لپاره پکې د دنیا او اخرت ګټې وي او په هغه څه کې چې د انسان لپاره زیان وي د هغو څخه یې منع کړي دي، موږ مسلمانانو ته الله جل جلاله محمد صلی الله علیه وسلم د لارښود په توګه رالیږلی دی او امر یې راته کړی، چې د رسول الله تابعداري وکړو، رسول الله خپل امت ته د اسلام ټول احکام ورښودلي دي، چې د دغو اسلامي احکامو له جملې څخه د ماتم د احکامو یادونه کولی شو.

دا، چې ماتم کول شرعي حکم دی؛ نو سوال پیدا کیږي، چې ماتم څه ته وایي؟ حکم یې څه دی؟ د ماتم موده کوم وخت شروع کیږي؟ او د ماتم په موده کې ماتم کوونکې ښځې ته کوم کارونه روا او کوم ناروا دي؟ نو زه إن شاء الله په دې اړه باندې یو څه مواد راجمع کوم د الله عزوجل څخه په دې اړه د سمې لیکنې د توفیق غوښتنه کوم.

**موخې**

لوستونکي به په دې وتوانیږي چې:

۱ – ماتم، د ماتم مشروعیت او د ماتم حکمت وپېژني.

۲ – د ماتم احکام به وپېژني.

۳– هغه کارونه به وپېژني، چې په ماتم کې روا دي او هم هغه چې ماتم کې ناروا دي.

۴- د ماتم کوونکې ښځې د اوسېدو ځای او کرایي په اړه به معلومات تر لاسه کړي.

**د کار توکي او کړنلاره**

ما د خپل تحقیق په بهیر کې دا تګلاره غوره کړې ده، چې د هرې موضوع د څېړنې په موخه مې د الله تعالی کتاب قرآن کریم ته مراجعه کړې ده، یعنې هڅه مې کړې، چې اساس یې لومړی په قرآن کریم کې پیداکړم وروسې مې نبوي سنتو ته مراجعه کړې ده، همدا راز د څېړنې په بهیر کې مې د قرآن کریم او نبوي سنتو کې د پلټنې وروسته د فقهي مستندو او د اعتبار وړ مأخذونو ته مراجعه کړې ده، یعنې د لیکنې کړنلاره مې کتابخانه یې تحقیق دی دا چې مقاله په پښتو ژبه ده؛ نو د خپل توان په اندازه مې د پښتو ژبې د لیک دود ټول معیارونه په نظر کې نیولي او تطبیق کړي دي.

**د إحداد (ماتم) لغوي پېژندنه**

إحداد يا حداد د حد څخه اخيستل شوی دی او حد منع ته ويل کيږي. د ښځې ماتم ته ځکه إحداد ويل کيږي، چې د ځان ښايسته کولو او خوشبو لګولو څخه منع کړل شوې ده.

أبو عبيد ويلي دي د ښځې إحداد (ماتم) په خپل خاوند باندې د زينت او سينګار پرېښودل دي او د دروازې ساتونکي (بواب) ته هم حداد وايي، ځکه چې خلك د ننوتلو څخه منع کوي.(۲۷۱:۳۴)

**د ماتم اصطلاحي پيژندنه**

ماتم د ښځې لخوا د ځان منع کول دي د هغو شيانو څخه چې په هغې سره ښځه د خاوند لپاره خپل ځان تياروي لکه خوشبو لګول او سينګار کول.(۴۲۸:۱۱)

د ماتم حکم

۱- علماوو اجماع کړې، چې په صحيح نکاح کې د مېړه د مړينې له آمله په ښځه باندې، چې عاقله، بالغه او مسلمانه وي ماتم کول واجب دي که څه هم چې کوروالی نه وي شوی.(۱۰۴:۳۳)

دليل پرې د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا مبارك قول دی: «لاَ يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَاليَوْمِ الآخِرِ، أَنْ تُحِدَّ عَلَى مَيِّتٍ فَوْقَ ثَلاَثٍ، إِلَّا عَلَى زَوْجٍ، فَإِنَّهَا تُحِدُّ عَلَيْهِ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا». (۷۸:۹)

ژباړه: د ښځې لپاره چې په الله تعالی او د اخرت په ورځ ايمان لري، روا نه دي، چې په مړي باندې له درې ورځو زيات ماتم وکړي مګر په مېړه باندې به څلور مياشتې او لس ورځې ماتم کوي.

څلور مياشتې او لس ورځې ماتم د غير حاملې ښځې لپاره دی او د حاملې ښځې لپاره د ماتم موده د ماشوم زيږېدنې سره پای ته رسيږي او د طلاقې شوې ښځې د عدت موده درې حيضه ده په لنډ ډول بايد وويل شي، چې د ماتم موده د عدت تابع ده، هر کله چې عدت پای ته ورسېده ماتم هم پای ته رسيږي.(۸۵۳:۱۳)

۲- د رجعي طلاقو په مطلقې باندې ماتم نشته؛ بلکې د رجعي طلاقو مطلقې لپاره پکار دي، چې خپل مېړه ته ځان ښايسته کړي او ورته مخکې وروستو شي د دې لپاره، چې الله جل جلاله رحم وکړي او د مېړه ورته بېرته مېلان پيدا شي او رجوع ورته وکړي.(۲۵۳:۱۲) ابو ثور د امام شافعي رحمه الله څخه روايت کړی وايي، چې د رجعي طلاقو مطلقې لپاره ماتم کول مستحب دي.(۴۰۵:۳۱)

۳- د بائن کبرى او بائن صغرى طلاقو د معتدې په اړه د علماوو دوه نظره وجود لري:

الف: احناف وايي، چې ماتم پرې واجب دی د نکاح د نعمت د زوال پر اساس؛ نو دا هغې ښځې ته ورته ده، چې مېړه ترې وفات شوی وي.(۳۳۸:۱۸)

ب: مالکيه، امام شافعي او امام احمد رحمهم الله وايي، چې ماتم پرې نشته؛ ځکه چې مېړه يې د بغض او کينې له مخې د خپل ځان څخه جدا کړې او شړلې ده؛ نو مېړه يې د دې وړ نه دی، چې ماتم پرې وکړي او دا خبره د تابعينو يوې ډلې هم کړې ده لکه سعيد بن المسيب، أبو ثور، عطاء، ربيعه، مالك او ابن المنذر.(۱۰۴:۳۳)

۴- د فاسدې نکاح له منکوحې څخه که مېړه وفات شي؛ نو جمهور علماء وايي، چې ماتم پرې نشته؛ ځکه چې دا په حقيقت کې د مړ شوي شخص ښځه نه ده او بل دا چې د فاسدې نکاح بقاء غضب او د منځه تلل يې نعمت دی؛ نو د ماتم لپاره هيڅ ځای او محل نشته.(۱۰۵:۳۳) او د مالکيه څخه قاضي الباجي وايي، چې ماتم پرې نشته؛ مګر که هر کله د دې ښځې او مېړه تر منځ د نکاح له احکامو څخه کوم حکم ثابت شو لکه مېراث يا بل حکم؛ نو د مړينې عدت به هم تېروي او ماتم پرې هم واجب دی.(۱۴۴:۸)

۵- کتابيه، چې د مسلمان سړي په نکاح کې وي او مېړه يې وفات شي امام مالك رحمه الله د ابن القاسم په روايت سره، شافعيه او حنابله وايي، چې د عدت په موده کې پرې ماتم کول هم واجب دي؛ ځکه چې ماتم د عدت تابع دی؛ نو هر کله چې په کتابيه باندې عدت واجب شو ماتم پرې هم واجبېږي. احناف او امام مالك د أشهب په روايت سره وايي، چې ماتم پرې نشته؛ ځکه چې ماتم په مسلمانې ښځې واجب دی.(۱۰۶:۳۳) د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د دې قول د ظاهر له مخې: «لاَ يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَاليَوْمِ الآخِرِ، أنْ تُحِدَّ عَلَى مَيِّتٍ فَوْقَ ثَلاَثٍ، إِلَّا عَلَى زَوْجٍ، فَإِنَّهَا تُحِدُّ عَلَيْهِ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا».(۷۸:۹)

ژباړه: د ښځې لپاره چې په الله تعالی او د اخرت په ورځ ايمان لري، روا نه دي، چې په مړي باندې له درې ورځو زيات ماتم وکړي مګر په مېړه باندې، په مېړه باندې به څلور مياشتې او لس ورځې ماتم کوي.

۶- د ماشومې په اړه جمهور علماء وايي، چې په خپل مړ شوي مېړه به ماتم کوي او په ولي يې لازم دي، چې له هغو کارونو څخه يې منع کړي کوم، چې د ماتم په خلاف دي؛ ځکه چې ماتم د عدت تابع دی او په ماشومې باندې عدت واجب دی او بل د هغه حديث له وجې پرې ماتم

کول واجب دي.(۶۲:۲۴) أم سلمة رضی الله عنها څخه روایت شوی دی: جَاءَتْ امْرَأَةٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ ابْنَتِي تُوُفِّيَ عَنْهَا زَوْجُهَا، وَقَدِ اشْتَكَتْ عَيْنَهَا، أَفَتَكْحُلُهَا؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لاَ» مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلاَثًا، كُلَّ ذَلِكَ يَقُولُ: «لاَ» ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّمَا هِيَ أَرْبَعَةُ أَشْهُرٍ وَعَشْرٌ، وَقَدْ كَانَتْ إِحْدَاكُنَّ فِي الجَاهِلِيَّةِ تَرْمِي بِالْبَعْرَةِ عَلَى رَأْسِ الحَوْلِ».(۵۹:۱۰)

ژباړه: یوه ښځه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغله، ورته ویې ویل: ای د الله تعالی استازیه! زما د لور میړه مړ شوی دی او سترګې یې خوږیږي، آیا په رنجو یې ورته تورې کړو؟ رسول الله ورته وویل:« نه» دوه ځل یا درې ځل یې پوښتنه وکړه او رسول الله ورته د نه جواب ورکړ بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل« دا څلور میاشتې او لس ورځې دي او په جاهلیت کې به یوې له تاسو د کال په سر د څاروي پچه هاخوا غورځوله».

رسول الله صلی الله علیه وسلم د رنجو د لګولو څخه منع کړه؛ خو د عمر پوښتنه یې ترې ونه کړه؛ نو دا دلیل دی په دې خبره باندې چې ماتم په ټولو ښځو باندې واجب دی. او احناف وايي، چې ماتم کول پرې واجب نه دي.(۶۲:۲۴) او دلیل یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا وینا ده، چې: عَنْ عَائِشَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " رُفِعَ الْقَلَمُ عَنْ ثَلَاثٍ: عَنِ النَّائِمِ حَتَّى يَسْتَيْقِظَ، وَعَنِ الصَّغِيرِ حَتَّى يَكْبُرَ، وَعَنِ الْمَجْنُونِ حَتَّى يَعْقِلَ أَوْ يُفِيقَ ".(۱۵۶:۲۸)

ژباړه: د عائشې رضی الله عنها څخه روایت دی، چې د نبي صلی الله علیه وسلم څخه یې روایت کړی، چې فرمایلي یې دي: د درې کسانو څخه قلم اوچت شوی دی( مکلف نه دي): د ویده څخه تر څو چې راویښ شي، د ماشوم څخه تر څو چې بالغ شي او د لیوني څخه تر څو چې عقلمند شي.

او وايي، چې که چېرته دا ماشومه د عدت په جریان کې بلوغ ته ورسیږي؛ نو د عدت په پاتې موده کې به په خپل مړ شوي میړه ماتم کوي او همدغه شان بالغه لیونۍ هم چې کله بېرته عاقله شوه د عدت پاتې موده کې به په خپل مړ شوي میړه باندې ماتم کوي.

۷- د وینزې په اړه فقهاء وايي، چې د عدت به موده کې به په خپل میړه باندې ماتم کوي د ماتم د وجوب د حدیث له وجې چې عام دی. (۶۲:۲۴)

۸- که ښځه واجب ماتم د عدت په ټوله موده کې او یا په بعضې موده کې پریږدي؛ ګناهګاره ده او همدارنګه که د میړه کور یې په ځان لازم نه کړ او بې ضرورته بهر ووتله، ګناهګاره ده او

عدت يې د وخت پوره کېدو سره پای ته رسيږي لکه هغه ښځه چې د مېړه د مړينې خبر د څلورو مياشتو او لسو ورځو څخه وروسته ورکړل شي، عدت يې پای ته رسېدلی بيا عدت پرې نشته.(۴۰۸:۳۱)

۸- د ښځې لپاره د مېړه پرته په بل خپلوان لکه مور، پلار، ورور، خور او داسې نورو باندې ماتم يوازې او يوازې تر درې ورځو پورې روا دی او په درې ورځو باندې زيادت کول ناروا دی، دليل پرې د رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه حديث دی، چې د زينب رضی الله عنها څخه روايت شوی دی، کوم چې مخکې تېر شوی دی او مېړه حق لري، چې خپله ښځه په خپلوان باندې د ماتم کولو څخه منع کړي؛ ځکه چې سينګار يې د مېړه حق دی.(۷۲۰۴:۱۶)

**د ماتم د مودې پيل**

ښځه که د مېړه د مړينې څخه سمدستي خبره شي او يا وروسته ترې خبره شي په دواړو حالاتو کې ماتم د مېړه په مړينې پسې سمدستي شروع کيږي او د طلاق د واقع کېدو سره سم شروع کيږي د هغه چا په اند، چې په طلاقې شوې ښځې باندې ماتم کول واجب ګڼي؛ خو دا هغه وخت کله چې طلاق او مړينه معلومه وي. او که چېرته مېړه مړ شي يا ښځې ته طلاق ورکړي او د ښځې څخه ليرې وي؛ نو ماتم هغه وخت شروع کيږي، چې کله ښځې ته معلومات حاصل شي او کوم وخت چې ورڅخه تېر شوی دی د هغې قضاء پرې نشته؛ بلکې د عدت ختمېدو سره يې ماتم هم پای ته رسيږي او کله چې د ماتم موده پای ته ورسيږي او دا بې له قصده په ماتم کې پاتې وي ګناه پرې نشته.(۱۰۵:۳۳)

**د ماتم د مشروعيت حکمت**

د مېړه د مړينې له کبله د ښځې لپاره ماتم د مېړه سره د وفا کولو او د هغه د ستر حق د لحاظه، چې په ښځه يې لري مشروع شوی دی؛ ځکه چې د زوجيت ( د ښځې توب او مېړه توب) اړيکه په ټولو اړيکو کې پاکه او مقدسه اړيکه ده؛ نو شرعاً او ادباً روا نه ده، چې دا ښايسته اړيکه او ژوند هېر کړای شي او د زوجيت هغه حق، چې د دواړو تر منځ موجود و هېر شي او دا وفا نه ده، چې مېړه يې مړ شي او ښځه په ډول او سينګار، ځلېدونکو، پرقېدونکو او خوشبوداره جامو اغوستلو کې مبتلا شي او د خاوند له کوره ووځي؛ لکه د دوی تر منځ چې هيڅ ګډ ژوند نه وي تېر شوی. دوهم د دې لپاره ماتم مشروع شوی دی، چې دا ښځه د سړو له نظر څخه پټه وي او سينګار کول خو د سړو نظر وراړوي او د سړو نظر د نکاح د عقد سبب کيږي او د نکاح

عقد د وطې لامل کېږي او وطې د نسبونو د ګډوډوالی رامنځته کوي، په داسې حال کې چې د نسبونو ګډوډوالی حرام دی او هر هغه څه چې د حرامو سبب کېږي هغه په اسلام کې حرام دي؛ نو د معتدې لپاره هم سینګار کول حرام شو.(۱۰۶:۳۳)

دا هم ویل شوي، چې په ماتم کې دا حکمت پروت دی، چې ښځه د خپل مېړه په ژوند د هغه حق وپېژني، ځکه کله چې ښځه د مېړه د مړینې وروسته په هغه باندې ماتم کوي، ډول او سینګار پرېږدي؛ نو واجب ده، چې په ژوند یې حق وپېژني، اطاعت او خدمت یې وکړي او د هغه مقام او مرتبه وپېژني او په دې ځان پوه کړي، چې د مېړه پرې حقوق شته؛ نو د هغه اطاعت به کوي او کوم حقوق چې مېړه یې په ښځه باندې لري هغه به نه منع کوي.(۶۳:۶)

**د ماتم ځرګندونکي ( هغه څه چې ماتم کوونکې ښځه به ترې ځان ساتي)**

د ماتم حکمت د غم او خفګان ښکاره کول او پخواني ګډ ژوند ته وفادار پاتې کېدل دي؛ نو ښځه د هر ډول سینګار کولو څخه منع ده، ځینې هغه کارونه چې سینګار ګڼل کېږي او باید چې محده( هغه ښځه چې په خپل مېړه باندې ماتم کوي) ترې ځان وساتي په لنډه دول یې ذکر کوم:

۱- خوشبویي

هغه ښځه، چې مېړه یې مړ شوی وي؛ تر څو چې په عدت کې وي په بدن او جامو به خوشبویي نه لګوي او کوم شی چې خوشبو لري هغه به هم نه استعمالوي لکه د سر تېلو استعمال، که دا تېل خوشبو لري او که نه یې لري په دواړو حالاتو کې روا نه دي؛ ځکه چې د تېلو په استعمال کې د ویښتانو ښایست دی او هغه تېل چې په ویښتانو لګول کېږي د خوشبو څخه خالي نه وي مګر د دې ښځې لپاره د بدن د تېلو استعمال روا دی؛ خو په دې شرط چې خوشبو به نه لري.(۱۸۵:۲۹)

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د قول له وجې چې په صحیح حدیث کې راغلي دي: عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَا تُحِدُّ امْرَأَةٌ عَلَى مَيِّتٍ فَوْقَ ثَلَاثٍ، إِلَّا عَلَى زَوْجٍ، أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا، وَلَا تَلْبَسُ ثَوْبًا مَصْبُوغًا، إِلَّا ثَوْبَ عَصْبٍ، وَلَا تَكْتَحِلُ، وَلَا تَمَسُّ طِيبًا، إِلَّا إِذَا طَهُرَتْ، نُبْذَةً مِنْ قُسْطٍ أَوْ أَظْفَارٍ».(۱۱۲۷:۳۲)

ژباړه: د أم عطیة رضی الله عنها څخه روایت شوي دي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: ښځه به په مړي باندې د درې ورځو څخه زیات ماتم نه کوي مګر په خپل مېړه باندې به څلور میاشتې او لس ورځې ماتم کوي او رنګ شوې جامې به نه اغوندې مګر د

مالوچو او وړیو څخه اوبدل شوې جامې اغوستلی شي، سترګې به نه توروي، خوشبو به نه لګوي مګر کله چې له حیض څخه پاکه شي؛ نو لږ شان د قسط او اظفار بوټو څخه جوړه طبیعي خوشبو لګولی شي ( دا خوشبو د خوشبویي لپاره نه؛ بلکې د بدبویي د منځه وړلو په خاطر ورته روا ده).

۲- د بدن او جامو سینګار

أ- د بدن سینګار: د معتدې ښځې لپاره د نکریزو او هر ډول رنګ او رانجو استعمال ناروا دی؛ ځکه چې دا ټول د زینت او سینګار وسایل دي او په دې سره ښایست کې زیادت راځي او په همدې اساس د ښایست دوا استعمالول لکه د مخ کریم او سرخي هم نا روا دي؛ ځکه چې په هغې کې هم زینت او ښایست پروت دی.(۲۳:۲۰۸)

ب – د جامو سینګار: معتده ښځه به هغه جامې اغوندي چې زینت پکې نه وي ( معنی دا چې شیشې، غمې، مرۍ او داسې نور شیان چې په جامو باندې د لاښکلا لپاره لګول کیږي ونه لري)؛ نو هغه جامې به نه اغوندي، چې زعفران او عصفر ولري ځکه چې دا دواړه ښه بوی لري؛ نو دا داسې شوه لکه د خوشبو استعمال(۲۱:۸۵)، او د اغوستلو لپاره به یو رنګ نه خاص کوي لکه څرنګه چې عادت جوړ شوی دی او تورې جامې اغوستل ورته روا دي، چې د مالوچو، وړیو او وریښمو څخه جوړې شوې وي؛ ځکه چې په دې کې زینت نه وي.(۷:۴۰۲)

لکه څرنګه چې په دې حدیث کې ذکر شوی دی: عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَا تُحِدُّ امْرَأَةٌ عَلَى مَيِّتٍ فَوْقَ ثَلَاثٍ، إِلَّا عَلَى زَوْجٍ، أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا، وَلَا تَلْبَسُ ثَوْبًا مَصْبُوغًا، إِلَّا ثَوْبَ عَصْبٍ ».(۳۲:۱۱۲۷)

ژباړه: د أم عطیة رضی الله عنها څخه روایت شوي دي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: ښځه به په مړي باندې د درې ورځو څخه زیات ماتم نه کوي مګر په خپل مېړه باندې به څلور میاشتې او لس ورځې ماتم کوي او رنګ شوې جامې به نه اغوندې مګر د مالوچو او وړیو څخه اوبدل شوې جامې اغوستلی شي.

۳- رانجه لګول ( سترګې تورول)

د رنجو استعمال یا سترګې تورول ځکه منع شوي دي، چې دا ښکاره سینګار او د سترګو ښایست دی؛ مګر دا ورته روا دي، چې د شپې سترګې تورې کړي او سهار یې بېرته پاکې کړي او د رنجو څخه علاوه په بل شي باندې د سترګو علاج کول، چې زینت پکې نه وي هیڅ باک

نه لري،(۶: ۵۰۳-۵۰۲) د زینب رضی الله عنها د حدیث پر اساس: قَالَتْ زَيْنَبُ، وَسَمِعْتُ أُمَّ سَلَمَةَ، تَقُولُ: جَاءَتْ امْرَأَةٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ ابْنَتِي تُوُفِّيَ عَنْهَا زَوْجُهَا، وَقَدِ اشْتَكَتْ عَيْنَهَا، أَفَتَكْحُلُهَا؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لاَ» مَرَّتَيْنِ أَوْ ثَلاَثًا، كُلَّ ذَلِكَ يَقُولُ: «لاَ» ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّمَا هِيَ أَرْبَعَةُ أَشْهُرٍ وَعَشْرٌ، وَقَدْ كَانَتْ إِحْدَاكُنَّ فِي الجَاهِلِيَّةِ تَرْمِي بِالْبَعْرَةِ عَلَى رَأْسِ الحَوْلِ».(۵۹:۱۰)

ژباړه: زینب رضی الله عنها ویلي دي، چې د أم سلمة رضی الله عنها څخه مې واورېدل چې ویل یې: یوه ښځه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغله، ورته ویې ویل: ای د الله تعالی استازیه! زما د لور مېړه مړ شوی دی او سترګې یې خوږیږي، آیا په رنجو یې ورته تورې کړو؟ رسول الله ورته وویل:« نه» دوه ځل یا درې ځل یې پوښتنه وکړه او رسول الله ورته د نه جواب ورکړ بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل« دا څلور میاشتې او لس ورځې دي او په جاهلیت کې به یوې له تاسو د کال په سر پچه هاخوا غورځوله».

د پچې غورځولو په اړه حمید د زینب رضی الله عنها څخه پوښتنه وکړه، چې پچه غورځول څه معنی، چې زینب رضی الله عنها بیا په یو حدیث سره جواب ورکړ چې هغه حدیث په لاندې ډول دی:

قَالَ حُمَيْدٌ: فَقُلْتُ لِزَيْنَبَ، وَمَا تَرْمِي بِالْبَعْرَةِ عَلَى رَأْسِ الحَوْلِ؟ فَقَالَتْ زَيْنَبُ: «كَانَتِ المَرْأَةُ إِذَا تُوُفِّيَ عَنْهَا زَوْجُهَا، دَخَلَتْ حِفْشًا، وَلَبِسَتْ شَرَّ ثِيَابِهَا، وَلَمْ تَمَسَّ طِيبًا حَتَّى تَمُرَّ بِهَا سَنَةٌ، ثُمَّ تُؤْتَى بِدَابَّةٍ، حِمَارٍ أَوْ شَاةٍ أَوْ طَائِرٍ، فَتَفْتَضُّ بِهِ، فَقَلَّمَا تَفْتَضُّ بِشَيْءٍ إِلَّا مَاتَ، ثُمَّ تَخْرُجُ فَتُعْطَى بَعَرَةً، فَتَرْمِي، ثُمَّ تُرَاجِعُ بَعْدُ مَا شَاءَتْ مِنْ طِيبٍ أَوْ غَيْرِهِ»(۵۹:۱۰)

ژباړه: حُمید وایي: ما زینب رضی الله عنها ته وویل، د کال په سر پچه غورځول څه مطلب؟ زینب وویل:« کله به چې د ښځې مېړه مړ شو؛ نو یوې تنګې او خرابې کوټې ته به ننوتله، خرابې جامې به یې واغوستلې او هیڅ خوشبو به یې نه استعمالوله؛ تر څو چې کال به پرې تېر شو بیا به خر یا پسه او یا مرغه ورکړل شو هغه به یې په خپل ځان پسې ومږه؛ نو ډېر کم به داسې پېښېدل چې کوم شی به یې ځان پسې ومږه او ژوندی به پاتې شه؛ مګر هغه شی به مړ کېده، بیا به راووتله او یوه پچه به ورکړل شوه؛ نو هغه پچه به یې وغورځوله د دې وروسته به یې خوشبو او نور هر څه به یې چې خوښ وو استعمالول به یې.

او د پچې غورځولو کې دې ته اشاره وه، چې د دې ښځې د کال انتظار او په تکلیفونو باندې

صبر چې په دغې کوټه کې یې تېر کړل دا د دې په نزد د پېچې غورځولو څخه کم او اسانه و، چې په دې سره به یې د ماتم دغه موده سپکه او کمه ګڼله او د خاوند حق به یې له دې زیات ګاڼه.(۳۴۸:۱۹)

۴- ګاڼه

د معتدې لپاره د هر ډول ګاڼې استعمال حرام دی؛ تر دې چې د ګوتمې استعمال هم ورته حرام دی او همدارنګه هغه ګاڼه چې اوس وخت کې جوړیږې لکه هار، چارګل، نتکی، مندری او بنګړي؛ ځکه چې ګاڼه ښایست زیاتوي؛ نو په معتدې ښځې واجب دي، چې د خپل مېړه د مړینې سره سم د ګاڼې اچولو څخه ډډه وکړي او که یې اچولي وي باید سمدستي یې لیرې کړي.(۱۸۹:۲۹)

عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: «الْمُتَوَفَّى عَنْهَا زَوْجُهَا لَا تَلْبَسُ الْمُعَصْفَرَ مِنَ الثِّيَابِ، وَلَا الْمُمَشَّقَةَ، وَلَا الْحُلِيَّ، وَلَا تَخْتَضِبُ، وَلَا تَكْتَحِلُ».(۲۹۲:۱۷)

ژباړه: د نبي علیه السلام مېرمن أم سلمة رضی الله عنها د نبي علیه السلام څخه روایت کړی، چې فرمایلي یې دي: د کومې ښځې، چې مېړه مړ شوی وي په زېړ او سور رنګ رنګ شوې جامې به نه اغوندې، ګاڼه به نه اچوي، نکریزې به نه لګوي او رانجه به هم نه کاروي.

ابن رشد ویلي دي: د فقهاوو پر آند ماتم کوونکې ښځه د هر ډول سینګار څخه چې سړي ښځو ته متوجه کوي منع ده لکه ګاڼه او رانجه مګر هغه څه چې سینګار او ښایست پکې نه وي او د رنګ شوو جامو څخه هم منع ده مګر تورې جامې اغوستلی شي ځکه چې امام مالك رحمه الله د ماتم کوونکې ښځې لپاره تورې جامې اغوستل بدې نه ګڼي، په ټوله کې د فقهاوو خبرې په دې راڅرخېږي چې ماتم کوونکې ښځه به د هغو شیانو څخه ځان ساتي چې په سړو کې تحرك راپیدا کوي او هغې ته یې متوجه کوي.(۱۴۱:۳)

**هغه څه چې د ماتم کوونکې ښځې لپاره روا دي**

د ماتم کوونکې ښځې لپاره که مېړه یې مړ شوی وي او که طلاق یې ورکړي وي په دواړو حالاتو کې د ورځې لخوا د حاجت پر بنا د کور څخه وتل روا دي، د لاندې حدیث پر اساس:

وَعَنْ جَابِرٍ قَالَ: «طَلُقَتْ خَالَتِي ثَلَاثًا، فَخَرَجَتْ تَجُدُّ نَخْلًا لَهَا، فَلَقِيَهَا رَجُلٌ فَنَهَاهَا، فَأَتَتْ النَّبِيَّ – صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ – فَذَكَرَتْ ذَلِكَ لَهُ، فَقَالَ: اُخْرُجِي فَجُدِّي نَخْلَك لَعَلَّك أَنْ تَصَدَّقِي مِنْهُ أَوْ

تَفعَلِي خَيْرًا».(۳۵۱:۱۹)

ژباړه: د جابر رضی الله عنه څخه روایت دی، چې ویلي یې دي: زما خاله ( د مور خور) په درې طلاقو طلاقه شوه، د کور څخه د خپلو کجورو د پرې کولو لپاره ووتله؛ نو د یو سړي سره مخ شوه، چې د کور څخه له وتلو یې منع کړه، نو دا ښځه نبي صلی الله علیه وسلم ته راغله او دا ټوله کیسه یې ورته وکړه، رسول الله ورته وویل: ووځه او خپلې کجورې پرې کوه شاید چې د دې څخه ځینې صدقه کړې او یا یو نېک کار وکړې.

د ماتم کوونکې ښځې لپاره د کور څخه بهر شپه تېرول ناروا دي، چې دلیل پرې د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا حدیث دی: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ كَثِيرٍ قَالَ: قَالَ مُجَاهِدٌ: اسْتُشْهِدَ رِجَالٌ يَوْمَ أُحُدٍ عَنْ نِسَائِهِمْ، وَكُنَّ مُتَجَاوِرَاتٍ فِي دَارِهِ، فَجِئْنَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْنَ: إِنَّا نَسْتَوْحِشُ يَا رَسُولَ اللَّهِ بِاللَّيْلِ، فَنَبِيتُ عِنْدَ إِحْدَانَا، حَتَّى إِذَا أَصْبَحْنَا تَبَدَّدْنَا إِلَى بُيُوتِنَا؟ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «تَحَدَّثْنَ عِنْدَ إِحْدَاكُنَّ مَا بَدَا لَكُنَّ، حَتَّى إِذَا أَرَدْتُنَّ النَّوْمَ فَلْتَأْتِ كُلُّ امْرَأَةٍ إِلَى بَيْتِهَا».(۳۵:۲۰)

ژباړه:د عبدالله بن کثیر څخه روایت دی، ویلي یې دي، چې مجاهد ویلي دي: د احد په ورځ د ځینو ښځو سړي (مېړونه) شهیدان شول او د دې ښځو کورنه سره نژدې وو، رسول الله ته راغلې، ویې ویل: ای د الله تعالی رسوله موږ د شپې وېرېږو آیا زموږ له جملې څخه د یوې تنې سره ټولې شپه وکړو؛ تر دې چې کله سهار شي بېرته خپلو کورونو ته ستنې شو؟ رسول الله ورته وویل: د یوې تنې په کور کې مشغولتیا کوئ؛ مګر کله مو، چې د خوب اراده وکړه؛نو بیا هره ښځه خپل کور ته ځئ.

معلومه شوه، چې د خپل کور نه علاوه بل ځای کې ورته د شپې تېرول روا نه دي او د شپې ورته د کور څخه وتل هم ناروا دي؛ مګر د ضرورت له وجې، ځکه چې شپه کې فساد غالب وي په خلاف د ورځې ځکه ورځ غالباً د حاجتونو، د ژوند د ضرورتونو او د هغه څه د اخیستلو لپاره وي کوم ته چې حاجت وي او که چېرته پرې داسې حق واجب شي، چې بې له هغې نه پوره کېږي لکه قسم او حد په داسې حال کې، چې دا ښځه ستره وي؛ نو حاکم به کور ته هغه موظف شخص ورلېږي، چې په کور کې ترې حق پوره کړي او که بوډۍ وه ستر یې نه کاوه؛ نو محکمې ته یې حاضرول روا دي؛ تر څو حق ترې پوره شي، هر کله چې فارغه شوه خپل کور ته به ستنېږي.(۱۶۳:۵)

امام مالك رحمه الله ویلي، چې ماتم کوونکې ښځې باندې هیڅ ګناه نشته که ودونو ته لاړه شي؛ مګر سینګار به نه کوي او هغه څه به نه اغوندي کوم چې ماتم کوونکې ښځې نه اغوندي.(۱۴۸:۱۴)

عبد الرحمن المقدسي حنبلي فقیه وايي: د سپینو جامو اغوستل ورته روا دي که څه هم، چې ښایسته او ښکلې وي.(۱۵۱:۲۵)

د څلورو واړو مذاهبو امامانو په دې اتفاق کړی دی، چې د ماتم کوونکې ښځې لپاره لاندې شیان مباح دي:

ټولې هغه جامې چې رنګ نه وي ورکړل شوی که څه هم چې ډېرې قیمتي وي او همدارنګه هغه جامې چې په عرف کې زینت نه ګڼل کیږي که هر رنګ وي ورته روا دي او لکه څرنګه چې ماتم د بدن، ګاڼې او جامو په زینت او سینګار پورې خاص دی؛ نو ماتم کوونکې ښځه د کور د بسترې، فرش، پردو، لوښو او نورو ښایسته سامانونو د استعمال څخه منع نه ده. او د خپلو جامو او بدن د خیرو او چټلیو پاکولو کې هم څه باك نشته لکه د تخرګونو د ویښتانو ویستل، د نوکانو پرې کول، په داسې صابون لامبل چې خوشبو ونه لري او د لاسونو او سر وینځل او ماتم کوونکې ښځې ته روا دي، چې د حاجت پر مهال د سرو سره مخ شي؛ خو په دې شرط چې خپل زینت به نه ښکاره کوي او د سرو سره به ځان نه ګډوي.(۱۰۹:۳۳)

**د ماتم کوونکې ښځې د اوسېدو ځای**

جمهور فقهاء وايي پر هغې ښځې، چې مېړه یې مړ شوی وي واجب دي، چې د زوجیت په هغه کور کې عدت او ماتم تېر کړي په کوم کې چې د مېړه د مړینې په وخت کې اوسېده؛ که د مېړه د مړینې خبر ورته د خپل کور نه بغیر په بل ځای کې ورسېده، خپل کور ته به راګرځي او عدت به پکې تېروي او روا نه دي، چې بې له عذر او حاجت څخه بل کور ته لاړه شي.(۲۵۵:۱۲) دلیل د فریعة بنت مالك حدیث دی: أَنَّ الْفُرَيْعَةَ بِنْتَ مَالِكِ بْنِ سِنَانٍ، وَهِيَ أُخْتُ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَخْبَرَتْهَا، أَنَّهَا جَاءَتْ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَسْأَلُهُ أَنْ تَرْجِعَ إِلَى أَهْلِهَا فِي بَنِي خُدْرَةَ، فَإِنَّ زَوْجَهَا خَرَجَ فِي طَلَبِ أَعْبُدٍ لَهُ أَبَقُوا، حَتَّى إِذَا كَانُوا بِطَرَفِ الْقَدُومِ لَحِقَهُمْ فَقَتَلُوهُ، فَسَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَنْ أَرْجِعَ إِلَى أَهْلِي، فَإِنِّي لَمْ يَتْرُكْنِي فِي مَسْكَنٍ يَمْلِكُهُ، وَلَا نَفَقَةٍ؟ قَالَتْ: فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «نَعَمْ»، قَالَتْ: فَخَرَجْتُ حَتَّى إِذَا كُنْتُ فِي الْحُجْرَةِ، أَوْ فِي الْمَسْجِدِ، دَعَانِي، أَوْ أَمَرَ بِي، فَدُعِيتُ لَهُ، فَقَالَ: «كَيْفَ قُلْتِ؟»،

فَرَدَدْتُ عَلَيْهِ الْقِصَّةَ الَّتِي ذَكَرْتُ مِنْ شَأْنِ زَوْجِي، قَالَتْ: فَقَالَ: «امْكُثِي فِي بَيْتِكِ حَتَّى يَبْلُغَ الْكِتَابُ أَجَلَهُ»، قَالَتْ: فَاعْتَدَدْتُ فِيهِ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا، قَالَتْ: فَلَمَّا كَانَ عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ أَرْسَلَ إِلَيَّ فَسَأَلَنِي عَنْ ذَلِكَ، فَأَخْبَرْتُهُ فَاتَّبَعَهُ، وَقَضَى بِهِ.(۲۹۱:۱۷)

ژباړه: فریعة د مالك بن سنان لور، چې د ابی سعید الخدري خور ده خبر ورکړی، چې هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغله د دې پوښتنې لپاره چې خپلې کورنۍ ته چې بني خدره کې ده لاړه شي، خاوند یې خپلو تښتېدلو غلامانو پسې وتلی و؛ تر دې چې په قدوم نومې ځای کې ورسره مخ شو او په قتل یې ورساوه، فریعة وایي ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه، چې خپلې کورنۍ ته واپس شم؟ ځکه چې هغه زه په داسې کور کې نه یم پرېښې چې هغه یې مالك وي او نه یې راته نفقه پرېښې، وایي رسول الله راته وویل: هو، فریعة وایي زه ووتلم تر دې چې په منډو یا جماعت کې وم، ویې غوښتلم یا یې راته امر وکړ، بېرته ورغلم، راته ویې ویل: « څنګه دې وویل» نو ما ورته د خپل خاوند ټوله هغه قصه وکړه چې مخکې مې ورته کړې وه، فریعه وایي راته ویې ویل « تر هغه وخته انتظار وباسه تر څو چې نېټه دې پای ته ورسیږي»، فریعة وایي په هغې کور کې مې څلور میاشتې او لس ورځې تېرې کړې بیا چې کله د عثمان رضی الله عنه د خلافت دوره وه، استازی یې راولیږه په دې اړه یې راڅخه پوښتنه کوله، خبر مې ورکړ عثمان رضی الله عنه د همدې حدیث تابعداري وکړه او پریکړه یې پرې وکړه.

علي، ابن عباس، جابر او عائشة رضی الله عنهم وایي، چې ماتم کوونکې ښځه، چې چېرته یې خوښه شي ماتم او عدت تېرولی شي او همدا قول د جابر بن زید، عطاء او حسن البصري هم دی د دوی دلیل دا دی، چې الله تعالی فرمایلي دي: { يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا } [البقرة: ۲۳٤]

ژباړه: هغوی دې پر خپل ځان څلور میاشتې او لس ورځې په عدت کې تېرې کړي.(۳۳:۲۷)

او داسې یې نه دي ویلي، چې په خپلو کورونو کې دې عدت تېر کړي؛ نو چېرته یې چې خوښه وي عدت او ماتم تېرولی شي.(۱۷۷:۲۲)

### هغه حالات چې ماتم کوونکې ښځه پکې کور پرېښودلی شي

که په ماتم کوونکې ښځې داسې حالت راغی، چې د هغه کور د پرېښودلو او تبدیلولو تقاضا یې کوله په کوم کې، چې پرې ماتم واجب شوی و؛ نو بل ځای ته، چې نفس او مال یې په امن کې وي انتقال یې روا دی لکه د کور د ویجاړېدو یا دښمن څخه ووېرېږي، یا د کور د مالك لخوا

د کور څخه وویستل شي مثلاً په اعاره یا اجاره نیول شوی وي او وخت یې پوره شي، یا په ظلم او زیاتي سره په هغه کور کې د اوسېدو څخه منع شي او یا دا، چې د أجرة المثل څخه ترې زیاته اجوره وغواړي ( معنی دا، چې دې ته ورته کورونه چې څومره اجوره لري د هغې څخه ترې زیاته وغواړي). بیا چې کله له دې کور څخه بل ځای ته کډه کېږي؛ نو د جمهورو فقهاوو په آند هر ځای چې یې خوښ وي ورته تللی شي؛ مګر شافعیه وایي، چې په دې ښځه لازم دي چې څومره ممکنه وي نژدې ځای ته لاړه شي دوی قیاس کوي په زکات باندې، چې کله د زکات مستحقین د زکات د وجوب په ځای کې پیدا نشي؛ نو تر ټولو نزدې ځای ته به نقل کولای شي کوم کې چې مستحقین د زکات موجود وي.(۴۴۱:۳۰) او د جمهورو فقهاوو دلیل دا دی، چې واجب خو د عذر له کبله ساقط شو او شریعت کې د بدل لپاره حکم نشته او د نژدې ځای د ټاکلو لپاره هم کوم دلیل نشته.(۱۱۰:۳۳)

د بانډه چې یا کوچی د محلې یا ګاونډ څخه که ټول خلک بل ځای ته لاړل او یا ورسره داسې خلک پاتې شول، چې په شتون کې یې په نفس او مال باندې د حفاظت امېد نه و؛ نو دا به د هغه مسکن څخه چې ماتم یې پکې شروع کړی و بل ځای ته انتقال کولی شي.(۴۰۵:۷)

که د کشتۍ مشر یا بل کارمند په کشتۍ کې مړ شو او د هغه سره په کشتۍ کې مېرمن هم وي، چې د اوسېدو لپاره په کشتۍ کې خاص ځای لري؛ نو مېرمن به یې په کشتۍ کې ماتم تېروي او په هغې هم دا تېر شوي احکام تطبیقېږي.(۱۱۱:۳۳)

**د ماتم کوونکې ښځې د کور کرایه**

په دې اړه، چې د ماتم کوونکې ښځې د کور کرایه په خپله په دې ښځه ده او که د مړ شوي مېړه د مال څخه به ادا کېږي د فقهاوو تر منځ اختلاف نظر شتون لري:

احناف وایي، چې د مړینې ماتم کوونکې د کور کرایه د ښځې د مال څخه ادا کېږي؛ ځکه چې شریعت د دې لپاره میراث ټاکلی او د میراث څخه علاوه بل څه یې ورته نه دي ثابت کړي او د باین طلاقو ماتم کوونکې د کور کرایه په مېړه باندې ده؛ ځکه چې په عدت کې یې نفقه هم په مېړه باندې ده.(۵۳۶:۴)

مالکیه وایي، چې که کوروالی یې ورسره نه و کړی؛ نو د خپل اهل سره به اوسېږي او یا به کرایه د خپل مال څخه ورکوي او که کوروالی یې ورسره شوی و؛ که چېرته د مېړه په کور کې اوسېده او یا د کرایې په کور کې چې مېړه یې کرایه د مخکې نه ادا کړې وي، ورثه یې

حق نه لري چې ماتم کوونکې ښځه له دغه کوره وباسي او که چېرته د مېړه خپل کور هم نه وي او کرایه یې هم مخکې له مخکې نه وي ادا کړې؛ نو بیا به د خپل مال څخه کرایه ورکوي او حق نه لري، چې د کرایې په بدل کې د ترکې څخه څه شی واخلي.(۲۶: ۵۰۹-۵۰۸)

شافعیه وایي، چې ماتم کوونکې ښځه په ترکه کې د مسکن د کرایې حق لري؛ تر دې، چې په تجهیز او قرضونو باندې هم مخکې ده که حامله وي او که غیر حامله، کوروالی ورسره شوی وي او که نه وي شوی.(۴۰۳:۷)

حنابله وایي، چې که ښځه غیر حامله وه؛ نو د کور کرایه یې د ماتم په موده کې د خپل مال څخه ده او د حاملې په اړه دوه قوله لري یو دا چې د مېړه له مال څخه به ادا کیږي؛ ځکه چې د مېړه څخه حامله ده؛ نو د نفقې او مسکن دواړو حق لري او بل قول یې دا دی، چې د مسکن حق نه لري د خپل مال څخه به کرایه ورکوي، قاضي ابو یعلی دا قول صحیح ګڼلی دی.(۲۳۴:۵)

**د ماتم پرېښودونکې ښځې سزا**

مکلفه ښځه، چې واجب ماتم د عدت په ټوله او یا ځینې موده کې پرېږدي او عمل پرې ونه کړي؛ که چېرته د ناپوهۍ له وجې یې پرېښی و، هیڅ ګناه پرې نشته او که چېرې په قصدي توګه یې پرېښی و او د ماتم پرېښودلو پر حرمت پوهه وه ؛ نو ګناهګاره ده او د غیر مکلفې ولي د هغې قایم مقام دی، په دې معنی، چې ولي به یې د هغو شیانو څخه منع کوي کوم چې په ماتم کې منع دي او که منع یې نه کړي؛ نو ولي یې ګناهګار دی. که چېرې د عدت موده یې پای ته ورسیږي او نوموړې ښځه د ماتم احکام مراعت نه کړي، ګناهګاره شمېرل کیږي؛ خو بېرته دوباره عدت پرې نه لازمیږي لکه معتده ښځه، چې هغه کور پرېږدي چې بې له عذره پرې د هغې نه پرېښودل واجب وو؛ نو دا ښځه ګناهګاره ده؛ خو عدت یې د مودې په پوره کېدو سره پای ته رسیږي.(۱۵۲:۱۵)

په شریعت کې د داسې ښځې لپاره، چې ماتم پرېږدي کومه ټاکلې سزا نه ده راغلې؛ مګر دومره ذکر یې شوی دی، چې د ګناهګارۍ نسبت ورته کیدای شي او همدارنګه د امام لپاره دا حق شته، چې کومه ښځه ماتم پرېږدي د خپل اجتهاد پر اساس ورته تعزیري سزا ورکړي.(۱۱۴:۳۳)

**نتیجه**

د لیکنې په اوږدو کې یو لړ نتایج په لاس راغلي، چې په شماره وار ډول یې ذکر کوم:

۱- ماتم د ښځې لخوا د عدت په موده کې د ټولو هغو شیانو پرېښودل دي، چې په هغې سره

ښځې ځان سینګاروي او د سړو توجه ورته را اوړي.

۲- د عدت په موده کې د ماتم کوونکې ښځې لپاره د د هغه کور څخه وتل، په کوم کې چې عدت پرې واجب شوی د ضرورت پر اساس روا مګر بې له ضرورته وتل پرې حرام او ناروا دي همدارنګه د خوشبو لګول، رانجه لګول، سرخي، د مخ کریم وهل، تېل استعمالول، ګاڼه او رنګ شوې جامې اغوستل روا نه دي.

۳- په عاقله، بالغه او مسلمانه ښځه، چې مېړه يې مړ شوی وي د عدت په موده کې پرې ماتم واجب دی.

۴- که ښځه ماشومه وي ولي به يې د ماتم ماتوونکي کارونو څخه منع کوي او که منع يې نه کړي ولي يې ګناهګاريږي.

۵- د رجعي طلاقو په مطلقې باندې ماتم نشته؛ بلکې د رجعي طلاقو مطلقې لپاره پکار دي، چې خپل مېړه ته ځان ښایسته کړي.

۶- د بائن کبری او بائن صغری طلاقو د معتدې په اړه د علماوو دوه نظره وجود لري:

احناف وايي، چې ماتم پرې واجب دی د نکاح د نعمت د زوال پر اساس؛ مګر مالکیه، امام شافعي او امام احمد رحمهم الله وايي، چې ماتم پرې نشته؛ ځکه چې مېړه يې د بغض او کینې له مخې د خپل ځان څخه جدا کړې او شړلې ده؛ نو مېړه يې د دې وړ نه دی، چې ماتم پرې وکړي.

۷- په فاسدې نکاح کې که د نکاح شوې ښځې څخه مېړه وفات شي؛ نو جمهور علماء وايي، چې ماتم پرې نشته او د مالکیه څخه قاضي الباجي وايي، چې ماتم پرې نشته؛ مګر که هر کله د دې ښځې او مېړه تر منځ د نکاح له احکامو څخه کوم حکم ثابت شو لکه مېراث یا بل حکم؛ نو د مړينې عدت به هم تېروي او ماتم پرې هم واجب دی.

۸- کتابیه، چې د مسلمان سړي په نکاح کې وي او مېړه يې وفات شي امام مالك رحمه الله د ابن القاسم په روایت سره، شافعیه او حنابله وايي، چې د عدت په موده کې پرې ماتم کول هم واجب دي؛ ځکه چې ماتم د عدت تابع دی؛ نو هر کله چې په کتابیه باندې عدت واجب شو ماتم پرې هم واجبيږي. احناف او امام مالك د أشهب په روایت سره وايي، چې ماتم پرې نشته؛ ځکه چې ماتم په مسلمانې ښځې واجب دی.

۹- د وينځې په اړه فقهاء وايي، چې د عدت په موده کې به په خپل مېړه باندې ماتم کوي د

ماتم د وجوب د حدیث له وجې چې عام دی.

۱۰- که ښځه واجب ماتم د عدت په ټوله یا بعضې موده کې پریږدي؛ ګناهګاره ده او همدارنګه که د مېړه کور یې په ځان لازم نه کړ او بې ضرورته بهر ووتله، ګناهګاره ده او عدت یې د وخت پوره کېدو سره پای ته رسیږي، د هغې ښځې په څېر، چې د مېړه د مړینې خبر د څلورو میاشتو او لسو ورځو څخه وروسته ورکړل شي، عدت یې پای ته رسېدلی بیا عدت پرې نشته.

۱۱- د ښځې لپاره د مېړه پرته په بل خپلوان لکه مور، پلار، ورور، خور او داسې نورو باندې ماتم یوازې او یوازې تر درې ورځو پورې روا دی او په درې ورځو باندې زیادت کول ناروا دی او مېړه حق لري، چې خپله ښځه په خپلوان باندې د ماتم کولو څخه منع کړي؛ ځکه چې سینګار یې د مېړه حق دی.

**پایله اخیستنه**

ماتم د مکلفې ښځې د مېړه د مړینې له کبله د عدت په موده کې د کور څخه د اړتیا پرته نه وتل او سینګار پرېښودل دي، چې په اسلامي شریعت کې د یو لړ حکمتونو پر اساس روا شوی دی، په مسلمانې، عقلمندې او بالغې ښځې باندې د مېړه د مړینې له کبله واجب دی، تر څو چې ښځه په عدت کې وي ماتم به کوي، غوره آند دا دی، چې په ماشومې باندې ماتم واجب نه دی؛ ځکه چې تر اوسه د شریعت پر احکامو مکلفه نه ده او په رجعي طلاقو سره طلاقې شوې ښځې باندې هم غوره دا ده، چې ماتم پرې نشته؛ بلکې ورته په کار دي، چې مېړه ته ځان سینګار کړي تر څو رجوع ورته وکړي او په باین طلاقو طلاقې شوې ښځې باندې د غوره آند پر اساس ماتم کول واجب دي؛ ځکه که ماتم نه کوي؛ نو د سړو توجه وراوړي، چې کېدای شي د نړون لامل شي په داسې حال کې، چې د نکاح تړون په عدت کې ناروا دی.

ماتم کوونکې ښځې ته روا دي، چې غسل وکړي، پاکې جامې واغوندې، اضافي ویښتان لیرې کړي، نوکان کټ کړي، د ضرورت پر وخت له کور څخه بهر لاړه شي او دنیوي کارونه تر سره کړي.

**وړاندیزونه**

۱- علماء دې په خپلو خطبو کې د ماتم احکام خلکو ته بیان کړي.

۲- عامو وګړو ته مې دا وړاندیز دی، چې د ماتم احکام زده او خپلو کورونو کې یې ښځو ته ور زده کړي؛ تر څو چې د عدت موده د اسلامي شریعت د حکمونو سره سمه په ماتم کې تېره

کړي.

۳- د کورنیو مشرانو ته مې دا وړاندیز دی، چې هغه ښځې چې ماتم پرې واجب دی او د ماتم خلاف کارونه کوي، منع يې کړي او د انکار په صورت کې يې تهدید کړي.

**مأخذونه**

القران الکریم.

ابن جبرين، عبد الله بن عبد الرحمن بن عبد الله.(ب.ت). شرح عمدة الأحكام. جزء ۶۳.دروس صوتية قام بتفريغها موقع الشبكة الاسلامية.

ابن رشد، أبو الوليد محمد بن أحمد بن محمد بن أحمد.( ١٤٢٥هـ). بداية المجتهد ونهاية المقتصد. ج۳.القاهرة: دار الحديث.

ابن عابدين، محمد أمين بن عمر بن عبد العزيز.( ١٤١٢هـ). رد المحتار على الدر المختار. (ط.٢). ج۳. بيروت: دار الفكر.

ابن قدامة، أبو محمد موفق الدين عبد الله بن أحمد بن محمد.(ب.ت). المغني لابن قدامة. ج٨. مكتبة القاهرة.

ابن قيم الجوزية ،محمد بن أبي بكر بن أيوب بن سعد شمس الدين.( ١٤٠٦هـ). زاد المعاد في هدي خير العباد. (ط.٣).ج٥.بيروت:مؤسسة الرسالة.

الأنصاري، زكريا بن محمد بن أحمد بن زكريا.(ب.ت). أسنى المطالب في شرح روض الطالب. ج۳.دار الكتاب الإسلامي.

الباجي،أبو الوليد سليمان بن خلف بن سعد بن أيوب.( ۱۳۳۲ هـ). المنتقى شرح الموطإ.(ط.١). ج۴.مصر: مطبعة السعادة.

البخاري، أبو عبدالله محمد بن إسماعيل.( ١٤٢٢هـ). صحيح البخاري. (ط.١).ج۲.تحقيق: محمد زهير بن ناصر الناصر. دار طوق النجاة.

البخاري، أبو عبدالله محمد بن إسماعيل.( ١٤٢٢هـ). صحيح البخاري. (ط.١). ج٧. تحقيق: محمد زهير بن ناصر الناصر. دار طوق النجاة.

البهوتي، منصور بن يونس بن صلاح الدين ابن حسن بن إدريس. (ب.ت). كشاف القناع عن متن الإقناع. ج٥. بيروت: دار الكتب العلمية.

التويجري، محمد بن إبراهيم بن عبد الله.( ۱۴۳۰ هـ). موسوعة الفقه الإسلامي. (ط.١).ج۴.بيت

الأفكار الدولية.

التويجري، محمد بن إبراهيم بن عبد الله.( ١٤٣١ هـ ).مختصر الفقه الإسلامي في ضوء القرآن والسنة. (ط.١١).ج١.السعودية: دار أصداء المجتمع.

الخرشي، محمد بن عبد الله المالكي.(ب.ت).شرح مختصر خليل للخرشي. ج۴.بيروت: دار الفكر للطباعة .

الرملي، شمس الدين محمد بن أبي العباس أحمد بن حمزة شهاب الدين.( ۱۴۰۴هـ). نهاية المحتاج الى شرح المنهاج. (وروستی طبعه).ج۷.بيروت: دار الفكر.

الزُّحَيْلِيّ، أ. د. وَهْبَة بن مصطفى.(ب.ت). الفِقْهُ الإسلاميُّ وأدلَّتُهُ. (ط.۴).ج۹.سوريَّة: دار الفكر.

السِّجِسْتاني، أبو داود سليمان بن الأشعث بن إسحاق.(ب.ت). سنن أبي داود. ج۲.تحقيق: محمد محيي الدين عبد الحميد.بيروت: المكتبة العصرية .

السيواسي، كمال الدين محمد بن عبد الواحد.(ب.ت). شرح فتح القدير. ج۴.بيروت: دار الفكر .

الشوكاني، محمد بن علي بن محمد بن عبد الله.( ١٤١٣هـ). نيل الأوطار. (ط.١). ج۶.تحقيق: عصام الدين الصبابطي. مصر: دار الحديث.

الصنعاني. أبو بكر عبد الرزاق بن همام بن نافع الحميري.( ۱۴۰۳هـ). المصنف. (ط.۲).ج۷.تحقيق: حبيب الرحمن الأعظمي. الهند: المجلس العلمي.

الغنيمي، عبد الغني بن طالب بن حمادة بن إبراهيم.(ب.ت). اللباب في شرح الكتاب. ج۳. تحقيق: محمد محيي الدين عبد الحميد .بيروت: المكتبة العلمية.

القرطبي، أبو عبد الله محمد بن أحمد بن أبي بكر.( ١٤٢٣ هـ). الجامع لأحكام القرآن. ج۳.تحقيق : هشام سمير البخاري. السعودية: دار عالم الكتب.

الكاساني، علاء الدين أبو بكر بن مسعود بن أحمد.( ١٤٠٦هـ). بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع. (ط.۲).ج۳.بيروت: دار الكتب العلمية.

مجموعة من المؤلفين.(ب.ت). موسوعة الفقه الإسلامي المصرية. ج١.موقع وزارة الأوقاف المصرية.

المقدسي، عبد الرحمن بن محمد بن أحمد.(ب.ت). الشرح الكبير على متن المقنع. ج۹.دار الكتاب العربي للنشر والتوزيع.

المَوَّاق،محمد بن يوسف بن أبي القاسم بن يوسف العبدري الغرناطي.( ١٤١٦هـ). التاج والإكليل

لمختصرخليل. (ط.١).ج٥.بيروت: دار الكتب العلمية.

المودودي. سيد ابو الاعلى؛ژباړن: كشاف، قيام الدين.(۱۳۶۷ل). تفهيم القرآن. پيښور: الدعوة الاسلامية.

النسائي، أبو عبد الرحمن أحمد بن شعيب بن علي الخراساني.( ١٤٠٦هـ). السنن النسائي. ج۶.تحقيق: عبد الفتاح أبو غدة. حلب: مكتب المطبوعات الإسلامية.

النووي، أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف.( ب.ت).المجموع شرح المهذب. ج١٨.بيروت: دار الفكر.

النووي، أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف.(١٤١٢هـ). روضة الطالبين وعمدة المفتين. (ط.٣). ج۴.تحقيق: زهير الشاويش. بيروت: المكتب الإسلامي.

النووي، أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف.(ب.ت). روضة الطالبين وعمدة المفتين. (ط.٣).ج٨.تحقيق: زهير الشاويش. بيروت: المكتب الإسلامي.

النيسابوري، مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري.(ب.ت). صحيح مسلم. ج٢.المحقق: محمد فؤاد عبد الباقي. بيروت: دار إحياء التراث العربي.

وزارة الأوقاف والشئون الإسلامية الكويت.(۱۴۰۴هـ). الموسوعة الفقهية الكويتية. (ط.٢).ج٢.الكويت: دارالسلاسل.

الهروي. محمد بن أحمد بن الأزهري. (٢٠٠١م). تهذيب اللغة. (ط.١).ج٣.محقق: محمد عوض مرعب،بيروت. دار إحياء التراث العربي.

# په اسلامي شریعت کې د اړتیاوو پېژندنه

لیکونکی: پوهنیار نصر ت الله جلالي، شیخ زاید پوهنتون، شرعیاتو پوهنځي د فقې او قانون څانګې استاد
تقریظ ورکونکی: پوهنوال محمد الله مندوزی د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي استاد.

**لنډیز**

دا څېړنیزه مقاله چې (په اسلامي شریعت کې د ضرورت ( اړتیاو) پېژندنه ) ترعنوان لاندې ترسره شوې ده، په اړتیاوو پورې اړیکه لري او د اړتیاوو پدیدې سره د اخته خلکو اړتیا او لیوالتیا ته په پام خورا ارزښتمنه، مهمه، نوې او فقهي څېړنه ده، چې څېړونکو او مینه والو ته ډېره په زړه پورې موضوع ده په دې څېړنه کې په اسلامي شریعت کې د ضروریاتو (اړتیاوو) لغوي اواصطلاحي پېژندنه او په ضرورت (اړتیاوو)کې د فقهاوو بېلابېل ویناوې ذکر شوې دي؛ ځکه چې د اړتیاوو په اصطلاحي تعریف کې د فقهاوو بېلابېلې ویناوې دي همدرنګه د اړتیاوو ډولونه او د هر ډول تعریف پکې د بېلګوسره ذکر شوی دی او په اسلامي شریعت کې، چې د اړتیاوو کوم حالات دي هغه پکې د قران کریم او نبوي سنتو څخه د دلایلو سره واضح شوي دي د ضرر او مشقت دفعه کولو لپاره په اسلامي شریعت کې چې کوم قواعد راغلي دي ذکر شوي.
په اسلامي شریعت کې د ضرورت (اړتیاوو ) حالت ثابتول د دې لپاره مشروع شوي دي، چې مضطر(مجبور ) انسان د جرم د جزا څخه خلاصون ومومي؛ نو په اسلامي فقه کې د ضرورت ( اړتیا ) په حالت کې د جرم پر مرتکب باندې لازم دي، چې د جرم په ترسره کولو باندې خپل مجبوریت ثابت کړي؛ تر څو،چې قاضي برائت ورکړي.

**کلیدي ټکي:** اسلامي شریعت، اړتیا، پېژندنه، نبوي سنت، فقهي قواعد

**سریزه**

إن الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضلَّ له، ومن يضلل فلا هاديّ له، وأشهد أن لا إله إلا الله وأشهد أن محمداً عبده ورسوله.
أما بعد:

إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنزِيرِ وَمَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللّهِ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلاَ عَادٍ فَلا إِثْمَ عَلَيْهِ إِنَّ اللّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ (البقرة: ۱۷۳).

ژباړه : د الله له لوري که پر تاسې څه بندیز لګول شویدی؛ نو هغه دادی، چې مرداره مه خورئ د وینې او د خوګ د غوښې له خوړلو نه ډډه وکړئ او داسې کوم شی مه خورئ، چې پر هغه

له الله نه پرته د بل چا نوم اخیستل شوی وي؛ خو که څوک د اړتیا په حالت کې وي او له دغو شیانو څه شی بې له دې چې د الهي حکم ماتولو اراده ولري یا له حده تیری وکړي زیات وخوري" نو پر هغه څه ګناه نشته ، الله بښونکی او رحم کوونکی دی. د انسان ژوند او چارې په درې حالاتو کې راګېرې دي، ضروریات (اړتیا )، حاجیات، تحسینات زما موضوع د اړتیاو پېژندنه ده، چې د ضرورت(اړتیا) په اړه ډېرې پوښتنې راولاړېږي د بېلګې په توګه ضرورت څه ته وايي؟ حکم یې څه دی؟ کوم حالات ضرورت شمېرل کیږي؟ او دې ته ورته نورې پوښتنې، زه غواړم په دې اړه یوه لنډه لیکنه وکړم؛ تر څو د لوستونکو تنده پرې ماته شي او د الله تعالی څخه د سمې لیکنې د توفیق غوښتنه کوم.

**موخې**

په دې لیکنې سره به لوستونکي وکولی شي، چې:

۱- د ضرورت (اړتیا) حالات به وپېژني.

۲- د اړتیاوو شرعي حکم به وپېژني .

۳- هغه حالات به وپېژني په کومو کې، چې په ضرورت (اړتیا) عمل روا دی .

۴- د ضرر او مشقت دفعه کولو لپاره به فقهي قواعد زده کړي.

**د تحقیق کړنلاره**

ما د خپلې څېړني په اوږدو کې دا تګلاره غوره کړې ده، چې د هرې موضوع د څېړنې په موخه مې د الله تعالي کتاب قرآن کریم ته مراجعه کړې ده، یعنې هڅه مې کړې، چې لومړي په قرآن کریم کې پیدا کړم ورپسې مې نبوي سنتو ته مراجعه کړې، همدا راز د څېړنې په بهیر کې مې د قرآن کریم او نبوي سنتو کې د پلټنې وروسته د فقهې مستندو او معتمدو کتابونو څخه ګټه اخیستې، یعنې د لیکنې کړنلاره مې کتابخانه یي څېړنه ده. دا، چې مقاله په پښتو ژبه ده؛ نو د خپل توان اندازه مې د پښتو لیک دود ټول معیارونه په نظر کې نیولي او تطبیق کړي دي.

د اړتیا ( ضرورت) پېژندنه

**ضرورت (اړتیاو) لغوي پېژندنه**

ضرورت (اړتیا) اسم مصدر دی، هغې سختې ته ویل کیږي، چې د هغې څخه خلاصون نه وي او همدارنګه یو حرام شي ته په داسې توګه مجبوره کېدل دي، چې هیڅ خلاصون ترې نه وي او په سخت حالت یې هم اطلاق کیږي.

ضرورت (اړتیا) هرهغه شي ته ویل کیږي، چې سخت حاجت ورته پېښیږي او هم هغه څه ته، چې د هغې څخه هیڅ خلاصون نه وي. (۳: ۴۸۳)

**د ضرورت ( اړتیا ) اصطلاحي پېژندنه**

ضرورت ( اړتیا ) په اصطلاح کې هغه عذرته وايی، د کوم له وجې، چې انسان ته د یو ممنوع کار ترسره کول روا ګرځي. (۱۵: ۳۷)

امام سیوطي اړتیاوې داسې تعریف کړې دي: د انسان داسې حد (حالت) ته رسیدل دي که چېرته دغه ممنوع کار ترسره نکړي هلاک کیږي یا هلاکت ته نږدې کیږي.(۱۳: ۸۵)

احناف اړتیاوې داسې تعریف کړې دي: د خوراك په پرېښودلو سره د ضرر، د نفس او یا د عضو د له منځه تللو وېره پیدا کیدل. (۸: ۳۰۷).

**د ضرورت ( اړتیا ) ډولونه**

ضرورت **( اړتیا ) په** بېلابېلو ډولونو ویشل کیږی:

الف:د متعلق په اعتبار سره د اړتیاوو ډولونه

۱ـ هغه ضرورت (اړتیا ) چې د دین په ساتنې پورې اړه لري د بېلګې په توګه جهاد کې د بوډا ګانو، ښځو او ماشومانو وژل کله چې ترې کفارو په جنګ کې ډال جوړ کړی وي، دلته د دوی وژنه د دین د ساتنې لپاره روا ده.

۲ـ هغه ضرورت ( اړتیا) چې د نفس ساتنې پورې اړه لري د بېلګې په توګه د لوږې څخه مجبور شخص لپاره د مرداري خوړل تر څو نفس یې له منځه تللو څخه وژغورل شي.

۳ـ هغه ضرورت( اړتیا) چې د عقل ساتنې پورې اړه لري د بېلګې په توګه د نشه یي توکو ناروا والی.

۴ـ هغه ضرورت، چې د نسل ساتنې پورې اړه لري د بېلګې په توګه د مسلمانې ښځې د خوشې کولو لپاره حربي کافرته مال ورکول؛ تر څو په دې سره د راتلونکي نسل ساتنه وشي.

۵ ـ هغه ضرورت، چې د مال ساتنې پورې اړه لري د بېلګې په توګه د ډېر مال ساتنې لپاره د لږ مال خرابول.

ب – د ضرورت ( اړتیاوو ) ډولونه د شمو لیت په اعتبار

۱ـ عام ضرورت ( اړتیا): دا هغه اړتیا ده، چې ټولنې ته متوجه وي د بېلګې په توګه، په عامه قحطی کې د ټول امت واقع کېدل د همدې وجې احتکار ناروا دی.

۲ـ خاص ضرورت: هغه ضرورت دی، چې یو شخص ته متوجه وي د بېلګي په توګه په لوږه کې د شخص واقع کېدل ؛ نو د دې وجې نه مضطر (سخت مجبور) شخص ته د ناروا خوراکي توکو خوړل روا شوي.

**په اسلامي فقه کې د ضرورت ( اړتیاوو ) د حالت شرطونه**

۱ـ ضرورت ( اړتیا ) به محتاج کوونکې وي: په دې ډول، چې فاعل به خپل نفس او یا بل شخص پداسې حالت کې مومي، چې د نفس یا اندام په له منځه تللو به ویریږي.

۲ـ ضرورت ( اړتیا ) به همدا اوس موجود وي نه دا، چې د راتلونکي وخت ضرورت ( اړتیا ) په پام کې ونیسي د بېلګې په توګه روا نه دي،چې یو شخص د سختې لوږې راتلو نه مخکې د مرداري څخه خوراک وکړي؛ بلکې کله چې د لوږې سره مخامخ شي او حلال خوراک نه وي، چې ګېډه ترې واخلي؛ نو په دې وخت کې کولی شي د مردارې د غوښې څخه استفاده وکړي.

۳ـ ضرورت ( اړتیا ) به بغیر له جرم څخه نه دفعه کیږي: یعنی د ضرورت ( اړتیاوو ) د دفع کولو لپاره به له جرم څخه پرته بله وسیله نه وي او هر کله، چې د یو ضرر دفعه په یوې روا کړنې سره کیدای شوه؛ نو په ناروا کړنې سره د هغې دفعه کول روا نه دي د بېلګې په توګه که یو شخص وږی شوی وي او دا کولی شي چې د بیع یا د هبې ( بخشش ) د لارې خوراکي توکي تر لاسه کړي؛ نو د ده لپاره د بل چا مال خوړل بغیر د اجازې څخه ناروا دي.

۴ـ ضرورت ( اړتیا ) به په اندازه د ضرورت ( اړتیا ) دفع کیږي؛ نو د وږي شخص لپاره روا نه دي، چې دخپلي لوږې د اندازې څخه زیات د بل چا مال وخوري او که ویې خوړو تېری کونکی شمېرل کیږي.

۵ـ د ضرورت ( اړتیا ) مینځ ته راتګ کې به د دغه شخص لاس نه وي، د بېلګې په توګه یو شخص د قطاع الطریقی ( لار شکونې) لپاره یا د یو معصوم ( بی ګناه ) شخص د وژلو لپاره ووځي او بیا د لوږې سره مخامخ شي؛ نو د جمهورو علماوو رایه دا ده، چې د ده لپاره په دغه حالت کې د حرامو خوراکي توکو څخه ګېډه پورته کول ناروا دي ځکه الله تعالی، چې د ضرورت ( اړتیاوو ) په وخت کې د ناروا خوراکي توکو څخه ګېډه پورته کول روا شمېرلی دي دا کومک او اسانتیا ده او ګناهګار د کومک او اسانتیا وړ نه دی. (۱۱: ۸۹)

**په اسلامي شریعت کې د ضرورت ( اړتیاوو ) بېلګې**

۱ـ باطل قول ته مجبوره کېدل د بېلګې په توګه کله، چې یو شخص ته د نفس یا اندام د منځه

وړلو تهدید متوجه وي؛ نو په ژبه باندې دکفر کلمه ویل ورته په دې شرط روا ده، چې په خپل ایمان باندې باوري وي.

۲ـ د دروغو او قسم کولو روا والی د ضرورت ( اړتیا ) په وخت کې د بېلګې په توګه ظالم پادشاه سړی وژني په داسې حال کې، چې نوموړي سړي د چا کور ته پناه وړې وي؛ نو د کور څښتن د نوموړي شخص د ساتنې لپاره ظالم پادشاه ته دروغ او قسم کولی شي، چې دا سړی دده په کور کې نشته.

۳ـ د تقیې کولو جواز: کله چې مسلمان د کفارو په مینځ کې اوسیږي او په خپل نفس، مال او اولاد باندې ویریږي؛ نو ده ته روا دي، چې په ژبه باندې کفارو ته د دوستی اظهار وکړي په دې شرط چې په خپل ایمان باندې به باوري وي.

۴ـ حرامو خوراکي توکو ته مجبوره کېدل: د بېلګې په توګه په یو شخص باندې په سفر کې داسې لوږه راشي، چې که خوراک ونه کړي د مرګ سره مخامخ کیږي او روا خوراکي توکي نه لري، چې د هغې څخه ګټه واخلي؛ بلکې مرداره یې وموندله؛ نوکولی شي د دغې مرداري څخه د اړتیا اندازه خوراک وکړي.

۵ـ حرامو مشروباتو ته مجبوره کیدل: که چیری په یو شخص باندې په سفر کې داسې تنده راشي، چې که څښل ونه کړي د مرګ سره مخامخ کیږي او روا څښونکي توکي نه لري چې د هغې څخه ګټه واخلی؛ بلکې شراب یې وموندل؛ نو کولی شي د اړتیا تر کچې له شرابو څخه ګټه واخلي.

۶ـ د ضرورت (اړتیا ) له مخې د نارینه تداوي د ښځې لخوا او د ښځې تداوي د نر لخوا روا ده.

۷ـ په حرامو شیانو سره علاج کول.

**په شرابو باندې تداوي**

په دې کې د علماوو اختلاف دی:

۱ـ جمهور فقهاء وایي: په ناروا شیانو باندې تداوي کول روا نه دیه هغه که خوراکي توکي وي او که څښونکي (مشروبات) توکي وي او په ځانګړي ډول په شرابو تداوي کول روا نه ده او که چا خپله تداوي د شرابو په څښلو وکړه حد به ورکولی شي.

ـ مالکیان وایي: په شرابو باندې تداوي ناروا ده، که څه هم چې یو شخص په خپله مړینه باندې هم وویریږي.

حنابله ، شیعه، امامیه او په یو قول کې امام شافعي، محمدبن الحسن الشیباني هم د دې نظر سره موافق دي. (۱۴: ۱۸۸)

۲ـ قول امام ابو حنیفة، امام ابي یوسف او یو قول د امام شافعي او ظاهریه دی دوی وایي د ضرورت ( اړتیا ) د مراعت کولو د وجې په ټولو ناروا توکو او همدارنګه شرابو باندې تداوي کول جایز دي. (۱۱: ۱۲۷ـ ۱۵۷)

۸ـ د ژوندي انسان د تداوي لپاره د مړي د اندامونو کارول: د بېلګې په توګه که د یو شخص ګوردې خرابې وي ډاکټران کولی شي، د مړي څخه ګوردې وباسي او ژوندي شخص ته یې ولګوي.

**په اسلامي شریعت کې د ضرورت (اړتیا وو ) د حالاتو ثابتول**

په اسلامي شریعت کې د ضرورت (اړتیاوو) حالت ثابتول د دې لپاره مشروع شوی، چې مضطر (مجبور ) انسان د جرم د سزا څخه خلاصون ومومي؛ نو په اسلامي فقه کې د ضرورت ( اړتیا ) په حالت کې د جرم د ارتکاب لپاره دا شرط کړی دی، چې په اثباتیه مدارکو سره به د جرم مرتکب دا ثابتوي، چې ده دا جرم د ضرورت په حالت کې کړی دی تردي، چې قاضي ده ته برائت ورکړي او دا موافق شي دهغه احکامو سره چې شریعت پرې راتګ کړی دی ، چې هغه دبینې (ګواهانو) قایمول دي (۱۱: ۲۳۵).

بینه: هرهغه شی دی چې په هغې سره دیو شي وضاحت کیږي د واضحو دلایلو څخه عقلی وي او که حسي وي .

قال تعالي: أَفَمَن كَانَ عَلَى بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّهِ وَيَتْلُوهُ شَاهِدٌ مِّنْهُ(هود: ۱۷).

ژباړه: ښه ؛ نو هغه څوک، چې د خپل رب له لوري یوه څرګنده شاهدي یې درلوده. (۱۷: ۲۲۴)

وقال تعالی: لِّيَهْلِكَ مَنْ هَلَكَ عَن بَيِّنَةٍ وَيَحْيَى مَنْ حَيَّ عَن بَيِّنَةٍ. (الأنفال: ۴۲)

ژباړه: ترڅو هلاکیدونکي له ښکاره دلیل سره هلاك شي(۱۷: ۱۸۳).

أَنَّ هِلاَلَ بْنَ أُمَيَّةَ قَذَفَ امْرَأَتَهُ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشَرِيكِ ابْنِ سَحْمَاءَ فَقال النبي صلى الله عليه وسلم: "الْبَيِّنَةَ أَوْ حَدٌّ فِي ظَهْرِكَ"(۶: ۵۹۶).

ژباړه: هلال ابن امیه په خپله ښځه باندې درسول الله صلی الله علیه وسلم پر مخامخ د شریک بن سمحاء سره د زنا تور ولګوه، پیغمبر صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل شاهدان راوله او که په

دې خبره شاهدان تېر نه کړي؛ نوحد درباندې لازم دی.

داچې په اسلامي شريعت کې د ضرورت ( اړتيا) حالت د اثبات لپاره بينه (ګواهان) لازم دي؛ نو د بينې د پېژندلو لپاره د علماوو آندونه را اخلو:

۱ـ جمهور علماء وايي د بينة څخه شاهدان مراد دي.

۲ـ إبن تيمية، إبن القيم، إبن حزم او إبن حجر العسقلاني رحمهم الله وايي، چې دبينې څخه مراد هر هغه شی دی، چې حق ورباندې ښکاره او روښانه کيږي که دا شاهدان وي، اقرار وي، قرائن وي او که د دې پرته نور شيان وي(۲: ۳۹۲).

دوی په دې حديث باندې استدلال کوي

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، أَنَّ سَعْدَ بْنَ عُبَادَةَ قَالَ لِرَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم : أَرَأَيْتَ إِنْ وَجَدْتُ مَعَ امْرَأَتِي رَجُلاً أَأُمْهِلُهُ حَتَّى آتِيَ بِأَرْبَعَةِ شُهَدَاءَ ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم : نَعَمْ(۴: ۱۷۹).

ژباړه: د ابي هريرة رضی الله عنه څخه روايت دی، چې عبادة رضی الله عنه رسول الله صلی الله عليه وسلم ته وويل خبر راکړه ماته که زه سړی د خپلې ښځې سره ومومم ايا زه يې تر هغې وخته پريږدم، چې څلور شاهدان راولم نو رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل هو.

وكذالك استدلو بالحادثة التي جرت في عهد عمر بن الخطاب رضی الله عنه حينما دخل عليه الرجل ومعه سيف ملطخ بالدماء ووراءه قوم يعدون وشهدوا بأن القاتل ضرب على فخذى المرأة ووسط الرجل وأهدر عمر دمه. (۱۱: ۲۳۶)

ژباړه: او همدا رنګه دوی دليل نيولی په هغې پېښه باندې، چې د عمر رضی الله عنه په دور کې پېښه شوې وه؛ کله چې يو سړی په ده باندې داخل شو، چې لاس کې يې په وينو ککړه توره وه او وروسته ورپسې خلکو منډې وهلې او ګواهي يې ورکوله، چې دغه قاتل يوه ښځه په ورنونو او يو سړی په ملا کې وهلی دی؛ نو عمر رضی الله عنه د ده وينه هدر (توی) وګرځوله.

د اسلام له نظره د ضرورت ( اړتيا ) حکم

ضرورت انسان ته تړولې هغه کړنې، چې په شريعت کې ناروا وي روا ګرځوي او داخبره په کتاب الله، نبوي سنتوسره ثابته ده او فقهاوو هم د دې لپاره ډير فقهي قواعد وضع کړي.

لومړی قرآني دلايل:

۱ـ إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالدَّمَ وَلَحْمَ الْخِنزِيرِ وَمَا أُهِلَّ بِهِ لِغَيْرِ اللّهِ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلاَ عَادٍ فَلا إِثْمَ عَلَيْهِ إِنَّ اللّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ(البقرة: ۱۷۳).

ژباړه : د الله له لوري که پر تاسې څه بندیز لګول شویدی؛ نو هغه دادی، چې مرداره مه خورئ د وینې او د خوګ د غوښې له خوړلو نه ډډه وکړئ او داسې کوم شی مه خورئ، چې پر هغه له الله نه پرته د بل چا نوم اخیستل شوی وي؛ خو که څوک د اړتیا په حالت کې وي او له دغو شیانو څه شی بې له دې چې د الهي حکم ماتولو اراده ولري یا له حده تیری وکړي زیات وخوري" نو پر هغه څه ګناه نشته ، الله ښنونکی او رحم کوونکی دی. (۱۷: ۲۷)

۲ـ حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالْدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنْزِيرِ وَمَا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللّهِ بِهِ وَالْمُنْخَنِقَةُ وَالْمَوْقُوذَةُ وَالْمُتَرَدِّيَةُ وَالنَّطِيحَةُ وَمَا أَكَلَ السَّبُعُ إِلاَّ مَا ذَكَيْتُمْ وَمَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ وَأَن تَسْتَقْسِمُواْ بِالأَزْلاَمِ ذَلِكُمْ فِسْقٌ الْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِينَ كَفَرُواْ مِن دِينِكُمْ فَلاَ تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِ الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلاَمَ دِينًا فَمَنِ اضْطُرَّ فِي مَخْمَصَةٍ غَيْرَ مُتَجَانِفٍ لِّإِثْمٍ فَإِنَّ اللّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ(المائدة: ۳).

ژباړه: پر تاسې حرامه کړای شوه مرداره ، وینه ، دخوګ غوښه ، هغه ځاروي، چې له خدایه پرته د کوم بل چا په نوم ذبحه کړای شوي وي، هغه چې په ستوني خپه کیدو ، په زخمي کیدو یا له لوړې نه په راغورځېدو، مړ شوی وي، یا بل ځاروي په ښکر وهلی او مړ شوی وي یا هغه چې کوم ځناور څیرې کړی وي پرته له هغه، چې تاسې هغه ژوندی موندلی او ذبحه کړی وي او هغه ځاروی چې د کوم چا په دربار کې ذبحه کړای شوی وي همدا رنګه دا هم ستاسو لپاره ناروا ده، چې د فال پر غشو خپلې برخې وګورئ دا ټول کارونه ناروا دي، نن کافران ستاسو د دین له خوا پوره ناهیلي شوي دي؛ نو تاسې له هغو څخه مه ویرېږئ؛ بلکې له ما څخه وویرېږئ، نن ما ستاسو دین ستاسو له پاره بشپړ کړی دی او خپل نعمت مې پر تاسې لورولی دی او ستاسو له پاره مې اسلام ستاسو د دین په توګه منظور کړی دی ( له دې کبله د حلالو او حرامو کوم بندیزونه چې پر تاسې لګول شوي دي د هغو مراعات وکړئ) البته څوک، چې له لوږې څخه اړ شي او له هغو نه څه شی وخوري بې له دې، چې د ګناه خوا ته یي میلان وي نو بیشکه چې الله ښنونکی او رحم کوونکی دی. (۱۷: ۱۰۸)

۳ـ وَقَدْ فَصَّلَ لَكُم مَّا حَرَّمَ عَلَيْكُمْ إِلاَّ مَا اضْطُرِرْتُمْ إِلَيْهِ(الأنعام: ۱۱۹).

ژباړه: په داسې حال کې چې دکومو شیانو استعمال چې الله له اضطراري ( مجبورتیا ) حالاتو نه پرته په نورو ټولو حالتونو کې پر تاسې حرام کړی دی دهغو تفصیل یې تاسو ته درښودلی دی(۱۷: ۱۴۴).

۴ـ قُل لاَّ أَجِدُ فِي مَا أُوْحِيَ إِلَيَّ مُحَرَّمًا عَلَى طَاعِمٍ يَطْعَمُهُ إِلاَّ أَن يَكُونَ مَيْتَةً أَوْ دَمًا مَّسْفُوحًا أَوْ لَحْمَ خِنزِيرٍ فَإِنَّهُ رِجْسٌ أَوْ فِسْقًا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللّهِ بِهِ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلاَ عَادٍ فَإِنَّ رَبَّكَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ(الأنعام: ۱۴۵).

ژباړه: ای محمده (صلی الله علیه وسلم ) ! دوی ته ووایه کومه وحي، چې ماته راغلي ده په هغې کې خوزه کوم داسې شی نه مومم، چې پر خوړونکي حرام وي، مګر دا چې هغه مرداره وي یا بهېدونکې وینه وي، یا د خوګ غوښه وي، چې هغه ناپاکه ده، یا فسق وي، چې له الله نه پرته د بل چا په نوم ذبحه کړای شوی وي. نو څوک، چې داړتیا په حالت کې ( له دغو شیانو څخه کوم شی وخوري) پرته له دې نه، چې هغه د نافرمانۍ اراده ولري او پرته له دې نه چې داړتیا له اندازې څخه زیاتی وکړي؛ نو په دې کې شک نشته، چې ستا رب له تیریدنې څخه کار اخیستونکی او رحم کوونکی دی(۱۷: ۱۴۸).

۵ـ إِنَّمَا حَرَّمَ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةَ وَالْدَّمَ وَلَحْمَ الْخَنزِيرِ وَمَآ أُهِلَّ لِغَيْرِ اللّهِ بِهِ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلاَ عَادٍ فَإِنَّ اللّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ(النحل: ۱۱۵).

ژباړه: الله، چې کوم شیان پر تاسې حرام کړي دي هغه مرداره ، وینه ، د خوګ غوښه او هغه څاروي دي، چې له الله نه پرته د کوم بل چا نوم پرې اخیستل شوی وي البته که څوک د لوږې له مجبورۍ نه دغه شیان وخوري بې له دینه چې هغه د خدای له قانون څخه د سرغړونې اراده ولري یا د اړتیا له حد نه تیری وکړي؛ نو په یقیني ډول الله ښښونکی او رحم کوونکی دی(۱۷: ۲۸۱).

د دې قراني دلایلوڅخه معلومه شوه، چې ضرورت ( اړتیا) انسان ته هغه کړنې، چې په شریعت کې ناروا وي روا ګرځوي.

دویم نبوي احادیث:

۱ـ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الدِّينَ يُسْرٌ وَلَنْ يُشَادَّ الدِّينَ أَحَدٌ إِلَّا غَلَبَهُ فَسَدِّدُوا وَقَارِبُوا وَأَبْشِرُوا وَاسْتَعِينُوا بِالْغَدْوَةِ وَالرَّوْحَةِ وَشَيْءٍ مِنْ الدُّلْجَةِ (۵: ۴۳).

ژباړه: ابي هریرة رضی الله عنه د نبي صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي یقینا دین اسانه دی او هیڅ چا د دین سره مقابله نده کړې، مګر دین ورباندې غالب شوی دی برابر شئ او یو بل ته نږدې شئ او زیری ورکړئ یو بل ته او د یو بل نه په سبا، بیګا او د شپې په یوه برخه کې مدد وغواړئ.

۲ـ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَسِّرُوا وَلَا تُعَسِّرُوا وَبَشِّرُوا وَلَا تُنَفِّرُوا(۵: ۷۳).

ژباړه: د انس ابن مالك رضی الله عنه څخه روایت دی هغه د نبي صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي نرمي کوئ او سختي مه کوئ، زیری ورکوئ او خلك مه متنفره کوئ.

۳ـ قال رسول الله صلی الله علیه وسلم بعثت بالحنيفية السمحة ومن خالف سنتي فليس مني. (۱۲: ۴۸۷)

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي زه په خالص دين باندې رالیږل شوی یم او څوک، چې زما د سنتو مخالفت وکړي هغه زما څخه نه دی.

۴ـ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، قَالَ: «لَا ضَرَرَ وَلَا ضِرَارَ ، مَنْ ضَارَّ ضَرَّهُ اللَّهُ ، وَمَنْ شَاقَّ شَقَّ اللَّهُ عَلَيْهِ» (۹: ۵۱).

ژباړه: د ابي سعيد الخدري رضی الله عنه څخه روایت دی، چې یقینا نبي صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي په اسلام کې ضرر رسول روا نه دي څوك، چې چاته ضرر ورسوي الله به ورته ضرر ورسوي او څوك چې چاسره سختي وکړي الله به د هغه سره سختي وکړي.

۵ـ عن ابن عباس عن النبي صلى الله عليه و سلم قال: إن الله عزوجل يجاوز لأمتي عن الخطأ والنسيان وما استكرهوا عليه (۱۰: ۳۰۰).

ژباړه: د ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی هغه د نبي صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي یقینا الله عز وجل معاف کړي دي زما امت ته خطا او هیره او هغه چې پر دوی باندې جبر وشي.

په اسلامي شریعت کې د ضرر او مشقت دفعه کولو لپاره فقهي قواعد

۱ـ الضرر يزال.

۲ـ الضرورات تبيح المحضورات.

۳ـ يرتكب أخف الضررين لدفع أعظمهما.

۴ـ يتحمل الضررالخاص لدفع ضرر عام.

۵ـ الضرورت تقدر بقدرها.

۶ـ المشقة تجلب التيسير.

۷ـ الأمر اذا ضاق اتسع.

په شرعي اړتیا باندې د عمل کولو حکم

په شرعي ضرورت (اړتیاوو) باندې عمل کول یوازې جایز نه بلکې واجب دی او په دې باندې دلیل دا قاعدة ده.

قاعدة: الواجب لا یترک إلا لواجب (۱۳: ۱۴۸).

د بېلګې په توګه د لاس پرېکول حرام دي او د انسان د دې اندام ساتنه کول واجب دي لیکن د غلا په وخت کې دا واجب پرېښودل کیږي یعنې کله چې یو شخص غلا وکړي؛ نو لاس یې پرې کیږي که چېرته دغل لاس پرې کول د غلا په اساس نه وای؛ نو بیا دا کار ناروا و پس هغه واجب، چې د انسان د اندام ساتنه کول وو پرېښودل شو د هغه واجب په مقابل کې، چې ډېر مهم دی، چې هغه الله تعالی حدودو پلې کول دي؛ همدارنګه د مضطر( مجبور) شخص لپاره د مردارې خوړل واجب دي، ځکه د نفس (ساتنه) کول واجب دي او د مجبورتیا په حالت کې د نفس ساتنه نه کیږي؛ مګر په یوې وسیلې سره، چې هغه وسیله د مردارې څخه خوراک کول دي. دا د دې قاعدې په اساس : (ما لا یتم الواجب إلا به فهو واجب)

**د یو فعل حکم ته تغیر ورکولو په اعتبار د ضرورت (اړتیا ) حالات:**

۱ـ هغه شی چې د ضرورت ( اړتیا) په حالت کې د هغې رخصت ورکړی شوی وي؛ نو دغه فعل په دغه وخت کې مباح، بلکې واجب دی د بېلګې په توګه مردارې غوښې ته مجبوره کېدل.

۲ـ هغه شی چې د ضرورت (اړتیا) په وخت کې پرې د اقدام کولو جواز وي سره د دېنه چې د حرمت حکم یې باقي پاتې وي، د بېلګې په توګه په ژبه باندې د کفر کلمې ویل.

۳ـ چې اصلا مباح نه وي اګر که د ضرورت ( اړتیا) په خاطر هم وي د بېلګې په توګه د مسلمان وژنه او دا په هغه وخت کې چې یو کار د اصل په اعتبار سره منع وي. (۱۶: ۲۳۶)

**په اسلامي شریعت کې ضرورت (اړتیا ) مدني مسؤلیت لري**

یو څوک چې د چا مال د ضرورت (اړتیا ) په حالت کې وخوري یا یې تلف کړي د دې مال ضمان وربانديې لازم دی .

عَنْ يَحْيَى بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ حَاطِبٍ، قَالَ: أَصَابَ غِلْمَانٌ لِحَاطِبِ بْنِ أَبِي بَلْتَعَةَ بِالْعَالِيَةِ نَاقَةً لِرَجُلٍ مِنْ مُزَيْنَةَ فَانْتَحَرُوهَا وَاعْتَرَفُوا بِهَا ، فَأَرْسَلَ إِلَيْهِ عُمَرُ فَذَكَرَ ذَلِكَ لَهُ ، وَقَالَ: هَؤُلَاءِ أَعْبُدُكَ قَدْ سَرَقُوا

وَانْتَحَرُوا نَاقَةَ رَجُلٍ مِنْ مُزَيْنَةَ وَاعْتَرَفُوا بِهَا ، فَأَمَرَ كَثِيرَ بْنَ الصَّلْتِ أَنْ يَقْطَعَ أَيْدِيَهُمْ ، ثُمَّ أَرْسَلَ بَعْدَمَا ذَهَبَ فَدَعَاهُ وَقَالَ: " لَوْلَا أَنِّي أَظُنُّ أَنَّكُمْ تُجِيعُونَهُمْ حَتَّى إِنَّ أَحَدَهُمْ أَتَى مَا حَرَّمَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ لَقَطَعْتُ أَيْدِيَهُمْ ، وَلَكِنْ وَاللهِ لَئِنْ تَرَكْتُهُمْ لَأُغَرِّمَنَّكَ فِيهِمْ غَرَامَةً تُوجِعُكَ، فَقَالَ: كَمْ ثَمَنُهَا؟ لِلْمُزَنِيِّ ، قَالَ: كُنْتُ أَمْنَعُهَا مِنْ أَرْبَعِمِائَةٍ ، قَالَ: فَأَعْطِهِ ثَمَانَمِائَةٍ "(۷: ۴۸۳).

ژباړه: یحی بن عبد الرحمن بن حاطب وايي په عاليه علاقه کې د حاطب بن ابی بلتعة غلامانو د مزنیة قبیلې د یو سړي اوښه حلاله کړه او بیا یې په هغې باندې اقرار وکړو؛ نو عمر رضی الله عنه حاطب ته خبر ور ولیږلو او دا خبره یې ورته یاده کړه او ورته ویې ویل دا ستا غلامان دي، د مزنیة قبیلې د یو سړي او ښه یې غلا کړې او اعتراف یې پرې کړی؛ نو حکم یې وکړو کثیربن صلت ته، چې د دوی لاسونه غوڅ کړي بیا چې کثیر بن صلت لاړو بیا یې را وغوښتو او ورته یې وویل که چېرته ما دا ګمان نه کولو، چې تاسې دوی لره لوږي کوئ تردې چې یو په دي کې داسې څه ته راتګ کوي، چې الله حرام کړي دي؛ نو ما به د دوی لاسونه غوڅ کړي وای لیکن قسم په الله که زه دوی پریږدم؛ نو د دوی تاوان به زه تاته درکوم نو عمر رضی الله عنه مزني ته وویل، چې د دې قیمت څومره دی؛ نو هغه وویل چې ما په څلور سوه نه وو ورکړی؛ نو عمر رضی الله عنه ورته وویل اته سوه ورته ورکړه.

د دې اثر نه معلو میږي، چې مجبوره شخص د چا مال وخوری یایې تلف کړي؛ نو مدني مسؤلیت په غاړه لري، چې د خوړل شوي یا تلف شوي مال عوض ورکول دي.

**نتیجه**

۱: مقاصدالشریعة د مصالحو په اعتبار سره درې اقسامو ته تقسیمیږي: ۱ـ مقاصد ضروریة ۲ـ مقاصد حاجیة ۳ـ مقاصد تحسینیة.

۲: ضرورت ( اړتیا ) انسان ته ټولې هغه کړنې، چې په اسلامي شریعت کې ناروا وي مباح ګرځوي او داخبره په کتاب الله او نبوي سنتو سره ثابته ده او فقهاوو هم د دې لپاره ډېر فقهي قواعد وضع کړي.

۳: په شرعي ضرورت (اړتیا ) باندې عمل نه یوازې دا چې روا دی؛ بلکې واجب دي او په اسلامي شریعت کې ضرورت ( اړتیا ) مدني مسؤلیت هم لري.

۴: د ضرورت ( اړتیا ) په وخت کې د مردارې خوړل روا دي؛ ځکه چې د نفس ساتنه ضروري ده.

۵ : د متعلق په اعتبار سره ضرورت ( اړتیا ) بیلابیل ډولونه لري:

۱ـ هغه ضرورت (اړتیا ) چې د دین په ساتنې پورې اړه لري د بېلګې په توګه جهاد کې د بوډا ګانو، ښځو او ماشومانو وژل کله، چې ترې کفارو په جنګ کې ډال جوړ کړی وي، دلته د دوی وژنه د دین د ساتنې لپاره روا ده.

۲ـ هغه ضرورت ( اړتیا) چې د نفس ساتنې پورې اړه لري د بېلګې په توګه د لوږې څخه مجبور شخص لپاره د مردارې خوړل تر څو نفس یې له منځه تللو څخه وژغورل شي.

۳ـ هغه ضرورت( اړتیا) چې د عقل ساتنې پورې اړه لري د بېلګې په توګه د نشه یي توکو ناروا والی.

۴ـ هغه ضرورت، چې د نسل ساتنې پورې اړه لري د بېلګې په توګه د مسلمانې ښځې د خوشې کولو لپاره حربي کافرته مال ورکول؛ تر څو په دې سره د راتلونکي نسل ساتنه وشي.

۵ ـ هغه ضرورت، چې د مال ساتنې پورې اړه لري د بېلګې په توګه د ډېر مال ساتنې لپاره د لږ مال خرابول..

**پایله اخیستنه**

دا څرګندده چې چې د اسلام مبارک دین یو کامل دین دی، چې د ضرور ت په وخت کې حرام هم جائز کړي دي.

د ضرورت (اړتیا) بېلګې په قران او نبوی سنتو کې او په فقهی قواعدو کې په واضحه ډول بیان شوی دی.

د ضرر او مشقت دفعه کولو لپاره په اسلامي شریعت کې فقهی قواعد شته .

د اسلام له نظره په ضرورت ( اړتیا ) باندې د عمل کولو حکم کی واضح شوی دی .

**وړاندیزونه**

د څېړنې په پای کي غواړم هغه لازمې سپارښتنې چې د څېړنې په اوږدو کې راته لازمې وبرېښېدلې د لو ستونکو درانه حضور ته وړاندې کړم:

۱ـ د هیواد په کچه مې د سترې رهبرۍ او ملي مشرانو څخه هیله دا ده، چې د ضرورت ( اړتیاوو) په څېر هر اړخیزه موضوعاتو ته په پام داسې ملي لارښودي پیغامونه ورکړي، چې ملت او ولس ورته په ځانګړې پاملرنې او اهمیت باندې متوجه شي .

۲- د هېواد عام وګړو ته مې وړاندیز دا دی، چې د ضرورت ( اړتیاو ) اړوند احکام زده کړي او

کله چې د ضرورت سره مخ شی عمل په ضرورت وکړي.

۴- علماء کرام دې په خپلو خطبو او وعظونو کې وګړو ته د ضرورت ( اړتیا ) اړوند احکام بیان کړي ترڅو وګړي پرې پوه شي.

۵- څېړونکو او لیکوالانو ته مې پیغام دا دی، چې خپلو لیکنېزو او څېړنېزو موادو کې د ضرورت ( اړتیا) پیژندلو ته ځانګړې پاملرنې سره د ځوانانو فکر د هغې په اړه لازمو زده کړو لوري ته را واړوي.

**ماخدونه**

القرآن الكريم.

ابن تيمية،تقى الدين أحمد. (۱۳۱۴ هــ ق). فتاوى شيخ الاسلام. ج ۲۵. ( ط: بدون). القاهرة ـــ مطبعة كردستان العلمية ـ القاهرة.

ابن منظور، محمد بن مكرم بن على، أبو الفضل، جمال الدين الأنصاري الرويفعى الإفريقى. (ب ـ ت). لسان العرب. ج۴. مطبعة الدار العربية للتأليف والنشر.

الأصبحي ، مالك ابن أنس بن مالك بن عامر المدني.(ب ـ ت). موطأ الإمام مالك. ج ۲. مراجعة: محمد فؤاد عبد الباقي. دار إحياء التراث العربي.

البخاري، أبو عبد الله محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة الجعفي. (۱۴۲۲هـ ق). الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه. ج۱. (ط ۱). المحقق : محمد زهير بن ناصر الناصر. دار طوق النجاة.

البخاري، أبو عبد الله محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة الجعفي. (۱۴۲۲هـ ق). الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه. ج۹. (ط ۱). المحقق : محمد زهير بن ناصر الناصر. دار طوق النجاة.

البيهقي، أحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخُسْرَوْجِردي الخراساني، أبو بكر البيهقي. (۱۴۲۴ ه ق). السنن الكبرى. ج ۸ (ط۳). المحقق: محمد عبد القادر عطا. لبنات ـ بيروت - دار الكتب العلمية.

الجصاص، امام حجة الاسلام أبي بكر أحمد بن علي الرازي. (۱۴۱۵ هـ ق). أحكام القرآن. ج ۱. (ط ۱). الكتب العلمية بيروت – لبنان.

الدارقطني، أبو الحسن علي بن عمر بن أحمد بن مهدي بن مسعود بن النعمان بن دينار البغدادي.

(۱۴۲۴ هـ ق). سنن الدارقطني. ج ۴. ( ط ۱). حققه وضبط نصه وعلق عليه، شعيب الارنؤوط، حسن عبد المنعم شلبي، عبد اللطيف حرز الله، أحمد برهوم، ، لبنان – بيروت ـ مؤسسة الرسالة.

الدارقطني، أبو الحسن علي بن عمر بن أحمد بن مهدي بن مسعود بن النعمان بن دينار البغدادي. (۱۴۲۴ هـ ق). سنن الدارقطني. ج ۵. ( ط ۱).حققه وضبط نصه وعلق عليه، شعيب الارنؤوط، حسن عبد المنعم شلبي، عبد اللطيف حرز الله، أحمد برهوم، ، لبنان – بيروت ـ مؤسسة الرسالة.

الزيني، دكتور محمود محمد عبد العزيز. (۱۹۹۳ م). الضرورت في الشريعة الاسلامية والقانون الوضعي تطبيقاتها۔ آثرها۔ احكامها. (ط: بدون). مؤسسة الثقافة الاسلامية.

السيوطي، امام جلال الدين عبد الرحمن بن أبي بكر. ( ۹۱۱ه ق). الجامع الصغير في أحاديث البشير النذير. ج ۱ (ط: بدون). دار الفكر للطباعة والنشر۔ بيروت ـ والتوزيع.

السيوطي، عبد الرحمن بن أبي بكر جلال الدين. (۱۴۱۱هـ ق). الأشباه والنظائر. ج ۱. (ط ۱). دار الكتب العلمية.

الشربيني، محمد الخطيب. (۱۳۷۴هـ ق). مغني المحتاج إلى معرفة معاني ألفاظ المنهاج. ج ۴. (ط: بدون). مصر۔ مطبعة محمد مصطفى.

علي حيدر، خواجه أمين أفندي. (١٤١١هـ ق).درر الحكام في شرح مجلة الأحكام. ج۱. (ط ۱). دار الجيل.

الغزي، الشيخ الدكتور محمد صدقي بن أحمد بن محمدآل بورنو أبو الحارث. (۱۴۱۶ هـ ق). الوجيز في إيضاح قواعد الفقة الكلية. (ط ۴). لبنان ـ بيروت – مؤسسة الرسالة.

كشاف، قيام الدين. (۱۳۸۸هـ). ترجمة القران الكريم. (ط: ۲). خپورنكي: د پوهني وزارت د خپرونو رياست، چاپ ځاى ـ كابل ـ احمدي مطبعه.

# د ټرانس یورانیم عناصرو سنتیز

لیکونکی: پوهنیار محمدنور محمدي، شیخ زاید پوهنتون، ښوونې او روزنې پوهنځی، د کیمیا څانګې استاد

تقریظ ورکوونکی: پوهنوال امرالله آصفي د ښوونې او روزنې پوهنځي استاد

**لنډیز**

ټرانس یورانیم عناصر په دوراني جدول کې تر یورانیم وروسته موقیعت لري. په طبیعي ډول نه پیدا کیږي، بلکه د نورو عناصرو څخه په مصنوعي ډول جوړیږي. پلوتونیم د دې ډلې یو عنصر دی چې په هستوي ریاکټورنو کې د بریښنا د تولید برسیره په هستوي بمونو کې هم کارول کیږي. د ټرانس یورانیم عناصرو په اړه کره او بشپړ معلومات د کیمیا ډیپارټمنټ د علمي کادر غړو او د دې ډیپارټمنټ محصلینو ته د زیات ارزښت وړ دي، ځکه چې تردې دمه په دې اړه اړینو معلوماتو ته لاسرسی کم وو. ومې غوښتل د ډیپارټمنټ د پریکړې له مخې د نویو څیړنو په لړ کې رابرسیره شوي معلومات راجمع او د یوې مقالې په شکل یې وړاندې کړم. د دې موادو په راټولولو کې د کتابخانه یي میتود څخه استفاده شوي ده چې د معتبرو علمي ژورنالونو څخه نوې علمي څیړنې پکې ځای شوي دي. په پایله کې به موږ وکولی شو چې ټرانس یورانیم عناصر جوړ او له هغې څخه هر اړخیزه سالمه ګټه واخلو او د افغانستان لپاره به د هستوي انرژی منابع ومومو. د نوموړو عناصرو پر راډیواکتیف، کیمیاوي او فزیکي خواصو د زیاتو څیړنو په مرسته د نوموړو عناصرو د تجزیې او ترکیب څخه داسې کیمیاوي توکي لاسته راوړلی شو چې په طب، زراعت، اقتصاد او نورو ساحو کې زیات ارزښت ولري.

کلیدي ټکي: ټرانس یورانیم عناصر، د دوی د جوړیدلو ځای، جوړونکي اشخاص، هستوي انرژي، د ټرانس یورانیم عناصرو د لاسته راوړلو طریقې

**سریزه**

ټرانس یورانیم هغه عناصر دي چې په دوراني جدول کې تر یورانیم $^{238}_{92}U$ وروسته قرار لري، یعنې هغه عناصر چې اتومي نمبر یې له ۹۳ څخه نیولی تر ۱۱۸ پورې وي. ټرانس یورانیم یا تر یورانیم وروسته عناصر د وروستیو دېرشو کلونو په ترڅ کې د Mc Millan ، Seaborg او ځینو نورو کیمیا پوهانو په واسطه استحصال او څېړل شوي دي او نن ورځ کیمیا پوهان په دې وتوانیدل چې د موزلي اتومي نمبر ته تر ۱۱۸ پورې پراخوالی ورکړي. نوموړي عناصر په طبیعي ډول نه پیدا کیږي بلکه د نورو عناصرو څخه په مصنوعي ډول جوړیږي. پلوتونیم د دې ډلې یو

عنصر دی چې په هستوي رياکټورنو کې د بريښنا د توليد برسيره په هستوي بمونو کې هم کارول کيږي.

**موخې**

د يادې مقالې موخه دا ده چې د ټرانس يورانيم عناصرو د مختلفو خواصو په خاص ډول د راډيواکټيفي خواصو سره بلدتيا پيدا کړو او همدارنګه که څه هم د يورانيم وروسته عناصرو د جوړلو سامان الات او لابراتوارونه، نه لرو، خو بيا هم د دوی د جوړولو او سنتيز سره بايد اشنايي پيدا کړو او کوښښ وکړو چې تر ۱۱۸م عنصر وروسته نور عنصر هم جوړ کړو. د ټرانس يورانيم عناصرو په اړه کره او بشپړ معلومات د کيميا ډيپارټمنټ د علمي کادرغړو او د دې ډيپارټمنټ محصلينو ته د زيات ارزښت وړدي، ځکه چې تردې دمه په دې اړه اړينو معلوماتو ته لاسرسی کم وو. ومې غوښتل د ديپارټمنټ د پريکړې له مخې د نويو څيړنو په لړ کې رابرسيره شوي معلومات راجمع او د يوې مقالې په شکل يې وړاندې کړم.

**د کار توکي او کړنلاره**

ما د دغه مقالې په ليکنه کې له کتابخانه يي ميتود څخه استفاده کړي ده او تر ډيره مې کوښښ کړی چې وروستنی څيړنې او موندنې کومې چې په دې وروستيو کې شوي رواخلم او کوښښ مې کړی ترڅو له معتبرو کتابونو او له معتبرو علمي ژورنالونو څخه نوې علمي څيړنې پکې ځای کړم.

**پخواني معلومات**

پخوا د دغه عناصر له جملې څخه ډير کم شمير عناصر جوړ شوي وو چې مهم عناصر يې نپتونيم او پلوتونيم وو، چې ډير کم کيمياوي مرکبات يې هم جوړ شوي وو، خو د پلوتونيم څخه د پراخې انرژی د لاسته راتللو څخه وروسته د دغه عناصرو د جوړولو په باره کې څيړنې کړندی شوې او په ډير کم وخت کې د دغه عناصرو شمير ۲۶ ته ورسيد، خو په ۲۰۱۱م کال کې د IUPAC د څيړنو وروسته د دغه عناصرو له جملې څخه د ځينو عناصرو د جوړولو ادعاوې رد شوې.

اوس په جدا ډول د يورانيم وروسته عناصرو جوړول او لاسته راوړل د هستوي معادلو په نظر کې نيولو سره تر مطالعې لاندې نيسو.

**نپتونيم Np (Neptunium) Z=93** : دغه عنصر په ۱۹٤۰ ميلادي کال کې د Edwin Mc

Milan او Philip H. Abelson په واسطه د امریکا په کلیفورنیا پوهنتون کې د یورانیم د سوري شویو محصولاتو په اړه د څیړنې په ترڅ کې وموندل شو او د یورانیم سره ورته يې هغه ته د نپتون د سیارې نوم یعني نپتونیم کېښود. (5: 385)

د $^{239}_{93}Np$ ایزوتوپ د یورانیم څخه د لاندې هستوي تعامل په واسطه لاسته راغی.(3:621)

$$^{238}_{92}U + ^{1}_{0}n \longrightarrow ^{239}_{92}U \xrightarrow[23.5\,min]{} ^{239}_{93}Np + \beta^-$$

**پلوتونیم Pu (Plutonium) Z=94** : دغه عنصر د Glenn T.Seabrg ، Arthur Wahl ، Joseph W. Kennedy او Edwin Mc Millan په واسطه د بیتا- تجزیې په اثر د نپتونیم څخه لاسته راغی.(5:388)

$$^{238}_{92}U(n,\gamma)\,^{239}_{92}U \xrightarrow{23.5\ min} ^{239}_{93}Np + \beta^- \xrightarrow{2.35\ d} ^{239}_{94}Pu + \beta^-$$

پلوتونیم د حرارتي نیوترونونو سره د سوري کېدو د خاصیت په درلودلو سره د هستوي ریاکټورونو د سون موادو او اتومي بمونو د جوړښت لپاره فوق العاده زیات اهمیت لري.

**امرسیم Am (Americium) Z=95** : امرسیم کله کله د امیریکیم په تلفظ هم نومول کېږي. دغه عناصر په ۱۹٤٤ م کال کې د Glenn T.Seabrg، Ralph A. James، Leom O. Morgan او د Albert Ghiors له خوا د نیوترون په واسطه د پلوتونیم د بمبارد څخه په لاس راغی.(9:215)

$$^{239}_{94}Pu \xrightarrow{(n,\gamma)} ^{240}_{94}Pu \xrightarrow{(n,\gamma)} ^{241}_{94}Pu \xrightarrow{14.35\ yr} ^{241}_{95}Am + \beta^-$$

**کیوریم Cm (Curium) Z=96** : یا کوریم هم په ۱۹٤٤ م کال کې د Glenn T.Seabrg، Ralph A. James او Albert Ghiors له خوا منځته راغی او د کیوري په افتخار د کوریم یا کیوریم په نوم ونومول شو. دغه عنصر د لاندې تعامل په اساس لاسته راغلی دی.(8:168)

$$^{241}_{95}Am \xrightarrow{(n,\gamma)} ^{242}_{95}Am \xrightarrow{16\ min} ^{242}_{96}Cm + \beta^-$$

د امرسیم او کیوریم د تهیه کېدو څخه وروسته د $(n,\gamma)$ تعامل په واسطه نور عناصر چې د نیوترون د بمبارد څخه د تهیه کېدو وړ وو، په همدې طریقه ایجاد شوي دي.(1:1244)

**برکیلیم Bk (Berkelium) Z=97** : دغه عنصر په ۱۹٤۹ م کال کې د امریکا د کلیفورنیا ایالت په برکیلي کې د Lawrence Berkeley National Laboratory له خوا جوړ شو. (5:390)

$$^{241}_{95}Am + ^{4}_{2}He \longrightarrow ^{243}_{97}Bk + 2\ ^{1}_{0}n$$

$^{242}_{97}Bk$ ایزوتوپ د $1.3 - 7$ min تیرولو څخه وروسته په کیوریم-۲۴۲ باندې بدلیږي. په ورته ډول برکیلیم-۲۴۱ هم سنتیز شوی دی.(10:206)

**کلیفورنیم Cf (Californium) Z=98** : نوموړی عنصر هم په ۱۹۵۰ م کال کې د امریکا د کلیفورنیا ایالت په برکیلي کې د Lawrence Berkeley National Laboratory له خوا منځته داغی او د کلیفورنیا د ښار یعنې کلیفورنیم په نوم ونومول شو.(7:816)

$$^{242}_{96}Cm + ^{4}_{2}He \longrightarrow ^{245}_{98}Cf + ^{1}_{0}n$$

**اینستینیم Es (Einsteinium) Z=99** : دغه عنصر په ۱۹۵۲ م کال کې د Ghiorso and Co-workers او Lawrence Berkeley National Laboratory له خوا سنتیز شو. نوموړی عنصر د البرټ انشټاین په افتخار د هغه په نوم یعنې اینشټینیم ونومول شو.(7:816)

$$^{238}_{92}U \xrightarrow{(15n,6\beta^-)} ^{253}_{98}Cf \longrightarrow ^{253}_{99}Es + \beta^-$$

**فرمیم Fm (Fermium) Z=100** : دغه عنصر هم په ۱۹۵۲ م کال کې د Ghiorso and Co-workers او Lawrence Berkeley National Laboratory له خوا سنتیز شو. نوموړی عنصر د Enrico Fermi په افتخار په فرمیم ونومول شو. دغه عنصر په لاندې توګه لاسته راوړل شو.(4:88)

$$^{238}_{92}U \xrightarrow{17\ (n,\gamma)} ^{255}_{92}U \xrightarrow{8\beta^-} ^{255}_{100}Fm$$

**مندلیفیم (Mendelevium) Z=101** : یا مندلیویم په ۱۹۵۵م کال کې د Albert Ghiorso ، Bernard Harvey ، Gregory Choppin ، Stanley Thompson او Glenn Seaborg له خوا په Lawrence Berkeley National Laboratory کې منځته راغی.

باید یادونه وکړو چې د مندلیفیم په ګډون پورتني ځومره عناصر چې په ذکر شوي لابراتوار کې سنتیز شوي دي، د دوی تر شا د همدغه پورتنیو څو کیمیاپوهانو لاس دی.(7:818)

$$^{253}_{99}Es + ^{4}_{2}He \longrightarrow ^{256}_{101}Md + ^{1}_{0}n$$

دغه عنصر د روسي کیمیاپوه Dimitri Mendeleev په افتخار یعنې مندلیفیم باندې ونومول شو.

**نوبلیم (Nobelium) Z=102** : دغه عنصر په ۱۹۶۶م کال کې د Joint Institute for

Nuclear Research له خو د روسيې په Dubna ښار کې جوړ شو او د Alfred Nobel په افتخار د هغه په نوم يعنې نوبليم ونومول شو.دغه عنصر په لاندې ډول سره لاسته راوړل شوی دی.(10:818)

$$^{244}_{96}Cm + ^{12}_{6}C \longrightarrow ^{256}_{102}No^{*} \longrightarrow ^{252}_{102}No + 4\ ^{1}_{0}n$$

**لاورنسيم Z=103 (Lawrencium) Lw or Lr** : دغه عنصر په ۱۹۶۱-۱۹۷۱ کلونو کې د Albert Ghiorso ، Torbjorn Sikkeland ، Almon Larsh او Robert Latimer له خوا په Lawrence Berkeley National Laboratory کې او د Joint Institute for Nuclear Research له خوا منځته راغی. د غه عنصر د Ernest Lawrence په افتخار د هغه په نوم يعنې لاورنسيم باندې ونومول شو، چا چې Cyclotron Particle Accelerator کشف کړی وو. د دغه عنصر له پاره په لومړي سر کې خپل اصلي سمبول يعنې Lw استعماليده، خو په ۱۹۶۳ کال کې دغه سمبول د IUPAC له خوا تبديل شو او په Lr باندې بدل شو، چې اوسنی سمبول يې همدغه Lr دی، خو په ځينو ځايونو کې اوس هم د Lw په واسطه ښودل کيږي.(3:625)

د دغه عنصر استحصال په لاندې ډول ترسره شو.(10:395)

$$^{252}_{98}Cf + ^{11}_{5}B \longrightarrow ^{263}_{103}Lr^{*} \longrightarrow ^{258}_{103}Lr + 5\ ^{1}_{0}n$$

**رادرفورديم Z=104 (Rutherfordium) Rf** : دغه عنصر په ۱۹٦٤م کې د Joint Institute for Nuclear Research له خوا منځته راغی. نوموړی عنصر د Ernest Rutherford په افتخار د هغه په نوم يعنې رادرفورديم باندې ونومول شو، څوک چې د هستوي فزيک پلار بلل کيږي.دغه عنصر د نيون په واسطه د پلوتونيم د هستې د بمبارد کولو څخه لاسته راځي، کوم چې 114 Mev انرژي لري. د استحصال معادله يې په لاندې ډول سره ده.(2:653)

$$^{242}_{94}Pu + ^{22}_{10}Ne \longrightarrow ^{264}_{104}Rf^{*} \longrightarrow ^{260}_{104}Rf + 4\ ^{1}_{0}n$$

ځينو خلکو دغه عنصر د روسي فزيک پوه کورچاتوف په افتخار نومولی دی، يعنې کورچاتوفيم يا کورچاتوويم يې بولي او سمبول يې ورته Ku ټاکلی دی.(2:651)

**ډوبنيم Z=105 (Dobnium) Db** : دغه عنصر په ۱۹۶۸-۱۹۶۷ کلونو کې لومړی د روسيې په ډوبنا ښار کې د Joint Institute for Nuclear Research له خوا او وروسته د امريکا

په کليفورنيا ايالت کې د Lawrence Berkeley National Laboratory له خوا جوړ شو. دغه عنصرد روسيې د Dubna د ښار په نوم يعنې ډوبنيم باندې ونومول شو. د سنتيز معادله يې په لاندې ډول سره ده.(8:169)

$$^{243}_{95}Am + ^{22}_{10}Ne \longrightarrow ^{260}_{105}Db + 5\ ^{1}_{0}n$$

نوموړی عنصر ځينې خلک د هانيم په نوم هم مسما کوي او سمبول يې ورته Ha ټاکلی دی.(5:388)

**سيبورګيم Sg (Seaborgium) Z=106** : يا سيبورجيم په ۱۹۷٤م کال کې د Lawrence Berkeley National Laboratory له خوا چې رهبري يې Albert Ghiorso کوله او د Joint Institute for Nuclear Research له خوا جوړ شو. دغه عنصر د Glenn Theodore Seaborg په افتخار د هغه په نوم يعنې سيبورګيم باندې ونومول شو، ځوک چې د نوبل جايزې ګټونکی امريکايي هستوي فزيک پوه وو.(6:101)

$$^{249}_{98}Cf + ^{18}_{8}O \longrightarrow ^{263}_{106}Sg + 4\ ^{1}_{0}n$$

**بوريم Bh (Bohrium) Z=107** : د لومړي ځل له پاره په ۱۹۷٦م کال کې USSR د دغه عنصر د جوړيدو ادعا کړې وه، خو وروسته په ۱۹۸۱م کال کې د جرمني په Darmstadt ښار کې د Gesellschaft Für Schwerioneforschung يا (GSI) له خوا چې Heavy Ion Research Laboratory هم ورته وايي جوړ شو. دعه عنصر د Niels Bohr په افتخار يعنې بوريم ونومول شو، چا چې په ۱۹۲۲م کال کې په فزيک کې د نوبل جايزه اخيستې وه.(4:91)

$$^{209}_{83}Bi + ^{54}_{24}Cr \longrightarrow ^{262}_{107}Bh + \ ^{1}_{0}n$$

د بوريم د يوولسو ايزوتوپونو نيم ژوند معلوم شوی دی، چې ټول يې غيرثابت دي او تر ټولو ثابت ايزوتوپ يې Bh-270 دی چې نيم ژوند يې ٦١ ثانيې دی.(8:170)

**هاسيم Hs (Hassium) Z=108** : دغه عنصر په ۱۹۸٤م کال کې د جرمني په Darmstadt ښار کې د Gesellschaft Für Schwerioneforschung له خوا چې په انګليسي کې ورته Heavy Ion Research Laboratory وايي او مشري يې Peter Armbruster او Gottfvied Münzenber کوله جوړ شو. دغه عنصر د جرمني د يو ښار Hassia (چې په لاتين کې ورته Hesse وايي) په نوم يعنې هاسيم ونومول شو.(2:658) د

سنتیز معادله یې په لاندې ډول سره ده :

$$^{208}_{82}Pb + ^{58}_{26}Fe \longrightarrow ^{265}_{108}Hs + ^{1}_{0}n$$

د نوموړي عنصر د ۱۲ ایزوتوپونو څخه (چې نیم ژوند یې ټاکل شوی دی) یو هم ثابت نه دی او تر ټولو ثابت ایزوتوپ یې Hs-269 دی، چې نیم ژوند یې یوازې ۹،۷ ثانیې دی.

**مایټنیریم Mt (Meitnerium) Z=109** : دغه عنصر په ۱۹۸۲م کال کې د Heavy Ion Research Laboratory له خوا چې په جرمني ژبه کې ورته Gesellschaft Für Schwerioneforschung وایي سنتیز شو. نوموړی عنصر د ریاضي پوه او فزیک پوه Lise Meitner په افتخار یعنې مایټنیریم باندې ونومول شو. د لاسته راوړلو تعامل یې په لاندې ډول سره دی.(8:173)

$$^{209}_{83}Bi + ^{58}_{26}Fe \longrightarrow ^{266}_{109}Mt + ^{1}_{0}n$$

د مایټنیریم د ۷ ایزوتوپونو څخه چې نیم ژوند یې معلوم شوی دی، یو هم ثابت نه دی او تر ټولو ثابت ایزوتوپ یې Mt-266 دی، چې نیم ژوند یې د ۸ ثانیو سره برابر دی.

**درمسټډتیم Ds (Darmstadtium) Z=110** : دغه عنصر د ان نیلیم (Ununnilium) په نوم هم پیژندل کیږي، چې د دغه نوم لپاره یې سمبول Uun ټاکلی دی او په ۱۹۹٤م کال کې د Gesellschaft Für Schwerioneforschung (او یا یې همغه انګلیسي نوم) له خوا سنتیز شو، چې د جرمني په Darmstadt ښار کې موقیعت لري او د همدغه ښار په نوم یعنې درمسټډتیم په نوم یې یاد کړ.(3:630)

$$^{208}_{82}Pb + ^{62}_{28}Ni \longrightarrow ^{269}_{110}Ds + ^{1}_{0}n$$

د دغه عنصر د ۸ نیم ژوند پیژندل شویو ایزتوپونو څخه (۲۶۷-۲۸۱) یو هم ثابت نه دی او تر ټولو ثابت ایزوتوپ یې Ds-281 دی، چې نیم عمر یې ۱۱،۱ ثانیې دی.

**رونټجینیم Rg (Roentgenium) Z=111** : څوک یې د ان ان انیم (Unununium) په نوم هم پیژني او سمبول یې ورته Uuu ټاکلی دی. دغه عنصر هم په ۱۹۹٤م کال کې د جرمني په Darmstadt ښار کې Heavy Ion Research Laboratory (او یا یې همغه جرمني نوم) لخوا سنتیز شو. دغه عنصر د مشهور فزیک پوه Wilhelm Conrad Roentgen په افتخار یعنې رونټجینیم ونومول شو، چا چې په ۱۸۹۵ کال کې د X- وړانګې کشف کړې وې.(8:173)

$$^{209}_{83}Bi + ^{64}_{28}Ni \longrightarrow ^{272}_{111}Rg + ^{1}_{0}n$$

د دغه عنصر د ۷ ایزوتوپونو څخه چې نیم عمر یې پیژندل شوی وو، یو هم ثابت نه دی او تر ټولو ثابت Rg-281 دی، چې نیم ژوند یې ۲۳ ثانیې دی.

**کاپرنسیم Cn (Copernicium) Z=112** : دغه عنصرد ان ان بیم (Ununbium) په نوم او د Uub په سمبول سره هم پیژندل کیږي. دغه عنصر په ۱۹۹۶م کال کې د Sigurd Hofmann له خوا په Heavy Ion Research Laboratory کې سنتیز شو او د مشهور ریاضي پوه Nicolaus Copernicus په افتخار یعنې کاپرنسیم ونومول شو.(8:174)

$$^{208}_{82}Pb + ^{70}_{30}Zn \rightarrow ^{278}_{112}Cn^{*} \rightarrow ^{277}_{112}Cn + ^{1}_{0}n$$

د ۲۷۷-۲۸۵ ایزوتوپونو له جملې څخه د پینځو ایزوتوپونو نیم ژوند ټاکل شوی دی چې یو هم ثابت نه دی او تر ټولو ثابت یې Cn-285 دی چې نیم عمر یې ۳٤ ثانیې دی.

**ان ان ټریم Uut (Ununtrium) Z=113** : په ۲۰۰۳م کال کې د روسیې دوبنا Joint Institute For Nuclear Research او د امریکې کلیفورنیا Lawrence Livermore National Laboratory (LLNL) ټیمونو چې مشري یې Yuri Oganessian او Ken Moody کوله، وویل چې دوی ۱۱۳م عنصر جوړ کړی دی.(8:175)

$$^{243}_{95}Am + ^{48}_{20}Ca \rightarrow ^{288}_{115}Uup + 3(^{1}_{0}n) \rightarrow ^{284}_{113}Uup + ^{4}_{2}He$$

خوپه ۲۰۱۱ کال کې (IUPAC) د دوبنا ښار او د لیورمور د ملي لابراتوار څیړنې دوباره تر نظر لاندې تیرې کړلې او دوی دغه کار او سنتیز رد شو او دوی وویل چې ان ان ټریم نه دی جوړ شوی.(6:102)

**فلیرویم Fl (Flerovium) Z=114** : دغه عنصر د ان ان قوادیم (Ununquadium) په نوم او د Uuq په سمبول سره هم پیژندل کیږي او په ۱۹۹۸-۱۹۹۹م کالونو کې په Joint Institute For Nuclear Research او Lawrence Livermore National Laboratory (LLNL) له خوا چې مشری یې Yuri Oganessian او Ken Moody کوله جوړ شو. دغه عنصر که څه هم لږ مقدار وو، خو په ۲۰۱۱م کال کې د IUPAC له خوا قبول شو. نوموړي عنصر ته د فلیروویم رسمي نوم (کیورګي نکولاویچ فلیوروف) په نامه د اتومي څیړنو متحده انستیتیوت په ویاړ ورکړل شو.(7:818)

$$^{244}_{94}Pu + ^{48}_{20}Ca \rightarrow ^{292}_{114}Fl^{*} \rightarrow ^{289}_{114}Fl + 3(^{1}_{0}n)$$

**ان ان پنتيم (Ununpentium) Z=115** : په ۲۰۰۳م کال کې د روسيې دوبنا Joint Institute For Nuclear Research او د امريکې کليفورنيا Lawrence Livermore National Laboratory (LLNL) لابراتوارونو چې مشري يې Yuri Oganessian او Ken Moody کوله، ووېل چې دوی ۱۱۵م عنصر جوړ کړی دی :

$$^{243}_{95}Am + ^{48}_{20}Ca \longrightarrow ^{288}_{115}Uup + 3(^{1}_{0}n)$$

خو په ۲۰۱۱م کال کې دغه تجربه د IUPAC له خوا ونه منل شو، اود ان ان پنتيم سنتيز يې رد کړ.(10:402)

**ليورموريم (Livermorium) Lv Z=116** : ليورموريم په ۲۰۰۰ کال د Joint Institute For Nuclear Research او د Lawrence Livermore National Laboratory له خوا چې رهبري يې Yuri Oganessian او Ken Moody کوله جوړ شو. دغه عنصر په ۲۰۱۱م کال کې د IUPAC لخوا تائيد او د LLNL په افتخار د ليورموريم په نوم ونومول شو.(9:220)

$$^{248}_{96}Cm + ^{48}_{20}Ca \longrightarrow ^{296}_{116}Lv + 3(^{1}_{0}n)$$

**ان ان سپتيم (Ununseptium) Uus Z=117** : په ۲۰۰۹ کال د روسيې په دوبنا کې د Flerov Laboratory Of Nuclear Reaction ادعا وکړه چې دوی ۱۱۷م عنصر جوړ کړی دی او په ۲۰۱۰ کال کې د زياتو نورو لابراتوارونو له خوا هم د دغه عنصرد جوړولو ادعاوې وشوې، خو IUPAC دغه ټولې ادعاوې رد کړي دي او د دغه عنصر جوړول يې رسماً نه دي تائيد کړي. د سنتيز تعامل يې داسې ښودل شوی دی.(2:661)

$$^{249}_{97}Bk + ^{48}_{20}Ca \rightarrow ^{297}_{117}Uus^{*} \rightarrow ^{294}_{117}Uus + 3(^{1}_{0}n)$$

**ان ان اکتيم (Ununoctium) Uuo Z=118** : په ۲۰۰۲ کال کې (JINR) او (LLNL) اعلان وکړ چې دوی ۱۱۸م عنصر په لاندې ډول سنتيز کړی دی.(2:662)

$$^{249}_{98}Cf + ^{48}_{20}Ca \rightarrow ^{294}_{118}Uuo + 3(^{1}_{0}n)$$

همدارنګه په

$$ {}^{86}_{36}Kr + {}^{208}_{82}Pb \rightarrow {}^{293}_{118}Uuo + {}^{1}_{0}n $$

۱۹۹۹ کال کې (LBNL) هم ادعا کړې وه چې Uuo یې د لاندې تعامل په اساس جوړ کړی.(8:177)

خو په ۲۰۱۱ کال کې IUPAC د پورتنیو ټولو ټیمونو ادعاوې در کړې او د Uuo سنتیز یې نه دی تائید کړی.(2:263)

**پایله**

په پایله کې به موږ وکولی شو چې ټرانس یورانیم عناصر جوړ او له هغې څخه هر اړخیزه سالمه ګټه واخلو او د افغانستان لپاره به د هستوي انرژی منابع ومومو. همدا ډول د ټرانس یورانیم عناصرو د کیمیاوي او فزیکي خواصو سره باید اشنا شو، ځکه کیدای شي چې په دغه عناصرو کې ځینې داسې عناصر پیدا شي چې له هغې څخه په ورځینې ژوند کې ډیره استفاده وشي. د مثال په توګه د دوی له جملې څخه د پلوتونیم یادونه کوو. دغه عنصر نن ورځ په هستوي ریاکټورونو کې ډیر استعمال لري او د هستوي ریاکټورونو د سون مهم مواد دي او همدارنګه د نوموړي عنصر څخه د اتومي بمونو په جوړولو کې هم کار اخیستل کیږي. په لنډ ډول ویلی شو چې کیدای د دغو عناصرو له جملې څخه داسې عناصر لاسته راشي چې د ژوند لیدلوری مو بدل کړي.

**وړاندیزونه**

د کیمیا لابراتوارونو ته وړاندیز کوم چې د هستوي تعاملاتو تجربې د کیمیاوي تعاملاتو سره توپیر لري. هستوي تعاملات زیات حرارت جذب او یا خارجوي، نو باید د زیات پوهوي او امکاناتو پرته ورته د اجرا کیدو زړه ښه نه کړی، کني د خدمت پر ځای به مو د انسانانو لپاره زیات خطر متوجه کړی وي.

د طبي برخو مسؤلینو ته وړاندیز کوم چې دغه عناصر د نورو ساحو سربیره په طب کې د ناروغیو د تشخیص او معالجې لپاره هم استعمالیږي، لکه د سرطاني ناروغیو په تشخیص او معالجه کې باید ترې سالمه استفاده وشي.

په دولت غږ کوم چې د مصنوعي راډیو ایزوتوپونو د جوړولو لپاره د مناسبو لابراتوارونو د جوړولو زمینه سازي وکړي.

**مأخذونه**

کاڼي، م. ط. (۱۳۹٤). *د عناصرو کیمیا (دوهم جلد)*. ننګرهار: ننګرهار پوهنتون.

Arnikar, H. J. (2012). *Essentials of nuclear chemistry* (No. 1653). New Age International.

D'Auria, S. (2018). Introduction to Nuclear Physics. In *Introduction to Nuclear and Particle Physics* (pp. 147-179). Springer, Cham.

Hutchinson, J. S., & Obenland, C. A. (2016). Scholarship of Teaching: Online Courses as a Means of Publishing Innovations. In *Online Course Development and the Effect on the On-Campus Classroom* (pp. 7-20). American Chemical Society.

Loveland, W. D., Morrissey, D. J., & Seaborg, G. T. (2017). *Modern nuclear chemistry*. John Wiley & Sons.

McMurry, J. E., & Fay, R. C. (2014). General chemistry: Atoms first.

Pfennig, B. W. (2015). *Principles of inorganic chemistry*. John Wiley & Sons.

Saha, G. B. (2018). Nuclear pharmacy. In *Fundamentals of Nuclear Pharmacy* (pp. 185-202). Springer, Cham.

Sodhi, G.S. (2013). *Inorganic Chemistry (second edition).* Delhi: Vinod Vasishtha for Viva Books Private Limited.

Strohfeldt, K. A. (2015). Essentials of inorganic chemistry: For students of pharmacy, pharmaceutical sciences and medicinal chemistry. John Wiley & Sons.

# بلاک چېن ټکنالوژي او د مجازي پیسو اسلامي اړخ

لیکوالان: پوهنیار محمدداؤد بابکر خېل، شیخ زاید پوهنتون، کمپیوټر ساینس پوهنځی، د معلوماتي ټیکنالوژي څانګې استاد او پوهنیار رحمت الله منګل، شیخ زاید پوهنتون، اقتصاد پوهنځی، مالي او بانکي څانګې استاد

تقریظ ورکوونکی: پوهندوی صالح خان صالح ، شیخ زاید پوهنتون ،کمپیوټر ساینس پوهنځي استاد

**لنډیز**

بلاک چېن یوه نوي ټکنالوژي ده او یوه مهمه ځانګړتیا یې دا ده، چې ډېره پر امنه ده. بلاک چېن یوه نوې ټیکنالوژي ده چې نوموړي ټیکنالوژي به په کاروبارونو کې د مالي معاملو په سره ته رسولو کې ستر بدلون را منځ ته کړي او د بلاک چېن څخه تر اوسه پورې په مجازي پیسو کې استفاده کیږي. تر اوسه خلک دا فکر کوي، چې د بلاک چېن څخه یوازې په مجازي پیسو کې ګټه اخستل کیږي خو داسې نه ده، بلاک چېن یوازې پر امنه ټکنالوژي ده، چې معلومات ساتي او دا خبره سمه نه ده، چې بلاکچېن یوازې په خیالي پیسو کې کارول کیږي. د دې ټکنالوژۍ امنیت ته په کتو او د دې تر څنګ خیالي پیسې، چې یوه ډېره مهمه موضوع ده د زیاتو څېړونکو پام یې ځان ته اړولی نو همدې اړخ ته په کتو موږ هم وغوښتل، چې د دې موضوع په اړه څېړنه وکړو او دا روښانه کړو، چې بلاک چېن ټکنالوژي څه ډول ټکنالوژي ده او د کومو موخو لپاره کارول کیږي. علاوه له دې څخه د مجازي پیسو اسلامي اړخ څېړل مهم دي چې اسلامي اقتصاد پوهان د مجازي پیسو په اړه څه نظر لري.

**کلیدي ټکي**: بلاک چېن ټکنالوژي، بلاک چېن اهمیت ، پیسې ، دمجازي پیسو اسلامي اړخ ، مجازي پیسې،

**سریزه**

معمولا موږ د پیسو په اړه چې فکر کوو، سیکو او کاغذي نو ټونو ته پیسې وایو او همدارنګه د حکومت په چوکاټ کې، چې کله د پیسو په اړه خبرې کیږي، نو د پیسو اندازې (بخشې یا Fund ) او بانکي حسابونو ته پیسې ویل کیږي. کله څوک قیمت ته د پیسو نوم ورکوي کله ارزښت ته ، ځینې مهال که وکتل شي نو قیمت ، پیسې او ارزښت په یو نظر ګوري او حتی بعضې مهال خو موټر، کور، ځمکه او که په لنډ ډول ووایو ټوله شتمني د پیسو په نوم یادوي او هغه داسې چې کله یو څوک و وایي ،چې پلانکی څومره زیاتې پیسې لري! او همدې ته ورته نورې خبرې. خو په حقیقت کې داسې نه ده، اقتصاد پوهان بیا پیسو ته بېلابېل تعریفونه لري.

اقتصاد پوهان يې بيا داسې راپېژني ،چې هر هغه څه، چې خلك يې د توکو تبادلې او پورونو د ورکړې لپاره کاروي پيسې دي(9:1).

د جهدېش په نوم اقتصاد پوه په خپل کتاب کې د پيسو په اړه ليکي ، چې پيسې هم د لوی اقتصاد او هم د کوچني اقتصاد يوه مهمه وسيله ده، په کوچني اقتصاد کې د پيسو په عرضه او تقاضا باندې بحث کيږي او په لوی اقتصاد کې د پيسو سياست او د هغې اغېز په اقتصاد باندې تر څېړنې لاندې نيول کيږي. پولي اقتصاد د پيسو د عرضې، قيمتونو، سود نرخ او د دوی اغېز په اقتصاد باندې څېړي. همدارنګه پولي اقتصاد د پيسو او نورو مالي مارکيټونو، د سود نرخ پر ټاکلو، د سود د نرخ اغېز په لوی اقتصاد باندې څېړي. د دې تر څنګ پيسو اقتصاد د پيسو سياست په اړه څېړنې کوي ، چې د مرکزي بانك لخوا په لاره اچول کيږي او په هغه کې دا کتل کيږي ، چې دغه سياست په نورو توليدي واحدونو او همدارنګه په ټول اقتصاد باندې څه ډول اغېز پرې باسي، د دې تر څنګ د پيسو عرضه او تقاضا څنګه د پيسو کړنلارو په وسيله څارل او کنټروليږي( 8:10).

دا روښانه ده، چې په تېرو تاريخي وختونو کې پيسې د نن ورځې په شکل شتون نه درلود او هم په هغه وخت کې بېلابېل شيان د پيسو په توګه ګڼل شوي او د وخت په تېرېدو سره پيسې د هغوی ځای نيولی دی، د راکړې او ورکړې پرمختګ په اثر د انساني تمدن په لومړيو وختونو کې دتبادلې وسيلې د پاره ضرورت احساس شو او له حېواناتو څخه دتبادلې د وسيلې په توګه په راکړه او ورکړه کې استفاده کېدله. د لومړيو پيړيو په وروستيو او د منځنيو پېړيو په لومړيو کې له فلزات(په ځانګړي توګه سره او سپين زر) څخه د تبادلې د وسيلې په توګه تري ګټه اخيستل کيده، په ځينو ټولنو کې لکه: افريقا او د بحرالکاهل جزيرې صدف، د مرغی بڼکې تبادلې وسيلې وې او تر دې وروستيو سلو کلونو پورې د تبادلې د وسيلې په توګه ترې استفاده کېدله؛ مګر انسانان د پوهې او معلوماتو په واسطه وپو هېدل، چې د دې بېلا بېلو پيسو له ډلې څخه؛ لکه حېوانات، تنباکو، کانې ، سره او سپين زر د راکړې او ورکړې لپاره د ښه مشخصاتو او معيارونو لرونکي دي؛ يا په بل عبارت دغه دوه فلزونه د پيسو دندې په ښه توګه سر ته رسولی شي. دغه فلزات د خپل کيمياوي خواصو په اساس، چې په طبعيت کې په ازاده توګه شتون لري او د هغوی د فزيکي خواصو په اساس (ځليدنې، د پانه کېدو قابليت او داسې نو ر) د عامو خلکو د خوښې سبب وګرځېدل. پورته يادې شوې طبيعي ځانګړنې اغېزمنې اقتصادي پايلې هم

له ځانه درلودې او د دې فلزاتو د لوړتيا نسبت نورو مالونو او شیانو ته برجسته کړی دي، په حمل او نقل کې اسانتیاوې، دسرو او سپین زرو دایمي پایښت او پاتې کېدل، د سرو او سپینو زرو مشابهت او همدارنګه په ټولو هېوادونو کې د نوموړو فلزاتو د وېش قابلیت او نجیبه فلزاتو د پیژندنې وضاحت او نور د دې فلزاتو ښېګڼې او خصوصیات دپیسې په توګه قوت وباښه او د نړۍ ډېرو پخوانیو هېوادونو سره او سپین زر د پیسو په شکل په راکړه او ورکړه کې استعمال کړل او وروسته دسرو او سپینو زرو سکو د پیسو په حیث رواج وموند، له دې وروروسته بانک نوټونه دسرو او سپینو زرو پرځای په جریان کې ولوېدل او د تعویض قابلیت یې د سرو زرو په مقابل کې درلود، فلزي سکې او کا غذي سکې دواړه د مبادلې په جریان کې د استعمال وړ وګرځېدلې، پیسې نه یو اځې په فلزي او یا کاغذي شکل شتون لري بلکې د هغه په څنګ کې لیکلي پیسې( چک، بیمه لرونکی سند) هم په جریان کې د پیسو په حجم او اندازه کې زیات نقش لري(2: 65-66).

**کړنلاره**

موږ په دې څېړنه کې د کیفي څېړنې مېتودلوژۍ څخه استفاده کړې او د اړتیا وړ مواد د مختلفو انګلیسي، پښتو کتابونو او همدا شان له نړیوالو معتبرو انګلیسي مقالو څخه راټول شوي د او دهغو موخو مطابق چې موږ ټاکلې دي، ځای پر ځای شوي دي. دغه یوه کیفي څېړنه ده، کیفي څېړنه د څېړنې ستونزه د مختلفو اقتصاد پوهانو له نظره ژوره او په کم وخت کې ښه څېړي او دغه کیفي څېړنه د (document analysis) په اساس په کوم کې چې مختلفې سرچینې کارول کیږي لکه، چاپي اثار، وېب سایټونه، انلاین ډېټابیسونه، د ادارو پالیسی، منولونه، کتابونه، مقالې او د اداراتو راپورونه تر څو مربوطه مالومات د څېړنې لپاره تیار کړي. دغه میتود( Document analysis) ځکه کارول کیږي ، چې په دې میتود کې مختلفې سرچینې و څېړل شي تر څو د اړتیا وړ مواد تر لاسه کړو(Abdul-Baki and Uthman, 2017) .

همدارنګه (Abdul-Baki and Uthman (2017او Sutrisno and Haron (2020) د دې ډول څېړنو لپاره (content analysis) میتود استعمال کړی تر څو له نورو مخکینیو څېړنو څخه مالومات راټول کړي. لکه څرنګه، چې په دې څېړنه کې موږ هم له مخکینیو څېړنو او کتابونو څخه استفاده کړې او د دې تر څنګ موږ دلته په دې څېړنه کې ( document analysis) په اساس کیفي میتود څخه ګټه پورته کوو تر څو د خپلو موخو مطابق ډېټا را ټوله

او په سیستماتیک ډول یی ځای پر ځای کړو(۲۳-۳۵: ۵).

**هدف**

ددغه مقالې دلیکو څخه مهم هدف د بلاک چېن ټکنالوژي پېژندل او دهغې اهمیت ده ، ترڅنګ یی مجازي پیسې څه ډول منځ ته راغلې او مجازي پیسي د اسلام له نظره او همداشان اړوند یو شمېر نور مسایل پدی څېړنیزه مقاله کې تر مطالعې لاندې نیول شوي دي.

**د بریښنايې پیسو پېژندنه**

برېښنايي پيسې هغه پيسې دي، چې د بانکونو په سیستم کې موجودې وي او په فزيکي حالت کې نه ساتل کيږي. انلاین بانکي معاملې او کریډیټ کارتونه يې غوره بېلګې دي. کله چې تاسو سره کرېډټ کارت وي او تاسې په خپل بانکي حساب کې پیسې ولرئ، نو تاسو خپل کرېډټ کارت د کوم جنس د رانیولو په وخت کې د پیسو په ځای استعمالولی شئ؛ یعنې دا چې تاسو خرڅوونکي ته لاس په لاس پیسې نه ورکوئ، بلکې د خپل بانکي حساب څخه پیسې د خرڅوونکي بانکي حساب ته انتقالوي. په امریکا کې اوس د فزيکي پیسو په ځای، برېښنايي پیسې زیاتې استعماليږي او دا پیسې به په راتلونکي کې د فزيکي پیسو ځای ونیسي. ګټه يې دا ده، چې د دا ډول پیسو غلا ستونزمنه ده او جعلي پیسې نه شي پکې تېرېدلی، ځکه چې ستاسو بانکي حسابونه او کریډټ کارتونه یو ډول ځانګړي کوډونه لري، چې هغه یوازې ستاسو سره وي او د دې ډول پیسو تاوانونه دا دي، چې پرته له برېښنا څخه د دې پیسو استعمال مشکل دی او بله دا، چې اوس انټرنيټي غلاوې زیاتي شویدي او داسې کمپيوټري غله یا هیکران شته، چې ستاسې بانکي حسابونو ته لاره پیدا کړي او پیسې مو غلا کړي. که ووایو، برېښنايي پیسې هغه پیسې دي کومې، چې په اتوماتیک ډول سټورکارډ کې ثبت کیږي، دغه کارډ یو وړوکی پروسیسر لري، کوم چې پیسې ور اچول کیږي او یا ترې کميږي. یو بل شکل د الکترونيکي پیسو د یوې شبکې په څير دی کوم چې د کمپیوټر د پروګرامونو څخه عبارت دی، چې دیوه کار د اجرا کولو په خاطر کمپیوټر ته ور اچول کیږي، چې همدې ته سافټ وايي. همدا پوستکالی یا سافټ وېر د لیږلو او تبادلې اجازه ورکوي، په خاصه توګه دغه سوداګریزې معاملې، د کمپیوټر له خوا او د انټرنيټ په شتون کې سرته رسيږي(٦٧-٦٨: ۳).

هغه تادیات چې اوس مهال په زیاته کچه د مقناطیسي کارتونو ( ډیبیټ کارډ، کریډټ کارډ،سمارټ کارډ، ATMکارډ او نورو) په ذریعه سرته رسیږي په لاندې ډول یې یادونه

کوو.

**بلاک چین ټکنالوژي**

اصلا د انټرنیټي پیسو پلیټ فارم د بلاک چین  په ټکنالوژۍ باندې ولاړ دی او دا ټکنالوژي د انټرنیټي پیسو لپاره داسې دی لکه څه ډول، چې د کاغذي پیسو لپاره سره زر دي ځکه بلاک چین ټکنالوژي کرپټو کرنسیو ته په هماغه کچه اعتبار ورکوي لکه څه ډول، چې سره زر کاغذي پیسو ته اعتبار ورکوي. بلاک چین یوه نوې ټکنالوژي بلل کیږي او دې ته ځکه نوې ټکنالوژي  وایي، چې د2009 میلادي کال څخه وروسته کله، چې بیټکواین رامنځ ته شوه نوموړې  ټکنالوژي زیاته مشهوره شوه، مخکې له دې نیټې څخه ځکه مشهوره نه وه، چې په زیات ډول د استفادي وړ نه وه، کله چې بیټکواین رامنځ ته شوې نو بیټکواین زیات شهرت و موند او د دې تر څنګ لکه څرنګه، چې په بیټکواین کې د بلاک چین څخه استفاده کېده، نو د بیټکواین له سببه  بلاک چین ټکنالوژي هم زیاته مشهوره شوه، خو واقعیت دا دی، چې بلاک چین ټکنالوژي په ۱۹۹۱ کال کې رامنځ ته شوې ده.

دبلاک چین ټکنالوژۍ  له پنځو کلیدي ټکو څخه  په لاندې  ډول یادونه کوو:

1:  بلاک چین ټیکنالوژي، چې د وېشل شوې ټیکنالوژۍ نوم هم ورکړ شوی یوازې تر بټکواینو پوري محدوده نه ده بلکې د دې ټکنالوژۍ په وسیله زیات نور مالي کارونه هم  تر سره کېدلای شي.د بلاک چین  او توزیع شوي لېجر کلمې د اړونده ټکنالوژیو په پراخه مجموعو باندې پلي کیږي یا په دې مانا، چې په نورو تخنیکي کارونو کې هم ترې استفاده کېدی شي. د دې ټکنالوژۍ د کارولو لپاره د کرپټو کرنسي پرته  په زیاتو نورو ځایونو کې  ترې هم  ګټه اخستل کیږي.

2: دغه مشترک توزیع شوی لېجر د مرتبطو، منعکسو شویو، او ریکارډ شویو معاملو یو سیټ دی. د محاسبینو لپاره څوک چې دا لولي؛ دا په سټرایډونو کې د دوه ګوني ثبت لېجر په څېر دی. د لېجر سیستم تصور کړئ،  چې په ورته وخت کې د زرو محاسبینو له خوا د هرې معاملې لپاره ساتل کیږي او یا په نظر کې نیول کیږي.

3: په توزیع شوي لېجر کې ټول ترسره شوي معاملات په شبکه کې د برخه اخیستونکو لخوا په مستقله توګه تائیدیږي او بیا په انفرادي ډول په لېجر کې ساتل کیږي.

4: د دې ټکنالوژۍ غیرې مرکزي جوړښت ، د منځګړي نه درلودل دي یعني کوم بانک یا بله

اداره د معامله کوونکو تر منځ نشته او هر چا ته اجازه ورکوي، چې ونډه پکې واخلي ځکه دوئ د پروتوکولونو(یو کمپیوټري ژبه ده، چې کمپیوټرونه سره نښلوي تر څو مالومات سره تبادله کړي) له مخې رامنځته شوي مقررات تعقیبوي؛ په پیل کې دا یوازې د یو څو پوهنتونو او دولتي نهادونو شخصي ډله وه، چې د دغې ټیکنالوژۍ څخه یې ګټه پورته کوله، مګر په پایله کې انټرنېټ غیرې مرکزیت غوره کړ اوس هر څوک کولی شي چې ونډه پکې واخلي او د انټرنېټ کارولو سره ترې ګټه پورته کړي.

5: د منځګړي لرې کول به مثریت او خوندیتوب ډیر کړي؛ تر څو هر څه سم پر مخ لاړ شي، ځکه چې منځګړي اداري له مونږ څخه فیس یا کمېشن اخلي لکه بانک (٦٢-٦٠: ١).

**د بلاک چېن ګټې**

بلاک چېن اعتماد رامنځته کوي، بېروکراسي له منځه وړي، فساد، رشوت، دمالیاتي خلاؤ او داسې نورو سره مبارزه کوي.

بلاک چېن یوځو غیر معمولي وړتیاوې لري د وړتیاوو څخه یی یوه دا ده، چې تاسو کولی شئ ځیرک قراردادونه رامنځته کړئ او دا هغه څه دي، چې په ښکاره ډول هر څه ښیی . دا یو داسې ټرون دی، چې پخپله پروسس اجرا کوي او د قراردادونو، پلي کوونکی، کنټرول، فعالیت او تادیات یې اداره کوي.(۲۷۱-۲۸۱: ۱۲)

**د بلاکچېن څخه جوړې شوې پیسې**

کریپټوکرانسي د الکترونیکي تادیاتو سیستم او یو عام لېجر دی، چې ټول په یوه واحد کې له بیټکواین څخه عبارت دی.

بېټکواین د انعام په نوم میکانیزم له لارې رامنځته شوی، چې د استخراج (mining) په نوم یادیږي، پدې اړه د ډیرو پېچلو ریاضیکي ستونزو حل اړین دی تر څو بېټکواین تر لاسه کړو او دغه چاره مرحله په مرحله ستونزمنه کیږي.

هغه سیستم ،چې په مرسته یی د پیسو او تادیې سیستم خوندي کیږي بیټکواین دی.

بېټکواین یوله بل سره نښتي سیستم دی، چې د ډلیزې روڼتیا پر اساس اداره کیږي.

**د بلاک چېن څخه د جوړو شویو پیسو تر ټولو مشهور ډول**

**د بېټکواین ځانګړتیاوې په لاندې توګه د بېټکواین د مدافعینو لخوا توضیح شوي:**

1: غیرې مرکزي سیستم دی، د حکومت کنترول یا د مالکیت احتمال له منځه وړي. سربېره پر

دي، بټکواین یوه محدوده اندازه شتون لري، هیڅ یوه اداره یا ارګان نوموړي اسعار تولید یا د زیاتوالي او کموالي له لارې يې ارزښت نشي تغیر کولی. دغه سیستم د بټکواین ارزښت د عرضې او تقاضا اقتصادي طبعي قوانینو ته پریږدي.

2: بلاک د ټولو رسمي تبادلو مستقل عامه ثبت دی، چې په سیستم کې رامنځته کیږي او د بټکواین یوه اړینه برخه ده. بلاک چېن د جعل کولو د مخنیوي پرمهال نظم او تبادلې ته په وده کې مرسته کوي.

3: اشخاصو او سوداګرو ته الکترونیکي تادیات په هر وخت کې کولی شي، چټک پروسس کوي او لګښت يې ډېر کم دی، د معاملاتو د پروسس له جریان څخه منځګړې اداري لرې کوي.

4: که څه هم د بټکواین د ټولو معاملو توضیحات په عامه ډول ساتل کیږي؛ د ښکیلو اشخاصو پېژندنې نسبتاً نامعلومې پاتې کیږي، یعنې په دې ټکنالوژۍ کې هیڅ څوک یو بل نه پېژني.

5: د بټکواین راکړه ورکړه د کاروونکو ترمنځ په مستقیم ډول ترسره کیږي یعنې پرته له کومې واسطې لکه بانکونه یا نورې مالي ادارې.

6: د بټکواین د راکړې ورکړې تصدیق د شبکې د حرکت لخوا ترسره کیږي او د بلاک چین په داخل کې په یوه توزیع شوي لېجرکې ثبت کیږي.

7: د بټکواین اعظمي شمیر 21 میلیونو پورې محدود دی، یعنې تر اوسه یوازې همدومره موجود دي(١٦-٤١: ٦).

**د بټکواین ګټې**

د سیاست له پلوه مستقلې پیسې دي.

په مستقله توګه یعنې خودسرانه د حکمي پیسو یا فزیکي پیسو په شان نشي رامنځته کېدلی.

جعلې نه شي کیدلی، د دې یو ښه ځانګړنه همدا ده، چې جعل کاري په کې ناممکنه ده.

ډېرخوندیتوب لري، د ملکیت د سوانحو او د تېرو راکړو ورکړو د کمښتو له لارې هم خوندي ساتل کیږي.

غلا او یا د چا لخوا کنګل کیدی نشي، ځکه د دې ټکنالوژۍ اپشنونه ډېر ستونزمن دي.

په ډېر شفاف ډول د غیرې باوري کسانو ترمنځ بې باوري له منځه وړي، ځکه جعل نه شي کېدای.

کولی شي په څو ثانیو کې د نړۍ هرې یوې برخې ته په چټکه او موثره توګه پروسس شي.
د راکړې ورکړې ډېر کم لګښت لري، لدې کبله نړیوالو پیسو د خارجي تبادلې لګښت او د خارجي تبادلې خطر له منځه وړی.

**د بټکواین زیانونه**

د بټکواین د راکړې ورکړې تعقیب کول ناشوني دي؛ ترڅو د یو مرکزي بانک له خوا یې قانونیت ثابت شي، د پیسو مینځل، د ترهګرۍ مالي کول، د نشه یی توکو او د نا قانونه توکو تجارت یې ممکن نور هم زیاتوالی ومومي.
که چېرې خصوصي کیلي ورکه شي، ټول بټکواین د تل لپاره ورک کیږي.
په دې وروستیو کې د کریپټو کرنسي یو شمېر تبادلې هېک شوې او په میلیونونه ډالر غلا شوي دي. یوه بله ستونزه یې د ورکېدو ده که په غلطۍ کې پیسې یو چاته ولیږل شوې بیا را کرځېدل یې نا ممکن دي، خو که چېرته مقابل شخص یې و غواړي کولی شي. بله دا، چې په 2021 کال کې د یوه شخص څخه، چې240 میلینونو ډالرو په ارزښت یې بټکواین لرل خپله ځانګړې کیلي یا پټ کوډ یی هېر شوی ؤ او اته ځلې یې خپله کیلي یا پاسورډ ورکړی ؤ خو بټوه یې نه وه خلاصه کړي او که لس ځله یې ورکړي او سم نه وي نو خپلې پیسې د تل لپاره له لاسه وکوي، چې دا یوه ستره ستونزه ده. دا ځکه، چې هغه خصوصي کیلي، چې د ډیجیټل لاسلیکونو او د عامو خلکو کیلې تولیدوي په ای بټوه کې ساتل کیږي، چې د بریدونو پر وړاندې حساس دي؛ دا یوه امنیتي سیمه ده چې باید پیاوړې شي.

**د بټکواین د موضوع په هکله مبهمې پوښتنې**

1 . هیڅوک په مطمینه توګه پدې نه پوهیږي چې د بټکواین سافټویر تر شاه څوک دي. د خلاصې سرچینې لپاره جوړ شوی. له دې امله یی څوک نشته، چې په اصل کې د پیسو او یا هم د نظام په هکله په مجموع کې خپل مسولیت په غاړه واخلي.
2 . څوک، څنګه پوهیږي، چې په خلاصه سرچینه کې شته سیستم هم، هغه سیستم دی، چې په حقیقت کې فعالیت کوي؟ که ناڅاپی غیرې متوقعه حیرانتیا د سیستم څخه را و وځې نو څه به وشي؟ له دې امله حتی دبټکواین د حساب اعظمي مقدار یوازې21 میلیونه ډالرده.
3 . بټکواین حقیقي پیسې نه دي؛ چې په ځینو اجناسو او خدماتو باندې تکیه کوي.
په یوه بل ځآی کې د بټکواین په اړه داسې ویل کیږي، چې بټکواین یوه ډیجیټل کرنسي ده،

چې هيڅ بېټکواين د مرکزي صدور اختيار يا فزيکي بېټکواين نه لري. په خاصه توګه بېټکواين يوه کرېپټوکرنسي ده، چې د کوډبندي د پرتوکولونو د راهنمايي کولو لپاره د کرېپټوګرافي تخنيکونه کاروي کوم چې ملکيت راپيژني او د معاملاتو توضيحات تائيدوي. د بېټکواين د کوډبندۍ پرتوکول د سا توشي ناکاماتو په نوم يو شخص له خوا په 2008 کال کې رامنځته شوی، چې په مرسته يې بالاخره 21m بېټکواين د رياضيکي لوګاريتمونو د حل لپاره د انعام په توګه ډيزاين شو ( د بېټکواين ساتلو لپاره اړين لېجر په پروسه کې د استخراج(mining) په نوم ياديږي. يو ځل استخراج شوی هر بېټکواين يا يې هم يوه برخه – هم پلورل کيدای شي، د پېرودونو لپاره د تاديې د وسيلې په توګه او د پانګې اچونې په توګه هم استعمال کيدی شي.

بېټکواين په سوداګريزو وېب پاڼو کې پېرودل او پلورل کيږي، چې د تبادلې(exchange) په نوم پيژندل کيږي؛ هر يو يې $24/7$ (يعنې په اوونۍ کې اووه ورځې او څلورويشت ساعته) په مستقله توګه فعاليت کوي او نړيوالو پېرودونکو ته د عنعنوي تبادلې بهرنۍ سوداګرۍ او يا هم بروکرج پليټ فارمونو (brokerage platforms) ته ورته طريقه شتون لري(۸۱–۷۱: ۱۲).

**بېټکواين څنګه کار کوي؟**

د يوه کارونکي ليدلورې څخه بېټکواين د ګرځنده اپليکشن يا د کمپيوټر د يو پروګرام څخه بل څه نه دي، چې د بېټکواين يوه خصوصي بکسه يا بټوه چمتو کوي او کارونکي ته اجازه ورکوي، چې له هغې څخه بېټکواين واستوي يا يې هم ترلاسه کړي.

د پردو تر شا، د بېټکواين شبکه يو عامه لېجر وړاندې کوي، چې د بلاک چېن په نوم ياديږي. پدې لېجر کې د پروسس پر مهال هره معامله تر سره کېدی شي. د کاروونکي کمپيوټر ته اجازه ورکوي، چې د هرې معاملې اعتبار تائيد کړي. د هرې معاملې صدق د ليږل شوي ادرس مطابق د ډيجيټل لاسليکونو لخوا ساتل کيږي او ټولو کاروونکو ته اجازه ورکوي، چې د خپل بېټکواين له بکسې څخه د بېټکواين په ليږدولو باندې کنټرول ولري.

سربېره پردې، هر څوک کولی شي د ځانګړي هارډوير کمپيوټري ځواک په استعمالولو سره معاملې پروسس کړي او د دې خدمت لپاره په بېټکواين کې جايزه ترلاسه کړي، دا اکثره د استخراج په نوم ياديږي، خو دغه استخراج اسان کار نه دی سختو پېچلو لوګاريتمي فرمولونو او رمزونو حلولو وروسته يو شخص کولی شي، چې بېټکواين او يا د هغې ټوکنې تر لاسه کړي. ادرس يې د بانکي حساب په څېر دی په کوم کې، چې کاروونکي کولی شي بېټکواين ترلاسه

کړي، ذخیره کړي او یا یې ولیږدوي. د دې پر ځای چې په بکسه کې په فزیکي توګه خوندي شي؛ بېټکواین د عامه کیدل کرېپټوګرافي سره خوندي کیږي. د بېټکواین هره بټوه یوه خصوصي کوډ لري کومه، چې خاوند یې باید د خان سره یې خوندي وساتي. د دې خصوصي کیلې سره کاروونکی کولی شي د عامه شمېرو ډېرې شمېرې رامنځته کړي، چې د عامه ادرسونو جوړولو لپاره استعمالېدلی شي. کاروونکی کولی شي پدې عامه بټوه کې پیسې ترلاسه کړي. هر څوک کولی شي هر ادرس ته بېټکواین ولیږي؛ مګر یوازې د خصوصي کیلې سره یو شخص کولی شي په بکسه کې بېټکواین مصرف کړي. د بېټکواین ادرس عام دی په اتوماتیکه توګه امکان نه لري، چې پوه شي چې کوم ادرس په کوم شخص پورې تړاو لري، پدې توګه د بېټکواین ادرسونه تخلصونه دي. د بېټکواین لیږدونکي شبکې نورو اشخاصو ته د معاملاتو توضیحات خپروي په شبکه کې نور اشخاص د خپرې شوې معاملې توضیحات ثبتوي او که معامله معتبره ښکاره شوه معامله په بلاک چېن کې یو(1) په ځېر یا نوم جمع کیږي.

د مثال په توګه، که چېرې تاسو غواړئ په سان فرانسسکو کې د پیالو او کیکونو له بېکرۍ څخه پیالې او کېکونه واخلئ نو تاسو د دوی د بکسو عامه ادرس ته اړتیا لرئ؛ ستاسو بکسه شبکې ته لیږد خپروي. دا لیږد د پېر او پلور بېټکواین شبکه کې خپورشي چیرته، چې دا په مختلفو چکونو سره تائیدیږي. لکه څرنګه، چې ستاسو بکسه کافي بېلانس و لري او د ا د شبکې نورو غړو ته خپروي. نوموړی لیږد بالاخره د یو استخراج کوونکي لخوا ترلاسه کیږي څوک، چې معامله په بلاک چېن کې شاملوي، دا بلاک چېن بیا په شبکه کې پروسس کیږي او له نړیوال بلاک چېن سره یوځای کیږي. بېټکواین اوس د پیالو او کېکونو د بېکرۍ بکسې پورې اړه لري او د هغه ادرس لخوا پېژندل شوی، چې تاسو ورته بېټکواین لیږلي دي(7-11:1).

**بېټکواین او راتلونکی**

اوسمهال دبېټکواین په وسیله په بېلابېلو هېوادونو کې پېر او پلور تر سره کیږي. د بېلګې په توګه په( eBay) ویبپاڼه باندې عملا د بېټکواین په وسیله پېر او پلور کیږي. سوداګر اوس د بېټکواین له لارې شیان په اټکلیز شکل خرڅوي؛ ترڅو اجناس دوی ته تاوان ونه کړي. دوی خپل اجناس له اوسه دراتلونکې په نیت خرڅوي. همدا چاره دبېټکواین ارزښت تر پوښتنې لاندې راولي، ځکه چې دلته بېټکواین داسعارو پرځای دسهمونو یا معتبرو ونډو چلند کوي. دبېټکواین په هکله څو عمده نظرونه شته.

لومړی ګروپ په دې عقیده دی، چې د بېټکواین له لارې په اسانی سره یوه اکاونټ ته د دو وکسانو ترمنځ دکم مصرف په ورکولو سره پیسې لیږدول کیدی شي ا نو ځکه به په اینده کې ډېرو خلکو ته دمنلو وړ وي.

دویمه ډله وايي، چې بېټکواین به دکاغذي پیسو لپاره یو بدیل شي، چې د یوې غیرې نغدي ټولنې په جوړولو کې به ونډه واخلي او د (کین) هغه نظریه، چې وایي ،یو وخت به داسې اسعار رامنځته شي، چې هیڅ هیواد پورې به تړاؤ ونه لري سمه ثابته شي.

دریمه ډله خلک په دې اند دي، چې بېټکواین یوه بې ثباته کرنسي ده، چې له لارې یې پیسې ناسمې کارول کیږي ،یا منځل کیږي،ځکه چې شاته یې هېڅ ضمانت او پشتوانه نشته. یو شمېر هېوادونه غواړي پر بېټکواین بندیز ولګوي، دبېټکواین استعمال دنړۍ په مختلفو هېوادونو کې کیږي خو ځینې یې دبندیز او نه استعمال په هکله پریکړې کوي. په امریکا او انګلستان کې یې کارېدل په پراخه کچه لیدل کیږي خو یادو هېوادونو دولتونو خپل خلک دبېټکواین دزیانونو په هکله خبر کړي دي. بنګله دېش،بولوویا، چین، ایسلینډ، هند، روسیه، سویډن، تایلنډ، ویتنام او دځینو نورو هېوادونو مرکزي بانکونه غواړي، چې د بېټکواین په استعمال بندیز ولګوي. که څه هم بېټکواین خپله بیه دیوې میاشتې په اوږدو کې دوه برابره زیاته کړې.خو ډېر کارپوهان په دې اند دي، چې داخپله یو غیرې عادي او اندیښمنونکی حالت رامنځ ته کوي. ډاکټر هیلمن وايي ښايي په نږدې راتلونکې کې د بېټکواین اسمانځکه بیه له خاورو سره برابره شي ،یعنې په بشپړه توګه خپل ارزښت له لاسه ورکړي، د اقتصاد پوهانو دغه ډله هغو ته، چې بېټکواین لري همدا مشوره ورکوي، چې بازار او نرخ ته پاملرنه وکړي او که په دې پوهیږي، چې بیه یې بې سارې په را ښکته کیدو ده ،نو ژر تر ژره یې وپلورئ ،که څه هم دا د اقتصادي ناورین د رامنځ ته کولو یوه برخه ګرځي خو د دې لپاره چې پانګه مو له هېڅ سره برابره شي ،دا به غوره وي، چې په وخت یې وپلورئ. ځینې بیا وايي، چې که کوم هېواد دا د خپلې لومړۍ یا دوهمې رسمي کرنسۍ یا پیسو په توګه وپیژني دا به د بېټکواین ارزښت لا زیات کړي. د دغو هېوادونو په سر کې دجاپان او وینزویلا نوم اخیستل کیږي.. داقتصادي چارو کارپوهان دغه ډول انګیرنې او اټکلونه تل کوي، خو چې کوم یې رښتیا کیږي، دې ته به وخت ښه ځواب وايي. په افغانستان کې دبېټکواین تصور نوی دی او په هکله یې پوهاوی کم دی. دلته د برېښنایي تادیاتو او یا ډیجیټلي اسعارو تصور تر اوسه عام شوی نه دی. د 2019 کال په لومړیو کی دبېټکواین په هکله

داسی ویل کیدل، چې غواکې د افغانستان بانک دبټکواین له لارې پورپانې خپروي، خو مرکزي بانک یاد خبر رد کړ او یادونه یې وکړه چې د پور پاڼو خپرول د افغانستان بانک واک کې نه راځي.

**د بټکواین اخیستل**

تاسو کولی شئ، چې په اسانۍ سره د جواز شوې تبادلې (license exchanges) له لوري بټکواین لاسته راوړئ. دلته د ځو مختلفو ډیجیټلي ادارو نومونه د بېلګې په ډول یادوري چې خپله بټکواین لري او مارکېټ ته یې وړاندې کوي. د بېلګې په ډول Kraken، Coin base، Coin mama ،Bit stamp ،Hit BTC ، چې ځینې محدودیتونه هم لري. تاسو باید خپل د پام وړ تبادلې زېرمه غوره کړئ، تر څو وګورئ، چې کومې تبادلې د کارولو لپاره ارزښتناکې دي، تر څو مو بټکواین خوندي وي coin base په متحده ایالاتو کې یوه مشهوره تبادله ده او په لوړه کچه ترې کار اخستل کیږي.

**د بټکواین اخیستلو ځرنګوالی**

بټکواین یوازې ډیجیټل پیسې نه دي، په نړۍ کې اوسهمال په زرګونو بېلابېل ډوله ډیجیټل پیسې شته، خو بټکواین یې تر ټولو ډېر پیژندل شوی ډول دی. که یو څوک وغواړي بټکواین تر لاسه کړي، باید د بټکواین ادرس ولري، چې د 27 څخه تر34 شمیرو اوږد وي. دغه اوږده شمېره د پوسټ یا ادرس په څېر کارول کیږي او بیا له یوې ډیجیټلي کڅوړې بټکواین ورته رالیږل کیدی شي. دغه اوږده شمېره حتمي نه ده، چې دیوه کس په نامه او ادرس پورې تړلې وي ،ځکه خو ډېر کسان، چې بټکواین اخلي په پټ نامه یې اخلي او پیژندګلوي یې پټه وي. د بټکواین د اخیستو لپاره د اوږدې شمېرې ترڅنګ، چې د ادرس کار ورکوي تاسو باید د ډیجیټل پیسو بکس یعنې بټوه ولرئ، دغه بکس ته ننوتل او ساتل داسې دي لکه ستاسو د بانک ادرس. په پیل کې ټاکل شوې وه، چې یوازې 21 میلیونه بټکواین جوړېدای شي ،او ګومان دا ؤ، چې د دې شمیرې پوره کېدل به اوږده موده ونیسي، خو اوس داسې ښکاري، چې ډېر ژر به دا شمېره پوره شي. د دې شمېرې له پوره کېدو وروسته څه پیښیږي، ډېر خلک نه پوهیږي، خو بیا به د بټکواین له لارې راکړه ورکړه عادي وګرځي.

دبټکواین د کارولو لپاره دنوم پټ ساتل د دې لامل شوي، چې خلک یې په انټرنیټ د ناقانونه پېر او پلور لپاره وکاروي. خو یو شمېر محدود پېژندل شوي سوداګریز بنسټونه اوس خپلو

پېرودنکو ته اجازه ورکوي، چې د بېټکواین له لارې شیان او خدمات وپېري. دمایکرو سافټ کمپني، دسیلانیانو تر منځ مشهور ایکسپیډیا اوځینې نور لکه د جاپاني سوشي، د خوړو یو رستورانت او د لندن د تابلو یو پلورنځی یې ببلګې دي، چې تاسې بېټکواین په کې کارولی شئ. دا دمنل شویو اسعارو او پیسو په څېر نه دي لکه امریکایي ډالر، چې د نړۍ په هر کونج کې یې کارولی شئ، هوټل ته پیسی ورکولی شئ، ډوډۍ پرې اخیستلی شئ. خو بېټکواین لرونکي دا د پېرلو لپاره نه کاروي بلکې د تجارت لپاره یې کاروي، په دې مانا، چې په یو بل باندې یې خرڅوي لکه د پیسو بدلون. ډاکټر هیلن په وینا د 80 او 90 سلنې تر منځ خلک بېټکواین دپانګونې په موخه پېري(٦٢٢-٦١٧: ١٠).

**کرپټو کرنسي او اسلام**

پورته قواعدو ته په پام سره مهمه ده، چې د کرپټو کرانسۍ ارزونه وکړو او و یې څېړو، چې آیا د مال (Mal) یا کرنسۍ شرایط پوره کوي. د کرپټو کرانسۍ تر ټولو مشهوره ډول بېټکواین دی؛ نو ځکه د مقالو او په ځانګړې توګه فتوا ( د علماؤ نظرونه) د بېټکواین سره تړاو لري کله چې د بېټکواین په اړه فتوا یا نظر ورکول کیږي نو په ټولو کرپټو کرنسیو باندې عملي کیدی شي ځکه چې ټولې یو شی ځانګړتیاوې لري. په هر صورت، د هر ډول کرپټوکرنسیو ټاکلو لپاره اصول او دلیلونه ورته دي. له همدې کبله د بېټکواین پورې اړوند موجوده ادب په ځانګړې ډول د کرپټو کرانسۍ په پام کې نیولو سره په پراخه کچه ګټې لري. په عموم کې علمآ او شرعي کارپوهان دوه مختلف نظرونه لري د علماؤ لومړۍ ډله پدې نظر ده، چې کرپټو کرانسیحرامه ده یعنې د شریعت لخوا منع شوې؛ بله ډله پدې نظر ده، چې کرپټو کرانسي په اصل کې حلاله ده یعنې جواز لري.

**لومړی لید:** کرپټو کرانسي حرامه ده

د لاندې علماؤ له خوا د دغې نظر ملاتړ شوی دی او هغوی خپل نظریات په لاندې ډول شریکوي:

**د مصر لوی مفتي :** د مصر لوی مفتي شېخ شاکي اعلان وکړ، چې بېټکواین او کرپټو کرانسۍ حرامې دي؛ نوموړي شېخ د خپلو نورو دلایلو په منځ کې دغه څو لمړني دلایل په خپلو بیانونو کې په ګوته کړي دي :

❶: بېټکواین په اسانۍ سره د ناقانونه فعالیتونو لپاره کارول کیږي؛ له همدې کبله خلک

بېټکواین په لویه کچه د غیرې قانوني او د غیرې شرعي نا موافقو اهدافو لپاره کاروي؛ ترڅو د دولتونو او اړونده چارواکو څخه ځان پټ کړي.

2: بېټکواین غیرې منطقي دی او یوازې د انټرنېټ له لارې کارول کیدلی شي.

3: بېټکواین د پیسو مینځلو او درغلیو لپاره اجازه ورکوي.

4: بېټکواین هیڅ مرکزي اختیار نه لري، چې د ده سیستم وڅاري مګر دا د پولي سیستم نظارت او کنټرول لپاره د مرکزي بانکونو او حکومتونو کنټرول له منځه وړي.(۳۱-۱۵: ۵)

**د ترکیې حکومت**

د ترکیې حکومت مذهبي ډلې هم اعلان وکړ، چې بېټکواین او نور ټولې کرپیټو کرانسی منع دي؛ د مجازي اسعارو پېر او پلور پدې وخت کې له مذهب سره مناسب نه دي؛ د دې حقیقت له کبله، چې د دوئ د ارزښت ارزیابی لپاره خلاص دی (ډیره دوکه او غرر) دا په اسانی سره د غیرې قانوني فعالیتونو لکه د پیسو مینځلو لپاره کارول کیدلی شي او دوی د دولت د پلټنې او نظارت لاندې نه دي.

**د فلسطین د فتوا مرکز**

د فلسطین د فتوا مرکز هم د بېټکواین او کرپیټو کرانسی په اړه فتوا صادره کړه. په یاده فتوا کې راغلي دي ، چې بېټکواین او کرپیټو کرانسی حرامې دي او د لاندې دلایلو پر اساس ممنوع دي:

1: د بېټکواین خپروونکي نامعلوم دي هیڅحکومت یا مرکزي اداره یې تر شا شتون نه لري د غیرې مرکزي واک او نظارت سیستم د موجودیت له موخې سره رامنځته کیږي؛ دا بې اعتباره او غیرې حقیقي دي.

2: بېټکواین د قمار یو ډول دی؛ ځکه چې خلک د تضمین رامنځته کولو پرته په بېټکواین کې دزیاتو پیسو پانګونه کوي، چې بېټکواین جوړ کړي د بریا او ناکامی تضمین یې معلوم نه دی. د بېټکواین استخراج کونکي هڅه کوي، چې ریاضیکي پازلونه (Puzzles)حل کړي او که دوی بریالي شي پیسې ترلاسه کوي مګر که ونشي کولی په مقابل کې یې هیڅ هم نه ترلاسه کوي.

3: بېټکواین په لوړه اندازه ضایع ده ؛ځکه چې په بېټکواین او نورو کرپیټو کرانسیوکې د احتکار د کنترول لپاره هیڅ اساس شتون نه لري.

شیخ هیتام له انګلستان څخه داسې لیکي چې :

په انګلستان کې میشت عالم شیخ هیتام په عربي ژبه یوه مقاله کې لیکلي او پکې یې ویلي، چې بېټکواین او نور کرپټو کرانسۍ منع دي او د شریعت سره مطابقت نه لري. بناء پر ځینو دلایلو سره داسې ادعا کوي چې:

1: د کرپټو کرانسۍ د سرو او یا نورو کرنسیو پشتوانه( د سرو زرو ملاتړ) نه لري.

2: کرپټو کرانسۍ قانونیت نلري او نه هم د کوم دولت یا مرکزي څار او کنترول سیستم لاندې دي.

3: کرپټو کرانسۍ په اسانۍ سره د پیسو مینځلو او غیرې قانوني اهدافو لپاره کارول کیدای شي(۱۰۱-۹۱: ٦).

د بېټکواین د محرومیت عمومي دلایل

1: قانوني معامله نده. 2: اجراء کونکی یې معلوم نه دی. 3: د احتکار ملاتړ کوي. 4: باثباته نه دي.

**دوهم لید:** کرپټو کرانسي په پرنسیپ کې جواز لري

نور عالمان پدې نظر دي، چې په پرنسیپ کې جواز لري. دغه نظریه هم زمونږ د تیرو توضیحاتو په رڼا کې د (مال ) تعریف او ځانګړتیاؤ ته په کتو تحلیل کیدای شي.

دلته یو مشهور فقهي اصل دی، چې د قانون پوهانو لخوا توضیح شوی( الاصل فی المعاملات لاباحة) دا معنی ورکوي، چې په مالي او تجارتی معاملو کې اصلي قاعده جواز لري؛ په بل عبارت، هر څه جواز لري مګر که مونږ دا په ښکاره ډول د شرعي اصولو سره په تضاد کې و نه مومو.

د دې اصل له مخې کرپټو کرانسۍ په اساسي توګه جواز لري په ورته ډول، هر څه د پیسو په توګه کیدلی شي که چیرې دا لاندې ځانګړتیاوې ولري:

1: د خلکو ترمنځ د ارزښت لرونکي جنس په توګه چلول کیږي.

2: د ټولو لخوا د تبادلې د وسیلې په توګه منل شوی وي.

3: د ارزښت د اندازه ګیرۍ وړ وي.

4: د حسابي واحد په حیث کار وکړي.

له همدې کبله کومه کرپټو کرانسۍ ، چې پورته شرایط پوره کوي(لکه بېټکواین) د پیسو په

توګه منل کیږي. د سویلي افریقا اسلامي مدرسې د فتوا مرکزي دارالعلوم زکریا هغه دریځ غوره کړی، چې بېټکواین د مال شرایط پوره کوي او له همدې کبله د سوداګرۍ لپاره جواز لري. په هر صورت، دوی یادونه کوي، چې د اسعارو وړ ورګرځول شي؛ دا باید د اړوند حکومتي ادارو لخوا تصویب شي. معاصر مثال د بېټکواین د وینزیولا اقتصادي بحران دی، څکه ویزویلا کې ، چې انفلاسیون بیخي شدید ؤ نو خلکو بېټکواین ته پنا یوړه او دوی بېټکواین د تبادلې او ارزښت زخیره کېدلو یوه معتبره کرنسي یاده کړه.

په عمومي اصطلاحاتو کې؛ د غیرې قانوني هدف لپاره د حلال شي کارول دغه شیان پخپله غیرې قانوني نه ګرځوي. مثال کې یې یو حدیث شریف موندلی شو؛ چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د شرابو یو سوداګر ته د انګورو له پلور څخه منع کړې څکه چې شراب جوړول حرام دي. مګر د حلالو اهدافو لپاره د انګورو تولید یا تجارت یې ندی منع کړی. پدې ټکې کې دا په ځانګړې ډول د یادولو وړ ده، چې ټول حکمي اسعار د ناقانونه اهدافو لپاره لکه د پیسو مینځلو، درغلیو او غیرې قانوني سوداګریو لپاره کارول کیږي. دا په اسانۍ سره منلی شو، چې د متحده آیالاتو ډالر هم د کرنسي، پیسو مینځلو او نورو غیرې قانوني اهدافو لپاره په پراخه کچه کارول کیږي.(7-11:1)

**پایله**

لکه څه ډول، چې موږ د څېړنې په پیل کې بلاک چېن او کریپټو کرانسی باندی لنده رنا اچولي وه او د دې تر څنګ مو د دې څېړنې موخې ذکر کړې وې؛ نو د څېړنې په سر ته رسولو سره موږ خپلې موخې تر لاسه کړې. زموږ لومړۍ موخه( د بلاکچ ین ټکنالوژۍ پېژندنه) وه نو موږ دې موخې ته د رسېدو لپاره د مختلفو اقتصاد پوهانو څېړنې او لیکنې و لوستې او هغه ټول مالومات مو دلته ځای پر ځای کړی، چې زمونږ سره یې موخې ته په رسېدو کې مرسته کوله، او خپلې موخې ته یې و رسولو، پدې باندې پوه شو، چې بلاک چېن ټکنالوژي څه ډول ټکنالوژي ده، ( د بلاک چېن ټکنالوژۍ اهمیت او څرنګوالی) وه، موږ ومونده، چې بلاک چېن تکنالوژي د پر امنوالي ته په کتو یوه ډېره مهمه ټکنالوژي ده، او هغه مالومات، چې په بلاک چېن کې ځای پرځای کیږي، د داسې یوې لارې څخه استفاده، کوي، چې د هغې هېک کول حتی ناممکن وي، په دې ټکنالوژۍ کې د کریپټوګرافی له هنر څخه ګټه اخستل کیږي، کوم کې چې هېش تابع ګانو څخه پکې استفاده کیږي او دغه تابع ګانې د لوګاریتمي معادلو څخه تشکیل شوې دي. او د دې تر څنګ مو د بلاک چېن کارونې پر څرنګوالي باندې و غږیدو، چې دغه ټکنالوژي څه ډول کارول کیږي. همداشن مونږ هڅه وکړه چې د ( د خیالي پیسو اسلامي اړخ ته یوه کتنه) هم تربحث لاندې ونیسو چې په دې موخه کې مو داسې مالومات له مختلفو نړیوالو څېړنو او

مقالو را ټول کړل، چې د خیالي پیسو په اسلامي اړخ تر سره شوې وې. د خیالي پیسو پر شرعي اړخ باندې مختلفو اسلامي اقتصاد پوهانو نظرونه مو را ټول کړی خو بدبختانه موږ په دې څیړنه کې د ټولو اسلامي علماؤ موافقه تر لاسه نه کړه، ځکه هر اقتصاد پوه د خپلې مطالعې مطابق د خیالي پیسو چلښت روا والي او نا روا والي په اړه مختلف دلایل درلودل.

**وړاندیزونه**

داچې بلاک چېن ټکنالوجي یوه نوی او خوندی ټکنالوژی ده، نه یوازې د بېټکواین لپاره استعمالیږي بلکې د نورو مالي چارو د پرمخ بیولو لپاره هم ترې استفاده کولی شو، په اړه یې ځینې وړاندیزونه په لاندې ډول بیانوو:

غوره به وی چې بېټکواین د هیوادونو د دولتي مرکزي بانکونو له لوري په قاونوني ډول ثبت او کنترول شي بریښنایې بانکوالي د افغانستان لپاره خورا مهم ده او ددې چارې لپاره بیا بلاک چېن ټکنالوجي ځکه مهمه ده چې زیات خوندیتوب لري، دافغانستان بانک که پدې اړه اقدام وکړي غوره به وي.

نړۍ غواړي چې دبلاک چېن ټکنالوجۍ څخه په پولي سیستم ښکې ګټه واخلي، دافغانستان بانک که مخکې له مخکې ورسره ځان عیار کړي ښه کړنه به وي.

داچې بېټکواین د پانګې اچونې لپاره مهمې دي نو تجارانو ته دې پدې اړه دعامه پوهاوي پروګرامونه ور کړل شي ترڅو پانګونه نوره هم وغوړیږی.

**مأخذونه**

سید مسعود. (۱۳۹۲). سیاست های پولی. کابل: انتشارات یوسف زاد.

منګل، رحمت الله.(١٤٠٠). د پیسو اقتصاد، لمړی. کابل: مستقبل خپرندویه ټولنه، افغانستان

نوشیرسروري، مطیع الله.(۱۳۹۴)ل. مال او پیسې. کابل: اکسوس کتاب پلورنځی

Abdul-Baki, Z., & Uthman, A. B. (2017). Exploring the "social failures" of Islamic banks: a historical dialectics analysis. *Journal of Islamic Accounting and Business Research.*

Abu-Bakar, M. M. (2018). Shariah Analysis of Bitcoin, Cryptocurrency and Block chain.

Asif, S. (2018). The halal and haram aspect of cryptocurrencies in Islam. *Journal of Islamic Banking and Finance*.

Chuen, D. L. K., Guo, L., & Wang, Y. (2017). Cryptocurrency: A new investment opportunity? *The Journal of Alternative Investments*.

Evans, C. (2015). Bitcoin in Islamic banking and finance. *Journal of Islamic Banking and Finance*.

Handa, Jahdish (2010), Monetary Economics, (2$^{nd}$ed). Rout Ledge Tylor and

Francis Group.

Hubbard, Glann and Patrich, Anthony (2009), Money, Banking and Financial System, O’Brien and Pearson.

Rose, C. (2015). The evolution of digital currencies: Bitcoin, a cryptocurrency causing a monetary revolution. *International Business & Economics Research Journal (IBER)*.

Salman, A., & Razzaq, M. G. A. (2018). Bitcoin and the world of digital currencies. *Financial Management from an Emerging Market Perspective*.

# شیخ زاید پوهنتون کې رغنده فیډبک په اړه د لیسانس محصلینو چلند ته کتنه

لیکونکی: پوهنیار ولي خان منیب، شیخ زاید پوهنتون، ژبو او ادبیاتو پوهنځي انګلیسي څانګې استاد
تقریظ ورکونکی: پوهندوی میاولي شاه میاخیل، شیخ زاید پوهنتون، ژبو او ادبیاتو پوهنځي استاد

**لنډیز**

ددې څیړنې موخه د فیډبک په اړه د انګلیسې څانګې محصلینو چلند څېړل دي. په دې څېړنه کې د محصلینو د اړتیاوو سره سم پر رغنده فیډبک باندې بحث شوی او د انلاین او افلاین فیډبک غوره والی څېړل شوی دی. په همدې ډول هڅه شوې چې مسایل په تطبیقي توګه بیان کړی شي او د موضوع د روښانولو لپاره عملي او تطبیقي برخه کې ځینې مثالونه راوړل شوي دي. په حقیقت کې دا یوه کمي څیړنه ده. د دې څېړنې پوښتنلیک له اتو (۸) پوښتنو ترتیب شوی، چې (۹۰) ګډونوالو ته د هغوی د نظر اخیستو په موخه ورکړل شوی. د معلوماتو له راټولونې، تجزیې او تحلیل وروسته موندنې ښیي، چې محصلین رغنده فیډبک ( corrective feedback) د خپلو زده‌کړو لپاره خورا مهم ګڼي؛ ځکه چې د نیمګړتیاوو په نښه کولو او اصلاح کولوکې ورسره مرسته کوي. دوی په دې باور دي که ستونزې ورته و نه ښودل شي نیمګړتیاوې یې له دوی پټې پاتې کیږي، چې په پایله کې یې زده کړه هغه ډول لکه څنګه چې لازمه ده صورت نه نیسي. په همدې توګه پایلې ښیي چې د فیډبک دواړه ډولونه (انلاین) او (افلاین) اړین دي. یاده څېړنه ځینې محدودیتونه لري؛ هغه دا چې په دې څېړنه کې یوازې د انګلیسې څانکې محدودو محصلینو ګډون کړی دی. د دې څېړنې موندنې د علمي کادرونو لپاره اړینې او د ارزښت وړ دي؛ چې په خپل تدریس کې یې د ښې زده کړې په موخه عملي کړي.

**کلیدي ټکي**: چلند، رغنده فیډبک، د دویمي ژبې زده کړه، تېروتنې

**سریزه**

فیډبک د کتونکي نظر دی چې مقابل لوري ته پکې نیمګړتیاوې، ستونزې او غلطۍ د اصلاح په موخه په ګوته او وړاندې کیږي [۴۴]. فیډبک ورکول یا ترلاسه کول په عمومي توګه په زده کړه کې او په ځانګړي توګه په انګلیسي ژبه کې نوې موضوع نه ده. دا موضوع له ډېرې پخوا زمانې راهیسې د استادانو ترمنځ مطرح ده. خاصتاً فیډبک ته په دې وروستیو څو لسیزوکې د څېړونکو، استادانواو علماوو زیات پام ور اوښتی دی [۱۳، ۱۹، ۲۰، ۲۷]. فیدبک د دویمې یا خارجي ژبې په زده

کړه کې خورا مهم رول لري [۵۰]؛ نو ځکه زده کوونکو ته باید ورکړل شي [۶۴]. په ځانګړي ډول په لیکنه کې ځکه زیات کارول کیږي، چې له زده کوونکو سره د تېروتنو د درک ترځنګ د متن په ښه والي او د ژبې په سمه کارونه کې مرسته کوي[۲۰]. په عمومي ډول باید استاد د خارجي ژبې په تدریس کې فیډبک ته وخت ورکړي خاصتاً په هغو موضعاتو کې چې په ګرامر او تخلیق پورې اړه ولري [۲۲].

پخوا به مخامخ فیډبک ډېر کارول کیده؛ خو اوس یې انلاین بڼه هم عامه شوې ده. انلاین فیډبک هغه دی، چې زده کوونکو ته د انټرنېټ له لارې ورکول کیږي [۴۲]. فیډبک د زده کوونکو د لیکنېزو مهاروتونو ترځنګ په هغوی کې د زده کړې فردي خپلواکي هم پیاوړې کوي. په حقیقت کې مهمه دا ده، چې فیډبک باید څنګه او د کومو اصولو په نظر کې نیولو سره ورکړل شي. په دې ډول د تېروتنو د اصلاح په موخه پر فیډبک ورکولو باندې د څېړونکو او استادانو ترمنځ زیات بحث شوی دی [۴۳]. څېړونکي او استادان رغنده فیډبک د خارجي ژبې د زده کړې لپاره مهم لامل ګڼي؛ نو له همدې امله پرې زیات ټینګار کوي [۴۳]. د خارجي ژبې په تدریس کې فیډبک د یو اړین اصل په توګه زده کوونکو ته په بېلابېلو برخو کې ورکول کیږي [۵۰].

دفیډبک په اړه د څېړنې ارزښت هغه وخت زیات شو چې (لیسټر او رانټه) په کال (۱۹۹۷) کې د فرانسوي ژبې ایمسرژن پروګرام کې مختلف فیډبکونه وکارول. تر دې وروسته د فیډبک او د هغه په مکمنه ګټو ډېرې څېړنې وشوې [۱، ۱۱، ۲۱، ۳۵، ۴۹،۴۸، ۵۷، ۶۷]. دا هغه څېړنې دي، چې په ذهني یا کاګنیټو برخه (هغه برخه چې ژبنۍ تیروتنې پکې اصلاح کیږي) زیات تمرکز کړی. کریګر[۲۵] په دې اړه داسې وایي: ''په فیډبک کې ټول هغه لیکلي او نالیکلي معلومات، تبصرې، لارښوونې او سوالونه شامل دي، چې زده کوونکو ته د هغوی د تېروتنو د اصلاح په موخه ورکول کیږي.'' د محصلینو پر دندو فیډبک ورکول او د هغوی د تېروتنو اصلاح د استادانو له کاري مسؤلیتونو څخه شمېرل کیږي [۵]. که څه هم په پراخه اندازه څېړنې ښیي، چې رغنده فیډبک په زده کړه کې اړین او مثبت رول لري [۱۶]؛ خو یو شمېر نوروېې بیا د فیدبک اصولو نه مراعت کولو له امله منفي اغېزې هم په ګوته کړې دي.

فیډبک او اهمیت یې پر بېلابېلو تیوریکي فرضیو باندې ولاړ دي، چې لومړی یې د تعامل (interaction) فرضیه ده [۱۵]. دا فرضیه زده کوونکو ته د خبرو او مفاهمې فرصت ورکول

خورا ارزښتمن او مهم بولي. دویمه فرضیه چې له لومړۍ هغې سره نیږدېوالی لري پر ژبنې جوړښت راڅرخي، چې د مفاهمې لپاره پراخ چاپیریال رامنځته کوي. درېیمه فرضیه د دویمې ژبې د زده کړې په پروسه کې پر درک ولاړه ده. په اوسني عصر کې فیډبک د خارجې ژبې د زده کړې پر مهال د محصلینو لخوا ترسره شویو تېروتنو ته ځواب ویل دي [۲۸] یا د خارجې ژبې زده کړه کې د تېروتنو په نښه کول او اصلاح کول دي [۳۰] چې د همدې ژبې په اخذ او زده کړه کې اسانتیا رامنځ ته کوي [۱۰، ۵۲،۴۶،۴۳،۲۸،۱۵].

څېړونکو د رغنده فیډبک په موثریت، ډولونو، موخو، وخت او منابعو باندې زیات تمرکز کړی. په همدې ډول څېړونکو رغنده فیډبک له مختلفو زاویو او د مختلفو افرادو له انده څېړلی دی؛ مثلا: ډینامیکي رغنده فیډبک [۱۲] ؛ د زده کوونکو بوختیا په رغنده فیډبک کې [۵۰]، مستقیم اوغیر مستقیم فیډبک [۲۳] او نور تر څېړنې لاندې نیولي دي. د رغنده فیډبک په اړه په نړۍ کې ګڼ شمېر څېړنې شوې دي؛ خو په افغانستان کې تردې دمه په لوړوزده کړو کې رغنده فیډبک ته د چا پام نه دی ور اوښتی او په دې برخه کې د څېړنو څه څرک نه لېدل کېږي. بناً په دې څېړنه کې رغنده فیډبک د افغان محصلینو له انده څېړل اړین وباله.

**پوښتنې**

د زده کوونکو چلند د رغنده فیډبک په اړه څه ډول دی؟

ایا انلاین (سملاسي) فیډبک تر افلاین ( سملاسي/معوق) فیډ بک غوره دی؟

**تېرو اثارو ته کتنه**

څېړونکو د پیداګوژي برخه کې پینځه موضوع ګانې زیاتې څېړلې دي، چې عبارت دي له: ۱ـ د رغنده فیډبک موثریت ۲ـ ډولونه ۳ـ موخې ۴ـ وخت ۵ـ سرچېنې [۶۳]. د فیډبک په ورکولو سره د زده کوونکو پام خپلو تېروتنو ته اوړي. له همدې امله د خارجې ژبې زده کړه په ښه ډول صورت نیسي [۷؛ ۳۳-۳۱]. څېړنو ښودلې، چې رغنده فیډبک د شاګردانو په ګرامر کې ښه والی راولی او په ازموینو کې ښه ځلېدلی شي [۱۵، ۲۸]. رغنده فیډبک د ژبې د زده کړې په مختلفو برخو او ځایونوکې کارېږي [۶۳،۵۷،۴۳،۳۵]. فیډبک کېدای شي په سملاسي ډول او یا هم د دندې له بشپړولو وروسته ورکړل شي. یو شمېر څېړنې ښیي، چې محصلین د رغنده فیډبک په اړه مثبت نظر لري؛ ولې استادان بیا په دې برخه کې زړه او نا زړه یاد شوي [۵۵،۵۴،۵۱،۲۷،۲۱]. رغنده فیډبک ډېری وخت په ټولګي کې ورکول کېږي، چې په دوو

کټګوریو وېشل شوی: یو یې (reformulation) او بل یې (prompt) دی [۴۳،۱۱]. د فیډبک لپاره مناسب وخت په نظر کې نیول هغه موضوع ده، چې هم په اروا پوهنه او هم د خارجي ژبې په زده کړه کې پرېي زیات بحث شوی [۱۴]. په اروا‌پوهنه کې هغه تیوري چې د فوري (سملاسي) فیډبک ښه ګڼي د سلوک (Behaviorism) له تیوري عبارت ده. په دې تیوري کې فیډبک د یوې وسیلې په توګه د تېروتنو اصلاح مهم کار بولي او پر تصحیح باندې تاکید کوي [۵۸]. د سلوک په تیورۍ کې زده کړه د یو عادت په توګه پېژندل کېږي؛ ځکه تېروتنې مخکې له دې چې په عادت بدلې شي، باید په سملاسي توګه سمې شي. هغه تیورۍ چې فیډبک سملاسي نه، بلکې په ځنډ سره ښه ګڼي عبارت دي له: د مداخلې نه کولو تیوري (Preservation Interference Theory) او (Spacing Theory) څخه. د نا مداخلې تیوري [۲۶] له نظره وروسته فیډبک ورکول له دې امله غوره ګڼل کېږي، چې د تېروتنې سمولو پر وخت په سم او نا سم ځواب کې دخالت رامنځته نه شي.

**د فیډبک ډولونه**

ژبه کې فیډبک د ویونکي پر خبرو یا لیکنه باندې د لوستونکي یا غوږ نیوونکي ځواب ته وایي [۸]. څېړونکو د فیډبک د بېلابېلو ډولونو په اړه بېلا بېل نظرونه ورکړي؛ خو په (۱) جدول کې هغه فیډبک راوړل شوي چې د لیسټر او رانټا [۳۵] له خوا په ګوته شوي دي:

( 1 ) جدول: د فیډبک ډولونه[۳۵]

| ګڼه | رغنده فیډبک | پېژندنه | بېلګې |
|---|---|---|---|
| ۱ | څرګند فیډبک | په څرګند ډول محصل ته تېروتنه په ګوته کول او د هغې سمه بڼه وړاندې کول.څرګندې ګلمې کارول، مثلاً: نه داسې مه وایه! نه څه چې تا وویل ناسم دي. | زده کوونکی: He hurt his finger.<br>استاد: "hurt" نه، "hurts" وایه. د دریم شخص مفرد غایب سره پای کې s- اضافه کېږي. |
| ۲ | بڼه بدلول | د محصل تېروتنه په سمه بڼه وړاندې کول بې له دې چې په څرګند ډول ورته په ګوته شي. | زده کوونکی: You can count with me!<br>استاد: You can count on me! |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۳ | فوق ژبنی (نښې) | بې له دې چې تېروتنه په ګوته شي؛ استاد يې د پوښتنې په ډول مطرح کوي يا تبصره پرې کوي. | زده کوونکی: He like to eat Pizza.<br>استاد: Do we say "he like?" |
| ۴ | ځواب | استاد غواړي د محصل له خولې سم ځواب تر لاسه کړي. | استاد: I _________ a student.<br>زده کوونکی: am |
| ۵ | تکرار | استاد د محصل تېروتنه تکراروي او د دې لپاره چې محصل خپله تېروتنه درک کړي په هغې (برخې) تاکيد کوي. | زده کوونکی: He go to the bank every day.<br>استاد: He GO to the bank every day? |
| ۶ | وضاحت | له محصل څخه پوښتنه کول هغه ته څرګندوي، چې مقابل لوری سم نه دی پوه شوی، مثلاً: وبخښه؛ له دې څخه مو موخه څه وه؟ | زده کوونکی: Why does he fly to Korea last year?<br>استاد: وبخښه؟<br>زده کوونکی: Why did he fly to Korea last year? |

درک یا ځواب (uptake/response): د استاد له خوا هغه په ګوته شوې تېروتنې، چې محصل يې په سملاسي توګه اصلاح کوي فهم (uptake) بلل کيږي [۱۸]. ليستر او رانټه د محصل څلور ډوله درک په ګوته کړی دی [۳۵]:

۱ـ تکرار: زده کوونکی يوازې سم ځواب تکراروي چې د استاد لخوا ورته ورکړل شوی.

۲ـ پخپله اصلاح کول: دلته محصل د استاد لخوا خپلې تېروتنې ته متوجه کيږي او پخپله يې اصلاح کوي.

۳ـ د څنګ ملګري لخوا اصلاح کول: د استاد لخوا محصل ته په ګوته شوې تېروتنې د بل محصل له لوري اصلاح کيږي.

۴ـ اصلاح ته اړتيا لرل: دا د uptake/response هغه ډول دی چې زده کوونکی رغنده فيډبک ته ځواب وايي؛ خو اصلاح صورت نه نيسي چې دا بيا په شپږ ډوله وېشل کيږي.

منل او منته کول: زده کوونکی د استاد فيډبک مثبت ګڼي او د (هو) ځواب ورته وايي يعني مني يې.

عيني تېروتنه تکرارول: محصل د استاد فيډبک ته ځواب وايي ؛ خو عيني تېروتنه تکراروي.

بله تېروتنه کول: زده کوونکی د فيډبک د نه اخيستو په صورت کې د تېروتنې د اصلاح پر ځای

بله تېروتنه کوي.

موخه لاسته راوړل: زده کوونکی د استاد فیډبک ته ځواب وايې؛ خو هدف لاسته نه راوړي.

جزيي اصلاح: په دې ډول اصلاح کې محصل یواځې د یوې برخې په سمون باندې توانیږي.

پر موضوع حاکمیت د استاد په تدریس کې عمده رول لري [۶] او همدا حاکمیت د فیډبک په ورکولو کې د هغه پر سلوک او د افکارو په انتقال اغېز کوي [۳]. یعني یو استاد چې پر موضوع حاکمیت ولري محصل ته ښه فیډبک ورکولی شي، سلوک یې صمیمانه وې او خپل فکر ښه انتقلولی شي. د یادونې وړ ده، چې د استاد زده کړه، تجربې، ټرېننګونه، د ټولګي اصول او ځینې نورو فکټورونه، لکه: ازموینه، وخت او نصاب هم د هغه پر سلوک او فکر اغېز کوي [۲].

باید پوه شو چې د زده کوونکو د زده کړې طرزونه هم توپیر لري. ځینې محصلین ژر زده کړه کوي یا د نورو په نسبت ښه زده کړه کوي. هغه څه چې عام دي د محصل ستونزې ته لاس رسی دی؛ خو دا چې په څه ډول لاس رسی و شي یو تر بله توپیر لري. په دې اړه هارمر لیکې: ''فیډبک یواځې زده کوونکو ته د تېروتنو په ګوته کول نه دي؛ بلکې استاد باید د فیډبک پرمهال یا تر فیدبک وروسته د هغوی د پرمختګ او ښه والي یادونه هم وکړي، استاد ممکن یوه زده کوونکي ته په دې ډول فیډبک ورکړي: ستا مونوګراف، پروژه یا کورنی دنده ما وکتله. د پخوا په پرتله دې ښه لیکلې؛ خو د ښه والي ترڅنګ ځینې ستونزې هم لرې، چې اصلاح یې اړینه بولم، لکه: ګرامري تېروتنې او د ځینو جملو ناسم سکښت.

د پورتنۍ بېلګې په لومړۍ برخه کې زده کوونکي ته د خپل کار عمومي انځور وړاندې شوی دی او دا روښانه شوې چې د تېرې لیکنې په نسبت یې په دې وروستۍ هغې کې پرمختګ کړی او یا هم نسبي ښه والی لري. دا کار زده کوونکی ته په رواني لحاظ مثبت فکر ورکوي. وروسته ستونزې په ګوته شوې. په دې برخه کې د ورکړل شوي مثبت فکر پر اساس د زده کوونکي اراده قوت مومي او خپلې تېروتنې په ښه توګه اصلاح کوي. دلته د زده کوونکي د زده کړې ترڅنګ د هغه روان ته هم پام شوی دی، چې دا یو اړین کار دی؛ ځکه په دې سره زده کوونکی د کمترۍ احساس نه کوي. فیډبک ممکن په زړه پورې او هڅوونکی وي او یا هم زړه ماتوونکی وي؛ نو ځکه باید استاد له مناسبو ستراتیژیو کار واخلي؛ خو شرط دا دی چې فیډبک باید په حقایقو ولاړ وي، مبالغه پکې ونشي، مناسبې کلمې پکې وکارول شي،

فرینکونسي یې په نظر کې ونیول شي او تعادل په کې وساتل شي. د مناسبې ژبې او غوره کلمو کارول په فیډبک کې زیات ارزښت لري. استاد، لارښود یا په ټوله کې فیډبک ورکوونکی باید داسې کلمې وکاروي، چې هم هدف ته ځان ورسوي او هم په مقابل لوري منفي اغېز ونه کړي. د ځینو اصطلاحاتو له کارولو څخه دې په کلکه ډډه وشي. د بېلګې په توګه: هېڅ پرمختګ دې نه دی کړی! هسې ځان ستړیوې! هسې لګیا یې! او داسې نور. په همدې ډول فیډبک د کلمو د استعمال ترڅنګ په ځای پورې هم اړه لري. د بیلګې په توګه: په لابراتوار کې فیډبک ورکول د ټولګي پر نسبت موثر او غوره دی؛ ځکه په دې حالت کې زده کوونکي ته انفرادي توجه ډېرېږي او ثابت فیډبک ورکول کېږي [۴۵].

د یادونې وړده، چې که موضوع د سیمینار او یا هم ورته بڼه ولري؛ نو د موضوع وړاندې کولو پر وخت د بیا بیا مداخلې څخه ډډه وشي؛ ځکه په پروسه کې اخلال رامنځ ته کوي. ښه به دا وې چې مثبت او منفي ټکي یاداشت شي او په پای کې ارایه کوونکي ته وړاندې شي. په ورته ډول موږ باید پوه شو چې کومې تېروتنې جدي او کومې عادي دي. ایا په دې ارزي چې همدا اوس مداخله وشي؟ په فهم کې کومه ستونزه جوړوي، که نه؟ که څه هم رغنده فیډبک اسانه کار نه دی؛ لیکن ورکول یې اړین دي. هغه څه چې فیډبک کې زیات ارزښت لري دا دي چې: باید مشخص، پروخت او موخه یې معلومه وي.په زده کړه کې عام فیډبک ورکول، لکه: ستاسو ځواب سم نه دی. ښه فیډبک نشي کیدای؛ بلکي وضاحت باید ورکړل شي چې ولي ناسم دی؟ او ترڅنګ یې سم یا غوره انتخاب وړاندې شي. د دې ترڅنګ باید فیډبک ورکونکی د فیډبک اخیستونکي په پوهاوي تمرکز وکړي، نه د هغه په شخصي ځانګړنو باندې. که موضوع یو څه نوره هم مشخصه کړو؛ نو فیډبک ورکونکی باید لاندې ټکي د فیډبک ورکولو پرمهال په نظر کې ونیسي:

**فیډبک باید د زده کړې په موخه ورکړل شي**

په فیډبک ورکولو کې دې وخت جدې په نظر کې ونیول شي، یعنې پر ټاکلي وخت باید ورکړل شي. که پر وخت ورنه کړل شي، زده کوونکی ورته لاس رسی نشي کولی.

د فیډبک ورکړې پروخت دې تعادل وساتل شي.

فیډبک ورکوونکی باید له ځان سره د فیډبک اخیستونکي په اړه ځیني سوالونه مطرح کړي، مثلا: په فیډبک اخیستلو کې د زده کوونکي توان څومره دی؟ د همدې زده کوونکي کار د

نورو محصلانو پر نسبت څنګه دی؟

فیډبک باید د ټاکلو موخو سره سم ورکړل شي. یعنې د فیډبک پرمهال دې ټاکل شوې موخې په نظر کې ونیول شي.

هڅه دې وشي چې تېروتنې، په ځانګړي ډول هغه تېروتنې چې د یوشمېر زده کوونکو ترمنځ مشترکې وي په ګروپي ډول مطرح شي.

حالتو او وخت ته په کتو سره دې فیډبک په شفاهي، لیکلي یا اشاري په توګه ورکړل شي.

هڅه دې وشي چې فیډبک کې په یوه ځانګړې نقطه تمرکز وشي، مثلاً: که کورنۍ دنده مو د پراګراف لیکنې په اړه ورکړې وي؛ نو  یوازې دې پر عنوان، جوړښت یا ګرامري برخو کار وشي.

که مو پر وخت فیډبک نشوی ورکولی؛ د کورنۍ دندې وخت یو څه وغزوئ.  ترڅو د ټولو زده کوونکو کورنیو دندو ته ښه لاس رسی وکړئ.

د یوه محصل لخوا د بل محصل پر دنده فیډبک ورکول هم موثر دی؛ نو له دې روش څخه هم وخت ناوخت ګټه اخیستی شئ.

که مو کورنۍ دندې لیکنۍ بڼه درلوده او یا مو هم عملي کار ورکړی و؛ نو حتماً یې له فیډبک سره یوځای زده کوونکو ته وسپارئ، چې هغوی پر خپلو مثبتو او منفي نقاطو پوه شي.

**تېروتنې**

 د دویمي یا خارجي ژبې زده کړې په اړه څېړنې ښيي چې تېروتنې په زده کړه کې مثبت رول لري، ځکه دوی دا درک کوي چې په کومه برخه کې ستونزه لري او په کومه برخه کې یې پرمختګ کړی ده او استاد یا لارښود ورسره په کومه برخه کې مرسته وکړي [۶۶]. شونې ده چې محصلین ګرامري، نحوي، صرفي، صوتي او یا هم د کلمو په انتخاب کې تېروتنه وکړي، چې پوهاوي کې د خنډ سبب کېږي. ناس [۴۷]  تېروتنې په دوه ډوله وېشلې دي، چې یو ډول یې د جزیي (local error) او بل ډول یې د کلي (global error) په نوم یادېږي. جزیي تېروتنې هغه دې چې په کلي معنی باندې تاثیر نه کوي یعنې مفهوم په بشپړه توګه له منځه نه وړي؛ بلکې پیغام او مفهوم افاده کوي، چې په انګلیسي ژبه کې  یې  مور په نومونو، فعلونو، اصلي او مغیره حالتونو، اضافي اداتو او کومکي فعلونو کې تېروتنې د بېلګې په توګه یادولی شو. کلي تېروتنې بیا په ټوله کې پر معنی او مفهوم اغېز کوي او موضوع تر سوال لاندې راولي، چې

دا تېروتنې ډېرې وخت د کلمو له ناسم ترکیب او ترتیب څخه منځته راځي. تېروتنې د ژبنیو برخو(ګرامر، غږپوهنه، نحوه، لغات پوهنه) او نورو پراساس هم ډلبندي شوې دي [۳۴]. ګرامري تېروتنې هغه دې چې په زمانو، کومکي او اصلي فعلونو، حالتونو، د کلمو او جملو په ترکیب، اشخاصو، نومځرو، اداتو او نورو کې رامنځته کیږي. غږیزې تېروتنې هغه دې چې په تلفظ او محاوره کې واقع شي. لغوي تېروتنې هغه دې چې د بېلابېلو ژبنیو توکو (نومونو، فعلونو، قیدونو، صفتونو) له ناسم انتخاب او استعمال څخه منځته راغلې وي.

**د کار میتود او مواد**

په دې څېړنه کې له کمي میتود څخه کار اخیستل شوی دی. کمي څېړنه له اعدادو سره سروکار لري؛ د اعدادو راټولول، تحلیل او د هغو پایلې په کې شاملي دي [۶۵]. په کمي څېړنه کې د یوې پدیدې یا موضوع په اړه معلومات د اعدادو په شکل راټولیږي، تحلیل او تجزیه کیږي، چې د اړوندې موضوع وضاحت او تشریح وشي [۴۰]. په دې څېړنه کې د ګډونوالو چلند ته کتنه شوې، نو ځکه سروې ډیزاین پکې کاریدلی. په سروې کې د ګډونوالو چلند، کړه وړه، اندېښنې، علاقه، نظر معلومول او وړاندې کول عام دي [۴۰]. بل دا چې د سروې له لارې حقیقي معلومات راټول (له استادانو او زده کړیالانو څخه) اسانه او موثر دي. د نمونې اخیستنې ډول یې احتمالي (Random) دی او مشخصاً stratified sampling په کې کارول شوی دی. ستراټیفایډ داسې نمونه اخېستنه ده، چې تر څېړنې لاندې نفوس د ورته ځانګړنو پر اساس په فرعي ګروپونو وېشي، چې د سټراټه په نوم یادیږي [۵۶]. په دې څېړنه کې نفوس په ځانګړیو ګروپونو وېشل شوی. وروسته بیا د هر ځانګړي ګروپ څخه احتمالي نمونه اخیستل شوې. له ګډونوالو سره (تړلی پوښتنلیک) چې له اتو (۸) پوښتنو ترتیب شوی و، شریک شو. یاد پوښتنلیک د حالیم، وحید او حالیم [۱۷] څخه را اخیستل شوی دی. د دې پوښتنلیک پوښتنې د (هو) او (نه) په واسطه ځواب شوې دي. د موادو په تجزیه او تحلیل کې د (ایس پي ایس ایس) سافټویر پنځویشتم ورژن کارول شوی او یوازې تشریحي تجزیه "descriptive analysis" عملیه اجرا شوې ده چې فریکوینسي او فیصدي په ډول په جدول کې ښودل شوې؛ تامپسن [۶۱] وایې چې: "تشریحي تجزیه موږ ته د نمونې اخیستنې په اړه معلومات راکوي."

**د موادو تحلیل او تجزیه**

په لاندني جدول کې د رغنده فیډبک په اړه د زده کوونکو چلند فیصدې ښودل شوې ده. د

دوی ځوابونه د (هو) او (نه) په بڼه دي.

(۲) جدول: د فیډبک په اړه د زده کوونکو ځوابونه

| ګڼه | سوالونه | هو | | نه | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱. | ایا تاسو غواړئ چې د کورنۍ دندې له کتنې وروسته د استاد رغنده نظر(feedback) تر لاسه کړئ؟ | ۸۵ | ۹۴،۴٪ | ۵ | ۵،۶٪ |
| ۲. | ایا پر خپلې کورنۍ دندې د استاد فیډبک اخیستل مثبت کار ګڼئ؟ | ۸۵ | ۹۴،۴٪ | ۵ | ۵،۶٪ |
| ۳. | ایا فیډبک ترلاسه کول مو هڅوي؟ | ۷۹ | ۸۷،۸٪ | ۱۱ | ۱۲،۲ ٪ |
| ۴. | ایا د فیډبک ترلاسه کولو وروسته کولی شئ خپلې نیمګړتیاوې په اسانۍ سره اصلاح کړئ؟ | ۷۰ | ۷۷،۸٪ | ۲۰ | ۲۲،۲ ٪ |
| ۵. | ایا فیډبک له تاسو سره په زده کړه کې مرسته کوي؟ | ۸۷ | ۹۶،۷٪ | ۳ | ۳،۳٪ |
| ۶. | ایا له تاسو سره لیکلي فیډبک له ویېز (شفاهي) فیډبک څخه زیاته مرسته کوي ؟ | ۴۷ | ۵۲،۲٪ | ۴۳ | ۴۷،۸ ٪ |
| ۷. | ایا د اصلاح شویو غلطیو په نه تکرار باندې برلاسه کیدای شئ؟ | ۷۵ | ۸۳،۳٪ | ۱۵ | ۱۶،۷ ٪ |
| ۸. | ایا انلاین (سملاسي) فیډبک تر افلاین ( سملاسي/معوق) فیډ بک غوره دی؟ | ۴۷ | ۵۲،۲٪ | ۴۳ | ۴۷،۸ ٪ |

په (۲) جدول کې ښکاري چې تر ټولو زیات تاکید پر (۵) سوال باندې شوی چې په زده کړه کې د فیډبک د مرستې په باب مطرح شوی دی. په دې اړه له (۹۰) نه (۸۷) ګډونوالو چې (۹۶،۷٪) کیږي، په دې عقیده دي چې فیډبک په زده کړه کې مثبت رول لري. وروسته د (۱) او (۲) سوالونو په اړه اکثریت برخوالو (هو) ځواب ورکړی. دواړو سوالونه چې (۱) سوال د کورنۍ دندې تر بشپړلو وروسته د استاد فیډبک ته منتظر پاتې کیدو په اړه دی او (۲) سوال چې ایا پر کورنۍ دندې د استاد فیډبک مثبت او غوره کار دی؟ (۸۵) کسانو یعنې (۹۴،۴٪) مثبت کار ګڼلی دی. د دې ترڅنګ ۷۹ (۸۷،۸٪) ګډونوال په دې اند دي، چې پر خپلو کړنو د استاد

لخوا فیډبک ورکول یې هڅوي. له ۹۰ ځخه ۷۵ (٪۸۳،۳) محصلین بیا داسي باور لري چې د فیډبک ورکوونکي له لوري ورته په ګوته شویو تېروتنو په نه تکرار برلاسه کېدای شي. یعنې په نښه شوې تېروتنې بیا نه تکراروي. (۴) سوال ته چې د (۳) سوال سره په فیصدۍ کې نږدې واقع شوی ۷۰ (٪۷۷،۸) کسانو د (هو) ځواب غوره کړی. دوی ځخه ګڼ شمېر داسې انګېري چې د فیډبک ترلاسه کولو وروسته کولی شي، چې خپلې نیمګړتیاوې په اسانی سره اصلاح کړي. پاتې دوه سوالونه (۸) او (۶) هغه دې چې په پوښتنلیک کې د نورو سوالونو په پرتله یې کمه فیصدي اخیستې ده. د انلاین سملاسي فیډبک ترافلاین (معوق، ځنډ) فیډ بک غوروالي په باب ۴۷ (٪۵۲،۲) برخه وال یې غوره بولي. په ورته ډول ۴۷ (٪۵۲،۲) ګډونوال په دې نظر دې چې لیکلي فیډبک له شفاهي فیډبک ورسره زیاته مرسته کوي.

**مناقشه**

د دې څېړنې موخه د فیډبک په اړه د لیسانس محصلینو چلند ته کتل دي. په عمومي توګه د څېړنې موندنې ښیي چې ګډونوال فیډبک د دویمي یا خارجې ژبې زده کړه لپاره موثر او مثبت کار ګڼي. د څېړنې اړوند لومړۍ پوښتنه چې: د زده کوونکو چلند د رغنده فیډبک په اړه څه ډول دی؟ په دې اړه د زده کوونکو چلند مثبت دی [ ۳۸،۳۶]. له ټولو زیات تاکید په دې شوی، چې فیډبک له دوی سره په زده کړه کې مرسته کوي. دا د خارجې ژبې زده کړې په پراختیا او پرمختیا کې د فیډبک ارزښت څرګندوي. د ګډونوالو تاکید ته په کتو فیډبک ورکول یو ښه کار دی. د دې څېړنې د ګډونوالو دا نظر چې فیډبک ورسره مرسته کوي د حالیم، وحید او حالیم [۱۷] لخوا ترسره شوې څېړنې موندنې تائیدوي. میکي [۳۷] په دې مورد وایي، چې: استادان د خارجې ژبې زده کوونکو ته د دې لپاره رغنده فیډبک ورکوي چې تېروتنو په ګوته کولو ورسره مرسته وکړي. سربېره پر دې ایلیس [۹] لیکي، چې: رغنده فیډبک له زده کوونکي سره د خپلې زده کړه چې څنګه یې وکړې یوه مانیزه جوړښت نقشه برابره کړي. روسل [۵۳] څېړنه بیا ښیي، چې: اصلاح (correction) باید په انتخابي ډول وشي په دې معنی چې کمې تېروتنې دې پر یو وخت په ګوته شي. د دې ترڅنګ فیډبک د ژبې په اړه د پوهاوي (understanding) او په ژبه کې د مفاهمې (communicative) وړتیاوو په پراختیا کې هم کومک کوي [۴۳،۳۸،۵۲] ورپسې دوه نور سوالونه چې یو یې د کورنۍ دندې تر بشپړلو وروسته د استاد فیډبک ته منتظر پاتې کیدو او بل یې پر کورنۍ دندې د استاد فیډبک تر لاسه کولو په

باب دی، چې ګڼ شمېر ګډونوالي یې اړین بولي او په دې اړه یې نظر مثبت دی. ورته پایلې د حالیم، وحید او حالیم [۱۷] لخوا په څېړنه کې په ګوته شوې دي. په ورته توګه څېړنې ښیي، چې زده کوونکي غواړي فیډبک تر لاسه کړي او مثبت کار یې بولي [۲۱،۲۷،۲۹،۵۱،۵۴،۵۵]. زده کوونکي فیډبک ته ځکه په تمه وي چې په خپلو تېروتنو او پرمختګونو پوه شي. که داسې ونه شي، دوی ممکن ونه شي کولی چې خپلې تېروتنې په خپله تشخیص او اصلاح کړي. شونې ده ځینې استادان زده کوونکو ته دنده ورکړي؛ خو له هغوی څخه یې پر خپل وخت غوښتنه ونه کړي یا یې زده کوونکي ونه سپاري او یا هم په داسې وخت کې ترې واخیستل شي، چې فیډبک ورکول پرې ستونزمن وي، مثلاً: د امتحان پر وخت کورنۍ دندې راټولول چې کتل او فیډبک ورکول ممکن سخت کار وي. د دې پایلې په اساس چې ډېری زده کوونکي د استاد فیډبک ته په طمع وي، د استادانو لخوا محصلینو ته فیډبک ورکول حتمي کار دی. هغه څه چې په دې څېړنه کې ګډونوالو ور ته زیات اهمیت ورکړی دا دې، چې په فیډبک تر لاسه کولو سره دوی زده کړې ته هڅېږي. دا کار ممکن دوی ته هغه وخت زیات په زړه پورې او هڅوونکی وي، چې د نیمګړتیاوو ترڅنګ ورته پرمختګ هم په ګوته شي. په یو شمېر نورو څېړنو کې هم د فیډبک تشویقي اړخ تائید شوی دی [۴، ۱۰، ۴۱، ۵۹]. مزهود [۳۹] څېړنه بیا ښیي چې که فیډبک په ښه توګه (خواخوږۍ سره) ورکړل شي زده کوونکي هڅوي او که په بده توګه (خوابدونکی ډول) ورکړل شي بیا یې تشویق او لیوالتیا له منځه وړي. څه د پاسه درې برخې ګډونوال په دې اند دي چې د اصلاح شویو غلطیو په نه تکرار باندې برلاسه کیدای شي او په همدې ډول د فیډبک ترلاسه کولو وروسته کولی شي، چې خپلې نیمګړتیاوې په اسانۍ سره اصلاح کړي. دغه پایلې د ټراسکټ [۶۲] او کرشن [۲۴] له پایلو سره توپیر لري. ګډونوال داسي انګېري چې دواړه انلاین (سملاسي) فیډبک او افلاین (سملاسي/معوق ) فیډبک چې په ټولګې کې ورکول کیږي غوره دی. دا چې له دوی سره لیکلي فیډبک له ویېز (شفاهي) فیډبک څخه زیاته مرسته کوي، له نیمایې څخه لږ څه زیات په همدې فکر دي.

**پایلې**

په دې څېړنه کې د لیسانس زده کوونکو له انده فیډبک څېړل شوی. په ټوله کې د څېړنې موندنې ښیي، چې ګډونوال فیډبک د دویمې یا خارجې ژبې زده کړې لپاره ګټور او مثبت کار ګڼي. فیډبک له دوی سره په زده کړه کې د مرستې کولو ترڅنګ یو غوره او تشویقي کار یاد

شوی. د دې څېړنې پایلې په ګوته کوي، چې زیات شمېر زده کوونکي پر کورنۍ دندې د استاد فیډبک تر لاسه کول غوره ګڼي او په دې اړه د استاد ځواب ته په تمه وي. زده کوونکي فیډبک ته ځکه په تمه وي چې په خپلو تېروتنو او پرمختګونو پوه شي. هغه څه چې په دې څېړنه کې ګډونوالو ور ته زیات اهمیت ورکړی دا دې چې په فیډبک تر لاسه کولو سره دوی زده کړې ته لا هڅېږي. په همدې ډول پایلې ښیي چې زده کوونکي د اصلاح شویو غلطیو په نه تکرار باندې برلاسه کیدای شي او په همدې ډول د فیډبک ترلاسه کولو وروسته کولی شي، چې خپلې نیمګړتیاوې په اسانۍ سره اصلاح کړي. برخوال په دې اند دي چې دواړه انلاین (سملاسي) فیډبک او افلاین (سملاسي/معوق) فیډ بک چې په ټولګې کې ورکول کیږي غوره او اړین دي. دا چې له دوی سره لیکلي فیډبک له ویېز (شفاهي) فیډبک څخه زیاته مرست کوي، له نیمايې نه لږ څه زیات په همدې فکر دي.

## References


1. Ammar, A., & Spada, N. (2006). One size fits all? Recasts, prompts, and L2 learning. *Studies in second language acquisition*, 543-574 .

2. Borg, S. (2003). Teacher cognition in language teaching: A review of research on what language teachers think, know, believe, and do. *Language Teaching, 36*(2), 81-109 .

3. Borg, S. (2006). Teacher cognition and language education: Research and practice: Continuum .

4. Bouaziz, R., & Bechoua, S. (2020). Investigating the relationship between EFL learners' attitudes towards oral corrective feedback and their motivation to speak .

5. Chen, S., Nassaji, H., & Liu, Q. (2016). EFL learners' perceptions and preferences of written corrective feedback: a case study of university students from Mainland China. *Asian-Pacific Journal of Second and Foreign Language Education, 1*(1), 1-17 .

6. Couper, G. (2019). Teachers' cognitions of corrective feedback on pronunciation: Their beliefs, perceptions and practices. *System, 84*, 41-52 .

7. Doughty, C., & Williams, J. (1998). Focus on Form in Classroom Second Language Acquisition. The Cambridge Applied Linguistics Series: ERIC.

8. Dulay, H. (1982). *Language two*: ERIC.

9. Ellis, R. (2009). Corrective feedback and teacher development. *L2*

*Journal, 1* .(1)

10. Ellis, R. (2015). Understanding second language acquisition 2nd Edition-Oxford applied linguistics: Oxford university press.

11. Ellis, R., & Sheen, Y. (2006). Reexamining the role of recasts in second language acquisition. *Studies in second language acquisition*, 575-600 .

12. Evans, N. W., Hartshorn, K. J., McCollum, R. M & ،.Wolfersberger, M. (2010). Contextualizing corrective feedback in second language writing pedagogy. *Language Teaching Research, 14*(4), 445-463 .

13. Ferris, D. R. (2003). Response to student writing: Implications for second language students: Routledge.

14. Fu، M., & Li, S. (2020). The Effects of Immediate and Delayed Corrective Feedback on L2 Development. *Studies in second language acquisition, 1*, 33 .

15. Gass, S. M., & Mackey, A. (2007). Input, interaction, and output in second language acquisition. *Theories in second language acquisition: An introduction, 175199*, 40 .

16. Green, J., & Thorogood, N. (2018). *Qualitative methods for health research*: sage.

17. Halim, T., Wahid, R., & Halim, S. (2021). EFL students' attitudes toward corrective feedback: a study conducted at undergraduate level. *Saudi Journal of Language Studies* .

18. Hartono, D. (2018). Corrective feedbacks and their implications on learners' uptakes in academic speaking class. *JELE (Journal of English Language and Education), 4*(1), 1-11 .

19. Hattie, J., & Timperley, H. (2007). The power of feedback. *Review of educational research, 77*(1), 81-112 .

20. Hyland, K. (2019). *Second language writing*: Cambridge university press.

21. Jean, G., & Simard, D. (2011). Grammar learning in English and French L2: Students' and teachers ʾbeliefs and perceptions. *Foreign Language Annals, 44*(4), 465-492 .

22. Kang, E., & Han, Z. (2015). The efficacy of written corrective feedback in improving L2 written accuracy: A meta-analysis. *The Modern Language*

*Journal, 99*(1), 1-18 .

23. Karim, K., & Endley ،M. J. (2019). Should Feedback Be Direct or Indirect? Comparing the Effectiveness of Different Types of WCF on L1 Arabic Writers' Use of English Prepositions. *Language Teaching Research Quarterly, 13*, 68-84 .

24. Krashen, S. (1982). Principles and practice in second language acquisition .

25. Kregar, S. (2011). Relative effectiveness of corrective feedback types in computer-assisted language learning .

26. Kulhavy, R. W., & Anderson, R. C. (1972). Delay-retention effect with multiple-choice tests. *Journal of Educational Psychology*, *63*(5), 505 .

27. Lee, I. (2017). Classroom writing assessment and feedback in L2 school contexts: Springer.

28. Li, S. (2010). The effectiveness of corrective feedback in SLA: A meta-analysis. *Language learning, 60*(2), 309-365 .

29. Li, S., Nassaji, H & ،Kartchava, E. (2017). Student and teacher beliefs and attitudes about oral corrective feedback. *Corrective feedback in second language teaching and learning: Research, theory, applications, implications*, *143*, 157 .

30. Lightbown, P. M., & Spada, N. (2020 .(Teaching and learning L2 in the classroom: It's about time. *Language Teaching*, *53*(4), 422-432 .

31. Long, M. (1996). The role of the linguistic environment in second language acquisition. *Handbook of second language acquisition* .

32. Long, M. H. (1991). Focus on form: A design feature in language teaching methodology. *Foreign language research in cross-cultural perspective*, *2*(1), 39-52 .

33. Long, M. H. (2017). Problems in second language acquisition: Routledge.

34. Lyster, R. (2001). Negotiation of form, recasts, and explicit correction in relation to error types and learner repair in immersion classrooms. *Language learning, 51*, 265-301 .

35. Lyster, R., & Ranta, L. (1997). Corrective feedback and learner uptake: Negotiation of form in communicative classrooms. *Studies in second*

*language acquisition*, 37-66 .

36. Lyster, R., & Saito, K. (2010). Oral feedback in classroom SLA: A meta-analysis. *Studies in second language acquisition, 32*(2), 265-302 .

37. Mackey, A., Al-Khalil, M., Atanassova, G., Hama, M., Logan-Terry, A., & Nakatsukasa, K. (2007). Teachers' intentions and learners' perceptions about corrective feedback in the L2 classroom. *International Journal of Innovation in Language Learning and Teaching, 1*(1), 129-152 .

38. Mackey, A., & Goo, J. (2007). Interaction research in SLA: A meta-analysis and research synthesis .

39. Mezhoud, M. (2015). The role of teachers’ corrective feedback in motivating the EFL learners in the classroom: the case of master I LMD students of english didactics at Bejaia University. Université de Béjaia.

40. Mills, G. E., & Gay, L. R. (2019). Educational research: Competencies for analysis and applications: ERIC.

41. Montazeri, M., & Salimi, E. A. (2019). Assessing motivation to speak (MTS) and willingness to communicate through metalinguistic corrective feedback .*Learning and Motivation, 68*, 101594 .

42. Narciss, S. (2008). Feedback strategies for interactive learning tasks. *Handbook of research on educational communications and technology, 3*, 125-144 .

43. Nassaji, H. (2016). Anniversary article Interactional feedback in second language teaching and learning: A synthesis and analysis of current research. *Language Teaching Research*, *20*(4), 535-562 .

44. Nassaji, H., & Kartchava, E. (2017). Introduction: The role of corrective feedback: Theoretical and pedagogical perspectives. *Correctivefeedback in second language teaching and learning: Research, theory, applications, implications (pp. ix-xv). New York: Routledge, Taylor & Francis Group* .

45. Nicholas, H., Lightbown, P. M., & Spada, N. (2001). Recasts as feedback to language learners. *Language learning, 51*(4), 719-758 .

46. Norris, J. M., & Ortega, L. (2000). Effectiveness of L2 instruction: A research synthesis and quantitative meta-analysis. *Language learning, 50*(3), 417-528 .

47. Noss, R. B. (1979). Mistakes, Mismatches, and Gaps. *RELC Journal, 10*(1), 1-15. doi:10.1177/003368827901000101

48. Panova, I., & Lyster, R. (2002). Patterns of corrective feedback and uptake in an adult ESL classroom. *Tesol Quarterly, 36*(4), 573-595 .

49. Philp, J. (2003). Constraints on" noticing the gap": Nonnative speakers' noticing of recasts in NS-NNS interaction. *Studies in second language acquisition*, 99-126 .

50. Rassaei, E. (2019). Tailoring mediation to learners' ZPD: Effects of dynamic and non-dynamic corrective feedback on L2 development. *The Language Learning Journal, 47*(5), 591-607 .

51. Roothooft, H., & Breeze, R. (2016). A comparison of EFL teachers' and students' attitudes to oral corrective feedback. *Language awareness, 25*(4), 318-335 .

52. Russell, J., & Spada, N. (2006). The effectiveness of corrective feedback for the acquisition of L2 grammar. *Synthesizing research on language learning and teaching, 13*, 133-164 .

53. Russell, V. (2009). Corrective feedback, over a decade of research since Lyster and Ranta (1997): Where do we stand today. *Electronic Journal of Foreign Language Teaching, 6*(1), 21-31 .

54. Schulz, R. A. (1996). Focus on form in the foreign language classroom: Students' and teachers' views on error correction and the role of grammar. *Foreign Language Annals, 29*(3), 343-364 .

55. Schulz, R. A. (2001). Cultural differences in student and teacher perceptions concerning the role of grammar instruction and corrective feedback: USA-Colombia. *The Modern Language Journal, 85*(2), 244-258 .

56. Sharma, G. (2017). Pros and cons of different sampling techniques. *International journal of applied research, 3*(7), 749-752 .

57. Sheen, Y. (2004). Corrective feedback and learner uptake in communicative classrooms across instructional settings. *Language Teaching Research, 8*(3), 263-300 .

58. Skinner, B. (1953). Science and Human Behavior The Free Press. *New York* .

59. Soori, A., Kafipour, R., & Soury, M. (2011). Effectiveness of different types of direct corrective feedback on correct use of English articles among the Iranian EFL students. *European Journal of Social Sciences, 26*(4), 494-50 .1

50. Stevenson, M., & Phakiti, A. (2014). The effects of computer-generated feedback on the quality of writing. *Assessing Writing*, *19*, 51-65 .

61. Thompson, C. B. (2009). Descriptive data analysis. *Air medical journal, 28*(2), 56-59 .

62. Truscott, J. (1996). The case against grammar correction in L2 writing classes. *Language learning, 46*(2), 327-369 .

63. Van Ha, X., & Murray, J. C. (2021). The impact of a professional development program on EFL teachers' beliefs about corrective feedback. *System*, *96*, 102405 .

64. Wang, Y ،.Liu, X., & Zhang, Z. (2018). An overview of e-learning in China: History, challenges and opportunities. *Research in Comparative and International Education, 13*(1), 195-210 .

65. Watson, R. (2015). Quantitative research. *Nursing Standard (2014+), 29*(31), 44 .

66. Xie, F., & Jiang, X.-m. (2007). Error analysis and the EFL classroom teaching. *Online Submission, 4*(9), 10-14 .

67. Yang, Y., & Lyster, R. (2010). Effects of Form-Focused Practice and Feedback on Chinese EFL Learners' Acquisition of Regular and Irregular Past Tense Forms. *Studies in second language acquisition*, 235-263 .

# جایگاه سیمرغ در اشعار عطار

نویسنده: پوهنیار میرسبحان مجددی، پوهنځی زبان و ادبیات، دیپارتمنت دری
تقریظ دهنده: پوهندوی میاولی شاه میاخیل استاد پوهنځی زبان و ادبیات

## چکیده

با بررسی داستان‌ها و افسانه‌ها در میان ملت‌های مختلف می‌توان به حضور و ویژه‌گی‌های مشابهی دست یافت که هر یک از آن‌ها از زاویه‌های مختلف قابل توجه و بررسی است. در این میان نام سیمرغ به عنوان یکی از نمادهای ادب فارسی دری در اساطیر و متون عرفانی امری قابل توجه است که در فرهنگ آریایی به دورهٔ پیش از اسلام می‌رسد.

تجلی این پرنده نخستین بار در قلمرو حماسه و سپس در عرفان مشاهده شده و جلوهٔ خاص به ادبیات حماسی و عرفانی بخشیده و نمود بارز این امر در آثار شعری فردوسی، عطار، مولوی، سعدی و حافظ به گونهٔ خاص نمایان است. طوری‌که در شاهنامه فردوسی جلوه‌های ایزدی و اهریمنی سیمرغ مورد توجه است در آثار عرفانی بُعد روحانی آن که همان رموز جاودانگی، وحدت وجود و ذات مطلق است، مورد توجه قرار می گیرد.

با توجه به آنچه ذکر شد در این مقاله برآن شدم که ابعاد گوناگون وجود مرغ اسطوره ای را با تکیه بر اشعار شیخ فریدالدین عطار نیشابوری مورد تحقیق و مداقه قرار دهم.

واژه‌های کلیدی: نماد پردازی، عطار، عرفان، سیمرغ، منطق الطیر.

### مقدمه

در ادبیات نگاه نمادین به پرنده‌گان که برخی اساطیر ملت‌ها را تشکیل می‌دهند امری قابل توجه است. حتا این دیدگاه در باورهای دینی و اعتقادی نیز راه یافته است. در داستان حضرت سلیمان و بلقیس نقش هدهد به عنوان پیک حضرت، نمادی از منطق الطیر سلیمان است طوطی در این داستان تمثیل جای علوی است .

بشر از آغاز خلقت تا کنون برای اقناع ذهن خیال‌پرداز خود به آفرینش موجودات عجیب و غریب با نیروهای خارق‌العاده پرداخته است. در این میان پرنده‌گان از دیرباز به دلیل خاصیت فزیولوژیکی خاص؛ نظیر: داشتن بال و توان پرواز در خور توجه آدمی بوده و بیشتر از دیگر موجودات در ادبیات رشد و نمو کرده و قسمت بزرگی از افسانه‌ها و اسطوره‌ها را در خود بنیان نهاده اند.

تمثیل روح به پرنده در قصیدۀ عینیۀ بوعلی سینا و رساله‌الطیر ابوحامد غزالی در فرهنگ ما مصداق راه‌یابی اندیشه‌های اساطیر به ساختار دین و باورهای دینی است. به همین دلیل در ادبیات عرفانی روح انسانی که نسبت تشبیهی به مرغ بلند پرواز دارد با فرشته‌گان که نمودی از پرنده-گویی دارند تناسب معنایی دارد.

من ملک بودم و فردوس جایم بود          آدم آورد در این دیر خـراب آبادم

(۴: ۲۲۷)

مرغ باغ ملکوتم نیم از عالم خاک          چند روزی قفسی ساخته اند از بدنم

(۱: ۵۷۷)

مرغی چند روزی قفسی از تن استخوانی ساخته و همیشه میل پرکشیدن به سمت معشوق ازلی را دارد و در این دنیا چند صباحی مهمان است.

**هدف تحقیق**

بررسی و تحلیل جایگاه عرفانی سیمرغ در اشعار شیخ فریدالدین عطار.

چگونه‌گی نمادپردازی در منطق‌الطیر عطار.

بیان ویژه‌گی‌های سیمرغ در اشعار عرفانی و حماسی.

**روش تحقیق**

این تحقیق بر اساس روش کتاب‌خانه‌یی صورت گرفته در این تحقیق از منابع معتبر و دست‌اول استفاده شده است.

سیمرغ در ادبیات عرفانی

حضور سیمرغ در ادب حماسی به مراتب بیشتر از حضور آن در ادبیات عرفانی است و لی آنچه مسلم است این است که سیمرغ در عرفان یک منظر معنایی دارد و ثنویت آن در حماسه که جلوۀ ایزدی و جلوۀ اهریمنی را نمایان می‌سازد را ندارد.

دکتر پورنامداریان در کتاب « رمز و داستان‌های رمزی در ادب فارسی » معتقد است: « در ترجمۀ احمد غزالی عنقا به سیمرغ ترجمه شده است و به این ترتیب سیمرغ اساطیری اوستا و شاهنامه، بعد از رسالۀ الطیر غزالی وارد عرفان می‌شود و به علت صفات و کیفیات و نیروهای ما بعدالطبیعی جمع شده در وجود این مرغ، رمز و مثال والاترین حقیقت کائنات و برترین نیروی عالم می‌گردد. و از این نظر در کنار خورشید قرار می‌گیرد که به قول سهروردی، خلیفۀ خدا در

عالم افلاک است و نیز رمز و مثال فرشته، عقل‌ها یا عقول عشره و از جمله عقل فعال که مرغان دیگر نیز می‌توانند در اثر مجاهدت و ریاضت، خود را به مرتبهٔ او برساند و سیمرغی شوند در زمین یا فرشته‌گان مقرب در میان خاکیان، که خود انسان کامل است و بقای نوع بشر را واجب. » ( ۲ : ۴۲۳)

سیمرغ ( سئن مرو ) در اساطیر و ادب ما نماد اندیشه‌ها، پنداشت‌ها و دریافت‌های متعدد است. از آن چشمهٔ زنده‌گی، روینده‌گی و باروری، سرسبزی و درمان‌بخشی ( در اوستا ) گرفته تا جان جویای معرفت و نشان بی‌نشان دولت و یگانگی این و آن ( منطق الطیر ). ( ۹: ۴۲)

در نوشته‌های عارفان و فلاسفهٔ آریانا زمین از جمله احمد غزالی، سهروردی، عین القضات همدانی و ابن سینا سیمرغ رمزی از حقیقت بی کران ذات الهی است.

سنایی که او را آغازین آورندهٔ عرفان در شعر می‌نامند و معتقدند که تعابیر و مفاهیم عرفانی، اول بار به دست توانای او وارد شعر و ادب فارسی دری شد و در غزلیات و مثنوی حدیقهٔالحقیقه وی درخشید در غزلی که دکتر شفیعی کدکنی انتساب آن را به سنایی به دلیل دور بودن از اندیشه وی رد می کند سیمرغ را مشبه عشق بیان می‌دارد که این گواه خوبی است بر قدسی بودن این پرنده در اندیشه شاعران عارف.

با دلم به مهر و مروت یگانه بود　　سیمرغ عشق را دل من آشیانه بود

بر در گهم ز جمع فرشته سپاه بود　　عرش مجید جاه مرا، آشیانه بود

(٦: ۵۷-۵۸)

حتا اگر به تصور دکتر شفیعی کدکنی این ب با اندیشهٔ سنایی رابری نداشته باشد، شاید از معاصران او باشد یا از عرفایی مانند: عین القضات همدانی. در هر صورت شکل قدسی بودن سیمرغ و اعتبار و ارزشمندی این اسطوره در عرفان مطرح است.

سیمرغ رمز آن مفهومی است که نام دارد و نشان ندارد و ادراک انسان نسبت به او ادراکی است« بی چه گونه » و « بلاکیف » و گویا ضرب المثل بسیار کهنی بوده است بدین مضمون که سیمرغ چیزی است که درباره‌اش سخن می‌توان گفت اما آن را هرگز نمی‌توان دید. (۶ : ۱۶۸)

سنایی در قصاید خود سمیرغ را دست نایافتنی می‌داند.

عقل جزوی کی تواند گشت بر قران محیط؟　　عنکبوتی کی تواند کرد سیمرغی

شکار؟ (٦: ١٣٠)

در این نمونه سیمرغ دست نایافتنی و با عظمت و شکوه تعبیر شده است. تضاد بین عنکبوت ( از حیث کوچک بودن ) و سیمرغ ( از حیث عظمت ) نیز مطرح است.

در جای دگر می‌نویسد:

خرد کمتر از آن باشد که او در وی کند منزل مغیلان چیست تا سیمرغ در وی آشیان دارد

خرد راآفریند او کجا اندر خرد گنجد؟ بنان در خط نگنجد ارچه نقش از بنان دارد

سنایی می‌گوید خرد سزاوار آن‌نیست که پناهگاهی برای خداوند لایزال باشد و در این حین از اسطوره سیمرغ که رمز و عظمت و بزرگی و ماورایی بودن است بهره می‌جوید. و در تشبهی ساده صحرای مغیلان که جایی پست و بی‌ارزش است منزلگاه مناسبی برای سیمرغ که رمز ربوبیت و وجود ذات بی‌همتای الهی است نمی‌داند.

مولانا با اندکی تغییر همین را به‌کار برده است. در شعر مولانا از عنقا به عنوان سیمرغ یاد شده که در متون عرفانی اسلامی عنقا تعبیری از سیمرغ است هرچند در متون عربی عنقا پرندهٔ گردن دراز، با عظمت و عزلت‌نشین است.

جبریل با لطف و رشد عجل را چون چشد این دام دانه کی کشد عنقای خوش منقار را

عنقا که یابد دام کس در پیش آن عنقا مگس ای عنکبوت عقل بس تا کی تنی این تار را

(١: ١٠)

در این دو بیت، مولانا مانند سنایی با تشبیه عنکبوت عقل، ناکامی عقل را دریافت حقیقت ذات ازلی حضرت الهی که به سیمرغ مانند شده را بیان می‌دارد.

**سیمرغ در منطق الطیر عطار**

با توجه به اصل وحدت الوجود و اتحاد عاشق و معشوق، خواندن منطق‌الطیر انسان را به این فکر سوق می‌دهد که مراد عطار از ذکر اینکه تنها سی مرغ از هزاران مرغ به حقیقت واصل شدند و سیمرغ را در خود یافتند. شاید این است که از هزاران سالک، تنها چند نفر به حد کمال می‌رسند و به رویت حقیقت در درون خود موفق می‌شوند و به عبارت دگر لایق پیشوایی می‌شوند. زیرا پیر باید خود از واصلان باشد و به این ترتیب، به تعبیر دگر می‌توان سیمرغ را از القاب پیر و مرشدکامل نیز دانست. خود عطار در تذکره الاولیا ضمن بیان القاب مشایخ صوفیه، عناوینی از قبیل: شاهباز حقیقت و شاهین طریقت را به کار برده است. (۵: ۹۳-۹۴)

توصیف عطار از سیمرغ در منطق‌الطیرکه در آن رمزها گران نقش هستند. از دیدگاه عطار شنیدنی‌ست ، جان آدمی آشیانه و قرارگاه هزاران مرغ آشنا و ناآشنا است که از عالم علوی در آن فرود آمده اند و چند صباحی آنجا را مقام خود قرار می‌هند؛ اما پس از مدتی دوباره از این قفس تنگ به پرواز در می‌آیند تا به جایگاه نخستین خود در ملکوت باز گردند.

این پرنده‌گان از گونه‌های مختلف هستند و روحیه‌های خاص و منشی ویژۀ دارند و نمایندۀ روحیات نهفته در جان آدمی هستند. هدهد پیشوای مرغ معرفت بوده و بر رازهای جهان آگاه است. هدهد در تجمع مرغان آن‌ها را از راه پر خطر و مرگبار قاف ، جان و درک محضر سیمرغ آگاه می کند و دشواری‌های راه را بیان می کند؛ اما هنوز اندکی اوج نگرفته پای‌بندی‌های دنیوی، نفسیات و ترس از خطرها سبب می‌شود که عدۀ مرغان از ادامه سفر باز ماندند و تنها مرغان سبک‌سیر و تیزپرواز به سفر روحانی ادامه می‌دهند. یعنی فقط سی تن از هزاران تن قابلیت برخورداری از سایۀ بی‌همتای سیمرغ حق و حقیقت را درمی‌یابند و با رسیدن به درگاه قاف الهی محو در وجود او شده به مرتبۀ فقر و فنا که بالاترین درجۀ عشق است ، می‌رسند.

لازم به ذکر است که سالک بعد از ارتقا به مراتب بلند حیرت به وادی فقر حقیقی و فنای اصلی وارد می‌شود و این رتبه مقام فنای از نفس و بقای بالله است فقر از خود و غنای به مقصود است و در این مقام ذکر فقر می‌شود یعنی فرق است از آنچه عالم خلق است و غنی است به آنچه در عوالم حق است .

**هدهد که خود رمز مرشد و راهنمای طریقت است در توصیف سیمرغ از زبان عطار می گوید :**

هست ما را پادشاهی بی خلاف — در پس کوی که هست آن کوه قاف
نام او سیـــــمرغ سلطان طیور — او به ما نزدیک و ما زو دور دور
در حـــــریم عزلتست آرام او — نیست حد هر ز فانی نام او
صد هـــزاران پرده دارد بیشتر — هم ز نور و هم ز ظلمت پیش در
در دو عالم نیست کس را زهره ای — کو تواند یافت از وی بهره‌ای
دایما او پادشـــــاه مطلق است — در کمال عز خود مستغرق است
او به سر ناید ز خود آنجا که اوست — کی رسد علم و خرد آن‌جا که اوست
وصف او چون کار جان پاک نیست — عقل را سرمایۀ ادراک نیست
لاجرم هم عقل و هم جان خیره ماند — در صفاتش با دو چشم تیره ماند
هیچ دانایی کـــــمال او ندید — هیچ بینایی جمال او ندید

در کـــــــمالش آفرینش ره نیافت     دانش از پی رفت و بینش ره نیافت

(۸: ۲٦۳- ۲٦٤)

توصیف عطار از سیمرغ نمودار عظمت و قدرت اوست که خرد را در آن راهی نیست و حواس ظاهری از درک او عاجزند و هیچ دانایی منی توتند کمال و اعتبار او را دریابدو کسی منی تواند او را آن گونه که سزاوار است توصیف کند .

عطار برای رسیدن به درگاه سیمرغ هفت وادی عشق را که عبارتند از : طلب ، عشق، استغنا ، توحید ، حیرت، فقر و فنا پیش پای سالک قرار می دهد تا مانند پهلوان حماسه از هفت خوان عرفان عبور کند و راهی به درگاه جوید.

کار مرغان منطق‌الطیر با برخورداری از تقرب به سیمرغ تمام نمی‌شود . شرم و تشویر ناشی از لطف سیمرغ با وجود غفلت های گذشته ، سبب می شود تا آخرین بقایای هستی آنان که خود حجاب است از میان برخیزد و فنای کلی حاصل می شود ؛ فنایی که آخرین حجاب میان مرغان و سیمرغ را از میان بر می دارد تا وحدت کامل اشراقی تحقق پیدا کند . در این جاست که کثرت محو می‌شود و سی مرغ و سیمرغ یکی می‌شوند . مرغ خود را سیمرغ و سیمرغ را خود می‌بینند. آنان سرانجام به این کشف می‌رسند که سیمرغ را کسی نمی‌تواند دید . آن که سرانجام به دیدار و وصال می‌رسد معشوق است عاشق تا فانی نشده است خود حجاب است و چون فانی شد خود معشوق می‌شود. ( ۲: ۳۸ – ۳۹ )

سیمرغ و کوه قاف از کائنات معروف عرفانی است به معنی مردان کامل و ابدال حق که از نظرها پنهانند و دست یافتن به ایشان دشوار است و گاهی سیمرغ و قاف را مقام احدیت و قلم اعلی؛ و نیز گاهی وحدت ذات حق است که در پشت کوه قاف کثرت مستور می‌باشد و کوه قاف همین کثرت که پرده و حجاب وحدت باشد؛ و نیز گاهی سیمرغ را کنایه گیرند از مرتبه سر اخفی که لطیف ترین اطوار سبعه ی روحانی بشر است و قاف را از مرتبۀ « قلب » کنایه گیرند که هم از اطوار سبعه است. ( ۳: ۵۷۴)

نمادهای سیمرغ در دیدگاه عرفانی عطار

نمادهای و ویژه‌گی های منحصر به فرد سیمرغ در دیدگاه عطار؛ عبارتند از :

۱- ذات خدا و حقیقت مطلق

ابیاتی که در وصف سیمرغ از زبان هدهد بیان کردیم نشان‌گر این موضوع است .

نام او سیمرغ و سلطان طیور        او به ما نزدیک و ما زو دور دور

(۷: ۲٦٤)

اشارۀ بیت به یکی از آیۀ های قرآن کریم بوده که ترجمه آن چنین است « ما از رگ گردن بدو نزدیک تریم » بیانگر ذات احدیت است که در نماد سیمرغ به کار رفته است .

گر نگشتی نقش پر او عیان        این همه غوغا نبودی در جهان

این همه آثار صنع از فرّ اوست جمله انمودار نقش پرّ اوست

(۷ : ۲٦٥)

۲- سیمرغ گاهی رمز آفتاب است که همان دات حضرت باری تعالی است.

تو بدان کانگه که سیمرغ از نقاب        آشکارا کرد رخ چون آفتاب

(۸: ۲۸۱)

صد هزاران آفتاب معتبر        صد هزاران ما، و انجم بیشتر

جمع می‌دیدند حیران آمده        همچو ذره پای‌کوبان آمده

جمله گفتند ای عجب چون آفتاب        ذره‌ای محو است پیش این جناب

(۷: ٤۲۳)

بعد از این وادیّ فقر است و فنا        کی بود اینجا سخن گفتن روا

عین وادیّ فرامشی بود        گنگی و کری و بی‌هوشی بود

صد هزاران سایۀ جاوید تو        گم شده بینی ز یک خورشید تو

(۸: ٤۱۳)

۳- سیمرغ نمادی از علم غیب است عالمی که تجلیاتش را در همۀ عالم شاهدیم؛ اما کسی نمی-داند ماهیت آن را درک کند.

هیچ دانایی کمال او ندید        هیچ بینایی جمال او ندید

در کمالش آفرینش ره نیافت        دانش از پی رفت و بینش ره نیافت

قسم خلقان زان کمال وزان جمال        هست، اگر برهم نهی، مشتی خیال

(۸: ۲٦٤)

۴- عقل و حواس از ادراک سیمرغ ناتوان هستند.

وصف او چون کار جان پاک نیست        عقل را سرمایۀ ادراک نیست

لاجرم هم عقل و هم جان خیره ماند		در صفاتش با دوچشم تیره ماند

(۸: ۲٤٦)

۵- گاه سیمرغ نماد پادشاه و انسان کامل است.

دائماً او پادشـــاه مطلق است		در کمال عز خود مستغرق است

او به سرناید ز خود آنجا که اوست		کی رسد علم و خرد آنجا که اوست

نه بدو ره، نه شکیبایی از او		صد هزاران خلق سودایی ازو

(۸: ۲٤٦)

۶- گاه نمودار سایه است که یاری‌رسان و حمایت‌گر است ولطف و رحمش را ارزانی می‌دارد.

تا بود کاری ازین میدان لاف		گوی ما افتد مگر تا کوه قاف

ذره در خـــورشید والا اوفتاد		سایهٔ ســیمرغ بر مــــا افتاد

(۸: ۲۰۳)

چون بدانستی که ظل کیستی		فارغی گر مردی و گرزیستی

گر نگشتی هیچ سیمرغ آشکار		نیستی سیمرغ هرگز سایه دار

باز اگر سیمرغ می‌گشتی نهان		سایه‌ای هرگز نماندی در جهان

هر این‌جا سایه‌ای پیدا شود		اول آن چیز آشکار آن‌جا شود

دیدهٔ سیمرغ‌بین گر نیستت		دل چـــو آیینه منور نیستت

(۸: ۲۸۱)

از دیدگاه عطار پدیده‌های هستی سایهٔ مرغ ازلی هستند و وجود حقیقی از آن اوست. ونسبت آنها به سیمرغ نسبت سایه به آفتاب است. رسیدن آنها به سیمرغ یعنی محوشدن مایه در اصل خویش و دیدن خود در آیینه هستی تابناك خویش سیمرغ نیست جز خود همین مرغان پراکندهٔ جان که در قاف هستی به هم می‌پیوندند و به مقام سیمرغی می‌رسند.

**نتیجه گیری**

با عنایت به آنچه ذکر رفت به این نتیجه می‌رسیم که سیمرغ از عناصر اساطیری بزرگی است که در عرصهٔ ادبیات و مخصوصاً در حماسه و عرفان حضور یافته و ایفای نقش نموده است. سیمرغ نخست وارد ادبیات حماسی شده از آنجا به حورهٔ عرفان راه یافته و در این تغییر معنا شخصیت، اسطوره‌یی آن اندکی دچار تحول شده است.خصوصیات همچون وحدت شخصیت، عدم تناسل

و زاد و ولد، شکست ناپذیری، جاودانگی و عدم قابلیت ادراک حسی و عقلی سیمرغ عرفان را از سیمرغ حماسه که فاقد این ویژه گی‌هاست متمایز ساخته است.

رسالهٔ الطیرها بی‌شک تأثیر فراوانی در دیدگاه عرفانی عطار داشته است و او از آن‌ها در سرودن منطق‌الطیر خود الهام گرفته است. شاهکار عطار در بیان این داستان گذاشتن کلمهٔ سیمرغ به جای عنقا و بازی‌کردن با آن کلمه از نظر فن بدیع و جناس آوردن سیمرغ با سی‌مرغ که تنها از هنر و دقت وی در این تجنیس است.

توصیف عطار از سیمرغ در منطق‌الطیرکه در آن رمزهای بزرگ هستند. از دیدگاه عطار شنیدنی‌ست ، جان آدمی آشیانه و قرارگاه هزاران مرغ آشنا و ناآشنا است که از عالم علوی در آن فرود آمده اند و چند صباحی آنجا را مقام خود قرار می‌هند؛ اما پس از مدتی دوباره از این قفس تنگ به پرواز در می‌آیند تا به جایگاه نخستین خود در ملکوت باز گردند.

**سرچشمه‌ها**

بلخی رومی، جلاالدین محمد. (۱۳۷۰). مثنوی معنوی به کوشش دکترکاظم دزفولیان. تهران: طلاان.

پورنامداریان، تقی. (۱۳۵۷). رمز و داستان‌های رمزی در ادب فارسی. تهران: علمی و فرهنگی.

تاجدینی، علی. ( ۱۳۸۸). فرهنگ نمادها و نشانه‌ها در اندیشهٔ مولانا. تهران: سروش.

حافظ شیرازی، شمس‌الدین محمد. ( ۱۳۷۴). دیوان حافظ، به کوشش علی لهراسبی. تهران: نهال نویدان.

رجایی بخارایی، احمدعلی. ( ۱۳۶۴ ). فرهنگ اشعارحافظ. تهران: علمی.

شفیعی کدکنی، محمدرضا. ( ۱۳۷۷ ). در اقلیم روشنایی. تهران: آگاه.

عطارنیشاپوری، فریدالدین. ( ۱۳۸۳ ). منطق‌الطیر، مقدمه، تصحیح و تعلیقات، محمد رضا شفیعی کدکنی. تهران: سخن.

عطارنیشاپوری، فریدالدین. ( ۱۳۹۰ ). منطق‌الطیر، تصحیح و توضیح، محمد عابدی، تقی پورنامداریان. تهران: سمت.

مسکوب، شاهرخ. ( ۱۳۷۵ ). فرهنگ اساطیر. تهران: سروش.

# Place of Seemorgh in Atar's Poems

Teaching Assistant: Mir Subhan Mujadadi Languages and Literature Dari Department Sheikh Zayed University

**Abstract**

Researchers have found numbers of similarities between tales and legends which everyone needs to be studied from distinctive perspectives. One which is worth to be explored from Persian literature is the existence of the name of Phoenix bird which has been appeared many times in Myth and Mysticism. For the first time, the name of this bird has been appeared in Epic, then in Myth. The existence of this name in the Myth and Epic of Ferdosi, Attar, Mawlawi, Saddi, and Hafiz has given a glossy glory to these literary proses. In Shahnamah, Izadi and Ahramni Phoenix are given much more value, so in Myth its spiritual side has to be studied which has been used as symbol of eternity, unity of existence, and absolute essence.

Looking to previous description, in this article, the mythical sides of the Phoenix bird has been explored in the poems of Sheikh Fard-u-Din Attar Nishapoori.

**Key words:** symbolism, Attar, Suffism, Seemorgh, Mantiq altayr.

# Shaikh Zayed University Undergraduate Students' Attitudes towards Corrective Feedback

Teaching Assistant Wali Khan Monib, English Department, Languages and Literature Faculty, Shaikh Zayed University-Khost

**Abstract**

This study aimed to investigate EFL students' attitudes towards corrective feedback. Corrective feedback which is one of the important techniques used to improve students' language skills is discussed in details. To clarify the topic, some practical examples have been provided where needed. The questionnaire consisted eight questions related to corrective feedback was sent to the participants online where 90 respondents answered. After the data collection and analysis process, it was found that corrective feedback is essential for students'

learning since it helps them to identify and correct their errors. Students have positive attitudes towards corrective feedback and prefer both online (immediate) and offline (delayed) corrective feedback. On overall, the main findings show that corrective feedback is helpful and is recommended in second language acquisition. The study has some limitations which are only involving a limited number of English Department students as participants. The findings of the study are important for the lecturers to be considered in their teaching.

**Keywords:** Attitude, Corrective Feedback, Second Language Learning, Errors, Teaching Method

## Block chain Technology and the Islamic Aspect of Virtual currency

T. Asst: Mohammad Dawood Babakerkhell,Computer Science Faculty and Teaching

T.Asst: Rahmtullah Mangal, Economic Faculty, Shaikh zayed University, khost.

**Abstract**

Block chain is a new technology and one of its key features is that it is very safe and sound. Block chain is still used in virtual money. Still people think that block chain is only used for virtual money but this is not the case, block chain is just a secure technology that keeps information and it is not true that block chain is only used for virtual money. As this technology is highly secure, as well as the virtual money, which is a very important issue, has attracted the attention of many researchers, so in this regard, we also have intended to do research on this issue and make it clear, that what kind of technology block chain is and for what purpose it is used. In addition to the topic of virtual money, which we have discussed in detail in another study, we want to look at the Islamic aspect of this money, what Islamic economists think about virtual money.

**Key words:** Block Chain Technology, Importance of Block Chain, Money, Islamic Aspect of Virtual Currency, Virtual Money.

# Synthesis of Trans Uranium Elements

Teaching assistant: Mohammad Noor Mohammadi, Sheikh Zayed University, Education Faculty, Department of Chemistry

**Abstract**

Trans-uranium elements are located in the periodic table after uranium. it is not naturally born, but is artificially produced from other elements. Plutonium is an element of this group which is used in nuclear reactors for power generation and also have usage in nuclear bombs.

Accurate and complete information about trans-uranium elements is of great importance to the academic cadres of the Chemistry Department and the students of the department, because there has been little access to the necessary information so far. I wanted to gather the information about the new studies based on the department 's decision and present it in the form of an article. Library method has been used to collect these materials, including new scientific research from prestigious scientific journals. As a result, we will be able to create trans-uranium elements and take advantage of it in every field and find nuclear energy resources for Afghanistan. By investigating the radioactive, chemical and physical properties of these elements, we can obtain different kind of chemicals from the analysis and combination of these elements. which is of great importance in medicine, agriculture, economy and other fields.

**Key Words:**Trans-uranium Elements, Locations where they Created, Their Creators, Nuclear Energy, Methods of Obtaining Trans-Uranium Elements

# Necessity According to Sharia of Islam

Teaching Assistant: Nasratullah Jalali, Department of Jurisprudences and Law, Faculty of Sharia shaikh zayed university khost.

**Abstract**

My topic is to know about the "Necessity" According to Sharia of Islam. As per my point of view that I have define necessity in lexical and terminological ways because if something is not recognized then it is harder to take something out of it, so like that I have mentioned the

sayings of jurists, that is beacuse there are different sayings of jurists according to necessity, as well mentioned the types of necessity with examples and the definition of each division, with this I have explained the elements of "crimes" definitions and examples and what are the conditions of necessity in Sharia of Islam with prove and mentioned the sayings from Quran and Sunnah of Nabi (SAW) how to deal and overcome problems.
**Keywords:**Islamic Sharia, Need,Faqhi quad, Introduction, Nabwi suna

## Rulings on mourning in Sharia

Teaching Assistant Fakhruddin Izam Faculty of Sharia Department of Islamic culture

**Abstract**

This article is written under the title of “Rulings of mourning in sharia” based on secondary research. The aim of the study is ruling of mourning, its legitimacy and other related issues. Mourning is the abandonment of adornment by a woman during 'iddah due to grief and sadness over the death of her husband. The legitimacy of which proven by the Sunnah (hadith) of the Prophet (peace and blessings of Allaah be upon him). A woman whose husband dies and she is sane, mature and muslim, it becomes obligatory on her to mourn during iddah. If she is immature as well, according to majority of scholars it is obligatory on her to mourn. Guardian should forbid her from all those activities that are against mourn. The period of mourning begins immediately after the death of the husband irrespective of the matter whether the wife is informed at the time of the death of her husband or she is informed later on. It is not permissible for wife to leave home or go out unnecessarily during this period. It is also not permissible for her to adorn herself during iddah. She must avoid use of cosmetics such as lipstick, kohl, henna, hair oil, embellished cloths etc. on the other hand, it is permissible to remove armpit hair, excess hair of vagina, hair wash, bath, use of soap, wearing clean cloths etc. because these things are used for cleanliness rather than adornment. As a result it can be said that, if the husband of an obligated women has died, it becomes obligatory on her to mourn and obey the rules of mourning.

If she disobey or does not follow these rules, she become a sinner But because of not mourning, the 'iddah does not have to be repeated.

**Key words**: Introduction of Mourning, Commandment of Mourning, Exposures of Mourning, wisdom of Mourning Legitimacy, Starting period of Mourning.

## Soviet Invasion of Afghanistan and Pakistan’s response

Teaching Assist: Mohammad shahed Law and political science Faculty Department administration and diplomacy Shaikh Zayed University.

**Abstract**

As a result, Pakistan discontinues relationship with the Afghan government during the Soviet invasion. At that time, the Prime Minister of Pakistan, Muhammad Zia-ul-Haq, took advantages from the opportunities and cooperated with the Afghan Mujahidin. Zia-ul-Haq and Akhtar Abdur Rahman Director- General of the inter-Services Intelligence (ISI) prepared a plan and created seven anti-Soviet parties within the framework of Islam. They appointed a religious figure for each party to fight against the soviets. All of the America’s allies and Gulf countries have provided both economic and military aids to the Mujahedeen through ISI. In this war, Pakistan had aimed to withdraw Soviet forces out of Afghanistan, to officially recognize the Durand Line as a border between the two countries and to prevent nationalism. For this purpose, many intellectuals and nationalists, who wanted Afghans Jihad, were killed in Peshawar and other areas. Many other Afghan leaders left Pakistan and moved to other countries. The United State goal was to take revenge of the Soviets and to make Afghanistan as a Vietnam for them.

**Key words:** Afghanistan- Soviet War, Pakistan`s goals, Geneva Accords, Islamabad-Washington relations

# National values for states

Teaching assist Irfan wazir Law and political science faculty department Administration and diplomacy Shaikh Zayed University

**Abstract**

With the emergence of nation-states, states are trying to preserve certain values that depend on the fate of that state and nation. These national values, also known as national goals and interests, are commonplace. The study concludes that differences between states in political, economic, cultural, military, and geographical areas, as well as internal conflict between political leaders, meet domestic needs, and foreign policy. Other players are the reasons for the change in behavior, which causes differences and changes in national values (goals, interests) between states. Why, in addition to some values that are presented to all states as almost national values, it depends on the self-preservation of states and the attainment of security, and security takes precedence over all values in terms of the degree of importance for all states. The purpose of security is self-preservation and the purpose of self-preservation or preservation of territorial integrity is national territory, protection of the people, sovereignty of the state, and survival of the political and economic system.

**Key word:** national values, historically the existence of values, variations in the values of states, the degree of importance of national values in terms of importance.

# Foreign place's name in Khoshhal khan Khattak whole works (cycles)

Teaching Assistant Abdul Basir Rahmani Pashto Department Faculty of Education farah Higher Education Institute.

**Abstract**

Many writers have served Pashto throughout the history in one way or other, which were not only a service to their own language but they fought bravely against any outside attacks threaten them. This research has been prepared specifically for the Khoshhal Khan Khattak in general or for naming foreign places in general. Khoshhal Khan

Khattak is a famous poet and writer who strengthens. all Pashtuns proud on him .if you want to read this after we found out that Khoshhal Khan was an explorer person and from countries that he knew their customs or culture because of their research, this famous figure is most of all because it has been done for the appearance forms so Someone who wants to get information in this section has to do all the Khoshhal Khan's old information and texts, but if these materials reach a researcher, then he can get accurate information about these places. In the realization of this article of the method of a variety of books and the descriptive method has been used and we have come to the conclusion that Khoshhal Khan Khattak has also mentioned many foreign places in her poems.

**Key points**: Pashto literature, Khoshhal Khan, Names of Foreign Places.

# Advances and application of biotechnology in animal health

Teaching assistant Obaidullah Mahaq and Teaching assistant Khalid Basharmal, Department of Pre-Clinic, Faculty of Veterinary Sciences, Shaikh Zayed University

**Abstract**

The term Biotechnology is characterized largely as the ability to use living organisms or materials to improve or recreate a product, to improve animals and plants or to grow microorganisms for specific purposes. Biotechnology development offers huge potential, particularly in the three major animal science fields such as genetics, nutrition, and health. Beside the animal health, biotechnology improve the food products come from animals such as meat, milk and eggs. Furthermore, it increases an animal’s impact on ability to detect, treat and prevent diseases. Just like other assisted reproduction techniques such as artificial insemination, embryo transfer and in vitro fertilization, livestock cloning advances animal breeding programs that enable farmers to produce healthier offspring, as well as safer and high quality animals’ products. Improved standards of animal safety from

vaccines, medications and diagnostic tests contribute to healthier products for consumers. For years, animals have been used in the development of medicines for humans. Biotechnology can aid in the development of environmentally friendly animals and in the protection of endangered species. Farm animals and their nutrition have been developed with biotechnology to reduce animal wastes, thus reducing the environment impact. This article therefore reviews the advances in accessible biotechnology with its applications in animals' health towards diagnosis and treatment which includes; molecular gene cloning, production of recombinant biotechnology derived vaccines, application of polymerase chain reaction (PCR), Real time polymerase chain reaction (RT-PCR), and gene therapy.

**Keywords:** Biotechnology, application, genetic engineering, animal health, Polymerase chain reaction, animal cloning.

## Cultural invasion and ways to prevent it

Teaching Assistant: Saifullah Gharwal Sheikh Zayed University, Faculty of Social Science History and geography Department.

**Abstract**

Cultural invasion or cultural warfare, also known as soft warfare today, is a war that is cleverly and skillfully planned and carried out against weak nations in order to destroy the national values, religion, language, cultural heritage, and culture of the nation as a whole or at least weaken it to keep it under the deep influence of its culture. The process of the cultural invasion began after World War Two as the powerful nations especially the West, understood that they cannot bear the expenses anymore to subjugate the weak nations through military aggression. So they thought about the cultural invasion and till now progressing successfully in their plan. Cultural invasion is mostly affecting the young generation and the enemy uses modern means such as the internet, video, and audio media for this particular purpose. We should keep our new generation away from this invasion by strengthening our social institutions. The data of this article has been gathered through library research which introduces the basic concepts

of cultural invasion, its factors, and the remedies to keep our new generation away from it .

**Key Words:** Culture, Cultural Invasion, Factors of Cultural Invasion, Remedies.

# The Tradition of Offering Congratulation in Afghan Society and its Rules in Shiria

Teaching Assistant khitabullah khitab، Islamic culture department، Faculty of Sharia ،Shiekh Zayed University, Khost

**Abstract**

Humans experience countless blessings of Allah (SBW) in their lives where they show happiness for the goodness and the blessings, offering congratulation to each other on special occasions. As Afghan society is an Islamic society, we have some customs and rules congratulating others which are permitted in Holly Islam. For instance, offering congratulation on a wedding, congratulations on having children, congratulations on Aqeeqah, congratulations on returning from a trip, congratulations on Eid, congratulations on Hajj, congratulations on Umrah, and congratulations on wearing new clothes.There is a principle in sharia, but there are some other blessings in our society that are against sharia and have been transmitted to our society from other human societies, such as birthday greetings, happy New Year, special day greetings, and so on. Congratulatory related traditions, which are illegal and Muslims should keep themselves and the society away from them. To a large extent, the scholars are responsible for informing the public about them.

**Keywords:** Offering Congratulation on Eid, Offspring, Job, Wedding

# The Interaction relationship between Suppliers and Customers

Teaching Assistant: Hafizullahmeen Amin and Teaching Assistant Sharafdin Sharaf. Business and Administration Department, Economics Faculty of Shaikh Zayed University.

**Abstract**

For the development of business, all customers directly or indirectly rely on good and trustworthy suppliers. Apart from the expectations of suppliers, customers are also willing to be loyal to the suppliers to strengthen their relationship with the suppliers. In other words, customers may not only think of fulfilling their expectations from suppliers, but they also need to be loyal and strengthen their relationship with suppliers. The positive relationship between customer and supplier begins with the innovation of the supplier in a way where the supplier becomes sensitive towards the needs of the customer. In other words, the relationship between supplier and customer becomes strong when the supplier tries to fulfil the customer's needs. A customer needs to be honest and truthful for a smooth run of the business. However, this relationship is sometimes damaged by the supplier at its very beginning.

**Keywords:** customer management, customers, human resources, relationships, supplier relationship.

# Campylobacteriosis

Teaching assistant Khalid Basharmal and Teaching assistant Obaidullah Mahaq. Lecturers of Shaikh Zayed University, Veterinary Sciences Faculty, Pre Clinic Departments.

**Abstract**

Campylobacter includes a group of genetically diverse species causing a range of diseases in animals and humans. Most cases of campylobacteriosis are associated with handling or eating raw or undercooked poultry meat. Campylobacter spp. particularly C. jejuni and C. coli, are a major cause of enteritis in humans. Additional species cause reproductive disease in sheep and cattle. Many animals carry Campylobacter spp. asymptomatically and shed the organism in

their feces. Poultry, particularly broiler chickens, are an especially important source of the bacterium, though they usually do not become ill. The major routes of transmission in humans are consumption of contaminated or undercooked meat (especially poultry), unpasteurized milk or dairy products, and untreated water. People can also be infected by contact with infected animals or feces. Campylobacteriosis in human's ranges from mild to severe, but most cases are self-limiting. Although complications are uncommon, C. jejuni is a major triggering event for Guillain-Barré syndrome. C. fetus is an opportunistic human pathogen and mainly causes systemic infections in people with compromised immune systems. Antibiotic resistance in Campylobacter spp. is a serious problem worldwide, particularly for fluoroquinolones and tetracyclines.

**Keywords:**Campylobacter, Large animal, Humans, Poultry, Abortion.

# Islamic Nikah(marriage) and Afghan's non-Islamic traditions

Teaching Assistant khitabullah khitab، Islamic culture department، Faculty of Sharia ،Shiekh Zayed University, Khost

**Abstract**

Nikah and marriage is a beautiful blessing of almighty Allah ''SWT'' that increase the humankind population Also it has important role in society formation as the base of community is family, we can't form safe family without Nikah. Islamic sharia have made it easy for everyone to marry, but unfortunately our traditional society causes most of our teenages to be deprived of Nikah For example: tradition of price(wolver), expenses of weeding on the family of boy, very precious clothes for bride, extravagance at wedding food, father of Nikah and the badal(exchange) Nikah; these all are that illegal traditions which makes it hard to reach to marry. May Allah protects our society from such bad traditions by his own blessings.

**Key words** Exchange Nikah, expenses, father of Nikah, introduction of Nikah, price(wolver) and walima(food of wedding).

# The Press-State Relationships on the Coverage of War and Peace in Afghanistan

Teaching Assist. Ahmad Zia Elham and Teaching Assist. Azizullah Sidiq
Department of Journalism, School of Journalism and Public Relation, Shaikh Zayed University

**Abstract**

The freedom of press and censorship are important deliberations in the realm of journalism and mass communication. It's perceived that free media are independent in editorial decisions; whereas controlled media are censored and promoting state's policy or narrative. Informed by framing theory and testing the assumption of indexing theory, one-year coverage of the New York Time and China Daily newspapers were studied. A total of 73 news stories of the NYT and China Daily were examined through seven indicators that were operationalized. The findings show that both newspapers, regardless of free or controlled, follow foreign policy of the respective countries. It can be inferred that the notion of free and control media are just labels that have been introduced by politicians, foreign policy makers, strategists, elites, and those who are in power merely for deceiving and alteration of public opinions. In fact, in terms of press-freedom and censorship, any category of media is, to a greater extent, advocating foreign policies of its state. Furthermore, findings of the quantitative content analysis show that Soft Power/Peacebuilding and Demoralization were the dominant indicators which were framed throughout the coverage of both newspapers. Lastly, the least seen indicator in the NYT was Statebuilding while in China Daily it was Say-do gap.

**Key words:** Afghanistan, War, Peace, Global Media, News Coverage, Foreign Policy.

# Types of murder and related opinions and opinions of jurists

Senior Teaching Assistant: Mohammad Walid Ishaqzai Islamic Cultore Department Faculty Of Sharia Shaikh Zayed Ynivercity Khost

**Abstract**

As it is clear that all human beings are in fact facing trials at all stages

of life, therefore every Muslim servant must be patient in the face of every difficulty and hardship, always with responsibilities and Obligations to turn to God in all respects and to refrain from any kind of evil and cruel deeds, because in an Islamic society, the rights of God are the same as the rights of slaves, for example, when When an assassination takes place in an Islamic society, the rights of the victim are created, so the right of slavery is more prevalent in qisas This is because Allah Almighty has made the human body very precious and honorable and this killer will destroy this great honor forever, according to which Allah Almighty is very displeased with this evil act of the killer and only the heirs of the slain can do it. , To pardon and pardon this great crime of the murderer.

**Key Words**: A: Crime B: Murder C: Killer D: Human Life E: Heaven and Hell

# A Review of Rabies Disease, its Transmission, Prevention and Treatment

S.T. A Ajmal Khosti Paraclinic Department, Shaikh Zayed University

**Abstract**

Rabies is caused by a single-stranded, negative-sense RNA virus, maintained in nature by a variety of animal reservoirs. Rabies virus infects the central nervous system, resulting in progressive encephalopathy and ultimately death in an infected human. Rabies is a viral*zoonosis* that causes approximately 50,000 to 100,000 deaths per year worldwide. Most deaths occur in developing countries. Dogs are the major vector, especially in developing countries. The virus is usually transmitted to humans by infected saliva through the bite of a rabid animal; the incubation period averages 30 to 90 d. Hyperexcitability, autonomic dysfunction, hydrophobia, and aerophobia are characteristic of encephalitic rabies, which accounts for 80% of cases. The paralytic form is characterized by flaccid paralysis in the bitten limb, which ascends symmetrically or asymmetrically. Once symptoms develop, the disease is invariably fatal. Animal rabies can be controlled by proper induction of herd immunity, humane

removal of stray animals, promotion of responsible pet ownership through education, and enactment of leash laws. Preexposure vaccination with modern cell culture vaccine is recommended for people at high risk of exposure to rabies and for travelers who spend longer than 1 mo in countries where rabies is a constant threat, or who travel in a country where immediate access to appropriate care is limited. Postexposure prophylaxis consists of prompt and thorough wound cleansing and immunization with modern cell culture vaccine, together with administration of rabies immune globulin to those individuals who have not previously received preexposure prophylaxis.

**Keywords |** Rabies, Transmission, Treatment, Control, Review

# E-Commerce and its Need

Senior Teaching Assist. Mohammad Sediq Nawabzada, Department of Banking and Finance, Faculty of Economics, Shaikh Zayed University, Khost.

**Abstract**

All the economic activities which involve the dispense and delivery of goods and services from producer to consumer are called commerce. Or commerce refers to the activities that create relationship between producers and consumers. Whereas e-commerce is the sale and purchase of goods and services through electronic channels and systems. Many scholars believe that e-commerce was first initiated after 1970s when the idea of transmitting data via electronic means was developed. The main tools of e-commerce include the Internet and other networks of computers where transactions are carried out through websites without the use of paper documentation. It is websites, but all the transactions carried out through electronic means and devices such as telephone, fax, ATM, and others are called e-commerce. The concept of e-commerce was first developed in USA and later expanded to China, Singapore, UK, UAE, India and in some other countries' stock markets.

In addition to the advantages and conveniences, there are also a couple of setbacks and challenges arising from e-commerce. Reliability and

trust between customers and sellers, Internet security and lack of privacy protection, the quality of goods and services, delay in delivery, and access to Internet are noticeable problems in e-commerce.
**Keywords**: consumer, e-commerce, Internet, purchase, sale.

# Recognition of allegiance and its related issues and rulings

Senior Teaching Assistant: Mohammad Walid Ishaqzai Islamic Culture Department Faculty Of Sharia Shaikh Zayed Univercity Khost

**Abstract**

Undoubtedly, Islam is a social and all-encompassing religion, covering all aspects of human life and will continue till the Day of Judgment. In the sacred religion of Islam, not only the rules, issues and virtues are explained; He has created a system of life that no other law in the world can compete with, by the application of which not only worldly benefits are obtained, but also the blessings of the Hereafter. This topic was interesting to me and also useful to the community to do research on it, because I chose this topic. In order to make the subject more interesting, I have been able to interpret the Qur'an, the hadiths, the reliable books on politics and law, the sayings and opinions of contemporary scholars, as well as the translation and interpretation of verses. Has used. Although there has been a lot of research on pledge of allegiance in other languages, especially in Arabic, but I did not find anything comprehensive and independent in Pashto, I decided to write a short article on the subject. This article explains the definition of allegiance, the reasons for proving allegiance, the legal method of appointing a caliph, the conditions of allegiance, the types of allegiance and the removal of the Imam. May God make my writing useful and enjoyable for the dear readers.

**Key Words**: Identification of allegiance, types of allegiance, means of allegiance

# How to Compromise before a court order

Assistant Professor Amanullah Zadran, Assistant Professor: Mohammad Shafiq Mandozai Administration and Diplomacy Department Faculty of Law and Political Science Sheikh Zayed University Khost.

**Abstract**

Compromise is a fundamental and natural desire of humanity, without Compromise life is impossible and difficult; human beings are trying to create an environment in their life in which they can live easily and reach the final stages of prosperity; but while the other side of human life is war, conflict, and claim. Some scholars believe that claim is also a necessity of human life. That is to say, those who also want to make a claim and provide facilities for themselves; but more often than not, claims lead to the extinction of human beings and the loss of happiness from them, as justice and fairness keep social relation in balance.

One of most important issues is maintaining Compromise in social relations and sectors; the courts, therefore, offer a settlement to the plaintiffs before issuing their decision, which puts and an end to their claim through Compromise; for the most important benefit of the settlement is that the form ends with no resentment to, animosity or animosity between the parties to the dispute and their dispute is resolved in less time and at a lower cost.

The main purpose of writing this article is to learn and introduce Compromise and reconcile the parties to the dispute in criminal, civil and legal matters and litigation before the issuance of the court order; to this end, I compiled this article, first on the identity of peace, the relics and rules of Compromise, the conditions of peace, the types of peace, the relics and rules of Compromise, and the historical course of peace, and then in criminal cases. Compromise in civil and legal disputes is under consideration.

**Key Words:** litigation (criminal, civil, commercial and family), Compromise, court order.

# The Application of Wearable Technology in the Field of Teaching and Learning.

Assistant Professor Salih khan Salih and Teaching Assitant Muhammad Sharif Haider Information Systems and Information Technology Departments Faculty of Computer Science Shaikh Zayed University Khost

**Abstract**

Taking into account the current digital world, wearable technology is an area of interest for both teachers and researchers in the learning environment. The basic factors of this technology, such as students' interactions and their engagement with learning, can be easily understood when the technology is used by academic institutions in a learning environment. This article covers wearable digital devices that are expected to be used in teaching and learning such as Google Glass, Muse Tool, Virtual Reality, GoPro Cameras, Smart Jewelry/Watches and so on [12]. It also highlights the opportunities, limitations and barriers to the use of this technology in the mentioned field. The article concludes that there are significant limitations that teachers, as well as companies that produce this technology, should consider in advance before they propose the application side of wearable technology in the field of education and teaching.

**Keywords:** Wearable technology tools, Learning, Teaching, Teacher, Student

# Introduction to the governing principles of taxation

Assistant Professors: Mohammad Shafiq Mandozai, Amanullah Zadran Administration and Diplomacy Department Faculty of Law and Political Science Sheikh Zayed University Khost.

**Abstact**

This article will discuss in detail the principles governing taxation, as states generally have the authority to levy taxes to finance their expenditures and can thus finance a portion of their expenditures. Scholars have come up with a set of guidelines for governments to be successful in tax collection and to make maximum use of the revenue generated from it, to prevent tax evasion and tax evasion. States must

take these principles into account when compiling and collecting taxes. According to these principles, the government can get its revenue from taxes and the government spends this revenue on various economic infrastructures so that all the people of the nation can benefit from it. Consider moderate taxes from middle-income earners and tax exemptions from low-income earners. Which is actually a change in the distribution of national income, also the government can support the sectors of the national economy with the help of tax principles.

**Key Words** : Tax governing principles, tax legal principles, tax economic principles, double taxation.

## Differences between Sukuk and Debentures or Bonds

Assistant professor Amanullah Zadran, Administration and Diplomacy faculty of Law and Political Science Sheikh Zadyed University Khost.

**Abstract**

Life is impossible without deals, and these deals involve contracts, agreements and transactions. Governments, companies, and individuals all need funding to expand their operations, and since tools of financing originated in the west, they have usually been based on their legal and value. Are, in some cases, inconsistent with legal and moral foundations of Islam. The main difference between Sukuk and Debentures or Bonds is that the documents are usury and non-Islamic and Sukuk documents are Islamic and non-usury documents. But a bond or debentures is a loan that the company buys from the public or a bank and is based on interest. The Debentures or Bonds have nothing to do with Islamic methods and practices, therefore it is not permissible to issue or buy or sell bonds debuggers certificates.The Historical background of sukuk goes back to 3 AD but look at the historical tour of the Debentures or Bonds before BC, even seen in the Laws of Hammurabi, after that in the middle ages, the modern century and modern era, so first in this writing the definitions are discussed and then the similarities or similarities are highlighted and then their differences are discussed from different angles. And finally, let’s end our discussion by debating and presenting the proposal.

**Key words: Agreement**, Bonds and debentures, interest, loans, sukuk

# Causes and Solutions to Conflict and Violence between Students

Assistant Professor: Mohammad Shafiq Mandozai Administration and Diplomacy Department Faculty of Law and Political Science Sheikh Zayed University Khost.

**Abstact**

The causes of conflict and violence among students and their solutions are among the most important issues in universities, and on the other hand it is an obvious fact that conflict and violence are a part of life and face it throughout life. In the past, only force and power were used to resolve disputes, but today, legal and political solutions are more commonly used to resolve disputes, that is, to look at the nature of the dispute.

If there is a legal aspect, then by nature such disputes are settled in court according to the rules of law and if there is a non-legal aspect then such disputes are usually negotiated, conciliation, mediation, investigation and good efforts. Negotiations are a very interesting and useful way to resolve disputes. This is the first and foremost method of resolving disputes and the chances of success are very high. A person's personal ability depends on why this personal ability is developed through education.

**Key Words :** Conflict, Violence, Violent Conflicts, Legal Resolution of Violence, Unlawful Resolution of Violence.